کشف الباری
عما فی
صحیح البخاری
تصنیف
حضرت مولانا سلیم اللہ خان

كشف الباری

عما فی

صحیح البخاری

كتاب الطب، كتاب اللباس، كتاب الادب

تالیف ← صدر وفاق المدارس مولانا سلیم الله خان مدظله العالی
شیخ الحدیث جامعه فاروقیه کراچی

ترتیب وتحقیق ← مولانا ابن الحسن عباسي استاذ جامعه فاروقیه کراچی

ترجمه ← مولانا شاه فیصل فاضل وفاق المدارس، امداد العلوم

خصوصیات

جلد ⑭

① داحادیثو تخریج
② د تعلیقات بخاری تخریج کول
③ د اسماء الرجال مختصر تعارف
④ دګرانو لغاتو لغوی صرفی او نحوی حل
⑤ ماقبل باب سره د ربط په باره کښې پوره تحقیق
⑥ د شرحې د هرې خبرې په حاشیه کښې حواله ورکول
⑦ د ترجمة الباب مقصد په بیانولو کښې پوره تحقیق
⑧ د مختلفو مذاهبو تحقیقی بیان او بیا د مذهب حنفی ترجیح
⑨ د حدیث اطراف بیانول چه په بخاری کښې داحدیث په کوم کوم ځائې کښې دې.

خورونکی فیصل کتب خانه محله جنګی پیښور

موبائل:- ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

دکتاب نوم:- کشف الباری عما فی صحیح البخاری

جلد: ۱۷ کتاب الطب، کتاب اللباس، کتاب الادب

شارح: صدر وفاق المدارس شیخ الحدیث مولانا سلیم الله خان مد ظله العالی

ترتیب وتحقیق: مولانا ابن الحسن عباسی استاذ جامعه فاروقیه کراچی

پښتو مترجم: مولانا شاه فیصل فاضل امداد العلوم و وفاق المدارس
ایم اے اسلامیات وعربی پیښور یونیورسټی

د ملاویدو پتې: د فیصل کتب خانه پیښور څخه علاوه

- رشیدیه کتب خانه اکوړه خټک
- علمیه کتب خانه اکوړه خټک ۰۹۲۳۶۳۰۵۹۴
- مکتبه رشیدیه کوئټه ۰۸۱۲۶۶۲۲۶۳
- مکتبه عثمانیه کانسی روډ کوئټه ۰۳۰۱۳۷۳۷۰۳۰
- مکتبه یوسفیه کانسی روډ کوئټه ۰۳۲۱۰۸۲۸۹۳۰
- راشد کتب خانه چمن ۰۳۰۰۳۸۹۶۳۵۳
- مکتبه عمریه تاج میر روډ چمن بلوچستان
- مکتبه علوم اسلامیه تاج میر روډ چمن بلوچستان ۰۳۳۳۷۹۵۸۶۹۶
- مکتبه حقانیه چمن ۰۳۳۳۷۷۵۲۲۱۹
- صداقت کتب خانه قندهار افغانستان ۰۷۸۷۷۴۲۳۲۱
- مکتبۀ رحمانیه قندهار افغانستان ۰۷۹۷۷۳۵۲۸۱
- مکتبه عبدالحي قندهار افغانستان ۰۷۰۰۸۲٤۳۳٤
- اسد الله کتب خانه قندهار افغانستان ۰۷۰۷٤۷۷٦۲۷
- مکتبۀ غفاریه قندهار افغانستان ۰۷۰۰۳٤۱۷٤۹
- مکتبۀ رشیدیه قندهار افغانستان ۰۷۷۲۲۱۰۷۰۹
- مکتبۀ حبیبیه قندهار افغانستان ۰۷۹۹٤٤۷٤۱۳
- مکتبۀ القدس قندهار افغانستان ۰۷۰۷۹٤۸۵۵۹
- قدرت کتب خانه کابل افغانستان ۰۷۹۹۲۱۹۲۰۳
- عبد المجید کتب خانه جلال آباد ۰۷۰۸۱۹۷۷۴۹
- شاهین کتب خانه خوست افغانستان
- بلال کتب خانه خوست افغانستان
- اسلامی کتب خانه خوست افغانستان ۰۷۹۹۳۱۰۲۴۷

فهرست مضامين

شمیره	مضمون	صفحه

كِتَابُ اللِّبَاسِ

شمیره	مضمون	صفحه

صفحه	مضمون	شمیره

شمیره	مضمون	صفحه

شمیره	مضمون	صفحه
۸۴=	بَاب الْوَاشِمَةِ	۲۰۸
۸۵=	بَاب الْمُسْتَوْشِمَةِ	۲۰۸
	يو اشكال او ددې جواب :	۲۰۹
	چه په کوم اندام خال يا څه بل نقش لګيدلې وی د هغې د طهارت حکم :	۲۰۹
۸۶=	بَاب التَّصَاوِيرِ	۲۱۰
	قوله: ولا تصاوير:	۲۱۱
	يو اشكال او ددې جواب :	۲۱۱
	قوله: وقال الليث: حدثني يونس.....:	۲۱۱
۸۷=	بَاب عَذَابِ الْمُصَوِّرِينَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ	۲۱۱
	يسار بن نمير:	۲۱۲
	قوله: فرأى في صُفَّته:	۲۱۲
۸۸=	بَاب نَقْضِ الصُّوَرِ	۲۱۳
	قوله: فقلت: يا أباهريرة أشيء سمعته من رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: مُنتهى الحِليَة:	۲۱۴
۸۹=	بَاب مَا وُطِئَ مِنَ التَّصَاوِيرِ	۲۱۵
	قوله: سترت بقرام لي على سهوة:	۲۱۵
	قوله: وعلقت دُرْنوكا فيه تماثيل:	۲۱۵
۹۰=	بَاب مَنْ كَرِهَ الْقُعُودَ عَلَى الصُّور	۲۱۶
	تعارض د روايتونو او ددې د حل توجيهات:	۲۱۶
۹۱=	بَاب كَرَاهِيَةِ الصَّلَاةِ فِي التَّصَاوِيرِ	۲۱۸
	په حديث د باب اشكال او ددې جواب :	۲۱۸
	د حديث نه مستنبط اداب :	۲۱۸
۹۲=	بَاب لَا تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا فِيهِ صُورَةٌ	۲۱۹
	قوله: فراث عليه:	۲۱۹
۹۳=	بَاب مَنْ لَمْ يَدْخُلْ بَيْتًا فِيهِ صُورَةٌ	۲۱۹
	تصويرونو والاكور ته د داخليدو حكم :	۲۲۰
۹۴=	بَاب مَنْ لَعَنَ الْمُصَوِّرَ	۲۲۰
۹۵=	بَاب مَنْ صَوَّرَ صُورَةً كُلِّفَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَنْ يَنْفُخَ فِيهَا الرُّوحَ وَلَيْسَ بِنَافِخٍ	۲۲۰
	قوله: سمعتُ النضر بن أنس بن مالك يحدث قتادة:	۲۲۰
	قوله: وهم يسألونه ولا يذكر النبي ﷺ:	۲۲۱

شمیره	مضمون	صفحه

۸۱=کتاب الأدب

شمیره	مضمون	صفحه

شمیره	مضمون	صفحه

شميره	مضمون	صفحه

شميره	مضمون	صفحه

صفحه	مضمون	شمیره

شمیره	مضمون	صفحه

....

کتاب الطب

الاحاديث: (۵۳۵۴ ـ ۵۴۴۵)

په کتاب الطب کښې اووه پنځوس (۵۷) بابونه دی چه په دې کښې د شلیریشتو (۲۴) بابونو تشریح ددې نه په مخکینی جلد کښې تیره شوې ده، په دې جلد کښې د باقی دری دیرشو بابونو تشریح ده.

۲۵ = بَاب ذَاتِ الْجَنْبِ

[۵۳۸۸] حَدَّثَنِي مُحَمَّدٌ أَخْبَرَنَا عَتَّابُ بْنُ بَشِيرٍ عَنْ إِسْحَاقَ عَنْ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ أُمَّ قَيْسٍ بِنْتَ مِحْصَنٍ وَكَانَتْ مِنْ الْمُهَاجِرَاتِ الْأُوَلِ اللَّاتِي بَايَعْنَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهِيَ أُخْتُ عُكَّاشَةَ بْنِ مِحْصَنٍ أَخْبَرَتْهُ أَنَّهَا أَتَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِابْنٍ لَهَا قَدْ عَلَّقَتْ عَلَيْهِ مِنْ الْعُذْرَةِ فَقَالَ اتَّقُوا اللَّهَ عَلَى مَا تَدْغَرُونَ أَوْلَادَكُمْ بِهَذِهِ الْأَعْلَاقِ عَلَيْكُمْ بِهَذَا الْعُودِ الْهِنْدِيِّ فَإِنَّ فِيهِ سَبْعَةَ أَشْفِيَةٍ مِنْهَا ذَاتُ الْجَنْبِ يُرِيدُ الْكُسْتَ يَعْنِي الْقُسْطَ قَالَ وَهِيَ لُغَةٌ [ر: ۵۳۶۸]

[۵۳۸۹] حَدَّثَنَا عَارِمٌ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ قَالَ قُرِئَ عَلَى أَيُّوبَ مِنْ كُتُبِ أَبِي قِلَابَةَ مِنْهُ مَا حَدَّثَ بِهِ وَمِنْهُ مَا قُرِئَ عَلَيْهِ وَكَانَ هَذَا فِي الْكِتَابِ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ أَبَا طَلْحَةَ وَأَنَسَ بْنَ النَّضْرِ كَوَيَاهُ وَكَوَاهُ أَبُو طَلْحَةَ بِيَدِهِ وَقَالَ عَبَّادُ بْنُ مَنْصُورٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ أَبِي قِلَابَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ أَذِنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَهْلِ بَيْتٍ مِنْ الْأَنْصَارِ أَنْ يَرْقُوا مِنْ الْحُمَةِ وَالْأُذُنِ قَالَ أَنَسٌ كُوِيتُ مِنْ ذَاتِ الْجَنْبِ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَيٌّ وَشَهِدَنِي أَبُو طَلْحَةَ وَأَنَسُ بْنُ النَّضْرِ وَزَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ وَأَبُو طَلْحَةَ كَوَانِي

لکه چه وړاندے تیر شویدی ذات الجنب هر هغه درد ته وائی چه د انسان په یو اړخ کښې راپیدا شی

د ذات الجنب قسمونه: حافظ ابن حجر فرمائی : د ذات الجنب دوه قسمه دی :

① یو قسم د ورم (پړسیدو) په شکل کښې وی چه د انسان د پختو په دننه پټو کښې پړسیدل راشی چه د هغې په وجه مریض په ډیرو تکلیفونو کښې مبتلا وی ، تبه ، ټوخے ، نخس (نمونیا) د سا تنګیدل ، د نبض منشاری (پړسیدل ، پریکیدل) ، د ذات الجنب دا خطرناك قسم دې او نبی کریم ﷺ ددې باره کښې فرمائلې دی : " ماکان الله لیسلطها علی " ([1]) یعنی الله تعالی به دا په ما نه مسلط کوی

② د ذات الجنب دویم قسم دهغه درد په صورت کښې وی چه د ګیس په وجه د سرې په تشی کښې رااوچتیږی ، په حدیث کښې د ذات الجنب نه دا دویم قسم مراد دې ، ځکه چه هندوستانی عود هم د دې دویم قسم دپاره مفید دې ځکه چه دا ګیس لرې کوی او باطنی اندامونو ته طاقت ورکوی ([2])

خو که ړومبې قسم د بلغم په وجه پیدا شوے وی نو دې صورت کښې هم هندوستانې عود فائده ورکوی ([3])

---

[1]) ۲۱۲\۱۰ . ارشاد الساری : ۴۴۲\۱۲)

[2]) فتح الباری : ۲۱۲\۱۰ . ارشاد الساری : ۴۴۲\۱۲ . عمدة القاری : ۲۵۱\۲۱)

[3]) فتح الباری : ۲۱۲\۱۰ . ارشاد الساری : ۴۴۳\۱۲)

د باب دویم روایت د امام بخاری رحمه الله د شیخ عارم دې ، د دوی نوم محمد بن الفضل دې [1] دې د حماد بن زید نه نقل کوی :

قرئ علی أیوب من کتب أبي قلابة منه ماحدث به ومنه ماقرئ علیه ، وکان هذا فی الکتاب

د حضرت ایوب سختیانی رحمه الله سره د حضرت ابو قلابه عبد الله بن زید جرمی لیکلې شوې د احادیثو مجموعه وه ، ایوب به کله کله ددې مجموعې نه احادیث په خپله لوستل او خلقو ته به ئې اورول او کله به بل ویلې او ده به اوریدل ، دې حدیث هم په دې مجموعه کښې وو ـ

روایت کښې دی چه حضرت ابو طلحه (زید بن سهل) او حضرت انس بن النضر (د حضرت انس بن مالك تره) حضرت انس ئې اوداغلو او داغ کار حضرت ابو طلحه اوکړو -

وقال عباد بن منصور عن أیوب عن أبي قلابة عن أنس بن مالك قال: أذن رسول الله صلی الله علیه وسلم لأهل بیت من الأنصار أن یرقوا من الحمة والأذن

حضرت انس ﷺ فرمائی : چه حضور اکرم ﷺ د انصارو یو کور والا ته اجازت ورکړو چه دوی د زهرو او د غوږونو د درد دم دې کوی

دصحیح مسلم په روایت کښې دی چه دا د عمرو بن حزم کور والا وو [2]

وړاندې حضرت انس فرمائی : څه اوداغلې شوم ، نبی کریم ﷺ ژوندې وو حضرت ابو طلحه ، حضرت انس بن نضراو زیدبن ثابت ﷺ موجود وو

امام بخاری رحمه الله د عباد بن منصور دا تعلیق ځکه ذکر کړو چه دیکښې حضرت انس تصریح کړې ده چه څه د ذات الجنب د بیمارئ په وجه اوداغلې شوم ، دینه وړاندې د عارم په روایت کښې د داغولو ذکر خو وو خو د " ذات الجنب" ذکر نه وو ،د عباد بن منصور په روایت کښې ددې وضاحت اوشو

عباد بن منصور: ددوی کنیت ابومسلمه دې او صحیح بخاری کښې دده صرف هم دا یو حدیث موجود دې [3] دې په کبار تبع تابعینو کښې دې ائمه د جرح او د تعدیل په ده جرح کړیده چه ده تدلیس کولو ، د دوی حافظه متاثر شوې وه [4] یحي بن قطان فرمائی : چه کله مونږ ده لره اولیدلو نو ده ته حدیثونه یاد نه وو پاتې [5]

---

[1] فتح الباری : ۱۰\۲۱۲ ارشاد الساری : ۱۲\۴۴۳، عمدة القاری ۲۱\۲۵۲)

[2] صحیح مسلم ، کتاب السلام ، باب استحباب الرقیة من العین و النملة و الحمة و النظرة : ۴\۱۷۲۶ (رقم الحدیث : ۲۱۹۹)

[3] فتح الباری : ۱۰\۲۱۲ ، دارنگه اوگورئ تهذیب الکمال : ۱۴\۱۵۶ و تهذیب التهذیب : ۵\۱۰۳)

[4] فتح الباری : ۱۰\۲۱۳ لکه دې باره کښې علامه بن حجر فرمائی " قال مهنأ عن أحمد کانت أحادیثه منکرة و کان قدریا و کان یدلس .... و قال الجوزجانی : و کان یری برأیهم و کان سیئ الحفظ و (تهذیب التهذیب : ۵\۱۰۵))

[5] تهذیب الکمال : ۱۴\۱۵۸ ، تهذیب التهذیب : ۵\۱۰۴)

ابن عدی فرمائی : په مجموعی لحاظ سره دده حدیثونه لیکلے کیدې شی (۱) بعضو ده لره مطلقا ضعیف گرځولې دې (۲)
په هرحال امام بخاری رحمه الله دده یو تعلیق په صحیح بخاری کښ ذکر کړیدې ، دا تعلیق ابویعلي موصول نقل کړیدې (۳)

قوله: أن يرقوا من الحمة والأذن : ابن بطال رحمه الله فرمائی: د اذن نه مراد د غوږ درد دې: أى رخص فى رقية الأذن، إذا كان بها وجع (۴)

د داغولو متعلق تفصیلی کلام تیر شویدې او د دم متعلق تفصیل څو بابونه وړاندے را روان دې ـ

۲۶=بَاب حَرْقِ الْحَصِيرِ لِيُسَدَّ بِهِ الدَّمُ

[۵۳۰] حَدَّثَنِي سَعِيدُ بْنُ عُفَيْرٍ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْقَارِيُّ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ قَالَ لَمَّا كُسِرَتْ عَلَى رَأْسِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبَيْضَةُ وَأُدْمِيَ وَجْهُهُ وَكُسِرَتْ رَبَاعِيَتُهُ وَكَانَ عَلِيٌّ يَخْتَلِفُ بِالْمَاءِ فِي الْمِجَنِّ وَجَاءَتْ فَاطِمَةُ تَغْسِلُ عَنْ وَجْهِهِ الدَّمَ فَلَمَّا رَأَتْ فَاطِمَةُ عَلَيْهَا السَّلَام الدَّمَ يَزِيدُ عَلَى الْمَاءِ كَثْرَةً عَمَدَتْ إِلَى حَصِيرٍ فَأَحْرَقَتْهَا وَأَلْصَقَتْهَا عَلَى جُرْحِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَقَأَ الدَّمُ [ر:۲۴۰]

دې باب کښې امام بخاری رحمه الله د وینے د بندولو دپاره د پوزی سوزول بیان کړیدی ، ابن بطال رحمه الله فرمائی چه " حرق الحصیر " صحیح نه دې ، صحیح " إحراق الحصیر " دې ، د إحراق معنی د سوزولو راځی ، یا د باب د تفعیل نه " تحریق الحصیر " کیدل پکار دی ځکه چه د مجرد " حرق " معنی د سوزولو نه راځی (۵)

خو علامه عینی رحمه الله " حرق " صحیح گرځولې دې او ویلے دی چه ددې معنی د سوزولو راځی او چه کله د باب افعال یا د تفعیل نه وی نو دغه وخت ددې په معنی سوزولو کښې د مبالغه راځی (۶)

روایت د باب په کتاب الجهاد او کتاب المغازی کښ تیر شویدې چه په غزوه احد کښ د حضور اکرم ﷺ سر مبارک زخمی شوې وو ، حضرت علی رضی الله عنه به ډال کښې اوبه راوړلې اوحضرت فاطمه رضی الله عنها به د مخ مبارک نه وینه پاکوله ، خو چه کله ئي اولیدل چه وینه نه اودریږی بلکه د اوبو په وجه نوره هم زیاتیږی نو یو پوزے ئي راوړو او وے سوزولو بیا ددې

---

۱) تهذیب الکمال : ۱۴\۱۶۰ ، تهذیب التهذیب : ۵\۱۰۴))
۲) تهذیب التهذیب : ۵\۱۰۵ ، طبقات بن سعد : ۷\۲۷۰)
۳) فتح الباری : ۱۰\۱ عمدة القاری : ۲۱\۲۵۳ ، ارشاد الساری : ۱۲\۲۴۳)
۴) فتح الباری : ۱۰\۱ عمدة القاری : ۲۱\۲۵۳)
۵) فتح الباری : ۱۰\۲۱۴ عمدة القاری : ۲۱\۲۵۳) .
۶) عمدة القاری : ۲۱\۲۵۳)

سوزیدلې ایره ئې په زخم اولګوله نو وینه بنده شوه
د څه څیز ایره هم چه وی ددې خصوصیت دا دې چه کُه دا په زخم اولګولې شي نو وینه اودریږی ، امام ترمذی رحمه الله په دې حدیث باندې د " تداوی بالرماد " عنوان لګولې دې او ترجمه ئې کړیده ، ([1])

۲۷=بَابُ الْحُمَّى مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ

[۵۳۹۱]حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ سُلَيْمَانَ حَدَّثَنِي ابْنُ وَهْبٍ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْحُمَّى مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ فَأَطْفِئُوهَا بِالْمَاءِ قَالَ نَافِعٌ وَكَانَ عَبْدُ اللَّهِ يَقُولُ اكْشِفْ عَنَّا الرِّجْزَ[۳۰۹۱]

[۵۳۹۲]حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ هِشَامٍ عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ الْمُنْذِرِ أَنَّ أَسْمَاءَ بِنْتَ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا كَانَتْ إِذَا أُتِيَتْ بِالْمَرْأَةِ قَدْ حُمَّتْ تَدْعُو لَهَا أَخَذَتِ الْمَاءَ فَصَبَّتْهُ بَيْنَهَا وَبَيْنَ جَيْبِهَا قَالَتْ وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُنَا أَنْ نَبْرُدَهَا بِالْمَاءِ([2])

[۵۳۹۳]حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا هِشَامٌ أَخْبَرَنِي أَبِي عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْحُمَّى مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ فَابْرُدُوهَا بِالْمَاءِ[ر:۳۰۹۰]

[۵۳۹۴]حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَسْرُوقٍ عَنْ عَبَايَةَ بْنِ رِفَاعَةَ عَنْ جَدِّهِ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْحُمَّى مِنْ فَوْحِ جَهَنَّمَ فَابْرُدُوهَا بِالْمَاءِ[ر:۳۰۸۹]

ړومبې روایت د حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما دې ، حضور اکرم ﷺ فرمائلې دی: تبه د جهنم یو شعله ده دې وجه نه دا په اوبو سره مړه کړئ

دویم روایت کښې حضرت اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنهما ته به چه کله یو ښځه په حالت د تبه کښې د دعا دپاره راوستې شوه نو دې به اوبه راخستې او دا به ئې ددې ښځې په ګریبان کښې اچولې او دا به ئې فرمائیل : رسول لله ﷺ به مونږ ته د اوبو په ذریعه ددې د یخولو حکم کولو ، احادیثو کښې درې قسمه الفاظ استعمال شویدې ، فیح ، فوح او فور ، د درې واړو یو معنی ده ، تاو ، براس د اور ، شعله ([3])

الحمی من فیح جهنم نه یا خو حقیقی معنی مراد ده چه د تبې تاو د جهنم یوحصه او شعله ده چه خلق ددې تاو محسوس کړی نو د جهنم د ګرمئ او د عذاب څه اندازه اولګوی او یا

---

[1]) سنن الترمذی : کتاب الطب : باب التداوی بالرماد : ۱۴\ ۳۱۱ (رقم الحدیث : ۲۰۸۵)

[2]) الحدیث أخرجه مسلم فی کتاب السلام ، باب لکل داء دواء و استحباب التداوی : ۱۴\ ۱۷۳۲ (رقم الحدیث : ۲۲۱۱) و أخرجه النسائی فی کتاب الطب ، باب تبرید الحمّی بالماء : ۱۴\ ۳۷۹ (رقم الحدیث : ۷۶۱۰) و أخرجه ابن ماجه فی کتاب الطب ، باب الحمّی من فیح جهنم فأبردوها بالماء : ۱۲\ ۱۱۴۹ (رقم الحدیث : ۳۴۷۱)

[3]) فتح الباری : ۱۰\ ۲۱۵ عمدة القاري : ۲۱ \ ۲۵۴)

حقیقي معنی مراد نه ده ، بلکه دا په طور د مجاز او د تشبیه وئلې شویدې او مطلب دا دې چه د تبې تاو د جهنم د ګرمئ او د تاو سره مشابه دې (۱)

قوله: فأبردوها بالماء: دلته خو مطلقا د " ماء " ذکر دې ، په بعض روایتونو کښې د "ماء زمزم " الفاظ راغلې دی ، لکه امام نسائی ، ابن حبان ، او امام حاکم د " عفان عن همام " په طریق سره روایت نقل کړیدې ، دیکښې دي "فأبردوها بماء زمزم " (۲) بهرحال د مکې د خلقو دپاره خو هم دا بهتر ده چه آب زمزم استعمال کړی خکه چه دا دوی ته هر وخت ملاویږی خو د باقی خلقو دپاره عامې اوبه هم فائده ورکوی

یو اشکال او ددې جواب :دلته چا ته دا اشکال کیدې شی چه د تبې په بعض قسمونو کښې په بدن باندې د یخو اوبو استعمالول فائده مند نه دی ، خاص کر هغه تبه چه د یخنئ په وجه راغلې وی دیکښې خو د اوبو استعمال نقصان ورکوی نو بیا حضور صلی الله علی وسلم مطلقا د اوبو د استعمال فرمان څنګه اوکړو (۳)

ددې جواب دا دې چه د حضور اکرم ﷺ ارشاد مطلقا د هرې تبې دپاره نه دې بلکه د تبې د هغه قسمونو بارد کښې دې چه هغې کښې دبدن یخول په اوبو سره فائده مند وی . عموما چه کومه تبه د ګرمئ یا د سخت تاو د وجه وی دیکښې د اوبو استعمال ډیره فائده ورکوی . او حجاز مقدس خو ګرم دې نو هلته عموما خلقو ته تبه د ګرمئ او د تاو د وجه راځی، خکه د حضور ﷺ دا ارشاد ددې باره کښې دې د هرې تبې باره کښې نه دې (۴)

په تبه کښې به یخو اوبو د استعمال طریقه: اوس دا خبره پاتې ده چه بدن ته د یخو اوبو په ذریعه یخ والې ورکولو دپاره څه خاص طریقه ده او که په هرې طریقې سره د اوبو استعمال کیدې شی؟

ددې یو طریقه خو حضرت اسماء بنت ابی بکر ﷺ نه نقل ده چه هغې به د تبې والا کس په سینه باندې یخې اوبه شیندلې (۵)

امام ترمذی رحمه الله د حضرت ثوبان ﷺ نه یو مرفوع روایت رانقل کړیدې ، دیکښې یو طریقه بیان شویده . إذا أصاب أحدكم الحمى ..... فإن الحمى قطعة من النار ... فليطفئها عنه بالماء ، فليستنقع نهرا جاريا ، و ليستقبل جرية الماء فيقول : بسم الله ، اللهم اشف عبدك ، و صدّق رسولك ، بعد صلاة الصبح قبل طلوع الشمس ، فليغتمس فيه ثلاث غمسات ثلاثة أيام ، فإن لم يبرأ في ثلاثة فخمس ، وإلا فسبع ، وإلا فتسع ، فإنها لا تكاد تجاوز تسعا بإذن الله" (۶)

---

۱) فتح الباری : ۱۰\۲۱۵ عمدة القاری : ۲۱ \ ۲۵٤)

۲) السنن الكبرى للنسائي ، كتاب الطب ، باب تبريد الحمى بماء زمزم : ٤ \ ۲۵٤ (رقم الحديث : ۷۶۱٤) والإحسان بترتيب صحيح ابن حبان ، كتاب الطب ، باب ذكر الخبر المفسر للفظة المجملة ..... ۱۸ \ ۲۳-۶۰) .

۳) فتح الباری : ۱۰ \ ۲۱۶ عمدة القاری : ۲۱ \ ۲۵٤)

٤) فتح الباری : ۱۰ \ ۲۱۶ عمدة القاری : ۲۱ \ ۲۵٤)

۵) لکه چه روایت د باب کښې دی)

۶) سنن الترمذی ، کتاب الطب ، باب : ۳۳ ، ٤ \ ٤۱۰ (رقم الحدیث : ۲۰۸٤)

ددې حديث حاصل دا دې چه د تبې والا سړې د سحر د مانځه نه پس او د نمر خاته نه وړاندې يو نهر ته کوز شی او چه د کوم طرفه اوبه راځی هغه طرف ته مخ او سينه کړی او "اللهم اشف عبدك و صدّق رسولك" اووائی او درې غوټې اووهی ، درے ورځے دا عمل اوکړی روغ به شی گنی پنځه ورځې يا اووه يا نه ورځې دې دا عمل اوکړې ، په نهو ورځو کښې به دننه دننه دده تبه انشاء الله خامخا ځی

امام ترمذی رحمه الله دا حديث غريب گرځولې دې (١) او حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ددې سند کښې سعيد بن زرعه يو مختلف فيه راوی دی (٢)

بزار د حضرت سمره ﷺ يو روايت ذکر کړيدې او امام حاکم ديته صحيح ويلے دی ديکښ دی :"كان رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا حم، دعا بقربة من ماء فأفرغها على قرنه فاغتسل" (٣)

حضور اکرم ﷺ به په تبه کښ د اوبو مشك رااوغوښتلو او دا به ئې د خپل سر په ويختو واچولې او غسل به ئې اوکړو

علامه ذهبی رحمه الله دې حديث ته صحيح ويلې دی (٤) خو حافظ ابن حجر رحمه الله دا ضعيف گرځولې دې (٥)

امام طحاوی رحمه الله د حضرت انس ﷺ يو روايت رانقل کړيدې او حاکم ديته صحيح ويلې دی او ددې سند قوی دې (٦) حضرت انس ﷺ فرمائی :"إذا حم أحدكم فليشن عليه من الماء البارد من السحر ثلاث ليال" (٧)

يعنی په تبه والا کس باندې به درې ورځو پورې د سحر په وخت کښې يخې اوبه اچولې شی.

د طبرانی په يو روايت کښ د "وصبوه عليكم فيما بين الأذانين المغرب والعشاء" (٨) الفاظ هم راغلې دی چه د مابنام او د ماسختن په مينځنی وخت کښ په تبے والا باندے اوبه واچوئ

قوله: قال نافع: وكان عبدالله يقول: اكشف عنا الرّجز: دا د ماقبل سنډ سند سره موصول دې حضرت عبد الله بن عمر ﷺ به فرمائل چه مونږ نه دا عذاب لرې کړه ځکه حديث کښې ديته "فيح جهنم" ويلې شويدی ، حافظ ابن حجر رحمه الله ليکی :

"وإنما طلب ابن عمر كشفه مع ما فيه من الثواب لمشروعية طلب العافية من الله سبحانه و تعالى، إذ هو قادر

---

(١) سنن الترمذی ، كتاب الطب ، باب : ٣٣ ، ٤ \ ٤١٠ (رقم الحديث : ٢٠٨٤)

(٢) فتح الباری : ١٠ \ ٢١٧

(٣) المستدرک للإمام الحاكم ، كتاب الطب ، باب الحمى قطعة من النار ، فأبردوها عنكم بالماء : ٤ \ ٤٠٤)

(٤) التلخيص للذهبی ، كتاب الطب : ٤ \ ١٠١

(٥) فتح الباری : ١٠ \ ٢١٨)

(٦) فتح الباری : ١٠ \ ٢١٨

(٧) المستدرک للإمام الحاكم ، كتاب الطب ، باب عليكم بألبان البقر : ٤ \ ٤٠٣ ، فتح الباری : ١٠ \ ٢١٨

(٨) فتح الباری : ١٠ \ ٢١٨ ، مجمع الزوائد ، كتاب الطب ، باب ما جاء فی الحمى و إبرادها بالماء : ٥ \ ٩٥)

على أن يكفر سيئات عبده و يعظم ثوابه ، من غير أن يصيبه شيء يشق عليه " (١)
يعنى حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما د تبې لرې كيدو دپاره دعا اوكړه . سره ددې چه ديكښې ثواب دې ، وجه ددې دا ده چه د الله تعالى نه صحت غوښتل روا دى ، ځكه چه بيمارو او مصيبتونو كښې مبتلاء كولو نه بغير هم الله تعالى ګناهونه معاف كولې شى

٢٨= بَابِ مَنْ خَرَجَ مِنْ أَرْضٍ لَا تُلَايِمُهُ

[٥٣٩٥] حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى بْنُ حَمَّادٍ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ حَدَّثَنَا سَعِيدٌ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ أَنَّ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ حَدَّثَهُمْ أَنَّ نَاسًا أَوْ رِجَالًا مِنْ عُكْلٍ وَعُرَيْنَةَ قَدِمُوا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَكَلَّمُوا بِالْإِسْلَامِ وَقَالُوا يَا نَبِيَّ اللَّهِ إِنَّا كُنَّا أَهْلَ ضَرْعٍ وَلَمْ نَكُنْ أَهْلَ رِيفٍ وَاسْتَوْخَمُوا الْمَدِينَةَ فَأَمَرَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِذَوْدٍ وَبِرَاعٍ وَأَمَرَهُمْ أَنْ يَخْرُجُوا فِيهِ فَيَشْرَبُوا مِنْ أَلْبَانِهَا وَأَبْوَالِهَا فَانْطَلَقُوا حَتَّى كَانُوا نَاحِيَةَ الْحَرَّةِ كَفَرُوا بَعْدَ إِسْلَامِهِمْ وَقَتَلُوا رَاعِيَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاسْتَاقُوا الذَّوْدَ فَبَلَغَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَعَثَ الطَّلَبَ فِي آثَارِهِمْ وَأَمَرَ بِهِمْ فَسَمَرُوا أَعْيُنَهُمْ وَقَطَعُوا أَيْدِيَهُمْ وَتُرِكُوا فِي نَاحِيَةِ الْحَرَّةِ حَتَّى مَاتُوا عَلَى حَالِهِمْ [٢٣١]

د امام بخاری رحمه الله مقصد په دې ترجمة الباب سره دا دې چه د كومې زمكې او د يو علاقې آب و هوا د يو انسان سره موافق نه وى نو دې ددينه چرته بل ځوا تلې شى امام د عرنين د واقعې نه استدلال كړيدې چه دوى مدينې منورې ته راغلل او ددې ځائې آب و هوا په دوى صاف رانغله بيمار شول نو حضور اكرم ﷺ دوى ته د مدينې منورې نه بهر يو ځائې ته د تلو دپاره اوويل ، دوى هلته لاړل او روغ شو خو بيا دوى ناشكرى اوكړه او ارتداد ئې اوكړو او د حضور اكرم ﷺ راعى (د څناورو ساتونكې) ئې قتل كړو ، قصاصا دوى تول قتل كړې شو ددې واقعې تفصيل وړاندې تير شويدې

٢٩= بَابِ مَا يُذْكَرُ فِي الطَّاعُونِ

طاعون د فاعول وزن دې د طعن نه (٢) طاعون په اصل كښې د وبا په شكل باندے د خوريدو د يو خاص بيمارئ نوم دې چه ديكښې ډيرو وختونو كښې د بدن په مختلف حصو كښې خاص كرپه ترخ وغيره كښې ننكئ راخيژى ، بدن سور يا تور شى او سوزى ، په زړه يره راشى ، قئې ورته شروع شى او انسان ډير زر مړ شى (٣)

---

(١) فتح البارى : ١٠\ ٢١٨)
(٢) فتح البارى : ١٠\ ٢٢١ عمدة القارى :٢١\ ٢٥٦ . ارشاد السارى : ١٢ \ ٤٤٨)
(٣) قال الخليل : الذاعون الوباء . و قال صاحب النهاية : الطاعون المرض العام الذى يفسد له الهواء و تفسد به الأمزجة و الأبدان . وقال عياض : أصل الطاعون القروح الخارجة فى الجسد . و قال ابن عبد البر : الطاعون غدة تخرج فى المراق و الأباط و قد تخرج فى الأيدى والأصابع وحيث ما شاء الله [بقيه حاشيه برصفحه آئنده

حديث كښې راځي چه د طاعون وجه دا وي چه پيريان دننه په بدن کښ يو نوکاره اولګوي .
لکه امام احمد د حضرت ابوموسى اشعرى رضي الله عنه روايت رانقل کړيدې: چه دوى ﷺ فرمائلي دي: خمامت به د طعن او د طاعون په وجه فناء کيږي ، نو اصحابو رضي الله عنهم اوويل: طعن خو مونږ ته معلوم دې (يعنى نيزه وهلو ته ويلے کيږي) خو طاعون څه څيز دې ، نو دوى ﷺ اوفرمائل: "وخز إخوانكم من الجن وفى كل شهادة " او يو روايت کښې "وخز أعدائكم من الجن" راغلي دې (١) د مسند احمد په روايت کښې د " اخوانكم" لفظ نشته دې او د خز تشريح په " طعن ليس بنافذ" سره شويده ، يعنى ټونګاره لګول ، څه څيز ننويستل (٢)
بهر حال کيدې شي چه اصل سبب ددې په دننه بدن کښ نوکاره لګول وي خو په ظاهري بدن باندې ددې اثر د ننکې او د دانې په شکل ظاهريږي (٣)
اسلام کښې د ټولو نه ړومبې وبا كله راغله؟: اسلام کښې د ټولو نه وړاندې د طاعون وبا د رملې او د بيت المقدس په مينځ کښې په يو کلي " عمواس " کښې راغلې وه ، حضرات اصحاب رضي الله عنهم او مجاهدين د شام د جهاد په سلسله کښې هلته موجود ديکښې قريبًا ديرش زره مسلمانان وفات شو (٤)
يو اشكال او ددې جواب: بعض حضرات وائى : كه طاعون د پيريانو او د شيطانانو د نوکارے په وجه خوريږى نو بيا په رمضان المبارك په مياشت کښ طاعون راتلل نه دى پکار خکه چه رمضان کښې خو سرکشه شيطانان خوتړلې شوې وي ، او د رمضان هيڅ استثناء نشته دې دا وبا په رمضان کښ هم خوريدې شي
ددې جواب دا ورکړې شويدې چه ممکن ده چه د شيطان حمله د رمضان نه وړاندې شوې وي خو ددې اثر په رمضان کښې ښکاره شوې وي (٥)

[٥٣٩٦] حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنِي حَبِيبُ بْنُ أَبِي ثَابِتٍ قَالَ سَمِعْتُ إِبْرَاهِيمَ بْنَ سَعْدٍ قَالَ سَمِعْتُ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ يُحَدِّثُ سَعْدًا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ إِذَا سَمِعْتُمْ بِالطَّاعُونِ بِأَرْضٍ فَلَا تَدْخُلُوهَا وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلَا تَخْرُجُوا مِنْهَا فَقُلْتُ أَنْتَ سَمِعْتَهُ يُحَدِّثُ سَعْدًا وَلَا يُنْكِرُهُ قَالَ نَعَمْ [ر:٣٢٨٦]

حضرت سعد بن ابى وقاص رضي الله عنه د حضور ﷺ نه روايت نقل كوى چه دوى ﷺ فرمائلي دى:

.....بقيه ازحاشيه گذشته]. قال الغزالي : هو انتفاخ جميع البدن من الدم مع الحمى او انصباب الدم إلى بعض الأطراف ينتفخ و يحمر و قد يذهب ذلک العضوء . (فتح البارى : ١٠ \ ٢٢١)

(١) مسند الإمام أحمد بن حنبل : ٤\١٧ . وفى رواية " وفى كل شهداء " مسند الإمام أحمد بن حنبل : ٤ \ ٣٩٥ . عمدة القارى :١٢\٢٥٦ .

(٢) فتح البارى : ١٠\٢٢٣ . عمدة القارى : ٢١ \ ٢٥٦ . النهاية فى غريب الحديث و الأثر : ٥\ ١٦٣

(٣) فتح البارى : ١٠\٢٢٣ . عمدة القارى : ٢١ \ ٢٥٦ . ارشاد السارى : ١٢ \ ٤٤٨

(٤) عمدة القارى : ٢١\٢٥٦

(٥) ارشاد السارى : ١٢ \ ٤٤٩

چه کله یو علاقه کښې د طاعون متعلق واورئ نو هلته مه ځئ او چه کله ته په یو علاقه کښې ئې او هلته طاعون خور شی نو د هغه خائې نه مه اوځه "فقلت: أنت سمعته يحدث سعدا، و لاينكره، قال: نعم

حبیب بن ابی ثابت وائی ما د ابراهیم بن سعد نه تپوس اوکړو چه تا د اسامه بن زید حدیث د سعد نه بیانیدل اوریدلې دی او (د ستا پلار) سعد ددینه انکار اونکړو ؟ نو دوی اوویل: چې آو ما په خپله اوریدلې دی

د فقلت قائل حبیب بن ابی ثابت دې ، ده د خپل شیخ ابراهیم بن سعد نه تپوس اوکړو چه تا د خپل شیخ اسامه بن زید نه په خپله اوریدلې دی چه دوی دا حدیث د حضرت سعد نه روایت کړیدې او حضرت سعد دینه انکار اونکړو ، نو ابراهیم اوویل : هَو ما دا حدیث دوی نه په خپله اوریدلې دې ، ابراهیم د حضرت سعد بن ابی وقاص ﷺ خوې دې [1]

[۵۳۹۷] [2] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَبْدِ الْحَمِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ زَيْدِ بْنِ الْخَطَّابِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ نَوْفَلٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ خَرَجَ إِلَى الشَّأْمِ حَتَّى إِذَا كَانَ بِسَرْغَ لَقِيَهُ أُمَرَاءُ الْأَجْنَادِ أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ وَأَصْحَابُهُ فَأَخْبَرُوهُ أَنَّ الْوَبَاءَ قَدْ وَقَعَ بِأَرْضِ الشَّأْمِ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَقَالَ عُمَرُ ادْعُ لِي الْمُهَاجِرِينَ الْأَوَّلِينَ فَدَعَاهُمْ فَاسْتَشَارَهُمْ وَأَخْبَرَهُمْ أَنَّ الْوَبَاءَ قَدْ وَقَعَ بِالشَّأْمِ فَاخْتَلَفُوا فَقَالَ بَعْضُهُمْ قَدْ خَرَجْتَ لِأَمْرٍ وَلَا نَرَى أَنْ تَرْجِعَ عَنْهُ وَقَالَ بَعْضُهُمْ مَعَكَ بَقِيَّةُ النَّاسِ وَأَصْحَابُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا نَرَى أَنْ تُقْدِمَهُمْ عَلَى هَذَا الْوَبَاءِ فَقَالَ ارْتَفِعُوا عَنِّي ثُمَّ قَالَ ادْعُوا لِي الْأَنْصَارَ فَدَعَوْتُهُمْ فَاسْتَشَارَهُمْ فَسَلَكُوا سَبِيلَ الْمُهَاجِرِينَ وَاخْتَلَفُوا كَاخْتِلَافِهِمْ فَقَالَ ارْتَفِعُوا عَنِّي ثُمَّ قَالَ ادْعُ لِي مَنْ كَانَ هَا هُنَا مِنْ مَشْيَخَةِ قُرَيْشٍ مِنْ مُهَاجِرَةِ الْفَتْحِ فَدَعَوْتُهُمْ فَلَمْ يَخْتَلِفْ مِنْهُمْ عَلَيْهِ رَجُلَانِ فَقَالُوا نَرَى أَنْ تَرْجِعَ بِالنَّاسِ وَلَا تُقْدِمَهُمْ عَلَى هَذَا الْوَبَاءِ فَنَادَى عُمَرُ فِي النَّاسِ إِنِّي مُصَبِّحٌ عَلَى ظَهْرٍ فَأَصْبِحُوا عَلَيْهِ قَالَ أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ أَفِرَارًا مِنْ قَدَرِ اللَّهِ فَقَالَ عُمَرُ لَوْ غَيْرُكَ قَالَهَا يَا أَبَا عُبَيْدَةَ نَعَمْ نَفِرُّ مِنْ قَدَرِ اللَّهِ إِلَى قَدَرِ اللَّهِ أَرَأَيْتَ لَوْ كَانَ لَكَ إِبِلٌ هَبَطَتْ وَادِيًا لَهُ عُدْوَتَانِ إِحْدَاهُمَا خَصِبَةٌ وَالْأُخْرَى جَدْبَةٌ أَلَيْسَ إِنْ رَعَيْتَ الْخَصْبَةَ رَعَيْتَهَا بِقَدَرِ اللَّهِ وَإِنْ رَعَيْتَ الْجَدْبَةَ رَعَيْتَهَا بِقَدَرِ اللَّهِ

---

[1] عمدة القاری : ۲۱\۲۵۷ ، و ارشاد الساری : ۱۲\۴۴۹

[2] الحديث أخرجه البخاری أيضا فی كتاب الحيل ، باب ما يكر من الحتيال فی الفرار من الطاعون (رقم الحديث : ۶۵۷۲) و أخرجه مسلم فی كتاب السلام ، باب الطاعون و الطيرة و الكهانة و نحوها : ۴\۱۷۴۰ (رقم الحديث : ۲۲۱۹) و أخرجه النسائی : فی كتاب الطب ، باب الخروج من الأرض التی لا تلائمه : ۱۴\۳۶۲ (رقم الحديث : ۷۵۲۲ ، ۷۵۲۵) و أخرجه ابوداود فی الجنائز ، باب فی فضل من مات فی الطاعون : ۱۳\۱۸۸ (رقم الحديث : ۳۱۱۱)

قَالَ فَجَاءَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ وَكَانَ مُتَغَيِّبًا فِي بَعْضِ حَاجَتِهِ فَقَالَ إِنَّ عِنْدِي فِي هٰذَا عِلْمًا سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا سَمِعْتُمْ بِهِ بِأَرْضٍ فَلَا تَقْدَمُوا عَلَيْهِ وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلَا تَخْرُجُوا فِرَارًا مِنْهُ قَالَ فَحَمِدَ اللّٰهَ عُمَرُ ثُمَّ انْصَرَفَ [ر: ۵۲۷۳]

[۵۳۹۸] (۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَامِرٍ أَنَّ عُمَرَ خَرَجَ إِلَى الشَّأْمِ فَلَمَّا كَانَ بِسَرْغَ بَلَغَهُ أَنَّ الْوَبَاءَ قَدْ وَقَعَ بِالشَّأْمِ فَأَخْبَرَهُ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا سَمِعْتُمْ بِهِ بِأَرْضٍ فَلَا تَقْدَمُوا عَلَيْهِ وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلَا تَخْرُجُوا فِرَارًا مِنْهُ

په زمانه د طاعون کښې د حضرت فاروق اعظم شام ته د تللو واقعه: حضرت عبد الله بن عباس ﷺ نه روایت دې چه د حضرت ابوعبیده بن الجراح او د ده ملګری د حضرت فاروق اعظم ﷺ سره ملاؤ شو او دوی ته ئې اوویل : چه د شام په ملك کښې وبا راغلې ده ، حضرت فاروق اعظم ﷺ اوویل : ما ته اولین مهاجرین راولئ، تو هغوی راوستلې شو ده د دوی سره مشوره اوکړه او دوی ته ئې اوویل : د شام په ملك کښې وبا خوره شویده (هلته تلل پکار دی او که نه واپس کیدل پکار دی ؟) دوی کښې اختلاف شو ، څو اوویلې چه د کوم کار دپاره راووتې یو دینه واپس کیدل مناسب نه دی ، او څو اوویلې : تاسره لوے لوے خلق او د رسول الله ﷺ اصحاب دی ، دې وجه نه وبا طرف ته تلل مناسب نه دی

حضرت فاروق اعظم چه کله ددوی اختلاف اولیدلو نو وې فرمائل : تاسو څما نه لاړ شئ ، بیا ئې اوفرمائل : انصار راولئ ، ما هغوی رااوبلل : دوی سره مشوره اوشوه ، نو دې خلقو مینځ کښې هم د مهاجرینو په شان اختلاف اوشو ، حضرت فاروق اعظم ﷺ دوی ته هم اوویل : څما نه لاړ شئ،بیا ئې اوفرمائل: د قریشو مشران رااوغواړه ، چه کومو د فتح مکه په کال هجرت کړیدې ،نوما دوی رااوغوښتل :دوی کښې دوه سړو هم اختلاف اونکړو بلکه دوی ټولو اوویل: چه څمونږ خیال دې چه ته خلقو لره واپس بوځه او دې وبا طرفته مه ورځئ.

فاروق اعظم ﷺ په خلقو کښې اعلان اوکړو چه څه صبا به د واپسئ دپاره سوریږم ، نو د سحر په وخت کښې خلق حضرت فاروق اعظم ﷺ ته راغلل ، حضرت ابو عبیده بن الجراح اوویل : امیر المؤمنین د الله تعالی د تقدیر نه تیخته اختیاروے ؟ حضرت فاروق اعظم ﷺ اوویل : چه افسوس د ستا نه علاوه بل چا دا خبره کړې وې ، مونږ د تقدیر الهی نه تقدیر الهی طرفته تیخته کوو ، دا خو راته اووایه چه تاسره اوښ وی او ته یو کنده کښې کوز شې چه د هغې یو طرف شنه تازه ګیاه وی او بل طرف اوچ وی نو آیا دا حقیقت نه دې چه ته به په شین طرف باندے اوښ څروې نو دا به هم په تقدیر الهی سره وی او که اوچ کښې څروې نو دا به هم په تقدیر الهی سره وی .

راوی وائی دیکښې حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷺ راغلو ، چه دې د څه ضرورت په وجه

(۱) الحدیث أخرجه مسلم فی کتاب السلام ، باب الطاعون و الطیرة و الکهانة و نحوها : ۱۷۳۰/۱٤ (رقم الحدیث : ۲۲۱۹)

تر اوسه غائب وو ، دوی اوویل : ماسره ددې متعلق علم دې ما درسول الله ﷺ نه اوریدلے چه دوی فرمائل : چه کله تاسو د زمکے متعلق واورئ (چه هلته وبا خوره شوې ده ° نو هلته مه ځئ او چه کله په يو ځائے کښې وبا خوره شی او تاسو هلته موجود ئې نو د هغه ځائے نه تيخته مه کوئې او بهر مه ځئې

حضرت فاروق اعظم چه دا حديث واوريدو نو د الله تعالى شکر ئې اداء کړو او بيا د هغه ځائې نه واپس شو -

قوله: حدثنا عبد الله بن يوسف ، أخبرنا مالك ، عن ابن شهاب ، عن عبد الحميد بن عبد الرحمن بن زيد بن الخطاب......: دې سند کښې درې تابعيان او دوه صحابی دی او ټول مدنی دی ، امام مالك ، محمد بن شهاب زهری او عبد الحميد بن عبد الرحمن تابعيان دی او حضرت عبد الله بن عبد الله بن الحارث او حضرت عبد الله بن عباس دواړه صحابه دی (۱)

د عبد الله بن عبدالله بن الحارث په بخاری کښې صرف هم دا يو حديث دې ، ۹۹ هجری کښ د دوی وفات شويدې (۲)

قوله: إن عمر بن الخطاب ﷺ خرج إلى الشام: دا د ربيع الثانی د اتلسم سن هجری واقعه ده حضرت فاروق اعظم ﷺ دا سفر د خلقو د حالاتو او د حکومت د نظم او ترتيب معلومولو په غرض کولو - (۳)

قوله: حتى إذا كان بسرغ : سَرْغ (د سين زبر ، او د راء په سکون سره) وادی تبوك سره نزدې د شام د يو کلي نوم دې د مدينه منوره نه د ديارلسو مرحلو په فاصله دې (۴)

قوله: لقيه أمراء الأجناد أبوعبيدة بن الجراح وأصحابه : په دې مقام د حضرت عمر فاروق سره د لښکر اسلام امراؤ ملاقات اوکړو ، دينه مراد حضرت ابو عبيده (عامر بن عبد الله يا عبد الله بن عامر) او دده ملګری حضرت خالد بن الوليد ، زيد بن ابی سفيان ، شرجبيل بن حسنه او عمرو بن العاص مراد دی ، حضرت فاروق اعظم ﷺ شامل په مختلف لښکرونو تقسيم کړې وو ، اردن ، حمص ، دمشق ، فلسطين ، قنسرين .... هر يو د مستقل لښکر حصه وه او د هرې حصې جُدا امير وو . (۵)دې وجه نه دلته د امراء الاجناد اوويلې شو يعنی صيغه د جمع استعمال شوه

قوله: فأخبروه أن الوباء قد وقع بأرض الشام: د وبا نه طاعون مراد دې ، اتلسمه سن

---

۱) فتح الباری : ۱۰\۲۲۶ ، عمدة القاری : ۲۱\۲۵۸)

۲) فتح الباری : ۱۰\۲۲۶ ، عمدة القاری : ۲۱\۲۵۸)

۳) عمدة القاری : ۲۱\۲۵۸ ، دارنګه اوګورئ ارشاد الساری : ۱۲\۴۵۰

۴) فتح الباری : ۱۰\۲۲۶ ، ۲۲۷، عمدة القاری : ۲۱\۲۵۸ ، ارشاد الساری ۱۲\۴۵۰)

۵) عمدة القاری : ۲۱\۲۵۸ ، ارشاد الساری : ۱۲\۴۵۰ ، فتح الباری : ۱۰\۲۲۷)

هجرئ كښې په محرم او صفر كښې په شام كښې طاعون خور شو خو بيا ختم شو چه كله حضرت فاروق اعظم هلته اورسيدو نو دا وبا په دوباره خوره شوه ، (١)

قوله: أدع لي المهاجرين الأولين : اولين مهاجرين نه مراد هغه جليل القدر صحابه دى چه كومو د ټولو نه رومبے هجرت كړيدې او دواړو قبلو بيت المقدس او بيت الله شريف ته ئې مونځ كړې وو (٢)

قوله: معك بقية الناس وأصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم : بقية الناس نه بقية الصحابة مراد دى يعنى د ستا سره ژوندى پاتې شوي اصحاب دى " اصحاب رسول الله " ددې عطف تفسير دې ، (أطلق عليهم ذلك تعظيما لهم أي ليس الناس إلا هم) يعنى دوى دپاره تعظيما د بقية الناس لفظ استعمال شو گويا اصل په خلقو كښې هم دوى دى . او دا احتمال هم شته چه د بقية الناس نه مرا عام اصحاب وى او د اصحاب نه مراد خاص اصحاب وى (٣)

قوله: أدع لي من كان ههنا من مشيخة قريش : يعنى دلته چه كوم د قريشو مشران حضرات دى هغه را اوغواړه ، مشيخة د شيخ جمع ده ، ددې لفظ لس جمع راځى:

① شيوخ (د شين په ضمه سره) ② شِيُوخ (د شين په كسره سره) ③ أشياخ ④ شِيَخَة (د شين په كسره او د ياء په فتحه سره) ⑤ شِيخان (د شين په كسره او د ياء په سكون سره) ⑥ مَشايخ (ياء سره . په همزه سره غلط دې خلق عموما دا په همزه سره وائى او ليكى) ⑦ مَشِيخَة (د ميم فتحه او شين كسره) ⑧ مَشَيخاء (د ميم او د شين فتح او د ياء سكون) ⑨ مَشْيُوخا (د ميم فتح ، د شين سكون او د ياء ضمه او د واو سره) ⑩ مَشْيُخاء دارنگه د لفظ د شيخ ټولې لس جمع راځى (٤)

قوله: من مهاجرة الفتح : ① دينه يا هغه خلق مراد دى چه دوى د فتح د مكه په كال مدينې منورې ته هجرت كړې وو.
② يا هغه خلق مراد دى چه دوى د فتح د مكه په موقع اسلام قبول كړې وو
③ يا هغه اصحاب مراد دى چه دوى د فتح د مكه نه پس مدينې ته هجرت كړې وى .
د هجرت حكم اگرچه روستو د فتح د مكه نه پاتې نه وو ، ځكه چه حضور ﷺ فرمائلي وو: "لا هجرة بعد الفتح" خو بيا هم دوى صورتًا هجرت كړې وو دې صورت كښې دا به احتراز وى د هغه اصحابو ﷺ نه چه هغوى بالكل هجرت نه وو كړې او د فتح د مكه نه پس هم دوى په

---

(١) عمدة القارى : ٢١\٢٥٨ ، ارشاد السارى : ١٢\٤٥٠)
(٢) عمدة القارى : ٢١\٢٥٨ ، ارشاد السارى : ١٢\٤٥٠ ،
(٣) فتح البارى : ١٠\٢٢٧ دارنگه عمدة القارى : ٢١\٤٥٨
(٤) عمدة القارى : ٢١\٢٥٨ ، ارشاد السارى : ١٢\٤٥١ ، فتح البارئ : ١٠\٢٢٧

مکه کښې مقیم وو (۱)
دینه معلومه شوه چه کومو اصحابوﷺ اګر چه د فتح مکه نه پس هم هجرت کړې وی هغوی ته په هغه اصحابوﷺ فضیلت حاصل دې چه دوی هډو هجرت نه دې کړې (۲)

قوله: إني مصبّح على ظهر: مُصَبِّح د باب د تفعیل د اسم فاعل صیغه ده د سهار په وخت سفر کوونکې ، د ظهر نه مراد ظهرالراحلة ده یعنی څه به صبا سحر په سوارلئ سوریدونکې یم (۳)

قوله: أفرارًا من قدر الله: دا مفعول له دې أی ترجع فرارًا من قدر الله-

قوله: لو غیرك قالها یا أباعبیدة: داشرط دې جزاء ئې مخذوف ده ، جزاء " لأدبته " هم کیدې شی یعنی که چا بل چا داسې خبره کړې وې نو ما به ده ته ادب ښودلے وو او جزاء ئې " لكان أولى " هم کیدې شی یعنی که دا خبره بل چا کړې وې نو دا به زیاته بهتره وه ، د ستا دپاره داسې نامناسبه اعتراض مناسب نه وو ، او " لم أتعجب " هم محذوف کیدې شی یعنی که چا بل چا دا خبره کړې وې نو ما ته به تعجب نه وو د ستا پشان عالم سړی نه دا خبره اوریدل ما ته ډیره د تعجب ښکاری (۴)

قوله: واديًا له عُدْوتان: عُدْوة (د واو (خو ځما خیال دې چه عین دې واو خطاء د ناسخ ده ، مترجم) ضمه او کسره دواړه صحیح دی ، دال ساکن دې) عُدْوة طرف او اړخ ته وائی . وهو المكان المرتفع من الوادي وهو شاطئه - (۵)

قوله: إحداهما خصبة: خصبة (د خاء فتحه او د صاد کسره) تر او تازه شین ګوشین ، ددې په مقابله کښې جَدْبَة (د جیم فتحه او د دال سکون) راخی ، اوچ ، قحط وهلے (۶)
حضرت فاروق اعظمﷺ مثال بیان کړو او دې ئې پوهه کړو چه که د یو میدان دوه اړخه وی یو تر و تازه شین وی او بل اړخ اوچ قحط وهلې وی او ته څپل اوښان یو طرف ته څرولو دپاره بوځې نو چه تروتازه شین طرف ته ئې بوځې نو دیته به هم څرل په تقدیر الهي سره ویلې کیږی او که اوچ طرف ته ئې څروې نو دیته به هم څرل په تقدیر الهی سره ویلې کیږی . اوس دې شین طرف کښې اوښ څرولو ته د تقدیر الهی نه تیخته کول نه ویلې کیږی دا رنګه مونږهم که د شام د وبا والا علاقې نه واپس شو نو دیته به هم د تقدیر الهی نه تیخته نه

---

۱) عمدة القاری : ۲۱\ ۲۵۸ ، ارشاد الساری : ۱۲ \۴۵۱ ،فتح الباری : ۱۰ \ ۲۲۷
۲) فتح الباری : ۱۰ \۲۲۷
۳) عمدة القاری : ۲۱\ ۲۵۸ ، ارشاد الساری : ۱۲ \۴۵۱ ،
۴) عمدة القاری : ۲۱\ ۲۵۸ ، ارشاد الساری : ۱۲ \۴۵۱ ، فتح الباری : ۱۰ \ ۲۲۸
۵) عمدة القاری : ۲۱\۲۵۹ ، فتح الباری : ۱۰ \ ۲۲۸
۶) عمدة القاری : ۱۲ \ ۲۵۹

ويلي كيږي ـ
يو اشكال او ددې جواب: په دې د حضرت انس ﷺ ددې روايت نه اشكال كيږي چه كوم امام طحاوى رحمه الله په صحيح سند سره رانقل كړيدې چه حضرت فاروق اعظم ﷺ كله شام ته راغلو نو حضرت ابو طلحه او ابو عبيده ﷺ د دوى استقبال اوكړو او وې ويل : چه امير المؤمنين ! تاسو سره لوى لوى اصحاب دى ، او مونږ د خان نه روستو شام كښې لګيدلې اور پريخودې دې دې وجه نه تاسو په دې كال واپس شئ نو حضرت عمر فاروق واپس شو د حضرت انس ﷺ د دې حديث نه معلوميږى چه حضرت فاروق اعظم ﷺ ته د واپس تلو مشوره حضرت ابوعبيده ﷺ وركړې وه ، او دلته د بخارى په روايت كښې په واپس تلو باندې دوى اعتراض كړيدې (١)
خو دې دواړو خبرو كښې تطبيق داسې كيدې شى چه حضرت ابوعبيده ﷺ په شروع كښې خو د واپس كيدو مشوره وركړې وه خو بيا روستو په دوى باندې مقام د توكل غالب شو نو دوى د خپلې پخوانۍ مشورې نه رجوع اوكړه او په واپس كيدو باندې ئې اعتراض اوكړو(٢)
قوله: إذا سمعتم به بأرض فلا تقدموا عليه : د " به " ضمير مجرور طاعون ته راجع دې ، يعنى چه په كومه زمكه كښې تاسو د طاعون متعلق واورئ نو هلته مه ځئ " فلا تقدموا عليه "په حديث كښې دا نهى چه راغلې ده نودا په نزد د بعضو باندې دپاره د تحريم ده نو دې وجه نه چه په كومه علاقه كښې وبا خوره شوې وى نو هلته تلل جائز نه دى بلكه حرام دى او بعض حضرات وائى چه دا نهى دپاره د تنزيه ده نو چه د كوم سړى توكل مضبوط وى او په تقدير د مضبوط ايمان مالك وى نو هغه دپاره داسې علاقې ته تلل جائز دى - (٣)
قوله: وإذا وقع بأرض وأنتم بها فلا تخرجوا فرارًا منه : او چه كوم سړې په داسې علاقه كښې اوسيږى چه هلته وبا خوره شوې وى نو ددينه تيخته كول او وتل منع شويدى
د طاعون والا علاقې نه سړې وتلې شى او كه نه ؟ : د طاعون والا علاقې نه سړې وتلې شى او كه نه نو ديكښې مختلف اقوال دى
بعض عالمان وائى : چه وتلې شى ، قاضى عياض رحمه الله په اصحابو ﷺ كښې د حضرت ابو موسى اشعرى او د حضرت مغيره بن شعبه ﷺ او په تابعينو كښې د اسود بن هلال او د مسروق دا قول رانقل كړيدې چه دوى په دې حديث كښې دا نهى په تنزيه اخلى چه د جواز سره جمع كيدې شى (٤)
خو د بعضې نورو عالمانو په نزد د داسې علاقې نه وتل حرام دى ، ځكه چه په وتلو وعيد راغلې دې،د شوافعو په نزد هم دا قول راجح دې (٥) د دوى استدلال د حضرت عائشه ﷺ

---

(١) فتح البارى ١٠\٢٢٩
(٢) فتح البارى : ١٠ ٢٢٩
(٣) فتح البارى : ١٠\٢٣٠ . ارشاد السارى : ١٢\٤٥٣
(٤) ارشاد السارى : ١٢\٤٥٣)
(٥) ارشاد السارى : ١٢\٤٥٣)

په دې روايت دې چه کوم امام احمد رحمه الله رانقل کړيدې ، چه دا فرمائی چه ما د حضور ﷺ نه تپوس اوکړو چه طاعون څه څيز دې ؟ نو دوی ﷺ اوفرمائل : "غدة کغدة البعير، المقيم فيها کالشهيد، و الفار منها کالفار من الزحف" [1] يعنی دا د اوښ د غوټې او د دانې په شان په بدن کښې ښکاره کيدونکې دانه ده چه کوم سړې دې وبا کښې مقيم پاتې شی نو دې به د شهيد برابر درجه بيا مومی او چه کوم اوتختی نو دې د جهاد نه د تختيدونکې په شان مجرم دې خو حقيفت دا دې چه ديکښې تفصيل دې او ددې درې صورتونه کيدې شی

① چه يو سړې د وبا او د طاعون نه د تيختې او د بچ کيدو په اراده اوخی داسې چه په دې وبا کښې مبتلاء نه شی نو دا صورت ناجائز دې او په دې وعيد کښې شامل دې

② يو سړې د تيختې په نيت نه خی بلکه د يو بل مقصد او ضرورت دپاره د داسې علاقې نه خی ، مثلاً يو سړې دې چه ده د وړاندې نه د سفر تياری کړيدې او وتو والا وو چه ديکښې د طاعون وبا خوره شوه او دې د خپل پخوانی قصد مطابق اووتلو نو داسې کس دپاره وتل جائز دی او دې د نهی او د وعيد تر لاندې داخل نه دې

③ دريم صورت دا دې چه ددې ځائې نه بهر ته د تللو د ده ضرورت او حاجت هم دې او ورسره ئې خيال د وبا او د طاعون نه د بچ کيدو هم دې ، نو دا صورت مختلف فيه دې چه آيا دې وتلې شی او که نه ، [2]

دې دريم صورت کښې چه صرف د طاعون نه تيخته نه ده بلکه يو بل مقصد ئې ورسره هم په خيال کښې شته دې وجې نه بعضې حضراتو دا جائز ګرځولې دې او ويلې دی چه دا صورت د نهی نه مستثنی دې

لکه تاريخی روايتونو کښې راځی چه حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه حضرت ابوعبيده بن الجراح ته خط اوليکلو چه "تاسره ځما ضروری کار دی دې وجه نه ځما د خط په کتلو سمدست ما ته راشه" حضرت ابوعبيده پوهه شو ، جواب ئې اوليکلو چه ما ته معلومه ده چه د ستا ما سره څه کار دې ؟ څه د مسلمانانو په لښکر کښې يم د دوی د پريخودو خواهش ځما په زړه کښې نشته دې" نو بيا روستو د دوی هم په دې طاعون د عمواس کښې وفات اوشو ، [3]

حافظ ابن حجر رحمه الله ددې واقعې د ذکر نه پس ليکی :

فهذا يدل على أن عمر رأى أن النهي عن الخروج إنما هو لمن قصد الفرار متمحضا، ولعله كانت له حاجة بأبي

---

[1]) مسند الإمام احمد بن حنبل : ۶ \ ۲۵۵)

[2]) فتح الباری : ۱۰ \ ۲۳۱ ، ارشاد الساری : ۱۲ \ ۴۵۳ ، قال الشيخ ابن دقيق العبد : " الذی يترجح عندی فی الجمع بينهما أن فی الإقدام علی تعريض النفس للبلاء ، ولعلها لا تصبر عليه و ربما کان فيه ضرب من الدعوی لمقام الصبر أو التوکل فمنع ذلک حذرا من اغترار النفس و دعواها ما لا تثبت عليه عند الإختبار ، و أما الفرار فقد يکون داخلا فی التوغل فی الأسباب بصوة من يحاول النجاة بما قدر عليه فأمرنا الشارع بترک التکلف فی الحالتين "

[3]) فتح الباری : ۱۰ \ ۲۳۱، ۲۳۲)

عبيدة في نفس الأمر، فلذلك استدعاه، و ظن أبوعبيدة أنه إنما طلبه ليسلم من وقوع الطاعون به، فاعتذر عن إجابته لذلك، و قد كان أمر عمر لأبي عبيدة بذلك بعد سماعهما للحديث المذكور من عبد الرحمن بن عوف، فتأول عمر فيه ما تأول، و استمر أبوعبيدة على الأخذ بظاهره [1]

يعني حضرت فاروق اعظم حضرت ابوعبيده د طاعون والا علاقې نه رابلل په دې خبره دلالت كوى چه حديث كښې چه كومه نهى راغلې ده هغه د هغه كس دپاره ده چه د هغه نيت په بهر تلو سره صرف د وبا نه د تيختې وى ، خو كۀ څه بل ضرورت ئې وى نو تلې شى ، حضرت فاروق اعظم ﷺ هم غالبًا د حضرت ابوعبيده ﷺ سره څه كار لرلو دې وجه نه ئې راوبللو ، حال دا دې چه دوى د عبدالرحمن بن عوف نه د نهى والا حديث هم اوريدلې وو خو د دې سره ئې راوبللو ځكه چه ده نهى په دې ذكر شوې درې صورتونو كښې په ړومبى صورت اخستله

د طاعون والا علاقې نه د وتلو په ممانعت كښې حكمتونه : بهرحال حديث شريف كښې د طاعون والا علاقې نه د وتلو حضور اكرم ﷺ ممانعت كړيدې د ددې ممانعت عالمانو مختلف حكمتونه بيان كړيدى :

① چه كله په يو علاقه كښې وبا عامه شى نو عموما دينه بچ كيدل مشكل شى داسې صورت كښې تيخته څه فائده نه وركوى

② كۀ ټول خلق تيخته شروع كړى نو چه كوم انسان په وبا كښې مبتلاء شويدې يا د څه په وجه هغه تلې نه شى نو دده خيال به څوك ساتى ، دارنګه صرف هغه خلق به وتلې شى چه كوم قوى او د قدرت خاوندان وى ، او چه كوم كمزور وى بوډا ګان وى د سفر خرچه ورسره نه وى دا خلق به نشى وتلې نو دې سره به د كمزورو زړه ته درد اورسى

③ بعض وباګانې متعدى وى او ددې جراثيم خوريږى ، كۀ يو سړې ددغه ځائې نه اوځى نو ممكن ده چه دې دا جراثيم خان سره نورو علاقو ته يوسى او داسې به نوې علاقو كښې هم دا وبا راشى [2]

حديث نه د يو څو ادابو استنباط : امام بخارى رحمه الله چه د حضرت عمر فاروق د سفر د شام دا قصه په صحيح بخارى كښې دلته په ړومبى ځل ذكر كړه نو دې وجه نه حافظ ابن حجر رحمه الله د خپل عادت مطابق دينه مختلف احكام او آداب استنباط كوى او ليكى :

وفي قصة عمر من الفوائد: مشروعية المناظرة، و الإستشارة في النوازل، وفي الأحكام، و أن الإختلاف لا يوجب حكما، و أن الإتفاق هو الذي يوجبه، و أن الرجوع عند الإختلاف إلى النص، و أن النص يسمى علما، و أن الأمور كلها تجري بقدر الله و علمه، و أن العالم قد يكون عنده ما لا يكون عند غيره ممن هو أعلم منه، و فيه وجوب العمل بخبر الواحد، و هو من أقوى الأدلة على ذلك، لأن ذلك كان باتفاق أهل الحل و العقد من الصحابة،

---

[1]) فتح البارى : ١٠\٢٣٢)
[2]) فتح البارى : ١٠\٢٣٢، ٢٣٣)

فقبلوه من عبد الرحمن بن عوف، ولم يطلبوا معه مقويا، وفيه الترجيح بالأكثر عددا، والأكثر تجربة، لرجوع عمر لقول شيخة قريش مع ما انضم إليهم ممن وافق رأيهم من المهاجرين والأنصار ..... وفيه تفقد الإمام أحوال رعيته لما فيه من إزالة ظلم المظلوم، وكشف كربة المكروب وتنزيل الناس منازلهم" [1]
يعنى دې حديث او واقعه نه لاندينى آداب او فائدے مستنبط كيږى
① دا چه مناظره او بحث كول روا دى . لكه چه د حضرت فاروق اعظم رضي الله عنه او د حضرت ابوعبيده رضي الله عنه په مينځ كښې اوشو
② دا چه په راتلونكې واقعاتو او حادثو كښې د خپلو ملګرو سره مشوره كول پكار دى لكه چه حضرت فاروق اعظم اوكړلو
③ اختلاف سره څه حكم وجوبا نه ثابتيږى ، اتفاق سره ثابتيږى
④ په رائې كښې د اختلاف په وخت نص ته رجوع كول پكار دى
⑤ دا چه نص ته علم ويلې كيږى لكه چه حصرت عبدالرحمن بن عوف اوويل : چه ماسره ددې باره كښې "علم" دې او بيا ئې حديث واورولو ، نو حديث نه دوى تعبير په علم اوكړو
⑥ دا چه تمام امور د الله د تقدير او د علم مطابق جارى كيږى
⑦ دا چه د وړوكى عالم سره داسې يو خبره كيدې شى چه د لوې عالم سره به نه وى ، لكه چه حضرت فاروق اعظم په علم كښې د عبد الرحمن بن عوف نه زيات وو خو دا حديث دوى ته نه وو معلوم ⑧ دا چه په خبر واحد باندے عمل كول واجب دى نو په دې سره ددې روايت نه استدلال كيدې شى ، څكه حضرت عبد الرحمن بن عوف حديث واورولو او چا ئې ترديد اونكړو ، بلكه په دې ئې عمل اوكړو او واپس شو
⑨ چه كوم خلق مشوره كښې په اعتبار د تعداد زيات وى يا په تجربه كښې زيات وى نو د دوى رائې ته ترجيح وركول پكار دى ، دلته د قريشو د شيوخو تجربه زياته وه او د واپسئ رائې وركوونكې هم تعداد كښې زيات وو
⑩ امام او حاكم لره پكار دى چه د رعايا د احوالوخبر اوساتى
[٥٣٩٩] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ نُعَيْمٍ الْمُجْمِرِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَدْخُلُ الْمَدِينَةَ الْمَسِيحُ وَلَا الطَّاعُونُ [ر:١٧٨١]
مدينه منوره كښې دجال به نشى داخليدې او داسې د طاعون وبا به هم مدينه منوره كښې نه شى خوريدې

علامه قرطبى رحمه الله په شرح د مسلم "المفهم" كښې ليكلے دى چه "لا يدخل المدينة الطاعون" معنى دا ده چه طاعون به ديكښې په شان د عام وبا په شكل نه شى داخليدې لكه چه څنګه نورو علاقو كښې دا د وبا په شكل خوريږى - [2]

---

[1]) فتح البارى : ١٠\٢٣٣)
[2]) فتح البارى : ١٠\٢٣٤ ، درانګه اوګورئ: ارشاد السارى : ١٢\٤٥٤)

دده ددې قول نه معلومیږی چه فی الجمله په مدینه منوره کښې طاعون راتلې شی خو د عام وبا په شکل کښې نه شی راتلې
خو ابن قتیبه او امام نووی په " الاذکار " کښې لیکی چه طاعون مدینه منوره کښې د سره راتلې نه شی ، او دا یو تاریخی حقیقت دې چه مدینه منوره کښې د طاعون وبا کله هم نه ده خوره شوې ، طاعون نه علاوه نورې وباګانې خو راغلې دی او ددې وجه ډیر مړی هم شوی دی خو د طاعون وباء کله هم نه ده خوره شوې (١)
مدینه منوره په شان د مکه مکرمه باره کښې هم یو روایت دې چه دیکښې به هم دجال او طاعون دواړه نه شی داخلیدې ، دا روایت عمر بن شیبه په " تاریخ مکه " کښې نقل کړیدې او ددې سند صحیح دې - (٢)
خو بعضې حضراتو نه نقل دی چه اووه سوه یو کم پنځوست سن هجری په مکه مکرمه کښې طاعون خور شوے وو ، (٣) نو یا خو دغه د طاعون وبا نه وه ، څه بله بیماری وه او یا طاعون وو خو د وباء په شکل کښې نه وه (٤) او حدیث کښې د عدم دخول نه مراد په وبائی شکل کښې داخلیدل مراد دی لکه علامه قرطبی فرمائی
سند کښې د امام مالك شيخ نعيم بن عبد الله قرشی دې ، د ده لقب مُجمِر دې ، چه د اِجمار اسم فاعل دې،ده به مسجد نبوی په خوشبو وینځلو نو دې وجه نه د ده لقب " مجمر " شو(٥)

[٥٣٠٠]حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ حَدَّثَنَا عَاصِمٌ حَدَّثَتْنِي حَفْصَةُ بِنْتُ سِيرِينَ قَالَتْ قَالَ لِي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَحْيَى بِمَ مَاتَ قُلْتُ مِنَ الطَّاعُونِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الطَّاعُونُ شَهَادَةٌ لِكُلِّ مُسْلِمٍ[ر:٢٦٧٥]
[٥٣٠١]حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ عَنْ مَالِكٍ عَنْ سُمَيٍّ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمَبْطُونُ شَهِيدٌ وَالْمَطْعُونُ شَهِيدٌ[ر:٦٩٣]

حضرت حفصه بنت سیرین فرمائی : چه حضرت انس ﷺ ما نه څما د رور یحي بن سیرین باره کښې تپوس اوکړو چه هغه په څه وجه وفات شوې وو ، ما اوویل : د طاعون په سبب ، نوده اوفرمائل: چه حضور اکرم ﷺ فرمائلې دی چه طاعون د هر مسلمان دپاره شهادت دې کتاب الجهاد کښې دا حدیث تیر شویدې ـ

د باب په آخری حدیث کښې دی چه مبطون او مطعون دواړه شهید دی ، مبطون هغه کس دې چه د ګیډې د بیمارئ په وجه وفات شوې وی ، او مطعون چه په طاعون کښې مړ شوې وی ، دا دواړه د آخرت په اعتبار سره شهیدان دي

(١) فتح الباری : ١٠\٢٣٤)
(٢) فتح الباری : ١٠\٢٣٥)
(٣) فتح الباری : ١٠\٢٣٥)
(٤) فتح الباری : ١٠\٢٣٥)
(٥) ، تهذيب الكمال : ٢٩\٤٨٧ ، ٤٨٨)

٣٠=بَاب أَجرِ الصَّابِرِ فِي الطَّاعُونِ

[٥٤٠٢] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ أَخْبَرَنَا حَبَّانُ حَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ أَبِي الْفُرَاتِ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بُرَيْدَةَ عَنْ يَحْيَى بْنِ يَعْمَرَ عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهَا أَخْبَرَتْنَا أَنَّهَا سَأَلَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الطَّاعُونِ فَأَخْبَرَهَا نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ عَذَابًا يَبْعَثُهُ اللَّهُ عَلَى مَنْ يَشَاءُ فَجَعَلَهُ اللَّهُ رَحْمَةً لِلْمُؤْمِنِينَ فَلَيْسَ مِنْ عَبْدٍ يَقَعُ الطَّاعُونُ فَيَمْكُثُ فِي بَلَدِهِ صَابِرًا يَعْلَمُ أَنَّهُ لَنْ يُصِيبَهُ إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَهُ إِلَّا كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِ الشَّهِيدِ تَابَعَهُ النَّضْرُ عَنْ دَاوُدَ [ر: ٣٢٨٧]

طاعون چه په يو علاقه كښې خور شى او يو سړې هلته پاتې شى دې يقين سره چه الله تعالى څه په تقدير كښې ليكلې وى هم هغه به كيږى نو داسې كس ته به د شهيد برابر اجر ملاويږى ، مقصد دا دې چه يو مسلمان د طاعون والا علاقه كښې په يقين د رضا بالقضاء سره پاتې شى او ددې خبرې ئې پوخ ايمان وى چه د تقدير ليك نه بدليږى ، كُه تقدير كښې خما په دې باندې مبتلاء كيدل ليكلې وى نو مبتلاء به شم او كُه نه ئې وې ليكلې نو د دې وبا د خوريدو سره به هم څه په هر حال كښې بچ پاتې يم ، اګر چه د داسې سړى مرګ په طاعون نه وى شوې ، خو بيا هم ده ته په داسې علاقه كښې په دې يقين سره اوسيدو باندې د شهيد برابر اجر دې

د طبرانى په يو حديث كښې راځى چه آخرت كښې به په طاعون سره د مړ كيدو والا او د شهيدانو زخمونه يو شان وى ، د حديث الفاظ دى :" يأتى الشهداء و التوفون بالطاعون ، فيقول أصحاب الطاعون : نحن شهداء ، فيقال : أنظروا فإن جراحهم كجراح الشهداء تسيل ما كريح المسك : فهم شهداء ، فيجدونهم كذلك" (١)

تابعه النضر عن داود يعنى د حبان بن هلال متابعت نضر بن شميل كړيدې امام بخارى دا حديث وړاندے موصول ذكر كړيدې (٢)

٣١=بَاب الرُّقَى بِالْقُرْآنِ وَالْمُعَوِّذَاتِ

[٥٤٠٣] حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا هِشَامٌ عَنْ مَعْمَرٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَنْفُثُ عَلَى نَفْسِهِ فِي الْمَرَضِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ بِالْمُعَوِّذَاتِ فَلَمَّا ثَقُلَ كُنْتُ أَنْفِثُ عَلَيْهِ بِهِنَّ وَأَمْسَحُ بِيَدِ نَفْسِهِ لِبَرَكَتِهَا
فَسَأَلْتُ الزُّهْرِيَّ كَيْفَ يَنْفِثُ قَالَ كَانَ يَنْفِثُ عَلَى يَدَيْهِ ثُمَّ يَمْسَحُ بِهِمَا وَجْهَهُ [ر: ٤١٧٥]

---

(١) مجمع الزوائد ، كتاب الجنائز، باب فى الطاعون ، و ما تحصل به الشهادة : ١٢ \ ٣١٤ ، و فيه إسماعيل بن عباس و فيه كلام و حديثه عن أهل الشام مقبول و هذا منه)
(٢) فتح البارى : ١٠ \ ٢٣٩ ، ارشاد السارى : ١٢ \ ٤٥٦)

رُقی (د راء د ضمه او د قاف د فتحه مقصوره سره (الف مقصوره)) د رقية جمع ده ، رقية دم او شُف كولو ته وائي
قرآن كريم او معوذات سره دم شُف كول بالاتفاق جائز دی ، امام بخاری رحمه الله مقصد په ترجمة الباب سره ددې د جواز بيان دې ، د معوذات نه د قرآن كريم هغه ټول آيتونه مراد دی چه هغې كښې د شيطان او د ده د شر او د آفتونو نه پناه غوښتې شويده ، او يا ددينه قل أعوذ برب الناس او قل أعوذ برب الفلق دواړه سورتونه مراد دی ، دا اګر چه دوه سورتونه دی او معوذات ، جمع ده خو د جمع اطلاق په دوه هم كيږی ، او دا هم ويلې شی چه سورتونه خو دوه دی خو ديكښې آيتونه د دوه نه زيات دی دې وجه نه د جمع صيغه دوی دپاره استعمال شوه ، (1)
دم شُف كول جائز دی خو ددې د جواز دپاره دوه شرطونه دی - يو دا چه د دم الفاظو كښې داسې الفاظ نه وی چه هغه شركی وی يا موهم د شرك وی يا ئې معنی مجهوله وی ، دويم دا چه دم موثر بالذات او حقيقی سبب اونه ګنړلې شی ، (2)
بعض روايتونو كښې د دم نه حضور اكرم ﷺ منع فرمائيلې ده ، (3) دينه هم هغه دم مراد دې چه كومو كښې شركی الفاظ وی يا دا دم خلق موثر حقيقی ګنړلو عقيده لری
روايت د باب كښې حضرت عائشه ﷺ فرمائی چه نبی كريم ﷺ په كوم مرض كښې وفات شو ، ديكښې به دوی په خپل ځان باندې معوذات دم كول ، او چه كله بيماری سخته شوه نو ما به په دوی باندې معوذات دم كول او د دوی لاس به مې د دوی په بدن د بركت دپاره راكښلو ، راوی وائی چه ما د زهری نه تپوس اوكړو چه څنګه به ئې دم كولو ، نو دوی اوويل چه په خپلو لاسونو باندې به ئې شُف اوكړو بيا به ئې دا په خپل مخ مبارك راښكل

بَابُ الرُّقَى بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ

وَيُذْكَرُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ر:٥٤٠٥]

[٥٤٠٤] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي بِشْرٍ عَنْ أَبِي الْمُتَوَكِّلِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ نَاسًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَوْا عَلَى حَيٍّ مِنْ أَحْيَاءِ الْعَرَبِ فَلَمْ يَقْرُوهُمْ فَبَيْنَمَا هُمْ كَذَلِكَ إِذْ لُدِغَ سَيِّدُ أُولَئِكَ فَقَالُوا هَلْ مَعَكُمْ مِنْ دَوَاءٍ أَوْ رَاقٍ فَقَالُوا إِنَّكُمْ لَمْ تَقْرُونَا وَلَا نَفْعَلُ حَتَّى تَجْعَلُوا لَنَا جُعْلًا فَجَعَلُوا لَهُمْ قَطِيعًا مِنَ الشَّاءِ فَجَعَلَ يَقْرَأُ بِأُمِّ الْقُرْآنِ وَيَجْمَعُ بُزَاقَهُ وَيَتْفِلُ فَبَرَأَ فَأَتَوْا بِالشَّاءِ فَقَالُوا لَا نَأْخُذُهُ حَتَّى نَسْأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلُوهُ فَضَحِكَ وَقَالَ وَمَا أَدْرَاكَ أَنَّهَا رُقْيَةٌ خُذُوهَا وَاضْرِبُوا لِي بِسَهْمٍ [ر:٢١٥٦]

---

(1) عمدة القاری : ٢١ \ ٢٦٢ . ارشاد الساری ١٢ \ ٤٥٧)
(2) فتح الباری : ١٠ \ ٢٤٠)
(3) فتح الباری : ١٠ \ ٢٤٠ . ٢٤١)

امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې د سورت فاتحه د دم هغه مشهوره واقعه بيانوی چه کومه اصحابو حضراتو ته په زمانه د نبوت کښې پيښه شوې وه چه څو اصحاب د عربو يو قبيلې ته ورغلل چه دوی کښې مشهور صحابی حضرت ابو سعيد خدری ﷺ هم وو - د قبيلې خلقو د دوی ميلمستيا اونکړه ، ديکښې د قبيلې سردار مار اوچيچلو نو دوی د اصحابو نه تپوس اوکړو چه تاسو سره څه دوا يا څوك دم کوونکې شته ؟ نو اصحابو اوويل : تاسو خلقو څمونږ ميلمستيا اونکړه ، دې وجه نه چه ترکومې تاسو مونږ لره څه معاوضه مقرر نه کړئ دغه وخته پورې به مونږ څه نه کوو ، په دې باندې دوی د څو بکرو ورکول منظور کړل ، نو حضرت ابو سعيد خدری ﷺ په ده سورت فاتحه ويل شروع کړل او د خپلې خلې لاړې ئې په ده توك کړې او اومږلې ، نو دا سړې روغ شو ، بکرئ ئې راوړې نونورو اصحابو اوويل چه مونږ دا به تر هغه وخته نه اخلو چه تر څو د حضور اکرم ﷺ نه مونږ ددې باره کښې تپوس اونکړو ، حضور ته چه کله دا واقعه بيان شوه نو دوی مسکې شو او وې فرمائل تاسو ته څنګه معلومه شوه چه سورت فاتحه دم دے ، تاسو دا بکرئ واخلئ او څما حصه هم په کښې اوکړئ

قوله: فلم يقروها : دوی د اصحابو ﷺ ميلمستيا اونکړه ، **حتى تجعلوا لنا جعلا : جُعْل** (د جيم په ضمه او د عين په سکون) بدلې او معاوضه ته وائی ، **قطيعا من الشاء** : د بکرو رمه ، **قطيع** : ډلې او رمې ته وائی **شاء د شاة** جمع ده بکرئ ته وائی

بزاق : لاړے ، يتفل : باب ضرب او نصر دواړو نه راځی ، توك کول -

قوله: ويذكر عن ابن عباس عن النبى صلى الله عليه وسلم : يعنی رقية بالفاتحة حضرت ابن عباس ﷺ هم د حضور اکرم ﷺ نه نقل کړيدې لکه چه وړاندې باب کښې هم دا واقعه حضرت ابن عباس ذکر کړې ده

يو اشکال او ددې جوابونه :امام بخاری رحمه الله " يذكر " صيغه د مجهول استعمال کړيده ، چه صيغه د تمريض ده ، حال دا دې چه د ابن عباس دا روايت ضعيف نه دې بلکه امام بخاری په راتلونکی باب کښی دا په خپل سند سره نقل کړيدې نو بيا د " يُذكر " صيغه د مجهول ئې ولې استعمال کړه ؟

① ددې يو جواب خو دا ورکړې شويدې چه سورت فاتحه سره د دم کولو واقعه خپله حضور اکرم ﷺ سره نه ده راپيښه شوې ، دا دم دوی نه دې کړې ، بلکه يو صحابی کړې دې او دوی ددې تقرير او تصويب کړيدې نو د رقية بالفاتحة نسبت حضور اکرم ﷺ ته خو په معنوی لحاظ سره کيدې شی چه دوی ددې تقرير او تصويب کړيدې خو تصريحی او حقيقی اعتبار سره د دې نسبت دوی ﷺ ته نشی کيدې ، امام بخاری رحمه الله د " يذكر " مجهول صيغه راوړله او دې نکتې ته ئې اشاره اوکړه - ([1])

[1]) فتح البارى : ١٠\٤٤٣ ، عمدة القارى : ٢١\٢٦٣)

② او دویم جواب ئې دا ورکړې شویدې چه کیدې شی حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه یو روایت دې سلسله کښې منقول وی خو دا روایت د امام بخاری په شرط نه دې نو دې وجه نه امام "یذکر" سره دې روایت ته اشاره اوکړه ، ګویا راتلونکې باب کښې د ابن عباس والا روایت مراد نه دې څه بل یو روایت مراد دې (۱)

خو حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه د تلاش او د تتبع سره ما ته داسې څه روایت تر اوسه د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه ندې ملاو شوې (۲)

۳۳=بَابُ الشَّرْطِ فِي الرُّقْيَةِ بِقَطِيعٍ مِنْ الْغَنَمِ

[۵۰۵] حَدَّثَنِي سِيدَانُ بْنُ مُضَارِبٍ أَبُو مُحَمَّدٍ الْبَاهِلِيُّ حَدَّثَنَا أَبُو مَعْشَرٍ الْبَصْرِيُّ هُوَ صَدُوقٌ يُوسُفُ بْنُ يَزِيدَ الْبَرَّاءُ قَالَ حَدَّثَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ الْأَخْنَسِ أَبُو مَالِكٍ عَنْ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ نَفَرًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرُّوا بِمَاءٍ فِيهِمْ لَدِيغٌ أَوْ سَلِيمٌ فَعَرَضَ لَهُمْ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْمَاءِ فَقَالَ هَلْ فِيكُمْ مِنْ رَاقٍ إِنَّ فِي الْمَاءِ رَجُلًا لَدِيغًا أَوْ سَلِيمًا فَانْطَلَقَ رَجُلٌ مِنْهُمْ فَقَرَأَ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ عَلَى شَاءٍ فَبَرَأَ فَجَاءَ بِالشَّاءِ إِلَى أَصْحَابِهِ فَكَرِهُوا ذَلِكَ وَقَالُوا أَخَذْتَ عَلَى كِتَابِ اللَّهِ أَجْرًا حَتَّى قَدِمُوا الْمَدِينَةَ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ أَخَذَ عَلَى كِتَابِ اللَّهِ أَجْرًا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَحَقَّ مَا أَخَذْتُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا كِتَابُ اللَّهِ

د امام بخاری رحمه الله مقصد دا دے چه کُه څوك په دم درود کښې د څناورو د یو رمې شرط اولګوي نو شریعت کښې ددې جواز شته

د باب ترلاندې چه امام کوم حدیث نقل کړیدې دیکښې هم هغه واقعه ذکر ده چه کومه دینه وړاندې باب کښې تیره شوه دواړو حدیثونو کښې هم یو واقعه ده

قوله: إن أحق ما أخذتم عليه أجرا كتاب الله: دوی اوفرمائل چه په کومو څیزونو تاسو اجرت تعلیم او ددې په دم کولو اجرت اخستل جائز دی (۳)

د احنافو حضراتو او د حنابله په نزد د کتاب الله په تعلیم باندې اجرت اخستل جائز نه دی (۴) او دوی د لاندینی احادیثو نه استدلال کوی :

---

(۱) فتح الباری : ۱۰\۴۴۳)

(۲) فتح الباری : ۱۰\۴۴۳)

(۳)) عمدة القاری : ۱۲\۹۵ ، المغنی لابن قدامة ، کتاب الإجارة باب ما یعطی فی الرقیة .....۱۲\۹۵ و کتاب الصداق و فصول : ما یجوز أن یکون مهرا و ما تستحقه الزوجة إن لم یتم تسمیة لامهر : ۷\۱۶۴ ، ۱۶۵ (رقم الترجمة : ۵۵۵۷) ، الفتاوی البزازیة علی هامش الفتاوی الهندیة ، کتاب الإجارات ، نوع فی تعلیم القرآن و الحرف : ۵\۳۹)

(۴)) عمدة القاری : ۱۲\۹۵ ، المغنی لابن قدامة و کتاب الصداق و فصول : ما یجوز أن یکون مهرا و ما تستحقه الزوجة إن لم یتم تسمیة لامهر : ۷\۱۶۴ ، ۱۶۵ (رقم الترجمة : ۵۵۵۷)[بقیه برصفحه آئنده...

① دحضرت عباده بن صامت رضي الله عنه روايت امام ابو داود او ابن ماجه نقل کړيدې . دے وائي چه ما اصحاب صفه كښې څه كسانو ته د قرآن پاك تعليم ورکړو نو دوی كښې يو كس ما ته يو ليندكۍ په هديه كښې راكړه ، نو ما رسول الله ﷺ نه ددې كمان په باره كښې تپوس اوكړو (چه ما دپاره ددې اخستل صحيح دی او كه نه) نو دوی اوفرمائل : "إن كنت تحب أن تطوق طوقا من نار فاقبلها" ([1]) او يو روايت كښې دی : "جمرة بين كتفيك تقلدتها" يعني كه تا دا ليندكۍ واخسته نو تا ذ خپلو دوه اوږو مينځ كښې د اور سكروټې اوتړلې - ([2])

په دې حديث كښې اگر چه كلام شويدې چه ديكښې يو راوی مغيره بن زياد باندې امام احمد ، بخاري او ابوحاتم كلام کړيدې ، ([3]) اگر چه ابن معين او عجلي د ده توثيق کړيدې ([4]) خو علامه ابن عبد البر رحمه الله وائي : چه دا حديث د عباده بن صامت نه په دوه طريقو سره روايت دې ، نو دې وجه نه د محدثينو په نزد دا حديث مشهور دې ([5])

② ابن ماجه د حضرت ابی بن كعب رضي الله عنه نه روايت رانقل کړيدې چه ما يو سړی ته د قرآن پاك تعليم ورکړو ، نو ده ما ته په طور د هديه يو ليندكۍ راكړه ، ما نبی كريم ﷺ ته ددې ذكر اوكړو نو دوی اوفرمائل "إن أخذتها، أخذت قوسا من نار" نو ما دا واپس كړه ([6])

په دې حديث هم كلام شويدې او علامه هيثمی فرمائی چه ددې په سند كښې اضطراب دې ([7]) خو صاحب الجوهر النقی فرمائی چه دا روايت د حضرت ابی بن كعب نه په متعدد

بقيه ازگذشته] الفتاوى الهندية ، كتاب الإجارة ، مطلب الإستيجار على الطاعات : ٤ \ ٦١ ، الفتاوى البزازية على هامش الفتاوى الهندية ، كتاب الإجارات ، نوع فى تعليم القرآن و الحرف : ٥ \ ٣٩) تنقيح الفتاوى الحامدية ، كتاب الإجارة و مطالبه ، الفتوى على جواز الإجارة على تعليم القرآن : ٢ \ ١٣٧ و بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ، كتاب الإجارة : ٦ \ ٨ ، ٩ ، ١٠ ، ١١ ، ١٢ و ١٣ ، ١٤ ، رد المحتار على الدر المختار ، كتاب الإجارة ، مطلب فى الإستيجار على الطاعات و مطلب تحرير مهم فى عدم جواز الإستيجار على التلاوة و التهليل و نحوه مما لا ضرورة إليه : ٦ \ ٥٥ ، فتاوى قاضيخان ، كتاب الإجارات : ٣ \ ٢٠ ، فتاوى حقانيه ، كتاب الإجارة ، امامت او تعليم قرآن پر اجرت لينآ كا حكم : ٦ \ ٢٤٨ ، إمداد الفتاوى ، تعليم و تعلم او كتب مدارس كاحكم : ٤ \ ٧٩ ، ٨٥ ، كفايت المفتى ، كتاب المعاش ، پهلا باب نوكرى ، اجرت كرايه ، تعليم ، قرآن ، اذان اور ملازمت پر اجرت كا حكم : ٧ \ ٣٢٦ ، أحسن الفتاوى ، كتاب الإجارة ، امور دينيه پر اجرت كا حكم : ٧ \ ٢٨٧)

[1]) سنن أبي داود ، كتاب الإجارة ، باب كسب المعلم : ٣ \ ٢٦٤) و سنن ابن ماجه ، كتاب التجارات ، باب الأجر على تعليم القرآن : ٢ \ ٧٢٩ (رقم الحديث : ٢١٥٧)

[2]) سنن أبي داود ، كتاب الإجارة ، باب كسب العلم : ٣ \ ٢٦٥ (رقم الحديث : ٣٤١٧))

[3]) تهذيب الكمال : ٢٨ \ ٣٦١ ، ٣٦٠)

[4]) تهذيب الكمال : ٢٨ \ ٣٦١)

[5]) إعلاء السنن ، كتاب الإجارة ، باب الأجرة على تعليم القرآن : ١٦ \ ١٧١)

[6]) سنن ابن ماجه ، كتاب التجارات ، باب الأجر على القرآن : ٢ \ ٧٣٠ (رقم الحديث : ٢١٥٨)

[7]) مجمع الزوائدللهيثمى ، كتاب البيوع ، باب الأجر على تعليم القرآن و غير ذلک : ٤ \ ٩٥)

طریقو سره نقل دي . علامه ذهبی دا په یو مرسل طریقه سره هم نقل کړیدي او دا طریقه دوی جید الاسناد ګرځولې ده (١)
⑥ امام احمد بن حنبل رحمه الله یو روایت د عبدالرحمن بن شبل نه نقل کړیدې چه رسول الله ﷺ فرمائلي دی "إقرؤوا القرآن، ولاتأکلوا به" -
⑦ علامه زیلعی رحمه الله په نصب الرایه کښې د حضرت ابو الدرداء ﷺ نه یو مرفوع حدیث رانقل کړیدې دوی فرمائلي دی "من أخذ قوسا علی تعلیم القرآن، قلده الله من نار" (٢)
په دې احادیثو کښې اګر چه په بعضو کلام شویدې خو چه دا ټول یو ځائې کړې اووې ګورې نو دینه استدلال کیدې شی
د حنفیه او حنابله د طرفه د حدیث د باب مختلف جوابونه ورکړې شویدی
① حدیث دباب په وجه د احادیثو د نهی او د حرمت منسوخ دې . خو د نسخ دپاره د تاریخ معرفت ضروری دې او دلته هیڅ څه دلیل نشته دې چه هغې سره معلومه شی چه تاریخ د احادیثو د نهی روستو دې دې وجه نه دا جواب کمزورې دې - (٣)
② په حدیث د باب کښې چه کومه واقعه ده ، دیکښې د معاهدې تر لاندې ددې قبیلې په ذمه میلمستیا ورکول لازم وو دوی سره ددې میلمستیااو نکړه ، دې وجه نه حضور ﷺ د دوی د بکرو اخستو اجازت ورکړو (٤)
③ دریم جواب دا ورکړې شویدې چه دم قربت (عبادت) محضه نه دې بلکه دا د علاج د قبیلې څخه دې . دې وجه نه په دې اجرت اخستل جائز دی . خو د قرآن کریم تعلیم خالص قربت دې دې وجه نه په دې باندې اجرت اخستل جائز نه دی . یعنی قرآن کریم که اوویلې شی او په دې څوك دم کړې شی نو په دې اجرت اخستې شی خوپه تعلیم د قرآن نه شی اخستې - (٥)
خو متاخرین احنافو په تعلیم د قرآن باندے د اجرت د جواز فتوی ورکړیده . ځکه چه په خیر القرون کښې د قرآن معلمینو دپاره سرکاری تنخواه ګانې مقرر وې ، دې وجه نه متقدمینو اجرت اخستل ناجائز ګرځولې وو ، خو اوس چه د سرکاری عطیاتو او وظائفو دا سلسله بنده شویده . دې وجه نه د ضرورت په وجه متاخرینو د جواز فتوی ورکړیده - (٦)
سند کښې د امام بخاری رحمه الله شیخ سیدان بن مضارب دې ، سیدان د سین په کسره او د یاء په سکون سره دې ، د ده کنیت ابو محمد او نسبت باهلی دې . ۲۲۴ ھ کښې دے

١) السنن الکبری مع الجوهر النقی و کتاب الإجارة ، باب من کره أخذ الأجرة علی التعلیم : ٦\١٢٦)
٢)) مسند الإمام أحمد بن حنبل : ٣\٤٢٨)
٣) نصب الرایة لأحادیث الهدایة ، کتاب الإجارة ، باب الإجارة الفاسدة : ٤\١٣٨ (رقم الحدیث : ٦٨٢٤)
٤)) عمدة القاری : کتاب الإجارة ، باب ما یعطی فی الرقیة : ١٢\٩٦)
٥)) عمدة القاری ، کتاب الإجارة باب ما یعطی فی الرقیة : ١٢\٩٦)
٦) عمدة القاری ، کتاب الإجارة باب ما یعطی فی الرقیة : ١٢\٩٦)

وفات شويدې ، (١) بخارى كښې د دوى صرف هم دا يو روايت دې - (٢)

بل راوى ابو معشر يوسف بن يزيد دې ، بَرَّاء د ده لقب دې څكه چه ده به غشى تيره كول ، امام بخارى رحمه الله دې صدوق ګرځولې دې ، امام مسلم هم دده حديث نقل كړيدې ، خو يحي بن معين ده ته ضعيف ويلې دې - (٣)

دريم راوى عبيد الله بن اخنس دې ، دې هم د اكثر ائمه د جرح او د تعديل په نزد ثقه دې ، خو ابن حبان دده متعلق فرمائلې دى يخطىء كثيرا - (٤)

ددې درې وارو په يو ځائې په صحيح بخارى كښې هم دا يو حديث دې ، هَو د عبد الله بن اخنس يو حديث په كتاب الحج كښې او د ابومعشر يو حديث په كتاب الاشربة كښې هم امام بخارى رانقل كړيدې (٥)

د تعويذ حكم : دم كول خو ذكر شوې شرطونو سره بالاتفاق جائز دې ، خو د تعويذ باره كښې بعض حضرات وائي چه جائز نه دې ، دوى د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه د روايت نه استدلال كوى چه حضور اكرم صلى الله فرمائلې دى "إن الرقى و التمائم و التولة شرك" (٦) تمائم د تميمة جمع ده تعويذ ته وائى ، چه ديته دې حديث كښې شرك ويلې شويدې ، خو د جمهور عالمانو په نزد تعويذ ليكل او تړل جائز دى، په دې شرط چه دا په شركى يا په موهم دشرك يا مهمل مجهول المعنى الفاظو باندې مشتمل نه وى - (٧)

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په حديث كښې چه رقى او تمائم ته چه شرك ويلې شويدې نو دينه هغه دم او تعويذ مراد دې چه دا په شركى الفاظو مشتمل وى يا دې لره څوك موثر حقيقى اوګنړى (٨)

په اصحابو كښې حضرت عبد الله بن عمر ، حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهم نه دتعويذ ثبوت ملاوېږى ، ابن ابى شيبه د عمرو بن شعيب په طريق سره د حضرت عبد الله بن عمر روايت

---

(١) عمدة القارى ، كتاب الإجارة باب ما يعطى فى الرقية : ١٢\٩٦)

(٢)) مهذيب الكمال : ١٢\٣١٩ (رقم الترجمة : ٢٦٧٣) و تهذيب التهذيب : ٤\٢٩٤)

(٣) تهذيب الكمال : ١٢\٣١٩)

(٤)) تهذيب الكمال : ٣٢\٤٧٧ ، الجرح و التعديل : ٩\(رقم الترجمة : ٩٨٦) ، ابن حبان : ٧\٦٣٧)

(٥) عمدة القارى : ٢١\٢٦٣)

(٦)) سنن أبي داود ، كتاب الطب ، باب في تعليق التمائم : ٤\٩ (رقم الحديث : ٣٨٨٣) ، سنن ابن ماجه ، كتاب الطب ، باب تعليق التمائم : ٢\١١٦٦ (رقم الحديث : ٣٥٣٠)

(٧)) فتح البارى : ١٠\٢٤٠ ، رد المحتار على الدر المحتار ، كتاب الحظر و الإباحة : ٦\٣٦٣ ، او اوګورئ كفايت المفتي : ٩\٧٧ ، باب دوم ، عمليات و تعويذات ، فتاوى حقانيه كتاب الكراهية و الإباحة ، باب التداوى : ٢\٤٠٠)

(٨)) فتح البارى : ١٠\٢٤١ ، رد المحتار على الدر المختار ، كتاب الحظر والإباحة ، فتاوى حقانيه : ١٢\٤٠٠)

نقل کوی ، چه کوم سړی په خوب کښې یریږی ، حضور اکرم ﷺ دده باره کښې فرمائلي دی چه دې دا کلمات وائی : "بسم الله أعوذ بكلمات الله التامات من غضبه ، و سوء عقابه ، و من شر عباده ، و من شر الشياطين و أن يحضرون ....." روایت کښې دی چه حضرت عبد الله بن عمر به خپلو بچو ته دا کلمات خودل او چه کوم بچی د ازده کولو قابل نه وو نودا کلمات به ئې ورته اولیکل او غاړه کښې به ئې ورته واچول - (١)

د حضرت عبدالله بن عباس نه نقل دی چه ده به د هغه ښځې دپاره چه دا به د اولاد د راوړو په درد کښې مبتلاء وه دا کلمات فائده مند ګنړل " بسم الله لا إله إلا الله الحليم الكريم ، سبحان الله رب العرش العظيم ، الحمد لله رب العالمين ، كأنهم يوم يرونها لم يلبثوا إلا عشية أو ضحاها كأنهم يوم يرون ما يوعدون لم يلبثوا إلا ساعة من نهار بلاغ فهل يهلك إلا القوم الفاسقون "

روایت کښې وړاندې دی چه دا کلمات په کچه توره سپاهی اولیکلې شی او ښځه باندې اوڅکلې شی یا په دې اوبه دم کړې شی او دا د نامه لاندې چرګاؤ کړې شی ، یا ترینه تعویذ جوړ کړې شی او د ښځې په پتون اوتړلې شی - (٢)

راوی علی بن الحسن وائی چه مونږ ته دینه زیات فائده مند څیز نه دې ملاو شوې ، (٣)

تابعینو کښې مجاهد ، محمد بن سیرین ، عبید الله بن عبد الله بن عمر ، ضحاك او حضرت سعید بن المسیب رحمهم الله نه د تعویذونو جواز منقول دې (٤)

علامه ابن تیمیه رحمه الله هم په خپله فتاوی کښې د تعویذونو د جواز تصریح کړیده (٥)

د عملیاتو حکم : دم ، منتر او د تعویذونو ذکر ذکر شوی شرطونو سره جائز دی ، هم دا حکم د عملیاتو هم دې ، مختلف کلمات ، مختلف وظائف خلق په بعضې مخصوص شمیر او مخصوص پابندو سره وائی ، شرعًا د داسې علمیاتو حکم دا دې چه کُه دیکښې څه شرکی الفاظ یا مبهم الفاظ نه وی نو جائز دې

دا په اصل کښې د خلقو خپل خپل تجربات وی ، چا د یو خاص غرض دپاره یو کلمه یو لاکهـ خله د شپې په وخت کښې اوویله اودده کار اوشو ، ده بیا تجربه اوکړه او بیا کامیاب شو ، دارنګه دغه کس دیته د باقاعده یو وظیفې او د یو عمل شکل ورکوی ، دا دې څوك شرعی حکم او نه ګنړی ، دا بالکل ددې په شان دې چه څنګه د مختلفو جړو بوټو اثر خلقو

(١) سنن أبي داود ، كتاب الطب ، باب كيف الرقى : ٤ \ ١٢ (رقم الحديث : ٣٨٩٣)

(٢) فتاوى ابن تيميه ، فصل و يجوز أن يكتب للمصاب و غيره من المرض شيئا من كتاب الله و ذكره بالمراد المباح و يغسل و يسقى : ١٩ \ ٦٤)

(٣) فتاوى ابن تيميه ، فصل و يجوز أن يكتب للمصاب و غيره من المرض شيئا من كتاب الله و ذكره بالمراد المباح و يغسل و يسقى : ١٩ \ ٦٤)

(٤) مسنف ابن ابى شيبه : ٨ \ ٣٩)

(٥) فتاوى ابن تيمية : ١٩ \ ٦٤ ، رد المحتار على الدر المختار ، كتاب الحظر و الإباحة : ٦ \ ٣٦٣ ، إمداد الفتاوى : تعويذات و أعمال : ٤ \ ٨٩)

په تجربه سره معلوم کړې وی او په مختلف مرضونو کښې ددې انفرادا یا ترکیبا استعمال مفید وی ، نو هم دا صورت د جائز غیر موثر عملیاتو دې چه دا د خلقو د خپلو تجرباتو نتیجه وی (۱)

خو داخبره دې په خیال کښې وی چه عملیاتو سره څه قطعی حکم نه ثابتیږی ، مثلاً بعض خلق د غل معلومولو دپاره عمل کوی نو صرف ددې عمل په وجه یو کس واقعی غل ګنړل او په ده باندې د غلا احکام جاری کول جائز نه دی (۲)

۳۴=باب: رُقْيَةِ العَيْنِ

[۵۷۳۸] (۳) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَدَّثَنِي مَعْبَدُ بْنُ خَالِدٍ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ شَدَّادٍ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ أَمَرَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْأَمَرَ أَنْ يُسْتَرْقَى مِنَ الْعَيْنِ

[۵۷۳۹] (۴) حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ وَهْبِ بْنِ عَطِيَّةَ الدِّمَشْقِيُّ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْوَلِيدِ الزُّبَيْدِيُّ أَخْبَرَنَا الزُّهْرِيُّ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ زَيْنَبَ ابْنَةِ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى فِي بَيْتِهَا جَارِيَةً فِي وَجْهِهَا سَفْعَةٌ فَقَالَ اسْتَرْقُوا لَهَا فَإِنَّ بِهَا النَّظْرَةَ تَابَعَهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَالِمٍ عَنِ الزُّبَيْدِيِّ وَقَالَ عُقَيْلٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (تابعه عبدالله بن سالم، عن الزبيدی)

امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې د نظر لګیدو والا باندې د دم اچولو جواز بیانوی رومبې روایت د حضرت عائشه رضي الله عنها دې ، دا فرمائی چه حضور اکرم ﷺ ما ته حکم اوکړو چه بد نظر لګیدو په صورت کښې دم دې اوویلې شی

---

(۱) فتح الباری : ۱۰\۲٤۰)

(۲)) فتح الباری : ۱۰\۲٤۰ و رد المحتار علی الدرالمختار ، کتاب الحظر و الإباحة : ۶\۳۶۳ ، إمداد الفتاوی پ تعویذات و أعمال : ٤\۸۸ و قال القرطبی : الرقی ثلاثة أقسام : أحدها ما کان یرقی به فی الجاهلیة مما لا یعقل معناه ، فیجب إجتنابه لئلایکون فیه شرک أو یؤدی إلی الشرک ، الثانی : ما کان بکلام الله أو بإسمائه فیجوز فإن کان ماثورا یستحب ، الثالث : ما کان بأسماء غیر الله من ملک أو صالح أو معظم من المخلوقات کالعرش ، فهذا لیس من الواجب إجتنابه ولا من المشروع الذی یتضمن الإلتجاء إلی الله و التبرک بأسمائه فیکون ترکه أولی (فتح الباری : ۱۰\۲٤۱)

(۳)) الحدیث أخرجه مسلم فی کتاب السلام ، باب استحباب الرقیة من العین و النملة و الحمة و النظرة : ٤\۱۷۲۵ (رقم الحدیث : ۲۱۹۵) و أخرجه النسائی فی کتاب الطب ، باب رقیة العین : ٤\۳۶۵) و أخرجه ابن ماجه فی کتاب الطب ، باب من استرقی من العین : ۲\۱۱۶۰ (رقم الحدیث : ۳۵۱۱)

(۴)) الحدیث أخرجه مسلم فی کتاب السلام ، باب الرقیة من العین والنملة و الحمة و النظرة : ٤\۱۷۲۵ (رقم الحدیث : ۲۱۹۷)

قوله: أمرني أو أمر أن يسترقي من العين: راوی ته شك دې چه حضرت عائشه "امرنی" اوويل او که "امر" نې اوويل ، يسترقي : رقيه طلب كول يعنی د بد نظر لگيدو په صورت كښې دوی حکم اوكړو چه په دم كوونكی دې دم كړې شی
دويم روايت د حضرت ام سلمهؓ دې چه حضور اكرم ﷺ د دې په كور كښې يو جينۍ اوليدله چه ددې رنګ (د كمزورۍ په وجه) زيړ وو ، نو دوی اوفرمائل دا په چا دم كړئ ، ځكه چه ديته بد نظر لګيدلې دې

سفعة: زيړ والې او تور والی ته وائی سړې چه كله كمزورې شی نو دده رنګ كله زيړ او كله تور شی ، اصل رنګ باقی نه پاتې كيږی اصل رنګ كښې دا واقع كيدونكې تبديلی چه زيړ والې يا توروالې دې ديته سفعة وائی (۱) حافظ ابن حجر رحمه الله وائی چه ددې جينۍ نوم ما ته معلوم نه شو (۲)

دبد نظر باره كښې څو خبرې: دلته يو څو خبرې ياد اوساتئ
① د بد نظر لګيدل يو ثابت شوې حقيقت دې ، راتلونكې باب كښې روايت راځی ، چه حضور اكرم ﷺ فرمائلی دې : العين حق ، يعنی دا د زمانه جاهليت د نورو باطل رسمونو وهمونو او نظرياتو په شان څه باطل څيز نه دې بلكه حق او ثابت دې
② چه چا ته نظر اولګی هغه ته معيون او چه د چا نظر اولګی هغه ته عاين وائی ، ليدونكی ته يو كس يا يو څيز خوښ راشی ، دې ديته د خوښې په نظر ګوری خو دا د خوښې نظر ډير كرتې د معيون دپاره ضرری شی ،او ده دپاره د فساد او د مرض ذريعه جوړه شی ، ديكښې ډير كرتې د كتونكی څه اختيار او اراده شامل نه وی ، هم دا وجه ده چه د مور پلار نظر هم خپلو بچو ته لګی - (۳)
ددې نظر د وجه نه دا فساد ولې پيدا كيږی ؟ بعض حضراتو ددې حقيقت معلومولو كښې كوشش كړيدې او دا نې ويلې دی چه د كتونكی د ستركو نه زهريلی شعاع ګانې اوځی او دا ځی او د معيون په بدن كښې ننوځی او د فساد او د خرابۍ ذريعه جوړيږی ، دا زهريلی شعاع ګانې بعضې خلقو كښې زياتې او بعضو كښې كم وی - (۴)
خو زړه ته د پريوتو خبره دا ده چه دا د الله تعالی و تبارك پيدا كړې يو سبب دې چه څنګه د فساد اود خرابۍ اود ورانی نور ډيراسباب دی نودا هم د دغه اسبابو په شان يو سبب دې(۵)
③ حضور اكرم ﷺ په حديث د باب كښې فرمائلی دی چه بد نظر لګيدو باندے دے په چا دم كړې شی ، هغه دم څه دې د هغې ذكر په روايت كښې نشته دې

(۱) فتح الباری : ۱۰\۲٤۸)
(۲) فتح الباری : ۱۰\۲٤۸)
(۳) فتح الباری : ۱۰ ۲٤۵ ، عمدة القاری : ۲۱ \ ۲٦۰)
(۴) فتح الباری : ۱۰ ۲٤۵ ، عمدة القاری : ۲۱ \ ۲٦۰)
(۵) فتح الباری : ۱۰ ۲٤۵ ، عمدة القاری : ۲۱ \ ۲٦۰)

د سورت قلم آیت (فاجتباه ربه فجعله من الصالحین و إن یکاد الذین کفروا لیزلقونك بأبصارهم لما سمعوا الذکر ویقولون إنه لمجنون) د بد نظر دپاره په طور د دم مفید او مشهور دې - (١)
دا رنگه نظر لگوونکې کُه " ما شاء الله " " لاحول ولا قوة إلا بالله " اووائی نو ددې په وجه هم د بد نظر اثر ختمیږی - (٢)
د دم نه علاوه د بد نظر لرې کولو دپاره په مختلفو علاقو کښې د خلقو نورې تجرباتی طریقې هم دی

د بد نظر لرې کولو طریقه : حدیث کښې هم ددې یو طریقه راغلې ده چه عاین دې د خپل بدن بعض حصې اووینځی او دا اوبه دې په معیون واچوی ، نو د بد نظر اثر به ختم شی ، امام ابو داود رحمه الله د حضرت عائشه رضی الله عنها روایت نقل کړیدې ، دوی فرمائی " کان یؤمر العاین فیتوضأ، ثم یغتسل منه المعین " - (٣)
حضرت سهل بن حنیف رضی الله عنه ته د حضرت عامر بن ربیعه رضی الله عنه نظر اولگیدو او دې بیمار شو ، حضور اکرم صلی الله علیه وسلم ته پته اولگیده نو دوی ته ئې د غسل حکم اوکړو ، نو دوی خپل مخ ، لاسونه ، څنگلې ، کندې ، د پښو طرفونه او د لنگ دننه حصه په یو تبرکښې اووینځله او دا اوبه ئې په حضرت سهل واچولې نو دې روغ شو - (٤)
امام نووی رحمه الله په شرح د مسلم کښې ددې تفصیل رانقل کړیدې چه عاین ته یو تبرې راوړې شی خو دا تبر به په زمکه نه اږدی ، دې به په اوبو غړغړې اوکړي او د غړ غړو اوبه به په تبر کښې واچوی ، بیا به مخ اووینځی ، بیا په گس لاس دې اوبه واخلی او دښی لاس پنجه دې اووینځی او بیا دې په ښی لاس اوبه واخلی او د گس لاس دې څنگله صرف اووینځی ، د مینځ حصه دې نه وینځی ، بیا دې پښې او د لنگ دننه حصه اووینځی ، دینه د ملا د ښی طرف لاندې د لنگ والا حصه مراد ده ، بیا دې دغه غساله (اوبه) په معیون واچوی نو دې به روغ شی - (٥)

فائده : د باب دویم حدیث کښې امام بخاری نه تر حضرت عروه بن زبیر پورې شپږ راویان دی او د ټولو نوم " محمد " دې ، داسې دا روایت " مسلسل بالمحمدین دې ① محمد بن اسماعیل امام بخاری ② محمد بن خالد ③ محمد بن وهب ④ محمد بن حرب ⑤ محمد بن الولید ٦ محمد بن شهاب زهری - (٦)

---

(١) معارف القرآن : ٥٣٩\٨ ، انوار البیان : ٤٠٥\٩)
(٢) فتح الباری : ٢٥٢\١٠)
(٣)) سنن أبی داود ، کتاب الطب ، باب ما جاء فی العین : ٩\٤ (رقم الحدیث : ٣٨٨٠)
(٤) موطاء امام مالک ، کتاب العین ، باب الوضوء من العین : ٩٣٨\٢)
(٥) شرح مسلم للنووی ، باب الطب والمرض و الرقی : ٢٢٠\١٢ ، عمدة القاری : ٢٦٦\٢١)
(٦) عمدة القاری : ٢٦٥\٢١)

د محمد بن وهب بن عطیه په بخاری کښې صرف هم دا یو حدیث دې [1]

قوله: و قال عقیل علی الزهري :أخبرني عروة عن النبي صلی الله علیه وسلم: دا تعلیق دې ، امام حاکم دا موصول نقل کړیدې - [2]

تابعه عبد الله بن سالم عن الزبیدی

یعنی د محمد بن حرب متابعت عبد الله بن سالم هم کړیدې ، دا متابعت امام ذهلی په "زهریات کښ موصولاً نقل کړیدې - [3]

٣٥-باب: العَيْنُ حَقٌّ

[٥٤٠٨] [4] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ نَصْرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ هَمَّامٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْعَيْنُ حَقٌّ وَنَهَى عَنِ الْوَشْمِ [ر:٥٦٠٠]

د بعض خلقو د نظر لګیدو نه انکار کړیدې ، [5] امام بخاری په دې باب کښې ددې تردید کړیدې چه د نظر لګیدل حق او حقیقت دی

حدیث باب کښ دی " (العین حق) ونهی عن الوشم " وشم په بدن کښې په ستنه خالونه لګولو ته وائی ، د حدیث په دواړو جملو کښې په ظاهره څه مناسبت نشته دې

علامه عینی رحمه الله فرمائی چه یو مجلس کښې څه خلقو د عین باره کښې او د وشم متعلق تپوس اوکړو نو دوی عین حق اوګرځولو او د وشم نه ئې منع اوکړه - [6]

حافظ ابن حجر رحمه الله د دواړو جملو مینځ کښې څو نور مناسبتونه بیان کړیدی خو علامه عینی دا رد کړیدی ، مثلاً چه څنګه د وشم په ذریعه د اندام د اصلی رنګ نه علاوه یو بل مصنوعی رنګ پیدا کیږی بد نظر هم دارنګه د اندام دننه یو غیر اصلی رنګ پیدا کوی ، دا دواړه په غیر اصلی رنګ پیدا کولو کښې شریک دی ، ددې اشتراك په وجه دې دواړو مینځ کښ مناسبت دې

دویم مناسبت حافظ ابن حجر رحمه الله دا بیان کړیدې چه وشم ډیر کرتې دې دپاره کیږی چه په دې سره د بد نظر نه بچ کیدل اوشی ، څکه چه وشم سره د اندام خپل اصلی رنګ او ښائست نه پاتې کیږی ، د بد نظر نه ساتلو دپاره ډیر کرتې د وشم په ذریعه د دې فطری

---

[1]) عمدة القاری : ٢١\٢٦٥ ، فتح الباری : ١٠\٢٤٧)

[2]) فتح الباری : ١٠\٢٤٩)

[3]) فتح الباری : ١٠\٢٤٨ ، عمدة القاری ٢١\٢٦٦)

[4]) الحدیث أخرجه البخاری أیضا فی کتاب اللباس ، باب الواشمة (رقم الحدیث : ٥٦٠٠ و أخرجه مسلم فی کتاب السلام ، باب الطب و المرض و الرقی : ٤\١٧١٩ رقم الحدیث : ٢١٨٧ و أخرجه ابوداود فی کتاب الطب ، باب ما جاء فی العین : ٤\٩ (رقم الحدیث : ٣٨٧٩)

[5]) فتح الباری : ١٠\٢٤٨ ، عمدة القاری ٢١\٢٦٦)

[6]) عمدة القاری : ٢١\٢٦٧)

خوبصورتي متاثر کوي ، حديث شريف کښې دوشم ممانعت او د بد نظر اثبات شويدې ، ددې طرف ته اشاره کولو دپاره چه نظر حق دې او چه کله نظر لګيدل په تقدير کښې وی نو بيا د وشم سره ددې بنديدل نشی کيدې -
خو علامه عينی رحمه الله فرمائی چه دا دواړه جُدا جُدا جمُلې دی چه د دوه جُدا جُدا په سوالونو په جواب کښي ويلې شويدی ، د دې دواړو مينځ کښې دا قسم مناسبتونه تلاش کول خالص تکلف دې - (۱)

۳۶--باب: رُقْيَةِ الحَيَّةِ وَالْعَقْرَبِ

[۵۳۰۹] (۲) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ الشَّيْبَانِيُّ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْأَسْوَدِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنْ الرُّقْيَةِ مِنْ الْحُمَةِ فَقَالَتْ رَخَّصَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرُّقْيَةَ مِنْ كُلِّ ذِي حُمَةٍ

يعنی د مار او د لړم د چيچلو په وخت د دم او د رقيه جواز ئې بيان کړيدې - حديث کښ د حية او دعقرب صراحتا ذکر نشته دې ، خو دحمة ذکر دې او دا وړاندې تير شو چه حمة دلړم يا د يو بل زهريلا څيز چيچلو ته وائی

۳۷--باب: رُقْيَةِ النَّبِيِّ ﷺ

[۵۳۱۰] (۳) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ قَالَ دَخَلْتُ أَنَا وَثَابِتٌ عَلَى أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ فَقَالَ ثَابِتٌ يَا أَبَا حَمْزَةَ اشْتَكَيْتُ فَقَالَ أَنَسٌ أَلَا أَرْقِيكَ بِرُقْيَةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَلَى قَالَ اللَّهُمَّ رَبَّ النَّاسِ مُذْهِبَ الْبَاسِ اشْفِ أَنْتَ الشَّافِي لَا شَافِيَ إِلَّا أَنْتَ شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا

دې باب کښې امام بخاری رحمه الله د حضور اکرم ﷺ نه منقول او ماثور د دم الفاظ رانقل کړيدي
ړومبی حديث کښ دی "اللهم رب الناس، مذهب الباس، اشف، أنت الشافی، (۴) لا شافی إلا أنت شفاء لا

---

(۱) عمدة القاری : ۲۱ \ ۲۶۷)
(۲) الحديث أخرجه مسلم في كتاب السلام ،باب استحباب الرقية من العين والنملة والحمة والنظرة : ٤ \ ١٧٢٤ (رقم الحديث : ۲۱۹۳) و أخرجه النسائی فی الطب ، باب رقية العقرب : ٤ \ ٣٦٦ (رقم الحديث : ۷۵۳۹)
(۳)) الحديث أخرجه أبوداود فی كتاب الطب ، باب كيف الرقی : ٤ \ ١١ (رقم الحديث : ۳۸۹۰) و أخرجه النسائی فی كتاب عمل اليوم و الليلة ، باب رقية رسول الله صلى الله عليه و سلم : ٦ \ ٢٥٣ (رقم الحديث : ۱۰۸۶۱) و أخرجه الترمذی فی الجنائز ، باب ما جاء في التعوذ للمريض : ٣ \ ٣٠٣ (رقم الحديث : ۹۷۳))
(۴)) فيه جواز تسمية الله تعالى بما ليس فی القرآن ، إذا كان له أصل ، فيه قال تعالى : (و إذا مرضت فهو يشفين) و أن لا يوهم نقصا (ارشاد الساری: ١٢ \ ٢٥٩)

یغادر سقما اي الله : د خلقو ربه ، بیماریٔ لره ختمونکیه ، ته شفا ورکړه ، چه هم ته شفاء ورکوونکې ئې ، صرف هم ته شافی ئې ، داسې شفا ورکړه چه هیڅ قسم بیماری پرې نږدی " شفاء د اشف دپاره مفعول مطلق دې او " رب الناس " منادی دې

[۵۷۴۳\۵۷۴۴] (¹) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنِي سُلَيْمَانُ عَنْ مُسْلِمٍ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُعَوِّذُ بَعْضَ أَهْلِهِ يَمْسَحُ بِيَدِهِ الْيُمْنَى وَيَقُولُ اللَّهُمَّ رَبَّ النَّاسِ أَذْهِبْ الْبَاسَ اشْفِهِ وَأَنْتَ الشَّافِي لَا شِفَاءَ إِلَّا شِفَاؤُكَ شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا قَالَ سُفْيَانُ حَدَّثْتُ بِهِ مَنْصُورًا فَحَدَّثَنِي عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَائِشَةَ نَحْوَهُ

دویم روایت کښې د سلیمان بن مهران اعمش شیخ مسلم دې ، دا مسلم بن صبیح همدانی دې ، د ده کنیت " ابو الضحی " دې او د ده کنیت د نوم په مقابله کښې زیات مشهور دې-(²) علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه دا مسلم بن عمران هم کیدې شی - (³)

خو حافظ ابن حجر رحمه الله د ده تردید کړیدې او وائی چه دا صرف یو عقلی احتمال دې ځکه چه د مسروق نه مسلم بن عمران هیڅ روایت ما نه دې لیدلې - (⁴) علامه عینی رحمه الله فرمائی چه حافظ نه دې لیدلې نو دینه د کرمانی تردید څنګه کیږی (⁵)

خو وړاندې " باب مسح الراقی الوجع بیده " کښې هم دا حدیث امام بخاری رحمه الله په دوباره ذکر کړیدې او علامه عینی رحمه الله هم هلته دا تصریح کړیده چه د مسلم نه هم ابو الضحی مراد دې ، (⁶) معلومه شوه چه د علامه عینی په نزد هم دینه مسلم ابو الضحی مراد دې ، خو علامه کرمانی باندې د حافظ ابن حجر تنقید علامه عینی ته ښه اونه لګیدو ، دې وجه نه ده دده تردید اوکړو

قوله: قال سفیان : حدثت به منصورا : دا تعلیق نه دې ، بلکه دماقبل سند سره منتصل دې ، سفیان ثوری وائی چه ما دا حدیث منصور بن المعتمر ته واورولو نو دوی د " ابراهیم عن مسروق عن عائشة " په طریق سره دا حدیث بیان کړو -

---

¹) الحدیث أخرجه مسلم فی کتاب السلام ، باب استحباب رقیة المریض : ٤ \ ۱۷۲۲ (رقم الحدیث : ۲۱۹۱) و أخرجه النسائی فی کتاب الطب ، باب رقیة الحرق : ٤ \ ۳۶۶ (رقم الحدیث : ۷۵۳۸) و أخرجه النسائی ایضا فی کتاب عمل الیوم و اللیلة ، باب رقیة رسول الله صلی الله علیه وسلم : ۶ \ ۲۵۳ (رقم الحدیث : ۱۰۸۶۱)

²) فتح الباری : ۱۰ \ ۲۵٤ ، عمدة القاری : ۱۲ \ ۲۶۹)

³) فتح الباری : ۱۰ \ ۲۵٤ ، شرح البخاری للکرمانی : ۱۲ \ ۲۵)

⁴) فتح الباری : ۱۰ \ ۲۵۳)

⁵) عمدة القاری : ۲۱ \ ۲۶۹)) عمدة القاری : ۲۱ \ ۲۶۹)) عمدة القاری : ۲۱ \ ۲۶۹)

⁶) عمدة القاری : ۲۱ \ ۲۷۲)

[۵۴۱۲] حَدَّثَنِي أَحْمَدُ ابْنُ أَبِي رَجَاءٍ حَدَّثَنَا النَّضْرُ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبِي عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَرْقِي يَقُولُ امْسَحْ الْبَاسَ رَبَّ النَّاسِ بِيَدِكَ الشِّفَاءُ لَا كَاشِفَ لَهُ إِلَّا أَنْتَ [ر: ۵۳۵۱]

د باب دا حديث د امام بخارى رحمه الله نه علاوه اصحاب صحاح كښې بل چا نه دې نقل كړې - (۱)

[۵۴۱۳\۵۴۱۳] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ رَبِّهِ بْنُ سَعِيدٍ عَنْ عَمْرَةَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ لِلْمَرِيضِ بِسْمِ اللَّهِ تُرْبَةُ أَرْضِنَا بِرِيقَةِ بَعْضِنَا يُشْفَى سَقِيمُنَا بِإِذْنِ رَبِّنَا

[۵۴۱۴] (۲) حَدَّثَنِي صَدَقَةُ بْنُ الْفَضْلِ أَخْبَرَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ عَبْدِ رَبِّهِ بْنِ سَعِيدٍ عَنْ عَمْرَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي الرُّقْيَةِ تُرْبَةُ أَرْضِنَا وَرِيقَةُ بَعْضِنَا يُشْفَى سَقِيمُنَا بِإِذْنِ رَبِّنَا

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى چه حضور اكرم ﷺ به دا دم د مريض دپاره ويلې " بسم الله تربة أرضنا و ريقة بعضنا، يشفى سقيمنا بإذن ربنا " (د الله په نوم سره دا خمونږ د زمكې خاوره ده او مونږ كښې د بعضو دخلے لاړې دى ، خمونږ مريض به دالله تعالى په حكم سره شفا بيا مومى) تربة أرضنا خبر دې ، مبتداء " هٰذه " محذوف ده ، د أرض نه مراد يا خو د مدينې منورې زمكه دد يا عامه ده - دارنګه د "بعضنا" نه مراد حضور اكرم ﷺ دې يا دا هم عام دې - (۳)
امام نووى رحمه الله ليكلې دى چه د حضور اكرم ﷺ ددې دم طريقه دا وه چه دوى به مسواكه ګوته باندې لاړې مباركې راواخستې ، بيا ئې دا په خاوره كښې كيخوده او د خاورې لګيدو پس به ئې دا ګوته مباركه د مريض په زخم يا د درد والا په ځائې كيخودله او دا كلمات به ئې ارشاد كړل (۴) د خاورې اثر يخ او اوچ دې ، دې وجه نه دې سره ځائې د

---

(۱) عمدة القارى : ۲۱ \ ۲۶۹)

(۲) الحديث أخرجه مسلم فى كتاب السلام ، باب استحباب الرقية من العين و النملة و الحمة و النظرة : ۴ \ ۱۷۲۴ (رقم الحديث : ۲۱۹۴) و أخرجه النسائى فى كتاب الطب ، باب النفث فى الرقية : ۴ \ ۳۶۸ (رقم الحديث : ۷۵۵۰) و أخرجه النسائى ايضا فى كتاب عمل اليوم و الليلة ، باب رقية رسول الله صلى الله عليه وسلم : ۶ \ ۲۵۳ (رقم الحديث : ۱۰۸۶۲) الحديث أخرجه أبوداود فى كتاب الطب ، باب كيف الرقى : ۴ \ ۱۲۱ (رقم الحديث : ۳۸۹۵) و أخرجه ابن ماجه فى الطب ، باب ما عوّذ به النبى صلى الله عليه وسلم و ما عُوّذ به : ۲ \ ۱۱۶۳ (قم الحديث : ۳۵۲۱)

(۳) فتح البارى : ۱۰ \ ۲۵۶ ، عمدة القارى : ۲۱ \ ۲۷۰ ، شرح مسلم للنووى ، باب استحباب رقية المريض : ۲ \ ۲۲۳)

(۴) فتح البارى : ۱۰ \ ۲۵۶ ، عمدة القارى : ۲۱ \ ۲۶۹ ، شرح مسلم للنووى ، باب استحباب رقية المريض : ۲ \ ۲۲۳)

زخم او د درد روغيږی ، زخم اوچيږی ، دارنګه لاړو کښې هم دا خصوصيت دې - (١)
خو امام قرطبی رحمه الله فرمائی چه ددې طبی توجيهاتو د سر نه هډو ضرورت نشته دې ،
بلکه دا د الله تعالی د نوم د برکت اثر کيږی چه مريض د درد او دتکليفه روغيږی - (٢)

قوله: يشفي سقيمنا : يشفی صيغه د مجهول ده او په طور د دعا مستعمل ده ، دې صورت کښې " سقيمنا " نائب فاعل کيدو په وجه سره به مرفوع وی او دويم صورت د يشفی معروف هم کيدې شی ، دې صورت کښې فاعل به محذوف وی او " سقيمنا " به د مفعول کيدو په وجه منصوب وی يعنی الله تعالی دې ځمونږ بيمار ته شفا ورکړی - (٣)

علامه توربشتی فرمائی چه "تربة أرضنا" نه فطرت د انسان ته اشاره ده او ريقة بعضنا سره نطفې ته اشاره ده ، ګويا په زبان حال سره وائی چه اې الله تا ددې بنده اول اصل د خاورې نه پيدا کړو ، بيا دې دده بنياد د معمولی اوبو نه جوړ کړو ، ده ته شفا ورکول ستا دپاره څه ګران کار نه دې دې وجه نه ته ده ته شفا ورکړه - (٤)

٣٨--باب: النَّفْثِ فِي الرُّقْيَةِ

[٥٤١٥] حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ مَخْلَدٍ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا سَلَمَةَ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا قَتَادَةَ يَقُولُ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الرُّؤْيَا مِنَ اللَّهِ وَالْحُلْمُ مِنَ الشَّيْطَانِ فَإِذَا رَأَى أَحَدُكُمْ شَيْئًا يَكْرَهُهُ فَلْيَنْفِثْ حِينَ يَسْتَيْقِظُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ وَيَتَعَوَّذْ مِنْ شَرِّهَا فَإِنَّهَا لَا تَضُرُّهُ وَقَالَ أَبُو سَلَمَةَ وَإِنْ كُنْتُ لَأَرَى الرُّؤْيَا أَثْقَلَ عَلَيَّ مِنَ الْجَبَلِ فَمَا هُوَ إِلَّا أَنْ سَمِعْتُ هَذَا الْحَدِيثَ فَمَا أُبَالِيهَا [ر:٣١١٨]

دې باب کښې امام بخاری د دم کولو په وخت د توك کولو بيان کړيدې
نفث (د نون په فتحه او د فاء په سکون سره) نفخ بلا ريق يا نفخ مع ريق قليل ته وائی ، دم کوونکې سرې پوك کوی دې پوك سره ډير کرتې د لاړو څه لږ لږ څاڅکی هم شامل وی او کله ورسره نه وی . (٥) په پښتو کښې ديته توك کول وائی
رومبې روايت د حضرت ابو قتاده رضی الله عنه (حارث بن ربعی) دې ، فرمائی چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلې دی چه دوی فرمائيل چه رويا صالحه د الله تعالی د طرفه او بد خوبونه د شيطان د طرفه وی . چه کله تاسو کښې په خوب کښې خراب څيز اووينی نو د خوبه د بيداريدو په وخت درې ځله دې اوتوکی او ددې د شره دې پناه اوغواړی نو دا به ده ته نقصان نه ورکوی .

١) فتح الباری : ١٠\٢٥٦ ، عمدة القاری : ٢١\٢٧٠)
٢) فتح الباری : ١٠\٢٥٦)
٣) فتح الباری : ١٠\٢٥٦ ، عمدة القاری : ٢١\٢٧٠ .)
٤) فتح الباری : ١٠\٢٥٦ ، عمدة القاری : ٢١\٢٦٩)
٥) فتح الباری : ١٠\٢٥٨ ، عمدة القاری : ٢١\٢٦٩)

راوى د حديث حضرت ابو مسلمه (بن عبد الرحمن بن عوف) فرمائى چه ددې حديث د اوريدو نه پس كُه څه د غر نه زيات درون خوب اووينم نو ما ته ددې څه پروا نشته دې

قوله: الرؤيا من الله والحلم من الشيطان: رؤيا نه رؤيا صالحه او ښه خوب مراد دې چه د الله تعالى د طرفه بنده دپاره زيرې دې او د حُلُم (په ضمه د حاء او په سكون او په ضمه د لام سره) نه مراد بد خوبونه دي و اگر چه دواړه قسم خوبونه پيدا كوونكې الله جل شانه دې ، خو د ښو خوبونو نسبت الله تعالى ته د تكريم او تشريف دپاره شويدې ، او د بدو خوبونو نسبت شيطان ته ځكه شويدې چه شيطان په ده خوشحاليږى او راضى وى - (١)

دې حديث كښې حضور اكرم ﷺ د بدو خوبونو نه د بچ كيدو او ددې د شر نه د محفوظ كيدو طريقه خودلې ده چه د ويخيدو نه پس كس طرف ته اعوذ بالله من الشيطان الرجيم اووايه او درې خله توك كړه او دده د شر نه پناه اوغواړه نو انشاءالله دا خوب به نقصان ده نه وى ، توك كولو كښې د شيطان نه نفرت او د ده تحقير او تذليل كولو ته اشاره ده ، ځكه چه شيطان د بدو خوبونو په وخت خوشحاليږى او ديته حاضريږى - علامه قسطلانى رحمه الله ليكى : وفى النفث إشارة إلى طرد الشيطان الذى حضر رؤياه المكروهة ، وتحقيرله واستقذار لفعله (٢)

[٥٣١٦] حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْأُوَيْسِيُّ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ عَنْ يُونُسَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ نَفَثَ فِي كَفَّيْهِ بِقُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ وَبِالْمُعَوِّذَتَيْنِ جَمِيعًا ثُمَّ يَمْسَحُ بِهِمَا وَجْهَهُ وَمَا بَلَغَتْ يَدَاهُ مِنْ جَسَدِهِ قَالَتْ عَائِشَةُ فَلَمَّا اشْتَكَى كَانَ يَأْمُرُنِي أَنْ أَفْعَلَ ذَلِكَ بِهِ قَالَ يُونُسُ كُنْتُ أَرَى ابْنَ شِهَابٍ يَصْنَعُ ذَلِكَ إِذَا أَتَى إِلَى فِرَاشِهِ [ر: ٣١٧٥]

حضرت عائشه فرمائي :چه رسول الله ﷺ به كله خپلې بسترې ته تشريف اوړلو نو په خپلو لاسونو به ئې قل هو الله احد او معوذتين (سورت فلق او سورت الناس) اوويلې او دم به ئې كړو او بيا به ئې دواړه لاسونه په خپل نورانى مخ راښكل او چه د بدن كومې كومې حصې ته به رسيدې شو په هغې به ئې راښكلو ، حضرت عائشه ﷺ فرمائى چه كله دوى بيمار شو نو ما ته ئې د داسې كولو حكم به كولو ، راوى د حديث يونس وائى چه ما ابن شهاب ليدلې وو چه دې به خپلې بسترې ته تللو نو داسې به ئې كولو

دا روايت په كتاب المغازى كښې تير شويدې

[٥٣١٧] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ أَبِي بِشْرٍ عَنْ أَبِي الْمُتَوَكِّلِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ أَنَّ رَهْطًا مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْطَلَقُوا فِي سَفْرَةٍ سَافَرُوهَا حَتَّى نَزَلُوا بِحَيٍّ مِنْ أَحْيَاءِ الْعَرَبِ فَاسْتَضَافُوهُمْ فَأَبَوْا أَنْ يُضَيِّفُوهُمْ فَلُدِغَ سَيِّدُ ذَلِكَ الْحَيِّ فَسَعَوْا لَهُ بِكُلِّ شَيْءٍ لَا يَنْفَعُهُ شَيْءٌ فَقَالَ بَعْضُهُمْ لَوْ أَتَيْتُمْ هَؤُلَاءِ الرَّهْطَ الَّذِينَ قَدْ نَزَلُوا بِكُمْ لَعَلَّهُ

---

(١) عمدة القارى : ٢١ \ ٢٧٠ . ارشاد السارى : ١٢ \ ٤٦٧)

(٢)) عمدة القارى : ٢١ \ ٢٧٠ . ارشاد السارى : ١٢ \ ٤٦٧)

أَنْ يَكُونَ عِنْدَ بَعْضِهِمْ شَيْءٌ فَأَتَوْهُمْ فَقَالُوا يَا أَيُّهَا الرَّهْطُ إِنَّ سَيِّدَنَا لُدِغَ فَسَعَيْنَا لَهُ بِكُلِّ شَيْءٍ لَا يَنْفَعُهُ شَيْءٌ فَهَلْ عِنْدَ أَحَدٍ مِنْكُمْ شَيْءٌ فَقَالَ بَعْضُهُمْ نَعَمْ وَاللَّهِ إِنِّي لَرَاقٍ وَلَكِنْ وَاللَّهِ لَقَدِ اسْتَضَفْنَاكُمْ فَلَمْ تُضَيِّفُونَا فَمَا أَنَا بِرَاقٍ لَكُمْ حَتَّى تَجْعَلُوا لَنَا جُعْلًا فَصَالَحُوهُمْ عَلَى قَطِيعٍ مِنَ الْغَنَمِ فَانْطَلَقَ فَجَعَلَ يَتْفُلُ وَيَقْرَأُ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ حَتَّى لَكَأَنَّمَا نُشِطَ مِنْ عِقَالٍ فَانْطَلَقَ يَمْشِي مَا بِهِ قَلَبَةٌ قَالَ فَأَوْفَوْهُمْ جُعْلَهُمُ الَّذِي صَالَحُوهُمْ عَلَيْهِ فَقَالَ بَعْضُهُمُ اقْسِمُوا فَقَالَ الَّذِي رَقَى لَا تَفْعَلُوا حَتَّى نَأْتِيَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَذْكُرَ لَهُ الَّذِي كَانَ فَنَنْظُرَ مَا يَأْمُرُنَا فَقَدِمُوا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرُوا لَهُ فَقَالَ وَمَا يُدْرِيكَ أَنَّهَا رُقْيَةٌ أَصَبْتُمُ اقْسِمُوا وَاضْرِبُوا لِي مَعَكُمْ بِسَهْمٍ [ر: ۲۱۵٦]

د باب دا آخرى حديث تير شويدې ، ديکښې دى ، " فانطلق فجعل يتفل " د تفل او د نفث تقريبًا يو معنى ده ، ددې جملې د وجه امام بخارى دا حديث ددې باب لاندې ذکر کړيدې

۳۹=بَاب مَسْحِ الرَّاقِي الْوَجَعَ بِيَدِهِ الْيُمْنَى

[۵۳۱۸] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ سُفْيَانَ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ مُسْلِمٍ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَوِّذُ بَعْضَهُمْ يَمْسَحُهُ بِيَمِينِهِ أَذْهِبِ الْبَاسَ رَبَّ النَّاسِ وَاشْفِ أَنْتَ الشَّافِي لَا شِفَاءَ إِلَّا شِفَاؤُكَ شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا فَذَكَرْتُهُ لِمَنْصُورٍ فَحَدَّثَنِي عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَائِشَةَ بِنَحْوِهِ

نبى کريم ﷺ به د دم کولو په وخت کښې خپل ښى لاس د تکليف په ځائے وهلو

۴۰=بَاب فِي الْمَرْأَةِ تَرْقِي الرَّجُلَ

[۵۳۱۹] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ الْجُعْفِيُّ حَدَّثَنَا هِشَامٌ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَنْفُثُ عَلَى نَفْسِهِ فِي مَرَضِهِ الَّذِي قُبِضَ فِيهِ بِالْمُعَوِّذَاتِ فَلَمَّا ثَقُلَ كُنْتُ أَنَا أَنْفِثُ عَلَيْهِ بِهِنَّ فَأَمْسَحُ بِيَدِ نَفْسِهِ لِبَرَكَتِهَا فَسَأَلْتُ ابْنَ شِهَابٍ كَيْفَ كَانَ يَنْفِثُ قَالَ يَنْفِثُ عَلَى يَدَيْهِ ثُمَّ يَمْسَحُ بِهِمَا وَجْهَهُ [ر: ۴۱۷۵]

امام بخارى رحمه الله مقصد دا دے چه ښخه که خاوند دم کول غواړى نو سنت کښې دې دپاره جواز شته . مناسبت د روايت د باب سره ظاهر دې

۴۱=بَاب مَنْ لَمْ يَرْقِ

[۵۳۲۰] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا حُصَيْنُ بْنُ نُمَيْرٍ عَنْ حُصَيْنِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا فَقَالَ عُرِضَتْ عَلَيَّ الْأُمَمُ فَجَعَلَ يَمُرُّ النَّبِيُّ مَعَهُ الرَّجُلُ وَالنَّبِيُّ مَعَهُ الرَّجُلَانِ وَالنَّبِيُّ مَعَهُ الرَّهْطُ وَالنَّبِيُّ لَيْسَ مَعَهُ أَحَدٌ وَرَأَيْتُ سَوَادًا كَثِيرًا سَدَّ الْأُفُقَ فَرَجَوْتُ أَنْ تَكُونَ أُمَّتِي فَقِيلَ

هَذَا مُوسَى وَقَوْمُهُ ثُمَّ قِيلَ لِي انْظُرْ فَرَأَيْتُ سَوَادًا كَثِيرًا سَدَّ الْأُفُقَ فَقِيلَ لِي انْظُرْ هَكَذَا وَهَكَذَا فَرَأَيْتُ سَوَادًا كَثِيرًا سَدَّ الْأُفُقَ فَقِيلَ هَؤُلَاءِ أُمَّتُكَ وَمَعَ هَؤُلَاءِ سَبْعُونَ أَلْفًا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ بِغَيْرِ حِسَابٍ فَتَفَرَّقَ النَّاسُ وَلَمْ يُبَيَّنْ لَهُمْ فَتَذَاكَرَ أَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا أَمَّا نَحْنُ فَوُلِدْنَا فِي الشِّرْكِ وَلَكِنَّا آمَنَّا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَلَكِنْ هَؤُلَاءِ هُمْ أَبْنَاؤُنَا فَبَلَغَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ هُمُ الَّذِينَ لَا يَتَطَيَّرُونَ وَلَا يَسْتَرْقُونَ وَلَا يَكْتَوُونَ وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ فَقَامَ عُكَّاشَةُ بْنُ مِحْصَنٍ فَقَالَ أَمِنْهُمْ أَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ نَعَمْ فَقَامَ آخَرُ فَقَالَ أَمِنْهُمْ أَنَا فَقَالَ سَبَقَكَ بِهَا عُكَّاشَةُ [ر:٣٢٢٩]

دامام بخاری رحمه الله مقصد دا دی چه که یو سړی دم درمل وغیره نه کوی نو شریعت کښې د دې جواز شته ، په حدیث د باب تفصیلی کلام په باب من اکتوی کښې تیر شویدې ، دیکښې دی، هم الذین لایتطیگرون، ولایکتوون ولایسترقون " دا هغه خلق دی چه د توکل په لوړ مقام دی او رضا بالقضاء مقام باندې اوسیږی د دم دارو درملو علاج وغیره ضرورت نه محسوسوی ، لکه علامه ابن الاثیر رحمه الله فرمائی :

" هذا من صفة الأولياء ، المعرضين عن الدنيا و أسبابها و علائقها ، و هؤلاء خواص الأولياء ، ولا يرد على هذا وقوع ذلك من النبى صلى الله عيه وسلم فعلا و أمراء لأنه كان فى أعلى مقامات العرفان و درجات التوكل ، فكان ذلك منه للتشريع و بيان الجواز و مع ذلك فلا ينقص ذلك من توكله ، لأنه كان كامل التوكل يقينا فلا يؤثر فيه تعاطى الأسباب شيئًا ، بخلاف غيره و لو كان كثير التوكل ، لكن من ترك الأسباب ، و فوض و أخلص فى ذلك كا دأرفع مقاما " (١)

یعنی علاج او اسباب پریخودل خاص د هغه اولیاؤ او د الله تعالی د لویو بندګانو صفت دی چه د دنیا او ددې د وسائلو نه اعراض کوی

دلته دې د چا په ذهن کښې دا شبه سر نه رااوچتوی چه کله دا دالله تعالی د خاص مقربو بندګانو صفت دې نو بیا رسول الله ﷺ علاج او اسباب عملاً هم او قولاً هم اختیار کړل چه په خپله ئې هم علاج او اسباب اوکړل او بل ته ئې هم حکم اوکړو

ځکه چه رسول الله ﷺ بې شك شبه د عرفان او د توکل په لوړ مقام فائز وو ، خو بیا هم دوی د علاج او وسائلو د مشروعت خودلو او ددې د جواز د بیان دپاره ئې دا اختیار کړل . دې سره د دوی د توکل په صفت کښې هیڅ قسم کمې نه دې راغلې ، ځکه چه دوی داسې کامل متوکل وو چه اسباب اختیارولو سره د دوی په توکل هیڅ اثر نه پریوتلو ، دا صرف د دوی خصوصیت وو د نورو خلقو خبرې نورې دی ، ځکه چه که یو سړې ډیر هم متوکل وی خو اسباب اختیارولو سره د ده په توکل څه نا څه فرق راځی ، که یو سړې اخلاص سره توکل کوی او خپله معامله الله تعالی ته سپاری او اسباب پریږدی نو دې یقینًا د توکل په لوړ

(١) فتح الباری : ١٠\٤٦٠ . ٤٦١)

مقام دې ـ دا روايت امام بخارى رحمه الله د حصين بن نمير نه نقل كړيدې ، د حصين بن نمير په بخارى كښې صرف هم دا يو روايت دې - (1)

۴۲=بَابُ الطِّيَرَةِ

[۵۴۲۱]حَدَّثَنِي عَبْدُاللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا يُونُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَالِمٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا عَدْوَى وَلَا طِيَرَةَ وَالشُّؤْمُ فِي ثَلَاثٍ فِي الْمَرْأَةِ وَالدَّارِ وَالدَّابَّةِ[ر:۱۹۹۳]

[۵۴۲۲](2)حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُاللّٰهِ بْنُ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُتْبَةَ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا طِيَرَةَ وَخَيْرُهَا الْفَأْلُ قَالُوا وَمَا الْفَأْلُ قَالَ الْكَلِمَةُ الصَّالِحَةُ يَسْمَعُهَا أَحَدُكُمْ[ر:۵۴۲۳]

طِيَرَة (د طاء د كسرې او د ياء د فتحه سره) د تطير مصدر دې چه څنګه د تحير مصدر حِيَرَة دې ، د بعض اهل لغت دا خيال دې چه عربى ژبه كښې په دې وزن باندې د دې دوه مصدرونو نه علاوه بل يو مصدر نه دې راغلې - (3)

طِيَرَة بدشګونئ (سپيره والى) ته وائى په زمانه د جاهليت كښې به خلق سحر د څه كار دپاره وتل نو دوى به په طير يعنى مارغه باندې اعتماد كولو ، دوى به ناست مارغان الوزول نو كه دا مارغه به ښى طرف ته والوتلو نو دوى به دا نيك شګون ګڼړلو او كار ته به روان شو او كه دا مارغه به ګس طرف ته والوتلو ، نو دوى به دا بد شګون ګڼړلو كار له به نه تلل ، خلقو به ښى طرف ته الوتونكى مارغه ته " مساغ " ا و ګس طرف ته الوتونكى مارغه ته به ئې " بارح " ويلې - (4)

اسلام چه راغلو نو دا وهم او خيال ئې باطل كړو چه د مارغه په ښى او په ګس طرف الوتلو سره د چا په كار كيدو او نه كيدو باندې څه اثر نه پريوځى

امام بيهقى رحمه الله په " شعب الايمان " كښې د حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما روايت نقل كړيدې چه كه د چا په زړه كښې داسې بد شګونى راشى نو هغه دې دا دعا

---

(1) فتح البارى : ۱۰ \ ۲۶۰ ، عمدة القارى : ۱۲ \ ۲۷۳)

(2)) الحديث أخرجه البخارى أيضا فى كتاب الطب ، باب الفأل (رقم الحديث : ۵۴۲۳) و أخرجه مسلم في السلام ، باب الطيرة و الفأل و ما يكون فيه من الشؤم : ۱۴ \ ۱۷۴۵ (رقم الحديث : ۲۲۲۳)

(3)) النهاية فى غريب الحديث و الأثر : ۳ \ ۱۵۲ ، مجمع بحار الأنوار : ۳ \ ۴۸۰ و فتح البارى : ۱۰ \ ۲۶۱ ، شرح الطيبى على مشكوة المصابيح ، كتاب الطب و الرقى ، باب الفأل و الطيرة ، الفصل الأول : ۸ \ ۳۱۳ ، اكمال إكمال المعلم للأبى على صحيح مسلم كتاب الطب ، باب قوله ﷺ : لا عدوى : ۶ \ ۳۹)

(4)) النهاية فى غريب الحديث و الأثر : ۳ \ ۱۵۲ ، فتح البارى : ۱۰ \ ۲۶۱ ، عمدة القارى : ۱۲ \ ۲۷۳ ، إرشاد السارى : ۱۲ \ ۴۷۲)

اووائی "اللّهم لا طیر إلا طیرك، ولا خیر إلا خیرك" (۱)
کله چه خلق داسې عقیده اولری نو د دوی د خیال او د اعتقاد مطابق ډیر کرتې داسې واقعات هم راپیښیږی ، دا په حقیقت کښې د دوی د باطن ظن سزا وی ، حافظ ابن حجر رحمه الله لیکی :

"وربما وقع به ذلك المکروه بعینه الذی إعتقده عقوبة له، کما کان یقع کثیرا لأهل الجاهلیة" (۲)

۴۳=بَاب الْفَأْلِ

[5423] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ أَخْبَرَنَا هِشَامٌ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا طِيَرَةَ وَخَيْرُهَا الْفَأْلُ قَالَ وَمَا الْفَأْلُ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ الْكَلِمَةُ الصَّالِحَةُ يَسْمَعُهَا أَحَدُكُمْ [ر:۵۴۲۲]

[۵۴۲۴] (۳) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا عَدْوَى وَلَا طِيَرَةَ وَيُعْجِبُنِي الْفَأْلُ الصَّالِحُ الْكَلِمَةُ الْحَسَنَةُ [ر:۵۴۴۰]

حضور اکرم ﷺ فرمائلې دی لا طیرة وخیرها الفال چه شګون نه دې او د دې بهتر قسم نیک شګون دې "فال (په همزه او بغیر د همزه) ښه شګون ته وائی (۴) ددې جمع فئول راځی -(۵)
① بعضې حضراتو په نزد طیره بد شګون (سپیره والی) ته وائی او فال ښه شګون (بختور والی) ته وائی - دا دواړه جُدا جُدا دی طیره ناجائز او فال جائز دې ، دلته حدیث کښې د خیرها کلمه استعمال شویده ، د فال اضافت طیره ته دې ، دا اضافت د توضیح دپاره دې ، د جزئیت ثابتولو دپاره نه دې ، د علامه کرمانی رحمه الله او د علامه طیبی رحمه الله رائ هم دا ده - (۶)

---

(۱) شعب الإیمان للبیهقی ، باب التوکل و التسلیم : ۲\۶۵ (رقم الحدیث : ۱۱۸۰)
(۲) فتح الباری : ۱۰\۲۶۴)
(۳) الحدیث أخرجه البخاری أیضا فی الطب ، باب لاعدوی (رقم الحدیث : ۵۴۴۰) و أخرجه مسلم فی السلام ، باب الطیرة و الفال و ما یکون فیه من الشؤم : ۴\۱۷۴۶ (رقم الحدیث : ۲۲۲۴) و أخرجه أبوداود فی الطب ، باب فی الطیرة : ۴\۱۸ (رقم الحدیث : ۳۹۱۶) و أخرجه الترمذی فی کتاب السیر ، باب ما جاء فی الطیرة : ۴\۱۶۰ (رقم الحدیث : ۱۶۱۵)
(۴) و فی النهایة لإبن الأثیر : " فیه إنه کان یتفاءل و لا یتطیر " الفال مهموز فیما یسر و یسوء ، و الطیرة لا تکون إلا فیما یسوء ، النهایة لإبن الأثیر : ۳\۴۰۵)
(۵) فتح الباری : ۱۰\۲۶۳ ، إکمال إکمال المعلم علی صحیح مسلم لأبی ، کتاب الطب ، باب قوله ﷺ : لا عدوی : ۶\۴۱)
(۶) شرح البخاری للکرمانی : ۲۱\۳۲ ، شرح الطیبی علی مشکوة المصابیح ، کتاب الطب و الرقی ، باب الفال و الطیرة ، الفصل الأول : ۸\۳۱۳ ، فتح الباری : ۱۰\۲۶۳ ، عمدة القاری : ۲۱\۲۷۴)

② خو د حافظ ابن حجر رحمه الله وغيره رائې دا ده چه " طيره " عامه ده مطلق شګون ته وائى ، او ددې دوه قسمونه دى : بد شګون او ښه شګون ، دويم قسم ته فال وائى ، شريعت کښې بيا د " طيرة " استعمال د بد شګونئ په معنى کښې اوشو ، حضور اکرم ﷺ ، چه "لا طيرة " اوفرمائل نو دې سره ئې شرعى معنى مراد واخسته او "خيرها " کښې ضمير چه کوم " طيرة " ته راجع دې نو د هغې نه عام معنى يعنى مطلق شګون مراد دې (١) د دې حضراتو تائيد د ترمذى د يو روايت نه کيږى (٢)

يو اشکال او ددې جواب: دلته دا اشکال کيږى چه " خيرها " د اسم تفضيل صيغه ده چه د هغې مفهوم دا راأوځى چه فال زيات بهتر دې ، خو طيره کښې هم بهترى شته ، حال دا دې چه طيره کښې هيڅ قسم بهترى نشته دې ددې مختلف جوابونه ورکړې شويدى ،

① علامه طيبى رحمه الله فرمائى : هومن نحو قولهم :" الصيف أحر من الشتا " أى الفال فى بابه أبلغ من الطيرة فى بابها ، و الحاصل إن أفعل التفضيل فى ذلك إنما هو بين القدر المشترك بين الشيئين ، و القدر المشترك بين الطيرة و الفال تاثيركل منهما فيما هو فيه ، والفال فى ذلك أبلغ - (٣)

علامه طيبى رحمه الله فرمائى چه دا " الصيف أحر من الشتاء " د قبيله دې ، ددې لفظى ترجمه خو دا ده چه اوړې د ژمى نه زيات ګرم دې خو مطلب ئې دا کيږى چه د ګرمئ سختى د يخنئ د سختئ نه زياته ده ، نو " سختى " په دواړو کښې قدر مشترک دې ، خو ديو شدت د بل په مقابله کښې زيات دې ، ددوه څيزونو په مينځ کښې قدر مشترک په يو کښې د زياتى او د شدت د بيانولو دپاره د اسم تفضيل استعمال کيږى ، لکه چه الصيف أحر من الشتاء . (اوړى د ژمى نه زيات ګرم دې) دا مطلب ترينه نه اخستې کيږى چه يخنئ کښې هم څه لږه غونده ګرمى او تاو شته ، خو د صيف حرارت زيات دې ، بلکه مطلب ترينه دا اخستې کيږى چه د صيف د حرارت شدت د شتاء د يخنئ د شدت نه زيات دې

دارنګه حديث کښې هم د الطيرة خيرها الفال مطلب دا نه دې چه " طيرة " کښې هم څه لږ خير شته خو د فال خير زيات دې ، بلکه مطلب دا دې چه د طيره هم يو اثر دې او د فال هم يو اثر دې خو د فال اثر د طيره په مقابله کښې زيات ښه زيات بهتر او زيات بليغ دې -

ددې جواب حاصل دا دې چه د بد شګون او د نيک شګون د دواړو اثر شته خو د طيره په مقابله کښې فال زيات موثر او بليغ دې -

② دويم جواب دا ورکړې شويدې چه " خير " دلته د مطلقا د خيريت په معنى کښې

---

(١) فتح البارى : ١٠\٢٦٣ ، عمدة القارى : ٢١ \ ٢٧٤ ، شرح البخارى للکرمانى : ٢١ \ ٣٢ ، اکمال اکمال المعلم على صحيح مسلم للابى . کتاب الطب ،باب قوله عليه السلام : لا عدوى : ٦\ ٤١)

(٢) فتح البارى : ١٠\٢٦٤ ، عمدة القارى : ٢١ \ ٢٧٤ ، ارشاد السارى : ١٢\ ٤٧٤)

(٣) شرح الطيبى على مشکوة المصابيح : ٨ \ ٣١٣ ، مکمل إکمال الإکمال . کتاب الطب ، باب قوله عليه السلام : لا عدوى : ٦\ ٤١)

استعمال دي ، د اسم تفضيل په معنى نه دې ، الفال محض خير كما أن الطيرة محض شر - (۱)

۲ اويو بل جواب دا وركړې شويدې چه دا على سبيل الفرض و التسليم دې چه بالفرض كه طيرة بهتر هم وى نو فال ددې په مقابله كښې زيات بهتر دې - (۲)

نيك فال نيول مندوب دى: بهرحال ښه او نيك فال نيول مستحب او مندوب دى مثلاً يو سړې بيمار دې او دې په دې حالت كښې د چا نه " يا سالم " ويل واورى ، يا څوك جنګ ته روان دې او دې د " ظفرعلى " يا د " فتح على خان " نوم واورى ، يا د چا څه څيز ورك شوې وى او دې ياواجد د چا د خلې نه واورى نو دې ددې نومونو نه د روغوالى ، د فتح او د ورك شوې څيز په پيدا كيدو نيك فال اونيسى نو دا مستحب او د حضور اكرم ﷺ نه يو ثابت څيز دې - (۳)

آبى په شرح د مسلم كښې د قاسم بن اصبغ يو روايت نقل كړيدې چه حضرت بريده اسلمى د اويا سوارو سره د شپې په وخت حضور اكرم ﷺ ته ملاقات ته راغلو ، نو حضور اكرم ﷺ تپوس اوكړو څوك ئې ؟ نو ده جواب وركړو " بريده " نبى كريم ﷺ حضرت صديق اكبر رضي الله عنه ته متوجه شو او وے فرمائل :" برد أمرنا و صلح "څمونږ د جنګ معامله يخه شوه او صلح اوشوه ، بيا ئې تپوس اوكړو ممن ؟ (يعنى د كومې قبيلې سره دې تعلق دې ؟) نو ده اوويل : من أسلم ، حضور ﷺ اوفرمائل :" سلمنا " يعنى مونږ محفوظ شو بيا حضور ﷺ تپوس اوكړو فمن ؟ (يعنى اسلم كښې د كوم ښاخ سره تعلق لرې ؟) نو ده اوويل : من بنى سهم ، بيا حضور ﷺ اوفرمائل : خرج سهمنا (څمونږ حصه رااووتله) (۴) دا رنګه د غزوه حديبيه په موقع باندې د كافرانو د طرفه مختلف خلق حضور صلي الله عليه وسلم سره مذاكراتو دپاره راتلل چه كله سهيل بن عمرو راغللو نودوى ﷺ د نوم نه فال اونيولو او ارشاد ئې اوكړو "الآن سهل الله لكم أمركم" (۵)

د حضور اكرم ﷺ عادت مبارك وو چه كله به ئې د كوم يو كار په موقع باندے څه ښه نوم اوريدلو نو د خوشحالئ آثار به د دوى په مخ مبارك ښكاره كيدل ، لكه امام ابوداود رحمه الله په سند حسن سره د حضرت بريده اسلمى رضي الله عنه يو روايت نقل كړيدې :"إن النبى صلى الله عليه وسلم كان لا يتطير من شئ ، و كان إذا بعث عاملا يسأل عن إسمه فإذا أعجبه فرح به ، وإن كره إسمه رؤى كراهة ذلك فى وجهه" (۶)

(۱) مرقاة شرح مشكاة ، كتاب الطب ، باب الفال و الطيرة : ۹\۲)
(۲) مظاهر حق : ۴\۳۰۱ ، مرقاة شرح مشكاة كتاب الطب ، باب الفال و الطيرة : ۹\۲)
(۳) فتح البارى : ۱۰\۲۶۴ ، مظاهر حق : ۴\۳۰۰)
(۴) إكما إكمال المعلم على صحيح مسلم للأبى ، كتاب الطب ، باب قوله عليه السلام : لا عدوى : ۶\۴۲)
(۵) دلائل النبوة للبيهقى ، باب سياق قصة الحديبية و ما ظهر من الآثار فيها : ۴\۱۰۵)
(۶) سنن أبى داود ، كتاب الطب ، باب فى الطيرة : ۴\۱۹ (رقم الحديث : ۳۹۲۰)

کَ يو نوم به دوى ﷺ ته ناخوښه وو نو د دوى په مخ مبارك به د ناخوښتيا آثار ښكاره كيدل د بد فالئ په وجه نه . بلكه په دې وجه چه دوى ته بد نومونه خوښ نه وو ، هم دا وجه ده چه دوى به څو موقعو باندې د څو اصحابو نومونه بدل كړې وو - (١) دارنګه دوى ﷺ د "برة بنت أبي سلمة بن عبد الأسد" (چه ددوى نوم ربيبه وه) نوم بدل كړو اوزينب ئې كړو - الإصابة فى تمييز الصحابة : ٨\٣٨ (رقم الترجمة : ١٠٩٢٨)، أسد الغابة فى معرفة الصحابة : ٦\٣٤ (رقم الترجمة : ٦٧٤٧)

٤٤=بَاب لَا هَامَةَ وَلَا صَفَرَ

[٥٣٧٥] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْحَكَمِ حَدَّثَنَا النَّضْرُ أَخْبَرَنَا إِسْرَائِيلُ أَخْبَرَنَا أَبُو حَصِينٍ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا عَدْوَى وَلَا طِيَرَةَ وَلَا هَامَةَ وَلَا صَفَرَ [ر:٥٣٨٠]

د "هامة" او د "صفر" تشريح تيره شويده -

٤٥=بَاب الْكِهَانَةِ

كهانة (د كاف په فتحه او په كسره سره) د غيب خبرو خودلو پيشې ته وائى ، دې پيشه كوونكى ته كاهن وائى ، ددې جمع كهنة راځى ، بعض اهل لغتو د كاهن تعريف كړيدې ، كل من أذن بشيء قبل وقوعه فهو كاهن (٢)

د كهانت قسمونه : د كهانت درې قسمونه مشهور دى

① د غيب دا خبرونه بعض خلق د شيطانانو او د پيريانو نه حاصلوى ، پيريان د اخبرې چه د اسمان د فرشتو خبرې واورى نو حاصل ئې كړى ، د دې دروازه بنده كړې شوه او ددې حفاظت د شهاب ثاقب په ذريعه اوشو ، د قرآن كريم دا آيت كريمه ﴿إلا من خطف الخطفة فأتبعه شهاب ثاقب﴾ (٣) دې طرف ته اشاره كوى

② د بعضې پيريانو سره د خلقو رابطه وى او دوى دوى ته د لرې لرې خبرونه وركوى او كله څه خبرې صحيح هم خيژى

---

(١) لكه چه دوى صلى الله عليه وسلم د ام المؤمنين حضرت ميمونه او د ام المؤمنين حضرت جويريه رضى الله عنهما نو مونه دوى دواړو سره نكاح كولو په وخت كښې بدل كړي وو د دوى دواړو نومونه بالترتيب وړاندې " برة بنت الحارث الهلالية " او برة بنت الحارث المصطلقية " وو ، الإصابة فى تمييز الصحابة : ٨\٤٨ (رقم الترجمة : ١٠٩٢٥، ١٠٩٢٦)

(٢) فتح البارى : ١٠\٢٦٦، عمدة القارى : ٢١\٢٧٥ و عرّفه ابن الأثير فى النهاية : الكاهن : الذى يتعاطى الخبر عن الكائنات فى مستقبل الزمان ، و يدعى معرفة الأسرار ، النهاية فى غريب الحديث و الأثر ٤\٢١٣ و كذا فى مجمع بحار الأنوار : ٤\٤٥٠)

(٣) سورة صافات ، الآية : ١٠))

③ بعض خلق د خپلو حواسو ، تجربو او په اندازو سره د غیب خبري بیانوي دي تولو صورتونو ته مذموم ویلې شویدی خکه چه دا د قبیلې د ظنیاتو نه دی او عموما دیکښې دروغ شامل وی - ( )

حضرت ابوهریره ﷺ مرفوع حدیث دي "من أتی کاهنا أو عرافا فصدقه بما يقول فقد كفر بما أنزل على محمد" ( )

[۵۴۲۶\۵۴۲۷] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُفَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ خَالِدٍ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى فِي امْرَأَتَيْنِ مِنْ هُذَيْلٍ اقْتَتَلَتَا فَرَمَتْ إِحْدَاهُمَا الْأُخْرَى بِحَجَرٍ فَأَصَابَ بَطْنَهَا وَهِيَ حَامِلٌ فَقَتَلَتْ وَلَدَهَا الَّذِي فِي بَطْنِهَا فَاخْتَصَمُوا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَضَى أَنَّ دِيَةَ مَا فِي بَطْنِهَا غُرَّةٌ عَبْدٌ أَوْ أَمَةٌ فَقَالَ وَلِيُّ الْمَرْأَةِ الَّتِي غَرِمَتْ كَيْفَ أَغْرَمُ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَنْ لَا شَرِبَ وَلَا أَكَلَ وَلَا نَطَقَ وَلَا اسْتَهَلَّ فَمِثْلُ ذَلِكَ يُطَلُّ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا هَذَا مِنْ إِخْوَانِ الْكُهَّانِ

[۵۴۲۷]( ) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ عَنْ مَالِكٍ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ امْرَأَتَيْنِ رَمَتْ إِحْدَاهُمَا الْأُخْرَى بِحَجَرٍ فَطَرَحَتْ جَنِينَهَا فَقَضَى فِيهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِغُرَّةٍ عَبْدٍ أَوْ وَلِيدَةٍ وَعَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى فِي الْجَنِينِ يُقْتَلُ فِي بَطْنِ أُمِّهِ بِغُرَّةٍ عَبْدٍ أَوْ وَلِيدَةٍ فَقَالَ الَّذِي قُضِيَ عَلَيْهِ كَيْفَ أَغْرَمُ مَا لَا أَكَلَ وَلَا شَرِبَ وَلَا نَطَقَ وَلَا اسْتَهَلَّ وَمِثْلُ ذَلِكَ يُطَلُّ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا هَذَا مِنْ إِخْوَانِ الْكُهَّانِ [ر: ۶۳۵۹، ۶۵۰۸، ۶۵۱۱، ۶۵۱۲]-

حضرت ابوهریره ﷺ فرمائی چه رسول الله ﷺ د قبیله هذیل د دوه جگړه کوونکو ښځو باره کښې فیصله کړې وه چه دوی کښې یوې (ام عفیف بنت مسروح) بله (ملیکه بنت عویم) په کاڼړی ویشتې وه چه دا په ګیډه اولګیدله او دا حامله وه چه د هغې د وجه ددې

( ) فتح الباري : ۱۰\۲۶۶ ، ارشاد الساري : ۱۲\۴۷۹) .

( )) سنن الترمذي ، كتاب الطهارة ، باب ما جاء في كراهية إتيان الحائض : ۱\۲۴۲ (رقم الحديث : ۱۳۵) ، سنن أبي داود ، كتاب الطب ، باب في الكاهن : ۴\۱۵ (رقم الحديث : ۳۹۰۴) ، مسند الإمام أحمد بن حنبل ، كتاب الحدود ، الفرع الرابع في حدالزنا من الجلد و الرجم : ۲\۴۰۸ ، سنن إبن ماجه ، كتاب الطهارة ، باب النهي عن إتيان الحائض : ۱\۲۰۹ (رقم الحديث : ۶۳۹)

( )) الحديث أخرجه البخاري أيضا في كتاب الفرائض ، باب ميراث المرأة و الزوج مع الولد وغيره (رقم الحديث : ۶۳۵۹) و أخرجه أيضا في كتاب الديات ، باب جنين المرأة (رقم الحديث : ۶۵۰۸) و أخرجه أيضا في كتاب الديات باب جنين المرأة ، و إن العقل على الوالد و عصبته الوالد لا على الولد (رقم الحديث : ۶۵۱۱) و أخرجه مسلم في كتاب القسامة ، باب دية الجنين و وجوب الدية في قتل الخطأ : ۴\۱۳۰۹ (رقم الحديث : ۱۶۸۱)

بچې په ګیډه کښې مړ شو ، د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې مقدمه راغله دوی ددې بچی په دیت کښې غرة یعنی یو غلام یا د وینځې ورکولو حکم اوکړو ، د جنایت کوونکې ښځې ولی اوویل "کیف أغرم یا رسول الله من لا شرب ولا أکل، ولا نطق ولا استهل، فمثل ذلك بطل" (یعنی اے د الله رسوله : څه څنګه د هغه بچی دیت ورکړم چه نه ئې څښاك کړیدې او نه ئې خوراك او نه ئې خبرې کړیدی او نه ئې چغه وهلې ده ، نو داسې بچی خو توې (څه تاوان ئې نشته) حضور اکرم ﷺ چه دده دا مسجع کلام واوریدو نو وې فرمائل : دې خو د کاهنانو روردې "

د دې حدیث متعلق تفصیلی کلام خو به روستو راشی په دیاتو کښې دلته امام بخاری رحمه الله ددې ذکر ځکه کړیدې چه دوی ﷺ ددې مسجع کلام کوونکې متعلق اوفرمائل : چه دې د کاهنانو رور دې لکه چه څنګه کاهن مسجع کلام کوی ، دده دا کلام هم دارنګه مقفی او مسجع دې لکه د مسلم شریف په روایت کښې دی : "إنما هذا من إخوان الکهان" نه پس دا اضافه ده "من أجل سجعه الذی سجع" (1) کلام کښې سجع کُه په تکلف او تصنع سره وی نو دا صحیح نه ده ، خو کُه بې تکلفه او بې تصنع وی نو بیا جائز دې ، (2)

استهل : استهلال د پیدا کیدو په وخت د بچی اواز ته وائی ،غرة د تندی سپین والی او روښانتیا ته وائی عبر به عن الجسد کله إطلاقا للجزء علی الکل ، وړاندے "عبد أو أمة" ددې بدل واقع کیږی - (3)

قوله: ومثل ذلك بطل : دلته روایت کښ "بطل" دې او په بعضې راویتونو کښې یطل د یاءسره دې د یطل معنی د هدر او د توئیدو ده - (4)

[۵۴۲۸] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْحَارِثِ عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ قَالَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ وَمَهْرِ الْبَغِيِّ وَحُلْوَانِ الْكَاهِنِ [ر:۲۱۲۲]

د باب دا روایت د حضرت ابو مسعود ﷺ نه روایت دې - فرمائی : چه نهی النبی ﷺ عن ثمن الکلب و مهر البغی وحلوان الکاهن یعنی حضور اکرم ﷺ د سپی د قیمته د زنا کارې ښځې ته د اجرت ورکولو نه او کاهن ته د رقم ورکولو نه منع کړیده -

---

(1)) صحیح مسلم ، کتاب القسامة ، باب دیة الجنین و وجوب الدیة فی قتل الخطأ .... ۱۳ \ ۱۳۰۹ (رقم الحدیث : ۱۶۸۱)) صحیح مسلم ، کتاب القسامة ، باب دیة الجنین و وجوب الدیة فی قتل الخطأ .... ۱۳ \ ۱۳۰۹ (رقم الحدیث : ۱۶۸۱)) صحیح مسلم ، کتاب القسامة ، باب دیة الجنین و وجوب الدیة فی قتل الخطأ .... ۱۳ \ ۱۳۰۹ (رقم الحدیث : ۱۶۸۱)ررر

(2)) فتح الباری : ۱۰ \ ۲۶۸)) فتح الباری : ۱۰ \ ۲۶۸)) فتح الباری : ۱۰ \ ۲۶۸)

(3)) عمدة القاری : ۲۱ \ ۲۷۵ ، ارشاد الساری : ۱۲ \ ۳۷۷ ، فتح الباری : ۱۰ \ ۲۶۸)

(4)) عمدة القاری : ۲۱ \ ۲۷۵ ، ارشاد الساری : ۱۲ \ ۳۷۷ ، فتح الباری : ۱۰ \ ۲۶۸)

قوله: مهر البغي : بغي په اصل کښې د بَغُوْیٌ په وزن د فعول وو ، واو يې په ياء بدل کړو او ياء ئې په ياء کښې مدغم کړه بَغِيٌّ شو ، دلته ترينه زانيه مراد ده ، د زانيه اجرت ته ئې مجازا مهر اوويلې - (۱)

دا روايت په کتاب البيوع کښې " باب ثمن الكلب " تر لاندې تير شويدې - (۲)

[۵۷۶۲] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ يَحْيَى بْنِ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَاسٌ عَنْ الْكُهَّانِ فَقَالَ لَيْسَ بِشَيْءٍ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّهُمْ يُحَدِّثُونَا أَحْيَانًا بِشَيْءٍ فَيَكُونُ حَقًّا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِلْكَ الْكَلِمَةُ مِنْ الْحَقِّ يَخْطَفُهَا مِنْ الْجِنِّيِّ فَيَقُرُّهَا فِي أُذُنِ وَلِيِّهِ فَيَخْلِطُونَ مَعَهَا مِائَةَ كَذْبَةٍ

قَالَ عَلِيٌّ قَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ مُرْسَلٌ الْكَلِمَةُ مِنْ الْحَقِّ ثُمَّ بَلَغَنِي أَنَّهُ أَسْنَدَهُ بَعْدَهُ [ر: ۵۸۵۹ و ۷۱۲۲ وانظر: ۳۰۳۸]

حضرت عائشه ﷺ فرمائي چه څه خلقو درسول الله ﷺ نه د کاهنانو متعلق تپوس اوکړو نو دوی اوفرمائل : دا هيڅ څيز نه دې ، خلقو اوويل : اے د الله رسوله ! دا خلق کله مونږ ته داسې خبره کوی چه هغه بالکل صحيح وی ، نو حضور ﷺ اوفرمائل چه دا خبره د الله تعالى د طرفه وی ، کاهن دا د پيريانو نه واخلی ، پيرې دا (خبره چه د فرشتو نه ئې اوريدلې وی) د خپل کاهن دوست په غوږ کښې واچوی ، او بيا دې د دې يوې خبرې سره سل د دروغو خبرې يوځئ کړی او وړاندې ئې بيانوی

قوله: ليس بشيء : أی ليس قوله بشيء يعتمد عليه يعنى د کاهن د قول هيڅ اعتبار نشته دې ،

تلك الكلمة من الحق يعنى دا کلمه د حق د طرفه وی ، د حق نه الله تعالى هم مراد کيدې شی ، چه دا کلمه د الله تعالى د طرفه وی ، او حق په معنى د ثابت او د ربښتيا هم کيدې شی چه دده دا کلمه درست او صحيح وی ، باقی نورې باطلې وی - (۳)

قوله: يخطفها من الجني : يعنى دا کلمه دې کاهن د پيری نه اخستې وی او بعضې روايتونو کښې يخطفها الجنى دې يعنى پيری دا کلمه د اسمان نه حاصل کړيده د خطف يخطف معنى په منډه او په تيزئ سره د اخستو ده (۴)

---

(۱) قال القسطلانى : " ولا يجوز عندهم أن يكون على فعيل ، لأن فعيلا بمعنى فاعل يكون بالهاء فى المؤنث ككريمة وإنما يكون بغيرهاء،إذاكان بمعنى مفعول كإمرأة جريح و قتيل(إرشاد السارى: ۱۲\ ۴۷۸)

(۲) عمدة القارى : ۲۱ \ ۲۷۵ ، ارشاد السارى : ۱۲ \ ۳۷۷ ، فتح البارى : ۱۰ \ ۲۶۸)

(۳) عمدة القارى : ۲۱ \ ۲۷۷ ، ارشاد السارى : ۱۲ \ ۴۷۹، فتح البارى : ۱۰ \ ۲۶۹ ، شرح صحيح البخارى لابن البطال : ۹ \ ۴۳۹)

(۴) عمدة القارى : ۲۱ \ ۲۷۷ ، ارشاد السارى : ۱۲ \ ۴۷۹، فتح البارى : ۱۰ \ ۲۶۹)

فيقرها : د باب د نصر نه دي قريقر استعماليږي ، ويلې كيږي. قررت على رأسه دلوا : ما دده په سر دولچه د اوبو واړوله - (١)

علامه قرطبي رحمه الله فرمائي قرالطائر په معنى دې د مارغه مسلسل اواز ويستلو ته وائي ، دلته د يقرها په معنى ده : ألقاها في أذنه بصوت - (٢)

قوله: مائة كذبة: د كاف فتحې سره، د ابن جريج په روايت كښې اكثر من مائة كذبة دې، عدد مراد نه دې بلكه كثرت مراد دې چه كاهن اكثر دې حق سره دروغ ملاوهي.(٣)

امام مسلم رحمه الله د حضرت عبد الله بن عباس ﷺ نه روايت نقل كړيدې چه يو شپه رسول الله ﷺ د څو انصارو اصحابو سره تشريف فرما وو ، ديكښې شهاب ثاقب په نظر راغلو ، حضور ﷺ د اصحابو نه تپوس اوكړو " په زمانه د جاهليت كښې به چه دا تاسو اوليدلونو تاسو به څه ويلې ؟ " اصحابو اوويل : مونږ به ويل چه نن شپه څوك لوې سړې پيدا شو يا څوك لوې سړې مړ شو ، حضور ﷺ اوفرمائل :" فإنها لا يرمى بها لموت أحد ولا لحياته، ولكن ربنا تبارك و تعالى إسمه إذا قضى أمرا ، سبح حملة العرش ، ثم سبح أهل السماء الذين يلونهم حتى يبلغ التسبيح أهل هذا السماء الدنيا ثم قال الذين يلون حملة العرش لحملة العرش : ماذا قال ربكم ؟ فيخبرونهم ماذا قال، قال : فيستخبر بعض أهل السموات بعضا حتى يبلغ الخبر هذه السماء الدنيا ، فتخطف الجن السمع ، فيقذفون إلى أوليائهم ، ويرمون به ، فما جاؤوا به على وجهه فهو حق ، ولكنهم يقرفون فيه ويزيدون " (٤)

يعنى ستورې ددې وجه نه رابيليږي چه څوك مړ يا پيدا شي ، بلكه څمونږ رب چه كله د يو امر فيصله اوكړي نو هغه فرشتې چه حاملين د عرش دى " سبحان الله " اووائى ، بيا دوى سره چه كومې نزدې فرشتې د اسمان والا دى هغوى سبحان الله اووائى تر دې چه د دوى تسبيح هغه فرشتو ته رااورسيږي چه په اسمان د دنيا كښې دى ، بيا حاملين د عرش سره چه كومې نزدې فرشتې دى هغوى دوى ته اووائى : د ستاسو رب څه اوفرمائل ؟ نو دوى ته چه الله تعالى څه فرمائلې دى دوى د هغې خبر دوى ته وركړې بيا د اسمانونو نورې فرشتې هم د يو بل نه دا خبر معلوم كړي تر دې چه دا خبر اسمان د دنيا ته رااورسيږي نو پيريان (شيطانان) دې اوريدلې خبرې نه څه رااونيسي او دا خپل كاهن دوستانو ته رسوى ، اوس كه كاهن دا خبره هم هغه رنګ بيان كړي چه څنګه دوى اوريدلې وى نو دا رښتيا كيږي خو دوى ديكښې د دروغو اضافه هم كوى

(١) عمدة القاري : ٢١ \ ٢٧٧ ، فتح الباري : ١٠ \ ٢٧٠)
(٢) عمدة القاري : ٢١ \ ٢٧٧، فتح الباري : ١٠ \ ٢٧٠)
(٣) فتح الباري: ١٠ \ ٢٧٠، ٢٧١، عمدة القاري : ٢١ \ ٢٧٧-
(٤)) فتح الباري : ١٠ \ ٢٧٠ ، عمدة القاري : ١٢ \ ٢٧٧)

قوله: قال علي: قال عبدالرزاق: مرسل: (الكلمة من الحق) ثم بلغني أنه أسنده بعده: على بن المدينى فرمائى : چه عبدالرزاق بن همام فرمائى حديث كښې واقع "الكلمة من الحق" الفاظ مرسل نقل كړي وو ، يعنى حضرت عائشه رضي الله عنها نه ئې د سند سره نه وو بيان كړي خو بيا ما ته دا خبره راورسيدله چه دوى به روستو دا حصه هم د سند سره نقل كړي ده.

۳۶-- باب: السِّحر

۳۰= بَاب السِّحْرِ وَقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى وَلَكِنَّ الشَّيَاطِينَ كَفَرُوا يُعَلِّمُونَ النَّاسَ السِّحْرَ وَمَا أُنْزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَارُوتَ وَمَارُوتَ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّى يَقُولَا إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهِ وَمَا هُمْ بِضَارِّينَ بِهِ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ وَلَقَدْ عَلِمُوا لَمَنِ اشْتَرَاهُ مَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ [البقرة:۱۰۲] وَقَوْلِهِ تَعَالَى وَلَا يُفْلِحُ السَّاحِرُ حَيْثُ أَتَى [طه:۶۹]
وَقَوْلِهِ أَفَتَأْتُونَ السِّحْرَ وَأَنْتُمْ تُبْصِرُونَ [الأنبياء:۳]
وَقَوْلِهِ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ مِنْ سِحْرِهِمْ أَنَّهَا تَسْعَى [طه:۶۶]
وَقَوْلِهِ وَمِنْ شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ [الفلق:۴] وَالنَّفَّاثَاتُ السَّوَاحِرُ
تُسْحَرُونَ تُعَمَّوْنَ [المؤمنون:۸۹]

دلته څو خبرې ذهن كښې كښينول پكار دى

د سحر تعريف: ① لغت كښې د لفظ د سحر اطلاق په هر هغه څيز كيږى چه هغه مخفى او پټ وى ، كل ما خفى ولطف ودق مأخذه فهو سحر (۱)

---

۱)) فتح البارى : ۱۰ \ ۲۷۲ . وقال ابن الأثير فى النهاية : لاسحر ما يصرف قلوب السامعين و إن كان غير حق . النهاية : ۲ \ ۳۴۶ مجمع بحار الأنوار : ۳ \ ۴۳ . وقال الإمام الجصاص : أصل السحر فى اللغة . ما لطف و خفى سببه . أحكام القرآن للجصاص : ۱ \ ۶۱ . و عرفه العلامة الآلوسى : و السحر فى الأصل مصدر سحر يسحر (بفتح العين فيهما) إذا أبدى ما يدق و يخفى و هو من المصادر الشاذة . و يستعمل بما لطف و خفى سببه . المراد به أمر غريب يشبه الخارق و ليس به .... (روح المعانى : ۱ \ ۳۳۸) . و قال فى تفسير الموردى : فقد إختلف الناس فى معناه . فقال قوم : يقدر الساحر أن يُقلب الأعيان بسحر فيحول الإنسان حمارا . و ينشأ أعيانا و أجساما . و قال آخرون : السحر خدع و معان يفعلها الساحر . فيخيل إليه أنه بخلاف ما هو . كالذى ير ى السراب من بعيد فيخيل إليه أنه ماء . و كواكب (فى زعمى الصحيح أنه رواكب) السفينة السائرة سيرا جثيثا . يخيل إليه أن ما عاين من الأشجار و الجبال سائرة معه . (تفسير الماوردى : ۱ \ ۱۴۲) و قال العلامة ابن عابدين : السحر علم يستفاد منه حصول ملكة نفسانية يقتدر بها على أفعال غريبة لأسباب خفية . (مقدمة رد المحتار على الدر المختار . مطلب فى التنجيم و الرمل : ۱ \ ۴۴) . و عرفه العينى بأن اسحر أمر خارق للعادة عن نفس شريرة لا يتعذر معارضته . عمدة القارى : ۲۱ \ ۲۷۷)

خو بیا دا لفظ د هر هغه اثر دپاره استعمالیدل شروع شو چه د هغې څه سبب ظاهری نه وی ، برابره خبره ده چه دغه سبب معنوی وی لکه چه د بعضې کلماتو اثر کیږی ، یا غیر محسوس اثر وی لکه د جناتو او د شیطانانو اثر یا د قوت خیالیه اثر ، [1]
دارنګه د سحر څو قسمونه راویستې شی خو عرف عام کښې د سحر اطلاق په هغه اثر کیږی چه دیکښې د جناتو او د شیطانانو عمل دخل وی - [2]
د سحر قسمونه :② سحر بنیادی طور باندې په دوه قسمونو کښې تقسیمیدې شی
یو قسم خو خالص نظربندی ده ، چه سترګو او نظر ته دهوکه ورکولې کیږی او حقیقت سره ددې هیڅ تعلق نه وی،مثلاًسړی ته څه څیز په نظر راځی خو حقیقتا ددې څه وجود نه وی[3]
دا دهوکه یا نظر بندی کله د قوت خیالیه په ذریعه کیږی چه دیته نن صبا په اصطلاح کښې مسمریزم هم وائی ، یو سړې د قوت خیالیه په ذریعه د بل سړی په خیال دومره اثر انداز شی چه د څه دې سوچ کوی هم هغه ده ته په نظر راځی - [4]
کله دا کار د شیطان او د جناتو په ذریعه هم کیږی ، چه دې د مسحور په دماغو او په سترګو داسې اثر اوکړی چه دې یو غیر واقعی څیز لره محسوس کوی
په قرآن کریم د حضرت موسی علیه السلام په مقابله کښې د راتلونکو جادوګرانو سحر د ړومبی قسم سره متعلق وو ، د قرآن الفاظ دی یخیل إلیه من سحرهم انها تسعی د " یخیل " لفظ دا ښائی چه دا چوکې په حقیقت کښې ماران نه وو جوړ شوې بلکه د حضرت موسی علیه السلام قوت متخیله متاثر شوې وه او دا ئې ماران ګنړل - [5]
د سحر دویم قسم دا دې چه حقیقت او واقع کښې د یو څیز ماهیت بدل کړې شی ، مثلاً خناور لره په کانړی بدل کړې شی - [6]
بعض عالمان مثلاً امام ابو بکر جصاص ، ابن حزم ظاهری او امام راغب اصفهانی د دې قسم نه انکار کړیدې ، دا حضرات فرمائی چه په سحر د څه څیز ماهیت او حقیقت نه شی بدلیدې و سحر صرف نظر او خیال ته دهوکه ورکوی ، حقیقت په خپل ځائې برقرار وی [7]
خو جمهور عالمانو په نزد شرعا او عقلاً دا دویم قسم ممنوع نه دې ، بلکه ممکن دې ،
امام مالك رحمه الله په موطاء کښې د کعب احبار روایت نقل کړیدې ، دې فرمائی " لولا کلمات أقولهن لجعلتني الیهود حمارا " یعنی کُه ما څه کلمات نه ویلې نو یهودو به څه خر جوړ

[1] فتح الباری : ۱۰\ ۲۷۲)
[2] فتح الباری : ۱۰\ ۲۷۳)
[3] معارف القرآن للمفتی محمد شفیع : ۱\ ۲۷۲)
[4] معارف القرآن للمفتی شفیع : ۱\ ۲۷۵)
[5] معارف القرآن للمفتی شفیع : ۱\ ۲۷۵)
[6] معارف القرآن للمفتی شفیع : ۱\ ۲۷۵)
[7] فتح الباری : ۱۰\ ۲۷۳)

كړې ووم ، دوی نه تپوس اوشو چه دا كوم كلمات دی نو دوی اوفرمائل :"أعوذ بوجه الله الذى ليس شئ أعظم منه ، و بكلمات الله التامات التى لا يجاوزهن برّ لا فاجر، و بأسماء الله الحسنى كلها ما علمت منها و مالم أعلم من شر ما خلق و برأ و ذرأ" (۱) خه د لوې الله پناه نيسم چه د هغه نه څوك هم لوئ نشته او خه پناه نيسم د الله تعالى د هغه تامات (پوره) كلماتو چه د هغې نه نه نيك او نه بد انسان اوړيدې شى ، او پناه نيسم د الله تعالى د هغه تمامو ښائسته نومونو سره چه كوم ما ته معلوم دى او كوم ما ته نه دى معلوم د شر د هر هغه څيز نه چه ده پيدا كړيدى چه ده ورته وجود وركړيدې او ده خواره كړيدى " -

دې روايت كښې " لجعلتنى اليهود حمارا " نه استدلال كوى او وئيلې كيږى چه سحر كښې دا ممكن ده چه د څيز حقيقت او ماهيت بدل كړې شى،(۲) باقى په فلسفيانو كښې چه دا مشهوره ده چه په حقائقو اوپه اعيانو كښې انقلاب اوبدليدل نه شى راتلې نو هلته د حقائقو نه مراد وجوب ، ممكن او محال دې چه ممكن محال او محال ممكن نه شى كيدې - (۳)

د سحر حكم : ③ د سحر حكم هم واضح دې ، كه ديكښې كلمات د كفر وى نو ظاهره ده چه داسې سحر كفر دې او ددې مرتكب هم كافر دې ، او كه كلماتـ د كفر په كښې نه وى خو افعال د فسق او د فجور وى مثلاً شيطانانو او د پيريانو خوشحالولو دپاره نجس اوسيدل ، په پليدئ كښې اوسيدل ، مونځ نه كول نو داسې سحر فسق او ددې مرتكب فاسق دې او ددې ازده كول او بل ته خودل ناجائز اوحرام دى (۴)

خو په قدر د ضرورت بعض فقهاء ددې د ازده كولو اجازت وركوى ، مثلا په چا جادو شوې وى د دې د ماتولو او د ختمولو دپاره څوك د جادو عمل ازده كوى نو د الضرورات تبيح المحذورات په قاعده سره د دې خه لاره رااوځى - (۵)

په نبى د سحر اثر كيدې شى :④ د سحر متعلق خلورمه خبره دا ده چه په پيغمبرانو ددې اثر كيدې شى او كه نه ، امام ابو بكر جصاص وغيره فرمائى چه د جادو اثر په نبى نه شى كيدې ، دوى د حديث د باب د صحت نه انكار كړيدې - دوى وائى : چه كافرانو به نبى ﷺ ته مسحور ويلې ، دوى به ويلې په نبى ﷺ جادو شويدې دې وجه نه دې داسې خبرې كوى، قرآن كريم د كافرانو تكذيب او ترديد اوكړو ، آيت مبارك كښې دى (وقال الظالمون إن تتبعون إلا رجلا مسحورا) دا رنګه قرآن كريم كښې دى (ولا يفلح الساحر حيث أتى) ساحر او جادوګر (د

---

(۱)) الموطأ للإمام مالک : كتاب الشعر ، باب ما يؤمر به من التعوذ : ۲\ ۹۵۰ (رقم الحديث : ۱۲) "
(۲) معارف القرآن : ۱\ ۲۷۶)
(۳) معارف القرآن : ۱\ ۲۸۶)
(۴)) معارف القرآن : ۱\ ۲۷۸ ، ۲۷۹ ، الجامع لأحكام القرآن للقرطبى : ۱\ ۴۸ ، روح المعانى : ۱\ ۳۳۹ ، مقدمة رد المحتار على الدر المختار مطلب السحر أنواع : ۱\ ۲۴ ، ۱\ ۴۵ ، ۵\ ۳۰۴)
(۵) الجامع لأحكام القرآن للقرطبى : ۱\ ۴۸ ، روح المعانى : ۱\ ۳۳۹ ، مقدمة رد المحتار على الدر المختار مطلب السحر أنواع : ، ۱\ ۴۵ ، ۵\ ۳۰۴)

پيغمبر په مقابله کښې) فلاح او کاميابه کيدې نه شي
دې وجه نه چه کومو روايتونو کښې دا راغلې دی چه په پيغمبر ﷺ باندې د جادو اثر شوې وو دا صحيح نه دی ، او دا ممکن ده ، چه مدينه منوره کښې کومې يهودی ښځې جادو کولو او ددې خيال وو چه دا په جسم کښې اثر کوی او دې په رسول الله ﷺ د جادو کولو اراده کړې وی ، الله تعالى حضور اکرم ﷺ ته ددې د عمل اطلاع ورکړه او ددې جهل ئې ښکاره کړو ، دا خو کيدې شی خو دا ويل چه د جادو اثر په حضور ﷺ داسې شوې وو چه په دوی ګډوډی او پريشانتيا (شك) راغلې وه د څه کار د کولو او د نه کولو باره کښې نو دا صحيح نه ده (1)
خو جمهور عالمانو په نزد په نبی د جادو اثر کيدې شی ، په خپله قرآن کريم کښې د موسی عليه السلام د سحر نه متاثره کيدو ذکر شته او په حديث د باب کښې په حضور ﷺ باندې ددې د بعضې آثارو ښکاره کيدو ذکر دې
خو دا اثر په طبعی امورو کښې ښکاره کيږی ، لکه چه څنګه د مرضونو او د بيمارو اثر په نبی کيدې شی ، داسې د جادو اثر هم په نبی کيدې شی خو د رسالت او د وحی الهی او د شريعت متعلق امورو کښې الله تعالى پيغمبران د جادو او د سحر د اثر نه محفوظ ساتلې دی ، او د دوی حفاظت ئې کړيدې - (2)
معجزه ، سحر او کرامت کښې فرق : ⑤ پنځمه خبره معجزه ، سحر او کرامت کښې د فرق ده ، معجزه د نبی په لاس کيږی او په څه خفی سبب نه کيږی ، سحر د يو خفی سبب اثر وی ، عادت د الله تعالى دا دې چه کوم کس د دروغو د نبوت او د معجزو دعوی کوی ده سحر او جادو نه چليږی -
کرامت هم خارق د عادت وی خو چه دا د کوم سړی په لاس ښکاره کيږی ، هغه به متقی ، پابند د شريعت او پاك او طاهر وی او ساحر نجس وی او پابند د شريعت نه وی - (3)

---

(1) قال الإمام أبوبكر الجصاص : " و من صدق هذا (أى صدق انقلاب الأعيان بالسحر) فليس يعرف النبوة . و لا يأمن أن تكون معجزات النبى صلى الله عليه وسلم من هذا النوع . و أنهم كانو سحرة . وقال الله تعالى : (و لا يفلح الساحر حيث أتى) و قد أجازوا من فعل الساحر ما هو أعظم من هذا و أفظع . و ذلک أنهم زعموا أن النبى صلى الله عليه وسلم سُحر . و أن السحر عمل فيه حتى قال فيه : إنه يتخيل لى أنى أقول الشئ و أفعله . و لم أقله و لم أفعله .... و قد قال الله تعالى . مكذبا للكفار فيما أدعوه من ذلک للنبى صلى الله عليه وسلم . فقال (و قال الظالمون إن تتبعون إلا رجلا مسحورا) و مثل هذه الأخبار من وضع الملحدين تلعبا بالحشو الطغام .... و جائز أن تكون المرأة اليهودية بجهلها فعلت ذلک ظنا منها بأن ذلک يعمل فى الأجساد . و قصدت به النبى صلى الله عليه وسلم . فأطلع الله نبيه على موضع شرها و أظهر جهلها فيما إرتكبت و ظنت . ليكون ذلک من دلائل نبوته . لا أن ذلک ضره و خلط عليه أمره . و لم يقل كل الروّاة أنه إختلط عليه أمره . و إنما هذا اللفظ زيد فى الحديث و لا أصل له " أحكام القرآن للجصاص : ۱ \ ۴۹)
(2) معارف الرآن للمفتى محمد شفيع : ۱ \ ۲۷۸ .احكام القرآن للقرطبى : ۲ \ ۴۶ . روح المعانى : ۱ \ ۳۳۹)
(3) معارف القرآن للمفتى محمد شفيع : ۱ \ ۲۷۷ . و قال القرطبى فى الفرق بين السحر و المعجزة : قال علماؤنا : السحر يوجد من الساحر وغيره . و قد يكون جماعة يعرفونه و يمكنهم...[بقيه برصفحه آئنده....

باب کښې دننه امام بخاری رحمه الله د سحر متعلق د قرآن کریم پنځه مختلف آیتونه ذکر کړیدی۔

قصه د هاروت ماروت : ړومبی آیتونه د سورت بقره دی چه دیکښې د هاروت او د ماروت واقعه ذکر شویده دا دوه فرښتې وې چه د بابل په ښار کښې راکوزې شوې وې او د جادو حقیقت او ددې داصولو او د فروعو نه خلق خبرولو ذمه واری ورته سپارلې شوې وه ، دې زمانه کښې په بابل کښې د جادو ډیر شهرت وو ، او د پیغمبرانو د معجزو او د سحر د اثراتو په مینځ کښې خلقو ته اختلاط او اشتباه شروع شوې وه ، خلقو جادو یو مقدس عمل ګنړلو .الله تعالی ددې اشتباه اودغلطئ لرې کولو دپاره په بابل کښې دوه فرښتې چه نومونه ئې هاروت او ماروت وو دې کار دپاره رااولیږلې چه خلق د سحر په حقیقت او د دې شعبو نه خبر کړی دې دپاره چه د دوی اشتباه ختمه شی او خلق په جادو د عمل کولو نه منع شی د سحر د اصولو او د فروعو خودلو نه وړاندې به دې فرښتو په التزام (خامخا) سره خلقو ته دا ویلې ، چه څمونږ په دې تعلیم ورکولو سره د الله تعالی د خپلو بندګانو امتحان هم مقصود دې چه کوم کس د سحر د حقیقت نه خبر شی او د خپل دین حفاظت او اصلاح اوکړی او په سحر د عمل کولو نه ځان ساتی ، او کوم کس دې چه هغه ددینه خبر شی او په خپله هم دا شر اختیار کړي ، دې وجه نه مونږ تاسو ته نصیحت کوو چه په ښه نیت د سحر د حقیقت نه د خبریدو کوشش اوکړئ ، هسې نه چه مونږ ته خو دا اووائې چه مونږ ددې ازدکړه دې دپاره کوو چه دینه بچ شو او بیا په خپله ددې شر او بربادی اختیار کړي

نو چه کوم سړی به دوی سره داسې عهدو پیمان اوکړو ، نو فرښتو به د ده وړاندې د جادو اصول او فروع او د دې حقیقت بیان کړو ، ځکه چه هم دوی ته دا ذمه داری ورکړې شوه ..... بعض خلقو به ددې وعدې پاسداری اوکړه او بعضو به دا وعده ماته کړه او دا جادو به ئې د خلقود ایذاء او د تکلیف ذریعه جوړوله ، چه دیکښې بعضې صورتونو کښې فسق او بعضو کښې کفر لازمیږی نو داسې څه خلق فاجر او کافر شو

حضرت تهانوی رحمه الله ددې مثال به ورکولو او فرمائل به ئې چه یو کس چه یو جامع المعقول و المنقول عالم باعمله ته ورشی او ورته اووائی ما ته قدیم یا جدید فلسفه اوښایه دې دپاره چه په خپله ددې د شبهاتو نه بچ شم چه کومه فلسفه کښې د اسلام خلاف بیان شوې دې او مخالفینو ته هم ددې جواب ورکړې شم ، او دې عالم ته شك وی چه هسې نه داسې اونشی چه دې ما ته دهوکه راکړی او دا ازده کړی او بیا په خپله د خلاف شرع باطل عقائدو د تقویت دپاره دا استعمالوی ، ددې شك په بناء باندې ده ته نصیحت اوکړی چه داسې مه کوه او دې وعده اوکړی او دینه پس دا عالم ده ته ددې تعلیم ورکړی خو دا سړې د فلسفې باطل او د اسلام خلاف نظریات صحیح اوګنړی نو ظاهره ده ، چه دده په دې حرکت سره په خودونکی عالم باندې څوك ملامتیا نه شی ویلې ، نو هم دارنګه دې فرښتو ته هم د

......بقيه ازحاشيه گذشته] الإتيان به في وقت واحد و المعجزة لا يمكن الله أحدا ان يأتي بمثلها و بمعارضتها ، ثم الساحر لم يدع النبوة ، فالذي يصدر منه متميز عن المعجزة فإن المعجزة شرطها إقتران دعوى النبوة و التحدي بها ، أحكام القرآن للقرطبي : ٢\٤٧ ، روح المعاني : ١\٣٣٩ ، فتح الباري : ١٠\٢٧٣)

بدو نسبت نه شي کيدې چه دوی د سحر په حقيقت خلق خبر کړل او د دې د اصولو او د فروعو تعليم ئې خلقو ته ورکړو
د آيت کريمه ترجمه دا ده: " دې (يهوديانو) د هغه څيزونو اتباع اوکړه چه کوم به شيطانانو لوستلو د (حضرت) سليمان (عليه السلام) په زمانه د حکومت کښې (حضرت) سليمان (عليه السلام) کفر نه دې کړې ، خو شيطانانو کفر کړيدې چه خلقو ته به ئې جادو خودلو او دې (يهوديانو) د هغه سحر هم اتباع اوکړه چه کوم بابل ښار کښې په دوه فرشتو هاروت او ماروت باندې نازل شوې وو او دې دواړو به تر هغه وخته چا ته دا نه خودلو چه تر څو به ئې دا نه ويلې چه مونږ خو د آزمائش دپاره يو ، نو تاسو کفر مه اختياروئ ، بعض خلقو به هغه جادو ازده کولو چه کوم سړه د ښځې خاوند په مينځ کښې جُدائي راولی ، او خلق د سحر په ذريعه چا ته ضرر نه شي رسولې خو په حکم د الله تعالى سره ، خلق هغه څيزونه ازده کوی چه کوم دوی ته تاوان ورکوی دوی دپاره فائده مند نه وی ، دا (يهودی) خلق ښه پوهيږی چه کوم کس دا (سحر د کتاب الله په بدل کښې) اختيار کړی ، د داسې کس په آخرت کښې هيڅ حصه نشته دې -

النفاثات : السواحر : سورت فلق کښې (من شر النفاثات في العقد) کښې د نفاثات نه جادوګرې ښځې مراد دی ، دا د حضرت حسن بصرى رحمه الله تفسير دې چه امام طبرى په صحيح سند سره نقل کړيدې - (1)

تسحرون : تعمون

د سورت المؤمنون په آيت کريمه کښې دی (سيقولون الله قل فأنى تسحرون) ابو عبيده په مجاز القرآن کښې د "تسحرون" تفسير په "تعمون" سره کړيدې، أى كيف تعمون عن هذا و تصدون عنه (2)

[۵۷۳۰] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ سَحَرَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ مِنْ بَنِي زُرَيْقٍ يُقَالُ لَهُ لَبِيدُ بْنُ الْأَعْصَمِ حَتَّى كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ كَانَ يَفْعَلُ الشَّيْءَ وَمَا فَعَلَهُ حَتَّى إِذَا كَانَ ذَاتَ يَوْمٍ أَوْ ذَاتَ لَيْلَةٍ وَهُوَ عِنْدِي لَكِنَّهُ دَعَا وَدَعَا ثُمَّ قَالَ يَا عَائِشَةُ أَشَعَرْتِ أَنَّ اللَّهَ أَفْتَانِي فِيمَا اسْتَفْتَيْتُهُ فِيهِ أَتَانِي رَجُلَانِ فَقَعَدَ أَحَدُهُمَا عِنْدَ رَأْسِي وَالْآخَرُ عِنْدَ رِجْلَيَّ فَقَالَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ مَا وَجَعُ الرَّجُلِ فَقَالَ مَطْبُوبٌ قَالَ مَنْ طَبَّهُ قَالَ لَبِيدُ بْنُ الْأَعْصَمِ قَالَ فِي أَيِّ شَيْءٍ قَالَ فِي مُشْطٍ وَمُشَاطَةٍ وَجُفِّ طَلْعِ نَخْلَةٍ ذَكَرٍ قَالَ وَأَيْنَ هُوَ

---

1) فتح البارى : ۱۰ \ ۲۷۷ ، عمدة القارى : ۲۱ \ ۲۷۹ ، ارشاد السارى : ۱۲ \ ۴۸۲)

2) فتح البارى : ۱۰ \ ۲۷۷ و فى أحكام القرآن للقرطبى : (فأنى تسحرون) أى فكيف تخدعون و تصرفون عن طاعته و توحيده أو كيف يخيل إليكم أن تشركوا به ما لا يضر و لا ينفع ، و السحر هو التخييل ، أحكام القرآن للقرطبى : ۱۲ \ ۱۴۵)

قَالَ فِي بِئْرِ ذَرْوَانَ فَأَتَاهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي نَاسٍ مِنْ أَصْحَابِهِ فَجَاءَ فَقَالَ يَا عَائِشَةُ كَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ أَوْكَأَنَّ رُءُوسَ نَخْلِهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ قُلْتُ يَارَسُولَ اللَّهِ أَفَلَا اسْتَخْرَجْتَهُ قَالَ قَدْ عَافَانِي اللَّهُ فَكَرِهْتُ أَنْ أُثَوِّرَ عَلَى النَّاسِ فِيهِ شَرًّا فَأَمَرَ بِهَا فَدُفِنَتْ - تَابَعَهُ أَبُو أُسَامَةَ وَأَبُو ضَمْرَةَ وَابْنُ أَبِي الزِّنَادِ عَنْ هِشَامٍ
وَقَالَ اللَّيْثُ وَابْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ هِشَامٍ فِي مُشْطٍ وَمُشَاقَةٍ
يُقَالُ الْمُشَاطَةُ مَا يَخْرُجُ مِنَ الشَّعَرِ إِذَا مُشِطَ وَالْمُشَاقَةُ مِنْ مُشَاقَةِ الْكَتَّانِ [ر: ۳۰۰۴]

حضرت عائشه ﷞ فرمائی چه بنو زریق کښې یو سړی چه ده ته به لبید بن اعصم ویلې کېدلو په نبی اکرم ﷺ جادو اوکړو (چه د هغې اثر سره) د دوی ﷺ دا حالت شو چه دوی ته به خیال راغلو چه ده یو کار کړیدی او حال دا دې چه ده به دا کار نه وو کړې ، تر دې چه یو شپه دوی ما ته راغلل خو دعا ئې کوله ، دعا کښې مشغول وو ، بیا ئې اوفرمائل :" اے عائشه تا ته معلومه ده چه ما څه معلومول غوښتل هغه الله تعالی ما ته اوخودل ، چه ما ته دوه سړی راغلل یو څما سر سره او بل څما د پښو سره کښیناستو ، دوی کښې یو بل ملګری ته وائی : چه دې سړی ته څه تکلیف دې ، نو دا بل ورته جواب ورکوی ، په ده جادو شویدې ، نو هغه ړومبې تپوس کوی : چا جادو کړیدې ؟" ، دا بل جواب ورکوی : لبید بن اعصم" ، ړومبې تپوس کوی : په څه څیز کښې جادو کړیدې ، دا دویم ورته وائی : په ګمنز کښې د سر په ویختواو د نر کهجور په غونچکه کښې " ړومبی تپوس اوکړو " دا څیزونه کوم خائې دی ؟" نو دا دویم ورته وائی : د ذروان په کوهی کښې... نو رسول الله ﷺ د څو اصحابو سره د غه کوهی ته ورغلو ، او بیا واپس راغلو او وې فرمائل : اے عائشه د دې کوهي اوبه د نکریزو د رنګ په شان سرې شوې وې د دې خوا کښې د اونو سرونه د شیطانانو د سرونو په شان وو " ما اوویل : اے د الله تعالی رسوله تاسو ددې تحقیق ولې اونکړو " دوی اوفرمائل :" ما ته الله تعالی صحت راکړو ،دې وجه نه ما په خلقو کښې د ده بدی مشهورول مناسب اونه ګنړل " نو دوی ددې ګمنز دفن کولو حکم اوکړو

قوله: سحر النبي رجلٌ من بني زريق : بنو زریق د انصارو د مشهورې قبیلې خزرج یو ښاخ دې ، د مسلم روایت کښې دی " سحر النبي ﷺ یهودی من یهود بنی زریق " [۱] او د ابن عیینه په روایت کښې راځی ، " رجل من بنی زریق حلیف الیهود و کان منافقا " د مسلم روایت نه معلومیږی چه دې یهودی وو او د ابن عیینه په روایت کښې دی چه دې د یهودو دوست وو او منافق وو

تطبیق داسې ورکولې کیدې شی چه اصل کښې خو یهودی نه وو د دوی حلیف او دوست وو ، او د حلیف کیدو په وجه په بعض روایتونو کښې ورته یهودی ویلې شویدې - [۲]
قاضی عیاض نقل کړیدی چه ده په ظاهره اسلام قبول کړې وو - [۳]

[۱] صحيح مسلم ، كتاب السلام ، باب السحر : ٤ \ ١٧١٩ (رقم الحديث : ٢١٨٩)
[۲] فتح الباری : ١٠ \ ٢٧٧ ، ارشاد الساری : ١٢ \ ٤٨۶)
[۳] فتح الباری : ١٠ \ ٢٧٧ ، ارشاد الساری : ١٢ \ ٤٨۶)

په نبی کریم ﷺ باندې د سحر کولو دا واقعه کله راپیښه شوې وه ؟ واقدي په خپل سند سره یو روایت رانقل کړیدې چه ابن سعد په " طبقات " کښې ذکر کړی دی ، دیکښې دی "

لما رجع رسول الله ﷺ من الحديبية في ذي الحجة و دخل المحرم من سنة سبع جاءت رؤساء اليهود إلى لبيد بن الأعصم و كان حليفا في بني زريق و كان ساحرا فقالوا له : يا أبا الأعصم ، أنت أسحرنا ، و قد سحرنا محمدا ، فلم نصنع شيئا ، و نحن نجعل لك جعلا على أن تسحره لنا سحرا ينكؤه ، فجعلوا له ثلاثة دنانير " (۱)

یعنی رسول اله په میاشت د ذی الحجه کښ غزوه حدیبیه نه واپس شوې وو او محرم د اووم کال د هجرت داخل شوې وو نو د یهودو سرداران لبید بن اعصم ته راغلل ، لبید حلیف وو په بنو زریق کښې او دې جادوګر وو یهودي سردارانو ده ته اوویل : چه " ته په مونږ کښې لوې جادوګر ئې مونږ په محمد جادو اوکړو خو ددې هیڅ اثر په ده اونه شو ، ته په ده داسې جادو اوکړه چه ده لره خیرې کړې مونږ به تالره معاوضه مقرر کړو نو یهودی سردارانو ده لره درې ديناره معاوضه مقرر کړه

(جُعل وظیفه او معاوضه ته وائی ، د نکأ معنی د سوری کولو او د زخمی کولو راځی)
د دې جادو اثر څومره مُدې پورې وو ؟ په بعض روایتونو کښې.دی چه تر څلویښت ورځو پورې وو او په بعض روایتونو کښې د شپږو میاشتو ذکر دې ، حافظ ابن حجر د دواړو روایتونو تطبیق کړیدې او لیکی :

" ويمكن الجمع بأن تكون الستة أشهر من ابتداء تغير مزاجه ، والأربعين يوما من استحكامه " (۲)

یعنی ټوله مُده خو شپږ میاشتې وه ، خو دیکښې څلویښت ورځې د جادو اثر بالکل مستحکم او کلك وو نو چه کومو روایتونو کښې د شپږو میاشتو ذکر دې نو دینه د جادو د ابتدائی اثر نه واخله تر آخره پورې ټوله مُده د سحر مراد ده ، او چه کومو روایتونو کښې د څلویښتو ورځو ذکر دې دینه د جادو د تاثیر د استحکام والا مُده مراد ده -

قوله: حتى كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يخيل إليه أنه كان يفعل الشيء وما فعله: د جادو اثر وو چه رسول الله ﷺ به یو کار نه وو کړې خو دوی به ګنړل او خیال به ئې کولو چه دا کار ما کړیدې ، د بیهقی په دلائل النبوة په روایت کښې دي " فكان يدور ، ولا يدري ما وجعه " (۳) یعنی دوی به د پریشانئ او د تکلیف په وجه د بې آرامئ په حالت کښې چکر لګولو او د پریشانې وجه به ورته نه وه معلومه _

قوله: وهو عندي لكنه دعا ودعا: حضرت عائشه فرمائی چه حضور اکرم ﷺ ما سره به

---

۱) الطبقات الكبرى لابن سعد ، ذكر من قال : إن اليهود سحرت رسول الله صلى الله عليه وسلم : ۲\۱۹۷)
۲)) فتح الباري : ۱۰\۲۷۸ ، عمدة القاري : ۲۱\۲۸۰)
۳) دلا ئل النبوی کښې الفاظ داسې دی :" و كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يذوب و لا يدري ما وجعه " دلائل النبوة للبيهقي ، باب الرقية بكتاب الله عزوجل ، و ما جعل الله عز وجل فيه من الشفاء حتى ظهرت آثاره : ۷\۹۲)

ووخودعا به نې كوله، علامه كرمانى رحمه الله فرمائى چه"لكنه " كښې احتمال شته دې چه دا د استدراك د " عندي " نه وى يعنى دې خو به ماسره وو خو دعا كښيې به مشغول وو -

او دا استدراك د " يخيل إليه أنه كان يفعل ... " نه هم كيدې شى چه رسول الله ﷺ باندې د جادو اثر په بعض طبعى امورو كښ وو ، چه كار به ئې نه وو كړې او دوى به خيال كولو چه دا كار مې كړيدې خو د دوى فهم او عقل او شرعى امورو كښې ددې څه اثر هم نه وو راغلې - ([1]) لكه چه دوى به برابر د صحت دعا غوښتله

قوله: أفتاني فيما استفتيته: د حميدى په روايت كښې دى " أفتاني في أمر استفتيته فيه " أى أجابني فيما دعوته يعنى الله تعالى څما د دعا او د سوال جواب راكړو -

مسند احمد كښ د معمرى روايت او په طبرانى كښې د مرجا بن رجاء روايت كښې دى :" أتاني ملكان " دې ([2])

ابن سعد د دواړو نوم ذكر كړيدې چه دا دواړه حضرت جبرائيل او حضرت ميكائيل عليهما السلام وو ([3])

قوله: فقعد أحدهما عند رأسي والآخر عند رجلي : يو فرشته سر مبارك او بله پښو مباركو سره كښيناسته سيرت دمياطى كښې دى چه د سر طرف ته ناسته فرشته حضرت جبرائيل او پښو طرف ته ناسته فرشته حضرتميكائيل وو ([4])

قوله: فقال أحدهما لصاحبه : حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائلې دى چه د تمامو طريقو جمع كولو نه معلوميږى چه سوال كولو والا حضرت ميكاييل او جواب وركوونكې حضرت جبرائيل وو - ([5])

فقال : مطبوب : مطبوب په معنى د مسحور دې ، طب الرجل : سحر كول ، د طب اطلاق په علاج باندې هم كيږى او په بيمارئ باندې هم ، اضدادو كښې دې . ([6]) د كتاب الطب په شروع كښې دا بحث تير شويدې

قوله: في مشط ومشاطة: مشط (د ميم د ضمه او د شين د سكون سره) ګمنز ته وائى او مشاطة هغه ويختو ته وائى چه كوم د ګمنز كولو په وخت د د سر نه اوځى - ([7])

---

[1]) فتح البارى : ۱۰\۲۷۸ . عمدة القارى ط : ۲۱\۲۸۰)
[2]) فتح البارى : ۱۰\۲۷۸ . عمدة القارى ط : ۲۱\۲۸۰ . ارشاد السارى : ۱۲\۴۸۳)
[3]) فتح البارى : ۱۰\۲۷۸ . عمدة القارى : ۲۱\۲۸۰ . ارشاد السارى : ۱۲\۴۸۳)
[4]) فتح البارى : ۱۰\۲۷۸ . عمدة القارى : ۲۱\۲۸۰ . وقال القسطلانى : (فقال أحدهما وهو جبريل أو ميكائيل . ارشاد السارى : ۱۲\۴۸۳)
[5]) فتح البارى : ۱۰\۲۷۸ . عمدة القارى : ۲۱\۲۸۰ . ارشاد السارى : ۱۲\۴۸۳)
[6]) فتح البارى : ۱۰\۲۷۸ . عمدة القارى : ۲۱\۲۸۰ . ارشاد السارى : ۱۲\۴۸۳)
[7]) فتح البارى : ۱۰\۲۷۸ . عمدة القارى : ۲۱\۲۸۰ . ارشاد السارى : ۱۲\۴۸۳)

قوله: وجُفّ طلع نخلة ذكر: دلته د بخاری په روایت کښې جفّ (د جيم د ضمه او د فاء سره) دې اودمسلم روايت کښې دجُبّ(د باء سره دې) د کجور په غونچکه چه کوم پوستکې او غلاف وی هغه ترينه مراد دې ، دا مذکر او مؤنث دواړه استعماليږی ، ځکه ئې وړاندې د " ذکر " لفظ راوړيدې ذکر د " جف " صفت دې طلع د کجورو غنچکې ته وائی - (١)

قوله: في بئر ذروان: په بعض روايتونو کښې بئرذی أروان دې ، دا په مدينه منوره کښې بستان بنی زريق کښې د واقع يو کوهی نوم دې - (٢)

قوله: فأتاها رسول الله صلى الله عليه وسلم في ناس من أصحابه: د ابن سعد روايت کښې دی چه حضرت علی او حضرت عمار ﷺ ته دوی ﷺ په ملګرتيا کښې د تلو دپاره اوويل او يو روايت د جبير بن اياس زرقی نوم راغلې دې ، جبير بن اياس بدری صحابی دې ، حضور ﷺ خائې اوخودلو او دوی دغه ويخته رااوويستل او بعض وائی چه قيس بن محصن زرقی راويستې وو،کيدې شی ، يو امداد کړې وی او بل راويستې وی(٣)

قوله: كان ماءها نقاعة الحنا: نقاعة (د نون د ضمه سره) نقع په معنی د لوندولو راخی ، حنا نکريزو ته وائی يعنی دا اوبه داسې سرې لګيدلې لکه چه چا په کښې نکريزې اچولې وی ، مطلب دا دې چه د خرابيدو د وجه نه د دې کوهی د اوبو رنګ بدل شوې وو ، يا چه څه ديکښې ئې ګډ کړې وو د هغې د وجه نه د دې رنګ بدل شوې وو (٤)

قوله: فكرهت أن أثوّر على الناس فيه شرا: حضور اکرم ﷺ اوفرمائل چه ما ته د خلقو په شر باندې رااوچتول مناسب ښکاره نه شو ، الله تعالی ما ته صحت راکړو ، دې وجه نه د زيات تحقيق او تفتيش ضرورت نشته دې چه خبره خوره شی او انتشار پيدا شی . أثور د باب د تفعيل نه د متکلم صيغه ده ثوّرتثويرا تيزول رااوچتول

قوله: تابعه أبو أسامة وأبو ضمرة وإبن أبي الزناد: يعنی د عيسی بن يونس متابعت ابو اسامه (حماد بن اسامه) او ابوضمره (د ضاد په فتحه او د ميم په سکون سره) (انس بن عياض) او ابن ابی الزناد (عبد الرحمن بن عبد الله بن ذکوان) کړيدې ، د ابو اسامه متابعت امام بخاری دوه بابه وړاندې او د ابوضمره متابعت ئې په دعوات کښې موصولاً نقل کړيدې . ابن ابی الزناد متابعت متعلق حافظ فرمائی چه ما ته لا تر اوسه نه دې معلوم شوې چه دا چا موصول نقل کړيدې (٥)

---

(١) فتح الباری : ١٠ \ ٢٧٨ ، عمدة القاری : ٢١ \ ٢٨٠ ، ارشاد الساری : ١٢ \ ٤٨٣)
(٢) فتح الباری : ١٠ \ ٢٧٨ ، عمدة القاری : ٢١ \ ٢٨٠)
(٣) فتح الباری : ١٠ \ ٢٨٢ ، ارشاد الساری : ١٢ \ ٤٨٤)
(٤) فتح الباری : ١٠ \ ٢٨٢ ، عمدة القاری : ٢١ \ ٢٨١ ارشاد الساری : ١٢ \ ٤٨٤)
(٥) فتح الباری : ١٠ \ ٢٨٤ وقال العينی : و سيأتی موصولا فی كتاب الدعوات إن شاء الله تعالى . عمدة القاری : ١٠ \ ٢٨٢)

قوله: وقال الليث وابن عيينة عن هشام: في مشط ومشاقة: دلته بره روايت كښې مشاطة (د طاء سره) دې ، ليث او سفيان بن عيينه په روايت كښې مشاقة (د قاف سره) دې ، مشاطة هغه ويختو ته وائی چه کوم د ګمنز کولو په وخت د سر او د ګيرې نه اوغورزيږی ، وړاندې امام بخاری نقل کړيدې المشاطة : مايخرج من الشعر إذا مُشِط و المشاقة : من مشاقة الكتان يعنی مشاطة د ګمنز کولو په وخت وتونکې ويختو ته وائی او مشاقی د کپړو او د تان بنړلو په وخت چه کومې ريشې بيليږی د هغې دپاره استعماليږی (۱)

۴۷= بَابُ الشِّرْكُ وَالسِّحْرُ مِنَ الْمُوبِقَاتِ

[۵۴۳۱] حَدَّثَنِي عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنِي سُلَيْمَانُ عَنْ ثَوْرِ بْنِ زَيْدٍ عَنْ أَبِي الْغَيْثِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اجْتَنِبُوا الْمُوبِقَاتِ الشِّرْكُ بِاللَّهِ وَالسِّحْرُ [ر: ۲۶۱۵]

موبقات د موبقة جمع ده ، د باب افعال اسم فاعل مؤنث صيغه ده ، هلاك كوونكې ، موبقات ، مهلكات ، روايت كښې دی موبقات نه بچ شئ ، ديكښې يو شرك او يو جادو دې " الشرك بالله ، السحر " تركيب كښې مبتدا دې او خبر " منها " ئې محذوف دې أی منها الشرك والسحر " يا دا خبر دې او مبتداء محذوف دې أی الأول : الشرك و الثانی : السحر

دا روايت كتاب الوصايا كښې تير شويدې " إجتنبوا السبع الموبقات : الشرك بالله و السحر ، و قتل النفس التی حرم الله إلا بالحق ، و أكل مال اليتيم ، و أكل الربا ، والتولی يوم الزحف و قذف المحصنات " (۲)
دلته امام بخاری دا مختصر ذكر كړيدې

۴۸= بَابُ هَلْ يَسْتَخْرِجُ السِّحْرَ

وَقَالَ قَتَادَةُ قُلْتُ لِسَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ رَجُلٌ بِهِ طِبٌّ أَوْ يُؤَخَّذُ عَنْ امْرَأَتِهِ أَيُحَلُّ عَنْهُ أَوْ يُنَشَّرُ قَالَ لَا بَأْسَ بِهِ إِنَّمَا يُرِيدُونَ بِهِ الْإِصْلَاحَ فَأَمَّا مَا يَنْفَعُ النَّاسَ فَلَمْ يُنْهَ عَنْهُ

[۵۴۳۲] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عُيَيْنَةَ يَقُولُ أَوَّلُ مَنْ حَدَّثَنَا بِهِ ابْنُ جُرَيْجٍ يَقُولُ حَدَّثَنِي آلُ عُرْوَةَ عَنْ عُرْوَةَ فَسَأَلْتُ هِشَامًا عَنْهُ فَحَدَّثَنَا عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُحِرَ حَتَّى كَانَ يَرَى أَنَّهُ يَأْتِي النِّسَاءَ وَلَا يَأْتِيهِنَّ قَالَ سُفْيَانُ وَهَذَا أَشَدُّ مَا يَكُونُ مِنْ السِّحْرِ إِذَا كَانَ كَذَا فَقَالَ يَا عَائِشَةُ أَعَلِمْتِ أَنَّ اللَّهَ قَدْ أَفْتَانِي فِيمَا اسْتَفْتَيْتُهُ فِيهِ أَتَانِي رَجُلَانِ فَقَعَدَ أَحَدُهُمَا عِنْدَ

(۱) فتح الباری : ۱۰ \ ۲۸۴ ، عمدة القاری : ۲۱ ۲۸۲)
(۲) فتح الباری : ۱۰ \ ۲۸۴ ، عمدة القاری : ۲۱ \ ۲۸۲)

رَأْسِي وَالْآخَرُ عِنْدَ رِجْلَيَّ فَقَالَ الَّذِي عِنْدَ رَأْسِي لِلْآخَرِ مَا بَالُ الرَّجُلِ قَالَ مَطْبُوبٌ قَالَ وَمَنْ طَبَّهُ قَالَ لَبِيدُ بْنُ أَعْصَمَ رَجُلٌ مِنْ بَنِي زُرَيْقٍ حَلِيفٌ لِيَهُودَ كَانَ مُنَافِقًا قَالَ وَفِيمَ قَالَ فِي مُشْطٍ وَمُشَاقَةٍ قَالَ وَأَيْنَ قَالَ فِي جُفِّ طَلْعَةٍ ذَكَرٍ تَحْتَ رَاعُوفَةٍ فِي بِئْرِ ذَرْوَانَ قَالَتْ فَأَتَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبِئْرَ حَتَّى اسْتَخْرَجَهُ فَقَالَ هَذِهِ الْبِئْرُ الَّتِي أُرِيتُهَا وَكَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ وَكَأَنَّ نَخْلَهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ قَالَ فَاسْتُخْرِجَ قَالَتْ فَقُلْتُ أَفَلَا أَيْ تَنَشَّرْتَ فَقَالَ أَمَا اللَّهُ فَقَدْ شَفَانِي وَأَكْرَهُ أَنْ أُثِيرَ عَلَى أَحَدٍ مِنَ النَّاسِ شَرًّا [ر: ٣٠٠٤]

د سحر او د جادو د علاج کولو حکم : د جادو ختمول او ددې علاج کول جائز دی او که نه ؟

امام بخاری رحمه الله ترجمة الباب کښې " هل " د استفهام کلمه استعمال کړيده ، ځکه چه ديکښې اختلاف دې

د حضرت حسن بصری رحمه الله په نزد مکروه دې ، هغه وائی چه د سحر علاج ساحر کولې شی ، نو دې دپاره به ساحر ته تلل وی او ساحر او کاهن ته د تلو نه منع راغلې ده (۱)

امام ابو داود رحمه الله په مراسيل کښې د حضرت حسن بصری رحمه الله نه يو مرفوع حديث هم نقل کړيدې چه " النشرة من الشيطان" (۲)

عبدالرزاق هم د حضرت جابر رضی الله عنه يو قول نقل کړيدې چه دوی نه د نشرة په باره کښې تپوس اوشو نو دوی اوويل : من عمل الشيطان " - (۳)

نشرة د جادو ختمولو دپاره چه کوم دم او عمل کيږی هغې ته وائی - (۴)

خو د جمهور عالمانو په نزد د جادو علاج کول او د سحر ماتول جائز دی (۵) امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښ د حضرت سعيد بن المسيب قول نقل کولو سره د جمهور عالمانو تائيد کړيدې ـ

قتاده وائی چه ماد حضرت سعيد بن المسيب نه تپوس اوکړو " رجل به طب او يؤخذ عن امرأته، أيحل عنه أو ينشر؟ " يعنی چه په يو سړي جادو شوې وی يا دې دښځې نه بند کړې شوې وی (چه دده نه د جماع صلاحيت په ذريعه د جادو ختم کړې شوې وی) نو آيا دده نه جادو ختم کيدې شی ؟

طب جادو ته وائی ، يُؤَخّذ: تأخيذ دباب تفعيل نه د مضارع مجهول صيغه ده ، أُخذة هغه

---

(۱) فتح الباری : ۱۰\۲۸۶ شرح صحيح البخاری لابن البطال : ۹\۴۴۵)

(۲) فتح الباری : ۱۰\۲۸۶)

(۳) شرح صحيح البخاری لا بن البطال : ۹\۴۴۴ ، ۴۴۵)

(۴) فتح الباری : ۱۰\۲۸۶)

(۵) فتح الباری : ۱۰\۲۸۶)

منتر ته وائی چه هغه اویلې شی د یو سړی د جماع صلاحیت ختم یا متاثر کړې شی (۱)
أیحل عنه : دیکښې همزه د استفهام ده ،حل حلا خلاصول ، ینشر: تنشیر د باب تفعیل نه مجهول صیغه ده ددې معنی هم د جادو ختمول دی ، دا د نشرة نه دې نشرة د تعویذ او د دم په شان د جادو د ختمولو یومخصوص طریقه او د عمل نوم دې
یحل او ینشر د دوه لفظونو استعمال ئې کړیدې دیکښې یا "أو" د شك دپاره دې او یا د لف نشر مرتب په طور د دواړو لفظونو استعمال شویدې ، دا رنګه چه د " یحل " تعلق د " رجل به طب " سره او د ینشر " تعلق د "یؤخذعن إمرأته " سره دې - (۲)
حاصل دا دې چه قتاده د حضرت سعید بن المسیب نه د سحر د علاج متعلق تپوس اوکړو چه ددې ماتول او ختمول جائز دې او که نه؟ نو دوی اوفرمائل :" لا بأس به ، إنما یریدونه به الإصلاح ، فأما ماینفع فلم ینه عنه " یعنی علاج کولو کښې څه حرج نشته دې ، خلق خو داسې اصلاح غواړی د نافع او د مفید کار نو څه ممانعت نشته دې ، د هشام دستوائی په طریق کښې دا الفاظ دی "إنمانهی الله عمایضره، ولم ینه عنماینفعه" - (۳)
د قتاده دا تعلیق ابو بکر اثرم په " کتاب السنن کښې موصولاً نقل کړیدې - (۴)

د علاج د سحر یو طریقه: ابن بطال د وهب بن منبه په حواله سره نقل کړیدی چه په چا داسې جادو اوشی چه دې ښځې ته د ورتلو نه عاجز وی نو داسې سړی لره د شنې بیرې د اونې نه اووه پاڼې دې راواخستې شي ، په دوه کاڼړو دې دا اوټکولې شی ، او په اوبو کښې دې ملاو کړې شی ، بیا دې پرې آیت الکرسی او څلور واړه قل اولولی ، بیا دې دینه درې ګوټه اوڅکی او په باقی دې اُولامبی نو انشاء الله د جادو اثر به لاړ شی - (۵)
حافظ ابن حجر رحمه الله دلته د جادو د اثر ختمولو نورې طریقې هم لیکلې دی (۶)

---

(۱) فتح الباری : ۱۰\۲۸۶ ، عمدة القاری : ۲۱\۲۸۳ ، ارشاد الساری : ۱۲\٤۸۵)
(۲) عمدة القاری : ۲۱\۲۸۳ ، ارشاد الساری : ۱۲\٤۸۵)
(۳) ارشاد الساری: ۱۲\٤۸۵)
(۴) فتح الباری : ۱۰\۲۸۶ ، ارشاد الساری : ۱۲\۲۸۵)
(۵) فتح الباری : ۱۰\۲۸۶ ، عمدة القاری : ۲۱\۲۸٤ ، ارشاد الساری : ۱۲\٤۸۵ ، و کذا فی رد المحتار علی الدر المختار : ۲\٦٤۵ . کتاب النکاح باب العنّین وغیره ، مطلب فی فک المسحور و المربوط)
(۶) لکه چه حافظ ابن حجر فرمائی : قال نصوح : فسألنی حماد بن شاکر : ما الحل و مالنشرة :؟ فلم أعرفها ، فقل : هو الرجل إذا لم یقدر علی مجامعة أهله و أذاق ما سواها فإن النبتی بذلک یأخذ حزمة قضبان و فأسا ذا قطارین و یضعه فی وسط تلک الحزمة ثم یؤجج نارا فی تلک الحزمة حتی إذا ما حمی الفأس استخرجه من النار و بال علی حره فإنه یبرأ بإذن الله تعالی . و أما النشرة فإنه یجمع أیام الربیع ما قدر علیه من ورد المفارة وورد البساتین ثم یلقیها فی إناء نظیف و یجعل فیها ماء عذبا ثم یغلی ذلک الورد فی الماء غلیًا یسیرا ثم یمهل حتی إذا فتر الماء أفاضه علیه فإنه یبرأ بإذن الله تعالی ، ۲۸۷)

روایت د باب کښې په حضور اکرم ﷺ د جادو کولو واقعه بیان شویده چه کومه دینه وړاندې تیره شویده ، خو دې روایت کښې څو جملې نوې دی :

قوله: قال سفیان :وهذا أشد ما یکون من السحر إذا کان کذا: سفیان وائی چه کله دا صورت حال وی(چه سړی څه کار نه وی کړې او ده ته دا خیال راځی چه ده دا کار کړیدې) نو دا د جادو سخت اثر وی

قوله: تحت رَعوفة : رَعوفة او راعوفة د کوهی هغه لوې کاڼړی ته وائی چه د کوهی په غاړه ئې اړدی دې دپاره چه په دې اودریدل اوشی او اوبه ترینه رااوویستې شی او اوڅکلې شی
ابوعبیده وایی : چه دینه هغه کاڼړې مراد چه کوم د کوهی د کنیستو په وخت دیکښې دننه اولګولې شی دې دپاره چه په دې ناسته کیږی دپاره د کوهی صفا کولو - (١)

۴۹= بَابُ السِّحْرِ

[۵۴۳۳] حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سُحِرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى إِنَّهُ لَيُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ يَفْعَلُ الشَّيْءَ وَمَا فَعَلَهُ حَتَّى إِذَا كَانَ ذَاتَ يَوْمٍ وَهُوَ عِنْدِي دَعَا اللَّهَ وَدَعَاهُ ثُمَّ قَالَ أَشَعَرْتِ يَا عَائِشَةُ أَنَّ اللَّهَ قَدْ أَفْتَانِي فِيمَا اسْتَفْتَيْتُهُ فِيهِ قُلْتُ وَمَا ذَاكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ جَاءَنِي رَجُلَانِ فَجَلَسَ أَحَدُهُمَا عِنْدَ رَأْسِي وَالْآخَرُ عِنْدَ رِجْلَيَّ ثُمَّ قَالَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ مَا وَجَعُ الرَّجُلِ قَالَ مَطْبُوبٌ قَالَ وَمَنْ طَبَّهُ قَالَ لَبِيدُ بْنُ الْأَعْصَمِ الْيَهُودِيُّ مِنْ بَنِي زُرَيْقٍ قَالَ فِيمَا ذَا قَالَ فِي مُشْطٍ وَمُشَاطَةٍ وَجُفِّ طَلْعَةٍ ذَكَرٍ قَالَ فَأَيْنَ هُوَ قَالَ فِي بِئْرِ ذِي أَرْوَانَ قَالَ فَذَهَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أُنَاسٍ مِنْ أَصْحَابِهِ إِلَى الْبِئْرِ فَنَظَرَ إِلَيْهَا وَعَلَيْهَا نَخْلٌ ثُمَّ رَجَعَ إِلَى عَائِشَةَ فَقَالَ وَاللَّهِ لَكَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ وَلَكَأَنَّ نَخْلَهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَفَأَخْرَجْتَهُ قَالَ لَا أَمَّا أَنَا فَقَدْ عَافَانِي اللَّهُ وَشَفَانِي وَخَشِيتُ أَنْ أُثَوِّرَ عَلَى النَّاسِ مِنْهُ شَرًّا وَأَمَرَ بِهَا فَدُفِنَتْ [ر: ۳۰۰۴]

تعارض د روایتونو او ددې حل : دې باب کښې هم امام بخاری رحمه الله په حضور اکرم ﷺ د جادو کیدو واقعه ذکر کړیده ، د دې آخر کښې دی چه د حضرت عائشه د نبی اکرم ﷺ نه تپوس اوکړو چه **أفأخرجته** آیا تا هغه جادو رااوویستو ؟ نو حضور ﷺ اوفرمائل : نه
دینه معلومه شوه چه حضور اکرم ﷺ د کوهی طرف ته تلې وو خو چه په کومو څیزونو جادو شوې وو هغه دوی رااونه ویستل ، حال دا دې چه دینه وړاندې باب کښې دا روایت د سفیان بن عیینه په طریق سره روایت دې ، دیکښې دی "فأتی النبی ﷺ البئر حتی استخرجه " چه

١) فتح الباری : ١٠\٢٨٧)

دوى دي كوهى ته راغلل او دوى دا جادو د دغه خائي نه رااوويستلو ، په دي دواړو خبرو كښي تعارض دي - د دي تعارض مختلف جوابونه وركړي شويدي

① يو دا چه روايت د باب ابو اسامه (حماد بن اسامه) نه دي او د دوى په مقابله كښي د سفيان بن عيينه مرتبه اوچته ده ، دي وجه نه د سفيان روايت ته به ترجيح وركولي كيږى[1]

② دويم دا جواب وركړي شويدي ، چه روايت د باب كښي د استخراج د نفى نه مراد دا دي چه د كهجوري د غنچكي نه هغه ويخته نه وو راويستي شوي او د سفيان په روايت كښي چه د استخراج كوم ذكر دي دينه " استخراج من البئر " مراد دي يعنى د كوهى نه دغه غنچكه راويستي شوي وه خو د غنچكي نه بيا دغه ويخته را اونه ويستلي شول ، چه په كومو جادو شوي وو ، نو داسي په دواړو روايتونو كښي تطبيق كيږى چه نفى د استخراج من الجف ده او اثبات د استخراج من البئر دي - [2]

خو په دي جواب د بيهقى د دلائل النبوة ددي روايت نه اشكال كيږى چه هغي كښي دى :"

قال : فنزل رجل فاستخرج جف طلعة من تحت الراعوفة ، فإذا فيه مشط رسول الله ﷺ و من مراطه رأسه ، و إذا تمثال من شمع تمثال رسول الله ﷺ ، وإذا فيها إبر مغروزة ، وإذا وتر فيه إحدى عشرة عقدة ، فأتاه جبريل عليه السلام بالمعوذتين ، فقال : يا محمد * قل أعوذ برب الفلق * وحل عقدة * من شر ما خلق * وحل عقدة حتى فرغ منها ، ثم قال : * قل أعوذ برب الناس * وحل عقدة حتى فرغ منها وحل العقد كلها - وجعل لاينزع إبرة إلا وجد لها ألما ، ثم يجد بعد ذلك راحة " [3]

يعنى يو سړي كوز شو او د كوهى د كانړى لاندي نه ئي د كهجوري غنچه راويستله نو په هغي كښي د رسول الله صلى الله عليه وسلم د سر مبارك هغه ويښته وو كوم چه د ګومنځولو په وخت وتلى وو، اود شمعي نه د رسول الله ﷺ يو مثل جوړكړي شوي وو، چه په هغي كښي ستني ښخي شوي وي، په هغي كښي د څرمني يو تار هم وو چه هغي ته يوولس غوټي وركړي شوي وي، حضرت جبرئيل عليه السلام د معوذتينو (قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس) دواړه سورتونه راوړل او وي وئيل اي محمد! قل اعوذ برب الفلق يو آيت وايه او يوه غوټه پرانيزه، من شر ما خلق اووايه او بله غوټه پرانيزه تردي چه د قل اعوذ برب الفلق پنځه آياتونه لوستلو نه فارغ شو، بيا حضرت جبرئيل عليه السلام اووئيل چه قل اعوذ برب الناس اووايه او غوټه پرانيزه، تردي چه د سورة الناس شپږ آياتونه لوستلو نه فارغ شو (دغه شان ئي د دواړو سورتونو يوولس آياتونه لوستلو سره يوولس غوټي نبى كريم ﷺ پرانستل) په شكل كښي

[1]) عمدة القارى : ٢١ \ ٢٨٤ .فتح البارى : ١٠ \ ٢٨٨ . ارشاد السارى :١٢ \ ٤٨٧)

[2]) عمدة القارى : ٢١ \ ٢٨٤ .فتح البارى : ١٠ \ ٢٨٨ . ارشاد السارى :١٢ \ ٤٨٧)

[3])) دلائل النبوة للبيهقى : باب الرقية بكتاب الله عزوجل و ما جعل الله عزو جل فيه من الشفاء حتى ظهرت آثاره : ١٧ \ ٩٤)

ښخې کړې شوې هر يو د ستن چه به نبی کریم ﷺ راویستله درد به ئې محسوسولو. هرکله چه ټولې غوټې پرانستلې شوې او ستنې ئې راویستلې نو حضور ﷺ بیا آرام او سکون محسوس کړو. د بیهقی دې روایت کښې تفصیل راغلې دې چه رسول الله ﷺ د جادو دغه غنچکه د کوهی نه راوویستله او دینه پس ئې دینه ویخته هم اوویستل او دیکښې لګیدلې غوټې ئې هم پرانستلې -

③ دې وجه نه دې تعارض دفع کولو دپاره یو دریم جواب ورکیدې شی چه دې روایت کښې "أفأخرجته" نه مراد اظهار دې او ددې معنی "أفأظهرته" دې يعنى اے د الله رسوله تاسو د خلقو وړاندې ددې جادو اظهار اوکړو ؟ نو حضور ﷺ اوفرمائل : نه . ما د فتنې د يرې نه ددې اظهار اونکړو نو د اخراج نه د جادو شوی څیز راویستل مراد نه دی بلکه د خلقو وړاندې دې جادو اظهار مراد دې د دې تائید د مسند احمد د روایت سره هم کیږی چه هغې کښې دی :"أفلا أخرجته للناس"(١)

دې وجه نه د سفیان د روایت سره ددې هډو تعارض نشته دې . دا یو داسې جواب او دلفظ د "أخرجته" داسې تشریح ده چه په دې هیڅ قسم اشکال نه واقع کیږی

فائده : روایت د باب کښې د حضرت عائشه ﷺ سوال په دې الفاظو نقل شویدې "یا رسول الله أفأخرجته، قال : لا ......" د سفیان په روایت کښې دا الفاظ دا دی "فقلتُ : أفلا أى تنشرت : فقال أما والله فقد شفانی ...." او دینه وړاندې باب السحر کښې د عیسی بن یونس روایت کښې دی "قلت : یارسول الله، أفلا استخرجته، قال : قدعافانی الله ....." او د مسلم شریف روایت کښې دی "قلت : یا رسول الله أ فلا أحرقته ؟ قال : لا ...."(٢) دا ټول څلور روایتونه شو ، دیکښې په روایت د باب او د مسلم په روایت کښې د نبی کریم ﷺ جواب په "لا" سره ذکر دې - په باقی دوو روایتونو کښې د "لا" ذکر نشته دې په "قد عافانی الله ....." سره ئې جواب ذکر کړیدې ، د سفیان په روایت کښې أفلا تنشرت نشرة دې يعنى تاسو دا د خلقو وړاندې ولې رااوند ویستلو ،نشرة هغه عمل ته وائی چه هغې سره جادو ختم کړې شی ، حضرت عائشه ﷺ مقصد دا وو چه تاسو به د خلقو وړاندې د جادو ختمولو دا عمل کړې وې او د مسلم په روایت کښې د "أفلا أحرقته" معنی ده آیا تاسو هغه څیزونه اوسوزول چه هغې کښې سحر شوې وو -

حاصل دا دې چه .. بخاری درې وارو روایتونو کښې د اخراج ، استخراج او د تنشیر یو معنی ده چه تاسو دغه جادو د خلقو وړاندې ولې ظاهر نه کړو نو حضور ﷺ اوفرمائل الله ما ته شفا راکړه دې وجه نه د خلقو وړاندې ددې د اظهار ضرورت نه وو ، او بیا چه لا د

---

(١) مسند الإمام أحمد بن حنبل : ٦\٥٧)

(٢) صحيح مسلم، كتاب السلام ، باب السحر : ٤\١٧١٩ (رقم الحديث : ٢١٨٩)

اظهار كولو سره د شر او د فتنې پيدا كيدو هم يره وى -

خبرداری: په بعض نسخو كښې دلته په دې حديث د " باب السحر " عنوان نه دې قائم شوې، ځكه چه د " باب السحر " ترجمه بعينه دينه دوه بابه وړاندې تيره شوې ده او دلته هم دا مناسب معلوميږى [۱]

خو شيخ الحديث مولانا محمد زكريا رحمه الله په " الابواب و التراجم " كښې فرمائلې دى چه ځما په نزد د دواړو ترجمو غرض جُدا جُدا دې ، په ړومبئ ترجمه كښې د سحر حقيقت ثابتول او ددې د منكرينو ترديد كول دى او ددې دويمې ترجمې مقصد احكام د سحر ذكر كول دى ، مثلا دعا په ذريعه د جادو د علاج كولو جواز وغيره بيانول مقصود دى ، دا رنګه په دې دويمه ترجمه سره دې خبرې ته اشاره كول مقصود دى . چه د دعا په ذريعه د سحر ازاله كول د دواء په ذريعه د سحر د ازالې كولو نه بهتر او افضل دى ، وړاندې امام بخارى رحمه الله په كتاب الدعوات كښې د " باب تكرير الدعاء " ذكر كړيدې او ددې باب لاندې امام بخارى رحمه الله د نبى كريم ﷺ د سحر والا حديث ذكر كړيدې ، ديكښې هم دې خبرې ته اشاره ده چه مسحور لره پكار دى چه دې د تكرار د دعا كولو اهتمام اوكړى ، ځكه چه نبى كريم ﷺ په زمانه د سحر كښې به بيا بيا د دعا ګانو اهتمام كولو ، لكه چه حديث كښې دى دعا ، فقد دعا ثم دعا ..... لكه چه حضرت ليكى

"قلت : ولا يبعد عند هذا العبد الضعيف أن يقال فى دفع التكرار أن الغرض من الترجمتين مختلف ، فالغرض من الأول إثبات حقيقة السحر ردا على من أنكره ، كما تقدم ، والغرض ههنا ذكر أحكام السحر من جواز العلاج لإزالته بالدعاء و غيره ، و أشار إلى أن إزالته بالدعا أفضل من العلاج بالدواء و سيأتى فى كتاب الدعوات : باب تكرير الدعاء فذكر فيه حديث سحر ﷺ ، و أشاره بذلك إلى أنه ينبغى للمسحور أن يكرر الدعاء ، فقد كرر النبى صلى الله عليه و سلم الدعاء له فقد دعا ، ثم دعا " [۲]

د ساحر حكم : د احنافو په نزد كه د ساحر سحر په كفر مشتمل وى ، نو داسې سحر كوونكې كافر دې ، دې وجه نه دې به قتل كړې شى ، ديكښې مسلمان ذمى ، ازاد غلام ، ښځه او سړې ټول برابر دى ، دا په هغه صورت كښې دى چه كله دې په دې كفرى سحر سره فساد خوروى ، خو كه دې فساد نه خوروى نوداسې صورت كښې د امام جصاص په نزد باندې سړې خو به قتل كيږى ، ښځه به نه قتل كيږى ، چه څنګه به مرتد سړې قتل كيږى خو مرتده ښځه به نه قتل كيږى ، بلكه دا به په قيد كښې ساتلې كيږى او دارنګه ساحره به هم په قيد كښې ساتلې كيږى ، او ساحر سړې به قتل كيږى ، د امام مالك او د امام احمد رحمهما الله هم دا مسلك دې - [۳]

---

[۱]) فتح البارى : ۱۰\۲۸۹)

[۲]) الأبواب و التراجم : ۲\۱۰۲)

[۳]) رد المحتار على الدر المختار ، كتاب الجهاد ، باب المرتد ، مطلب فى الساحر و الزنديق : ۳\۳۲۳ . احكام القرآن للجصاص ، باب اختلاف الفقهاء فى حكم الساحر و قول اسلف فيه...[بقيه برصفحه آئنده...

د ساحر سحر كُه په كفر مشتمل نه وى خو دا په مسلمانانو كښې د فساد ذريعه جوړيدله نو داسې ساحر به هم قتل كيږى ځكه چه دې د قطاع الطريق په حكم كښې دې -
د ساحر سحر كُه نه په كفر مشتمل وى او نه په مسلمانانو كښې د فساد او د نقصان ذريعه وى نو بيا هم دې مستلزم د معصيت دې مثلا دائمى نجاست كښې اوسيدل ، حرام استعمالول نو داسې ساحر به نه قتل كيږى ، خو تعزيرا ده ته سزا وركړې كيدې شى
او كُه سحر په كفر او اضرار او معصيت په هيڅ څيز هم نه وى مشتمل نو دا جائز دې او داسې ساحر قابل تعزير او د سزا هم نه دې (١)
سنن ترمذى كښې روايت دې " حد الساحر ضربة بالسيف " (٢) دا رنګه حضرت فاروق اعظم ﷺ د اهواز حامل ته خط اوليكلو "اقتلوا كل ساحر" (٣)
د امام شافعى رحمه الله دا مسلك رانقل شويدې چه ساحر به نه قتل كيږى ، خو كُه ده په سحر څوك قتل كړې وى او ده د دې اعتراف اوكړو نو قصاصًا به ساحر قتل كړې شى
حديث د باب كښې رسول الله ﷺ لبيد بن اعصم قتل نه كړو ، ځكه چه رسول الله ﷺ د خپل ذات دپاره د چا نه انتقام نه اخستلو ، او دويمه وجه په حديث كښې موجود ده ، چه رسول الله ﷺ د مصلحت په بناء ده ته سزا ورنكړه ـ

...بقيه ازحاشيه گذشته] : ۱ \ ۷۲ ، و قال أبومحمد عبد الله بن أحمد بن قدامة فى تنقى مذاهب الفقهاء فى حد الساحر فقال : " وحد الساحر القتل . رُوى ذلک عن عمر و عثمان بن عفان و ابن عمر و حفصة و جندب بن عبدالله و جندب بن كعب و قيس بن سعد و عمر بن عبد العزيز و هو قول أبو حنيفة و مالک . ولم ير الشافعىُّ عليه القتل بمجرد السحر ، وهو قول ابن المنذر ورواية عند أحمد قد ذكرناها فيما تقدم . و وجه ذلک أن عائشةرضى الله عنها باعت مدبرة سحرتها و و لو وجب قتلها لما حل بيعها . لأن النبى صلى الله عليه و سلم قال : " لا يحل أم إمرء مسلم إلا باحدى ثلاث : كفر بعد إيمان أو زنا بعد إحصان أو قتل نفس بغير حق " . ولم يصدر منه أحد الثلاثة فوجب أن لا يحل دمه - ولنا (أى لأحمد و أبى حنيفة و مالک رحمهم الله) ماروى جندب بن عبدالله (رضى الله عنه) عن النبى صلى الله عليه وسلم أنه قال : " حد الساحر ضربة بالسيف " قال ابن المنذر : رواه اسعيال بن مسلم وهو ضعيف . و روى سعيد و أبوداود فى كتابيهما عن بجالة قال : كنت كاتبا لجزء بن معاوية عم الأحنف بن قيس . إذ جاءنا كتاب عمر (رضى الله عنه) قبل موته بسنة (فكان مكتوب فيه) : أقتلوا كل ساحر . فقتلنا ثلاث سواحر فى يوم . و هذا اشتهر فلم ينكر فكان إجماعا و قتلت حفصة جارية لها سحرتها . و قتل جندب بن كعب ساحرا كان يسحر بين يدى الوليد بن عقبة . و لأنه كافى فيقتل للخبر الذى رووه "
مغنى لابن قدامة كتاب المرتد . فصل فى السحر : ۹ \ ۳۵ ، ۳۶ (رقم الترجمة : ۷۱۲۶) . أحكام القرآن للعثمانى : ۱ \ ٤۸ . الجامع لأحكام القرآن للقرطبى : ۱ \ ٤۸ . أحكام القرآن لابن العربى : ۱ \ ۳۲)
[1]) إحكام القرآن للجصاص : ۱ \ ۷۲)
[2]) سنن الترمذى ، كتاب الحدود ، باب ما جاء فى حد الساحر : ٤ \ ۶۰ (رقم الحديث : ۱٤۶۰)
[3])) المغنى لابن قداة كتاب المرتد ، فصل فى السحر : ۹ \ ۳۶ (رقم الترجمة : ۷۱۲۶)

۵۰= باب إن من البيان سحرا

[۵۳۳۴] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّهُ قَدِمَ رَجُلَانِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَخَطَبَا فَعَجِبَ النَّاسُ لِبَيَانِهِمَا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنَ الْبَيَانِ لَسِحْرًا أَوْ إِنَّ بَعْضَ الْبَيَانِ لَسِحْرٌ [ر: ۴۸۵۱]

كلام كښې ډير كرتې د جادو په شان اثر وى ، رسول الله ﷺ ته دوه سړى د مشرق (د عراق د طرفه) راغلل او دواړو ډير فصيح او بليغ بيان اوكړو نو حضور ﷺ چه دوى واوريدل نو وې فرمائل بعض خبرو كښې د سحر په شان تاثير وى ، دا ارشاد په مدح او په تعريف هم محموليدې شى ، چه د بعضو خلقو كلام ډير موثر وى او دا په مذمت هم محموليدې شى چه څنګه جادو يو ناجائز امر دې او ديكښې د حقيقت خلاف خيال كښې څوك مبتلاء كيږى دارنګه بعض كلام هم د تصنع او د ظاهرى خوش رنګئ سره سړې متاثر كوى خو حقيقت سره ددې هيڅ تعلق نه وى - ([1])

۵۱= باب الدواء بالعجوة للسحر

[۵۳۳۵\۵۳۳۶] حَدَّثَنَا عَلِيٌّ حَدَّثَنَا مَرْوَانُ أَخْبَرَنَا هَاشِمٌ أَخْبَرَنَا عَامِرُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ اصْطَبَحَ كُلَّ يَوْمٍ تَمَرَاتٍ عَجْوَةً لَمْ يَضُرَّهُ سُمٌّ وَلَا سِحْرٌ ذَلِكَ الْيَوْمَ إِلَى اللَّيْلِ وَقَالَ غَيْرُهُ سَبْعَ تَمَرَاتٍ

[۵۳۳۶] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ أَخْبَرَنَا أَبُو أُسَامَةَ حَدَّثَنَا هَاشِمُ بْنُ هَاشِمٍ قَالَ سَمِعْتُ عَامِرَ بْنَ سَعْدٍ سَمِعْتُ سَعْدًا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ تَصَبَّحَ سَبْعَ تَمَرَاتٍ عَجْوَةً لَمْ يَضُرَّهُ ذَلِكَ الْيَوْمَ سُمٌّ وَلَا سِحْرٌ [ر: ۵۱۳۰]

عجوه د مدينه منوره مشهوره كهجوره ده او ويلې كيږى چه ددې اونه په خپله رسول الله ﷺ كرلې وه ، ([2]) د عجوه كهجوره خوړل د جادو علاج هم دې ، حديث د باب كښې حضور ﷺ ارشاد دې " چه څا د صبا په وخت اووه كجورې اوخوړلې نو ده ته به تر شپې پورې هيڅ يو زهر او سحر نقصان او نه رسوى "

اصطبح د صبا وخت خوراك كول ، سُم (د سين په ضمه او فتح سره) زهر ته وائى چه سحَر نې اوخوړل نو تر د شپې به ده ته په زهرو او په جادو څه نقصان نه رسيږى، خو سوال دا دې كه څا د شپې اوخوړل نو تر سَحر پورې به هم تهوله شپه د ده د محفوظ كيدو دا حكم دې او كّه نه ؟

---

[1] فتح البارى : ۱۰\۲۹۱ ، قال صعصعة بن صوحان : صدق نبى الله (صلى الله عليه وسلم) ، أما قوله : " إن من البيان لسحرا " فالرجل يكون عليه الحق و هو ألحن بالحجج من صاحب الحق فيسحر القوم ببيانه فيذهب بالحق ، أحكام القرآن للجصاص : ۱\۶۱)

[2] فتح البارى : ۱۰\۲۹۲ وعمدة القارى ۲۱\۲۸۷)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی په هيڅ يو روايت کښې ددې تصريح نشته دې ، خود ورځ په اوله حصه کښې د دې د خوړلو د خصوصيت ظاهريدو يو وجه دا هم کيدې شي چه خوړونکې دا په نهاره اوخوری ځکه چه دغه وخت خلق اکثر په نهاره وی ، دينه دا قياس کيدې شي چه کُه ماښام هم دا څوك په نهاره اوخوری نو تر صبا پورې ده دپاره هم دا حکم دې ، مثلاً چه روژه دار دې سره روژه ماته کړی - (١)

حافظ سخاوی رحمه الله فرمائی چه يو ط يق کښې عامر بن سعد تصريح کړيده چه ځما خيال دې کُه څوك داماښام اوخوری نو ترصبا پورې به زهر اوجادوده ته نقصان نه ورکوی(٢)

امام احمد د عامر بن سعد دا روايت : افلح په طرق رانقل کړيدې - (٣)

د عجوه کهجورو د خوړلو خصوصيت :پاره د طبی وجوهو تلاش کولو هيڅ ضرورت نشته دې ، دا د حضور اکرم ﷺ د دعا او د دوی دې ونې لره په خپلو لاسونو مبارکو د کرلو د برکت يو اثر دې ، لکه علامه قرطبی فرمائی : " إن الشفاء بالعجوة من باب الخواص التي لا تدرك بقياس ظني" (٤) دارنګه د اووو د شمار هم قياسی نه دی ، د دې خصوصيت او وجه به هم الله تعالى ته معلومه وی

بعضو ويلې دی چه د " اووو " نه مراد خاص دا شمار نه دې مراد ، بلکه زياتوالی ته اشاره ده (٥) خو راجح قول رومبې دې

دحديث د الفاظو د عموم د وجه نه جمهور وائی چه د عجوه کهجورو د خوړلو دا خصوصيت اوس هم دې او صرف د مدينې سره خاص نه دې بلکه کُه څوك دا د مدينې نه بهر يو سی او وې خوری نو هم دا خصوصيت به ئې پاتې وی ځکه چه د حديث الفاظو کښې د څه زمانې يا د مدينې منورې څه تخصيص نشته دې

د څه خلقو رائی دا ده چه دا خصوصيت د زمانې د نبی ﷺ سره خاص وو ، او د څه خلقو رائی دا ده چه دا خاصيت د مدينې منورې سره خاص دې چه دغلته به مذکوره اثر نه کيږی ، د بل ځائې باره کښې نه دې ، (٦)

خو چه څنګه ويلې شويدی چه د حديث په الفاظو کښې هيڅ قسم تخصيص نشته دې ، خو دا خبره دې په خيال کښې وی چه د رسول الله ﷺ دا ارشاد د عموم او د غالب احوالو باره کښې دې ، دې وجه نه کُه يو سړی تجربه کړې وی او د عجوه کجور مذکوره اثر نه وی ظاهر شوې نو ددې په وجه دې حديث خلاف واقع نه ګنړی ، په دې داسې پوهه شه چه څنګه د مختلف مرضونو دپاره مختلف دواء ګانې مقرر وی او عموما ددې په استعمال سره

---

(١) فتح الباری : ١٠\٢٩٣ ، عمدة القاری :٢١\٢٨٧)
(٢) ارشاد الساری : ١٢\٤٩٣)
(٣) مسند امام احمد بن حنبل : ١\١٦٨)
(٤) ارشاد الساری : ١٢\٤٩٣)
(٥) فتح الباری : ١٠\٢٩٤)
(٦) فتح الباری : ١٠\٢٩٤ . عمدة القاری : ٢١\٢٨٦)

مرضونه صحیح کیږی هم خو ډیر کرته یو انسان د یو بیماریٔ دپاره دواء خوری خو دې سره دې نه صحیح کیږی بلکه بیماری ئې برقرار وی ، ظاهره ده چه داسې صورت کښې څوك دا اشکال نه شی کولې چه دا دواء ددې مرض دپاره مفید نه ده ، ځکه چه د دواء د مرض دپاره مفید کیدل په اعتبار د غالب احوالو سره وی ، دارنګه د رسول الله ﷺ دا ارشاد مبارك هم د غالب احوالو او د عموم په اعتبار سره دې - (۱)

قوله: حدّثنا علی ....: د باب په ړومبی روایت کښې دامام بخاری رحمه الله شیخ علی دې ، د پلار نوم ئې نه دې ذکر شوې ، دینه علی بن عبد الله مدینی مراد دې ، علامه کرمانی فرمائی چه بعضې نسخو کښې علی بن سَلَمه لَبَقی (د لام او د باء په فتحه سره) دې - (۲)

حافظ بن حجر په " تقریب التهذیب " کښې د علی بن سلمه لبقی په باره کښې صیغه دتمریض سره داسې لیکلي دی " **یقال إن البخاری روی عنه** " (۳)

علامه ذهبی په " تهذیب التهذیب " کښې د فقیه ابو الولید په حواله سره د ابو الحسن زهری نه نقل کړیدې چه دې د امام بخاری سره وو چه چا د علی بن سلمه په باره کښې تپوس اوکړو نو امام بخاری اوفرمائل :" **ثقة وقد مضيت معه سمعنا منه** " (۴) دینه معلومه شوه چه د امام بخاری رحمه الله په نزد دې ثقه وو

فائده : باب د الکهانة او د سحر په کتاب الطب کښې د ذکر کولو وجه او مناسبت حافظ ابن حجر رحمه الله ذکر کوی او فرمائی :

إيراد باب الكهانة في كتاب الطب لمناسبة لباب السحر لما يجمع بينهما من مرجع كل منهما للشياطين ، وإيراد باب السحر في كتاب الطب لمناسبة ذكر الرقى وغيره من الأدوية المعنوية فناسبه ذكر الأدواء التي تحتاج إلى ذلك ، و اشتمل كتاب الطب على الإشارة للأدوية الحسية كالحية السوداء ، ثم على للأدوية المعنوية كالرقى بالدعا والقرآن ثم ذكرت الأدواء التي تنفع الأدوية المعنوية في دفعها كالسحر ، كما ذكرت الأدواء التي تنفع الأدوية الحسية في دفعها كالجذام "

ددې حاصل دا دې چه امام بخاری رحمه الله په کتاب الطب کښې د کهانت ذکر اوکړو و ځکه د کهانت او د جادو د دواړو اصل او مرجع یو ده چه هغه شیطانان دی او سحر ئې په

---

(۱) فتح الباری : ۱۰\۲۹۵)
(۲) شرح صحیح البخاری للکرمانی:۱۲\۴۳ وقاله أیضا العینی نقلا عن الکرمانی ،عمدة القاری :۲۱\۲۸۶)
(۳) تقریب التهذیب : ۴۰۱ (رقم الترجمة : ۴۷۳۹)
(۴) قال الحاکم : سمعت أبا الولید الفقیه یقول : سمعت أبا الحسن الزهیری یقول : حضرتُ محمد بن إسماعیل (البخاری) و سأله محمد بن حمزة عن علی بن سلمة اللبقی ، فلقال : ثقة ، قال ابن زهیر : أنا حملت أصول علی بن سلمة إلی محمد بن إسماعیل (البخاری) فانتخبت منها و أنا ذهبت معه ختی سمعنا منه ، تهذیب التهذیب : ۷\۳۲۷ (رقم الترجمة : ۵۵۰)

كتاب الطب كښې څکه ذکر کړو چه امام بخاری په کتاب الطب کښې د جسمانی او د روحانی د دواړو قسمونو مرضونو علاج بیان کړیدې ، شهد ، توره دانه وغیره علاج د جسمانی قبیلې نه دې ، او دم او دعا وغیره د روحانی علاج د قبیلې نه دې ، څکه چه امراض په دوه قسمه ئې بیان کړې دی چه څه مرضونو کښې حسی دوایانې فائده ورکوی ، او څه بیمارو کښې روحانی علاج زیات موثر وی ، د سحر وغیره په دفع کولو کښې روحانی علاج زیات موثر وی ، دې مناسبت سره ئې سحر په کتاب الطب کښې راوړو - (۱)

۵۲=بَاب لَا هَامَةَ

[۵۳۳۷] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا عَدْوَى وَلَا صَفَرَ وَلَا هَامَةَ فَقَالَ أَعْرَابِيٌّ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَمَا بَالُ الْإِبِلِ تَكُونُ فِي الرَّمْلِ كَأَنَّهَا الظِّبَاءُ فَيُخَالِطُهَا الْبَعِيرُ الْأَجْرَبُ فَيُجْرِبُهَا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَنْ أَعْدَى الْأَوَّلَ وَعَنْ أَبِي سَلَمَةَ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ بَعْدُ يَقُولُ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُورِدَنَّ مُمْرِضٌ عَلَى مُصِحٍّ وَأَنْكَرَ أَبُو هُرَيْرَةَ حَدِيثَ الْأَوَّلِ قُلْنَا أَلَمْ تُحَدِّثْ أَنَّهُ لَا عَدْوَى فَرَطَنَ بِالْحَبَشِيَّةِ قَالَ أَبُو سَلَمَةَ فَمَا رَأَيْتُهُ نَسِيَ حَدِيثًا غَيْرَهُ [ر: ۵۳۸۰]

د مکرر ترجمة الباب توجیه : اووه بابونه وړاندې هم دا ترجمه او د اختصار سره دا حدیث تیر شویدې ، لکه چه حافظ ابن حجر فرمائی چه داسې ډیر نادر او کم کیږی چه امام بخاری رحمه الله هم داسې بعینه یو ترجمة الباب او حدیث مکرر ذکر کړې وی - (۲)

خو شیخ الحدیث مولانا محمد ذکریا رحمه الله فرمائی او حافظ بن حجر هم دې طرف ته اشاره کړیده چه امام بخاری رحمه الله چه ترجمه مکرر ذکر کړه نو د " هامة " دوه تفسیرونو ته ئې اشاره اوکړه ، د "هامة" (د میم په تشدید او تخفیف سره) دوه تفسیرونه مشهور دی:

① دینه یو مارغه مراد دې چه دیته په پښتو کښې گونگې ویلې کیږی عربو کښې مشهوره وه چه گونگې په کوم کور کښې راشی او کښینی نو دیکښې مرگ واقع کیږی

قوله: قَالَ أَبُو سلمة: فَمَا رَأَيْتُهُ نَسِيَ حَدِيثًا غَيْرَهُ: یعنی ړومبې حدیث " لا عدوی ...." دوی بیان کړې وو او اوس ددې انکار کوی او ده نه ړومبې حدیث هیر شو ، نو فرمائی چه دا یو حدیث دې چه ده هیر کړیدې ، دینه علاوه بل حدیث ده نه دې هیر کړې -

د یونس په روایت کښې دی " قال أبو سلمة : لقد كان يحدثنا به ، فما أدر أنسي أبو هريرة أم نسخ أحد القولين الآخر " (۳)

---

(۱) فتح الباری : ۱۰\ ۲۷۱)

(۲) فتح الباری : ۱۰\ ۲۶۵)

(۳) فتح الباری : ۱۰\ ۲۹۷ ، عمدة القاری : ۲۱\ ۲۸۸ ، ارشاد الساری : ۱۲\ ۴۹۴)

یعنی حضرت ابوهریره رضی الله عنه " لا عدوی .... " د عدم تعدیه والا روایت بیانولو ، اوس معلومه نه ده چه ده نه دا روایت هیر شو یا د تعدیه والا روایت د عدم تعدیه والا روایت ئې منسوخ کړو (او د منسوخ کیدو د وجه نه دې دا روایت اوس نه بیانوی -)

۵۳=بَاب لَا عَدْوَى

[۵۴۳۸] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُفَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ وَهْبٍ عَنْ يُونُسَ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي سَالِمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ وَحَمْزَةُ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا عَدْوَى وَلَا طِيَرَةَ إِنَّمَا الشُّؤْمُ فِي ثَلَاثٍ فِي الْفَرَسِ وَالْمَرْأَةِ وَالدَّارِ [ر: ۱۹۹۳]

[۵۴۳۹] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنْ الزُّهْرِيِّ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا عَدْوَى قَالَ أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تُورِدُوا الْمُمْرِضَ عَلَى الْمُصِحِّ وَعَنْ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي سِنَانُ بْنُ أَبِي سِنَانٍ الدُّؤَلِيُّ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا عَدْوَى فَقَامَ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ أَرَأَيْتَ الْإِبِلَ تَكُونُ فِي الرِّمَالِ أَمْثَالَ الظِّبَاءِ فَيَأْتِيهَا الْبَعِيرُ الْأَجْرَبُ فَتَجْرَبُ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَنْ أَعْدَى الْأَوَّلَ [ر: ۵۳۸۰]

[۵۴۴۰] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ سَمِعْتُ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا عَدْوَى وَلَا طِيَرَةَ وَيُعْجِبُنِي الْفَأْلُ قَالُوا وَمَا الْفَأْلُ قَالَ كَلِمَةٌ طَيِّبَةٌ [ر: ۵۴۲۴]

د امام بخاری رحمه الله مقصد دا دې چه په یو بیمارئ کښې بالذات دا صلاحیت نشته دې چه دا بل کس ته منتقل شی . لکه چه حدیث د باب کښې دی لا عدوی و عدوی د إعداء اسم دې یعنی د مرضونو متعدی کیدل بالذات هیڅ حقیقت نه لری

د باب ړومبې روایت کښې دی چه سپیره والې په درې څیزونو کښې دی ، آس کښې ، ښځه کښې ، کور کښې ، ددې تفصیلی کلام په کتاب النکاح کښ په باب **مایتقی من شؤم المرأة** کښې تیر شو (اوګورئ کشف الباری :، کتاب النکاح : ۱۸۰ - ۱۸۱)

دویم روایت د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه دې ، چه حضور اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائلې دی لا عدوی (د مرض یو نه بل ته لګیدل هیڅ څه څیز نه دې) نو یو اعرابی پاڅیدو او تپوس ئې اوکړو ، دا راته اووائې چه اوښان په شګه (د صحرا) کښې د اوسئ په شان (صاف ستهرا او ښائسته او صحت مند) وی ، چه دیکښې دوی ته یو ړمن خارښتی اوښ راشی ، او ټول اوښان په خارښ مبتلاء شی (ګه تعدیه د مرضونو څه څیز نه وې ، نو بیا دې نورو اوښانو ته دا خارښ ولې اولګی) نو ددې جواب کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائل : بیا په دې ړومبی باندې

خاربن د کوم خائی نه راغلو او ده ته خاربن چا اولګولو ؟ (په دې جواب سره ئې دغه اعرابی سوال کوونکې پوه کړو چه اصل او حقیقی سبب خو د الله تعالی حکم او اذن دې ، دینه بغیر هیڅ بیماری بل چا ته نه شی منتقل کیدی)
په تعدی مرضونو باندې تفصیلی کلام په کتاب الطب کښې باب الجذام کښې تیر شویدې (اوګورئ کشف الباری ، کتاب الطب صفحه : ۵۸۱ - ۵۸۴)

۵۴=بَاب مَا يُذْكَرُ فِي سَمِّ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

رَوَاهُ عُرْوَةُ عَنْ عَائِشَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ر:۴۱۶۵]

[۵۴۴۱] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ قَالَ لَمَّا فُتِحَتْ خَيْبَرُ أُهْدِيَتْ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَاةٌ فِيهَا سَمٌّ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اجْمَعُوا إِلَيَّ مَنْ كَانَ هَا هُنَا مِنْ الْيَهُودِ فَجُمِعُوا لَهُ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي سَائِلُكُمْ عَنْ شَيْءٍ فَهَلْ أَنْتُمْ صَادِقِيَّ عَنْهُ فَقَالُوا نَعَمْ يَا أَبَا الْقَاسِمِ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَبُوكُمْ قَالُوا أَبُونَا فُلَانٌ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَذَبْتُمْ بَلْ أَبُوكُمْ فُلَانٌ فَقَالُوا صَدَقْتَ وَبَرِرْتَ فَقَالَ هَلْ أَنْتُمْ صَادِقِيَّ عَنْ شَيْءٍ إِنْ سَأَلْتُكُمْ عَنْهُ فَقَالُوا نَعَمْ يَا أَبَا الْقَاسِمِ وَإِنْ كَذَبْنَاكَ عَرَفْتَ كَذِبَنَا كَمَا عَرَفْتَهُ فِي أَبِينَا قَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَهْلُ النَّارِ فَقَالُوا نَكُونُ فِيهَا يَسِيرًا ثُمَّ تَخْلُفُونَنَا فِيهَا فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اخْسَئُوا فِيهَا وَاللَّهِ لَا نَخْلُفُكُمْ فِيهَا أَبَدًا ثُمَّ قَالَ لَهُمْ فَهَلْ أَنْتُمْ صَادِقِيَّ عَنْ شَيْءٍ إِنْ سَأَلْتُكُمْ عَنْهُ قَالُوا نَعَمْ فَقَالَ هَلْ جَعَلْتُمْ فِي هَذِهِ الشَّاةِ سَمًّا فَقَالُوا نَعَمْ فَقَالَ مَا حَمَلَكُمْ عَلَى ذَلِكَ فَقَالُوا أَرَدْنَا إِنْ كُنْتَ كَذَّابًا نَسْتَرِيحُ مِنْكَ وَإِنْ كُنْتَ نَبِيًّا لَمْ يَضُرَّكَ [ر:۲۹۹۸]

دې باب کښې امام بخاری رحمه الله رسول الله ﷺ ته د زهر ورکولو واقعه ذکر کړیده ، د غزوه خیبر په موقعه رسول الله ﷺ ته یو یهودی ښځې زینب بنت الحارث په بکرئ کښې زهر ګډ کړې وو ، ددې تفصیل کتاب المغازی کښې تیر شویدې - (۱)

قوله: رواه عورة عن عائشة عن النبي صلى الله عليه وسلم: د عروه دا روایت امام بخاری رحمه الله په کتاب المغازی کښې تعلیقا په دې الفاظو سره نقل کړیدې " قال یونس عن ابن شهاب ، قال عروة ، قالت عائشة : كان النبي صلى الله عليه و سلم يقول في مرضه الذي مات فيه : يا عائشة : ما أزال أجد ألم الطعام الذي أكلت بخيبر ، فهذا أوان انقطاع أبهري من ذلك السم " بزار دا تعلیق موصول نقل کړیدې - (۲)

---

(۱) کشف الباری ، کتاب المغازی ، باب الشاة التی سُمّت للنبی صلی الله علیه وسلم : ۴۶۸)
(۲) فتح الباری : ۱۰\۳۰۰ ، عمدة القاری : ۲۱\۲۹۰ ، ارشاد الساری : ۱۲\۴۹۸)

قوله: كذبتم أبوكم فلان : فلان يعنى يعقوب بن اسحاق بن ابراهيم عليهم السلام ، يهوديانو رسول الله ﷺ ته په جواب كښې غلط بيانى اوكړه نو دوى ﷺ تصحيح اوكړه ، نو دوى اوويل : بررت د ړومبئ راء فتحه او كسره دواړه صحيح دى خو د راء كسره ډيره مشهوره ده - (۱)

قوله: من أهل النار؟: رسول الله ﷺ ته ددې په جواب كښې يهوديانو اوويل چه مونږ به څو ورځې په جهنم كښې اوسو بيا به ترينه مونږ راووځو او تاسو مسلمانان به څمونږ خليفه ګان شئ (مونږ نه به روستو پاتې شئ) ، رسول الله ﷺ اوفرمائل :" والله لانخلفكم فيها أبدا " مونږ به بالكل د ستاسو نه روستو په جهنم كښې نه پاتې كيږو " چه كوم ګناهګار مسلمان جهنم ته لاړ هم شى هغه به د سزا تيرولو نه پس راووځى

طبرى او طبرانى د عكرمه نه روايت نقل كوى چه حضور اكرم ﷺ دوى ته اوفرمائل :" وبل أنتم خالدون مخلدون لا يخلفكم فيها أحد " نو الله تعالى د سورت بقره دا آيت كريمه نازل كړو (وقالوا لن تمسنا النار إلا أياما معدودة) (۲) ..

۵۵=بَابُ شُرْبِ السُّمِّ وَالدَّوَاءِ بِهِ وَبِمَا يُخَافُ مِنْهُ وَالْخَبِيثِ

[۵۴۴۲] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ الْحَارِثِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سُلَيْمَانَ قَالَ سَمِعْتُ ذَكْوَانَ يُحَدِّثُ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ تَرَدَّى مِنْ جَبَلٍ فَقَتَلَ نَفْسَهُ فَهُوَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ يَتَرَدَّى فِيهِ خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا وَمَنْ تَحَسَّى سُمًّا فَقَتَلَ نَفْسَهُ فَسُمُّهُ فِي يَدِهِ يَتَحَسَّاهُ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا وَمَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِحَدِيدَةٍ فَحَدِيدَتُهُ فِي يَدِهِ يَجَأُ بِهَا فِي بَطْنِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا [ر:۱۲۹۹]

[۵۴۴۳] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَامٍ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ بَشِيرٍ أَبُو بَكْرٍ أَخْبَرَنَا هَاشِمُ بْنُ هَاشِمٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عَامِرُ بْنُ سَعْدٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبِي يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنِ اصْطَبَحَ بِسَبْعِ تَمَرَاتٍ عَجْوَةٍ لَمْ يَضُرَّهُ ذَلِكَ الْيَوْمَ سُمٌّ وَلَا سِحْرٌ [ر:۵۱۳۰]

د امام بخارى رحمه الله دا ترجمة الباب په څلورو حصو مشتمل دى

① ړومبئ حصه شرب السم دې يعنى زهر څكل ، ددې حكم واضح دې او باب كښې چه كوم حديث ذكر كړيدې دينه ددې حرمت صفا ښكاره كيږى

زهر څكل چه خودكشى ده او دې سره انسان عموما مرى او دده مرګ واقع كيږى دې وجه نه دا حرام دى او ناجائز دى ، د ترجمة الباب دا حصه د حديث د باب نه ثابتيږى -

---

(۱) فتح البارى : ۱۰\۳۰۱ ، عمدة القارى : ۲۱\۲۹۰ ، ارشاد السارى : ۱۲\۴۹۹)

(۲) فتح البارى : ۱۰\۳۰۲ ، عمدة القارى : ۲۱\۲۹۰ ، ارشاد السارى : ۱۲\۴۹۹)

خو د زهر لږ غوندې مقدار چه هغې کښې څه جسماني فائده وي او د دفع د ضرر دپاره دیکښې د دواء نور اجزاء هم شامل کړې شي نو ددې استعمال جائز دې - (۱)

② د ترجمة الباب دویمه حصه " الدواء به " یعنې د زهر په ذریعه علاج کول ، د زهر څه قسمونه په مختلف دوایانو کښې استعمالیږي ، د دې د استعمال جواز ته امام بخاري رحمه الله اشاره کړیده ، او هغه داسې چه امام بخاري رحمه الله په باب کښې د عجوه والا حدیث ذکر کړیدې چه دا په زهر کښې فائده ورکوي ، نو چه څنګه تداوي بالمباحات جائز دې دارنګه تداوي بالسم هم جائز دی په شرط د دې چه دا مضر نه وي ، لکه شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا رحمه الله لیکي :

" أما الجزء الثاني وهو التداوي بالسم فيستفاد من الحديث أنه الجزء ، لأن مدار النهي على القتل و الإهلاك و الضرر ، فإذا لم يضر ولم يقتل ، بل يشرب دواء فلا بأس به كما يتداوى بالمباحات مثل العجوة و غيرها ، ولذا ذكر الإمام البخاري حديث العجوة ثاني حديثي الباب إشارة إلى أن التداوي كما هو جائز بالمباحات فكذا بالسم ، إذا كان يشرب بحد لا يضر ، فالتداوي به حينئذ كالتداوي بالمباحات " (۲)

حافظ ابن حجر او نورو شارحینو د " الدواء به " یو بله معنی هم ذکر کړیده او هغه دا چه دیکښې " به " د " منه " په معنی دې أي الدواء منه " یعنې د زهر څکلو نه پس علاج کول او ددې د ضرر ختمولو بیان ، کُه دا مطلب واخستې شي نو باب کښې د ذکر شوې عجوه والا حدیث مناسبت د دې جزء سره پوره واضح دې ، ځکه چه دیکښې علاج د سم بیان شویدې (۳)

③ د ترجمة الباب دریم جزء " و ما یخاف منه " ددې عطف " الدواء به " کښې " به " باندې دې :- أي الدواء بما يخاف منه یعنې خوفناك او د خطرناك څیز علاج کولو ذکر (۴)

بعضې شراحو لیکلې دی چه په " ما یخاف منه " کښې د " منه " ضمیر مجرور "موت " یا استمرار مرض ته راجع دې (۵) خو صحیح خبره دا ده چه چه دا ضمیر " مایخاف " کښې " ما " ته راجع دې - (۶)

په خطرناك څیز علاج هم هغه حکم دې چه کوم حکم د تداوي بالسم دې چه کُه دا مضر نه وي ، فائده مند وي نو دا په طور د دواء استعمالولې شي (۷)

④ ترجمة الباب څلورم جزء دې " والخبيث " دا مجرور هم ویلې شی أي الدواء بالخبيث او د

---

[۱]) فتح الباري : ۱۰\۳۰۳ ، ۳۰۴)

[۲])فتح الباري : ۱۰\۳۰۳)

[۳]) فتح الباري : ۱۰\۳۰۳ ، الابواب و التراجم لشیخ زکریا : ۲\۱۰۳

[۴]) فتح الباري : ۱۰\۳۰۳ ، الابواب و التراجم لشیخ زکریا : ۲\۱۰۳)

[۵]) فتح الباري : ۱۰\۳۰۳ ، الابواب و التراجم لشیخ زکریا : ۲\۱۰۳)

[۶]) الابواب و التراجم للشیخ زکریا : ۲\۱۰۳)

[۷]) فتح الباري : ۱۰\۳۰۴ ، الابواب و التراجم : ۲\۱۰۳)

مبتداء کیدو د وجه نه مرفوع هم ویلې شی ، دې صورت کښې ددې خبر محذوف وی أی الخبیث ما حکمه، وهل یجوز التداوی به [1] د خبیث نه مراد نجس او حرام څیز دې لکه خنزیر ، د حرام څناور غوښه ، امام ابوداود ، امام ترمذی رحمهما الله د حضرت ابوهریره ﷺ نه روایت نقل کړیدې " نهی النبی ﷺ عن الدواء الخبیث " [2]

ترجمة الباب کښې ئې " والخبیث " اوویل امام دې روایت ته اشاره اوکړه ، دا روایت چه د امام په شرط برابر نه وو نو دې وجه نه ئې په ترجمه کښې دا لفظ راوړو او دیته ئې اشاره اوکړه لکه چه دا د امام عادت دې - [3]

او باب کښې ذکر شوې " حدیث السم " نه هم دا حکم مستفاد کیدې شی څکه چه سم باندې هم د خبیث اطلاق کیدې شی - [4]

شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا رحمه الله یو دریمه توجیه ذکر کوی او لیکی :

و یحتمل أن یقال : إن هذا الجزء ثابت بالحدیث الآتی فی الترجمة الآتیة ، فإن لبن الأتن خبیث لا محالة ، فالترجمة الآتیة جزء من هذه الترجمة فهو من الأصل الستین وهو أصل مطرد من أصول التراجم " [5]

حضرت شیخ الحدیث رحمه الله فرمائی چه د ترجمة الباب څلورمه حصه " الخبیث " لره د راتلونکې باب کښې د ذکر شوې حدیث نه هم ثابتیدې شی ، وړاندې ترجمة الباب دې "باب ألبان الأتن" ددې لاندې چه کوم حدیث امام بخاری ذکر کړیدې ، دیکښې ئې د خرې د پیو ذکر کړیدې او دا یقینا خبیث او حرام دې ، وړاندې ترجمة الباب ددې ترجمة الباب یو جزء دې او ددې لاندې ذکر شوې حدیث نه دواړه ترجمة الباب ثابتیږی

حضرت شیخ الحدیث فرمائی چه د تراجم د بخاری چه کوم اصول ده په مقدمه کښې ذکر کړیدی ، د ترجمة الباب د ثبوت دا طریقه شپیتم اصل دی

قوله: حدثنا عبدالله بن عبدالوهاب......:د باب ړومبې روایت د حضرت ابوهریره ﷺ دې ، رسول الله ﷺ فرمائی چه کوم سړې خپل څان د غر نه اوغورزوی او خپل څان قتل کړی نو دې به د جهنم په اور کښې وی ، او دیکښې به همیشه غورزولې کیږی او چه چا زهر اوڅکل او خان ئې قتل کړو نو د ده زهر به دده په لاس کښې وی او د جهنم په اور کښې به دې دا څکی ، همیشه به هم دې حالت کښې وی او چه کوم سړی خپل څان په

---

[1]) الابواب و التراجم للشیخ زکریا : ۲\۱۰۳)

[2]) الجامع الصحیح للترمذی ، کتاب الطب ، باب ما جاء فیمن قتل نفسه بسم أو غیره : ٤ \ ۳۸۷ (رقم الحدیث : ۲۰٤۵) ، سنن ابی داود ، کتاب الطب باب فی الادویة المکروهة : ٤ \ ۶ (رقم الحدیث : ۳۸۷۰)

[3]) فتح الباری : ۱۰\ ۳۰٤)

[4]) الابواب والتراجم للشیخ زکریا : ۲\۱۰۳ ، فتح الباری : ۱۰\ ۳۰٤)

[5]) الابواب و التراجم : ۲\۱۰۳)

اوسپنه قتل كړو نو د ده اوسپنه به دده لاس كښې وى جهنم كښې به دننه دې دا په خپله ګيډه كښې وهى راوهى او هميشه به هم د ده دا حالت وى

قوله: تردي من جبل : اى أسقط نفسه من جبل : خپل ځان ئې د غر نه اوغورزولو يعنى خودكشى يې اوكړه ، تحسى : ګوټ ګوټ څكل ، **يجأبه فى بطنه ، وجأيجأوَجْئا** ، باب د فتح نه دې ، **وجأه بالسكين**: څوك په چاړه وهل

احمد بن بشير : دباب دويم روايت كښې د امام بخارى رحمه الله شيخ الشيخ احمد بن بشير دې ، د ده كنيت ابوبكر دې او دې كوفى دې ، د دوى متعلق آئمه د جرح او د تعديل رائې مختلف ده ـ

امام نسائى فرمايلې دى : **ليس بذاك القوى** (١)

دارقطنى فرمائى ضعيف، **يعتبر حديثه** (٢)

يو بل ځائې فرمائى **لا بأس به** (٣)

امام ابوزرعه فرمائى : **صدوق** (٤)

ابو حاتم فرمائى : **محله الصدق** (٥)

ابو بكر بن ابى داود فرمائى : **كان ثقة** (٦)

او يحيى بن معين فرمائى: **ليس بحديثه بأس** (٧)

عثمان دارمى د يحي بن معين نه نقل كړى دى چه دوى احمد بن بشير ته متروك ويلي دى ، خو خطيب بغدادى رحمه الله د دوى ترديد كړيدې او فرمائى چه عثمان ته خلط شويدې ، متروك بل احمد بن بشير دې ، د ده كنيت ابوجعفر دې ، او د صحيح بخارى د احمد بن بشير كنيت ابوبكر دې - (٨)

حافظ بن حجر فرمائى چه امام بخارى د دوى د نوم سره كنيت كيدې شي چه هم د دې نكتې د وجه ذكر كړې وى چه دې د خپل معاصر ضعيف احمد بن بشير نه جدا شى - (٩)

---

(١) تهذيب الكمال : ١\١ ٢٧٥ (رقم الترجمه : ١٤) و ميزان الاعتدال : ١\١ ٨٥ (رقم الترجمه : ٣٠٨)
(٢) تهذيب الكمال : ١\١ ٢٧٥)
(٣) تهذيب الكمال : ١\١ ٢٥٧)
(٤) تهذيب الكمال : ١\١ ٢٧٥)
(٥) تهذيب الكمال : ١\١ ٢٧٥)
(٦) تهذيب الكمال : ١\١ ٢٧٥)
(٧) تهذيب الكمال : ١\١ ٢٧٥)
(٨) تهذيب الكمال : ١\١ ٢٧٦)
(٩) فتح البارى : ١٠\ ٣٠٥)

د احمد بن بشير روايتونه امام بخاری ، امام ترمذی او امام ابن ماجه رحمهم الله نقل کړيدی -[1]

د ده وفات په محرم ۱۹۷ هجری کښې شويدې - [2]

په صحيح بخاری کښې د دوی صرف هم دا يو حديث دې - [3]

۵۶ = بَاب أَلْبَانِ الأُتُنِ

[۵۴۴۴] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ أَبِي إِدْرِيسَ الْخَوْلَانِيِّ عَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَكْلِ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السَّبُعِ قَالَ الزُّهْرِيُّ وَلَمْ أَسْمَعْهُ حَتَّى أَتَيْتُ الشَّأْمَ وَزَادَ اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي يُونُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ وَسَأَلْتُهُ هَلْ نَتَوَضَّأُ أَوْ نَشْرَبُ أَلْبَانَ الأُتُنِ أَوْ مَرَارَةَ السَّبُعِ أَوْ أَبْوَالَ الإِبِلِ قَالَ قَدْ كَانَ الْمُسْلِمُونَ يَتَدَاوَوْنَ بِهَا فَلَا يَرَوْنَ بِذَلِكَ بَأْسًا فَأَمَّا أَلْبَانُ الأُتُنِ فَقَدْ بَلَغَنَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ لُحُومِهَا وَلَمْ يَبْلُغْنَا عَنْ أَلْبَانِهَا أَمْرٌ وَلَا نَهْيٌ وَأَمَّا مَرَارَةُ السَّبُعِ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ أَخْبَرَنِي أَبُو إِدْرِيسَ الْخَوْلَانِيُّ أَنَّ أَبَا ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيَّ أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ أَكْلِ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السَّبُعِ [ر: ۵۲۰۶]

د خرې د پيو حکم : أتن (د همزې او د تاء په ضمه سره) د أتان جمع ده ، خرې ته وئی - د خرې پئې د جمهور عالمانو په نزد حرام دی [4]

د امام مالك رحمه الله يو قول ددې د حلت هم شته ، [5] احنافو کښې صاحب د بحرالرائق او علامه شامی ديته مکروه تحريمی ويلې دی ، ځکه چه ددې غوښه خوړل جائز او حلال نه دی ، دې وجه نه د دې پئې هم جائز نه دی [6]

دا خو د خرې د پيو د عام استعمال حکم دې ، خو دلته عام حکم نه دې مراد بلکه د خرې پئې په طور د دواء د استعمالولو حکم بيانول مقصد دی ، چه هم دې مقصد دپاره امام دا په کتاب الطب کښې ذکر کړيدې [7]

---

[1] تهذيب الكمال : ۱۱\۲۷۶)

[2] ميزان الاعتدال : ۱\۸۶ ، تهذيب الكمال : ۱۱\۲۷۶)

[3] فتح البارى : ۱۰\۳۰۵ ، عمدة القارى : ۲۱\۲۹۲)

[4] الدر المختار مع رد المحتار ، كتاب الحظر و الإباحة : ۵\۲۳۹ ، البحر الرائق ، كتاب الذبائح و فصل فيما يحل و ما لا يحل : ۸\۱۷۲ ، المغنى لابن قدامة ، كتاب الصيد و الذبائح ، مسائل و فصول فيما يحرم أكله و ما يحل و يكره : ۹\۳۵۲ (رقم الترجمة : ۷۷۸۴) فتح البارى : ۱۰\۳۰۶)

[5] الدر المختار مع رد المحتار ، كتاب الحظر و الإباحة : ۵\۲۳۹ ، فتح البارى : ۱۰\۳۰۶)

[6] الدر المختار مع رد المحتار ، كتاب الحظر و الإباحة : ۵\۲۳۹ البحر الرائق ، كتاب الذبائح و فصل فيما يحل و ما لا يحل : ۸\۱۷۲)

[7] فتح البارى : ۱۰\۳۰۶)

امام بخاری رحمه الله په باب کښې چه کوم روایت ذکر کړیدې ، دینه معلومیږی چه د ده په نزد د دواء په طور هم ددې استعمال جائز نه دې -
په احنافو کښې د صاحبینو په نزد تداوی بالابوال جائزده ، [1] دې وجه نه د دوی په نزد د ضرورت په وخت په طور د علاج د خرې پئې استعمالیدې شی -
د تداوی بالمحرمات مسئله دینه وړاندې په تفصیل سره تیره شویده - [2]

قوله: حدثني عبد الله بن محمد ....: حضرت ابوثعلبه خشنی ﷺ فرمائی چه رسول الله ﷺ د هر داړو والا ډرنده د خوراك نه منع کړیده ، امام زهری فرمائی چه دا حدیث ما نه وو اوریدلې تر دې چه څه شام ته راغلم -
د لیث روایت کښې څه اضافه ده ، ابن شهاب زهری فرمائی چه ما د خپل شیخ ابو ادریس (عائذ الله) خولانی نه تپوس اوکړو چه مونږ د خرې پئې څکلې شو یا دې سره اودس کولې شو ؟ دارنګه د درنده ګانو تریخې یا د اوښانو متیازې استعمالولې شو ؟ نو دوی جواب ورکړو چه وړاندې به مسلمانانو دې سره علاج کولو او دیکښې به ئې څه باك نه ګڼړلو تر کومې چه د خرې د پیو تعلق دې نو رسول الله ﷺ نه دا حدیث خو مونږ ته را رسیدلې دې چه دوی د دې د غوښې د خوړلو نه منع کړیده خو ددې د پیو باره کښې څه حکم یا په ممانعت باندې مشتمل څه حدیث مونږ ته نه دې رارسیدلې -
دا روایت په کتاب الذبائح کښې تیر شویدې چه لیث دې روایت کښې کومه اضافه نقل کړیده ، دا ذهلی په " زهریاتو " کښې موصولاً رانقل کړیده- [3]

قوله: مرارة السبع: مرارة تریخوالې ته هم وائی او تریخی ته هم وائی ، تریخی د اینې سره پیوسته د صفرا پوکنړئ ته وایی چه کوم په نشاسته څیزونو هضم کولو کښې مدد ورکوی ، د دې جمع مرائر راځی [4] دلته دغه دویمه معنی مراد ده

٥٧=بَاب إِذَا وَقَعَ الذُّبَابُ فِي الْإِنَاءِ

[٥٣٣٥] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ عُتْبَةَ بْنِ مُسْلِمٍ مَوْلَى بَنِي تَيْمٍ عَنْ عُبَيْدِ بْنِ حُنَيْنٍ مَوْلَى بَنِي زُرَيْقٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا وَقَعَ الذُّبَابُ فِي إِنَاءِ أَحَدِكُمْ فَلْيَغْمِسْهُ كُلَّهُ ثُمَّ لِيَطْرَحْهُ فَإِنَّ فِي أَحَدِ جَنَاحَيْهِ شِفَاءً وَفِي الْآخَرِ دَاءً [ر:٣١٤٢]

ذباب مچئ ته وائی مسند ابی یعلی کښې د حضرت انس مرفوع حدیث دې رسول الله ﷺ فرمائلې دی چه د مچئ عمر څلویښت ورځې وی او د دې ټول قسمونه به جهنم ته ځی

[1]) رد المحتار علی الدر المختار ، کتاب الطهارة ، مطلب فی التداوی بالمحرم : ٢١٠١١ ، ٦\٣٨٩)
[2]) کشف الباری ، کتاب الطب ، باب الدواء بابوال الابل : ٥٥٢)
[3]) فتح الباری : ١٠\٣٠٥ ، عمدة القاری : ٢١\٢٩٣ ، ارشاد الساری : ١٢\٥٠٢)
[4]) فتح الباری : ١٠\٣٠٥ ، عمدة القاری : ٢١\٢٩٣ ، ارشاد الساری : ١٢\٥٠٢)

ماسوا د شهدو د مچئ نه - (۱)
علامه قسطلانی رحمه الله فرمائی : چه جهنم ته د مچو تلل به په طور د عذاب د دوی نه وی بلکه د دوی تلل به د جهنمیانو د عذاب دپاره وی - (۲)
مچي ته " اجهل الخلق " اوویلې شو ځکه چه دا خپل ځان په هلاکت کښې اچوی ، ددې بانړه (د سترګو) نه وی ، د دواړو لاسونو نه دا د بانړو کار اخلی ، هم دا وجه ده چه ته مچئ اوګوره نو دا به اکثر په لاسونو سره سترګې صفا کوی - (۳)
ددې پیدا کولو کښې یو حکمت دا هم دې چه دیکښې د جابرانو او د متکبرینو د ذلت سامان دې ، د لوې نه لوې متکبر به تنګ کړی او ده لره به خپل اصلیت او د انساني ضعف او کمزورئ او بې وسئ ته متوجه کړی - (۴)
دباب لاندې امام بخاری رحمه الله دا مشهور حدیث ذکر کړیدې چه کُه مچئ د څه څکلو په څیز کښې پریوځی نو دا پوره ډبول پکار دی ځکه چه ددې په یو وزر کښې بیماري ده او دا هم دا وزر ډوبوی ، او په بل کښې شفاء ده ، چه دا بچ ساتی ، دې وجه نه پوره مچئ ډوبول پکار دی ، دې دپاره چه ددې بیماری هم ددې د شفا والا په اړخ دفع کړې شی ـ

....

كتاب اللباس

(الاحاديث : ۵۴۴۶ - ۵۶۲۴)

کتاب اللباس کښې درې دپاسه سل بابونه دي ، دوه سوه دوویشت مرفوع احادیث دی ، چه دیکښې څلویښت احادیث معلق او باقی موصول دی ، دیکښې دوهٔ څلویښت دپاسه سل احادیث مکرر دی ، او څلویښت احادیثونه په کښې په رومبی ځل راغلې دی ، دیکښې د نهو احادیثو نه علاوه باقی نور ټول احادیث امام مسلم هم ذکر کړیدې - په کتاب اللباس کښې امام بخاری د اصحابو او د تابعینو . حضراتو ﷺ نورلس آثار ذکر کړیدې -

....

(۱) فتح الباری : ۱۰\۳۰۷ ، عمدة القاری : ۲۱\۲۹۳ ، ارشاد الساری : ۱۲\۵۰۳)
(۲) فتح الباری : ۱۰\۳۰۷ ، عمدة القاری : ۲۱\۲۹۳ ، ارشاد الساری : ۱۲\۵۰۳)
(۳) فتح الباری : ۱۰\۳۰۷ ، عمدة القاری : ۲۱\۲۹۳ ، ارشاد الساری : ۱۲\۵۰۳)
(۴) فتح الباری : ۱۰\۳۰۷ ، عمدة القاری : ۲۱\۲۹۳ ، ارشاد الساری : ۱۲\۵۰۳)

بسم الله الرحمن الرحيم

كتاب اللباس

باب قول الله تعالى قل من حرم زينة الله التي أخرج لعباده

[الأعراف:٣٢]

وقال النبي صلى الله عليه وسلم كلوا واشربوا والبسوا وتصدقوا في غير إسراف ولا مخيلة وقال ابن عباس كل ما شئت والبس ما شئت ما أخطأتك اثنتان سرف أو مخيلة

[٥٤٤٦] حدثنا إسماعيل قال حدثني مالك عن نافع وعبد الله بن دينار وزيد بن أسلم يخبرونه عن ابن عمر رضي الله عنهما أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال لا ينظر الله إلى من جر ثوبه خيلاء [ر:٣٤٦٥]

د كتاب اللباس مناسبت د كتاب الطب سره ظاهر دې ، د طب تعلق هم د انسانى جسم سره دې او د لباس تعلق هم د انسانى جسم سره دې

چه كوم ځيز اغوستې كيږى ديته لباس ويلې كيږى - (١)

امام بخارى رحمه الله ترجمة الباب كښې د قرآن كريم د سورت اعراف آيت د خپل معمول مطابق ذكر كړو (قل من حرم زينة الله التى أخرج لعباده و الطيبات من الرزق) دې آيت كښې د زينة الله نه يا خو مراد هر هغه مباح ځيز دې چه كوم د زينت دپاره استعماليږى ، برابره خبره ده كۀ لباس وى او كۀ بل څه ځيز او يا دينه مراد لباس دې ، مشركينو د عربو به د بيت الله شريف په بربنډه طواف كولو ، دا آيت د هغې متعلق نازل شو چه د طواف په وخت لباس اغوستل چا حرام كړيدې ، چه دا خلق بغير د لباسه طواف كوى - (٢)

او د (الطيبات من الرزق) نه مزيدار يا حلال رزق مراد دې - (٣)

قوله: وقال النبى صلى اله عليه وسلم: كلوا و اشربوا و البسوا و تصدقوا فى غير إسراف ولا مخيلة: رسول الله ﷺ فرمائى چه خورئ ، څكئ ، اغوندئ او صدقه كوئ خو د اسراف او د تكبرنه ځان ساتئ !

اسراف د حد نه تجاوز او بغير د ضرورت نه خرچ كولو ته وائى او مخيله تكبر ته وائى (٤) خوراك څښاك . اغوستلو او صدقه كولو كښې اسراف ممنوع دې ، صدقه كښې د اسراف معنى دا ده چه غير مستحق ته صدقه وركړې شى ، يا دومره صدقه اوكړې شى چه د خپل

---

(١) عمدة القارى : ٢١\٢٩٤)

(٢) عمدة القارى : ٢١\٢٩٤ . فتح البارى : ١٠\٣١٠)

(٣) عمدة القارى : ٢١\٢٩٤)

(٤) فتح البارى : ١٠\٣١١ ، عمدة القارى : ٢١\٢٩٤)

اهل وعيال واجب نفقه دپاره څه بچ پاتې نه شی ، دارنګه صدقه كول إسراف فى الصدقة په حكم كښې راځى ، دينه د زيات صدقو كولو ممانعت نه دې مقصود ، زيات صدقات خو خالص خير دې ، مشهوره خبره ده " لا خير فى السرف ولا سرف فى الخير " (۱) يعنى اسراف كولو كښې څه خير نشته دې او په خير كښې اسراف نشته دې ، يعنى خير كښې چه څومره هم زياتوالې وى نو دا مذموم اسراف نه دې بلكه ممدوح خير دې ، خو دا هغه وخت دې چه كله په زياتوالى او د مبالغې په وجه دينى او دنيوى واجباتو فرائضو كښې څه فرق او كمې نه راځى ، لكه يو سړې مقروض دې قرض غوښتونكو ته خو خپل واجب حق نه وركوى او فقيرانو ته صدقه وركوى ، ديته اسراف فى الصدقة به وائى ـ
امام بخارى رحمه الله د رسول الله ﷺ دا حديث دلته تعليقا ذكر كړيدې ، ابن ابى شيبه دا موصولاً نقل كړيدې - (۲)

قوله: وقال ابن عباس : كل ما شئت، والبس واشرب ما شئت، ما أخطأتك اثنتان : سرف أو مخيلة: دې تعليق كښې هم د دغه دوه څيزونو نه ممانعت دې چه خورئ ، څكئ ، دوه څيزونه تاسو ديكښې په غلطئ كښې مبتلاء نه كړى يو اسراف او دويم تكبر ، مااخطاتك كښې " ما " نافيه هم كيدې شى ، رومبئ د ما نافيه ترجمه شويده او د " ما دام " په معنى هم كيدې شى د " ما دام " صورت كښې ترجمه به وى " چه ترڅو تاسو دوه څيزونه تاسو په غلطئ كښې وانچوى - (۳)
حديث د باب كښې هم د تكبر په وجه چه جامې ځان پسې راكاږى د ده په باره كښې وعيد ذكر شوې دې ـ
دحضرت ابن عباس دا تعليق ابن ابى شيبه موصول نقل كړيدې (۴)
فائده : امام بخارى رحمه الله چه كوم آيت كريمه ذكر كړيدې ، ديكښې د لباس تصريح نشته دې ، د دې په مقابله كښې يو بل آيت كريمه دې ﴿يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ قَدۡ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكُمۡ لِبَاسٗا يُوَٰرِي سَوۡءَٰتِكُمۡ وَرِيشٗاۖ﴾(۵) ديكښې دلباس صراحتا ذكر شته دې،خو امام بخارى دغه آيت ذكرنه كړو شيخ الحديث حضرت مولانا محمد زكريا رحمه الله خو د دې وجه خو يو دا ليكلې ده چه امام بخارى رحمه الله اخفى ته په اجلى ترجيح وركوى ، او دې آيت كښې د زينت ذكر د لباس په مقابله كښې اخفى دې ، او دويمه وجه دا ده چه كتاب اللباس كښې امام بخارى

---

(۱) تفسير الكشاف للزمخشرى : ۲\۶۶۱)
(۲) عمدة القارى : ۲۱ \ ۲۹۴ . وروى ابن ماجة من رواية عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم . كلوا و اشربوا و تصدقوا و البسوا . مالم يخالطه إسراف أو مخيلة " كتاب اللباس باب البس ما شئت .... ۲\۱۱۹۲ (رقم الحديث : ۳۶۰۵)
(۳) فتح البارى : ۱۰\۳۱۱ . عمدة القارى : ۲۱ \ ۲۹۴)
(۴) فتح البارى : ۱۰\۳۱۱ . عمدة القارى : ۲۱ \ ۲۹۴)
(۵) الاعراف : ۲۶)

رحمه الله د لباس نه علاوه د زينت وغيره احكام هم ذكر كړيدى ، زينت عام دې ، دې وجه نه دا آيت كريمه ئې ذكر كړو چه ديكښې د زينت ذكر دې - (١)

۱=بَاب مَنْ جَرَّ إِزَارَهُ مِنْ غَيْرِ خُيَلَاءَ

[٥٤٤٧] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ أَبِيهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ جَرَّ ثَوْبَهُ خُيَلَاءَ لَمْ يَنْظُرْ اللَّهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ أَبُو بَكْرٍ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ أَحَدَ شِقَّيْ إِزَارِي يَسْتَرْخِي إِلَّا أَنْ أَتَعَاهَدَ ذَلِكَ مِنْهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَسْتَ مِمَّنْ يَصْنَعُهُ خُيَلَاءَ [ر: ٣٤٦٥]

[٥٤٤٨] حَدَّثَنِي مُحَمَّدٌ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى عَنْ يُونُسَ عَنْ الْحَسَنِ عَنْ أَبِي بَكْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ خَسَفَتْ الشَّمْسُ وَنَحْنُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَامَ يَجُرُّ ثَوْبَهُ مُسْتَعْجِلًا حَتَّى أَتَى الْمَسْجِدَ وَثَابَ النَّاسُ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ فَجُلِّيَ عَنْهَا ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَيْنَا وَقَالَ إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ فَإِذَا رَأَيْتُمْ مِنْهَا شَيْئًا فَصَلُّوا وَادْعُوا اللَّهَ حَتَّى يَكْشِفَهَا [ر: ٩٩٣]

امام بخارى رحمه الله مقصد دا دې - چه بغير د تكبره كه د چا لنګ راښكلې كيږى نو دې صورت كښې هيڅ څه حرج نشته دې ، لكه چه روايت د باب كښې حضور اكرم ﷺ چه كله اوفرمائل "من جر ثوبه خيلاء لم ينظر الله إليه يوم القيامة" نو حضرت صديق اكبر اوويل " اے د الله رسوله خما لنګ خو يو طرف ته خويږى ، مګر هله چه څه دده خيال او نګرانى كوم ، نو بيا دا بره وى ګنى د غفلت په حالت كښې خو خوئيږى ، نو رسول الله ﷺ اوفرمائل : ته په هغه خلقو كښې نه ئې چه كوم دا عمل د تكبر د وجه نه كوى -

د دې حديث نه معلومه شوه چه د تكبر په وجه لنګ خكته كول باعث د وعيد او د ګناه دې ، ګنى نه دې - (٢)

لنګ لاندې ساتل او پائنسې د ګيټو نه د لاندې ساتلو حكم: دې مسئله كښې تفصيل دې :

① كه يو سړې د تكبر په وجه لنګ لاندې ساتى يا پائنسو لره د ګيټو نه خكته كوى نو دا بالاتفاق مكروه تحريمى دى - (٣)

② كه يو سړې د تكبر په وجه لنګ زوړند او لاندې نه ساتى بلكه د غفلت او د عدم اهتمام د وجه نه داسې كيږى نو دا مكروه تنزيهى دې ، علامه عينى، ملا على قارى او امام نووى رحمهم الله هم دا اختيار كړيدې (٤) فتاوى عالمګيرى كښې دى "إسبال الرجل إزاره أسفل من الكعبين إن لم يكن للخيلاء، ففيه كراهة تنزيه" - (٥)

---

(١) الابواب و التراجم : ٢\١٠٤)

(٢) فتح البارى : ١٠\٣١٣ ، عمدة القارى : ٢١\٢٩٥)

(٣) عمدة القارى : ٢١\٢٩٥ ، و شرح مسلم للنووى ، كتاب اللباس ، باب تحريم جر الثوب : ٢\١٩٤)

(٤) عمدة القارى : ٢١\٢٩٥ ، مرقاة المفاتيح ، كتاب اللباس ، الفصل الاول ، ٨\٢٣٨)

(٥) الفتاوى هندية كتاب الكراهية ، الباب التاسع فى اللبس ما يكره من ذلک و ما لا يكره : ٥\٣٣٣)

① بغير د ارادې او د اختياره کُه څه وخت لنګ لاندې خکته شى نو دا بالاتفاق جائز او په دې کښې رخصت دې - (۱)

لکه چه حديث د باب کښې دى -

په کومو احاديثو کښې چه مطلق ممانعت راغلې دې ، لکه چه وړاندې په بخارى کښې احاديث راغى ، نو دا " احاديث مقيدة بالخيلاء " باندې به حمل کيږى ، يعنى اګر چه دې احاديثو کښې د تکبر په وجه د خکته کولو قيد نشته دې ، مطلق ممانعت دې ، خو دا قيد به د نورو احاديثو د وجه په لحاظ کښې ساتلې کيږى ، نو دارنګه به د جواز او د ممانعت په روايتو کښې تطبيق اوشى ، چه کومو روايتونو کښې چه د ممانعت او د تحريم حکم راغلې دې نو هلته د تکبر په وجه باندې د خکته کولو صورت مراد دې ، او چه کومو روايتونو کښې اجازت ورکړې شويدى ، هلته د عدم تکبر والا صورتونه مراد دى دې دپاره چه دواړو صورتونو کښې تطبيق اوکړې شى ، امام نووى رحمه الله ليکى :

ظواهر الأحاديث فى تقييدها بالجر خيلاء تدل على أن التحريم مخصوص بالخيلاء ، وهكذا نص الشافعى رحمه الله على الفرق ، فإن كان للخيلاء ، فهو ممنوع منع تحريم ، وإلا فمنع تنزيه ، و الأحاديث المطلقة يجب حملها على المقيدة بالخيلاء " (۲)

يعنى چه کومو احاديثو کښې د " خيلاء " يعنى د تکبر قيد شته دې ، نو دا په ظاهره په دې دلالت کوى چه د حرمت حکم د تکبر سره خاص دې ، امام شافعى رحمه الله د تکبر په وجه خکته کولو او د غير تکبر په وجه خکته کولو دواړو صورتونو کښې فرق بيان کړيدې ، د تکبر صورت کښې زوړندول خو حرام دې ، او بل صورت کښې مکروه تنزيهى دې ، چه کومو احاديثو کښې د " خيلاء قيد نشته دې او د حرمت حکم شته هلته د قيد والا احاديثو باندې به دا حمل کيږى -

د اسبال او د جر د ازار (لنګ لاندې ساتلو) د ممانعت اصل سبب خو هم تکبر دې ، خو چه تکبر يو پټ امر دې ، دې وجه نه جر د ازار او اسبال ددې قائم مقام اوګرځولې شو ، لکه چه څنګه سفر د مشقت او نوم د حدث قائم مقام اوګرځولې شو - (۳) دې وجه نه جر ازار ممنوع

(۱) عمدة القارى : ۲۱\۲۹۵)

(۲) شرح مسلم للنووى ،كتاب اللباس ، باب تحريم جر الثوب خيلاء : ۲\۱۹۵)

(۳) قال الشيخ محمد بد علم الميرتهى رحمه الله : قتل و يخط ببالى أن الشرع جعل نفس الجر مخيلة ، فإن الذين يجرون ثيابهم لا يجرون إلا تكبرا و فخرا ، و كذلک جربنا فى زماننا أيضا ، و إن لم يكن فى زماننا كذلک ، فإن قد كان فى العرب ، وقد كان و إذن هو ما باب إقامة السبب مقام المسبب ، كالنوم ، فإنه ليس بحدث ، لكنه مسبب لاسترخاء المفاصل ، و أنه لا يخلو من خروج شئ منه غالبا ، فأقيم النوم الذى هو سبب مقام المسبب ، و كالسفر ، فإنه أيضا أنيب مناب المشقة ، و كالمباشرة الفاحشة ، فإنهما سبب لخروج شيئ عادة ، فأير الحكم على المباشرة ، فهكذا جرّ الثوب ، إن مسببه المخيلة ، هى أمر خفى ينعسر إدراكها كالمشقة فى باب السفر ، و الحدث فى النوم ، و خروج شئ فى المباشرة الفاحشة فأير الحكم على جرّ الثوب ، على أنا قد جربنا أن للظاهر تأثيرا فى الباطن و من هذا الباب تحسين الأسماء ...[بقيه برصفحه آئنده....

او مکروه دي ، د تکبر په صورت، کښي مکروه تحريمي دي او د غفلت په صورت کښي مکروه تنزيهي دي خو چه بې د قصده او بې د ارادي وی نو دې صورت کښې رخصت دی ځکه چه د غير اختياری په حالت کښې انسان مکلف نه دي -

د باب په بل حديث کښي دی " فقام يجرّ ثوبه مستعجلاً " رسول الله ﷺ په تُندئ کښي جامې راکښونکې اودريدو ، معلومه شوه چه د تندئ او تلوار په حالت کښې کُه لنګ خکته زوړند شو نو دا به قابل د مواخذه نه وی ، ممانعت دې صورت سره خاص دې چه کله دا خکته کول په وجه د تکبر وی ، او هم دا صورت مذموم دې لکه علامه قسطلانی رحمه الله ليکئ : " فإن فيه أن الجر إذا كان بسبب الإسراع لا يدخل في النهي، فيشعر بأن النهي يختص بما كان للخيلاء، فلا ذم إلا ممن قصد الخيلاء ([1])

۲- باب التَّشْمِيرِ فِي الثِّيَابِ

[۵۴۴۹] حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ أَخْبَرَنَا ابْنُ شُمَيْلٍ أَخْبَرَنَا عُمَرُ بْنُ أَبِي زَائِدَةَ أَخْبَرَنَا عَوْنُ بْنُ أَبِي جُحَيْفَةَ عَنْ أَبِيهِ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ فَرَأَيْتُ بِلَالًا جَاءَ بِعَنَزَةٍ فَرَكَزَهَا ثُمَّ أَقَامَ الصَّلَاةَ فَرَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ فِي حُلَّةٍ مُشَمِّرًا فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ إِلَى الْعَنَزَةِ وَرَأَيْتُ النَّاسَ وَالدَّوَابَّ يَمُرُّونَ بَيْنَ يَدَيْهِ مِنْ وَرَاءِ الْعَنَزَةِ [ر:۱۸۵]

تشمير باب د تفعيل دې ، شَمَّرثوبه : پاينسې اوچتول ، لستونړی اوچتول

روايت د باب کښې دی چه حضرت بلال رضي الله عنه ستره راوړله ، دا ئې اولګوله ، بيا ئې تکبير اووېلې ، دوی حله اغوستې وه او تشريف ئې راوړو ، دوی لنګ اوچت کړې وو ، د غنزه په طرف ئې مخ کړو او دوی دوه رکعته مونځ اوکړو ، او ما خلق او ځناورو لره ليدل چه د عنزه په شا تيريدل......عنزة(د عين، نون او د زاء د فتحه سره) ډنډې ته وائی ، چه هغې ته لاندې د اوسپنې څوکه لګيدلې وی ، شارحين ليکی : هو أطول من العصا و أقصر من الرمح، و فيه زج ([2])
يعنی دا کوتك د همسا نه اوږد او د نيزې نه وړوکې وی او ديکښې اوسپنه لګيدلې وی -

...

...بقيه ازحاشيه گذشته] فمن جر ثوبه لا يأمن أن يسرى الكبر إلى باطنه . ألا ترى أن النبى صلى الله عليه و سلم قال : اجعلو أزركم على أنصاف سيقانكم . فإن أبيتم فلا حق لكم فى الكعبين - بالمعنى - فدل على أن الحديث من أحكام اللباس . و أنه لاحق لنا فى ما دون الكعبين . و هذا التعبير يشعر بنفى التخصيص بالمخيلة وغيرها . و أوضع منه أنه لم يرخص للنساء فى إرخاء ذيولهن فوق شبر . مع شأة احتياجهن إليه . و سؤالهن عنه و لم يفضل لهن بالمخيلة . أو غيرها - (البدر السارى إلى فيض البارى : ٤ \ ٣٧٤)

[1]) إرشاد السارى : ١٢ \ ٥٠٧ . ٥٠٨)

[2]) ارشاد السارى : ١٢ \ ٥٠٨ . و عمدة القارى : ٢١ \ ٢٩٤)

۳=باب ما أسفل من الکعبین فهو فی النار

[۵۴۵۰] ( ) حدثنا آدم حدثنا شعبة حدثنا سعید بن أبی سعید المقبری عن أبی هریرة رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال ما أسفل من الکعبین من الإزار ففی النار

امام بخاری رحمه الله ترجمة الباب کښې د "من الکعبین" نه پس د "من الإزار" الفاظ نه دي ذکر کړي حال دا دي چه حدیث شریف کښې دا الفاظ شته دې ، د امام بخاری مقصد عموم ته اشاره کول دی ، چه برابره خبره ده چه ازار وی او که چُغه وغیره وی ، ددې لاندې خکته زوړند ساتل جائز نه دي - (۲)

د اسبال حکم عام دې : امام بخاری رحمه الله ترجمة الباب عام اوساتلو غالبا د حضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه دې روایت ته ئې اشاره اوکړه چه امام ابوداود رانقل کړیدې ، چه دیکښې دی - "قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : إزرة المسلم إلی نصف الساق ، ولا حرج و لا جناح فیما بینه و بین الکعبین ، و ما کان أسفل من الکعبین فهو فی النار ، من جرّ إزاره بطرا لم ینظر الله" (۳)

یعنی د مسلمان لنګ پکار دې چه د پنډو نیمې پورې وی ، خو که د پنډلو د نیمې او د ګیټو مینځ کښې هم وی نو هم څه باك نشته دې ، خو که د لنګ څه حصه د ګیټو نه خکته وی نو دا به په جهنم کښې وی ، چه کوم سړې لنګ د تکبر په وجه خان پسې راکاږی نو ده ته به الله تعالی د رحمت په نظر نه ګوری -

دې حدیث کښې هم د "و ما کان دسفل من الکعبین" نه پس د "الازار" اضافه نشته دې ، دحضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما د یو حدیث نه هم دا عموم ثابتیږی چه دا امام نسائی ، ابن ماجه او ابوداود نقل کړیدې ، دیکښې دی :" الإسبال فی الإزار و القمیص و العمامة ، من جرّ منها شیئا خیلاء لم ینظر الله إلیه یوم القیامة" (۴)

دارنګه امام ابوداود د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما قول نقل کړیدې "ما قال رسول الله صلی الله علیه وسلم فی الإزار فهو فی القمیص" یعنی د لنګ لاندې ساتلو متعلق چه رسول الله صلی الله علیه وسلم کوم وعید فرمائلې دې د قمیص باره کښې هم هغه حکم دې - (۵)

---

(۱) الحدیث أخرجه النسائی فی کتاب الزینة ، باب إسبال الإزار و ذکر اختلاف ألفاظ الناقلین لخبیر أشعث بن أبی الشعثاء فی ذالک : ۵\۴۸۹ (رقم الحدیث : ۹۷۰۵)

(۲) فتح الباری : ۱۰\۳۱۵ ، عمدة القاری : ۲۱\۲۹۷)

(۳) سنن أبی داود ، کتاب اللباس ، باب فی قدر موضع الإزار : ۴\۵۹ (رقم الحدیث : ۴۰۹۳)

(۴) سنن ابی داود ، کتاب ا للباس ، باب فی قدر موضح الإزار : ۴\۶۰ (قم الحدیث : ۴۰۹۴ و السنن الکبر للنسائی ، کتاب الزینة ، باب إسبال الإزار و ذکر اختلاف ألفاظ الناقلین لخیر أشعث بن ابی الشعثاء فی ذلک : ۵\۴۸۹ (رقم الحدیث : ۹۷۰۶-۱۰)

(۵) سنن أبی داود ، کتاب اللباس ، باب فی قدر موضع الإزار : ۵\۶۰ (رقم الحدیث : ۴۰۹۵)

٢- باب من جر ثوبه من الخيلاء

[٥٤٥١] (١) حدثنا عبد الله بن يوسف أخبرنا مالك عن أبي الزناد عن الأعرج عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال لا ينظر الله يوم القيامة إلى من جر إزاره بطرا

[٥٤٥٢] (٢) حدثنا آدم حدثنا شعبة حدثنا محمد بن زياد قال سمعت أبا هريرة يقول قال النبي صلى الله عليه وسلم أو قال أبو القاسم صلى الله عليه وسلم بينما رجل يمشي في حلة تعجبه نفسه مرجل جمته إذ خسف الله به فهو يتجلجل إلى يوم القيامة

[٥٤٥٣\٥٤٥٤] حدثنا سعيد بن عفير قال حدثني الليث قال حدثني عبد الرحمن بن خالد عن ابن شهاب عن سالم بن عبد الله أن أباه حدثه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال بينا رجل يجر إزاره إذ خسف به فهو يتجلل في الأرض إلى يوم القيامة تابعه يونس عن الزهري ولم يرفعه شعيب عن الزهري حدثني عبد الله بن محمد حدثنا وهب بن جرير أخبرنا أبي عن عمه جرير بن زيد قال كنت مع سالم بن عبد الله بن عمر على باب داره فقال سمعت أبا هريرة سمع النبي صلى الله عليه وسلم نحوه [ر: ٣٢٩٧]

[٥٤٥٥] حدثنا مطر بن الفضل حدثنا شبابة حدثنا شعبة قال لقيت محارب بن دثار على فرس وهو يأتي مكانه الذي يقضي فيه فسألته عن هذا الحديث فحدثني فقال سمعت عبد الله بن عمر رضي الله عنهما يقول قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من جر ثوبه مخيلة لم ينظر الله إليه يوم القيامة فقلت لمحارب أذكر إزاره قال ما خص إزارا ولا قميصا تابعه جبلة بن سحيم وزيد بن أسلم وزيد بن عبد الله عن ابن عمر عن النبي صلى الله عليه وسلم وقال الليث عن نافع عن ابن عمر مثله

وتابعه موسى بن عقبة وعمر بن محمد وقدامة بن موسى عن سالم عن ابن عمر عن النبي صلى الله عليه وسلم من جر ثوبه خيلاء [ر: ٣٤٦٥]

د جرازار دا حکم د سرو دپاره دې ، د ښځو دپاره نه دې ، ازار کښې بهتر دا ده چه دا پنډلو د نیمې پورې وی او د ګیټو پورې ساتل ئې جائز دی ، خو چه ګیټې ښکاره وی ، امام نسائی رحمه الله روایت نقل کړيدې او امام حاکم ددې تصحیح کړیده ، ددې الفاظ دی :

موضع الإزار إلى أنصاف الساقين و العضلة ، فإن أبيت فأسفل ، فإن أبيت فمن وراء الساق و لا حق للكعبين في

---

(١) الحديث أخرجه مسلم فى كتاب اللباس و الزينة ، باب تحريم جر الثوب خيلاء : ٣\١٦٥٣ (رقم الحديث : ٢٠٨٨)

(٢) الحديث أخرجه مسلم فى كتاب اللباس و الزينة ، باب تحريم التبختر فى المشى مع إعجابه بثيابه : ٣\١٦٥٣ (رقم الحديث : ٢٠٨٨)

الإزار"(۱) يعنى د لنګ د زوړند ساتلو ځائې د پنډلو نيمه ده كه هغه ځائې پورې نه وى نو لږ دې لاندې كړى كه په دې هم عمل نه شى كولې نو د پنډلۍ تر آخره پورې دې اوساتى او د ګيټو په لنګ كښې هيڅ حصه نشته دې " -
د باب بل روايت كښې دې ، رسول الله ﷺ فرمائلې دى چه يو سړى حله (جوړا) اغوستې وه او روان وو او په عجب (ځان ته خوښيئ) كښې وو ، د سر په ويختو كښې ئې ګمنز وهلے چه الله تعالى ده لره په زمكه كښې ډوب كړو او دې به د قيامت ورځې پورې په زمكه كښې روان وى

قوله: تعجبه نفسه: ده به خپل ځان ښه ګنړلو ، عُجب او إعجاب معنى دا ده چه انسان خپل ځان ته د كمال په سترګه ګورى ، خپل ځان ښه ګنړى او دا حقيقت ئې هير وى چه دا ټول هر څه د الله تعالى وركړې نعمت دې - (۲)

قوله: يتجلجل : د تجلجل معنى حركت كول دى دلته دينه مراد په زمكه كښې د مسلسل خخيدو حركت كول دى -

قوله: مُرَجِّل جمّته: مرجّل د باب تفعيل د اسم فاعل صيغه ده : ګمنز كولو والا ، جمة : د سر هغه ويخته چه د اوږو پورې وى - (۳)
دې حديث كښې چه د كوم سړې د قيامته پورې په زمكه كښې د خخيدو ذكر دې ، كلاباذى وائى دينه مراد قارون دې (۴) د حضرت ابن عباس او د حضرت ابوهريره ﷺ په يو ضعيف حديث كښې هم د قارون نوم راغلې دې - (۵)
تابعه يونس عن الزهرى ، ولم يرفعه شعيب عن الزهرى
يونس بن يزيد متابعت امام بخارى دينه وړاندې موصولاً نقل كړې دې (۶) د تابعه ضمير منصوب عبد الرحمن بن خالد ته راجع دې

قوله: ولم يرفعه شعيب عن الزهري: يعنى شعيب بن ابى حمزه دا روايت د امام محمد بن شهاب زهرى نه نقل كړيدې خو مرفوع ئې نه دې نقل كړې ، اسماعيلى هم دې غير مرفوع طريق لره موصول نقل كړيدې - (۷)

قوله: حدثني عبدالله بن محمد.......جرير بن زيد: دجرير بن زيد په صحيح بخارى

---

(۱) السنن الكبرى للنسائى ، كتاب الزنة ، الاختلاف عى أبى إسحاق فيه : ۵\ ۴۸۵ (رقم الحديث : ۹۶۸۸\ ۴) و ابن ماجه ، كتاب اللباس ، باب موضع الإزار أين هو ؟ ۱۲\ ۱۱۸۲ (رقم الحديث : ۳۵۷۲)
(۲) فتح البارى : ۱۰\ ۳۲۰ ، و ارشاد السارى : ۱۲\ ۵۱۰)
(۳) فتح البارى : ۱۰\ ۳۲۰ ، عمدة القارى : ۲۱\ ۲۹۸ و ارشاد السارى : ۱۲\ ۵۱۰)
(۴) فتح البارى : ۱۰\ ۳۲۰ ، عمدة القارى : ۲۱\ ۲۹۸)
(۵) فتح البارى : ۱۰\ ۳۲۰ ، و ارشاد السارى : ۱۲\ ۵۱۰)
(۶) كتاب أحاديث الأنبياء ، باب بلاترجمة (رقم الحديث : ۳۴۸۵)
(۷) عمدة القارى : ۲۱\ ۲۹۸ ، فتح البارى : ۱۰\ ۳۲۱)

کښي هم دا يو حديث دې (۱) دا روايت سالم بن عبدالله نه جرير بن زيد هم نقل کړيدې او امام زهرى هم ، خو وړاندې د دواړو طريق مختلف دې ، زهرى " عن سالم عن ابيه عبد الله بن عمر " په طريق سره نقل کړيدې او جرير " عن سالم عن ابى هريره " په طريق سره نقل کړيدې ، دارنګه د جرير بن زيد روايت د امام زهرى نه مختلف دې ، علامه مزى په " اطراف الحديث " کښې د امام زهري روايت محفوظ ګرځولې دې ځکه چه امام زهرى د جرير په مقابله کښې زيات ثقه دې - (۲)

د دې تقاضا ده چه د جرير دې روايت ته شاذ اوويلې شى ، امام بخارى رحمه الله دا دلته ذکر کړو کيدې شى چه دې خبرې ته ئې اشاره کړې وى چه سالم سره دا حديث د دواړو اصحابو نه وو ، حضرت ابوهريره نه هم او د حضرت عبد الله بن عمر نه هم -

بې شك د جرير په مقابله کښې د امام زهرى مرتبه اوچته ده خو د جرير روايت کښې تفصيل دې ، او قصه هم په کښې ذکر ده ، دې فرمائى چه حضرت سالم بن عبد الله بن عمر په دروازه باندې دوى سره ولاړ وو ، د زهرى په روايت کښې دا قصه او تفصيل نشته دې ، او محدثين وائى چه " إن الخبر إذا كانت فيه لرواية قصة دل ذلك على أنه ضبط " (۳)

جرير بن زيد روايتونه امام مسلم او امام نسائى رحمه الله نقل کړيدى ، - (۴)

علامه مزي رحمه الله په تهذيب الکمال کښې د دوى متعلق فرمائى " روى له البخارى مقرونا بغيره " (۵)

خو حافظ بن حجر رحمه الله فرمائى چه دارنګه روايت ذکر کولو ته " مقرون بالغير " نه شى ويلې بلکه د امام په نزد دواړه طريق صحيح دى او دواړو د امام نه مستقل نقل کړيدې-(۶) ابو حاتم ، علامه ذهبى او حافظ ابن حجر رحمهم الله د جرير بن زيد توثيق کړيدې - (۷)

قوله: حدثنا مطر بن الفضل ......:شعبه فرمائى چه څه د محارب بن دثار سره ملاو شوم ، دې په خپل اس سور هغه ځائې ته راتلو چه کوم ځائې ده فيصلې کولې (ځکه چه دې د کوفې قاضى وو) ما ده نه ددې حديث متعلق تپوس اوکړو نو دوى دا حديث د حضرت عبدالله بن عمر په طريق سره واورولو ، ما محارب ته اوويل: چه عبدالله بن عمر خپل حديث کښې د ازار ذکر کړيدې ، دوى اوويل چه د قميص او د ازار تخصيص ئې نه دې کړې

---

(۱) عمدة القارى : ۲۱ \ ۲۹۸ ، فتح البارى : ۱۰ \ ۳۲۱)

(۲) تحفة الأشراف بمعرفة الأطراف للحافظ المزى : ۹ \ ۴۵۶ ، ۴۵۷ (رقم الحديث : ۱۲۹۱۳) و قال الحافظ ابن حجر فى النكت الظراف على الأطراف : فالقرينة المرجحة لروايته عن أبيه ، أن الزهرى أحفظ و أعرف لحديث سالم من جرير بن زيد (النكت الظراف على الأطراف مع تحفة الأشراف : ۹ \ ۴۵۶ ، ۴۵۷)

(۳) ارشاد السارى : ۱۲ \ ۵۱۱)

(۴) تهذيب الکمال : ٤ \ ۵۳۲ (رقم الترجمة : ۹۱۵)

(۵) تهذيب الکمال : ٤ \ ۵۳۲ (رقم الترجمة : ۹۱۵)

(۶) تهذيب التهذيب : ۲ \ ۷۳ (رقم الترجمة : ۱۱۳)

(۷) تهذيب التهذيب : ۲ \ ۷۳ (رقم الترجمة : ۱۱۳)

(بلکه د مطلق " ثوب " لفظ ئې استعمال کړی) -

قوله: تابعه جبلة بن سحيم، وزيد بن اسلم، وزيد بن عبدالله..........: محارب بن ثابت متابعت دې درې واړو حضراتو کړيدې ، د جبله متابعت امام نسائی ، د زيد بن اسلم متابعت امام مسلم موصولاً نقل کړيدې (۱) او د زيد بن عبد الله متابعت موصولاً کیدو متعلق حافظ ابن حجر رحمه الله لا علمی ښکاره کړيده - (۲)

قوله: وقال الليث عن نافع، عن ابن عمر مثله: د ليث بن سعد تعليق امام موصولاً نقل کړيدې - (۳)

قوله: و تابعه موسى بن عقبه و عمر بن محمد، و قدامه بن موسى عن سالم ....: د نافع متابعت دې درې واړو راويانو کړيدې ، د موسى بن عقبه متابعت امام بخاری د کتاب اللباس په شروع کښې موصولا ذکر کړيدې ، د عمر بن محمد متابعت امام مسلم او قدامه بن موسى متابعت ابو عوانه موصولا نقل کړيدې - (۴)

۵= بَابُ الْإِزَارِ الْمُهَدَّبِ

وَيُذْكَرُ عَنْ الزُّهْرِيِّ وَأَبِي بَكْرِ بْنِ مُحَمَّدٍ وَحَمْزَةَ بْنِ أَبِي أُسَيْدٍ وَمُعَاوِيَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَعْفَرٍ أَنَّهُمْ لَبِسُوا ثِيَابًا مُهَدَّبَةً

[۵۴۵۶] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنْ الزُّهْرِيِّ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ جَاءَتْ امْرَأَةُ رِفَاعَةَ الْقُرَظِيِّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا جَالِسَةٌ وَعِنْدَهُ أَبُو بَكْرٍ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي كُنْتُ تَحْتَ رِفَاعَةَ فَطَلَّقَنِي فَبَتَّ طَلَاقِي فَتَزَوَّجْتُ بَعْدَهُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ الزَّبِيرِ وَإِنَّهُ وَاللَّهِ مَا مَعَهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِلَّا مِثْلُ هَذِهِ الْهُدْبَةِ وَأَخَذَتْ هُدْبَةً مِنْ جِلْبَابِهَا فَسَمِعَ خَالِدُ بْنُ سَعِيدٍ قَوْلَهَا وَهُوَ بِالْبَابِ لَمْ يُؤْذَنْ لَهُ قَالَتْ فَقَالَ خَالِدٌ يَا أَبَا بَكْرٍ أَلَا تَنْهَى هَذِهِ عَمَّا تَجْهَرُ بِهِ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَا وَاللَّهِ مَا يَزِيدُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى التَّبَسُّمِ فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَعَلَّكِ تُرِيدِينَ أَنْ تَرْجِعِي إِلَى رِفَاعَةَ لَا حَتَّى يَذُوقَ عُسَيْلَتَكِ وَتَذُوقِي عُسَيْلَتَهُ فَصَارَ سُنَّةً بَعْدُ [ر: ۲۴۹۶]

قوله: مُهدّب: د باب تفعيل اسم مفعول صيغه ده ...... ثوبٌ مُهدَّب هغه جامه چه د هغې غاړې وی ، ازار مُهدّب ، غاړه دار لنګ ، د جامو په غاړو باندې ډير کرتې تارونه وغيره

---

(۱) ارشاد الساری : ۱۲\۵۱۲)

(۲) فتح الباري : ۱۰\۳۲۲، و ارشاد الساری : ۱۲\۵۱۲)

(۳) فتح الباري : ۱۰\۳۲۳، عمدة القاری : ۱۲\۲۹۹)

(۴) فتح الباري : ۱۰\۳۲۳، عمدة القاری : ۲۱\۳۰۰)

پريخودې شي او بخئ پرې اوشي او زونډې ترې زوړند کړې شي (۱) امام بخاری رحمه الله ددې جواز ته اشاره کوي و ابو بکر بن محمد ، حمزه بن ابی سعید او معاویه بن عبد الله په باره کښې ویلې کیږي چه دوی د زونډو او د غاړو والا جامې اغوستې وې ، دوې کښې د حمزه بن ابی سعید اثر ابن سعد موصولا نقل کړیدې او د باقی موصول کیدو متعلق حافظ ابن حجر رحمه الله د لا علمۍ اظهار کړیدې - (۲)

امام ابوداود رحمه الله په دې سلسله کښې یو مرفوع حدیث نقل کړیدې چه دیکښې د هدب ذکر شته ، جابر بن سلیم فرمائی "أتیت النبی ﷺ وهو محتب بشملة ، وقد وقع هدبها علی قدمیه" یعنی څه نبی کریم ﷺ ته راغلم دوی په یو څادر کښې خان راغونډ کړې وو او ناست وو او ددې غاړې (زونډې) د دوی په قدمونو مبارکو وو - (۳)

د باب لاندې امام د "إمرأة رفاعة" والا حدیث نقل کړیدې ، چه دیکښې د هدبة لفظ راغلې دی ، په دې مناسبت امام دا حدیث دلته ذکر کړیدې -

٦=بَابُ الْأَرْدِيَةِ

وَقَالَ أَنَسٌ جَبَذَ أَعْرَابِيٌّ رِدَاءَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ر:٥٤٧٢]

[٥٤٥٧] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا يُونُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ أَخْبَرَنِي عَلِيُّ بْنُ حُسَيْنٍ أَنَّ حُسَيْنَ بْنَ عَلِيٍّ أَخْبَرَهُ أَنَّ عَلِيًّا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ فَدَعَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِرِدَائِهِ ثُمَّ انْطَلَقَ يَمْشِي وَاتَّبَعْتُهُ أَنَا وَزَيْدُ بْنُ حَارِثَةَ حَتَّى جَاءَ الْبَيْتَ الَّذِي فِيهِ حَمْزَةُ فَاسْتَأْذَنَ فَأَذِنُوا لَهُمْ

قوله: أردية: د رداء جمع ده ، څادر ته وائی ، ترجمة الباب کښې ذکر شوې حدیث د حضرت انس تعلیق وړاندې په باب البرود والحبرة کښې راروان دې ـ

٧=بَابُ لُبْسِ الْقَمِيصِ

وَقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى حِكَايَةً عَنْ يُوسُفَ اذْهَبُوا بِقَمِيصِي هَذَا فَأَلْقُوهُ عَلَى وَجْهِ أَبِي يَأْتِ بَصِيرًا_[ر:٩٣]

[٥٤٥٨] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَجُلًا قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا يَلْبَسُ الْمُحْرِمُ مِنَ الثِّيَابِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَلْبَسُ الْمُحْرِمُ الْقَمِيصَ وَلَا السَّرَاوِيلَ وَلَا الْبُرْنُسَ وَلَا الْخُفَّيْنِ إِلَّا أَنْ لَا يَجِدَ النَّعْلَيْنِ فَلْيَلْبَسْ مَا هُوَ

---

(۱) عمدة القاری : ۱۲ \ ۳۰۰ ، و ارشاد الساری : ۱۲ \ ۵۱۳)
(۲) ارشاد الساری : ۱۲ \ ۵۱۳)
(۳) سنن أبی دواد ، کتاب اللباس ، باب فی الهدب : ٤ \ ٥٤ (رقم الحدیث : ٤٠٧٥)

أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ [ر:۱۳۴]

[۵۴۵۹] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُثْمَانَ أَخْبَرَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ عَمْرٍو سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ أَتَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ أُبَيٍّ بَعْدَ مَا أُدْخِلَ قَبْرَهُ فَأَمَرَ بِهِ فَأُخْرِجَ وَوُضِعَ عَلَى رُكْبَتَيْهِ وَنَفَثَ عَلَيْهِ مِنْ رِيقِهِ وَأَلْبَسَهُ قَمِيصَهُ فَاللَّهُ أَعْلَمُ [ر:۱۲۱۱]

[۵۴۶۰] حَدَّثَنَا صَدَقَةُ أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ قَالَ أَخْبَرَنِي نَافِعٌ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ لَمَّا تُوُفِّيَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أُبَيٍّ جَاءَ ابْنُهُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَعْطِنِي قَمِيصَكَ أُكَفِّنْهُ فِيهِ وَصَلِّ عَلَيْهِ وَاسْتَغْفِرْ لَهُ فَأَعْطَاهُ قَمِيصَهُ وَقَالَ إِذَا فَرَغْتَ مِنْهُ فَآذِنَّا فَلَمَّا فَرَغَ آذَنَهُ بِهِ فَجَاءَ لِيُصَلِّيَ عَلَيْهِ فَجَذَبَهُ عُمَرُ فَقَالَ أَلَيْسَ قَدْ نَهَاكَ اللَّهُ أَنْ تُصَلِّيَ عَلَى الْمُنَافِقِينَ فَقَالَ اسْتَغْفِرْ لَهُمْ أَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ إِنْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِينَ مَرَّةً فَلَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَهُمْ فَنَزَلَتْ وَلَا تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُمْ مَاتَ أَبَدًا وَلَا تَقُمْ عَلَى قَبْرِهِ فَتَرَكَ الصَّلَاةَ عَلَيْهِمْ [ر:۱۲۱۰]

امام بخارى رحمه الله غالباً دې باب سره دې خبرې ته اشاره کول غواړى چه د قميص استعمال څه نوې ايجاد نه دې بلکه قديم دې ، د پخوا نه ددې معمول راروان دې ، امام ترمذى رحمه الله دحضرت ام سلمه روايت نقل کړيدې " كان أحب الثياب إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم القميص " (۱) په حديث د باب کښې د بُرْنُس لفظ راغلې دې ، برنس (د باء په ضمه او د راءپه سکون او د نون په ضمه سره)هغه قباء ته وائى چه هغې سره ټوپئ ګنډلې شوې وى

۸= بَاب جَيْبِ الْقَمِيصِ مِنْ عِنْدِ الصَّدْرِ وَغَيْرِهِ

[۵۴۶۱] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ نَافِعٍ عَنْ الْحَسَنِ عَنْ طَاوُسٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ ضَرَبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلَ الْبَخِيلِ وَالْمُتَصَدِّقِ كَمَثَلِ رَجُلَيْنِ عَلَيْهِمَا جُبَّتَانِ مِنْ حَدِيدٍ قَدْ اضْطُرَّتْ أَيْدِيهِمَا إِلَى ثُدِيِّهِمَا وَتَرَاقِيهِمَا فَجَعَلَ الْمُتَصَدِّقُ كُلَّمَا تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ انْبَسَطَتْ عَنْهُ حَتَّى تَغْشَى أَنَامِلَهُ وَتَعْفُوَ أَثَرَهُ وَجَعَلَ الْبَخِيلُ كُلَّمَا هَمَّ بِصَدَقَةٍ قَلَصَتْ وَأَخَذَتْ كُلُّ حَلْقَةٍ بِمَكَانِهَا قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ فَأَنَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ بِإِصْبَعِهِ هَكَذَا فِي جَيْبِهِ فَلَوْ رَأَيْتَهُ يُوَسِّعُهَا وَلَا تَتَوَسَّعُ تَابَعَهُ ابْنُ طَاوُسٍ عَنْ أَبِيهِ وَأَبُو الزِّنَادِ عَنْ الْأَعْرَجِ فِي الْجُبَّتَيْنِ وَقَالَ حَنْظَلَةُ سَمِعْتُ طَاوُسًا سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ يَقُولُ جُبَّتَانِ وَقَالَ جَعْفَرُ بْنُ حَيَّانَ عَنْ الْأَعْرَجِ جُبَّتَانِ [ر:۱۳۷۵]

د جيب معنى د ګريبان هم راځى او د پښتو والا جيب دپاره هم استعماليږى يعنى د جامې هغه حصه چه هلته رقم وغيره ايخودې کيږى ، دلته ړومبئ معنى مراد ده ، سينې سره قميص کښې سر راويستو دپاره چه کوم ګريبان جوړيږى هغه مراد دې ، څکه چه حديث

(۱) سنن الترمذى ، كتاب اللباس ، باب ما جاء فى القميص : ٤ \ ۲۳۷ (رقم الحديث : ۱۷۶۲)

كښې د دغه جيب ذكر دې - (١) شيخ الحديث مولانا محمد زكريا رحمه الله فرمائى چه دويمه معنى هم مراد اخستې شى ، (٢)

د حديث د باب ترجمه او تشريح : حديث دباب كښې حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمائى چه رسول الله ﷺ د بخيل او د صدقه وركوونكې مثال بيان اوفرمائلو ، دوه سړې دى ، په دوى د اوسپنې زغره ده (چه د هغې په وجه) د دوى لاس د سينې او د اړخونو سره لګيدلې وى (يعنى د زرې د تنګسيا په وجه د دوى لاسونه د سينې سره بند شويدى) نو صدقه وركوونكې چه كله صدقه كوى نو دا زره فراخه شى او د ده د (پښو د ګوتو) بندونه پټ كړى ، او د ده د قدم نخې (د فراخه كيدو په وجه) وران كړى (يعنى د صدقې په بركت سره دا تنګه زره چه ديكښې دده لاسونه هم بند وو دومره فراخه او خوره شى چه دده پښې هم پټې كړې او چه كله دې خى نو د ده د قدمونو نخې دا زره ورانوى لكه چه څنګه يو سړې اوږده جامه راكاږى او روان وى نو د قدمونو نخې دې سره ورانيږى) او بخيل چه كله د صدقې اراده كوى نودا زره د ده بدن پورې انخلى او هره كړئ په خپل ځائې پورې نوره هم مضبوطه شى ، د حضرت ابوهريره رضي الله عنه بيان دې چه ما رسول الله ﷺ لره اوليدلو چه ده خپلې ګوتې په خپل جيب كښې واچولې چه دا ئې فراخه كول غوښتل خودا نه فراخه كيدلو.

قوله: اضطرت أيديهما إلى ثديهما وتراقيهما : ثُدِىٌ ثَدْى جمع ده سينى ته وائى ، تراقى د تَرْقُوَة جمع ده ليندكئ ته وائى ، د مرئ او د سينې سره چه كوم پيوسته وړوكې غوندې كنده ده دا ترينه مراد ده ، أنامله : رؤوس أصابع رجليه : يعنى د پښو د ګوتو سرونه _ تعفوأثره: هغه زره چه د ده د قدمونو نخې وارنوى - قَلَصَتْ : انضمّتْ ، راغونډيدل ، پيوسته كيدل

قوله: تابعه ابن طاوس عن أبيه ......: دلته باب كښې چه كوم روايت دې هغه د " حسن عن طاوس په طريق سره دې ، ديكښې " عليهما جبتان من حديد " دې ، د حسن بن مسلم متابعت عبد الله بن طاوس او ابو الزناد (عبد الله بن ذكوان) دواړو كړيدې ، د ابو الزناد شيخ اعرج (عبدالرحمن) دې ، دې دواړو هم د " جبتان " لفظ نقل كړيدې ، د حنظله بن ابى سفيان په روايت كښې هم " جبتان " شته دې ، خو جعفر بن ربيعه چه داعرج نه كوم روايت نقل كړيدې ، ديكښې د " جُنّتان " لفظ دې ، دا د جُنّة تثنيه ده ، ډهال ته وائى - شارح د مشكوة علامه طيبى رحمه الله فرمائى چه " جنّة د نون سره زيات مناسب دې ، ځكه چه زره ته جنّة نه ويلې كيږى ، جُنّة ورته ويلې شى ځكه چه دا د انسان دپاره د ډهال او د بچاو كار وركوى - (٣) علامه قسطلانى رحمه الله ليكى :

" وخص المشبه بهما بلبس الجبتين من الحديد إعلاما ، بأن القبض والشح من جبلة الإنسان ، وخلقته ، د

---

(١) ارشاد السارى : ١٢ \ ٥١٨ ، فتح البارى : ١٠ \ ٣٢٨ ، عمدة القارى ذ: ٢١ \ ٣٠٢)

(٢) الابواب و التراجم : ١٢ \ ١٠٤)

(٣) ارشاد السارى : ١٢ \ ٥١٩)

أن السخاء من عطاء الله و توفيقه ، يمنحه من يشاء من عباده المفلحين ، و خص اليد بالذكر ، لأن السخي و البخيل يوصفان ببسط اليد و قبضها ، فإذا أريد المبالغة في البخل ، قيل : مغلولة يده إلى عنقه ، و ثديه ، و تراقيه ، وإنما عدل من الغل إلى الدرع لتصور معنى الإنبساط و التقلص ، و الأسلوب من التشبيه المفرق ، شبه السخي الموفق ، إذا قصد التصدق يسهل عليه ، و يطاوعه قلبه بمن عليه الدرع ، و يده تحت الدرع ، فإذا أراد أن يخرجها منها ، وينزعها يسهل عليه و البخيل على عكسه " (۱)

يعنى حديث شريف كښې د اوسپنې د جبې سره تشبيه ئې ورکړه دې سره ئې دې خبرې ته اشاره کول مقصود دى چه بخل د انسان خلقت او جبلت (طبيعت) کښې دې ، او وصف د سخاوت د الله تعالى عطاء ده کومه چه نيکانو خلقو ته ورکولې کيږى ، د لاس ذکر ئې په خصوصيت سره ځکه اوکړو چه د سخى دپاره ويلې کيږى " د ده لاس فراخه دې " ...... او د بخيل باره کښې ويلې کيږى چه دده لاس بند دې - چه کله په بخل کښې مبالغه کول مقصود وى نو ويلې کيږى د ده لاس د څټ سره تړلې شويدې ، د بيړئ په ځائې ئې د زرې ذکر اوکړو ځکه چه زره فراخه کيږى او تنګيږى ، د سخى او د بخيل په شان ....د عبارت اسلوب د " تشبيه مفرق " د قسم نه دې ، هغه سخى چه هغه ته الله تعالى داسې توفيق ورکړې دې چه کله دې د صدقې اراده اوکړى نو صدقه کول ده ته اسان وى او دده زړه ده سره موافقت کوى ، د داسې سخى تشبيه د هغه سړى سره ئې ورکړيده چه په ده باندې زره وى او دده لاسونه په زره کښې دننه وى ، چه کله دې ددينه د لاسونو راويستلو اراده کوى نو د لاس راويستل ده ته اسان وى او بخيل ددې په عکس وى " -

حديث د باب په کتاب الزکاة کښې تير شويدې - (۲)

۹=بَاب مَنْ لَبِسَ جُبَّةً ضَيِّقَةَ الْكُمَّيْنِ فِي السَّفَرِ

[۵۴۶۳] حَدَّثَنَا قَيْسُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو الضُّحَى قَالَ حَدَّثَنِي مَسْرُوقٌ قَالَ حَدَّثَنِي الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ قَالَ انْطَلَقَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِحَاجَتِهِ ثُمَّ أَقْبَلَ فَتَلَقَّيْتُهُ بِمَاءٍ فَتَوَضَّأَ وَعَلَيْهِ جُبَّةٌ شَأْمِيَّةٌ فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ وَغَسَلَ وَجْهَهُ فَذَهَبَ يُخْرِجُ يَدَيْهِ مِنْ كُمَّيْهِ فَكَانَا ضَيِّقَيْنِ فَأَخْرَجَ يَدَيْهِ مِنْ تَحْتِ الْجُبَّةِ فَغَسَلَهُمَا وَمَسَحَ بِرَأْسِهِ وَعَلَى خُفَّيْهِ [ر:۱۸۰]

د تنګو لستونړو والا جبه (چُغه) په سفر کښې رسول الله ﷺ اغوستې ده ، لکه چه حديث دباب کښې دى، سفرکښې مسافرته د داسې لباس ضرورت راځى چه په حضر کښې ئې دې نه استعمالوى او امام بخارى رحمه الله شايد په ترجمة الباب کښې ددې جواز ته اشاره کوى چه که سفر کښې د غير معتاد لباس ضرورت راپيښ شى نو سنت کښې ددې اصل شته ـ

---

(۱)) ارشاد السارى : ۱۲ \ ۵۱۹)

(۲)) کتاب الزکاة ، باب مثل المتصدق و البخيل (رقم الحديث : ۱۴۴۳)

حديث د باب په كتاب الصلاة كښې تير شويدې ، هلته امام بخارى رحمه الله په دې ترجمه قائم كړې وه " الصلاة في الجبة الشامية " (۱)

۱۰ = بَاب لُبْسِ جُبَّةِ الصُّوفِ فِي الْغَزْوِ

[۵۳۶۳] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا زَكَرِيَّاءُ عَنْ عَامِرٍ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الْمُغِيرَةِ عَنْ أَبِيهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ فِي سَفَرٍ فَقَالَ أَمَعَكَ مَاءٌ قُلْتُ نَعَمْ فَنَزَلَ عَنْ رَاحِلَتِهِ فَمَشَى حَتَّى تَوَارَى عَنِّي فِي سَوَادِ اللَّيْلِ ثُمَّ جَاءَ فَأَفْرَغْتُ عَلَيْهِ الْإِدَاوَةَ فَغَسَلَ وَجْهَهُ وَيَدَيْهِ وَعَلَيْهِ جُبَّةٌ مِنْ صُوفٍ فَلَمْ يَسْتَطِعْ أَنْ يُخْرِجَ ذِرَاعَيْهِ مِنْهَا حَتَّى أَخْرَجَهُمَا مِنْ أَسْفَلِ الْجُبَّةِ فَغَسَلَ ذِرَاعَيْهِ ثُمَّ مَسَحَ بِرَأْسِهِ ثُمَّ أَهْوَيْتُ لِأَنْزِعَ خُفَّيْهِ فَقَالَ دَعْهُمَا فَإِنِّي أَدْخَلْتُهُمَا طَاهِرَتَيْنِ فَمَسَحَ عَلَيْهِمَا [ر:۱۸۰]

د ترجمة الباب مقصد : ابن بطال فرمائى چه د امام مالك رحمه الله په نزد د صوف يعنى د وړئ جامه استعمالول مكروه دى ، په دې شرط چه نورې جامې وى خكه چه ديكښې دا يره شته چه سړې به زاهد مشهور شى او د شهرت د نقصاناتو نه بچ كيدل ډير كرته سخت وى دې وجه نه خفا (گمنامى) بهتر ده (۲) امام بخارى شايد ددې قول رد كوى چه رسول الله ﷺ په سفر د جهاد كښې د صوف جبه اغوستې وه لكه چه په حديث د باب كښې ددې تصريح موجود ده -

۱۱ = بَاب الْقَبَاءِ وَفَرُّوجِ حَرِيرٍ وَهُوَ الْقَبَاءُ وَيُقَالُ هُوَ الَّذِي لَهُ شَقٌّ مِنْ خَلْفِهِ

[۵۳۶۴] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ قَالَ قَسَمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْبِيَةً وَلَمْ يُعْطِ مَخْرَمَةَ شَيْئًا فَقَالَ مَخْرَمَةُ يَا بُنَيَّ انْطَلِقْ بِنَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَانْطَلَقْتُ مَعَهُ فَقَالَ ادْخُلْ فَادْعُهُ لِي قَالَ فَدَعَوْتُهُ لَهُ فَخَرَجَ إِلَيْهِ وَعَلَيْهِ قَبَاءٌ مِنْهَا فَقَالَ خَبَأْتُ هَذَا لَكَ قَالَ فَنَظَرَ إِلَيْهِ فَقَالَ رَضِيَ مَخْرَمَةُ [ر:۲۴۵۹]

[۵۳۶۵] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ عَنْ أَبِي الْخَيْرِ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ أُهْدِيَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرُّوجُ حَرِيرٍ فَلَبِسَهُ ثُمَّ صَلَّى فِيهِ ثُمَّ انْصَرَفَ فَنَزَعَهُ نَزْعًا شَدِيدًا كَالْكَارِهِ لَهُ ثُمَّ قَالَ لَا يَنْبَغِي هَذَا لِلْمُتَّقِينَ تَابَعَهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ عَنْ اللَّيْثِ وَقَالَ غَيْرُهُ فَرُّوجٌ حَرِيرٌ [ر:۳۶۸]

قباء (د قاف د فتحه سره) جبه (چغې) ته وائى ، بعضې وائى چه قباء د شاه نه پريكړې شوې وى ، فَرُّوج الحرير : د ريښمو قباء : فروج (د فاء د فتحه ، او د راء د تشديد سره) هو

---

(۱) كتاب الصلاة فى الجبة الشامية (رقم الحديث : ۳۶۳)

(۲) فتح البارى : ۱۰\۳۳۰)

الذى له شق من خلفه : شَقٌ (د شين د فتحه او د قاف د تنوين سره) يعنى هغه رينىمى قباء چه هغې كښې د شاه نه خيرې والې وى
ابن فارس فرمائى چه دا د ماشومانو قميص ته وائى (۱)
علامه قرطبى فرمائى چه قباء او فروج د تنګو لستونړو والا جامې ته وائى او چه د شا نه پريكړې شوې وى ، په جنګ او سفر كښې به عموما ددې استعمال كيدلو ځكه چه ديكښې حركت كول اسان وى - (۲)
حديث د باب كښې د مخرمه بن نوفل واقعه بيان شويده ، مخرمه د فتح مكه په موقعه اسلام قبول كړې وو او غزوه حنين كښې شريك وو (۳) رسول الله ﷺ قباء تقسيم كړې ، مخرمه ته ئې د عام تقسيم په وخت ورنكړې ، مخرمه خپل خوى مِسْوَر ته اوويل چه ما رسول الله ﷺ ته بوځه (كيدې شى ما ته هم څه راكړى) هغه بوتلو ، دوى خوى ته اوويل ته دننه لاړ شه او رسول الله ﷺ رااوغواړه ، مسور فرمائى :ما رسول الله ﷺ رااوبللو ، دوى رااووتلو او دوى سره په دغه قباء ګانو كښې يو قباء وه او مخرمه ته ئې اوفرمائل " ما دا قباء د ستا دپاره ساتلې وه "..... مسور وائى چه خما پلارمخرمه دا اوليدل **فقال: رضى مخرمة** پس وې فرمائل : مخرمه راضى شو ، د قال فاعل رسول الله ﷺ هم كيدې شى ، داودى هم دا اخستې دې خو د حافظ ابن حجر دا خيال دې چه ددې فاعل مخرمه دې ، يعنى مخرمه خپل نوم واخستو او وې ويل مخرمه راضى شو (۴)
د باب دويم روايت كښې دى چه د رسول الله ﷺ په خدمت كښې چا رينيىمى قباء په طور د تحفه رااوليږله ، دوى دا واغوستله ، ديكښې ئې مونځ اوكړو ، چه كله د مانځه نه فارغه شو نو دا ئې داسې په سختئ اوويستله او وې غورزوله چه ګويا دا ده ته سخته ناخوښه ده ،بيا ئې اوفرمائل دا د متقيانو دپاره مناسب نه ده
تر دغه وخته د رينىمى جامو د سړو دپاره د استعمال د حرمت حكم نه وو نازل شوې دې وجه نه دوى دا واغوسته خو دمانځه نه پس ددې د حرمت حكم د سړو دپاره نازل شو ، دې وجه نه دوى دا اوويستله او وې غورزوله - (۵) يا د حرمت د نزول نه وړاندې دوى ته په خپله دا ناخوښه شوه او د حرمت حكم روستو راغلو -
قوله: تابعه عبد الله بن يوسف.....: يعنى د قتيبه بن سعيد متابعت عبد الله بن يوسف كړيدې، دا متابعت امام بخارى رحمه الله په كتاب الصلاة كښې موصولا نقل كړيدې-(۶)

---

(۱) فتح البارى: ۱۰\۳۳۱ وفى معجم مقاييس اللغة: ۴\۴۹۹: الفروج: القباء،و سمى بذلک للفرجة التى فيه)
(۲) فتح البارى : ۱۰\۳۳۱)
(۳) الإصابة فى تمييز الصحابة : ۳\۳۹۰ ، ۳۹۱ (رقم الترجمة : ۷۸۴)
(۴)) فتح البارى : ۱۰\۳۳۲ ، و ارشاد السارى: ۱۲\۵۲۱)
(۵) فتح البارى: ۱۰\۳۳۲ ، و ارشاد السارى: ۱۲\۵۲۲)
(۶) كتاب الصلاة ، باب من صلى فى فروج حرير ثم نزعه (رقم الحديث : ۳۷۵)

قوله: وقال غيره: فَرّوج حرير: روايت د باب كنبي "فرّوج حرير" مركب اضافي دي ، فروج مضاف او حرير مضاف اليه دي او دي تعليق كنبي "فروج حرير" مركب توصيفي دي يعني فروج او حرير دواړه د تنوين سره دی -
دا تعليق امام احمد موصولاً نقل كړيدي - (١)

۱۲=بَاب الْبَرَانِس

وَقَالَ لِي مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ سَمِعْتُ أَبِي قَالَ رَأَيْتُ عَلَى أَنَسٍ بُرْنُسًا أَصْفَرَ مِنْ خَزٍّ
[۵۴۶۶] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَجُلًا قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا يَلْبَسُ الْمُحْرِمُ مِنْ الثِّيَابِ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَلْبَسُوا الْقُمُصَ وَلَا الْعَمَائِمَ وَلَا السَّرَاوِيلَاتِ وَلَا الْبَرَانِسَ وَلَا الْخِفَافَ إِلَّا أَحَدٌ لَا يَجِدُ النَّعْلَيْنِ فَلْيَلْبَسْ خُفَّيْنِ وَلْيَقْطَعْهُمَا أَسْفَلَ مِنْ الْكَعْبَيْنِ وَلَا تَلْبَسُوا مِنْ الثِّيَابِ شَيْئًا مَسَّهُ زَعْفَرَانٌ وَلَا الْوَرْسُ [ر: ۱۳۴]

برنس د يو خاص قسم قباء وی چه ديكښې ټوپۍ ورسره ګنډلې شوې وی ، خَز : غټو ريښمو ته وائی ، د مسدد تعليق ابن ابی شيبه موصولاً نقل كړيدي - (٢)
بعضې خلقو برنس اغوستو ته مكروه ويلې دی او فرمائی چه دا د راهبانو لباس دې (٣) د امام مالك رحمه الله نه ددې متعلق تپوس اوشو نو دوی اوويل : لا بأس به نو چا اعتراض اوكړو چه دا د نصاری لباس دې ، نو وې فرمائل : دلته هم دا خلق استعمالوی (٤) طبرانی د ابو قرصافه نه يو روايت رانقل كړيدې - دې فرمائی "كسانی رسول الله صلى الله عليه و سلم برنسا، فقال: ألبسه" (٥) خو ددې په سند كښې يو راوی مجهول دې - (٦)

۱۳=بَاب السَّرَاوِيلِ

[۵۴۶۷] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو عَنْ جَابِرِ بْنِ زَيْدٍ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ لَمْ يَجِدْ إِزَارًا فَلْيَلْبَسْ سَرَاوِيلَ وَمَنْ لَمْ يَجِدْ نَعْلَيْنِ فَلْيَلْبَسْ خُفَّيْنِ [ر: ۱۷۵۳]

---

١) فتح الباری : ۱۰\۳۳۳ ، و ارشاد الساری : ۱۲\۵۲۲)
٢) فتح الباری : ۱۰\۳۳٤)
٣) فتح الباری : ۱۰\۳۳٤ ، و ارشاد الساری : ۱۲\۵۲۳)
٤) فتح الباری : ۱۰\۳۳٤)
٥) مجمع الزوائد ، كتاب اللباس ، باب البرانس : ۵\۱۲۷)
٦) فتح الباری : ۱۰\۳۳٤ ، و مجمع الزوائد ، كتاب اللباس باب البرانس : ۵\۱۲۷)

[۵۷۶۸] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا جُوَيْرِيَةُ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَامَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا تَأْمُرُنَا أَنْ نَلْبَسَ إِذَا أَحْرَمْنَا قَالَ لَا تَلْبَسُوا الْقَمِيصَ وَالسَّرَاوِيلَ وَالْعَمَائِمَ وَالْبَرَانِسَ وَالْخِفَافَ إِلَّا أَنْ يَكُونَ رَجُلٌ لَيْسَ لَهُ نَعْلَانِ فَلْيَلْبَسْ الْخُفَّيْنِ أَسْفَلَ مِنْ الْكَعْبَيْنِ وَلَا تَلْبَسُوا شَيْئًا مِنْ الثِّيَابِ مَسَّهُ زَعْفَرَانٌ وَلَا وَرْسٌ [ر: ۱۳۴]

سراویل پرتوګ ته وائی ، د عهد نبوی په زمانه کښې د ازار (لنګ) اغوستو رواج وو ، خو د رسول الله ﷺ نه د سراویل اخستل ثابت دی (۱)

علامه ابن قیم رحمه الله فرمائی چه ظاهرهم دا ده چه دوی دا د اغوستو دپاره اخستې وو(۲)

طبرانی په" معجم اوسط " کښې د حضرت ابوهریره نه یو روایت رانقل کړیدې ، دې فرمائی " دخلت یوما السوق مع رسول الله صلی الله علیه و سلم فجلس إلی البزاز ، فاشتری سراویل بأربعة دراهم " یعنی څه د رسول الله ﷺ سره بازار ته لاړم ، نو دوی د یو بنجاری سره کښیناستل او د څلورو درهمو په بدل نې یو پرتوګ واخستو ، هم دې روایت کښې دی " یا رسول الله ! وإنك لتلبس السراويل ؟ قال : أجل ، في السفر و الحضر ، و الليل و النهار ، فإني أمرت بالتستر" یعنی اے د الله رسوله تاسو به پرتوګ اغوندئ ؟ حضور ﷺ اوفرمائل : آو په سفر کښې هم او په حضر کښې هم د شپې هم او د ورځې هم ځکه چه ما ته د بدن د پټولو حکم شویدې " خو دې روایت کښې یونس بن زیاد یو ضعیف راوی دې - (۳)

۱۴= بَاب الْعَمَائِمِ

[۵۷۶۹] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ سَمِعْتُ الزُّهْرِيَّ قَالَ أَخْبَرَنِي سَالِمٌ عَنْ أَبِيهِ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَلْبَسُ الْمُحْرِمُ الْقَمِيصَ وَلَا الْعِمَامَةَ وَلَا السَّرَاوِيلَ وَلَا الْبُرْنُسَ وَلَا ثَوْبًا مَسَّهُ زَعْفَرَانٌ وَلَا وَرْسٌ وَلَا الْخُفَّيْنِ إِلَّا لِمَنْ لَمْ يَجِدْ النَّعْلَيْنِ فَإِنْ لَمْ يَجِدْهُمَا فَلْيَقْطَعْهُمَا أَسْفَلَ مِنْ الْكَعْبَيْنِ [ر: ۱۳۴]

عمائم د عمامة جمع ده ، عمامه (د عین په کسره) پټکی ته وائی ، د شمائل ترمذی بعضې شارحانو د عین په فتح سره د دې ضبط کړیدې ، خو دا غلط دې - (۴)

د رسول الله ﷺ نه او د اصحابو کرامو نه د عمامې استعمال نقل دې -

صحیح بخاری ، کتاب الوضوء کښې د جعفر بن عمرو په طریق سره روایت تیر شویدې " رأیت النبی ﷺ یمسح علی عمامته و خفیه " (۵)

---

۱) فتح الباری : ۱۰\۳۳۵)

۲) فتح الباری : ۱۰\۳۳۵ ، و زاد المعاد ، فصل فی ذکر سراویله : ۱\۱۳۹)

۳) مجمع الزوائد ، کتاب اللباس ، باب فی السراویل : ۵\۱۲۲)

۴) القاموس المحیط : ۴\۱۵۴ ، تاج العروس : ۸\۴۱۰)

۵)) أخرجه البخاری فی کتاب الوضوء ، باب المسح علی الخفین (رقم الحدیث : ۲۰۵)

دا رنګه په صحيح مسلم کښې د مغيره بن شعبه روايت دې " توضأ النبي ﷺ و مسح على الخفين والعمامة " [1]

د پټکي فضيلت : طبراني په معجم کبير کښې او امام بيهقي په شعب الايمان کښې يو مرفوع روايت رانقل کړيدې چه رسول الله ﷺ فرمائلي دی " اعتموا تزدادوا حلما " يعنی پټکی وهئ نود ستاسو وقار کښې به زياتی راځی [2] اګر چه امام حاکم ددې حديث تصحيح کړيده [3] خو امام بخاری وغيره دا ضعيف ګرځولی دې [4] خو چه ددې نور شواهد هم شته ، دې وجه نه دا حديث حسن لغيره په درجه کښې راځی - [5]

څه خلق وائی چه پټکې سنت نه دې ، بلکه دا د عربو عادت وو ، خو دا صحيح نه ده ، حضرت عبد الله بن عمر ﷺ يو روايت کښې ددې د سنت کيدو تصريح ده ، يو سړې راغلو او دوی نه ئې تپوس اوکړو :" يا أبا عبد الرحمان : العمامة سنة ؟ فقال : نعم " [6]

او که پټکې د عربو عادت هم شی نو بيا هم چه کوم عادت رسول الله ﷺ خپل کړې وی ، هغه سنت جوړيږی ، خو ديته به سنت عاديه وائی نه دا چه سنت عباديه

د پټکي مقدار : ملاعلی قاری رحمه الله د امام نووی په حواله سره ليکلي دی چه د رسول الله ﷺ دوه پټکی وو ، يو وړوکې او بل غټ وو ، د وړوکې مقدار اووه ذراع او د لوې مقدار دولس ذراع وو [7]

علامه انور شاه کشميری رحمه الله فرمائی چه د رسول الله ﷺ د پټکي مقدار عموما درې شرعی ګزه وو ، په مونځونو کښې به ئې اووه ذراع او په جمعه او په اخترونو کښې به ئې دولس ذراع وو - [8]

خو دې سلسله کښې څه صحيح حديث ثابت نه دې ، دې وجه نه علامه سيوطی رحمه الله فرمائلي دی " وأما مقدار العمامة الشريفة ، فلم يثبت في حديث " [9]

---

[1]) أخرجه مسلم فی کتاب الطهارة ، باب المسح على الناصية و العمامة (رقم الحديث : ٢٧٣)
[2]) أخرجه الطبرانی فی الکبير ، باب ما جاء فی لبس العمائم و غير ذلک : ١ \ ١٩٤ (رقم الحديث : ٥١٦) و البيهقی فی شعب الايمان ، باب الملابس و الأوانی ، فضل فی العمائم : ٥ \ ١٧٣ (رقم الحديث ک ٦٣٦٠)
[3]) فتح الباری : ١٠ \ ٣٣٥)
[4]) فتح الباری : ١٠ \ ٣٣٥)
[5]) اخرجه ابوداود فی کتاب اللباس ، باب فی العمائم ، (رقم الحديث : ٤٠٧٨) و اخرجه الترمذی فی کتاب اللباس ، باب العمائم على القلانس : ٤ \ ٢٤٧ (رقم الحديث : ١٧٨٤)
[6]) عمدة القاری : ٢١ \ ٣٠٧)
[7]) .مرقاة المفاتيح ، کتاب اللباس ، الفصل الثانی : ٨ ذ ٢٥٠)
[8]) العرف الشذی على جامع الترمی للعلامة السيد محمد أنور شاه الکشميری ، کتاب اللباس ، باب فی العمائم : ١ \ ٣٠٤)
[9]) الحاوی للفتاوی : ١ \ ٧٣)

دې وجه نه دې سلسله کښې د خلقو د عرف او د عادت اعتبار کول پکار دی ، د حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه به فرمائل : " ما رآه المسلمون حسنا فهو عند الله حسن " (١)

د شملې تعداد او مقدار : په روايتونو کښې د پټکی د يوې شملې هم ذکر شته او د دوو هم ، د عمرو بن حريث په روايت کښې دی " كأنى أنظر إلى رسول الله صلى الله عليه و سلم على المنبر، وعليه عمامة سوداء ، وقد أرخى طرفيها بين كتفيه ، وفي رواية قد أرخى طرفها بين كتفيه " (٢) يعنى هغه منظر خما د سترګو وړاندې دې چه رسول الله ﷺ په منبر تشريف فرما وو او تور پټکې ئې اغوستې وو د دې دواړه شملې د اوږو په مينځ کښې زوړندې وې او په يو روايت کښې دی " چه د دې يو شمله د اوږو په مينځ کښې حضور ﷺ زوړنده کړې وه " -

اکثرو روايتونو کښې د شملې د زوړنديدو متعلق د " بين كتفيه " الفاظ راغلې دی ، په بعضې روايتونو کښې د يو شملې وړاندې طرف ته او د دويمې شا ته د زوړنديدو ذکر دې ، او يو ضعيف روايت کښې ښى طرف ته هم د زوړنديدو ذکر شته (٣)

خو د عمرو بن حريث روايت دې باره کښې زيات صحيح دې ، ځکه چه د اوږو مينځ کښې زوړندول نسبتاً افضل دې -

د شملې مقدار څومره پکار دې؟ : د دې باره کښې د يو ذراع او د يو ليشتې او د څلورو ګوتو (سپق) په قدر سره مختلف اقوال دی (٤) خو راجح يوويشت والا قول دې، او د ليشت والا روايت تخريج ابن سعد د محمد بن الحنفيه د ترجمه لاندې کړيدې ، الطبقات لابن سعد : ٥ \ ١١٤ دارنګه د څلورو ګوتو والا روايت تخريج بيهقى په شعب الايمان کښې کړيدې شعب الايمان باب فى الملابس والاوانى فصل فى العمائم : ٥ \ ١٧٤ ، (رقم الحديث : ٦٢٥٤)

خو راجع د يو ذراع والا اقوال دی ځکه چه امام بيهقى په شعب الايمان کښې د اسماعيل بن عياش په طريق سره د واثله بن الاسقع په باره کښې نقل کړيدی "...... قد أرخى عمامته من خلفه ذراعا " (٥)

---

(١) المستدرك للحاكم ، كتاب معرفة الصحابة ، باب يتجلى الله لعباده عامة و لأبى بكر خاصة : ٣ \ ٧٨)

(٢) شعب الايمان للبيهقى ، باب فى الملابس و لأوانى ، فصل فى العمائم (رقم الحديث : ٦٢٤٨) ٥ \ ١٧٣)

(٣) أخرجه أبوداود فى كتاب اللباس ، باب فى العمائم : ٤ \ ٥٥ (رقم الحديث : ٤٠٧٩) ولفظه : عمّنى رسول الله صلى الله عليه و سلم فسدلها بين يد يو من خلفى ، و أخرجه ابن أبى شيبة فى المصنف ، كتاب اللباس و الزينة ، باب فى العمائم السود : ٥ \ ١٧٨ ، (رقم الحديث : ٢٤٩٤٩) و أخرجه أيضا فى كتاب اللباس و الزينة ، باب فى إرخاء العمامة بين كتفين : ٥ \ ١٨٠ (رقم الحديث : ٢٤٩٦٧) و ذكر الهيثمى المجمع : كان رسول الله صلى الله عليه و سلم لايولى واليًا حتى يعمّه و يرخى لها من جانب الأيمن نحو الأذن " وقال : " رواه الطبرانى وفيه جميع بن ثقت و هو متروك " ٥ \ ١٢٠)

(٤) د ذراع د روايت تخريج ابن ابى شيبه كړې دې اوګورئ مصنف بن ابى شيبه و كتاب اللباس و الزينة ، باب فى العمائم السود : ٥ \ ١٧٨ ، (رقم الحديث : ٢٤٩٤٦)

(٥) اخرجه البيهقى فى شعب الايمان ، باب فى الملابس و الاوانى ، فصل فى العمائم : ٥ \ ١٧٤ (رقم الحديث : ٦٢٥٥)

خو شمله دومره اوږدول نه دي پکاره چه دا د نيمې ملا نه هم واوړی ([1]) دملا د نيمې نه چه شمله واوړی نو دا به د اسبال په حکم کښې وی ، اسبال چه څنګه په لنګ او په قميص کښې ممنوع دې ، دارنګه عمامه کښې هم ممنوع دې ، مرفوع حديث دې " الإسبالُ في الإزار و القميص و العمامة ، من جرّ منها شيئا خيلاء لم ينظر الله إليه يوم القيامة " ([2]) حضرت شيخ عبد الحق محدث دهلوی فرمائی چه عمامه کښې اسبال دا دې چه دا د عادته زياته زوړنده کړې شی او د عادت آخری حد د ملا نيمه ده ، په دې زياتې کول په بدعت او په ممنوع اسبال کښې داخل دی - ([3])

دپټکی رنګ : د رسول الله ﷺ نه د تور ، سپين ، زيړ او د سور رنګ د پټکو ثبوت په روايتونو کښې ملاويږی ([4])

العمامة الصفراء : أخرجه ابوداود فی کتاب اللباس ، باب فی المصبوغ بالصفرة (رقم الحديث : ۴۰۶۴) وأخرجه الحاکم فی المستدرک فی کتاب اللباس ، باب غسل يوم الجمعة و مس الطيب فيه : ۴\۱۸۹ -

العمامة البيضاء : أخرجه الحاکم فی المستدرک فی کتاب الفتن ، باب تعميم النبی ﷺ لعبد الرحمان بن عوف : ۴\۵۴۰ _

العمامة الحمراء : أخرجه أبوداود فی کتاب الطهارة ، باب المسح علی العمامة (رقم الحديث : ۱۴۷) ۱\۳۷

په تور او سپين رنګ کښې خو هيڅ اختلاف نشته دې ، خو د سرو دپاره د زيړ رنګ او د سور رنګ د لباس استعمال چه په بعض روايتونو کښې ممانعت راغلی دې ، نو دې وجه نه ديکښې اختلاف دې ، خو د اکثرو عالمانو قول د جواز دې او چه په کومو روايتونو کښې نهی راغلې ده ، دغه راويتونو لره دا حضرات په اصفر فاقع (په ډير زيړ) او په احمر حاقانی (په ډير سور) محمولوی - ([5])

تر کومې چه د شين رنګ د پټکی د استعمالولو تعلق دې نو په څه صحيح روايت سره دا رنګ ثابت نه دې -

علامه کتانی رحمه الله فرمائی د شين رنګ پټکی متعلق خلق عموما تپوس کوی خو

---

[1]) أشعة اللمعات شرح مشكاة ، كتاب اللباس ، الفصل الثانی : ۳\۵۴۴ - ۵۴۵)

[2]) سنن ابی داود ، كتاب اللباس ، باب فی قدر موضع الازار . (رقم الحديث : ۴۰۹۴) ۴\۶۰)

[3]) أشعة اللمعات ، كتاب اللباس ، الفصل الثانی : ۳\۵۴۴ - ۵۴۵)

[4]) عمامته سوداء : أخرجه مسلم فی كتاب الحج ، باب جواز دخول مكة بغير إحرام . (رقم الحديث : ۱۳۵۸) و أبوداود فی كتاب اللباس ، باب فی العمائم (رقم الحديث : ۴۰۷۶) و أخرجه الترمذی فی كتاب اللباس ، باب ما جاء فی العمامة السوداء (رقم الحديث : ۱۷۳۵) و النسايی فی لامجتبی : ۲\۲۹۹ كتاب الزينة ، باب لبس العمائم السود ، و أخرجه ابن ماجه فی الجهاد ، باب لبس العمائم فی الحرب (رقم الحديث : ۲۸۲۲)

[5]) ددې تفصيل وړاندې باب الثياب الاحمر لاندې را روان دې)

علامه خفاجی په شرح د شفاء کښې چه کوم تفصيل نقل کړيدې ، دينه معلوميږی چه رسول الله ﷺ د شين رنګ پټکې نه دې په سر کړې - (۱)

علامه سيوطی رحمه الله په الحاوی للفتاوی کښې د ساداتو په تذکره کښې ليکی :

هم يلبسون العمامة الخضراء ، و الجواب أن هذه العمامة ليس لها أصل فی الشرع ، ولا فی السنة ، و لا كانت فی الزمن القديم ، وإنما حدثت فی سنة ثلاث و سبعين و سبعمائة بأمر الملك الأشرف يعنی شعبان بن حسين (۲)

يعنی سيدان شين رنګ پټکی په طور د علامت او د امتياز استعمالوی خو په شريعت کښې او په سنت کښې ددې څه اصل نشته دې ، دا رنګ په سن ۷۷۳ هجرئ کښې شعبان بن حسين نومې باچا په حکم سره رائج شو -

دارنګه ابن حجر هيثمی هم په خپله فتاوی کښې ليکلې دی : وأما العمامة الخضراء ، فلا أصل لها ، وإنما حدثت سنة ثلاث و سبعين و سبعمائة بأمر الملك شعبان بن حسين (۳)

خو حضراتو اصحابو ﷺ د مختلف رنګونو پټکی استعمال کړيدی ، د مصنف ابن ابی شيبه په يو روايت کښې په دې رنګونو کښې د شين رنګ هم ذکر شته - (۴)

شارح د بخاری ابن بطال رحمه الله فرمائی : شنې جامې د جنتيانو لباس دې " الثياب الخضر من لباس أهل الجنة ، قال تعالى : (ويلبسون ثيابا خضرا من سندس و استبرق) (۵)

دارنګه طبرانی او بيهقی د حضرت انس ﷺ نه روايت نقل کړيدې " أن النبی ﷺ كان يحب أو قال كان أحبُّ الألوان إلى رسول الله صلى الله عليه و سلم الخضرة " (۶)

دې وجه نه که څوك شين رنګ استعمال بغير د دينه چه په نورو رنګونو ورته ترجيح ورکوی نو دا جائز دې -

خو که څوك دا خپل امتيازی علامت او شعار جوړوی او په نورو رنګونو ورته ترجيح او فوقيت ورکوی ، نو داسې صورت کښې ددې استعمال ته به بدعت ويلې کيږی ځکه چه د يو مباح او د مستحب څيز التزام بدعت او قابل د پريخودو دې - (۷)

---

۱) الدعامة ص : ۹۵ ، شرح الشفاء للخفاجی : ۲\۳۷۱)

۲) الحاوی للفتاوی : ۱\۳۳)

۳)) الفتاوی الحديثية : ۲۲۵)

۴) أخرجه ابن ابی شيبة فی مصنفه ، كتاب اللباس و الزينة ، باب فی العمائم السود : ۵\۱۷۹)

۵) شرح صحيح البخاری لابن البطال : ۹\۱۰۲)

۶) رواه البيهقی فی شعب الايمان ، باب فی الملابس و الاوانی و فصل فی الوان الثياب (رقم الحديث : ۶۳۲۸) ۵\۱۹۳ ، ذكر الهيثمی فی المجمع و قال : رواه الطبرانی فی الاوسط ، مجمع الزوائد : ۵\۱۲۹) (رسول الله صلى الله عليه و سلم ته شين رنګ په ټولو کښې زيات خوښ وو -)

۷) الإصرار على المندوب يبلغه إلى حد الكراهية السعاية ، كتاب الصلوة ، باب صفة الصلاة ، فصل فی القراءة : ۲\۲۲۵)

امام بخاری رحمه الله په باب کښې چه کوم حدیث ذکر کړیدې ، دیکښې دې چه محرم به عمامه نه په سروی ..... د عمامه په سرولو متعلق امام څه حدیث نه دې ذکر کړې شاید دې باره کښې دوی ته د خپل شرط مطابق څه روایت نه دې ملاو شوې ، علامه قسطلانی رحمه الله لیکی : ولم یذکر البخاری فی العمامة شیئا ، ولعله لم یثبت عنده شیء علی شرطه فیها (۱)
بهر حال عمامه توره یا سپینه پکار ده ، او دا دې د ټوپۍ دپاسه اووهی ، د ټوپۍ په ارخونو دې نه وهی بلکه چه په مینځ کېښې هم یو ول وی ، او چه ددې شمله د اوږو په مینځ کښې وی یا ښي طرف یا ګس طرف ته وی او چه شمله د یو ذراع نه زیاته نه وی ، او چه دا مسنون اوګنړی او په سر ئې کړی نو انشاء الله د سنتو ثواب به ورته حاصل شی -

۱۵=بَابُ التَّقَنُّعِ

وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهِ عِصَابَةٌ دَسْمَاءُ [ر:۳۵۸۹]
وَقَالَ أَنَسٌ عَصَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى رَأْسِهِ حَاشِيَةَ بُرْدٍ [ر:۳۵۸۸]

[۵۴۷۰] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا هِشَامٌ عَنْ مَعْمَرٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ هَاجَرَ نَاسٌ إِلَى الْحَبَشَةِ مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَتَجَهَّزَ أَبُو بَكْرٍ مُهَاجِرًا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى رِسْلِكَ فَإِنِّي أَرْجُو أَنْ يُؤْذَنَ لِي فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ أَوَتَرْجُوهُ بِأَبِي أَنْتَ قَالَ نَعَمْ فَحَبَسَ أَبُو بَكْرٍ نَفْسَهُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِصُحْبَتِهِ وَعَلَفَ رَاحِلَتَيْنِ كَانَتَا عِنْدَهُ وَرَقَ السَّمُرِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ قَالَ عُرْوَةُ قَالَتْ عَائِشَةُ فَبَيْنَا نَحْنُ يَوْمًا جُلُوسٌ فِي بَيْتِنَا فِي نَحْرِ الظَّهِيرَةِ فَقَالَ قَائِلٌ لِأَبِي بَكْرٍ هَذَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُقْبِلًا مُتَقَنِّعًا فِي سَاعَةٍ لَمْ يَكُنْ يَأْتِينَا فِيهَا قَالَ أَبُو بَكْرٍ فِدًا لَكَ أَبِي وَأُمِّي وَاللَّهِ إِنْ جَاءَ بِهِ فِي هَذِهِ السَّاعَةِ إِلَّا لِأَمْرٍ فَجَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَأْذَنَ فَأَذِنَ لَهُ فَدَخَلَ فَقَالَ حِينَ دَخَلَ لِأَبِي بَكْرٍ أَخْرِجْ مَنْ عِنْدَكَ قَالَ إِنَّمَا هُمْ أَهْلُكَ بِأَبِي أَنْتَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ فَإِنِّي قَدْ أُذِنَ لِي فِي الْخُرُوجِ قَالَ فَالصُّحْبَةُ بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَخُذْ بِأَبِي أَنْتَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِحْدَى رَاحِلَتَيَّ هَاتَيْنِ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالثَّمَنِ قَالَتْ فَجَهَّزْنَاهُمَا أَحَثَّ الْجِهَازِ وَضَعْنَا لَهُمَا سُفْرَةً فِي جِرَابٍ فَقَطَعَتْ أَسْمَاءُ بِنْتُ أَبِي بَكْرٍ قِطْعَةً مِنْ نِطَاقِهَا فَأَوْكَأَتْ بِهِ الْجِرَابَ وَلِذَلِكَ كَانَتْ تُسَمَّى ذَاتَ النِّطَاقِ ثُمَّ لَحِقَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُو بَكْرٍ بِغَارٍ فِي جَبَلٍ يُقَالُ لَهُ ثَوْرٌ فَمَكُثَ فِيهِ ثَلَاثَ لَيَالٍ يَبِيتُ عِنْدَهُمَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ وَهُوَ غُلَامٌ شَابٌّ لَقِنٌ ثَقِفٌ فَيَرْحَلُ مِنْ عِنْدِهِمَا سَحَرًا فَيُصْبِحُ مَعَ قُرَيْشٍ بِمَكَّةَ كَبَائِتٍ فَلَا يَسْمَعُ أَمْرًا يُكَادَانِ بِهِ إِلَّا وَعَاهُ حَتَّى يَأْتِيَهُمَا بِخَبَرِ ذَلِكَ حِينَ يَخْتَلِطُ الظَّلَامُ وَيَرْعَى عَلَيْهِمَا عَامِرُ بْنُ فُهَيْرَةَ مَوْلَى أَبِي بَكْرٍ مِنْحَةً مِنْ غَنَمٍ فَيُرِيحُهَا عَلَيْهِمَا حِينَ

۱) فتح الباری : ۱۰\۳۳۵ درانګه اوګورئ عمدة القاری : ۲۱\۳۰۷)

تَذْهَبُ سَاعَةٌ مِنَ الْعِشَاءِ فَيَبِيتَانِ فِي رِسْلِهِمَا حَتَّى يَنْعِقَ بِهَا عَامِرُ بْنُ فُهَيْرَةَ بِغَلَسٍ يَفْعَلُ ذَلِكَ كُلَّ لَيْلَةٍ مِنْ تِلْكَ اللَّيَالِي الثَّلَاثِ [ر:۳۶۲]

د تَقَنُّع معنى سر او مخ پټول دى ، امام بخارى رحمه الله دې باب کښې په څه جامه يا په خادر وغيره سره د سر د پټولو جواز بيانول غواړى :

قوله: وقال ابن عباس : خرج النبى صلى الله عليه وسلم عصابة دَسْماء:
رسول الله ﷺ د کور نه رااووتلو او د دوى په سر باندې توره ټکره د جامو وه د دسْماء معنى توره ده ، دا تعليق باب مناقب الانصار کښې موصولا تير شويدې - (۱)

قوله: وقال أنس : عصب النبى صلى الله عليه وسلم على رأسه حاشية بُرد :
حضرت انس فرمائى چه رسول الله ﷺ په خپل سر مبارک باندې د څادر يو طرف تړلې وو - بهرحال يو خو پټکې وى چه کوم په سر تړلې کيږى خو ډير کرتې څه ټکړا يا څه څادر په سر او د مخ په څه حصه باندې د ګرمۍ يا د يخنۍ نه د بچ کيدو يا د څه بل مقصد دپاره اچولې کيږى يا پرې تړلې کيږى ، د امام بخارى رحمه الله مقصد دا دې چه سنت کښې ددې اصل شته او داسې کول جائز دى -

قوله: حدثنا ابراهيم بن موسى ......: دا حديث په تفصيل سره "کتاب مناقب الأنصار ، باب هجرة النبى ﷺ کښې تير شويدې - د حديث مناسبت ترجمة الباب سره واضح دې ، حديث کښې دى :" هذا رسول الله صلى الله عليه وسلم مقبلاً ، متقنعاً ، فى ساعة لم يكن يأتينا فيها " يعنى رسول الله ﷺ تشريف راوړلو داسې حال کښې چه د دوى سر پټ وو په داسې وخت کښې چه ديکښې د دوى د راتلو عادت مبارک نه وو -

دلته ددې حديث څو جملې ملاحظه کړئ : على رِسلك : اودريږه ، ايسار شئ ، وَعَلَفَ راحلتين كانتا عنده وَرَقَ السَّمُر أربعة أشهر : حضرت صديق اکبر ﷛ خپلو دوه سورلو (څناورو) ته څلورو مياشتو پورې خوراک ورکولو د سفر دپاره ئې تيارول ده دغه دوه اوښې څربول غوښتل-

قوله: قال أبوبكر : فِدًا له بأبى وأمى ، والله إن جاء به فى هذه الساعة لأمرٌ :
حضرت صديق اکبر ﷛ اوفرمائل چه څما مور پلار دې په تا قربان وى والله تاسو دې وخت کښې د څه لوى کار په وجه تشريف راوړو - فدا له : دا د مفعول مطلق کيدو په وجه منصوب دې أى أفديه فدا له څه خپل مورپلار په دوى قربان کړم ، څما مور پلار دې په دوى قربان وى

قوله: قالت : فجهّزناهما أحث الجهاز ، وصنعنا لهما سُفرةً فى جراب: حضرت عائشه ﷝ فرمائى چه مونږ د دواړو دپاره په تنډئ تنډئ سامان د سفر تيار کړو او د صبا نارى

(۱) اخرجه البخارى فى مناقب الانصار ، باب قول النبى صلى الله عليه وسلم : اقبلوا من محسنهم و تجاوزوا عن مُسيئهم (رقم الحديث : ۳۸۰۰)

خوراك مو ورته تيار كړو او د څرمني په يو تيلئ كښې مو ورته كيخوده - الجَهاز (د جيم په فتحه سره) : أسرع الجهاز : يعنى په تُندئ سره مو تياري اوكړو

سُفرة : دسترخوان ته وائى ، جراب : د څرمنى گوتئ ته وائى ، أوكَت به الجراب : حضرت اسماء رضي الله عنها د خپل نطاق (كمر بند چه دې سره خلق ملا هم تړی او گيډې وغيره هم) څه ټكړه اوشلوله او دا گوتئ ئې پرې اوتړله ، د أوكَى معنى د تړلو ده

قوله: وهو غلام شاب لقن ثقف: لقن : ذهين ، ذكى - ثقف : ذهين او ماهر مهذب . يعنى عبد الله بن ابى بكر يو ذهين زلموټې هلك وو ، دې به غار ثور ته تلو د حضور اكرم ﷺ او د حضرت ابو بكر سره به ئې شپه تيروله ، او سحر كيدو سره به د دغه ځائې نه روانيدلو ، او د سحر په وخت به قريشو كښې به داسې موجود وو چه گويا ده هم دوى سره شپه تيره كړله -

قوله: فلا يسمع أمرا يكادان به إلا وعاه: چه ده به هلته داسې څه خبره اوريدله چه د هغې په ذريعه د حضور اكرم ﷺ او د ابو بكر رضي الله عنه سره به پرې دهوكه كيدله نو ده به دا ياد ساتله ، يُكَادانِ : كاد يكيد كيدا نه د مضارع مجهول تثنيه صيغه ده چه د دې معنى د كيد كولو اود دهوكه كولو ده، تركيب كښې "يكادان به" د " اثرا " صفت دې يعنى داسې معامله چه د هغې په ذريعه دې دواړو سره دهوكه او فريب كيدې شى - يكادان به أى يمكران به-

قوله: حتى يأتيهما بخبر ذلك حين يختلط الظلام: يعنى عبدالله بن ابى بكر به دا خبر رسول الله ﷺ او حضرت صديق اكبر رضي الله عنه ته رارسولو چه كله به تياره خوره شوه يعنى د شپې په وخت - مِنحَة (د ميم په كسره او نون په سكون سره) د پيو والا بكرئ ته ويلې كيږى چه كومه عاريةً وركړې كيږى او د پيو ختميدو نه پس واپس كړې كيږى : فيُريحُها عليهما : عامر بن فهيره به د شپې په وخت دغه بكرئ دواړو ته حاضرولې -يُريح راحة : د مابنام په وخت څاروى راوستل ، فيبيتان فى رسلها : دواړو (حضور ﷺ او حضرت صديق اكبر رضي الله عنه) به پئې اوڅكل او شپه به ئې تيره كړه ، رِسل : پئې ، رِسلها أى لبن المنحة : رِسلها كښې ضمير مجرور منحة ته راجع دې :حتى ينعِقَ بها عامر بنُ فهيرة بغلَس : نعق د باب د فتح نه دې نعق بالغنم : بكرئ شړل ، غلس : سَحر وختى ته وائى هغه وخت چه د شپې تياره لا برقرار وى يعنى عامر بن فهيره به سحر وختى دغه بكرئ ته اواز اوكړو او دا به ئې بوتلې

١٦= بَاب الْمِغْفَرِ

[٥٤٧١] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ مَكَّةَ عَامَ الْفَتْحِ وَعَلَى رَأْسِهِ الْمِغْفَرُ [ر: ١٧٤٩]

مِغْفر (د میم په کسره او د غین په سکون او د فاء په فتحه سره) خود ته وائی : خود د اوسپني ټوپئ وی چه میدان جنګ کښې د سر د حفاظت دپاره په سر کیږی ، رسول الله ﷺ خود استعمال کړیدې ، د زرې او د خود استعمال خلاف د توکل نه دې ، د خپل حفاظت انتظام د خپل وَس مطابق کول پکار دی -

روایت دباب کښې دی "أن النبی ﷺ دخل عام الفتح وعلی رأسه المغفر" او د حضرت جابر په روایت کښې دی "إنه دخل وعلی رأسه عمامة سوداء"[1] د دواړو په مینځ کښې تطبیق ورکولو دپاره علامه قسطلانی رحمه الله لیکی :

"وجمع بینهما باحتمال أن أحدهما کان فوق الآخر أو دخل أولا وعلیه المغفر، ثم نزعه ولبس العمامة السوداء فی بقیة دخوله"[2]

یعنی عمامه او خود دواړه ئې په سر وو یو د بل دپاسه وو او دا هم ممکن ده چه شروع کښې ئې په سر خود وو ، بیا ئې خود کوز کړو او پټکي ئې په سر کړو ، په شروع د داخلیدو کښې خود وو او په انتهاء کښې عمامه وه

١٧= بَاب الْبُرُودِ وَالْحِبَرَةِ وَالشَّمْلَةِ

وَقَالَ خَبَّابٌ شَكَوْنَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُتَوَسِّدٌ بُرْدَةً لَهُ [ر:٣٦٣٩]

[٥٤٧٢] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كُنْتُ أَمْشِي مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهِ بُرْدٌ نَجْرَانِيٌّ غَلِيظُ الْحَاشِيَةِ فَأَدْرَكَهُ أَعْرَابِيٌّ فَجَبَذَهُ بِرِدَائِهِ جَبْذَةً شَدِيدَةً حَتَّى نَظَرْتُ إِلَى صَفْحَةِ عَاتِقِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أَثَّرَتْ بِهَا حَاشِيَةُ الْبُرْدِ مِنْ شِدَّةِ جَبْذَتِهِ ثُمَّ قَالَ يَا مُحَمَّدُ مُرْ لِي مِنْ مَالِ اللَّهِ الَّذِي عِنْدَكَ فَالْتَفَتَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ ضَحِكَ ثُمَّ أَمَرَ لَهُ بِعَطَاءٍ [ر:٢٩٨٠]

[٥٤٧٣] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ جَاءَتْ امْرَأَةٌ بِبُرْدَةٍ قَالَ سَهْلٌ هَلْ تَدْرِي مَا الْبُرْدَةُ قَالَ نَعَمْ هِيَ الشَّمْلَةُ مَنْسُوجٌ فِي حَاشِيَتِهَا قَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي نَسَجْتُ هَذِهِ بِيَدِي أَكْسُوكَهَا فَأَخَذَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُحْتَاجًا إِلَيْهَا فَخَرَجَ إِلَيْنَا وَإِنَّهَا لَإِزَارُهُ فَجَسَّهَا رَجُلٌ مِنْ الْقَوْمِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ اكْسُنِيهَا قَالَ نَعَمْ فَجَلَسَ مَا شَاءَ اللَّهُ فِي الْمَجْلِسِ ثُمَّ رَجَعَ فَطَوَاهَا ثُمَّ أَرْسَلَ بِهَا

---

[1] سنن أبی داود ، کتاب اللباس ، باب فی العمائم : ٤ \ ٥٤ (رقم الحدیث : ٤٠٧٦) ، شعب اللإیمان للبیهقی ، باب فی الملابس و الأوانی ، فصل فی العمائم : ٥ \ ١٧٣ (رقم الحدیث : ٦٢٤٦) و ذکره الترمذی فی کتاب اللباس ، باب ما جاء فی العمامة السوداء : ٤ \ ٢٢٥ (رقم الحدیث : ١٧٣٥)

[2]) ارشاد الساری : ١٢ \ ٥٢٩)

إِلَيْهِ فَقَالَ لَهُ الْقَوْمُ مَا أَحْسَنْتَ سَأَلْتَهَا إِيَّاهُ وَقَدْ عَرَفْتَ أَنَّهُ لَا يَرُدُّ سَائِلًا فَقَالَ الرَّجُلُ وَاللَّهِ مَا سَأَلْتُهَا إِلَّا لِتَكُونَ كَفَنِي يَوْمَ أَمُوتُ قَالَ سَهْلٌ فَكَانَتْ كَفَنَهُ [ر:١٢١٨]

[٥٤٧٣] (١) حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ حَدَّثَنِي سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي زُمْرَةٌ هِيَ سَبْعُونَ أَلْفًا تُضِيءُ وُجُوهُهُمْ إِضَاءَةَ الْقَمَرِ فَقَامَ عُكَّاشَةُ بْنُ مِحْصَنٍ الْأَسَدِيُّ يَرْفَعُ نَمِرَةً عَلَيْهِ قَالَ ادْعُ اللَّهَ لِي يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ فَقَالَ اللَّهُمَّ اجْعَلْهُ مِنْهُمْ ثُمَّ قَامَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ سَبَقَكَ عُكَّاشَةُ [ر:٦١٧٦]

[٥٤٧٥\٥٤٧٦] (٢) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَاصِمٍ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ قُلْتُ لَهُ أَيُّ الثِّيَابِ كَانَ أَحَبَّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَلْبَسَهَا قَالَ الْحِبَرَةُ

[٥٤٧٦] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي الْأَسْوَدِ حَدَّثَنَا مُعَاذٌ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ أَحَبُّ الثِّيَابِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَلْبَسَهَا الْحِبَرَةَ

[٥٤٧٧] (٣) حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ تُوُفِّيَ سُجِّيَ بِبُرْدٍ حِبَرَةٍ

برود : د بُرْد (د باء د ضمه او د راء د سکون سره) جمع ده څادر ته وائی ـ

حبرة په وزن د عِنَبَة (د حاء د کسره او د باء د فتحه سره) یمنی څادر ته وائی ، شملة هم څادر ته وائی ـ

د باب تر لاندې امام بخاری رحمه الله شپږ احادیث ذکر کړیدی ، او په دې ټولو کښې د څادر ذکر دې -

ړومبی روایت کښې "وعلیه بُردٌ نجرانی" دویم روایت کښې دی "جاءت امرأة ببُردة" هم دې روایت

---

(١) الحديث أخرجه البخارى أيضا فى كتاب الرقاق ، باب يدخل الجنة سبعون ألفا بغير حساب (رقم الحديث : ٧١٧٦) و أخرجه مسلم فى الإيمان ، باب الدليل على دخول طوائف من المسلمين الجنة بغير حساب : ١\١٩٨ (رقم الحديث : ٢١٦)

(٢) الحديث أخرجه مسلم فى كتاب اللباس و الزينة ، باب فضل لباس الحبرة : ٣\١٦٥٣ (رقم الحديث ٢٠٧٩) و أخرجه أبوداود فى كتاب اللباس ، باب فى لبس الحبرة : ٤\٦٥١ (رقم الحديث ٤٠٦٠)

(٣) الحديث أخرجه مسلم فى الجنائز ، باب تسجية الميت : ٢\٦٥١ (رقم الحديث : ٩٤٢) و أخرجه أبوداود فى الجنائز ، باب فى الميت يُسجى : ٣\١٩١ (رقم الحديث : ٣١٢٠) و أخرجه النسائى فى كتاب الوفاة ، باب ذكر ماسُجى به رسول الله صلى الله عليه و سلم : ٤\٢٦٢ (رقم الحديث : ٧١١٣)

کښې يو لفظ دې فَجَسَّهَا.... چه د هغې معنی د لاس لګولو ده أی مسّها بیده

دریم روایت کښې دی " فقام عكاشة بن محصن الأسدي يرفع نمرة عليه " نَمِرَة (د نون د فتحه او د میم د سکون سره) هغه څادر چه هغې کښې مختلفې کرخې وی

څلورم او پنځم روایت کښې د حبرة ذکر دې او د باب په آخری حدیث کښې حضرت عائشه - رضي الله عنها فرمائی أن رسول الله صلى الله عليه و سلم حين توفي سُجّي ببُرد حبرة " یعنی رسول الله ﷺ چه کله وفات شو نو دغه وخت دوی ﷺ په یمنی څادر کښې پټ کړې شوې وو ، سُجّيَ د مجهول صیغه ده أی غُطّيَ یعنی پټ کړې شو ، بُرد موصوف او حِبَرَة صفت دې ، بُردِ حِبَرَة مرکب توصیفی دې ـ

۱۸=بَابُ الْأَكْسِيَةِ وَالْخَمَائِصِ

[۵۴۷۸] حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ أَنَّ عَائِشَةَ وَعَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ قَالَا لَمَّا نَزَلَ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَفِقَ يَطْرَحُ خَمِيصَةً لَهُ عَلَى وَجْهِهِ فَإِذَا اغْتَمَّ كَشَفَهَا عَنْ وَجْهِهِ فَقَالَ وَهُوَ كَذَلِكَ لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ يُحَذِّرُ مَا صَنَعُوا [ر:۴۲۵]

[۵۴۷۹] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ حَدَّثَنَا ابْنُ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي خَمِيصَةٍ لَهُ لَهَا أَعْلَامٌ فَنَظَرَ إِلَى أَعْلَامِهَا نَظْرَةً فَلَمَّا سَلَّمَ قَالَ اذْهَبُوا بِخَمِيصَتِي هَذِهِ إِلَى أَبِي جَهْمٍ فَإِنَّهَا أَلْهَتْنِي آنِفًا عَنْ صَلَاتِي وَأْتُونِي بِأَنْبِجَانِيَّةِ أَبِي جَهْمِ بْنِ حُذَيْفَةَ بْنِ غَانِمٍ مِنْ بَنِي عَدِيِّ بْنِ كَعْبٍ [ر:۳۶۶]

[۵۴۸۰] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ هِلَالٍ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ قَالَ أَخْرَجَتْ إِلَيْنَا عَائِشَةُ كِسَاءً وَإِزَارًا غَلِيظًا فَقَالَتْ قُبِضَ رُوحُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذَيْنِ [ر:۲۹۴۱]

أکسیة : د کساء جمع ده ، څادر ته وائی ، خمائص : د خمیصة جمع ده کمبل اوشړئ ته وائی -

د باب ړومبی روایت کښې دی " لما نزل برسول الله صلى الله عليه و سلم طفق يطرح خميصة له على وجهه فإذا اغتمّ كشفها عن وجهه " یعنی رسول الله ﷺ باندې چه کله مرض الوفات راغلو نو دوی به په مخ مبارك باندې کمبل اچولو چه کله به ئې ساه ډوبه شوه نو دوی به کمبل لرې کړو ، نَزَل معروف هم کیدې شی أی نَزَل مرضُ الموتِ او مجهول هم کیدې شی (۱)

---

۱) ارشاد الساری: ۱۲ \ ۵۳۳)

دویم حدیث کښې دی چه دوی منقش خمیصه اغوستې وه اودیکښې ئې مونځ اوکړو،او بیا ئې اوفرمائل دا یوسئ: خکه چه خه دې د مانځه نه غافله کړم ، اَلْهَتْنِی أی شَغَلَتْنِی عن الصلاة - أَنْبِجانیة (د همزې په فتحه او د نون په سکون او د باء په کسره سره) پیړ څادر ته وائی ، قسطلانی وائی "کساء غلیظ لاعلم له "(۱) یعنی هغه پیړ څادرچه دیکښې نقش ونګارنه وی.

۱۹=بَاب اشْتِمَالِ الصَّمَّاءِ

[۵۴۸۱] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ عَنْ خُبَيْبٍ عَنْ حَفْصِ بْنِ عَاصِمٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ الْمُلَامَسَةِ وَالْمُنَابَذَةِ وَعَنْ صَلَاتَيْنِ بَعْدَ الْفَجْرِ حَتَّى تَرْتَفِعَ الشَّمْسُ وَبَعْدَ الْعَصْرِ حَتَّى تَغِيبَ وَأَنْ يَحْتَبِيَ بِالثَّوْبِ الْوَاحِدِ لَيْسَ عَلَى فَرْجِهِ مِنْهُ شَيْءٌ بَيْنَهُ وَبَيْنَ السَّمَاءِ وَأَنْ يَشْتَمِلَ الصَّمَّاءَ [ر:۳۶۱]

[۵۴۸۲] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يُونُسَ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عَامِرُ بْنُ سَعْدٍ أَنَّ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ لِبْسَتَيْنِ وَعَنْ بَيْعَتَيْنِ نَهَى عَنْ الْمُلَامَسَةِ وَالْمُنَابَذَةِ فِي الْبَيْعِ وَالْمُلَامَسَةُ لَمْسُ الرَّجُلِ ثَوْبَ الْآخَرِ بِيَدِهِ بِاللَّيْلِ أَوْ بِالنَّهَارِ وَلَا يُقَلِّبُهُ إِلَّا بِذَلِكَ وَالْمُنَابَذَةُ أَنْ يَنْبِذَ الرَّجُلُ إِلَى الرَّجُلِ بِثَوْبِهِ وَيَنْبِذَ الْآخَرُ ثَوْبَهُ وَيَكُونَ ذَلِكَ بَيْعَهُمَا عَنْ غَيْرِ نَظَرٍ وَلَا تَرَاضٍ وَاللِّبْسَتَيْنِ اشْتِمَالُ الصَّمَّاءِ وَالصَّمَّاءُ أَنْ يَجْعَلَ ثَوْبَهُ عَلَى أَحَدِ عَاتِقَيْهِ فَيَبْدُو أَحَدُ شِقَّيْهِ لَيْسَ عَلَيْهِ ثَوْبٌ وَاللِّبْسَةُ الْأُخْرَى احْتِبَاؤُهُ بِثَوْبِهِ وَهُوَ جَالِسٌ لَيْسَ عَلَى فَرْجِهِ مِنْهُ شَيْءٌ [ر:۳۶۰]

د اشتمال الصّمّاء علامه ابن اثیر رحمه الله تعریف کوی او لیکی :

هو أن يتجلل الرجل بثوبه ، ولا يرفع منه جانبا ، وإنما قيل لها صماء لأنه يسد على يديه و رجليه المنافذ كلها ، كالصخرة الصماء التي ليس فيها خرق ولا صدع و الفقهاء يقولون : هو أن يتغطى بثوب واحد ليس عليه غيره ثم يرفعه من أحد جانبيه فيضعه على منكبه ، فتنكشف عورته "(۲)

یعنی چه سړې خپل خان په یوجامه کښې داسې راغونډ کړی چه دینه د لاس پښې ویستلو دپاره په جامه کښې څه لاره او څه سورې پاتې نه شی ، د صماء معنی د کلك خیز راځی ، داسې جامې ته خکه صماء وائی چه سړې دیکښې په خپلو لاسونو پښو باندې تمام لارې او سوری بند کړی ، د کلك کاڼړی په شان چه دیکښې هیڅ قسم سورې نه وی - فقهاء حضرات فرمائی چه د اشتمال صماء معنی دا ده چه سړې یو جامه واغوندی داسې چه د ده په جسم باندې بله جامه نه وی ، بیا چه کله دې د یو طرف نه جامه اوچتوی او دا په اوږه اړدی نو ستر ئې ښکاره کیږی -

---

(۱) ارشاد الساری : ۱۲\ ۵۳٤)

(۲)) النهاية لابن الأثير : ۱۳\ ٥٤)

حاصل دا چه د محدثینو د تفسیر مطابق بدن په یو څادر او یو جامه کښې داسې راغونډول چه څه بله جامه په بدن نه وی نو رسول الله ﷺ دینه منع کړیده او د فقهاءو د تفسیر مطابق څادر داسې اغوستل چه ددې یو اړخ په اوږه واچولې شی نو ستر ښکاره شی ، دا ممنوع دې ، یو خو ددې وجه چه داسې سړې بندیوان او بې لاس و پښو شی او خپل بچاو نه شی کولې ، دویم دا چه دیکښې د عورت د ښکاره کیدو یره ده ، په ړومبی صورت کښې کراهت او دویم کښې حرمت دې ! (۱)

حدیث د باب کښې دی : نهی النبی ﷺ عن الملامسة و المنابذة

ملامسة معنی ده چه سړې جامې ته صرف لاس یوځی ، دا پرانستې اونه ګوری او وانې خلی ، دارنګه چه څوك شرط اولګوی چه کُه لاس دې اولګولو نو بیع به لازم وی ، دا هم د ملامسه یو صورت دې او دا ناجائز دې - (۲)

د منابذة معنی ده چه بائع او مشتری یو بل ته جامې وراوغورزوی ، او د طول او عرض د کتلو نه بغیر بیع اوشی، دا هم ممنوع ده -(۳) تفصیل په کتاب البیوع باب بیع الملامسة کښې تیر شویدې -

د احتباء معنی په راتلونکې باب کښې راروانه ده

۲۰=بَابُ الِاحْتِبَاءِ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ

[۵۳۸۳] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنْ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ لِبْسَتَيْنِ أَنْ يَحْتَبِيَ الرَّجُلُ فِي الثَّوْبِ الْوَاحِدِ لَيْسَ عَلَى فَرْجِهِ مِنْهُ شَيْءٌ وَأَنْ يَشْتَمِلَ بِالثَّوْبِ الْوَاحِدِ لَيْسَ عَلَى أَحَدِ شِقَّيْهِ وَعَنْ الْمُلَامَسَةِ وَالْمُنَابَذَةِ [ر:۳۶۱]

[۵۳۸۴] حَدَّثَنِي مُحَمَّدٌ قَالَ أَخْبَرَنِي مَخْلَدٌ أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ قَالَ أَخْبَرَنِي ابْنُ شِهَابٍ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ اشْتِمَالِ الصَّمَّاءِ وَأَنْ يَحْتَبِيَ الرَّجُلُ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ لَيْسَ عَلَى فَرْجِهِ مِنْهُ شَيْءٌ [ر:۳۶۰]

احتباء راغونډه ناستې ته وایی دا هغه ناستې ته وائی چه هغې کښې کُناتې په زمکه اولګولې شي او دواړه کُنډئ اوچتې اودرولې شی او د امداد دپاره دواړه لاسونه د کُنډو نه تاو راتاو کړې یا څه جامه د کُنډو نه تاو کړی (۴) رسول الله ﷺ به کله کله داسې کښیناستو ، سنن ابی داود کښې د حضرت جابر ؓ روایت دې فرمائی " أتیت النبی ﷺ وهو محتب بشملة

(۱) الابواب و التراجم : ۲\۱۰۵ ، عمدة القاری : ۲۲\۳)
(۲) فتح الباری : ۱۰\۳۴۲ ، عمدة القاری : ۲۲\ ۳ ، إرشاد الساری : ۱۲\ ۵۳٤)
(۳) فتح الباری : ۱۰\۳۴۲ ، إرشاد الساری : ۱۲\ ۵۳٤)
(۴) إرشاد الساری : ۱۲\۵۳۵ ،عمدة القاری : ۲۲\ ٤)

قد وقع هدبها على قدميه " (خه رسول الله ﷺ ته راغلم دوى په يو څادر كښې راغونډه ناسته وو د څادر پليسكې د دوى په قدم مبارك باندې پراته وو) (١) خو يو جامه كښې ئې د راغونډيدو نه منع كړيده ځكه چه ديكښې عورت ښكاره كيږى

۲۱=بَاب الْخَمِيصَةِ السَّوْدَاءِ

[۵۳۸۵] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ سَعِيدٍ عَنْ أَبِيهِ سَعِيدِ بْنِ فُلَانٍ هُوَ عَمْرُو بْنُ سَعِيدِ بْنِ الْعَاصِ عَنْ أُمِّ خَالِدٍ بِنْتِ خَالِدٍ أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِثِيَابٍ فِيهَا خَمِيصَةٌ سَوْدَاءُ صَغِيرَةٌ فَقَالَ مَنْ تَرَوْنَ أَنْ نَكْسُوَ هَذِهِ فَسَكَتَ الْقَوْمُ قَالَ ائْتُونِي بِأُمِّ خَالِدٍ فَأُتِيَ بِهَا تُحْمَلُ فَأَخَذَ الْخَمِيصَةَ بِيَدِهِ فَأَلْبَسَهَا وَقَالَ أَبْلِي وَأَخْلِقِي وَكَانَ فِيهَا عَلَمٌ أَخْضَرُ أَوْ أَصْفَرُ فَقَالَ يَا أُمَّ خَالِدٍ هَذَا سَنَاهْ وَسَنَاهْ بِالْحَبَشِيَّةِ حَسَنٌ [ر:۲۹۰۶]

[۵۳۸۶] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ عَنْ ابْنِ عَوْنٍ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا وَلَدَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ قَالَتْ لِي يَا أَنَسُ انْظُرْ هَذَا الْغُلَامَ فَلَا يُصِيبَنَّ شَيْئًا حَتَّى تَغْدُوَ بِهِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحَنِّكُهُ فَغَدَوْتُ بِهِ فَإِذَا هُوَ فِي حَائِطٍ وَعَلَيْهِ خَمِيصَةٌ حُرَيْثِيَّةٌ وَهُوَ يَسِمُ الظَّهْرَ الَّذِي قَدِمَ عَلَيْهِ فِي الْفَتْحِ [ر:۱۴۳۱]

خميصة نرى څادر او د وړئ كمبل يا شړئ ته وائى ، حديث د باب كښې دى چه رسول الله ﷺ په خدمت كښې جامې راوړې شوې ديكښې يو وړه غونډه توره شړئ وه ، دوى د اصحابو نه تپوس اوكړو "د ستاسو په خيال كښې دا به مونږ چا ته اغوندوو ؟ " .... خلق خاموش پاتې شو نو دوى اوفرمائل :" ام خالد راولئ " دا وړه وه ، دا په غيږه كښې راوستې شوه نو دا شړئ دوى په خپله راواخسته او دوى ته ئې واغوستله او وې فرمائل " په تا دې دا زړه شى " ديكښې شنې يا زيړې نخې وى، دوى اوفرمائل :" ام خالد ! دا ښايسته دې " -

حضرت ام خالد : د حضرت ام خالد نوم "أمة " دې دا د خالد بن سعيد بن العاص لور ده ، د دوى د يو ځوى نوم خالد وو چه د دې په وجه د دوى كنيت ام خالد مشهور شو ، دوى د حضرت زبير بن العوام رضی الله عنه سره واده كړې وو ، د دوى نه د دوى دوه ځامن وو يو خالد او بل عمرو ، (٢) دا په خبشه كښې پيدا شوې وه ، دې وجه نه رسول الله ﷺ اوفرمائل (يا أم خالد هذا سناه) په حبشئ ژبه كښې د سناه معنى د ښائسته ده

دوى دا شړئ دوى ته واغوسته او دعا ئې ورته اوكړه (أبلى وأخلقى)(إبلاء او إخلاق د دوى دواړو يو معنى ده : زړول ، يعنى د ستا عمر دې دومره زيات وى چه ته دا شړئ اغوستو اغوستو باندې زړه كړې -

(١) اخرجه ابوداود فى كتاب اللباس ، باب فى الهدب (رقم الحديث : ٤٠٧٥) ٤\٥٤)

(٢) فتح البارى : ١٠\٣٤٤، عمدة القارى : ٢٢\٥)

د فربرى نه " أخلقى " د فاء سره نقل دې ، دې صورت كښې به ترجمه داسې وى ته دا زړه كړه او بيا ئې بدله كړه، شارحينو دا زيات مناسب ګرځولې دې، خکه " أخلقى " (په قاف سره) هم په هغه معنى دې چه په كوم د " أبلى" دې خو كه أخلفى (فاء سره) شى نو دا به په معنى د عوض او د بدل كښې استعمال شى ځكه چه مينځ كښې ئې واو عاطفه دې او عطف د مغايرت تقاضا كوى ، او مغايرت په " أخلفى " كښې دې دې وجه نه دا زيات مناسب دې (١)

ابن بطال رحمه الله خو " أخلقى" (بالقاف) تصحيف ګرځولې ، هغه ليكى

"من روى أخلقى بالقاف فهو تصحيف و المعروف من كلام العرب : أخلفى بالفاء ، يقال : خلفت الثوب ، مذا أخرجت باليه ولفقته يقال : أبل وأخلف أى : عِش فخرّق ثيابك وارقعها ، هذا كلام العرب وقد روى ابوداود ، عن عمرو بن عون ، عن ابن المبارك ، عن الجريرى ، عن أبى نضرة ، قال : كان أصحابُ رسول الله إذا لبس أحدهم ثوبا جديدا ، قيل له : تبلى ، ويخلف الله" (٢)

يعنى " أخلقى " قاف سره تصحيف دې ، كلام د عربو كښې " أخلفى" (فاء) سره معروف دې، خلفت اثوب هغه وخت ويلې كيږى چه كله يو جامه د زوړوالى په حالت كښې اوويستې شى او دا اوګنډلې شى ، دارنګه ويلې كيږى أبل وأخلف يعنى ته دې ژوندې ئې تر دې چه په تا دا جامې زړې شى ؛ او دا داسې زړې كړې چه ديكښې پيوندونه اولګى ، دا خو په كلام د عربو او په لغت كښې ويلې كيږى ، دينه علاوه امام أبوداود رحمه الله روايت نقل كړيدې چه حضرات اصحابو كښې چه به كله نوې جامې واغوستې نو ده ته به ويلې كيدل تبلى و يخلف الله يعنى ته دې دا جامې زړې كړې او بيا دې الله تعالى درته ددې بنه بدل دركړى

د باب په آخرى روايت كښې دى " خَمِيصَةٌ حُرَيْثِيَّةٌ " دا حُريث ته منسوب دې ، چه د قبيلې د قضاعه د يو سړى نوم وو - (٣)

قوله: وَهُوَيَسِمُ الظَّهر : او ده اوښ داغولو ، د ظهر نه د سوارلئ اوښ وغيره مراد دې لأنها تحمل الأثقال على ظهرها - (٤)

٢٢= بَابِ ثِيَابِ الْخُضْرِ

[٥٣٨٧] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ أَخْبَرَنَا أَيُّوبُ عَنْ عِكْرِمَةَ أَنَّ رِفَاعَةَ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ فَتَزَوَّجَهَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الزَّبِيرِ الْقُرَظِيُّ قَالَتْ عَائِشَةُ وَعَلَيْهَا خِمَارٌ أَخْضَرُ فَشَكَتْ إِلَيْهَا

---

(١) فتح البارى : ١٠ \ ٢٤٤ ، عمدة القارى : ٢٢ \ ٥ ، إرشاد السارى : ١٢ \ ٥٣٨)
(٢)) شرح ابن باطل ، كتاب اللباس : ٩ \ ١١٧ - ١١٨)
(٣) فتح البارى : ١٠ \ ٣٤٥ ، إرشاد السارى : ١٢ \ ٥٣٨ ، عمدة القارى : ٢٢ \ ٥)
(٤) عمدة القارى : ٢٢ \ ٥)

وَأَرَتْهَا خُضْرَةً بِجِلْدِهَا فَلَمَّا جَاءَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنِّسَاءُ يَنْصُرُ بَعْضُهُنَّ بَعْضًا قَالَتْ عَائِشَةُ مَا رَأَيْتُ مِثْلَ مَا يَلْقَى الْمُؤْمِنَاتُ لَجِلْدُهَا أَشَدُّ خُضْرَةً مِنْ ثَوْبِهَا قَالَ وَسَمِعَ أَنَّهَا قَدْ أَتَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَ وَمَعَهُ ابْنَانِ لَهُ مِنْ غَيْرِهَا قَالَتْ وَاللَّهِ مَا لِي إِلَيْهِ مِنْ ذَنْبٍ إِلَّا أَنَّ مَا مَعَهُ لَيْسَ بِأَغْنَى عَنِّي مِنْ هَذِهِ وَأَخَذَتْ هُدْبَةً مِنْ ثَوْبِهَا فَقَالَ كَذَبَتْ وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي لَأَنْفُضُهَا نَفْضَ الْأَدِيمِ وَلَكِنَّهَا نَاشِزٌ تُرِيدُ رِفَاعَةَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنْ كَانَ ذَلِكِ لَمْ تَحِلِّي لَهُ أَوْ لَمْ تَصْلُحِي لَهُ حَتَّى يَذُوقَ مِنْ عُسَيْلَتِكِ قَالَ وَأَبْصَرَ مَعَهُ ابْنَيْنِ لَهُ فَقَالَ بَنُوكَ هَؤُلَاءِ قَالَ نَعَمْ قَالَ هَذَا الَّذِي تَزْعُمِينَ مَا تَزْعُمِينَ فَوَاللَّهِ لَهُمْ أَشْبَهُ بِهِ مِنَ الْغُرَابِ بِالْغُرَابِ [ر: ٢٣٩٦]

ثیاب الخضر اضافت سره د مسجد الجامع د قبیل نه دې یعنی د موصوف اضافت شویدې صفت ته ، د کشمهینی په روایت کښې "الثیابُ الخضر" مرکب توصیفی دې - (١)

په حدیث د باب کښې د امرأة رفاعة واقعه بیان شویده چه د هغې تفصیل په کتاب النکاح کښې تیر شویدې ، دیکښې دی "وعلیها خمارٌ أخضر" په دې مناسبت سره امام دا روایت دلته ذکر کړو ، أرتها خُضرة بجلدها : إمرأة رفاعة حضرت عائشه ﷺ ته د خپل څرمنې هغه حصه اوخودله چه کومه د وهلو په وجه شنه شوې وه ، أرت : إراءة د باب إفعال نه د ماضی واحد مونث صیغه ده، إنی لأنفُضُها نفْضَ الأدیم : علامه ابن اثیر ددې ترجمه کوی او لیکی : أی أجهدها وأعرکها، کما یُفعل بالأتیم عند دباغه (٢) یعنی ما دا داسې اومږله چه څنګه څرمن د رنګ کولو په وخت مږلې کیږی ، علامه عینی رحمه الله فرمائی : وهو کنایة عن کمال قوة المباشرة - (٣)

قوله: لم تحلِی له أو لم تصلُحی له : لم ، دلته د "لا" په معنی کښې دې (٤) "أو" د شك دپاره دې ، راوی ته شك دې چه لم تحلی ئې اوویل او که لم تصلحی ئې اوویل یعنی ته د رفاعه دپاره تر هغه وخته پورې به حلاله نه ئې چه تر څو عبد الرحمن کوروالې اونکړی -

قوله: هذا الذی تزعُمین ما تزعمین ، فوالله ، لهم أشبه به من الغُراب بالغُراب : د هذا مشار الیه عبد الرحمان بن زبیر (د زاء په فتحه او د باء په کسره سره) دې چه هغه سره دې ښځې واده کړې وو ، حضور ﷺ اوفرمائل ، هم دا دې چه دده متعلق ته خبرې کوې (چه دې په جماع قادر نه دې) حال دا دې چه دا هلك د عبد الرحمان سره زیات مشابهت لرې چه څومره مشابهت د کارغه د کارغه سره وی -

---

(١) إرشاد الساری : ١٢\٥٣٩ ، فتح الباری : ١٠\٥٤٦ ، عمدة القاری : ٢٢\٥)
(٢) النهایة لابن الاثیر : ٥\٩٩)
(٣) عمدة القاری : ٢٢\٦)
(٤) فتح الباری : ١٠\٥٤٧ ، إرشاد الساری : ١٢\٥٤٠ ، عمدة القاری : ٢٢\٦)

٢٣= باب الثياب البيض

[٥٤٨٨] حدثنا إسحاق بن إبراهيم الحنظلي أخبرنا محمد بن بشر حدثنا مسعر عن سعد بن إبراهيم عن أبيه عن سعد قال رأيت بشمال النبي صلى الله عليه وسلم ويمينه رجلين عليهما ثياب بيض يوم أحد ما رأيتهما قبل ولا بعد [ر:٣٨٢٨]

[٥٤٨٩] حدثنا أبو معمر حدثنا عبد الوارث عن الحسين عن عبد الله بن بريدة عن يحيى بن يعمر حدثه أن أبا الأسود الدؤلي حدثه أن أبا ذر رضي الله عنه حدثه قال أتيت النبي صلى الله عليه وسلم وعليه ثوب أبيض وهو نائم ثم أتيته وقد استيقظ فقال ما من عبد قال لا إله إلا الله ثم مات على ذلك إلا دخل الجنة قلت وإن زنى وإن سرق قال وإن زنى وإن سرق قلت وإن زنى وإن سرق قال وإن زنى وإن سرق قلت وإن زنى وإن سرق قال وإن زنى وإن سرق على رغم أنف أبي ذر وكان أبو ذر إذا حدث بهذا قال وإن رغم أنف أبي ذر قال أبو عبد الله هذا عند الموت أو قبله إذا تاب وندم وقال لا إله إلا الله غفر له [ر:١١٨٠]

سپين لباس په تمامو رنګونو کښې د ټولو نه افضل دې رسول الله ﷺ ديته په نورو تمامو رنګونو والا جامو باندې ترجيح ورکوله و سنن ابي داود ، ترمذى او ابن ماجه کښې د حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما روايت دې چه دوى ﷺ فرمائلي دى " البسوا من ثيابكم البياض ، فإنها من خير ثيابكم ، و كفنوا فيها موتاكم " (١) سپين لباس استعمال کړئ او ديکښې خپل مړي کفن کړئ ځکه چه دا بهترين لباس دې -

٢٤= باب لبس الحرير وافتراشه للرجال وقدر ما يجوز منه

[٥٤٩٠\٥٤٩٢] (٢) حدثنا آدم حدثنا شعبة حدثنا قتادة قال سمعت أبا عثمان النهدي أتانا كتاب عمر ونحن مع عتبة بن فرقد بأذربيجان أن رسول الله صلى الله عليه وسلم نهى عن الحرير إلا هكذا وأشار بإصبعيه اللتين تليان الإبهام قال فيما علمنا أنه يعني الأعلام

---

(١) أخرجه أبوداود فى كتاب اللباس ، باب فى البياض (رقم الحديث : ٤٠٦١) ٤ \ ٥١ و أخرجه الترمذى فى كتاب الجنائز ، باب ما يستحب من الأكفان (رقم الحديث : ٩٩٤ _ ٣ \ ٣١٩ و أخرجه ابن ماجه مع تقديم و تأخير فى كتاب اللباس ، باب البياض من الثياب (رقم الحديث : ٣٥٦٦) ٢ \ ١١٨١)

(٢)) الحديث أخرجه البخارى أيضا فى هذا الباب فى مواضع (رقم الحديث : ٥٤٩١ ، ٥٤٩٢ ، ٥٤٩٦ ، ٥٤٩٧) و أخرجه مسلم فى كتاب اللباس ، باب تحريم استعمال إناء الذهب و الفضة ... : ١٣ \ ١٦٤ (رقم الحديث : ٢٠ ٦٩) و أخرجه أبوداود فى اللباس ، باب ما جاء فى لبس الحرير : ٤ \ ٤٦ (رقم الحديث : ٤٠٤٢) و أخرجه النسائى فى كتاب الزينة ، باب ما رخص فيه للرجل من لبس الحرير : ٥ \ ٤٧٤ (رقم الحديث : ٩٦٢٧) وأخرجه ابن ماجه فى كتاب الجهاد ، باب لبس الحرير و الديباج...[بقيه برصفحه آئنده....

[٥٤٩١] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا عَاصِمٌ عَنْ أَبِي عُثْمَانَ قَالَ كَتَبَ إِلَيْنَا عُمَرُ وَنَحْنُ بِأَذْرَبِيجَانَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ لُبْسِ الْحَرِيرِ إِلَّا هَكَذَا وَصَفَ لَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِصْبَعَيْهِ وَرَفَعَ زُهَيْرٌ الْوُسْطَى وَالسَّبَّابَةَ

[٥٤٩٢] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنِ التَّيْمِيِّ عَنْ أَبِي عُثْمَانَ قَالَ كُنَّا مَعَ عُتْبَةَ فَكَتَبَ إِلَيْهِ عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يُلْبَسُ الْحَرِيرُ فِي الدُّنْيَا إِلَّا لَمْ يُلْبَسْ فِي الْآخِرَةِ مِنْهُ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا أَبُو عُثْمَانَ وَأَشَارَ أَبُو عُثْمَانَ بِإِصْبَعَيْهِ الْمُسَبِّحَةِ وَالْوُسْطَى [ر: ٥٤٩٦ وانظر: ٥٤٩٧]

[٥٤٩٣] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنِ الْحَكَمِ عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى قَالَ كَانَ حُذَيْفَةُ بِالْمَدَائِنِ فَاسْتَسْقَى فَأَتَاهُ دِهْقَانٌ بِمَاءٍ فِي إِنَاءٍ مِنْ فِضَّةٍ فَرَمَاهُ بِهِ وَقَالَ إِنِّي لَمْ أَرْمِهِ إِلَّا أَنِّي نَهَيْتُهُ فَلَمْ يَنْتَهِ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الذَّهَبُ وَالْفِضَّةُ وَالْحَرِيرُ وَالدِّيبَاجُ هِيَ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا وَلَكُمْ فِي الْآخِرَةِ [ر: ٥١١٠]

[٥٤٩٤] (١) حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ صُهَيْبٍ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ قَالَ شُعْبَةُ فَقُلْتُ أَعَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ شَدِيدًا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَنْ لَبِسَ الْحَرِيرَ فِي الدُّنْيَا فَلَنْ يَلْبَسَهُ فِي الْآخِرَةِ

[٥٤٩٥\٥٤٩٦] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ ثَابِتٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ الزُّبَيْرِ يَخْطُبُ يَقُولُ قَالَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَبِسَ الْحَرِيرَ فِي الدُّنْيَا لَمْ يَلْبَسْهُ فِي الْآخِرَةِ

[٥٤٩٦] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْجَعْدِ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي ذِبْيَانَ خَلِيفَةَ بْنِ كَعْبٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ الزُّبَيْرِ يَقُولُ سَمِعْتُ عُمَرَ يَقُولُ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَبِسَ الْحَرِيرَ فِي الدُّنْيَا لَمْ يَلْبَسْهُ فِي الْآخِرَةِ

وَقَالَ أَبُو مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ عَنْ يَزِيدَ قَالَتْ مُعَاذَةُ أَخْبَرَتْنِي أُمُّ عَمْرٍو بِنْتُ عَبْدِ اللَّهِ سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ الزُّبَيْرِ سَمِعَ عُمَرَ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ [ر: ٥٤٩٠]

[٥٤٩٧] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْمُبَارَكِ عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حِطَّانَ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنِ الْحَرِيرِ فَقَالَتِ ائْتِ ابْنَ عَبَّاسٍ فَسَلْهُ قَالَ فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ سَلِ ابْنَ عُمَرَ قَالَ فَسَأَلْتُ ابْنَ عُمَرَ فَقَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو

...بقیه ازحاشیه گذشته] فی الحرب : ۲\۹۴۲ (رقم الحدیث : ۲۸۲۰) و أخرجه ابن ماجه أيضا فى كتاب اللباس ، باب الرخصة فى العلم فى الثوب : ۲\۱۱۸۸ (رقم الحدیث : ۳۵۹۳)

(١) الحديث أخرجه مسلم في كتاب اللباس ، باب تحريم استعمال إناء الذهب و الفضة ......: ۳\۱۶۴۵ (رقم الحديث : ۲۰۷۳) و أخرجه النسائى فى كتاب الزينة ، باب لبس الحرير : ۵\۴۶۵ (رقم الحديث : ۹۵۸۲، ۹۵۸۳، ۹۵۸۴)

حَفْصٍ يَعْنِي عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّمَا يَلْبَسُ الْحَرِيرَ فِي الدُّنْيَا مَنْ لَا خَلَاقَ لَهُ فِي الْآخِرَةِ فَقُلْتُ صَدَقَ وَمَا كَذَبَ أَبُو حَفْصٍ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

وَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ رَجَاءٍ حَدَّثَنَا حَرْبٌ عَنْ يَحْيَى حَدَّثَنِي عِمْرَانُ وَقَصَّ الْحَدِيثَ [ر: ٥٤٩٠]

امام بخاری رحمه الله په دې ترجمة الباب کښې درې جزونه قائم کړيدی ، ړومبې جزء دې " لبس الحرير .... " -

د ريښيمو د لباس د استعمال مسئله : د سړو دپاره د ريښمو استعمال په عام حالت کښې د آئمه اربعه په نزد بالاتفاق ناجائز دې ، او په حالت اضطراری کښې بالاتفاق جائز دې (۱)

خو د بيمارئ او د جنګ او د سفر وغيره په حالت کښې خالص د ريښمو لباس سړو دپاره جائز دې او که نه دې جائز ديکښې اختلاف دې -

د امام ابوحنيفه او امام مالك رحمهما الله په نزد دې صورت کښې خالص د ريښمو لباس استعمالول جائز نه دی - (۲)

د امام شافعی رحمه الله او د امام احمد بن حنبل او په احنافو کښې د صاحبينو په نزد دې صورت کښې خالص د ريښمو لباس د سړو دپاره جائز دې - (۳)

دا حضرات د حضرت عبدالرحمان بن عوف او د حضرت زبير بن العوام رضی الله عنهما د روايت نه استدلال کوی چه هغې کښې دی " إن رسول الله صلى الله عليه و سلم رخّص لعبد الرحمن ابن عوف و الزبير بن العوام في القميص الحرير في السفر ، من حكة كانت بهما ، أو وجع كان بهما " (۴) چه رسول الله ﷺ دغه دواړو اصحابو ته په سفر کښې د خارښ يا د څه بل مرض په وجه د ريښمو د قميص استعمالولو اجازت ورکړې وو -

امام ابوحنيفه او امام مالك د هغه روايتونو نه استدلال کوی چه هغې کښې د ريښمی لباس د استعمالولو ممانعت راغلې دې ، د ترمذی روايت دې " حُرِم لباس الحرير و الذهب على

---

(۱) إعلاء السنن ، كتاب الحظر و الإباحة ،باب حرمة الحرير على الرجال و حلة للنساء : ۱۷ \ ۳۳۶ و رد المحتار على الدر المختار ، كتاب الحظر و الإباحة ، فصل فى اللبس : ۵ \ ۲٤۷)

(۲) إعلا ء السنن ، كتابالحظر و الإباحة ، باب فى لبس الحرير لمحذور : ۱۷ \ ۳٤۵-۳٤۶-۳٤۷)

(۳) إعلا ء السنن ، كتابالحظر و الإباحة ، باب فى لبس الحرير لمحذور : ۱۷ \ ۳٤۵)

(۴) أخرجه البخارى أيضا فى كتاب الجهاد ، باب الحرير فى الحرب (رقم الحديث : ۲۹۱۹) و أخرجه مسلم فى كتاب اللباس و الزينة ، باب إباحة لبس الحرير للرجل (رقم الحديث : ۵۳۸۷) و أبوداود فى كتاب اللباس ، باب فى لبس الحرير لعذر (رقم الحديث : ٤۰۵۶) و الترمذى فى كتاب اللباس ، باب ما جاء فى الرخصة فى لبس الحرير فى الحرب (رقم الحديث : ۱۷۲۲) و النسائى فى كتاب الزينة ، باب الرخصة فى لبس الحرير : ۳۵۱۰ ، ۳۵۱۱ ، ابن ماجه فى كتاب اللباس ، باب من رخص له فى الحرير ، (رقم الحديث : ۳۶۳۷)

ذكور أمتي وأحل لإناثهم" -(١)
د حضرت عبدالرحمان بن عوف او د حضرت زبير بن العوام روايت له دوى په حالت د اضطرار يا د دوى په خصوصيت محمول كوى ، په خصوصيت باندې د ابن عساكر د دې روايت نه استدلال كيږى چه كوم د حضرت محمد بن سيرين نه نقل دې چه حضرت فاروق اعظم حضرت خالدبن وليد لره يو ريښمى لباس اغوستلې اوليدلو ، نو تپوس ئې اوكړو ، چه دا ولې ؟ نو دوى د حضرت عبد الرحمان بن عوف دا روايت ذكركړو نو حضرت فاروق اعظم اوفرمايا " أولك مثل ما لعبد الرحمن ؟ " يعنى آيا تا ته هم د هغه شان رخصت حاصل به وى چه څنګه عبدالرحمان ته حاصل وو ؟ اوبيا ئې دا قميص اوشلولو - (٢)
حضرت مولانا ظفر احمد تهانوى رحمه الله فرمائى :" فقول أبي حنيفة في الباب أورع و أحوط ، وقولهما أوسع وأقوى وأضبط" (٣)
ترجمة الباب دويم جزء دې " و افتراشه للرجال "
د ريښمو جامې په طور د بسترو استعمال كيدې شى او كه نه ، ديكښې هم اختلاف دې ، په دې د يو باب نه پس امام مستقل باب قائم كړيدې او د فتح البارى په نسخه كښې د ترجمة الباب دا جزء نشته دې -
د سړو دپاره د ريښمو د لباس جائز مقدار : د ترجمة الباب دريم جزء دې " و قدر ما يجوز منه " يعنى د سړو دپاره د ريښمو د لباس څومره مقدار جائز دې ؟ د څلورو ګوتو په قدر يا ددينه كم لباس كښې د ريښمو استعمال جائز دې څكه چه د څلورو ګوتو په اندازه رخصت په خپله حديث كښې شته دې- (٤)
دا خو د خالص ريښمو حكم دې ، څو كه يو جامه داسې وى چه ديكښې خالص ريښم نه وى بلكه د وړئ وغيره سره ګډ شوې وى ، نو جمهور فرمائى چه داسې صورت كښې به د غالب اعتبار وى ، كه ريښم غالب وى نو ناجائز او كه مغلوب وى نو جائز - (٥)
صاحب د هدايه ليكى چه داسې جامه چه د هغې سدى (اوږد تار) د ريښمو وى او لحمه (د پلنو تار) غير د ريښمو وى نو ددې استعمال جائز دې څكه چه د جامو په جوړولو كښې اصل لحمه (د پلنو تار دې) ، سدى نه ده ، - (٦)
د باب ړومبې حديث كښې ابو عثمان نهدى فرمائى چه مونږ آذربائجان كښې وو چه مونږ ته د حضرت فاروق اعظم خط راغلو (ديكښې ليكلې وو) چه رسول الله ﷺ د ريښمو نه منع كړې وه خو د دومره (اجازت شته) او د متې ګوتې سره ئې نزدې په دواړو ګوتو

---

(١) رواه الترمذى فى كتاب اللباس ، باب ما جاء فى الحرير و الذهب (رقم الحديث : ١٧٢) ٤ \ ٢١٧)
(٢) إعلا ء السنن ، كتابالحظر و الإباحة ، باب فى لبس الحرير لمحذور : ١٧ \ ٣٤٨)
(٣) إعلا ء السنن ، كتابالحظر و الإباحة ، باب فى لبس الحرير لمحذور : ١٧ \ ٣٤٨)
(٤) الأبواب والتراجم : ٢ \ ١٠٥ و وفتح القدير ، كتاب الذبائح ، فصل فى اللبس : ١٨ \ ٤٥٤ .
(٥) الأبواب والتراجم : ٢ \ ١٠٥ ، و أشار إلى هذا ابن بطال فى شرح صحيح البخارى : ٩ \ ١٠٥)
(٦) الهداية مع فتح القدير ، كتاب الذبائح ، صل فى اللبس : ١٨ \ ٤٥٥)

رمسواكه او مينځمې) ګوتو په ذريعه اشاره اوكړه او وې خودله (يعنى د دواړو ګوتو په قدر د استعمال اجازت شته)

قوله: قال فيما علمنا أنه يعني الأعلام: ابوعثمان نهدی فرمائی خمونږ د علم مطابق دينه مقصد ګلونه بوټی او نقش ونګار وو ، يعنى جامو كښې ډير كرتې ګلونه او بوټی او نقش ونګار جوړيږی ، نو كُه د دوه ګوتو په اندازه ديكښې ريښم استعمال شوې وی نو شرعا ديكښې رخصت شته -

قوله: فقلت أعن النبي ، فقال شديدًا : عن النبي صلى الله عليه وسلم: دا د باب د پنځم روايت الفاظ دی ، حضرت انس ﷺ حديث بيان كړيدي ، شعبه بن الحجاج د خپل شيخ عبد العزيز بن صهيب نه تپوس اوكړو چه حضرت انس دا حديث د رسول الله ﷺ نه نقل كړيدې ، نو دسخت خفه شو او وې فرمائل] هو دا د رسول الله ﷺ مرفوع حديث دې او حضرت انس ﷺ هم د رسول الله ﷺ نه نقل كړيدی

قوله: من لبس الحرير في الدنيا لم يلبسه في الآخرة: د دې يو معنى خو دا ده چه دنيا كښې ريښمی لباس اغستونكې به جنت ته نه داخليږی ځكه چه د جنتيانو لباس به د ريښمو وی ، قرآن كريم كښې دی (و لباسهم فيها حرير) نو داسې سړی چه كله د جنتيانو لباس نه شی اچولې نو جنت به ورته هم په ابتداء كښې نه ملاويږی ، خو چه كله د خپلو ګناهونو سزا تيره كړی نو دينه پس به جنت ته داخل شی
او دا معنى هم كيدې شی چه كُه داسې سړې د خپلو نورو نيكو په سبب جنت ته داخل هم شی بيا به هم ده ته د جنت ريښمی لباس نه ملاويږی - (۱)

۲۵= بَابُ مَسِّ الْحَرِيرِ مِنْ غَيْرِ لُبْسٍ

وَيُرْوَى فِيهِ عَنْ الزُّبَيْدِيِّ عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ أَنَسٍ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

[۵۴۹۸] حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى عَنْ إِسْرَائِيلَ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ الْبَرَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ أُهْدِيَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَوْبُ حَرِيرٍ فَجَعَلْنَا نَلْمُسُهُ وَنَتَعَجَّبُ مِنْهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَعْجَبُونَ مِنْ هَذَا قُلْنَا نَعَمْ قَالَ مَنَادِيلُ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ فِي الْجَنَّةِ خَيْرٌ مِنْ هَذَا [ر:۳۰۷۷]

شارح د بخاری علامه ابن بطال رحمه الله د ترجمة الباب مقصد بيانوی او ليكی :

ليس النهي عن لباس الحرير من أجل نجاسة عينه فيحرم لمسه باليد ، وإنما نهي عن لبسه من أجل أنه ليس من لباس المتقين ، وعينه مع ذلك طاهرة ، فلذلك جاز لمسه و الإنتفاع بثمنه " (۲)

يعنى د امام بخاری مقصد په دې باب سره دا خبره بيانول دې ، چه د ريښمو د استعمال نه

---

(۱) فتح البارى : ۱۰\۳۵۶ ، إرشاد السارى : ۱۲\۵۴۶)
(۲)) شرح صحيح البخارى لابن البطال : ۹\ر ۱۱۱)

چه کوم ممانعت راغلې دې هغه په دې وجه نه دې چه ريښم نجس العين او پليد دې بلکه ددې وجه نه چه دا د نيکانو او د متقيانو لباس نه دې ريښم يو پاك څيز دې دې وجه نه دې سره ګوتې لګول او د دې د قيمت نه فائده اخستل جائز دي -

قوله: ويروي فيه عن الزبيدي عن الزهري عن أنس ، عن النبي صلى الله عليه وسلم: محمد بن الوليد زبيدي د زهري عن انس " په طريق سره دې باره کښې يو مرفوع روايت نقل کړيدې ، دراقطني دا روايت په کتاب الافراد و الغرائب کښې موصولاً نقل کړيدې - إن رسول الله صلى الله عليه وسلم أهديت له حلة من الستبرق ، فجعل ناس يلمسونها بأيديهم و يتعجبون منها ، فقال النبي ﷺ : تعجبكم هذه ، فوالله لمناديل سعد في الجنة أحسن منها " (١) يعني رسول الله ﷺ په خدمت کښې د ريښمو يو جامه چا په تحفه کښې راوړه ، خلقو به ديته ګوتې اوړلې او حيرانه حيرانه کيدل به ، (چه څومره نرم او ښائسته ده) رسول الله ﷺ اوفرمائيل: تاسو ته دا عجيبه لګی؟ والله جنت کښې د سعد بن معاذ رومال به دينه زيات ښائسته وی

٢٦=بَابُ افْتِرَاشِ الْحَرِيرِ وَقَالَ عَبِيدَةُ هُوَ كَلُبْسِهِ

[٥٤٩٩] حَدَّثَنَا عَلِيٌّ حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ حَدَّثَنَا أَبِي قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ أَبِي نَجِيحٍ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى عَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ نَهَانَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَشْرَبَ فِي آنِيَةِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَأَنْ نَأْكُلَ فِيهَا وَعَنْ لُبْسِ الْحَرِيرِ وَالدِّيبَاجِ وَأَنْ نَجْلِسَ عَلَيْهِ [ر:٥١١٠]

د ريښمو د بسترې حکم: ريښم د بسترې او د تکيه په طور استعمالول جائز دې او که نه ، ديکښې اختلاف دې -

حضرات مالکيه ، شافعيه او په حضرات احنافو کښې د صاحبينو په نزد ناجائز دی (٢) دا حضرات د حديث د باب نه استدلال کوی ،

دويم دوی د حضرت سعد بن ابی وقاص ﷺ د روايت نه استدلال کوی چه يو پروګرام کښې دوی ﷺ د ريښمو په بستره باندې د ناستې نه انکار کړې وو او دا ئې فرمائلي وو :" لأن أقعد على جمر الغضا أحب إلي من أن أقعد على محبس من حرير " (٣) يعني د غضا اونې په سکرو کښيناستل راته زيات خوښ دی ددينه چه څه په ريښمی بستره کښينم ، غضا د کيکر په شان يو اونه چه ديکښې اور تر ډيره مودې باقی پاتې وی -

د امام ابوحنيفه او مالکيه کښې د ابن الماجشون او د بعض شوافعو په نزد د ريښمو بستره استعمالول د سړو دپاره جايز دی - (٤)

---

(١) عمدة القاري : ٢٢ \ ١٤ ، فتح الباري : ١٠ \ ٣٥٧)
(٢) فتح الباري : ١٠ \ ٣٥٩ ،عمدة القاري : ٢٢ \ ١٤ ، اعلاء السنن : ١٧ \ ٣٥١)
(٣))فتح الباري : ١٠ \ ٣٥٩)
(٤) فتح الباري : ١٠ \ ٣٥٩ ، عمدة القاري : ٢٢ \ ١٤)

دوی خو یو د حضرت ابن عباس ﷠ د روایت نه استدلال کوی چه کوم د " وکیع عن مسعر عن راشد... " په طریق سره روایت دې " رأیت فی مجلس ابن عباس مرفقة حریر"(۱) مرفقة تکیه ته وائی ابن سعد هم داسې یو روایت نقل کړیدې - (۲)

په خپله د رسول الله ﷺ نه هم د ریښمو تکیه ته ډډه وهلو روایت راغلې دې (۳)

د حدیث د باب جوابونه دې حضراتو د طرفه د حدیث د باب مختلف جوابونه ورکړې شویدې -

① حدیث د باب کښې چه کوم ممانعت راغلې دې داصرف د جلوس سره متعلق نه دې ، بلکه د لبس او د جلوس د دواړو د مجموعې سره متعلق دې ، چه ریښمی لباس اغوستل او په دې باندې کښیناستل یعنی د دواړو جمع کول ناجائز دې - (۴)

خو ظاهره ده چه دا جواب ضعیف دې ، د دواړو د مجموعې سره نهی متعلق کول بغیرد څه قوی دلیله خلاف اصل او خلاف د ظاهر دې

② دویم جواب دا ورکړې شوې دې چه د " وأن نجلس علیه" اضافه د جریر بن حازم تفرد دې ، ددې روایت چه نورې څومره طریقې دي . دې کښې دا اضافه نشته دې . دې وجه نه دا معتبر نه دې - (۵)

خو دا جواب هم ضعیف دې ځکه چه جریر ثقه دې او د اصول حدیث مشهوره ضابطه ده چه "زیادة الثقة مقبولة" (۶)

③ دې وجه صحیح خبره دا معلومیږی چه کومه بعضې حنفی عالمانو لیکلې هم ده چه دا حدیث امام ابوحنیفه رحمه الله ته نه وو رسیدلې ، او ددې تائید ددینه هم کیږی چه د جریر بن حازم نه علاوه ددې حدیث په نورو طریقو کښې دا اضافه نشته دې او د جریر وفات د امام ابوحنیفه د وفات نه پنځویشت کاله پس شویدې ، نو ډیره ممکن ده ، چه د دوی د وفات نه پس جریر بن حازم دا حدیث نقل کړې وی (۷) او امام ابوحنیفه فرمائی "إذا صح الحدیث فهو منهبی" (۸)

---

(۱)) عمدة القاری : ۲۲ \ ۱٤)
(۲) عمدة القاری : ۲۲ \ ۱٤)
(۳) رد المحتار علی الدر المختار ، کتاب الحضر و الإباحة ، فصل فی اللبس : ۵ \ ۲۵۰)
(۴) عمدة القاری : ۲۲ \ ۱۵ ، فتح الباری : ۱۰ \ ۳۵۹)
(۵) عمدة القاری : ۲۲ \ ۱۵ و العلاء السنن : ۱۷ \ ۳۵۱)
(۶) علوم الحدیث لابن الصلاح ، النوع السادس عشر ، معرفة زیادات الثقات و حکمها : ۸۵ ، و ألفیة الحدیث للحافظ العراقی ، زیادة الثقات : ۱٤ ، و فتح المغیث بشرح ألفیة الحدیث ، زیادة الثقات : ۱ \ ٤٤۶ ، و ظفر الأمانی بشرح مختصر السید الشریف الجرجانی : ۳۵۹)
(۷) اعلاء السنن : ۱۷ \ ۳۵)
(۸) مقدمة رد المحتار : ۱ \ ۵۰)

٢٧=باب لُبْسِ الْقَسِّيِّ

وَقَالَ عَاصِمٌ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ قَالَ قُلْتُ لِعَلِيٍّ مَا الْقَسِّيَّةُ قَالَ ثِيَابٌ أَتَتْنَا مِنَ الشَّأْمِ أَوْ مِنْ مِصْرَ مُضَلَّعَةٌ فِيهَا حَرِيرٌ وَفِيهَا أَمْثَالُ الْأُتْرُنْجِ وَالْمِيثَرَةُ كَانَتِ النِّسَاءُ تَصْنَعُهُ لِبُعُولَتِهِنَّ مِثْلَ الْقَطَائِفِ يُصَفِّرْنَهَا وَقَالَ جَرِيرٌ عَنْ يَزِيدَ فِي حَدِيثِهِ الْقَسِّيَّةُ ثِيَابٌ مُضَلَّعَةٌ يُجَاءُ بِهَا مِنْ مِصْرَ فِيهَا الْحَرِيرُ وَالْمِيثَرَةُ جُلُودُ السِّبَاعِ قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ عَاصِمٌ أَكْثَرُ وَأَصَحُّ فِي الْمِيثَرَةِ

[٥٥٠٠] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنْ أَشْعَثَ بْنِ أَبِي الشَّعْثَاءِ حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ سُوَيْدِ بْنِ مُقَرِّنٍ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ نَهَانَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمَيَاثِرِ الْحُمْرِ وَالْقَسِّيِّ [ر:١١٨٢]

قسّي (په فتحه د قاف او د سين په کسره سره او تشديد سره) د ريښمي جامې نوم دې چه کومه د سمندر په غاړه واقع د يو ښار نوم دې " قس " ته منسوب دي ، (١) عاصم ابن کليب د ابوبرده قول نقل کړيدې چه ما د حضرت علی نه تپوس اوکړو چه **قسّيّة** څه څيز دې ؟ نو دوی اوويل : يو قسم جامه ده چه کومه به مونږه ته د شام يا د مصر نه راتله ديکښې به د اترنج (نارنج) په شان د ريښمو بخۍ تلې وې : **مضلّعة فيها حرير: أی فيها خطوط عريضة كالأضلاع**(٢) يعنی د پښتو په شان به ديکښې د ريښمو بخۍ وې

او **ميثرة** (د ميم په کسره او د ياء په سکون سره) هغه جامه چه ښځې خپلو خاوندانو لره د څادرونو په شان د زيړ رنګ جوړوی - **قطائف** : د **قطيفة** جمع ده څادر ته وايی يصفرها : تصفير باب تفعيل نه دې زيړ رنګ کول -

په پالنګ باندې اچولو دپاره او د بالښتونو د کور په طور باندې استعمالولو دپاره يو نرم او ښايسته جامه جوړيږی ديته **ميثرة** ويلې کيږی (٣)

د عاصم دا تعليق امام مسلم موصولاً نقل کړيدې " **نهانا رسول الله صلى الله عليه و سلم عن لُبس القسّيّ وعن المياثر**" (٤)

قوله: وقال جرير عن يزيد في حديثه ....: دلته د جرير نه يا خو هم هغه جرير مراد دې چه د هغه تذکره دينه وړاندې تير شوی باب کښې تيره شوه يعنی جرير بن حازم او يا دينه جرير بن عبدالحميد مراد دې، علامه کرمانی ړومبې اوحافظ ابن حجر دويم قول اختيار کړيدې-(٥)

---

١) فتح البارى : ١٠\٣٦٠ ، عمدة القارى : ٢٢\١٥ إرشاد السارى : ١٢\٥٤٩)
٢) فتح البارى : ١٠\٣٦٠ ، إرشاد السارى : ١٢\٥٤٩)
٣) فتح البارى : ١٠\٣٦٠ ، عمدة القارى : ٢٢\١٥ ، إرشاد السارى : ١٢\٥٤٩)
٤) أخرجه مسلم فى كتاب اللباس،باب تحريم استعمال إناء الذهب والفضة:١٣\١٦٣٥(رقم الحديث: ٢٠٦٦)
٥) فتح البارى : ١٠\٣٦١ ، شرح الكرمانى : ٢١\٨٤)

د علامه مزی په نزد د يزيد نه مراد يزيد بن ابی زياد دی [۱] حافظ هم دا اختيار کړيدی [۲]
علامه کرمانی فرمانی چه دينه مراد زيد بن رومان دی [۳]
حافظ دمياطی د " يزيد " په ځائې دا بُريد (د باء په ضمه او د راء په فتحه سره) نقل کړيدی ، بريد بن عبدالله بن ابی برده بن موسی اشعری ..... دی د مشهور صحابی حضرت ابو موسی اشعری رضی الله عنه کړوسی دی - [۴]

قوله: الميثرة: جلود السباع: امام نووی رحمه الله د ميثره دا تفسير رد کړيدی او فرمائی چه دا د مشهور معنی خلاف دی [۵] او که هم دا معنی واخستې شی نو بيا خو ممانعت يا ددې وجه دې چه ديکښې خلق د ريښمو استعمال کوی يا دا د مترفينو او دعيش پسندو په نزد رائج دی ، دې وجې نه ئې منع کړه [۶]

قوله: قال ابوعبدالله: عاصم أكثر وأصح في الميثرة: امام بخاری رحمه الله فرمائی (د ابو عبد الله نه امام بخاری مراد دی) چه د ميثرة چه کوم تفسير عاصم کړيدی هغه زيات صحيح دی او ددې طريقې هم زياتې دی

۲۸=بَاب مَا يُرَخَّصُ لِلرِّجَالِ مِنْ الْحَرِيرِ لِلْحِكَّةِ

[۵۵۰۱] حَدَّثَنِي مُحَمَّدٌ أَخْبَرَنَا وَكِيعٌ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ رَخَّصَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلزُّبَيْرِ وَعَبْدِ الرَّحْمَنِ فِي لُبْسِ الْحَرِيرِ لِحِكَّةٍ بِهِمَا [ر: ۲۷٦۲]

حِكّة خارښ ته وايی خارښ يا د بل عذر په وجه د ريښمو د لباس استعمال د جمهورو په نزد جائز دی ، امام بخاری دې باب کښې د جمهورو تائيد کوی ، د امام مالك او د امام ابوحنيفه په نزد جائز نه دی ، ددې تفصيل تير شويدی -

۲۹=بَاب الْحَرِيرِ لِلنِّسَاءِ

[۵۵۰۲] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ ح وحَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ مَيْسَرَةَ عَنْ زَيْدِ بْنِ وَهْبٍ عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كَسَانِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُلَّةً سِيَرَاءَ فَخَرَجْتُ فِيهَا فَرَأَيْتُ الْغَضَبَ فِي وَجْهِهِ فَشَقَقْتُهَا بَيْنَ نِسَائِي [ر: ۲۴۷۲]

---

[۱] عمدة القاری : ۲۲ \ ۱۹)
[۲] فتح الباری : ۱۰ \ ۳۶۱)
[۳] شرح الکرمانی : ۲۱ \ ۸٤)
[۴] عمدة القاری : ۲۲ \ ۱۵ . فتح الباری : ۱۰ \ ۳۶۱)
[۵]) شرح مسلم للنووی . کتاب اللباس . باب تحريم استعمال إناء الذهب ..... : ۲ \ ۱۸۸)
[۶] عمدة القاری : ۲۲ \ ۱۹)

[۵۵۰۳] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ قَالَ حَدَّثَنِي جُوَيْرِيَةُ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ رَأَى حُلَّةَ سِيَرَاءَ تُبَاعُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ لَوِ ابْتَعْتَهَا تَلْبَسُهَا لِلْوَفْدِ إِذَا أَتَوْكَ وَالْجُمُعَةِ قَالَ إِنَّمَا يَلْبَسُ هَذِهِ مَنْ لَا خَلَاقَ لَهُ وَأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ بَعْدَ ذَلِكَ إِلَى عُمَرَ حُلَّةَ سِيَرَاءَ حَرِيرٍ كَسَاهَا إِيَّاهُ فَقَالَ عُمَرُ كَسَوْتَنِيهَا وَقَدْ سَمِعْتُكَ تَقُولُ فِيهَا مَا قُلْتَ فَقَالَ إِنَّمَا بَعَثْتُ إِلَيْكَ لِتَبِيعَهَا أَوْ تَكْسُوهَا [ر:۸۴۶]

[۵۵۰۴] (۱) حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ أَنَّهُ رَأَى عَلَى أُمِّ كُلْثُومٍ عَلَيْهَا السَّلَام بِنْتِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُرْدَ حَرِيرٍ سِيَرَاءَ

حُلَّة سِيَراء: دا مرکب توصيفي هم کيدې شي او مرکب اضافي هم (۲) و سِيَراء (د سين په کسره او د ياء په فتحه سره) جامې ته وائي چه هغې کښې د ريښمو بخئ او کرخې وي، و إنما قيل لها سيراء لتسيير خطوط فيها - (۳)

خليل نحوي وائي چه د فاء په کسره سره د "فِعَلاء" په وزن په کلام د عربو کښې صوف دوه کلمې استعماليږي يو سِيَراء او بله حِوَلاء (۴)

۳۰ = بَاب مَا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَجَوَّزُ مِنَ اللِّبَاسِ وَالْبُسْطِ

[۵۵۰۵] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنْ عُبَيْدِ بْنِ حُنَيْنٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ لَبِثْتُ سَنَةً وَأَنَا أُرِيدُ أَنْ أَسْأَلَ عُمَرَ عَنِ الْمَرْأَتَيْنِ اللَّتَيْنِ تَظَاهَرَتَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلْتُ أَهَابُهُ فَنَزَلَ يَوْمًا مَنْزِلًا فَدَخَلَ الْأَرَاكَ فَلَمَّا خَرَجَ سَأَلْتُهُ فَقَالَ عَائِشَةُ وَحَفْصَةُ ثُمَّ قَالَ كُنَّا فِي الْجَاهِلِيَّةِ لَا نَعُدُّ النِّسَاءَ شَيْئًا فَلَمَّا جَاءَ الْإِسْلَامُ وَذَكَرَهُنَّ اللَّهُ رَأَيْنَا لَهُنَّ بِذَلِكَ عَلَيْنَا حَقًّا مِنْ غَيْرِ أَنْ نُدْخِلَهُنَّ فِي شَيْءٍ مِنْ أُمُورِنَا وَكَانَ بَيْنِي وَبَيْنَ امْرَأَتِي كَلَامٌ فَأَغْلَظَتْ لِي فَقُلْتُ لَهَا وَإِنَّكِ لَهُنَاكِ قَالَتْ تَقُولُ هَذَا لِي وَابْنَتُكَ تُؤْذِي النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَيْتُ حَفْصَةَ فَقُلْتُ لَهَا إِنِّي أُحَذِّرُكِ أَنْ تَعْصِي اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَتَقَدَّمْتُ إِلَيْهَا فِي أَذَاهُ فَأَتَيْتُ أُمَّ سَلَمَةَ فَقُلْتُ لَهَا فَقَالَتْ أَعْجَبُ مِنْكَ يَا عُمَرُ قَدْ دَخَلْتَ فِي أُمُورِنَا فَلَمْ يَبْقَ إِلَّا أَنْ تَدْخُلَ بَيْنَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

---

(۱) الحديث أخرجه النسائي في كتاب الزينة، باب الرخصة في السيراء للنساء: ۵\۴۶۴ (رقم الحديث: ۹۵۷۷)

(۲) فتح الباري: ۱۰\۳۵۵، عمدة القاري: ۲۲\۱۷، إرشاد الساري: ۱۲\۵۵۲)

(۳) فتح الباري: ۱۰\۳۶۶، عمدة القاري: ۲۲\۱۷، شرح صحيح البخاري لا بن بطال: ۹\۱۱۴، إرشاد الساري: ۱۲\۵۵۲)

(۴) فتح الباري: ۱۰\۳۶۶، عمدة القاري: ۲۲\۱۷، إرشاد الساري: ۱۲\۵۵۲)

وَأَزْوَاجِهِ فَرَدَدْتُ وَكَانَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ إِذَا غَابَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَشَهِدْتُهُ أَتَيْتُهُ بِمَا يَكُونُ وَإِذَا غِبْتُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَشَهِدَ أَتَانِي بِمَا يَكُونُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ مَنْ حَوْلَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدِ اسْتَقَامَ لَهُ فَلَمْ يَبْقَ إِلَّا مَلِكُ غَسَّانَ بِالشَّامِ كُنَّا نَخَافُ أَنْ يَأْتِيَنَا فَمَا شَعَرْتُ إِلَّا بِالْأَنْصَارِيِّ وَهُوَ يَقُولُ إِنَّهُ قَدْ حَدَثَ أَمْرٌ قُلْتُ لَهُ وَمَا هُوَ أَجَاءَ الْغَسَّانِيُّ قَالَ أَعْظَمُ مِنْ ذَاكَ طَلَّقَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِسَاءَهُ فَجِئْتُ فَإِذَا الْبُكَاءُ مِنْ حُجَرِهِنَّ كُلِّهَا وَإِذَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ صَعِدَ فِي مَشْرُبَةٍ لَهُ وَعَلَى بَابِ الْمَشْرُبَةِ وَصِيفٌ فَأَتَيْتُهُ فَقُلْتُ اسْتَأْذِنْ لِي فَأَذِنَ لِي فَدَخَلْتُ فَإِذَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى حَصِيرٍ قَدْ أَثَّرَ فِي جَنْبِهِ وَتَحْتَ رَأْسِهِ مِرْفَقَةٌ مِنْ أَدَمٍ حَشْوُهَا لِيفٌ وَإِذَا أُهُبٌ مُعَلَّقَةٌ وَقَرَظٌ فَذَكَرْتُ الَّذِي قُلْتُ لِحَفْصَةَ وَأُمِّ سَلَمَةَ وَالَّذِي رَدَّتْ عَلَيَّ أُمُّ سَلَمَةَ فَضَحِكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَبِثَ تِسْعًا وَعِشْرِينَ لَيْلَةً ثُمَّ نَزَلَ [ر:۸۹]

[۵۵۰۶] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا هِشَامٌ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ أَخْبَرَتْنِي هِنْدُ بِنْتُ الْحَارِثِ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ اسْتَيْقَظَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ اللَّيْلِ وَهُوَ يَقُولُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ مَاذَا أُنْزِلَ اللَّيْلَةَ مِنَ الْفِتْنَةِ مَاذَا أُنْزِلَ مِنَ الْخَزَائِنِ مَنْ يُوقِظُ صَوَاحِبَ الْحُجُرَاتِ كَمْ مِنْ كَاسِيَةٍ فِي الدُّنْيَا عَارِيَةٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ الزُّهْرِيُّ وَكَانَتْ هِنْدٌ لَهَا أَزْرَارٌ فِي كُمَّيْهَا بَيْنَ أَصَابِعِهَا [ر:۱۱۵]

رسول الله ﷺ به څومره لباس او بستره استعمالوله ، امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې د دوی د لباس او د بسترو سادګئ ته اشاره کړیده - لکه چه د باب ړومبې روایت کښې حضرت فاروق اعظم فرمائی " فإذا النبی صلی الله علیه و سلم علی حصیر، قد أثر فی جنبه وتحت رأسه مرفقة من أدم حشوها لیف ، وإذا أهب معلقة و قرظ ...... " یعنی رسول الله ﷺ په یو پوزی باندې ناست وو چه د هغې پتې د دوی په اړخ کښې پریوتې وې ، او د دوی سر مبارك تر لاندې د څرمنې بالښت وو ، چه دا د کجورو د پاڼړو (د پوستکو) نه ډك وو ، څو څرمنې زوړندې وې او رنګینې توتې وې ..... دا د دوی ﷺ د حجرې مبارکې نقشه ده " قرظ (د قاف او د راء د فتحه سره) د کیکر په شان یو اونه ده هغې ته هم وانی او د دې اونې د پاڼړو دپاره هم استعمالیږی -

دویم روایت کښې حضرت ام سلمه ﷺ فرمائی چه رسول الله ﷺ یو ځل د شپې د خوبه رابیداریدو سره دا اوفرمائل :" لا اله الا الله ، نن شپه څومره فتنې نازلې شوې او څومره خزانې راکوزې شوې ، څوك شته چه ددې حجرو والا (امهات المؤمنین) راپاڅوی ، دنیا کښې ډیرې جامې اغوستونکې داسې دی چه د قیامت په ورځ به بربنډې وی " زهری بیان کړی دی چه د هند په لستوڼو کښې د ګوتو سره تڼۍ لګیدلې وې -

حضرت هند په لستونړو کښې څکه تنړئ لګولي وې چه د لستونړو دننه حصه د بدن په نظر رانشي ، دې دپاره چه دا د "كاسية عارية" په ډله کښې شامله نه شي ، علامه قسطلانی رحمه الله د ترجمة الباب د حديث سره مناسبت دپاره ليکی :

"ومطابقة الحديث للترجمة من حيث إنه حذر من لباس رقيق الثياب الواصفة للجسد" (١) يعنی د حديث نه معلوميږی چه رسول الله ﷺ داسې نرو جامو نه منع کړيده چه کومې بدن نه پټوی د داسې لباس په شريعت کښې څه جواز نشته دې -

٣١=بَاب مَا يُدْعَى لِمَنْ لَبِسَ ثَوْبًا جَدِيدًا

[٥٥٠٧]حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ سَعِيدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ سَعِيدِ بْنِ الْعَاصِ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي قَالَ حَدَّثَتْنِي أُمُّ خَالِدٍ بِنْتُ خَالِدٍ قَالَتْ أُتِيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِثِيَابٍ فِيهَا خَمِيصَةٌ سَوْدَاءُ قَالَ مَنْ تَرَوْنَ نَكْسُوهَا هَذِهِ الْخَمِيصَةَ فَأُسْكِتَ الْقَوْمُ قَالَ ائْتُونِي بِأُمِّ خَالِدٍ فَأُتِيَ بِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَلْبَسَنِيهَا بِيَدِهِ وَقَالَ أَبْلِي وَأَخْلِقِي مَرَّتَيْنِ فَجَعَلَ يَنْظُرُ إِلَى عَلَمِ الْخَمِيصَةِ وَيُشِيرُ بِيَدِهِ إِلَيَّ وَيَقُولُ يَا أُمَّ خَالِدٍ هَذَا سَنَا وَيَا أُمَّ خَالِدٍ هَذَا سَنَا وَالسَّنَا بِلِسَانِ الْحَبَشِيَّةِ الْحَسَنُ قَالَ إِسْحَاقُ حَدَّثَتْنِي امْرَأَةٌ مِنْ أَهْلِي أَنَّهَا رَأَتْهُ عَلَى أُمِّ خَالِدٍ[ر:٢٩٠٦]

چه کوم سړې نوې جامې واغوندې ده ته کومه دعا کول پکار دې ، د يو دعا په حديث د باب کښې ذکر دې " أبلی وأخلقی " نوې جامه ئې اوليدله نو وې فرمائل :"البس جديدا، وعش حميدا ومت شهيدا" (٢) نوې لباس واچوې او ښه ژوند تير کړې او د شهادت مرګ بيا مومې - او اغوستونکې به په خپله دا دعا اووائی : اللهم لك الحمد أنت كسوتنيه أسألك من خيره و خير ما صنع له ، و أعوذ بك من شره و شر ما صُنع له " (اے الله د ستا شکر دې چه تا په ما دا لباس واغوستو ، څه ستا نه غواړم ددې نيکی او نيکی د هغه څه چه څه دپاره دا جوړه شويده او څه تاسره پناه غواړم د دې د شر نه او د شر د هغه څه نه چه د څه دپاره دا جوړه شويده) (٣) حاکم په " مستدرك " کښې دا دعا نقل کړيده -

امام ترمذی رحمه الله دا دعا نقل کړيده " الحمد لله الذی كسانی ما أواری به عورتی ، و أتجمل به فی حياتی" (٤) د الله تعالی شکر دې چه ده ما ته داسې لباس راکړو چه دې سره څه خپل ستر پټوم او په ژوند کښې پرې ښائست حاصلوم -)

(١) إرشاد الساری : ١٢\٥٥٦)
(٢) سنن ابن ماجه كتاب اللباس ، باب مايقول الرجل إذا لبس ثوبا جديدا : ٢\١١٧٨(رقم الحديث: ٣٥٥٨)
(٣) المتدرک للحاكم ، كتاب اللباس ، باب فی الدعاء عذر ثوب جديد : ٤\١٩٢)
(٤) رواه الترمذی فی كتاب الدعاوات ، باب (بلا ترجمة) : ٥\٥٥٨ (رقم الحديث : ٣٥٦)

يو بله دعا امام احمد او امام ابوداود رحمهما الله نقل كړيده " الحمد لله الذى كسانى هذا الثوب، ورزقنيه من غير حول منى ولا قوة " (١) (د الله تعالى شكر دې چه ده په ما دا جامه واغوسته او خما د څه طاقت او د قوت نه بغير ئې ما ته دا راكړه -)
دا دعاګانې چه د امام بخارى په شرط نه وې ، دې وجه نه امام د دې ذكر اونكړو (٢)

٣٢=باب التزعفر للرجال

[٥٥٠٨] (٣) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ عَنْ أَنَسٍ قَالَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَتَزَعْفَرَ الرَّجُلُ

٣٣=باب الثوب المزعفر

[٥٥٠٩] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَلْبَسَ الْمُحْرِمُ ثَوْبًا مَصْبُوغًا بِوَرْسٍ أَوْ بِزَعْفَرَانٍ [ر:١٣٤]

په زعفران كښې د رنګ شوو جامو حكم : په زعفران كښ د رنګ شوو جامو استعمال د سړو دپاره جائز دې او كه ناجائز ؟ دېكښې اختلاف دې -
د امام مالك رحمه الله په نزد ددې استعمال د سړو دپاره جائز دې ، خو په جامو كښې ئې استعمالولې شى ، په بدن كښې ئې نه شى استعمالولې - (٤)
د احنافو او شوافعو او د حنابله په نزد ددې استعمال مطلقا ممنوع دې ، په بدن كښې هم او په جامو كښې هم په دواړو كښې ددې استعمال مكروه تحريمى دې (٥) د تَزَعفُر معنى ده په زعفران كښې رنګ شوې
مالكيه حضرات د موطا امام مالك د روايت نه استدلال كوى چه هغې كښې د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما باره كښې دى " كان يلبس الثوب المصبوغ بالزعفران " (٦)

---

(١) أخرجه ابوداود فى كتاب اللباس : ٤ \ ٤٢ (رقم الحديث : ٤٠٢٣)
(٢) عمدة القارى : ٢٢ \ ٢١)
(٣) الحديث أخرجه مسلم فى اللباس ، باب نهى الرجل عن التزعفر : ٣ \ ١٦٦٢ (رقم الحديث : ٢١٠١) و أخرجه النسائى فى كتاب الزينة باب التزعفر و الخلوق : ٥ \ ٤٢٩ (رقم الحديث : ٩٤١٤)
(٤) شرح صحيح البخارى لابن بطال : ٩ \ ١١٩ ، عمدة القارى : ٢٢ \ ٢٢ ، شرح زرقانى ، كتاب اللباس ، باب فى لبس الثياب ، باب فى لبس الثياب المصبغة و الذهب : ٤ \ ٢٦٩)
(٥) أوجز المسالك فى كتاب اللباس ، باب ما جاء فى لبس الثياب المصبغة و الذهب : ١٤ \ ١٧٧ ، و المغنى لابن قدامة ، كتاب الصلوة ، باب لباس المصلى ، الفصل الثالث فيما يكره : ١ \ ٣٤١) ځكه چه حديث د باب كښې مطلقا ممانعت دې " نهى النبىُّ صلى الله عليه و سلم أن يتزعفر الرجلُ " (رسول الله صلى الله عليه و سلم په زعفران كښې رنګ شوې جامو اغوستو نه منع كړيده)
(٦) الموطا للإمام مالک ، كتاب اللباس ، باب ما جاء فى لبس الثياب المصبغة و الذهب : ٢ \ ٩١١)

(يعنى حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنهما په زعفران كښې رنګ شوې جامې اغوستې وې)
شارح د هدايه علامه ابن الهمام فرمائى چه جمهورو محرم لره په مبيح باندې ترجيح وركړيده او په نهي نې عمل اوكړو ، اګر چه د اباحت راواېتونه هم شته - ([1])
" ثوب مزعفر " په شان يو بله جامه ده چه ورته " ثوب معصفر " وائى ، امام بخارى رحمه الله د دې ذكر نه دې كړې ، خو شارحينو د دې حكم بيان كړيدې -

د ثوب معصفر حكم : عُصْفُر (د عين په ضمه او د صاد په سكون او د فاء په ضمه سره) يو خاص قسم د زيړ رنګ بوټې دې چه دا په اوبو كښې واچولې شى او جامې پرې رنګ كيږى ، عربو كښې ددې رواج وو ([2])
امام مسلم رحمه الله په كتاب اللباس كښې د حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما نه روايت نقل كړيدې چه رسول الله ﷺ په دوى باندې ثوب معصفر اوليدلو نو وې فرمايل "إن هذه من ثياب الكفار، فلا تلبسها" ([3])
احناف حضرات ددې حديث نه استدلال كوى او وائى چه د سړو دپاره ددې استعمال مكروه تحريمى دې - ([4]) اګر چه امام نووى رحمه الله د امام ابو حنيفه رحمه الله نه د جواز قول هم نقل كړيدې ([5]) خو د احنافو مختار مسلك د كراهت دې ، ابن قدامه د حنابله په نزد هم د كراهت قول نقل كړيدې - ([6])
د امام شافعى رحمه الله مشهور قول د اباحت دې ([7]) خو امام بيهقى رحمه الله فرمائى چه غالبا امام شافعى ته د نهى روايت نه وو رسيدلې ، بيهقى كراهت له راجح ګرځولې دې([8])
د امام مالك رحمه الله مختلف روايتونه رانقل دې خو مشهوره دا ده چه كه ددې رنګ تيز نه وى نو دا جائز دې ، خو د عُصفر رنګ تيز وى نو دا د دوى په نزد مكروه دې - ([9])
په حديث د باب كښې د " وَرْس " لفظ راغلې دې ، دا هم يو بوټې دې او د جامو په رنګ كولو كښې پكار راځى - ([10])

---

[1]) أوجز المسالک ، كتاب اللباس ، باب ما جاء فى لبس الثياب المصبغة : ١٤\١٧٧)
[2]) القاموس الوحيد : ١٠٧٩)
[3]) أخرجه مسلم فى كتاب اللباس و الزينة ، باب النهى عن لبس الرجل الثوب المعصفر (رقم الحديث ٢٠٧٧) ٣\١٦٤٧)
[4]) الدرالمختار ، كتاب الحظر و الإباحة ، فصل فى اللبس : ٥\٢٥٢)
[5]) شرح مسلم للنووى فى كتاب اللباس و الزينة ، باب النهى عن لبس العصفر : ٢\١٩٣)
[6]) المغنى لابن قدامة ، كتاب اللباس ، باب لباس لامصلى ، الفصل الثالث فيما يكره : ١١\٣٤١)
[7]) إرشاد السارى : ١٢\٥٥٨)
[8]) فتح البارى : ١٠\٣٧٥ ، إرشاد السارى : ١٢\٥٥٨)
[9]) شرح الزرقانى على الموطا للإمام مالک ، كتاب اللباس ، باب ما جاء فى لبس ثياب المصبغة و الذهب : ٤\٢٧٠)
[10]) إرشاد السارى : ١٢\٥٥٩)

دا ياد ساته چه د امامانو په نزد د ثوب مزعفر او د معصفر دا ممانعت صرف د سړو دپاره دې د ښځو دپاره نه دې -
امام بخاري رحمه الله چه په باب کښې کوم حديث نقل کړيدې ، ديکښې نهی صرف د محرم په حق کښې ده چه د هغې مفهوم مخالف دا رااوخي چه د غير محرم دپاره ثوب مزعفر استعمالول جائز دی ، امام ړومبې باب قايم کړو " باب التزعفر للرجال " او ددې لاندې ئې حديث ذکر کړو "نهى النبيﷺ أن يتزعفر الرجل" ديکښې نهی مطلق ده او دويم باب " باب الثوب المزعفر " کښې چه کوم روايت ذکر کړو ديکښې نهی صرف د محرم دپاره ده ، د امام د صنيع نه معلوميږی چه دې هم د امام مالك په شان نهی مطلق په مقيد محمول کوی ، د امام مالك په نزد د مرحم دپاره د ثوب مزعفر استعمال د حديث د باب په وجه ممنوع دې - (۱)

۳۴=بَاب الثَّوْبِ الْأَحْمَرِ

[۵۵۱۰] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ سَمِعَ الْبَرَاءَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرْبُوعًا وَقَدْ رَأَيْتُهُ فِي حُلَّةٍ حَمْرَاءَ مَا رَأَيْتُ شَيْئًا أَحْسَنَ مِنْهُ [ر:۳۳۵۶]

۳۵=بَاب الْمِيثَرَةِ الْحَمْرَاءِ

[۵۵۱۱] حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ أَشْعَثَ عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ سُوَيْدِ بْنِ مُقَرِّنٍ عَنْ الْبَرَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ أَمَرَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَبْعٍ عِيَادَةِ الْمَرِيضِ وَاتِّبَاعِ الْجَنَائِزِ وَتَشْمِيتِ الْعَاطِسِ وَنَهَانَا عَنْ سَبْعٍ عَنْ لُبْسِ الْحَرِيرِ وَالدِّيبَاجِ وَالْقَسِّيِّ وَالْإِسْتَبْرَقِ وَالْمَيَاثِرِ الْحُمْرِ [ر:۱۱۸۲]

د سور رنګ جامو د استعمالولو حکم :د سړو دپاره د سور رنګ د جامو استعمالول جائز دی او که ناجائز؟ دې سلسله کښې روايتونه مختلف دی ، د بعض روايتونو نه جواز معلوميږی او د بعض روايتونو نه عدم جواز معلوميږی -(۲)
د روايتونو ددې تعارض په وجه د فقهاءو اقوال هم ديکښې مختلف دی، لکه چه بعضې عالمانو ديته مطلقا جائز او بعضو ورته مطلقا ناجائز ويلې دی، د احنافو حضراتو په نزد د اوو نه زيات اقوال دی ، د بعضو په نزد حرام او د بعضو په نزد مباح او د بعضو په نزد مستحب ، او د بعضو په نزد مکروه تنزيهی دی، خو راجح قول د کراهت تنزيهی دې، (۳)

---

(۱) فتح الباري : ۱۰\۳۷۵ ، عمدة القاري : ۲۲\۲۲)
(۲) عن عبد الله بن عمروبن العاص رضي الله عنه قال : " مرّ على النبي صلى الله عليه و سلم رجل و عليه ثوبان أحمران ، فسلّم ، فلم يرد عليه رسول الله صلى الله عليه و سلم " أخرجه أبوداود فى كتاب اللباس ، باب فى الحمرة : ٤\٥٣ (رقم الحديث : ٤٠٦٩) و أخرجه الترمذى فى كتاب الأدب ، باب كراهية لبس المعصفر للرجال : ۵\۱۱۶ (رقم الحديث : ۲۸۰۷)
(۳) امداد الفتاوی: ٤\۱۲۵ کفايت المفتی کښې ورته جائز ويلې دی : ۹\۱۵۷ ، احسن الفتاوی : ۸۶۲)

حضرت گنگوهی رحمه الله فرمائی :

" والمذهب في لبس الحمرة و الصفرة : أن المزعفر و المعصفر ممنوع عنه الرجال مطلقا ، و الحمرة و الصفرة غيرذلك، فالفتوى على جوازهما مطلقا، لكن التقوى غيرذلك " (۱)

دا تفصیل د تیز سور رنګ د جامو متعلق دي خو د پیکه سور رنګ جامه یا داسې جامه چه دیکښې سره تارونه وی ، بغیر د کراهته جائز دي - (۲)

امام بخاری رحمه الله د باب الثوب الاحمر لاندې چه کوم روایت ذکر کړیدې ، دینه جواز معلومیږی - خو د راس (سر) حکم دینه جدا دي او د سرې ټوپۍ په سرول بالاتفاق جائز او صحیح دي -

۳۶=بَابُ النِّعَالِ السِّبْتِيَّةِ وَغَيْرِهَا

[۵۵۳۰] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ سَعِيدٍ أَبِي مَسْلَمَةَ قَالَ سَأَلْتُ أَنَسًا أَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِي نَعْلَيْهِ قَالَ نَعَمْ [ر:۳۷۹]

[۵۵۳۱] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ عُبَيْدِ بْنِ جُرَيْجٍ أَنَّهُ قَالَ لِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا رَأَيْتُكَ تَصْنَعُ أَرْبَعًا لَمْ أَرَ أَحَدًا مِنْ أَصْحَابِكَ يَصْنَعُهَا قَالَ مَا هِيَ يَا ابْنَ جُرَيْجٍ قَالَ رَأَيْتُكَ لَا تَمَسُّ مِنَ الْأَرْكَانِ إِلَّا الْيَمَانِيَيْنِ وَرَأَيْتُكَ تَلْبَسُ النِّعَالَ السِّبْتِيَّةَ وَرَأَيْتُكَ تَصْبُغُ بِالصُّفْرَةِ وَرَأَيْتُكَ إِذَا كُنْتَ بِمَكَّةَ أَهَلَّ النَّاسُ إِذَا رَأَوُا الْهِلَالَ وَلَمْ تُهِلَّ أَنْتَ حَتَّى كَانَ يَوْمُ التَّرْوِيَةِ فَقَالَ لَهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ أَمَّا الْأَرْكَانُ فَإِنِّي لَمْ أَرَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمَسُّ إِلَّا الْيَمَانِيَيْنِ وَأَمَّا النِّعَالُ السِّبْتِيَّةُ فَإِنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلْبَسُ النِّعَالَ الَّتِي لَيْسَ فِيهَا شَعَرٌ وَيَتَوَضَّأُ فِيهَا فَأَنَا أُحِبُّ أَنْ أَلْبَسَهَا وَأَمَّا الصُّفْرَةُ فَإِنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْبُغُ بِهَا فَأَنَا أُحِبُّ أَنْ أَصْبُغَ بِهَا وَأَمَّا الْإِهْلَالُ فَإِنِّي لَمْ أَرَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُهِلُّ حَتَّى تَنْبَعِثَ بِهِ رَاحِلَتُهُ [ر:۱۶۳]

[۵۵۳۲] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَلْبَسَ الْمُحْرِمُ ثَوْبًا مَصْبُوغًا بِزَعْفَرَانٍ أَوْ وَرْسٍ وَقَالَ مَنْ لَمْ يَجِدْ نَعْلَيْنِ فَلْيَلْبَسْ خُفَّيْنِ وَلْيَقْطَعْهُمَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ [ر:۱۳۴]

[۵۵۳۳] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ زَيْدٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ إِزَارٌ

---

(۱) الابواب و التراجم : ۲\۱۰۷ ، رد المحتار على الدر المختار ، كتاب الحظر و الإباحة ، فصل في اللبس : ۶\۳۵۸)

(۲) رد المحتار على الدر المختار ، كتاب الحظر و الإباحة ، فصل في اللبس : ۶\۳۵۸)

فَلْيَلْبَسِ السَّرَاوِيلَ وَمَنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ نَعْلَانِ فَلْيَلْبَسْ خُفَّيْنِ [ر: ۱۸۵۳]

سِبْتِيَّة (د سين په کسره د باء په سکون او د ياء مفتوحه مشدده سره) النّعال صفت دې او د سبت اصل معنى د پريکولو راځى ، نِعَال سِبْتِيَّة نه د څرمنې هغه پانړار مراد دې چه د هغې د څرمنې نه ويښته صفا کړې شى او پانړار ترينه جوړ کړې شى په پخوانى زمانه کښې به د څرمنې نه د دوه قسمونو پانړار جوړيدو رواج وو يو به د هغه څرمنې نه جوړيدې چه د هغې نه به ويښته پاك شوي وو او پانړار به ترينه جوړيدلو مالدارو خلقو به داسې پانړار جوړولو او بل هغه قسم چه څرمنې نه به ويښته نه وو صفا شوي او دينه به پانړار جوړيدلو - (۱)

د ترجمة الباب مقصد : شيخ الحديث مولانا محمد زکريا رحمه الله د ترجمة الباب مقصد بيانوى او ليکى :

"وعندى أن المصنف إنما ترجم بالنعال السبتية لما يتوهم من بعض الروايات من كراهيتها، ولما قال عبيد بن جريج كما في رواية الباب من قوله : "لم أر أحدا يصنعها" فأشار المصنف بالترجمة إلى مشروعيتها" (۲)

يعنى سبتى پنړو ته بعض خلقو مکروه ويلى دى (ځکه چه په زمانه د جاهليت کښې د مترفينو او د عيش پسندو خلقو په استعمال کښې دا وو) د بعض روايتونو نه هم ددې کراهت وهم کيږى ، ددې قول نه هم چا ته د کراهت وهم کيدې شو - امام بخارى رحمه الله په دې ترجمة الباب سره د دې مشروعيت بلا کراهت ته اشاره اوکړه -

د سبتى پنړو استعمال مطلقا د جمهورو په نزد جائز دې - د امام احمد رحمه الله په نزد په قبرستان کښې د سبتى پنړواستعمال صحيح نه دې ، مکروه دې (۳) دې د بشير بن الخصاصيه د روايت نه استدلال کوى چه امام احمد په خپل مسند کښې او امام ابوداود د بشير بن نهيك نه نقل کړيدې ، دې فرمائى : إن رسول الله صلى الله عليه و سلم رأى رجلا يمشي في نعلين بين القبور، فقال: يا صاحب السبتيتين: ألقهما" (۴)

(رسول الله ﷺ يو سړې د قبرونو مينځ کښې د پنړو سره په تلو اوليدو نو وې فرمائل : اې سبتى پنړو والا پنړې دې اوباسه)

خو دې روايت کښې يو احتمال دا هم دې چه د ألقهما نه د پنړو ويستل مراد نه وى بلکه په پنړو باندې لګيدلې پليدې مراد وى - امام طحاوى رحمه الله دا احتمال ذکر کړيدې ، دا احتمال اګر چه احتمال بعيد دې خو چه د حضرت انس رضي الله عنه د صحيح حديث نه په قبرستان کښې د پنړو سره د تللو اجازت معلوميږى چه هغې کښې دى " إن الميت يسمع قرع نعالهم، إذا

---

(۱) عمدة القارى : ۲۲\۲۴)
(۲) الأبواب و التراجم : ۲\۱۰۷)
(۳) فتح البارى : ۱۰\۳۷۹)
(۴) المسند للإمام أحمد ، مسانيد بشير بن الخصاصية : ۵\۳۸ ، سنن أبى داود ، کتاب الجنائز ، باب المشى فى النعل بين القبور ۳\۲۱۷ (رقم الحديث : ۳۲۳۰)

ولّواعنه مدبرين"(١) (مړې چه دفن کړې شی او کله ده نه خلق واپس کيږی نو دې د خلقو د پړو اواز اوری) دې وجه نه دا تاويل شويدې -
حافظ ابن حجر يو بل احتمال هم ذکر کړيدې هغه فرمائی :

" و يحتمل أن يكون النهي لإكرام الميت ، وليس ذكر السبتيتين للتخصيص ، بل اتّفق ذلك ، و النهي إنما هو للمشي على القبور بالنعال" (٢)

يعني ممکن ده چه قبرستان کښې پړو سره د تلو ممانعت د قبرونو والا د اکرام د وجه نه شوې وی چه د پړو سره د قبرونو دپاسه مه ځه چه دا خلاف د ادب دې او د سبتيتين ذکر احترازی نه وی اتفاقی وی مراد ترينه هر قسم پړې وی "

٣٧=بَاب يَبْدَأُ بِالنَّعْلِ الْيُمْنَى

[٥٥٢٦] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ زَيْدٍ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ إِزَارٌ فَلْيَلْبَسْ السَّرَاوِيلَ وَمَنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ نَعْلَانِ فَلْيَلْبَسْ خُفَّيْنِ [ر:١٦٦]

٣٨=بَاب يَنْزِعُ نَعْلَهُ الْيُسْرَى

[٥٥٢٧] (٣) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنْ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا انْتَعَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَبْدَأْ بِالْيَمِينِ وَإِذَا نَزَعَ فَلْيَبْدَأْ بِالشِّمَالِ لِيَكُنْ الْيُمْنَى أَوَّلَهُمَا تُنْعَلُ وَآخِرَهُمَا تُنْزَعُ

په پړو اچولو کښې ادب او سنت هم دا دې چه پړې اچولو کښې رومبې ښۍ پښه ننويستل دې او ويستو وخت کښې به ګسه پښه اوباسې ، ښۍ پښه به اچولو کښې مقدم کول او په ويستو کښې موخر کول دی -

٣٩=بَاب لَا يَمْشِي فِي نَعْلٍ وَاحِدَةٍ

[٥٥٢٨] (٤) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنْ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ

---

١) أخرجه أبوداود فى كتاب السنة. باب فى المسألة فى القبر وعذاب القبر: ٤ \ ٢٣٩ (رقم الحديث : ٤٧٥٢)
٢) فتح البارى : ١٠ \ ٣٨٠)
٣) الحديث أخرجه الترمذى فى كتاب اللباس . باب ما جاء بأى رجل يبدأ إذا تنعل : ٤ \ ٢٤٤ (رقم الحديث : ١٧٧٩) و أخرجه مسلم فى اللباس و الزينة . باب استحباب لبس النعل فى اليُمنى أولا ... ٣ \ ١٦٦٠ (رقم الحديث : ٢٠٩٧) و أخرجه أبوداود فى اللباس . باب فى الإنتعال : ٤ \ ٧٠ (رقم الحديث : ٤١٣٩) و أخرجه ابن ماجه فى اللباس . باب لبس النعال و خلعها : ٢ \ ١١٩٥ ورقم الحديث : ٣٦١٦)
٤) الحديث أخرجه مسلم فى اللباس و الزينة . باب استحباب لبس النعل فى اليُمنى أولا ..... ٣ \ ١٦٦٠ (رقم الحديث : ٢٠٩٧) و أخرجه الترمذى فى كتاب اللباس . باب ما جاء فى كراهية المشى فى النعل الواحدة : ٤ \ ٢٤٢ (رقم الحديث : ١٧٧٤) و أخرجه أبوداود فى اللباس . باب...

[بقيه برصفحه آئنده....

أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَمْشِي أَحَدُكُمْ فِي نَعْلٍ وَاحِدَةٍ لِيُحْفِهِمَا جَمِيعًا أَوْلِيُنْعِلْهُمَا جَمِيعًا

يوه پنړه كښې ګرځيدل مكروه دى: يو پښه كښې نې پنړه ده او بله پښه بغير د پنړې دى ، په دې هيئت تلل مكروه دي ، ځكه چه دا د اعتدال نه لرې يو بې ډوله طريقه ده ، لباس او هيئت كښې داسې انداز اختيارول چه د خلقو سترګې ده ته متوجه شى ، ممنوع دي او ابن العربى رحمه الله فرمائي چه دا د شيطان چال دې ، دې وجه نه دا ممنوع دې - (۱)

حديث د باب حضرت ابوهريره ﷺ نه روايت دې ، فرمائى چه رسول الله ﷺ فرمائلي دى چه تاسو كښې دې يو كس يو پنړه په پښو كړې نه ګرځى يا دې دواړه واچوى يا دې دواړه اوباسى -

ليحفهما: دا د احفاء باب افعال نه دې چه ددې معنى د پښو بربنډولو او د پنړو د ويستلو ده د أنعل معنى د پنړو د وراغوستو ده -

د روايتونو تعارض او ددې حل : په بعضې روايتونو كښې د رسول الله ﷺ تلل په يو پنړه كښې هم ثابت دې ، لكه حضرت عائشه ﷺ نه يو روايت منقول دې " ربما مشى النبىﷺ صلى الله عليه وسلم فى نعل واحدة " او په خپله د حضرت عائشه په باره كښې روايت دې چه " إنها مشت فى خُفٍ واحد" (۲)

امام ترمذى رحمه الله فرمائى چه ما د امام بخارى نه ددې حديث متعلق تپوس اوكړو نو دوى اوويل : دا حديث د حضرت عائشه نه موقوف صحيح دې ، ګويا مرفوع دوى غير صحيح اوګرځولو - (۳)

د حضرت عائشه نه علاوه د حضرت ابن عمر او د حضرت على نه هم په يو پنړه كښې ګرځيدلو روايت راغلي دې - (۴)

خو دواړو قسمو روايتونو كښې حقيقتا هيڅ تعارض نشته دې ، عام حالاتو كښې خو ادب هم دا دې چه دواړو پښو كښې دې پنړې وى يا دې دواړو كښې پنړې نه وى ، خو كه كله د

...بقيه ازحاشيه ګذشته] فى الإنتعال : ٤ \ ٦٩ (رقم الحديث : ٤١٣٦) و أخرجه ابن ماجه فى اللباس ، باب المشى فى النعل الواحد : ٢ \ ١١٩٥ (رقم الحديث : ٣٦١٧)

(۱) فتح البارى : ١٠ \ ٣٨١ ، عمدة القارى : ٢٢ \ ٢٦)

(۲) په يو پنړه كښې تلل امام ترمذى دا نقل كړيدي - كتاب اللباس ، باب ما جاء من الرخصة فى المشى ف النعل الواحدة : ٤ \ ٢٤٤ (رقم الحديث : ١٧٧٧) حضرت عائشه رضى الله عنها به هم كله كله په يو پنړه كښې ګرځيدله ، أخرجه الترمذى فى كتاب اللباس باب ما جاء من الرخصة فى المشى فى النعل الواحدة : ٤ \ ٢٤٤ (رقم الحديث : ١٧٧٨)

(۳) سنن الترمذى ، كتاب اللباس ، باب ما جاء من الرخصة فى المشى فى النعل الواحدة : ٤ \ ٢٤٤ (رقم الحديث : ١٧٧٨)

(۴) عمدة القارى : ٢٢ \ ٢٦)

څه عذر د وجه نه لږ ساعت دپاره يو پڼړه کښې ګرځيدل وی نو دا هم صحيح او جائز دي مثلاً يو پڼړه په لاره کښې اوشليدله ، دا ئې د جوړولو دپاره په لاس کښې واخسته او بله پڼړه ئې په پښه کښې ده نو دا جائز دی - (١)
او دا هم کيدې شی چه حديث د باب کښې نهی تنزيهی وی چه د جواز سره جمع کيدې شی - (٢)

٤٠ = بَاب قِبَالاَنِ فِي نَعْلٍ وَمَنْ رَأَى قِبَالًا وَاحِدًا وَاسِعًا

[٥٥١٩ \ ٥٥٢٠] حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ قَتَادَةَ حَدَّثَنَا أَنَسٌ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ نَعْلَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لَهَا قِبَالاَنِ

[٥٥٢٠] حَدَّثَنِي مُحَمَّدٌ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا عِيسَى بْنُ طَهْمَانَ قَالَ خَرَجَ إِلَيْنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ بِنَعْلَيْنِ لَهُمَا قِبَالاَنِ فَقَالَ ثَابِتٌ الْبُنَانِيُّ هَذِهِ نَعْلُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ر: ٢٩٤٠]

قِبال (د قاف په کسره سره) د څپلو هغه تسمې ته وائی چه د پښې دپاسه تيره شوې او د متې او د مسواکې ګوتې په مينځ لاندې د چپل په تلی کښې لګيدلې وی ، د رسول الله ﷺ په چپلو کښې دوه تسمې لکه چه په حديث د باب کښې دی ، امام بخاری په ترجمة الباب کښې فرمائی : "ومن رأى قبالا واحدا واسعا" يعنی بعض خلق يو تسمه هم جائز ګڼړی ، واسع د جائز په معنی دې (٣) د ترجمة الباب ددې دويم جزء سره متعلق څه حديث په باب کښې نشته دې او شارح د بخاری علامه کرمانی رحمه الله فرمائی :

"دلالة الحديث على الترجمة من جهة أن النعل صادقة على مجموع ما يلبس في الرجلين ، وأما الركن الثاني من الترجمة ، فمن جهة أن مقابلة الشيء بالشيء يفيد التوزيع ، فلكل واحد من نعل رجل قبال واحد" (٤)

ددې حاصل دا دې چه اګر چه په حديث د باب کښې د دوه تسمو ذکر دې ، د يو نه دې ، خو د يو ذکر د يوې بلې مشهورې قاعدې نه معلوميږی او هغه قاعده دا ده مقابلة الشيء بالشيء يفيد التوزيع يعنی چه يو څيز د بل څيز په مقابله کښې ذکر شی نو د تقسيم او د توزيع فائده ورکوی ، دې وجه نه د دوه تسمو ذکر ئې په مقابله د نعل کښې اوکړو نو د هر چپل په حصه کښې يو تسمه راغله نو دا رنګه د يو قبال ذکر ضمنا ددې حديث نه معلوميږی -
شيخ الحديث مولانا محمد زکريا رحمه الله فرمائی چه د دې دويم جزء نه د امام بخاری رحمه الله هغه روايتونو ته اشاره ده چه کومو کښې د بعضې اسلافو نه د يو تسمې ذکر منقول دې ، خو دا روايات چه د امام په شرط نه وو نو دې وجه نه ئې ذکر نه کړل ، خو بيا

---

١) فتح الباری : ١٠ \ ٣٨٢ ، عمدة القاری : ٢٢ \ ٢٦)
٢) فتح الباری : ١٠ \ ٣٨١ ، عمدة القاری : ٢٢ \ ٢٦)
٣) فتح الباری : ١٠ \ ٣٨٣ ، عمدة القاری : ٢٢ \ ٢٦ ، شرح الکرمانی : ٢١ \ ٩٤)
٤) الأبواب والتراجم : ٢ \ ١٠٧ ، دارنګه اوګورئ شرح الکرمانی : ٢١ \ ٩٤)

هم د امام بخاري د سياق د ترجمه نه هم دا معلوميږي چه دې دوه تسمو له په يو باندې ترجيح ورکوی - (۱)

۴۱=بَاب الْقُبَّةِ الْحَمْرَاءِ مِنْ أَدَمٍ

[۵۵۲۱]حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَرْعَرَةَ قَالَ حَدَّثَنِي عُمَرُ بْنُ أَبِي زَائِدَةَ عَنْ عَوْنِ بْنِ أَبِي جُحَيْفَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي قُبَّةٍ حَمْرَاءَ مِنْ أَدَمٍ وَرَأَيْتُ بِلَالًا أَخَذَ وَضُوءَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسُ يَبْتَدِرُونَ الْوَضُوءَ فَمَنْ أَصَابَ مِنْهُ شَيْئًا تَمَسَّحَ بِهِ وَمَنْ لَمْ يُصِبْ مِنْهُ شَيْئًا أَخَذَ مِنْ بَلَلِ يَدِ صَاحِبِهِ[ر:۱۸۵]

[۵۵۲۲]حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنْ الزُّهْرِيِّ أَخْبَرَنِي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ وَقَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِي يُونُسُ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ أَرْسَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْأَنْصَارِ وَجَمَعَهُمْ فِي قُبَّةٍ مِنْ أَدَمٍ[ر:۲۹۷۷]

قبه گنبد او غونډی عمارت ته وائی دلته دينه غونډې مونډئ خيمه مراد ده ، أدم رنګ شوي څرمنې ته وايی - (۲)

د امام بخاری رحمه الله مقصد دا دې چه د کور يا د خيمې رنګ که سور وی نو څه جرم نه دې،د باب تر لاندې ئې چه کوم ړومبې حديث رانقل کړيدې، ديکښې د "قبة حمراء من أدم" تصريح ده ، خو په بل حديث کښې د "قبة من أدم" دې ، د حمراء تصريح نشته دې ، خو دې دويم حديث نه هم هغه وړاندينئ قبه مراد ده ، چه کومه سره وه ، د حمراء تصريح غالبا د اختصار د وجه حضرت انس ﷺ حذف کړيده دارنګه د حديث مناسبت د باب سره دې - هسې هم امام بخاری رحمه الله په ادنی مناسبت سره هم حديث راوړی ، مطلقا د قبه ذکر هم د امام بخاری رحمه الله په صنيع کښې د حديث د باب تر لاندې ذکر کولو دپاره کافی ده - (۳)

۴۲=بَاب الْجُلُوسِ عَلَى الْحَصِيرِ وَنَحْوِهِ

[۵۵۲۳]حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي بَكْرٍ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَحْتَجِرُ حَصِيرًا بِاللَّيْلِ فَيُصَلِّي عَلَيْهِ وَيَبْسُطُهُ بِالنَّهَارِ فَيَجْلِسُ عَلَيْهِ فَجَعَلَ النَّاسُ يَثُوبُونَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيُصَلُّونَ بِصَلَاتِهِ حَتَّى كَثُرُوا فَأَقْبَلَ فَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ خُذُوا مِنْ الْأَعْمَالِ مَا تُطِيقُونَ فَإِنَّ اللَّهَ لَا يَمَلُّ حَتَّى تَمَلُّوا وَإِنَّ أَحَبَّ الْأَعْمَالِ

---

۱) الابواب و التراجم : ۲\۱۰۷)

۲) عمدة القاری : ۲۲\۲۷ ، فتح الباری : ۱۰\۳۸۵ ، إرشاد الساری : ۱۲\۵۶۳)

۳) إرشاد الساری: ۱۲\۵۶۵ ،فتح الباری:۱۰\۳۸۵ ، شرح الکرمانی : ۲۱\۹۵ ،عمدة القاری : ۲۲\۲۷)

إِلَى اللَّهِ مَادَامَ وَإِنْ قَلَّ [ر:۶۹۶]
دې باب کښې په پوزی وغیره باندې د ناستې ذکر دی ، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله به دې ترجمه سره د هغه روایت ضعف ته اشاره کوی چه په کومه کښې د حضرت عائشه رضي الله عنها نه تپوس اوشو چه آیا نبی کریم ﷺ په پوزې باندې مونځ به کولو حال دا دې چه د حصير (پوزی) متعلق خو قرآن کريم فرمائی (وَجَعَلْنَا جَهَنَّمَ لِلْكَافِرِينَ حَصِيرًا) نو حضرت عائشه رضي الله عنها اوفرمائل رسول الله ﷺ په پوزی به مونځ نه کولو - (۱)

امام بخاری په دې باب سره د دې روایت ضعیف کیدو ته اشاره کړیده - (۲)

يَحْتَجِرُ حَصِيرًا : د احتجار معنی ده أی يتخذ حجرة لنفسه ...... حجرت الأرض و احتجرتها دا هغه وخت ویلې کیږی چه کله په څه ځائې باندې نخه اولګولې شی او د خان دپاره خاص کړې شی او نور د دینه بند کړې شی - (۳)

رسول الله ﷺ به د شپې د پوزی حجره جوړه کړه او مونځ به ئې کولو او د ورځې به ئې دا خوره او په دې باندې به کښیناستو ، خلقو به رسول الله ﷺ ته رجوع کوله او دوی سره به ئې مونځ کولو ، چه کله د دوی تعداد زیات شو نو دوی متوجه شو او وې فرمائل (دا هغه واقعه ته اشاره ده چه کله دوی د تراویح مونځ په رمضان کښې په پوزی په حجره کښې کولو او د اصحابو مجمع زیاتیدل شروع شوې وو) " هغه عملونه اختیار کړې چه د کومې د ستاسو طاقت وې ځکه چه الله تعالی په ثواب ورکولو نه ستړې کیږی چه تر څو تاسو په عمل نه ئې زړه تنګې شوې او د الله تعالی په نزد بهتر عمل هغه دې چه هغه همیشه اوکړې شی ، اګر چه لږ وی -

۴۳=بَاب الْمُزَرَّرِ بِالذَّهَبِ

[۵۵۲۳] وَقَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِي ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ أَنَّ أَبَاهُ مَخْرَمَةَ قَالَ لَهُ يَا بُنَيَّ إِنَّهُ بَلَغَنِي أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدِمَتْ عَلَيْهِ أَقْبِيَةٌ فَهُوَ يَقْسِمُهَا فَاذْهَبْ بِنَا إِلَيْهِ فَذَهَبْنَا فَوَجَدْنَا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَنْزِلِهِ فَقَالَ لِي يَا بُنَيَّ ادْعُ لِي النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَعْظَمْتُ ذَلِكَ فَقُلْتُ أَدْعُو لَكَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا بُنَيَّ إِنَّهُ لَيْسَ بِجَبَّارٍ فَدَعَوْتُهُ فَخَرَجَ وَعَلَيْهِ قَبَاءٌ مِنْ دِيبَاجٍ مُزَرَّرٌ بِالذَّهَبِ فَقَالَ يَا مَخْرَمَةُ هَذَا خَبَأْنَاهُ لَكَ فَأَعْطَاهُ إِيَّاهُ [ر:۲۴۵۹]

مُزَرَّر : د باب تفعیل نه د اسم مفعول صیغه ده یعنی هغه جامې چه دیکښې د سرو زرو تڼۍ لګیدلې وې - زَرَّرَ الثوب : أی شدّه بالأزرار : تڼۍ تړل - إزرار ، د زِرّ (په کسره د زاء) جمع

(۱) فتح الباری : ۱۰\۳۸۶ ، عمدة القاری : ۲۲\۲۸)
(۲) الابواب و التراجم : ۲\۱۰۷ ، فتح الباری : ۱۰\۳۸۶ ، عمدة القاری : ۲۲\۲۸)
(۳) فتح الباری : ۱۰\۳۸۶ ، عمدة القاری : ۲۲\۲۸ ، شرح الکرمانی : ۲۱\۹۶)

ده تنرئ ته وائى ، علامه انور شاه كشميرى رحمه الله فرمائى چه زر د تكړې تنرئ او پتئ او مزى ته وائى(١)

داسې جامه او لباس چه ديكښې د سروزرو تنرئ لګيدلې وى دا د احنافو حضراتو په نزد د سړو دپاره جائز دې ، صاحب د درمختار وغيره هم دا ليكلې دى (٢) اګر چه مفتى اعظم حضرت مفتى كفايت الله صاحب ديته ناجائز ويلې دى (٣) حضرت تهانوى رحمه الله ړومبې د جواز او بيا د عدم جواز فتوى وركړيده - (٤)

حديث د باب كښې دى چه دوى ﷺ يو صحابى ته د ريښمو چغه وركړه چه ديكښې د سروزرو تنرئ وى ، دا خو يا د سړو د ريښمو د لباس د حرمت نه وړاندې واقعه ده ، او يا په وركولو سره ئې مقصد په خپله د استعمالولو نه وو بلكه د دوى د كور د زنانه دپاره دوى ﷺ وركړې وه - (٥)

٤٤=بَاب خَوَاتِيمِ الذَّهَبِ

[٥٥٢٥] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا أَشْعَثُ بْنُ سُلَيْمٍ قَالَ سَمِعْتُ مُعَاوِيَةَ بْنَ سُوَيْدِ بْنِ مُقَرِّنٍ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا يَقُولُ نَهَانَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ سَبْعٍ نَهَانَا عَنْ خَاتَمِ الذَّهَبِ أَوْ قَالَ حَلْقَةِ الذَّهَبِ وَعَنْ الْحَرِيرِ وَالْإِسْتَبْرَقِ وَالدِّيبَاجِ وَالْمِيثَرَةِ الْحَمْرَاءِ وَالْقَسِّيِّ وَآنِيَةِ الْفِضَّةِ وَأَمَرَنَا بِسَبْعٍ بِعِيَادَةِ الْمَرِيضِ وَاتِّبَاعِ الْجَنَائِزِ وَتَشْمِيتِ الْعَاطِسِ وَرَدِّ السَّلَامِ وَإِجَابَةِ الدَّاعِي وَإِبْرَارِ الْمُقْسِمِ وَنَصْرِ الْمَظْلُومِ [ر: ١١٨٢]

[٥٥٢٦] (٦) حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ النَّضْرِ بْنِ أَنَسٍ عَنْ بَشِيرِ بْنِ نَهِيكٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ نَهَى عَنْ خَاتَمِ الذَّهَبِ وَقَالَ عَمْرٌو أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ سَمِعَ النَّضْرَ سَمِعَ بَشِيرًا مِثْلَهُ

[٥٥٢٧] (٧) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنِي نَافِعٌ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتَّخَذَ خَاتَمًا مِنْ ذَهَبٍ وَجَعَلَ فَصَّهُ مِمَّا يَلِي كَفَّهُ فَاتَّخَذَهُ النَّاسُ فَرَمَى بِهِ وَاتَّخَذَ خَاتَمًا مِنْ وَرِقٍ أَوْ فِضَّةٍ [ر: ٥٥٢٨، ٥٥٢٩، ٥٥٣٥، ٥٥٣٨، ٦٢٧٥، ٦٨٦٨]

---

(١) فيض البارى : ٣٧٧٤)

(٢) الدر المختار ، كتاب الحظر و الإباحة ، فصل فى اللبس : ٥\ ٢٥٠)

(٣) كفايت المفتى " لباأور متعلقات لباس " ٩\ ١٥٧)

(٤) إمداد الفتاوى ، كتاب الحظر و الإباحة ، احكام متعلقة لباس : ٤\ ١٢٩ ، ١٣٠ ، ١٣١)

(٥) فتح البارى : ١٠\ ٣٨٧ ، شرح الكرمانى : ٢١\ ٩٧ ، إرشاد السارى : ١٢\ ٥٦٧)

(٦) الحديث أخرجه مسلم فى اللباس و الزينة باب تحريم خاتم الذهب على الرجال (رقم الحديث : ٢٠٨٩) و أخرجه النسائى فى كتاب الزينة ، باب خاتم الذهب : ١٥\ ٤٤١ (رقم الحديث : ٩٤٦٨)

(٧) الحديث أخرجه البخارى أيضا فى هذا الكتاب ، باب خاتم الفضة (رقم الحديث : ٥٥٢٨ ، ٥٥٢٩) و أخرجه أيضا فى باب نقش الخاتم (رقم الحديث : ٥٥٣٥) و أخرجه أيضا فى باب...[بقيه برصفحه آئنده....

خواتيم : جمع د خاتم ده ، خاتم كښي څلور لغتونه دي ، ① خاتَم (په فتحه د تاء) ② خاتِم (په كسره د تاء) ③ خيتام ④ خاتام

د سرو زرو د ګوتې حكم :د سرو دپاره د سروزرو د ګوتې استعمال د څلورو وارو امامانو او جمهورو په نزد ناجائز او حرام دی - (١) حديث تير شويدې ، دوی فرمائلي دی سره زر او ريښم څما د امت د سړو دپاره حرام دې ، اګر چه بعض عالمانو ددې په حرمت باندې اجماع رانقل كړيده ، خو بيا هم دابن حزم او د اسحاق بن راهويه په نزد دا حرام نه دی ، بلكه مباح دی (٢) بعضې عالمانو ورته مكروه تنزيهی ويلې دي (٣) رسول الله ﷺ د حرمت د حكم د نازليدو نه وړاندې د سرو زرو ګوته اچولې وه - (٤)

٤٥=بَاب خَاتَمِ الْفِضَّةِ

[٥٥٢٨\٥٥٢٩] حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ مُوسَى حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ عَنْ نَافِعٍ عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتَّخَذَ خَاتَمًا مِنْ ذَهَبٍ أَوْ فِضَّةٍ وَجَعَلَ فَصَّهُ مِمَّا يَلِي كَفَّهُ وَنَقَشَ فِيهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ فَاتَّخَذَ النَّاسُ مِثْلَهُ فَلَمَّا رَآهُمْ قَدْ اتَّخَذُوهَا رَمَى بِهِ وَقَالَ لَا أَلْبَسُهُ أَبَدًا ثُمَّ اتَّخَذَ خَاتَمًا مِنْ فِضَّةٍ فَاتَّخَذَ النَّاسُ خَوَاتِيمَ الْفِضَّةِ قَالَ ابْنُ عُمَرَ فَلَبِسَ الْخَاتَمَ بَعْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبُو بَكْرٍ ثُمَّ عُمَرُ ثُمَّ عُثْمَانُ حَتَّى وَقَعَ مِنْ عُثْمَانَ فِي بِئْرِ أَرِيسَ

د سپينو زرو د ګوتې حكم :د جمهورو فقهاءو په نزد د سپينو زرو د ګوتې استعمال د سړو دپاره جائز دې - (٥) بعض عالمانو دا د عامو خلقو دپاره مكروه وئيلي دې ، خو د بادشاه او د قاضی وغيره دپاره دا بغير د كراهته جائز ده - (٦) دا حضرات د ابوريحانه د روايت نه

...بقيه ازحاشيه گذشته] من جعل قص الخاتم فى بطن كفه (رقم الحديث : ٦٢٧٥) و أخرجه أيضا فى كتاب الأيمان و النذور ، باب من حلف على الشئ و إن لم يحلف (رقم الحديث : ٦٢٧٥) و أخرجه أيضا فى كتاب الاعتصام بالكتاب والسنة ، باب الإقتداء بأفعال انبى صلى الله عليه وسلم (رمق الحديث : ٦٨٦٨) و أخرجه مسلم فى كتاب اللباس و الزينة ، باب تحريم خاتم الذهب على الرجال (رقم الحديث : ٢٠٩١)

١) شرح مسلم للنووى ، كتاب اللباس : ٢ \ ١٩٥ و أوجز المسالک فى اللباس ، باب ما جاء فى لبس الخاتم : ١٤ \ ٣٥٣)

٢) شرح مسلم للنووى ، كتاب اللباس : ٢ \ ١٩٥ و أوجز المسالک فى اللباس ، باب ما جاء فى لبس الخاتم : ١٤ \ ٣٥٣)

٣) أوجز المسالک فى اللباس ، باب ما جاء فى لبس الخاتم : ١٤ \ ٣٥٣)

٤) شرح الزرقانى : كتاب الجامع ، باب ما جاء فى لبس الخاتم : ٤ \ ٣١٧)

٥) فتح البارى : ١٠ \ ٣٩١ ، عمدة القارى : ٢٢ \ ٣٠)

٦) أوجز المسالک فى اللباس ، باب ما جاء فى لبس الخاتم : ١٤ \ ٣٥٤ شرح زرقانى كتاب الجامع ، باب ماجاء فى لبس الخاتم : ٤ \ ٣١٨)

استدلال کوی چه دا امام احمد رانقل کړيدي " إن رسول الله صلى الله عليه و سلم نهى عن الخاتم إلا لذى سلطان" (۱) او د سنن ابی داود په روايت کښې دی چه رسول الله ﷺ د لسو څيزونو نه منع کړيده ، چه ديکښې يو "لبوس الخاتم إلا لذى سلطان " دې -(۲)
جمهور خو يو د حديث د باب نه استدلال کوی دويم په سنن ابی داود کښې د حضرت بريده ﷺ د روايت نه هم استدلال کوی چه هغې کښې دی :"إن رجلاً جاء الى النبى ﷺ وعليه خاتم من شَبَهٍ، فقال له : مالى اجد منك ريح الأصنام، فطرحه ، ثم جاء وعليه خاتم من حديد، فقال : مالى أرى عليك حلية أهل النار ؟ فطرحه ، فقال : يا رسول الله ! من أى شئ أتخذه ؟ قال : إتخذه من ورق ، ولا تُتمّه مثقالا"
(۳) (رسول الله ﷺ ته يو سړې راغلو او ده په لاس کښې د پيتلو يو ګوته وه ، حضور اوفرمائل : څه خبره ده چه ما ته د ستا نه د بُتانو بدبوئی راځی ، ده دغه ګوته اوغورزوله ، چه بيا راغلو نو ده سره د اوسپنې ګوته وه ، نو حضور اوفرمائل : څه خبره ده چه ما ته په تا باندې د جهنميانو زيور په نظر راځی ، نو ده دا هم اوغورزوله او تپوس ئې اوکړو ، اې د الله رسوله ! څه دا د څه څيز نه جوړه کړمه ؟ دوی اوفرمائل : د سپينو زرو خو چه د يو مثقال نه کمه وی)
تر کومې چه د ابوريحانه د روايت تعلق دې نو ديته امام مالك او امام احمد وغيره غوندې محدثينو ضعيف ويلې دې (۴) او که دا صحيح هم تسليم کړې شی نو ديکښې به نهی په کراهت تنزيهی محمول وی چه د جواز سره جمع کيدې شی - (۵)
خو د سپينو زرو مقدار د يو مثقال نه کم کيدل پکار دی يعنی د څلور نيمو ماشو نه زيات نه دی کيدل پکار ، لکه چه په حديث کښې دی "ولا تُتمّه مثقالا" چه دا په دې تصريح ده (۶)
روايت د باب کښې دی چه رسول الله ﷺ د سروزرو يا د سپينو زرو ګوته جوړه کړې وه او ددې غمې به ئې د تلی په طرف ساتلو ، ديکښې " محمد رسول الله " ليکلې شوې وو خلقو هم داسې ګوتې جوړې کړې چه کله دوی خلقو ګره اوليدل ، نو دا ئې اوغورزوله ، او وې فرمائل : چه څه به دا نه اغوندم ، بيا ئې د سپينو زور ګوته جوړه کړه نو خلقو هم د سپينو زرو ګوتې جوړول شروع کړل ..... د حضرت ابن عمر بيان دې چه د حضور ﷺ نه پس دا ګوته حضرت ابوبکر بيا حضرت عمر او بيا حضرت عثمان ﷺ واغوستله بيا دا د حضرت عثمان نه د اريس په کوهی کښې اوغورزيدله -

(۱) مسند احمد : ٤ \ ۱۳٤)
(۲) سنن أبی داود ، اللباس ، باب من کراهه (أی لبس الحرير) : ٤ \ ٤٨ (رقم الحديث : ٤٠٤٩)
(۳) سنن ابی داود کتاب الخاتم ، باب ما جاء فی خاتم الحديد : ٤ \ ٩٠ (رقم الحديث : ٤٢٢٣)
(۴) شرح الزرقانی للموطأ للإمام مالک : ٤ \ ٣١٨ ، أوجز المسالک فی اللباس ، باب ما جاء فی لبس الخاتم : ١٤ \ ٣٥٥)
(۵) أوجز المسالک فی اللباس ، باب ما جاء فی لبس الخاتم : ١٤ \ ٣٥٥)
(۶) عون المعبود ، کتاب الخاتم ، باب ما جاء فی خاتم : ١١ \ ٢٨٢)

يو روايت کښې دی چه شپږو کالو پورې د حضرت عثمان سره وه ، دینه پس په کوهی کښې اوغورزیدله او د ډیر تلاش سره هم ملاو نه شوه - (١)

باب بلا ترجمة

[٥٥٢٩] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلْبَسُ خَاتَمًا مِنْ ذَهَبٍ فَنَبَذَهُ فَقَالَ لَا أَلْبَسُهُ أَبَدًا فَنَبَذَ النَّاسُ خَوَاتِيمَهُمْ [ر:٥٥٢٧]

[٥٥٣٠] (٢) حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يُونُسَ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ رَأَى فِي يَدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمًا مِنْ وَرِقٍ يَوْمًا وَاحِدًا ثُمَّ إِنَّ النَّاسَ اصْطَنَعُوا الْخَوَاتِيمَ مِنْ وَرِقٍ وَلَبِسُوهَا فَطَرَحَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمَهُ فَطَرَحَ النَّاسُ خَوَاتِيمَهُمْ تَابَعَهُ إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ وَزِيَادٌ وَشُعَيْبٌ عَنْ الزُّهْرِيِّ وَقَالَ ابْنُ مُسَافِرٍ عَنْ الزُّهْرِيِّ أُرَى خَاتَمًا مِنْ وَرِقٍ

دا باب بلا ترجمه ده ، علامه عینی رحمه الله فرمائي چه دا باب کالفصل من الباب السابق یعنی دا باب د تیر شوی باب تتمه ده - (٣)

د روایتونو تعارض او ددې حل : شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا رحمه الله فرمائی : چه امام بخاری په دې خبره تنبیه کول غواړی چه رسول الله ﷺ د خلقو سره ګوتې اولیدلې او دوی کومه ګوته غورزولې وه نو چه دا د سرو زرو وه او که د سپینو زرو ؟ ددې باب لاندې امام بخاری رحمه الله دوه روایتونه ذکر کړی دی ، په یو کښې دی چه د سرو وه او په بل کښې دی چه د سپینو وه -

① د دې اطمینان ورکوونکې جواب خو دا ورکړې شویدې چه دا ګوته د سرو وه ، چه په کوم روایت کښې د سپینو ذکر دې دا د ابن شهاب زهری وهم دې ، ځکه چه نورو تمامو ثقه راویانو د سرو ذکر کړیدې - (٤)

② دویم جواب دا دې چه د باب دویم روایت کښې "فطرح رسول الله خاتمه ، فطرح الناس خواتيمهم" نه مراد د سرو زرو ګوتې مراد دی یعنی خلقو د سپینو زرو ګوتې جوړې کړې او د سرو زرو ګوتې ئې اوغورزولې ، د دې تاویل مطابق "خاتم مطروح" په دواړو روایتونو کښې د سرو دی ، دې وجه نه د سره هڅو تعارض نشته دې امام نووی رحمه الله فرمایی "هذا هو التأويل الصحيح" (٥) خو سیاق د کلام د دې تاویل سره سمون نه خوری ، ځکه چه سیاق د

---

(١) فتح الباری : ١٠\٣٩٢)
(٢) الحدیث أخرجه مسلم فی کتاب اللباس و الزینة،باب فی طرح الخواتم:٣\١٦٥٧(رقم الحدیث: ٢٠٣٩)
(٣) عمدة القاری : ٢٢\٢٩)
(٤) عمدة القاری : ٢٢\٣١، فتح الباری : ١٠\٣٩٢، إرشاد الساری : ١٢\٥٧١)
(٥) شرح مسلم للنووی : ٢\١٩٧)

كلام كښې د " اصطنعوا الخواتيم من ورق و لبسوها " تصريح ده چه خلقو د سپينو زرو ګوتې اچولې وې،نوظاهره ده چه"مطروح" به هم دا وى ، سياق د كلام كښې د سرو ذكر نشته دې
③ دريم جواب دا وركړې شويدې چه د سرو زرو او د سپينو زرو دواړه قسمه ګوتې اوغورزولې شوې ، د سرو زرو ګوته د نزرل د حرمت نه پس اوغورزولې شوه نو خلقو هم په اتباع كښې اوويستلې ، بيا حضور د سپينو ګوته واچوله او په ديكښې ئې د خپل نوم مبارك نقش جوړ كړو نو خلقو هم د دوى په اتباع كښې داسې منقش ګوتې د سپينو زرو جوړې كړې ، خو د نقش اجازت چه نه وو ، دې وجه نه حضور ﷺ چه د خلقو سره دا اوليدلې نو خپله ګوته ئې اوويستله ، خلقو هم اوويستلې ، دينه پس بيا دوى د مهر وغيره لګولو په غرض واغوسته -
د دې توجيه حاصل دا دې چه دسرو زرو ګوته هم دوى ويستې وه د سرو زرو د حرمت په وجه او د سپينو زرو ګوته هم دوى ويستې وه ، په دې وجه چه خلق هم د سپينو زرو نقشدارې ګوتې اوباسى ، په ړومبى روايت كښې د ړومبئې خبرې او په دويم روايت كښې د دويمې واقعې ذكر دې ، لكه حافظ ابن حجر ليكى :

" ويحتمل و جها رابعا ..... وهوأنه اتخذ خاتم الذهب للزينة فلما تتابع الناس فيه ، و افق وقوع تحريمه ، فطرحه ، ولذلك قال : " لا ألبسه أبدا " و طرح الناس خواتيمهم تبعا له ، و صرح بالنهى عن لبس خاتم الذهب كما تقدم فى الباب قبله ، ثم احتاج إلى الخاتم لأجل الختم به ، فاتخذه من فضة ، و نقش فيه اسمه الكريم فتبعه أيضا فى ذلك ، فرمى به حتى رمى الناس تلك الخواتيم المنقوشة على اسمه لئلا تفوت مصلحة نقش اسمه بوقوع الاشتراك ، فلما عدمت خواتيمهم برميها رجع إلى خاتمه الخاص به فصار يختم به ، ويشير إلى ذلك قوله فى رواية عبد العزيز بن صهيب عن أنس : "إنا اتخذنا خاتما و نقشنا فيه نقشا ، فلا ينقش عليه أحد" ، فلعل بعض من لم يبلغه النهى أو بعض من بلغه ممن لم يرسخ فى قلبه الإيمان من منافق و نحوه اتخذوه ، و نقشوا ، فوقع ما وقع ، ويكون طرحه له غضبا ممن تشبه به فى ذلك النقش (١)

قوله: تابعه إبراهيم بن سعد، و زيادٌ و شعيبٌ عن الزهري : يعنى د يونس متابعت ابراهيم ، زياد بن سعد او شعيب بن ابى حمزه كړيدې ، د ابراهيم متابعت امام مسلم ، د زياد متابعت هم امام مسلم او د شعيب متابعت اسماعيلى موصولا نقل كړيدې - (٢)

قوله: وقال ابنُ المسافر عن الزهري : أرى خاتما من ورق : عبدالرحمن بن خالد بن مسافر د زهرى نه چه كوم روايت نقل كړيدې ، ديكښې هم د "أرى خاتما من ورق" الفاظ راغلې دى ، دا تعليق اسماعيلى موصولاً نقل كړيدې ، خو د اسماعيلى په روايت كښې د "أرى" لفظ نشته دې ، دا امام بخارى رحمه الله د خپل اړخ نه زيات كړيدې ، دړى

(١) فتح البارى : ١٠\٣٩٣)
(٢) فتح البارى : ١٠\٣٩٣ ، عمدة القارى : ٢٢\٣٢ ، إرشاد السارى : ١٢\٥٧١)

يعني دوى اوويل چه څما خيال دې چه دا ګوته د سپينو زرو وه د سرو زرو نه وه - ([1])

٣٦=بَاب فَصّ الخَاتَمِ

[٥٥٣١]حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ أَخْبَرَنَا حُمَيْدٌ قَالَ سُئِلَ أَنَسٌ هَلِ اتَّخَذَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمًا قَالَ أَخَّرَ لَيْلَةً صَلَاةَ الْعِشَاءِ إِلَى شَطْرِ اللَّيْلِ ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ فَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى وَبِيصِ خَاتَمِهِ قَالَ إِنَّ النَّاسَ قَدْ صَلَّوْا وَنَامُوا وَإِنَّكُمْ لَمْ تَزَالُوا فِي صَلَاةٍ مَا انْتَظَرْتُمُوهَا [ر:٥٤٦]

[٥٥٣٢]([2])حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ أَخْبَرَنَا مُعْتَمِرٌ قَالَ سَمِعْتُ حُمَيْدًا يُحَدِّثُ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ خَاتَمُهُ مِنْ فِضَّةٍ وَكَانَ فَصُّهُ مِنْهُ وَقَالَ يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ حَدَّثَنِي حُمَيْدٌ سَمِعَ أَنَسًا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ر:٥٥٣٦، ٥٥٣٩، وانظر:٥٤٦]

فَصّ د ګوتې غمي ته وائي ، دويم روايت كښې د فص په صراحت سره ذكر دې او په ړومبي روايت كښې په صراحت سره ددې ذكر نشته خو ديكښې دى " **فكأني أنظر إلى وبيص خاتمه** " حضرت انس ﷺ فرمائي ګويا څه د دوى د ګوتې ړق ته ګورم ، وبيص ړق ته وائي ، او غالب هم دا دې چه دا د غمي ړق وو ، نو دارنګه په ړومبي روايت كښې هم د فص ذكر دلالتًا راغلو-([3])

قوله: كَانَ خَاتَمُهُ مِنْ فِضَّةٍ، وَكَانَ فَصُّهُ مِنْهُ: د باب په دې دويم روايت كښې دى چه د دوى د ګوتې غمې هم د سپينو زرو وو د منه ضمير خاتم ته راجع دې -

د مسلم په روايت كښې دى " **وكان فصه حبشيًا حجرًا من الحبشة** " ([4]) يعني غمى د حبشى كاڼړى نه جوړ شوې وو ، دسپينو زرو نه وو ، دا خو به يا په تعدد (ګڼړو كيدو) محمول كړې شى چه د دوى ﷺ دوه ګوتې وې ، چه د يوې غمې د سپينو زرو وو او د بلې د حبشى كاڼړى وو او دا هم كيدې شى چه غمې د سپينو زرو وو لكه چه د بخارى په روايت كښې دى ، خو دا

---

[1] فتح البارى : ١٠\٩٤ ، عمدة القارى : ٢٢\٣٢ ، إرشاد السارى : ١٢\٥٧١)

[2] الحديث أخرجه البخارى أيضا فى كتاب اللباس ،باب الخاتم فى الخنصر (رقم الحديث : ٥٥٣٦) و أخرجه أيضا فى كتاب اللباس ، باب قول النبى صلى الله عليه و سلم : لا يُنقش على نقش خاتمه (رقم الحديث : ٥٥٣٩) و أخرجه مسلم فى كتاب اللباس ، باب لبس النبى صلى الله عليه وسلم خاتما من ورق نقشه : محمد رسول الله ، و لبس الخلفاء له من بعده : ٣\١٦٥٦ (رقم الحديث : ٢٠٩٢) و أخرجه النسائى فى كتاب الزينة ، باب ذكر الاختلاف على أنس فى فص خاتم النبى صلى الله عليه وسلم و صفته و موضعه من يده : ١٥\٤٥١ (رقم الحديث : ٩٥١٧) و أخرجه الترمذى فى كتاب اللباس ، باب ما جاء ما يستحب فى فص الخاتم : ٤\٢٢٧ (رقم الحديث : ١٧٤٠)

[3] الابواب و التراجم : ٢\١٠٨)

[4] صحيح مسلم،كتاب اللباس والزينة،باب فى خاتم الورق فصه حبشى،٣\١٦٥٨ (رقم الحديث : ٢٠٩٤)

د حبشي نقش و نگار او ډول مطابق جوړه شوې وه ، دې وجه نه ديته حبشي اوويلې شوه[1]
قوله: وقال يحي بن أيوب: حدثني حميد سمع أنسا عن النبي صلى الله عليه وسلم: بره موصول حديث كښې " حميد عن انس " عنعنه دې ، دې تعليق كښې د سماع تصريح ده ، دې وجه نه امام دلته دا ذكر كړو - [2]

۴۷=بَاب خَاتَمِ الْحَدِيدِ

[۵۵۳۳] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ سَمِعَ سَهْلًا يَقُولُ جَاءَتْ امْرَأَةٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ جِئْتُ أَهَبُ نَفْسِي فَقَامَتْ طَوِيلًا فَنَظَرَ وَصَوَّبَ فَلَمَّا طَالَ مُقَامُهَا فَقَالَ رَجُلٌ زَوِّجْنِيهَا إِنْ لَمْ يَكُنْ لَكَ بِهَا حَاجَةٌ قَالَ عِنْدَكَ شَيْءٌ تُصْدِقُهَا قَالَ لَا قَالَ انْظُرْ فَذَهَبَ ثُمَّ رَجَعَ فَقَالَ وَاللَّهِ إِنْ وَجَدْتُ شَيْئًا قَالَ اذْهَبْ فَالْتَمِسْ وَلَوْ خَاتَمًا مِنْ حَدِيدٍ فَذَهَبَ ثُمَّ رَجَعَ قَالَ لَا وَاللَّهِ وَلَا خَاتَمًا مِنْ حَدِيدٍ وَعَلَيْهِ إِزَارٌ مَا عَلَيْهِ رِدَاءٌ فَقَالَ أُصْدِقُهَا إِزَارِي فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِزَارُكَ إِنْ لَبِسَتْهُ لَمْ يَكُنْ عَلَيْكَ مِنْهُ شَيْءٌ وَإِنْ لَبِسْتَهُ لَمْ يَكُنْ عَلَيْهَا مِنْهُ شَيْءٌ فَتَنَحَّى الرَّجُلُ فَجَلَسَ فَرَآهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُوَلِّيًا فَأَمَرَ بِهِ فَدُعِيَ فَقَالَ مَا مَعَكَ مِنْ الْقُرْآنِ قَالَ سُورَةُ كَذَا وَكَذَا لِسُوَرٍ عَدَّدَهَا قَالَ قَدْ مَلَّكْتُكَهَا بِمَا مَعَكَ مِنْ الْقُرْآنِ [ر: ۲۱۸۶]

د اوسپنې د ګوتې حکم : د اوسپنې ګوته په ائمه اربعه كښې د جمهورو يعنى د احنافو ، مالكيه او د حنابله په نزد مكروه ده [3] او د امام شافعي رحمه الله د صحيح قول مطابق بغير د كراهته جائز ده - [4]
امام شافعي رحمه الله د حديث د باب نه استدلال كوی ، د امام بخاری رحمه الله د صنيع نه هم دا معلوميږی چه دې مسلك د اباحت ته ترجيح وركوی ، حديث د باب كښې دی " اذهب فالتمس ولو خاتما من حديد " -
خو دا استدلال صحيح نه دې ، خكه چه د اوسپنې د ګوتې د تلاش حكم وركولو نه د دې د سړو دپاره د استعمالولو د جواز هيڅ دلالت نه معلوميږی ، دې وجه نه حافظ ابن حجر هم دا استدلال رد كړيدې او فرمائى :
" استدل به على جواز لبس خاتم الحديد ، ولا حجة فيه ، لأنه لا يلزم من جواز الإتخاذ جواز اللبس ، فيحتمل

---

[1] فتح البارى : ۱۰ \ ۳۹۶ ، إرشاد السارى : ۱۲ \ ۵۷۲ ، دا رنګه اوګورئ بذل المجهود ، كتاب الخاتم : ۱۷ \ ۱۰۵ ، الأبواب و التراجم : ۲ \ ۱۰۸)
[2] فتح البارى : ۱۰ \ ۳۹۶ ، إرشاد السارى : ۱۲ \ ۵۷۲)
[3] إرشاد السارى : ۱۲ \ ۵۷۳ ، الابواب والتراجم : ۲ \ ۱۰۸)
[4] الابواب و التراجم : ۲ \ ۱۰۸ ، إرشاد السارى : ۱۲ \ ۵۷۴ ، عون المعبود ، كتاب الخاتم ، باب ما جاء فى خاتم الحديد : ۱۱ \ ۲۸۳)

أنه أراد وجوده لتنتفع المرأة بقيمته" (١)

① جمهور يو خو د سنن ابى داود د هغه روايت نه استدلال كوى چه كوم څو صفحې وړاندې نقل كړې شو چه يو سړى سره د اوسپنې ګوته وه ، نو دوی ﷺ چه اوليدله نو وې فرمائل :" مالى أرى عليك حلية أهل النار" ددې په سند باندې امام نووى وغيره اعتراض كړيدې چه ديكښې يو راوى ابو طيبه عبد الله بن مسلم مروزى دې ، دې قابل د احتجاج نه دې (٢)
ابوحاتم فرمائى چه يكتب حديثه ولا يحتج به (٣)
خو علامه عينى رحمه الله فرمائى چه ابن حبان دده حديث رانقل كړيدې او دا ئې صحيح ګرځولې دې - (٤)

② د جمهورو دويم استدلال مسند احمد كښې د عبد الله بن عمرو بن العاص روايت نه دې ، چه دوى د سرو زرو ګوته اچولې وه نو رسول الله ﷺ ديته د ناخوښتيا په نظر اوكتل نو دوى دا اوويستله او د اسپنې ګوته ئې واچوله نو دوى ﷺ اوفرمائل :" هذا أخبث وأخبث" (٥) يعنى دا خو نوره هم زياته بده ده -
د دې روايت په سند كښې عبد الله بن مؤمل يو ضعيف راوى دې - (٦)
مسند احمد كښې داسې يو بل روايت د حضرت فاروق اعظم نه هم مروى دې - (٧)
بهرحال اګرچه ددې روايتونو په سند باندې كلام شته خو بيا هم كه دا د شواهدو د وجه نه په درجه د صحيح كښې نه وى هم خو د حسن په درجه كښې خو راځى ، چه كوم د كراهت ثابتولو دپاره كافى دې - (٨)

٤٨= بَاب نَقْشِ الْخَاتَمِ

[٥٥٣٢] حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ حَدَّثَنَا سَعِيدٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَادَ أَنْ يَكْتُبَ إِلَى رَهْطٍ أَوْ أُنَاسٍ مِنْ الْأَعَاجِمِ فَقِيلَ لَهُ إِنَّهُمْ لَا يَقْبَلُونَ كِتَابًا إِلَّا عَلَيْهِ خَاتَمٌ فَاتَّخَذَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمًا مِنْ فِضَّةٍ نَقْشُهُ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ فَكَأَنِّي بِوَبِيصِ أَوْ بِبَصِيصِ الْخَاتَمِ فِي إِصْبَعِ النَّبِيِّ

(١) فتح البارى : ١٠\٣٩٧)
(٢) إرشاد السارى : ١٢\٥٧٤)
(٣) عمدة القارى : ٢٢\٣٣، دارنګه اوګورئ، عون المعبود ، كتاب الخاتم ، باب ما جاء فى خاتم الحديد : ١١\٢٨٣)
(٤) عمدة القارى : ٢٢\٣٣)
(٥) مسند احمد : ٢\٢١١)
(٦) عمدة القارى : ٢٢\٣٣)
(٧) مسند احمد : ٢\٢١ و لفظه ذا شر منه)
(٨) الابواب و التراجم : ٢\١٠٨)

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْفِي كَفِّهِ [ر:۶۵]

[۵۵۳۵] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ سَلَامٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نُمَيْرٍ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ اتَّخَذَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمًا مِنْ وَرِقٍ وَكَانَ فِي يَدِهِ ثُمَّ كَانَ بَعْدُ فِي يَدِ أَبِي بَكْرٍ ثُمَّ كَانَ بَعْدُ فِي يَدِ عُمَرَ ثُمَّ كَانَ بَعْدُ فِي يَدِ عُثْمَانَ حَتَّى وَقَعَ بَعْدُ فِي بِئْرِ أَرِيسَ نَقْشُهُ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ [ر:۵۵۲۷]

ددې ترجمة الباب نه د امام بخارى رحمه الله مقصد په ګوته كښې د نقش كولو جواز بيانول دى ، ځكه چه د نقش و نګار كولو د ممانعت خيال په زړه كښې راتلې شى ، شيخ الحديث مولانا محمد زكريا رحمه الله ليكى :

"والظاهر عندى أنه أراد بيان جوازه لأن النقش مظنة المنع" (۱)

په حديث د باب كښې د وبيص او د بصيص د دواړو معنى د پړقيدو ده -

۴۹= بَابُ الْخَاتَمِ فِي الْخِنْصَرِ

[۵۵۳۶] حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ صُهَيْبٍ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ صَنَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمًا قَالَ إِنَّا اتَّخَذْنَا خَاتَمًا وَنَقَشْنَا فِيهِ نَقْشًا فَلَا يَنْقُشَنَّ عَلَيْهِ أَحَدٌ قَالَ فَإِنِّي لَأَرَى بَرِيقَهُ فِي خِنْصَرِهِ [ر:۵۵۳۲]

ګوتمه په كومه ګوته كښې اچول پكار دى : رسول الله ﷺ به په كچې ګوته كښې ګوتمه اچوله ، د امام بخارى رحمه الله مقصد دا دې چه په نورو ګوتو كښې دې وانچولې شى ، امام مسلم او ابوداود رحمهما الله د حضرت على ﷺ نه روايت نقل كړيدې ، چه دې فرمائى :

نهانى رسول الله صلى الله عليه و سلم عن أن ألبس خاتمى فى هذه و فى هذه ، يعنى السبابة و الوسطى (۲)

(حضرت على فرمائى رسول الله ﷺ په مسواكه ګوته او په مينځنئ ګوته كښې د ګوتمې اچولو نه څه منع كړې ووم -)

امام نووى رحمه الله فرمائى چه ددې حديث د وجه نه په مينځنئ ګوته او دې سره نزدې ګوته كښې ګوتمه اچول مكروه دى - (۳)

علامه مناوى په شرح د شمائل كښې په كچئ ګوته كښې ګوتمه اچولو باندې اجماع رانقل كړيده - (۴)

---

(۱) الأبواب و التراجم : ۲\۱۰۸)

(۲) رواه مسلم فى كتاب اللباس و الزينة ، باب النهى عن التختم فى الوسطى و التى تليها : ۱۳\۱۶۵۹(رقم الحديث : ۲۰۲۸) و أخرجه أبوداود فى كتاب الخاتم ، باب ما جاء فى خاتم الحديد : ۴\۹۰ (رقم الحديث : ۴۲۲۵)

(۳) شرح مسلم للنووى فى كتاب اللباس و الزينة ، باب تحريم خاتم الذهب الخ : ۲\۱۹۷)

(۴) شرح الشمائل للمناوى ، باب ماجاء فى تختم رسول الله صلى الله عليه و سلم : ۱\۱۴۹)

د مینځمۍ او د مسواکې ګوتې باره کښې خو د حضرت علي ﷺ په مذکوره حدیث کښې صراحتًا نهی راغلې ده ، خو د کچۍ ګوتې سره چه کومه ګوته ده (بنصره یعنی وزیره) د دې او د متې ګوتې باره کښې نه نفی شته او نه اثبات ! ([1])

په کوم لاس کښې ګوته اچول پکار دی؟: اوس دا خبره پاتې کیږی چه په ښې لاس کښې اچول پکار دی او که په ګس لاس کښې ، امام بخاری رحمه الله دې باره کښې هیڅ باب نه دې قائم کړې ، خو امام ابوداود رحمه الله " کتاب الخاتم " کښې په دې مستقل باب قائم کړیدې "باب ما جاء فی التختم فی الیمین أو الیسار "

ددې باب لاندې دوئ ړومبې د حضرت علي ﷺ روایت رانقل کړیدې چه هغې کښې دی : إن النبی ﷺ کان یتختم فی یمینه " دینه پس ئې د حضرت ابن عمر ﷺ روایت رانقل کړیدې چه دیکښې دی "إن النبی ﷺ کان یتختم فی یساره" ([2])

ددې متعارض روایتونو په بناء باندې صاحب د فتح الودود فرمائی چه ښی او ګس دواړو لاسونو کښې د رسول الله ﷺ نه ګوته اچول ثابت دی ، کله به ئې په ښی لاس کښې او کله به ئې په ګس لاس کښې اچوله - ([3]) امام بیهقی فرمائې چه د سرو زرو ګوته به دوی په ښی لاس کښې او د سپینو زرو ګوته به ئې په ګس لاس کښې اچوله - ([4])

د شافعیه حضراتو په نزد په ښې لاس کښې اچول افضل دی ، ځکه چه ګوتمه اچول زینت دې او ښې لاس د زینت زیات حقدار دې - ([5]) او ګس لاس د استنجاء دپاره استعمالیږی نو د ګوتمې د نجس کیدو خطره به وی - ([6])

علامه مناوی په شرح شمائل کښې لیکلې دی چه د ښې لاس والا روایتونه د نهو اصحابو نه منقول دی او د ګس لاس والا روایتونه د درې اصحابو نه - ([7]) د احنافو حضراتو او د مالکیه او د حنابله په نزد په ګس لاس کښې اچول افضل دی - ([8])

---

[1]) عون المعبود : ١١\٢٨٦ ، المرقاة شرح المشكاة ، كتاب اللباس ، باب الخاتم : ٨\٢٧٥ ، جمع الوسائل : باب ما جاء في تختم رسول الله صلى الله عليه و سلم : ١\١٤٩)

[2]) سنن أبي داود ، كتاب اللباس ، باب ما جاء في التختم في اليمين أو اليسار : ٤\٩١ (رقم الحديث : ٤٢٢٦ ، ٤٢٢٧)

[3]) بذل المجهود ، كتاب الخاتم ، باب ما جاء في التختم في اليمين او اليسار : ١٧ : ١١٨)

[4]) شعب الإيمان للبيهقي ، باب في الملابس و الأواني : ٥\٢٠٣ ، عون المعبود كتاب الخاتم ، باب ما جاء في التختم في اليمين أو اليسار : ١١\٢٨٦)

[5]) شرح مسلم للنووي ، كتاب اللباس ، باب تحريم خاتم الذهب ... ٢\١٩٧ ، عون المعبود ، كتاب الخاتم ، باب ما جاء في التختم في اليمين أو اليسار :١١\٢٨٧)

[6]) عون المعبو . كتاب الخاتم،باب ما جاء في التختم في اليمين أواليسار:١١\٢٨٧،فتح الباري:١٠\٤٠١)

[7]) شرح الشمائل للمناوي ، باب ماجاء في تختم رسول الله صلى الله عليه و سلم : ١\١٥٠)

[8]) بذل المجهود : ١٧\١١٩ ، الأبواب و التراجم : ٢\١٠٨ ، عمدة القاري : ٢٢\٣٧)

ملاعلى قارى رحمه الله په " جمع الوسائل شرح شمائل " کښې د امام مالك نه قول په استحباب د يسار او په كراهت د يمين رانقل کړيدې - (۱) په مالکيه کښې علامه دسوقى هم يسار ته سنت ويلې دې لأنه آخر الفعلين من رسول الله صلى الله عليه وسلم (۲) د دې تائيد د ابن عدى د دې روايته هم کيږى چه کوم د ابن عمر نه ده په ضعيف سند سره رانقل کړيدې "إن النبى ﷺ تختم فى يمينه، ثم حوّله إلى يساره" (۳)

مولانا خليل احمد سهارنپورى او حضرت مولانا رشيد احمد گنگوهى رحمهما الله فرمائى چه احناف عالمان گس لاس کښې د گوتې اچولو نه اوس منع کوى خکه چه گس لاس کښې د گوتمې استعمال اوس د روافضو شعار او علامت گرځيدلې دې او د اهل بدعتو سره تشبيه صحيح نه ده ، دې وجه نه ښى لاس کښې اچول پکار دى - (۴)

خو درمختار کښې ليکلې دى چه ښى لاس کښې د گوتمې اچول د روافضو شعار دې و دې وجه دينه بچ کيدل پکار دى (۵) ، په اصل کښې دا د زمانې او د عرف اختلاف دې ، د حضرت گنگوهى وغيره په زمانه کښې په گس لاس کښې او د صاحب د درمختار په زمانه کښې په ښى لاس کښې د گوتمې اچولو د روافضو شعار وو ، دې وجه نه د اهل بدعتو سره د تشبه نه هر يو منع کړيده پس که تشبه نه وى نو د احنافو په نزد په گس لاس کښې اچول افضل او اولى دى - (۶)

امام ترمذى رحمه الله د امام بخارى رحمه الله په باره کښې فرمائى چه دوى د عبدالله بن جعفر روايت ته "أصح فى الباب" ويلې دې او ديکښې د تختم فى اليمين " ذكر دې - (۷)

۵۰=بَابُ اتِّخَاذِ الْخَاتَمِ لِيُخْتَمَ بِهِ الشَّيْءُ أَوْ لِيُكْتَبَ بِهِ إِلَى أَهْلِ الْكِتَابِ وَغَيْرِهِمْ

[۵۵۳۴] حَدَّثَنَا آدَمُ بْنُ أَبِي إِيَاسٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا أَرَادَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَكْتُبَ إِلَى الرُّومِ قِيلَ لَهُ إِنَّهُمْ لَنْ يَقْرَءُوا كِتَابَكَ إِذَا لَمْ يَكُنْ مَخْتُومًا فَاتَّخَذَ خَاتَمًا مِنْ فِضَّةٍ وَنَقْشُهُ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ فَكَأَنَّمَا أَنْظُرُ إِلَى بَيَاضِهِ فِي يَدِهِ [ر:۶۵]

---

(۱) جمع الوسائل فى شرح الشمائل ، باب ما جاء فى تختم رسول الله صلى الله عليه و سلم : ۱\۱۴۹)
(۲) الأبواب و التراجم : ۲\۱۰۸)
(۳) فتح البارى : ۱۰\۴۰۰ ، الأبواب و التراجم : ۲\۱۰۸)
(۴) الأبواب و التراجم : ۲\۱۰۸ ، بذل المجهود : ۱۷\۱۱۹ ، الكوكب الدرى : ۲\۴۴۸)
(۵) الدر المختار ، كتاب الحظر و الإباحة ، فصل فى اللبس : ۵\۲۵۴)
(۶) الدر المختار ، كتاب الحظر و الإباحة ، فصل فى اللبس : ۵\۲۵۴)
(۷) جامع الترمذى وكتاب اللباس وباب ماجاء فى لبس الخاتم فى اليمين: ۱\۲۲۹ (رقم الحديث : ۱۷۴۴)

دې باب کښې د مهر لګولو او اهل کتاب وغیره ته د خط لیکلو دپاره د ګوتمې جوړولو بیان دې - د سفر د حدیبیې نه واپس راتلو نه پس رسول الله ﷺ مختلف باچایانو ته او حاکمانو ته د دعوتی خطونو لیږلو اراده اوکړه نو دغه وخت دوی ته معلومه شوه چه حاکمان د مهر نه بغیر خط ته هیڅ اهمیت نه ورکوی - دې وجه نه په دې خطونو د حضور ﷺ مهر لګول ضروری دې . د دې ضرورت په وجه دوی ﷺ ګوته کښې خپل مهر جوړ کړو ، د سپینو زرو ګوته ئې جوړه کړه چه ددې په غمې کښې " محمد رسول الله " لیکلې شوې وو . بعض وائي چه دا په شپږم کال د هجرت او بعضو په اووم کال د هجرت دا واقعه ګرځولې ده ، خو دواړو کښې تطبیق داسې کیدې شی چه دا د شپږم کال د آخر او د اووم کال د ابتداء واقعه ده - (۱)

دینه یو دا خبره هم معلومیږی چه دعوتی او تبلیغی کارونو کښې د نورو قومونو د رواج او د طریقو رعایت کولو کښې هم څه باك نشته دې ، په دې شرط چه دیکښې څه شرعی قباحت نه وی -

۵۱=بَاب مَنْ جَعَلَ فَصَّ الْخَاتَمِ فِي بَطْنِ كَفِّهِ

[۵۵۰۹] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا جُوَيْرِيَةُ عَنْ نَافِعٍ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ حَدَّثَهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اصْطَنَعَ خَاتَمًا مِنْ ذَهَبٍ وَجَعَلَ فَصَّهُ فِي بَطْنِ كَفِّهِ إِذَا لَبِسَهُ فَاصْطَنَعَ النَّاسُ خَوَاتِيمَ مِنْ ذَهَبٍ فَرَقِيَ الْمِنْبَرَ فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ فَقَالَ إِنِّي كُنْتُ اصْطَنَعْتُهُ وَإِنِّي لَا أَلْبَسُهُ فَنَبَذَهُ فَنَبَذَ النَّاسُ قَالَ جُوَيْرِيَةُ وَلَا أَحْسِبُهُ إِلَّا قَالَ فِي يَدِهِ الْيُمْنَى [ر:۵۵۳۲]

د ګوتې غمې دننه تلی طرف ته ساتلې کیدې شی دې دپاره چه دا واضحه شی چه دا ګوته د مهر وغیره دپاره اغوستې شویده ، د زینت دپاره نه ده اغوستې شوې ، د حضور ﷺ عام معمول هم دا دې اګر چه د غمې بهر طرف ته ساتل هم جائز دی - (۲)

روایت کښې دی چه رسول الله ﷺ د سرو زرو ګوته جوړه کړې وه، چه کله به دوی دا اغوسته نو ددې غمې به ئې تلی طرف ته ساتلو ...... بیا دوی په منبر اوختل او د حمد و ثناء نه پس ئې اوفرمائل چه ما دا ګوته جوړه کړې وه خو اوس به دا نه اغوندم (چه سرو دپاره د سرو زرو د استعمال د حرمت حکم راغلو) نو دوی دا ګوته اوویستله

قوله: قال جويرية : ولا أحسبه إلا قال : في يده اليمنى : دا د ماقبل سند سره موصول دې ، جویریه بن اسامه فرمائی چه د نافع په باره کښې خما دا خیال دې چه دوی د " في يده اليمنى الفاظ " هم ویلې وو ، یعنی دا ګوته به د دوی ﷺ په ښی لاس کښې وه ، صحیح بخاری کښې صرف هم دا یو روایت دې چه دیکښې د " یمنی " ذکر دې ، باقی په یو روایت

---

(۱) فتح الباري : ۱۰\۳۹۹ ، الابواب والتراجم : ۲\۱۰۸)

(۲) فتح الباري : ۱۰\۳۹۹ ، عمدة القاري : ۲۲\۳۶ ، شرح البخاري للكرماني ، ۲۱\۱۰٤ ، شرح البخاري لابن بطال : ۹\۱۳۶)

كنبې هم د يمنى يسرى ذكر نشته دې - (١)

٥٢: بَاب قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَنْقُشُ عَلَى نَقْشِ خَاتَمِهِ

[٥٥٢٩] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتَّخَذَ خَاتَمًا مِنْ فِضَّةٍ وَنَقَشَ فِيهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ وَقَالَ إِنِّي اتَّخَذْتُ خَاتَمًا مِنْ وَرِقٍ وَنَقَشْتُ فِيهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ فَلَا يَنْقُشَنَّ أَحَدٌ عَلَى نَقْشِهِ [ر: ٥٥٣٢]

رسول الله ﷺ په خپله ګوته كنبې د " محمد رسول الله " نقش جوړ كړې وو او دا ارشاد ئې فرمائلې وو چه بل څوك به دا نقش نه جوړوى . دا ګوته مهر هم وو، دې وجه نه ئې خلق منع كړې وو چه چرته التباس او خلل واقع نه شى - (٢)

په ګوته كنبې د خپل نوم يا د ذكر يا د حكمت يو خبره نقش كول جائز دى او د سلفو معمول هم پاتې شويدې حضرت عبد الله بن عمر ﷺ په ګوته كنبې د خپل نوم نقش كړې وو ، حضرت حذيفه او ابوعبيده " الحمد لله " ليكلې وو ، حضرت على ﷺ " الله الملك " ابراهيم نخعى " بالله " حضرت مسروق " بسم الله " ليكلې وو - (٣)

د بعض حضراتو نه د كراهت قول منقول دې خكه چه كه داسې څه ذكر يا د الله تعالى نوم اوليكلې شى نو جنبى او حائضه به ديته لاس لګوى او د استنجاء كولو په وخت به دې پورې د نجاست لګيدو ويره وى ، دې وجه نه ديته مكروه ويلې شويدى ګنى فى نفسه بالاتفاق دا جائز دې ، دې وجه نه چه په كومو ځايونو كنبې د بې عزتئ ويره وى نو ګوته دې اوويستلې شى او دا يو بهتر كار دې - (٤)

٥٣= بَاب هَلْ يُجْعَلُ نَقْشُ الْخَاتَمِ ثَلَاثَةَ أَسْطُرٍ

[٥٥٣٠] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْأَنْصَارِيُّ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ ثُمَامَةَ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ لَمَّا اسْتُخْلِفَ كَتَبَ لَهُ وَكَانَ نَقْشُ الْخَاتَمِ ثَلَاثَةَ أَسْطُرٍ مُحَمَّدٌ سَطْرٌ وَرَسُولُ

---

(١) عمدة القارى : ٢٢\٣٦ . فتح البارى : ١٠\٤٠٠)

(٢) فتح البارى : ١٠\٤٠٠ . (او آيا د دوى صلى الله عليه وسلم د زمانې نه پس په ګوته باندې داسې نقش جوړول جائز دى او كه نه ؟ علامه عينى فرمائى " فإن قلت : نهيه صلى الله عليه و سلم أن يُنقش مثل نقشه خاص بحياته أو يعم ذلک حياته و بعدها . قلت : الظاهر الأول . و يدل عليه لبس الخلفاء الخاتم بعده ثم جدد عثمان خاتما آخر بعد وقوع ذلک الخاتم فى بئر أريس . و نقش عليه ذلک النقش " . عمدة القارى : ٢٢\٣٨)

(٣) فتح البارى : ١٠\٤٠٢)

(٤) فتح البارى : ١٠\٤٠٢ . عمدة القارى : ٢٢\٣٤ . او علامه ابن عابدين فرمائى چه " فلو نقش اسمه تعالى او اسم نبيه صلى الله عليه وسلم استحب أن يجعل الفص فى كمه إذا دخل الخلاء . و أن يجعله فى يمينه إذا استنجى " رد المحتار على الدر المختار . كتاب الحظر و الإباحة . فصل فى اللبس : ٥\٢٥٤)

سَطْرٌ وَاللَّهِ سَطْرٌ قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ وَزَادَنِي أَحْمَدُ حَدَّثَنَا الْأَنْصَارِيُّ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ ثُمَامَةَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ خَاتَمُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي يَدِهِ وَفِي يَدِ أَبِي بَكْرٍ بَعْدَهُ وَفِي يَدِ عُمَرَ بَعْدَ أَبِي بَكْرٍ فَلَمَّا كَانَ عُثْمَانُ جَلَسَ عَلَى بِئْرِ أَرِيسَ قَالَ فَأَخْرَجَ الْخَاتَمَ فَجَعَلَ يَعْبَثُ بِهِ فَسَقَطَ قَالَ فَاخْتَلَفْنَا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ مَعَ عُثْمَانَ فَنَزَحَ الْبِئْرَ فَلَمْ يَجِدْهُ [ر: ۲۹۳۹]

رسول الله ﷺ چه د " محمد رسول الله " کوم نقش جوړ کړې وو ، هغه په درې کرخو کښې وو یو کرخه کښې " محمد " او په بله کښې " رسول " او په دریمه کښې " الله " وو -
د بعض حضراتو نه منقول دی چه برنۍ رومبنۍ کرخه کښې " الله " دویمه کښې " رسول " او په آخره دریمه کرخه کښې " محمد " لیکلې شوې وو ، داسې :

الله

رسول

محمد

خو حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی :" فلم أر التصريح بذلك في شيء من الأحاديث ، بل رواية الإسماعيلي يخالف ظاهرها ذلك ، فإنه قال فيها : محمد سطر ، و السطر الثاني رسول ، و السطر الثالث الله "(۱)
حافظ ابن حجر فرمائی په احادیثو کښې ما ته داسې څه تصریح ملاو نه شوه بلکه د اسماعیلی د روایت نه په ظاهره ددې خلاف معلومیږی ، ځکه چه دیکښې دی ، محمد یو کرخه کښې دې او دویمه کرخه کښې رسول دې او دریمه کښې لفظ د الله دې)
د باب بل روایت کښې دی چه دحضور ﷺ دا ګوته د حضرت فاروق اعظم نه پس د حضرت عثمان سره وه ، دوی یو ورځ د اریس کوهی سره ناست وو او دا ګوته ئې راویستې وه او دې سره ئې لوبې کولې چه دا د ده نه اوغورزیدله ، حضرت انس ﷺ فرمائی چه مونږ د حضرت عثمان سره درې ورځو پورې کوشش کولو ، ددې کوهی ټولې اوبه مو رااوویستلې خو دا ګوته ملاو نه شوه -

علامه مناوی په شرح شمائل کښې لیکی : " وكان في خاتم المصطفى شيء من الأسرار كما كان في خاتم سليمان ، لأن سليمان لما فقد خاتمه ذهب ملكه ، وعثمان لما فقد الخاتم ، انتقض عليه الأمر ، فكان مبدأ الفتنة التي أفضت إلى قتله ، واتصلت إلى آخر الزمان "(۲)
یعنی د رسول الله ﷺ په ګوته کښې څه راز وو ، چه څنګه د سلیمان علیه السلام په ګوته کښې راز وو. چه کله دا روکه شوه نو ددوی حکومت ختم شو ، د حضرت عثمان نه هم چه

۱) فتح الباری : ۱۰\۴۰۳ ، ۴۰۴)
۲) شرح الشمائل للمناوی ، باب ما جاء في ذكر خاتم رسول الله صلى الله عليه و سلم : ۱\۱۴۶)

كله د حضور دا كوته روكه شوه نو معاملات خراب شو او د هغې فتنې ابتداء اوشوه چه د دوى قتل ته اورسيدله او تر آخر د زمانې پورې به جارى وى -
ابن بطال رحمه الله فرمائى چه د حديث د باب نه يو خبره دا معلوميږى چه كه لږ مال هم روك شى نو ددې تلاش كښې كوشش كول پكار دى -
حضرت عائشه ﷞ اميل روك شوې وو نو حضور ددې تلاش كړې وو - (۱)
روايت كښې دى " يعبث به " علامه كرمانى فرمائى چه كوتمه نې په كوته كښې تاووله ، كله به نې ويستله او كله به نې اچوله " عبث " نه هم دا مراد دې (۲) انسان چه كله په يو معامله كښې فكر مند وى او په سوچ او په غور كښې مشغول وى نو عموما هم داسې كوى ، دا د وقار خلاف نه ده ، حافظ ابن حجر فرمائى -
" وإنما كان كذلك، لأن من مثلهم إنما ينشأ عن فكر، وفكرتهم إنما هي في الخير" (۳)
يو خبره دا هم معلومه شوه چه د څه څيز د روكيدو نه پس ددې دې درې ورځو پورې تلاش اوكړى او بيا دينه پس تلاش پريږدى نو دا جائز دى او داسې كس ته به لاپرواه نه وائى -
اودا هم معلومه شوه چه د صالحانو آثار او د دوى لباس په طور دتبرك استعمالولې شي (۴)

٥٣- بَابُ الْخَاتَمِ لِلنِّسَاءِ وَكَانَ عَلَى عَائِشَةَ خَوَاتِيمُ ذَهَبٍ

[۵۵۳۰] حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ أَخْبَرَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُسْلِمٍ عَنْ طَاوُسٍ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا شَهِدْتُ الْعِيدَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى قَبْلَ الْخُطْبَةِ قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ وَزَادَ ابْنُ وَهْبٍ عَنْ ابْنِ جُرَيْجٍ فَأَتَى النِّسَاءَ فَجَعَلْنَ يُلْقِينَ الْفَتَخَ وَالْخَوَاتِيمَ فِي ثَوْبِ بِلَالٍ [ر:۹۸]
دې باب كښې د ښځو د كوتې اچولو بيان دې ، د حضرت عائشه ﷞ سره د سرو زرو كوتې وې ، روايت د باب كښې حضرت ابن عباس فرمائى ، چه څه د نبى كريم ﷺ سره د اختر په مانځه كښې موجود ووم ، دوى د خطبې ويلو نه وړاندې مونځ اوكړو او د ابن وهب په واسطه سره دا اضافه هم نقل ده ، چه دوى ﷺ ښځو ته ورغلل دوى ته نې د صدقې او د خيرات كولو ترغيب وركړونو ښځو د حضرت بلال په جامو كښې كوتې او سلايانې راغورزولې
الفتخ (د فاء او د تاء د فتحه سره) جمع د فتخة ده سلائى بې غمى او بې د كوله ساده كوتې ته وائى (چه كومه د كچې كوتې سره نزدې كوته كښې اغوستې كيږى) شارحينو ددې تشريح كښې ليكلې دى : وهي الخواتيم التي تلبسها النساء في أصابع الرجلين وقيل : الخواتيم التي لا فصوص لها، وقيل : الخواتيم الكبار (۵)

---
۱) شرح صحيح البخارى لابن بطال : ۹\۱۳۷ ، فتح البارى : ۱۰\٤٠٤)
۲) شرح صحيح البخارى للكرمانى : ۲۱\۱۰۵ ، فتح البارى : ۱۰\٤٠٤ ، عمدة القارى : ۲۲\۳۹)
۳) فتح البارى : ۱۰\٤٠٤)
۴) ۱۰٤) فتح البارى : ۱۰\٤٠٤)
۵) فتح البارى : ۱۰\٤٠۵ ، إرشاد السارى : ۱۲\۵۸۰)

یعنی دینه هغه گوتې مراد دی چه ښځې نې د پښو په گوتو کښې اچوی ، بعضو ویلې دی دینه بغیر د غمی والا گوته مراد ده او یو قول دا هم دې چه دینه غمې گوتې مراد دی

۵۵=بَابُ الْقَلَائِدِ وَالسِّخَابِ لِلنِّسَاءِ يَعْنِي قِلَادَةً مِنْ طِيبٍ وَسُكٍّ

[۵۵۴۲] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَرْعَرَةَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ عِيدٍ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ لَمْ يُصَلِّ قَبْلُ وَلَا بَعْدُ ثُمَّ أَتَى النِّسَاءَ فَأَمَرَهُنَّ بِالصَّدَقَةِ فَجَعَلَتْ الْمَرْأَةُ تَصَدَّقُ بِخُرْصِهَا وَسِخَابِهَا _[ر:۹۸]

قلائد جمع د قلادة ده ، هار (امیل) ته وائی ، سخاب (د سین په کسره او د خاء په تخفیف سره) د ملغلرو نه علاوه چه د لونگو وغیره نه جوړ شوې امیل وی چه دا ماشومان استعمالوی ، (۱) بعضو ددې ترجمه په کړو سره کړیده - امام بخاری رحمه الله ددې په تفسیر کښې فرمائی قلادة من طیب وسك یعنی د خوشبو او د مشکو وغیره نه جوړ شوې امیل ، سُك (د سین په ضمه او دکاف په تشدید سره) د خوشبو نوم دې (۲)
خُرص (د خاء په ضمه او د راء په سکون سره) مُندرو ته وائی - (۳)

۵۶=بَابُ اسْتِعَارَةِ الْقَلَائِدِ

[۵۵۴۳] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا عَبْدَةُ حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ هَلَكَتْ قِلَادَةٌ لِأَسْمَاءَ فَبَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي طَلَبِهَا رِجَالًا فَحَضَرَتْ الصَّلَاةُ وَلَيْسُوا عَلَى وُضُوءٍ وَلَمْ يَجِدُوا مَاءً فَصَلَّوْا وَهُمْ عَلَى غَيْرِ وُضُوءٍ فَذَكَرُوا ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَنْزَلَ اللَّهُ آيَةَ التَّيَمُّمِ زَادَ ابْنُ نُمَيْرٍ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ اسْتَعَارَتْ مِنْ أَسْمَاءَ [ر:۳۲۷]
امیل او زیورات وغیره عاریتًا د استعمال دپاره اغستې شی لکه چه حضرت عائشه د حضرت اسماء امیل اخستې وو

۵۷=بَابُ الْقُرْطِ لِلنِّسَاءِ

وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ أَمَرَهُنَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالصَّدَقَةِ فَرَأَيْتُهُنَّ يَهْوِينَ إِلَى آذَانِهِنَّ وَحُلُوقِهِنَّ

[۵۵۴۴] حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنِي عَدِيٌّ قَالَ سَمِعْتُ سَعِيدًا عَنْ

---

۱) عمدة القاری : ۲۲\۳۹ ، إرشاد الساری : ۱۲\۵۸۱)
۲) إرشاد الساری : ۱۲\۳۸۱ ، عمدة القاری : ۲۲\۳۹)
۳) فتح الباری : ۱۰\۴۰۶ ، عمدة القاری : ۲۲\۴۰ ، إرشاد الساری : ۱۲\۵۸۱)

ابن عباس رضي الله عنهما أن النبي صلى الله عليه وسلم صلى يوم العيد ركعتين لم يصل قبلها ولا بعدها ثم أتى النساء ومعه بلال فأمرهن بالصدقة فجعلت المرأة تلقي قرطها _ [ر: ۹۸]

قرط (د قاف په ضمه او د راء په سکون) مندرو او والو ته وائی (۱)

۵۸= باب السخاب للصبيان

[۵۵۳۵] حدثني إسحاق بن إبراهيم الحنظلي أخبرنا يحيى بن آدم حدثنا ورقاء بن عمر عن عبيد الله بن أبي يزيد عن نافع بن جبير عن أبي هريرة رضي الله عنه قال كنت مع رسول الله صلى الله عليه وسلم في سوق من أسواق المدينة فانصرف فانصرفت فقال أين لكع ثلاثا ادع الحسن بن علي فقام الحسن بن علي يمشي وفي عنقه السخاب فقال النبي صلى الله عليه وسلم بيده هكذا فقال الحسن بيده هكذا فالتزمه فقال اللهم إني أحبه فأحبه وأحب من يحبه وقال أبو هريرة فما كان أحد أحب إلي من الحسن بن علي بعد ما قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ما قال [ر: ۲۰۱۶]

روایت د باب کښې د " لکع " معنی د ماشوم ده (۲) فقال النبی صلی الله علیه وسلم بیده هکذا ، فقال الحسن بیده هکذا : رسول الله ﷺ دواړو لاسونو سره اشاره اوکړه یعنی دواړه لاسونه ئې د غاړې ورکولو دپاره خواره کړل - حضرت حسن هم دواړه لاسونه خواره کړل او دوی ته ورتر غاړه وتلو -

۵۹= باب المتشبهين بالنساء والمتشبهات بالرجال

[۵۵۳۶] (۳) حدثنا محمد بن بشار حدثنا غندر حدثنا شعبة عن قتادة عن عكرمة عن ابن عباس رضي الله عنهما قال لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم المتشبهين من الرجال بالنساء والمتشبهات من النساء بالرجال تابعه عمرو أخبرنا شعبة

روایت د باب کښې دی چه رسول الله ﷺ په هغه سړو لعنت کړيدې چه کوم د ښځو په شان شکل جوړوی او په هغه ښځو ئې لعنت کړيدې چه کوم د سړو په شان صورت اختیاروی - یعنی د لباس او د زینت چه کوم څیزونه د ښځو سره خاص دی ، هغه سړو لره اختیارول نه

(۱) فتح الباری : ۱۰\ ۴۰۶ ، عمدة القاری : ۲۲ \ ۴۰ ، إرشاد الساری : ۱۲ \ ۵۸۱)

(۲) إرشاد الساری : ۱۲ \ ۵۸۳ ، عمدة القاری : ۲۲ \ ۴۱)

(۳) الحدیث أخرجه أبوداود فی کتاب اللباس ، باب لباس النساء : ۴ \ ۶۰ (رقم الحدیث : ۴۰۹۷) و أخرجه الترمذی فی کتاب الأدب ، باب ما جاء فی المتشبهات بالرجال من النساء : ۵ \ ۱۰۵ (رقم الحدیث : ۲۷۸۴) و أخرجه ابن ماجه فی کتاب النکاح ، باب فی المخنثین : ۱ \ ۶۱۴ (رقم الحدیث : ۱۹۰۴)

دی پکار . او داسې چه کوم هینت او طریقې د سړو سره خاص دی هغه اختیارول ښځو لره صحیح نه دی . داسې د خبرو او د تلو حکم هم دې ، هو که څوك په پیدایش کښې دارنګه مشابهت اولری نو چه دا غیر اختیاری دې دې وجه نه دا په دې وعید کښې داخل نه دې [1]

د باب په آخر کښې د عمرو بن مرزوق متابعت ابونعیم موصولا نقل کړیدې - [2]

٦٠=بَابُ إِخْرَاجِ الْمُتَشَبِّهِينَ بِالنِّسَاءِ مِنَ الْبُيُوتِ

[٥٥٤٧] ([3]) حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ فَضَالَةَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ يَحْيَى عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَعَنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُخَنَّثِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالْمُتَرَجِّلَاتِ مِنَ النِّسَاءِ وَقَالَ أَخْرِجُوهُمْ مِنْ بُيُوتِكُمْ قَالَ فَأَخْرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فُلَانًا وَأَخْرَجَ عُمَرُ فُلَانًا _[ر:٦٤٤٥]

[٥٥٤٨] حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ أَنَّ عُرْوَةَ أَخْبَرَهُ أَنَّ زَيْنَبَ بِنْتَ أَبِي سَلَمَةَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ أُمَّ سَلَمَةَ أَخْبَرَتْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ عِنْدَهَا وَفِي الْبَيْتِ مُخَنَّثٌ فَقَالَ لِعَبْدِ اللَّهِ أَخِي أُمِّ سَلَمَةَ يَا عَبْدَ اللَّهِ إِنْ فَتَحَ اللَّهُ لَكُمْ غَدًا الطَّائِفَ فَإِنِّي أَدُلُّكَ عَلَى بِنْتِ غَيْلَانَ فَإِنَّهَا تُقْبِلُ بِأَرْبَعٍ وَتُدْبِرُ بِثَمَانٍ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَدْخُلَنَّ هَؤُلَاءِ عَلَيْكُنَّ

قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ تُقْبِلُ بِأَرْبَعٍ وَتُدْبِرُ يَعْنِي أَرْبَعَ عُكَنِ بَطْنِهَا فَهِيَ تُقْبِلُ بِهِنَّ وَقَوْلُهُ وَتُدْبِرُ بِثَمَانٍ يَعْنِي أَطْرَافَ هَذِهِ الْعُكَنِ الْأَرْبَعِ لِأَنَّهَا مُحِيطَةٌ بِالْجَنْبَيْنِ حَتَّى لَحِقَتْ وَإِنَّمَا قَالَ بِثَمَانٍ وَلَمْ يَقُلْ بِثَمَانِيَةٍ وَوَاحِدُ الْأَطْرَافِ وَهُوَ ذَكَرٌ لِأَنَّهُ لَمْ يَقُلْ ثَمَانِيَةَ أَطْرَافٍ [ر:٣٠٦٩]

د باب ړومبی روایت کښې دی چه رسول الله ﷺ مخنث سړو سره او د سړو د شکل په شان خان جوړوونکو ښځو باندې لعنت کړیدې او فرمائی چه دوی د خپلو کورونو نه اوباسئ . رسول الله ﷺ فلانی لره او حضرت عمر فلانی لره ویستې وو -

المترجّلات . په زور د سړو سره مشابهت جوړوونکې ښځې ، رسول الله ﷺ چه کوم سړې ویستلې وو د دهٔ نوم انجشه وو او حضرت عمر چه څوك ویستې وو د هغه نوم مائع وو - [4]

[1]) فتح الباری : ١٠\٤٠٨ . إرشاد الساری : ١٢\٥٨٣ . عمدة القاری : ٢٢\٤١)
[2]) فتح الباری : ١٠\٤٠٩ . عمدة القاری : ٢٢\٤١ . إرشاد الساری : ١٢\٥٨٣)
[3]) ٥٥٤٧) الحدیث أخرجه البخاری ایضا فی کتاب الحدود . باب نفی أهل المعاصی و المخنثین (رقم الحدیث : ٦٤٤٥) و أخرجه الترمذی فی کتاب الأدب . باب ما جاء فی المتشبهات بالرجال من النساء : ١٥\١٠٦ (رقم الحدیث : ٧٧٨٥) و أخرجه أبوداود فی کتاب الأدب . باب فی الحکم فی المخنثین : ٤\٢٨٢ (رقم الحدیث : ٤٩٣٠) و أخرجه النسائی فی کتاب عشرة النساء . باب لعن المتبرجات من النساء : ١٥\٣٩٦ (رقم الحدیث : ٩٣٥١)
[4]) إرشاد الساری : ١٢\٥٨٣ . حافظ ابن حجر د هغه کس نوم ذکر کړیدې ...[بقیه برصفحه آئنده....

د باب دویم حدیث کتاب النکاح، باب ما ینهی من دخول المتشبهین بالنساء علی المرأة او کتاب المغازی، باب غزوة الطائف کښې تیر شویدې

۶۱ = بَاب قَصِّ الشَّارِب

وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يُحْفِي شَارِبَهُ حَتَّى يُنْظَرَ إِلَى بَيَاضِ الْجِلْدِ وَيَأْخُذُ هٰذَيْنِ يَعْنِي بَيْنَ الشَّارِبِ وَاللِّحْيَةِ

[۵۵۴۹] (۱) حَدَّثَنَا الْمَكِّيُّ بْنُ إِبْرَاهِيمَ عَنْ حَنْظَلَةَ عَنْ نَافِعٍ قَالَ أَصْحَابُنَا عَنِ الْمَكِّيِّ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مِنَ الْفِطْرَةِ قَصُّ الشَّارِبِ [ر: ۵۵۵۱، ۵۵۵۳، ۵۵۵۴]

[۵۵۵۰] (۲) حَدَّثَنَا عَلِيٌّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ الزُّهْرِيُّ حَدَّثَنَا عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رِوَايَةً الْفِطْرَةُ خَمْسٌ أَوْ خَمْسٌ مِنَ الْفِطْرَةِ الْخِتَانُ وَالِاسْتِحْدَادُ وَنَتْفُ الْإِبْطِ وَتَقْلِيمُ الْأَظْفَارِ وَقَصُّ الشَّارِبِ [ر: ۵۵۵۲، ۵۹۳۹]

د لباس نه د فارغیدو نه پس امام بخاری رحمه الله دې خائې نه متعلقات د لباس بیانوی. د بریتو اخستل. د نوکونو اخستل وغیره د لباس متعلقات دی - (۳)

د بریتو اخستو طریقه او حکم حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه خپل بریت به دومره تراشل چه د خرمنې سپین والي به ښکاریدو او د ګیرې او د بریتو په مینځ کښې به نې هم ویخته اخستل -

امام طحاوی رحمه الله د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما دا اثر موصول نقل کړیدې - (۴)

...بقیه ازحاشیه گذشته] چه کوم سړې رسول الله صلی الله علیه و سلم ویستلې وو خو چه کوم سړې حضرت عمر رضی الله عنه ویستې وو د هغه باره کښې ابن حجر فرمائی : " و لم أقف فی شیء من الروایات علی تسمیة الذی أخرجه عمر " فتح الباری : ۱۰\۴۱۰ . علامه عینی هم دا فرمائلې دی . عمدة القاری : ۲۲\۴۲)

(۱) الحدیث أخرجه البخاری ایضا فی کتاب اللباس . باب تقلیم الأظفار (رقم الحدیث : ۵۵۵۱ . ۵۵۵۳) و فی باب إعفاء اللحی (رقم الحدیث : ۵۵۵۴)

(۲) الحدیث أخرجه البخاری أیضا فی هذا الکتاب . باب تقلیم الأظفار (رقم الحدیث : ۵۵۵۲) و أخرجه أیضا فی کتاب الاستیذان . باب الختان بعد الکبر و نتف الإبط (رقم الحدیث : ۵۹۳۹) و اخرجه مسلم فی کتاب الطهارة . باب خصال الفطرة . ۱\۲۲۱ (رقم الحدیث : ۲۵۷) و أخرجه أبوداود فی کتاب اللباس . باب فی أخذ الشارب : ۴\۸۴ (رقم الحدیث : ۴۱۹۸) و أخرجه النسائی فی کتاب الزینة . باب الفطرة : ۵\۴۰۶ (رقم الحدیث : ۹۲۸۹) و أخرجه ابن ماجه فی کتاب الطهارة . باب الفطرة : ۱\۱۰۸ (رقم الحدیث : ۲۹۲)

(۳) فتح الباری : ۱۰\۱۰ . عمدة القاری : ۲۲\۴۳)

(۴) شرح معانی الآثار للطحاوی . کتاب الکراهیة . باب حلق الشارب : ۲\۳۶۸)

بريت د شونډو په اړخونو کښې چه کوم خانې ختميږي د دې او د ګيرې مينځ په حصه کښې چه کوم ويخته دي دا به هم حضرت ابن عمر رضي الله عنهما قينچي کول -
د باب دويم حديث په سند کښې دې چه حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت بيانوى ، د روايتًا بيانول نه مراد مرفوعًا بيانول دي - (۱) چه پنځه څيزونه فطرت دى سنتول ، د نامه نه لاندې ويخته خريل ، د ترخ ويخته ويستل ، نوکونه اخستل ، او د بريتو قينچي کول -
من الفطرة ، علامه قسطلانى رحمه الله فرمائى : "أى من السنة القديمة التى اختارها الأنبياء عليهم السلام ، اتفقت عليها الشرائع ، فكأنها أمر جبلى فطروا عليه" (۲) يعنى دا يو پخوانې سنت دې چه دا ټولو پيغمبرانو اختيار کړيدې ، او چه په دې تمام شريعتونه متفق دي ، ګويا دا يو فطرى طبيعت دې چه دوى په دې سره پيدا شوى دى -
د استحداد معنى ده حديد يعنى پاکى استعمالول ، د نتف اصل معنى ويستل او راکښل راخي . د ترخ ويخته په لاسونو سره ويستل پکار دى ، خو که چا ته دې سره تکليف وى نو په پترى (بليډ) وغيره سره ئې هم صفا کولې شى ، مقصد د ويختو لرې کول دى (۳)
په بريتونو اخستو کښې سنت دا دې چه دا په قينچي وغيره سره دومره نرى نرى واخستې شى چه څرمن په نظر راشى ، پترى (بليډ) سره بريتونه بالکل صفا کولو ته بعضې عالمانو بدعت او مکروه ويلې دى (۴) خو د احنافو په نزد جائز دى - (۵) د بريتو د تراشلو په باره کښې حديث د باب کښې د "قَصّ" لفظ راغلې دې ، راتلونکې باب کښې د حضرت ابن عمر په حديث کښې د "أحفوا الشوارب" الفاظ دى دينه وړاندې باب کښې د "انهكوا الشوارب" الفاظ دى . د صحيح مسلم په روايت کښې د "جزّوا الشوارب" الفاظ دى - (۶)
إحفاء او د نهك معنى ده په تراشولو او قينچي کولو کښې ښه مبالغه کول د "جز" معنى ده ويخته داسې اخستل چه څرمن په نظر راشى (۷)...... د دې تمامو الفاظو حاصل دا دې چه

---

۱) فتح البارى : ۱۰\۴۱۳ . عمدة القارى : ۲۲\۴۵ . إرشاد السارى : ۱۲\۵۸۶)
۲) إرشاد السارى : ۱۲\۵۸۶)
۳) فتح البارى : ۱۰\۴۲۲ . إرشاد السارى : ۱۲\۵۸۷ . علامه عينى فرمائى " فإن حلقه فقد خالف السنة " عمدة القارى : ۲۲\۴۵)
۴) أوجز المسالک . کتاب اللباس . باب ما جاء فى السنة فى الفطرة : ۱۴\۲۳۱ . شرح الزرقانى على الموطاء للإمام مالک . کتاب اللباس . باب ما جاء فى السنة فى الفطرة : ۴\۲۸۷ . الأبواب و التراجم : ۲\۱۰۹ . فتح القدير . کتاب الحج . باب الجنايات : ۲\۴۴۶)
۵) شرح مسلم للنووى . کتاب الطهارة . باب خصال الفطرة : ۱\۱۲۹ . أوجز المسالک . کتاب اللباس . باب ما جاء فى السنة فى الفطرة : ۱۴\۲۳۲ . حاشية ابن عابدين . کتاب الحج . باب الجنايات : ۲\۲۲۲ . فتح القدير . کتاب الحج . باب الجنايات : ۲\۴۴۶)
۶) صحيح مسلم . کتاب الطهارة . باب خصال الفطرة : ۱\۲۲۲ (رقم الحديث : ۲۶۰)
۷) فتح البارى : ۱۰\۴۲۵ . أوجز المسالک . کتاب اللباس . باب ما جاء فى السنة فى الفطرة : ۱۴\۲۳۲)

بریت بنه قینچی کول پکار دی خو په پاکئ سره بالکل د بیخه صفا کول نه دی پکار، امام مالك په پاکئ سره بالکل صفا کولو ته مثله ویلې ده (۱) ، د شوافع او حنابله په نزد هم په قینچئ وغیره سره تراشل افضل دی - (۲)

۶۳=بَاب تَقْلِيمِ الْأَظْفَارِ

[۵۵۵۵] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ ابْنُ أَبِي رَجَاءٍ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ سُلَيْمَانَ قَالَ سَمِعْتُ حَنْظَلَةَ عَنْ نَافِعٍ عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مِنْ الْفِطْرَةِ حَلْقُ الْعَانَةِ وَتَقْلِيمُ الْأَظْفَارِ وَقَصُّ الشَّارِبِ [ر: ۵۵۴۹]

[۵۵۵۶] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ حَدَّثَنَا ابْنُ شِهَابٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْفِطْرَةُ خَمْسٌ الْخِتَانُ وَالِاسْتِحْدَادُ وَقَصُّ الشَّارِبِ وَتَقْلِيمُ الْأَظْفَارِ وَنَتْفُ الْآبَاطِ [ر: ۵۵۵۰]

[۵۵۵۷] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مِنْهَالٍ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ زَيْدٍ عَنْ نَافِعٍ عَنْ ابْنِ عُمَرَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَالِفُوا الْمُشْرِكِينَ وَفِّرُوا اللِّحَى وَأَحْفُوا الشَّوَارِبَ وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ إِذَا حَجَّ أَوْ اعْتَمَرَ قَبَضَ عَلَى لِحْيَتِهِ فَمَا فَضَلَ أَخَذَهُ [ر: ۵۵۴۹]

د نوکونو اخستو حکم : تقلیم د قلم نه باب د تفعیل مصدر دې ، ددې معنی د پریکولو او د اخستو او د قطع کولو راځی ، د بریتو په شان نوکونه اخستل هم په فطری امورو کښې دی، په لویو نوکونو کښې خیرې جمع کیږی ، چه کوم د پاکئ خلاف دې ، دارنګه د خیرو په وجه ډیر کرتې اوبه بیخونو ته نه رسیږی دې وجه نه د نوکونو د اخستو اهتمام کول پکار دی -

په څومره موده کښې نوکونه او بریت اخستل پکار دی: امام مسلم رحمه الله د حضرت انس نه روایت نقل کړیدې چه په بریتو او په نوکونو اخستو کښې او د ترخونو او د نامه لاندې ویختو اخستو کښې مونږ دپاره د څلویښتو ورځو حد مقرر شویدې چه دینه به ئې زیات نه پریږدو - (۳)

او بهتره دا ده چه هره هفته د بریتو او د نوکونو د اخستو او د نامه د لاندې د ویختو د صفا کولو اهتمام اوشی . امام بیهقی رحمه الله د حضرت ابوهریره نه روایت نقل کړیدې چه رسول الله ﷺ به د هرې جمعې مانځه دپاره د راوتلو نه وړاندې خپل نوکونه او بریت اخستل - (۴)

د نوکونو د اخستو طریقه :د نوکونو په اخستو کښې د ګوتو ترتیب څنګه کیدل پکار دی ؟

---

۱) فتح الباری : ۱۰\۴۲۵ ، أوجز المسالک ، کتاب اللباس ، باب ما جاء فی السنة فی الفطرة : ۱۴\۲۳۲)

۲) فتح الباری : ۱۰\۴۲۵ ، أوجز المسالک ، کتاب اللباس ، باب ما جاء فی السنة فی الفطرة : ۱۴\۲۳۲ ، شرح الزرقانی ، علی الموطاء لإمام مالک ، کتاب اللباس ، باب ما جاء فی السنة فی الفطرة : ۴\۲۸۷)

۳) صحیح مسلم ، کتاب الطهارة ، باب خصال الفطرة : ۱\۲۲۲ ، (رقم الحدیث : ۲۵۸)

۴) أوجز المسالک ، کتاب اللباس ، باب ما جاء فی السنة فی الفطرة : ۱۴\۲۳۰)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه احاديثو كښې ددې متعلق څه تصريح نشته دې - (۱)
امام نووی رحمه الله په شرح د مسلم كښې ليكلي دی چه مستحب دا ده چه د ښى لاس د مسواكې ګوتې نه شروع اوكړې شى بيا مينځنۍ ګوته بيا وزيره ګوته بيا د كچې ګوتې نوكونه دې واخستې شى بيا د ګس لاس د كچې ګوتې نه شروع شى تر د متې ګوتې د ګس لاس پورې واخستې شى او په آخره كښې د ښې لاس د متې ګوتې نوك واخستې شى ، او د پښو په نوكونو اخستو كښې شروع دې د ښې پښې د كچې ګوتې نه اوشى او په ترتيب سره دې اخلى تر دې د ګسې پښې په كچه ګوته ئې ختم كړى - (۲)

قوله: خالفو المشركين ، وفرّوا اللحى ، وأحفوا الشوارب: رسول الله ﷺ فرمائي چه د مشركانو مخالفت اوكړئ ، ګيره لويه كړئ او بريت اوتراشئ ، مشركانو نه مراد مجوسيان دې - (۳)

د "وفرّوا اللّحى" د الفاظو نه دا شبه كيږى چه ګيره لويه پكار ده او په هيڅ صورت كښې هم ديته قينچى وراوړل او كمول نه دى پكار -
شايد هم دې شبه ختمولو دپاره امام بخارى رحمه الله د حضرت ابن عمر اثر رانقل كړيدې چه كله دوى به حج يا عمره كوله نو خپله ګيره به ئې په موټى كښې اونيوله او د ويختو چه به څومره حصه زياته وه نو دا به ئې قينچى كړه ، امام ترمذى رحمه الله د حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص نه هم يو روايت نقل كړيدې چه په خپله رسول الله ﷺ به هم خپله ګيره مباركه په پلنو او په اوږدوالى كښې څه كموله - (۴)

دې وجه نه د وفرّوا اللّحى او د أعفوا اللّحى مطلب دا دې چه ګيره دې اوساتلې شى نه دې اوخرولې شى او نه دې زياته كمه كړې شى -

د باب د دې دويم حديث تعلق ترجمة الباب سره نشته دې بلكه دا د راتلونكى باب "باب إعفاء اللحى" لاندې ذكر كول پكار وو - په تكلف او په زور سره كه څه توجيه ورلره اوكړې شى هغه بيله خبره ده ، لكه علامه قسطلانى رحمه الله ليكى :
"وهذا الحديث لا تعلق له بما ترجمه له كما لا يخفى ويمكن توجيهه بتعسف" (۵)

•••

۱) فتح البارى : ۱۰\ ۴۲۳)
۲) شرح مسلم للنووى ، كتاب الطهارة ، باب خصال الفطرة : ۱\ ۱۲۹ ، دارنګه اوګوره بذل المجهود ، كتاب الترجل ، باب فى أخذ الشارب : ۱۷\ ۸۳)
۳) فتح البارى : ۱۰\ ۴۶۸ ، عمدة القارى : ۲۲\ ۴۶ ، إرشاد السارى : ۱۲\ ۵۹۰)
۴) أخرجه الترمذى فى كتاب الأدب ، باب ما جاء فى الأخذ من اللحية : ۵\ ۹۴ (رقم الحديث : ۲۷۶۲)
۵) إرشاد السارى : ۱۲\ ۵۹۰)

٦٣ = باب إعفاء اللحى عفوا [الأعراف: ٩٥] كثروا وكثرت أموالهم

[٥٥٥٣] حدثني محمد أخبرنا عبدة أخبرنا عبيد الله بن عمر عن نافع عن ابن عمر رضي الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم انهكوا الشوارب وأعفوا اللحى [ر: ٥٥٤٩]

د ګیرې اندازه : په حدیث د باب کښې دی " انهكوا الشوارب و أعفوا اللحى " بریت قینچی کړئ او ګیره لویه کړئ -

ګیره څومره لویول پکار دی؟: په دې باره کښې حدیث کښې څه معین اندازه نه ده شوې (١) خو د یو موټی نه کم د ګیرې د قینچی کولو اجازت د چا نه هم نه دې منقول بلکه داسې کول حرام دی - (٢) خو د یو موټی نه چه کوم زیات وی د هغې قینچی کول د بعضو په نزد مباح او د بعضو په نزد مستحب دي - (٣) امام نووی رحمه الله فرمائی چه ګیره د یو موټی نه زیاته شی نو دا دې قینچی نه کړې شی ، دا دې په خپل حال سره پریخودې شی - (٤)
د یو موټی نه زیاته ګیره چه دومره غټه شی چه بدنما ښکاری نو دې صورت کښې زیات ویخته اخستل بعض عالمان ضروری او بعض مستحب ګنړی ، خو په یو موټی ګیره ساتلو باندې اجماع ده - (٥) مفتی کفایت الله صاحب رحمه الله فرمائی :
" په حدیث کښې د ګیرې د غټولو حکم او تائید راغلې دې او ددې اندازه خودلو دپاره څه قولی روایت د رسول الله ﷺ نه روایت نه دې ، خو فعلی روایت کښې د اصحابو ﷺ دا طرز عمل مروی دې چه د یو موټی نه به ئې زیاته ګیره قینچی کوله او د یو موټی نه د کمې

---

(١) کفایت المفتی ، کتاب الحظر ، بال او داڑھی کے احکام : ٩\١٧٦ ، معارف الحدیث ، کتاب المعاشرة و المعاملات : ٦\٣١٥)

(٢) البدر الساری : ٤ \ ٣٨٠ ، معارف الحدیث ، کتاب المعاشرة و المعاملات : ٦ \ ٣١٥ ، کفایت المفتی ، کتاب الحظر و الإباحة : ٩ \ ١٧٤)

(٣) الابواب و التراجم : ٢ \ ١١٠ ، او د صاحب د درمختار نه منقول دی چه یو موټې ګیره ساتل مسنون دی لکه چه دې فرمائی " و السنة فیها القبضة " الدر المختار ، کتاب الحظر و الإباحة ، فصل فی البیع : ٥ \ ٢٨٨ ، هم د دې عبارت تر لاندې شارح علامه ابن عابدین فرمائی " وهو أن یقبض الرجل لحیته فما زاد منها علی قبضة قطعه کذا ذکره محمد فی کتاب الآثار عن الإمام ، قال : و به نأخذ ")

(٤) شرح مسلم للنووی ، کتاب الطهارة ، باب خصال الفطرة : ١ \ ١٢٩)

(٥) و هل یکره أخذ ما زاد علی القبضة فیه وجهان : أحدهما یکره ، و الثانی لا یکره لما روی البخاری ذلک من فعل ابن عمر ..... و علم مما سبق أنهم اختلفوا فیما طال من اللحیة علی أقوال : الأول : یترکها علی حالها و لا یأخذ منها شیئا ، و هو مختار الشافعیة ، و رجحه النووی و هو أحد الوجهین عند الحنابلة ، و الثانی کذلک إلا فی حج أو عمرة ، فیستحب أخذ شیء منها ، قال الحافظ : هو المنصوص عن الشافعی ، و الثالث یستحب أخذ ما فحش طولها جدا بدون التحدید بالقبضة وهو مختار لإمام مالک ، و رجحه القاضی عیاض و الرابع : یستحب أخذ ما زاد علی القبضة ، وهو مختار الحنفیة ، (الأبواب و التراجم : ٢ \ ١١٠)

قينچي كولو هيڅ څه سند نشته دې ، دې وجه نه فقهاء كرامو يو موټې ګيره ساتل واجب ګرځولې دى ، او ددې نه كم ساتونكې ئې په وجه د تارك د واجبو فاسق ګرځولې دې. (1)

قوله: عفوا: كثروا وكثرت أموالهم: د إعفاء په مناسبت سره امام بخارى رحمه الله د خپل عادت مطابق د سوره اعراف ايت پنځه نوى كښې واقع د لفظ د "عفوا" معنى بيان كړه چه د دې معنى د زياتيدو او د مال د زياتيدو راځى ، آيت كريمه دې (**ثم بدلنا مكان السيئة الحسنة حتى عفوا......**) مونږ بد حالى په خوشحالئ سره بدله كړه تر دې چه دوى ته (د صحت سره مال او اولاد كښې) ښه ترقى نصيب شوه (دا زياتيدل او د دوى مال او اولاد كښې اضافه اوشوه -)

۶۴= بَاب مَا يُذْكَرُ فِي الشَّيْبِ

[۵۵۵۵/۵۵۵۶] حَدَّثَنَا مُعَلَّى بْنُ أَسَدٍ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ قَالَ سَأَلْتُ أَنَسًا أَخَضَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَمْ يَبْلُغْ الشَّيْبَ إِلَّا قَلِيلًا

[۵۵۵۶] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ ثَابِتٍ قَالَ سُئِلَ أَنَسٌ عَنْ خِضَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّهُ لَمْ يَبْلُغْ مَا يَخْضِبُ لَوْ شِئْتُ أَنْ أَعُدَّ شَمَطَاتِهِ فِي لِحْيَتِهِ [ر: ۳۳۵۷]

[۵۵۵۷/۵۵۵۵] (2) حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَوْهَبٍ قَالَ أَرْسَلَنِي أَهْلِي إِلَى أُمِّ سَلَمَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَدَحٍ مِنْ مَاءٍ وَقَبَضَ إِسْرَائِيلُ ثَلَاثَ أَصَابِعَ مِنْ قُصَّةٍ فِيهِ شَعَرٌ مِنْ شَعَرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ إِذَا أَصَابَ الْإِنْسَانَ عَيْنٌ أَوْ شَيْءٌ بَعَثَ إِلَيْهَا مِخْضَبَهُ فَاطَّلَعْتُ فِي الْجُلْجُلِ فَرَأَيْتُ شَعَرَاتٍ حُمْرًا

[۵۵۵۸] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا سَلَّامٌ عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَوْهَبٍ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى أُمِّ سَلَمَةَ فَأَخْرَجَتْ إِلَيْنَا شَعَرًا مِنْ شَعَرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَخْضُوبًا وَقَالَ لَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا نُصَيْرُ بْنُ أَبِي الْأَشْعَثِ عَنْ ابْنِ مَوْهَبٍ أَنَّ أُمَّ سَلَمَةَ أَرَتْهُ شَعَرَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْمَرَ

د ترجمة الباب مقصد: شيب بوډاتوب او د ويختو سپين والى ته وائى ، شارحين د ترجمة الباب مقصد بيانولو كښې ليكى چه سپينو ويختو ته خضاب لګولې شى او كه نه ؟ امام ددې حكم بيانول غواړى - (3) خو دا خبره زړه ته نه پريووځى ځكه امام د خضاب د حكم

---

(1) كفايت المفتى : كتاب الحظر و الإباحة " بال اور داڑھى كا احكام : ۹/ ۱۷۶)

(2) ۵۵۵۷) الحديث أخرجه البخارى أيضا فى هذا الباب (رقم الحديث : ۵۵۵۸) و اخرجه ابن ماجه فى كتاب اللباس ، باب الخضاب بالحناء : ۲/ ۱۱۹۶ (رقم الحديث : ۳۶۲۳)

(3) عمدة القارى : ۲۲/ ۴۷ ، دارنګه اوګورئ فتح البارى : ۱۰/ ۴۳۱ ، إرشاد السارى : ۱۲/ ۵۹۱)

متعلق وراندې مستقل باب قائم کړيدې

شيخ الحديث مولانا محمد زکريا رحمه الله فرمائي چه د ترجمة الباب مقصد د شيب فضيلت او د سپينو ويختو د ويستلو د ممانعت باره کښې چه کوم روايتونه راغلي دی هغې ته ئې اشاره کول مقصود دې (١)

د سپينو ويختو فضيلت : لکه چه امام ابوداود او ترمذی د عمرو بن شعيب عن ابيه په سند سره روايت نقل کړيدې چه "إن النبی صلی الله عليه و سلم نهی عن نتف الشيب و قال : إنه نور المسلم" يعنی رسول الله ﷺ د سپينو ويختو د ويستلو نه منع کړيده ، او فرمايلی دی چه دا د مسلمان نور دې (٢) خو چه دا روايتونه د امام بخاری رحمه الله په شرطونو برابر نه وو ، دې وجه نه ئې دا ذکر نه کړل او د خضاب والا روايتونه ئې ذکر کړل -

رومبې روايت کښې محمد بن سيرين فرمائي چه ما دا حضرت انس نه تپوس اوکړو چه آيا رسول الله ﷺ خضاب لګولې وو ؟ نو دوی اوويل د دوی ډير کم ويخته سپين شوې وو (د پنځلس ، اوولس ، اتلس ، نورلس ياد شلو ويختو د سپينيدو ذکر راغلې دی) -(٣)

په دويم روايت کښې دی چه د حضرت انس نه د رسول الله ﷺ د خضاب لګولو په باره کښې تپوس اوشو نو دوی اوويل چه د دوی ويخته دومره سپين شوې نه وو چه خضاب ئې لګولې وې ، که د دوی د ګيرې سپين ويخته چا شمارلې نو شمارلې کيدل -

شمطات (د شين او د ميم په فتحه سره) سپينو ويختو ته وائی - (٤)

د يو مغلق عبارت تشريح : د باب په دريم حديث کښې عثمان بن عبد الله بن وهب فرمائی :

أرسلنی أهلی إلی أم سلمة زوج النبی صلی الله عليه وسلم بقدح من ماء .... وقبض إسرائيل ثلاث أصابع ...... من قصة فيه شعر من شعر النبی صلی الله عليه وسلم" -

دې عبارت کښې دلته لږ غونده اغلاق دې ، حضرت ګنګوهی رحمه الله ددې چه کومه تشريح کړيده هغه ډيره واضحه او بې ګرد وغبار ده -

دلته رومبې په دې خبره پوهه شه چه د " وقبض إسرائيل ثلاث أصابع " دا جمله معترضه ده ، اسرائيل بن يونس ددې حديث د پوهول دپاره په درې ګوتو اشاره اوکړه ، نو دې جمله کښې ددې ذکر دې ، دې وجه نه د اصل حديث الفاظ دا دی "أرسلنی أهلی إلی أم سلمة زوج النبی صلی الله عليه وسلم بقدح من ماء من قصة فيه شعر من شعر النبی صلی الله عليه وسلم" -

① قُصّة (د قاف په ضمه او د صاد په تشديد سره) د ويختو " من قُصّة.... " کښې " من "

---

(١) الابواب و التراجم : ١٢ \ ١١٠)

(٢) أخرجه الترمذی فی کتاب الأب ، باب ما جاء فی النهی عن نتف الشيب : ٥ \ ١٢٥ (رقم الحديث : ٢٨٢٣) و روی أبو داود معناه فی کتاب الترجل ، باب فی نتف الشيب : ٤ \ ٨٥ (رقم الحديث : ٤٢٠٢)

(٣) إرشاد الساری : ١٢ \ ٥٩١ ، عمدة القاری : ٢٢ \ ٤٨)

(٤) عمدة القاری: ٢١ \ ٤٨ ،فتح الباری: ١٠ \ ٤٣٢ إرشاد الساری: ١٢ \ ٥٩٢ ، شرح الكرمانی : ٢١ \ ١١٢)

سببيه ده او د " اجل " په معنى دې " أى لأجل قصة " او په ديكښې د شعر نه وړاندې فعل محذوف دې أى ليجعل فيه شعر من شعر النبى صلى الله عليه وسلم ... تركيبى عبارت به ترينه جوړ شى " أرسلنى أهلى إلى أم سلمة .... بقدح من ماء لأجل قصة ليجعل فيه شعر من شعر النبى صلى الله عليه و سلم ..... ترجمه به وى " خه خپل كور والا د اوبو يو پيالئ سره حضرت ام سلمه بى بى د رسول الله ﷺ ته اوليږلم د ويختو د غنچكې د وجه نه دې دپاره چه دې پيالي كښې د نبى كريم ﷺ ويخته واچولې شى " -

د حضرت ام سلمه ﷞ سره په يو ډبى كښې د رسول الله ﷺ ويخته مبارك محفوظ وو ، چه چا ته به بد نظر لګيدلو يا به څوك بيمار شو نو اوبه به ئې رااوليږلې ، دوى به ويخته مبارك په ديكښې واچولو ، خلقو به دا اوبه استعمالولې نو ددې په بركت به دوى ته شفا ملاويده - (١) عثمان بن وهب ته ئې پيالئ وركړه او د دې ويختو دپاره ئې اوليږلو دې دپاره چه دا ويخته مبارك په دې پيالئ كښې واچولې شى -

" فيه شعر... " كښې ضمير مجرور " قدح " ته راجع دې بعضې نسخو كښې " فيها " دې ، دې صورت كښې به مطلب نور هم واضح شى چه خه ئې حضرت ام سلمه ﷞ ته اوليږلم ددې غنچې دپاره چه ديكښې د رسول الله ﷺ ويخته مبارك وو - د دوى ويخته مبارك د نورو ويختو سره ايخودې شوې وو دې دپاره چه محفوظ پاتې شى ، لكه چه حضرت ګنګوهى رحمه الله فرمائى :

" من قصة : كلمة من بمعنى الأجل ، وقول : فيه شعر من شعر..... الظاهر أنه بيان لما آل إليه أمر القدح حين جعلت أم سلمة شعره صلى الله عليه و سلم فيه ، إذ لا يخفى أن الشعر لم يكن فى القدح الذى أتى به عثمان إلى أم سلمة ﷞ ، وإنما كان الشعر فى الجلجل و لا يبعد أن يقال : " ليجعل فيه شعر من شعر..... بحذف الفعل ، و هذا إذا أعيد الضمير إلى القدح ، و أما إذا أعيد إلى القُصة كما فى نسخة ، فالأمر أظهر ، و لعلها جعلته فى القصة خوفا عن التلف و الضياع لو أفرد و كان وحده " (٢)

⑶ دا تفصيل هله دې چه كله دا لفظ د " قُصّة " وى خو په څو نسخو كښې دا لفظ د " فضّة " دې- (٣) او دا د " قدح " صفت دې او ترجمه به ئې وى " خه خپل كور والا د سپينو زرو نه جوړه شوې پيالئ سره اوليږلم چه ديكښې د رسول الله ﷺ ويخته مبارك وو ، د عثمان بن وهب كور والا دا اوړلې وو .بيا ئې واپس كولو دپاره عثمان ﷛ ته وركړل او راوې ليږلو-(٤)

---

١) عمدة القارى: ٢٢\٤٩.فتح البارى: ١٠\٤٣٣.إرشاد السارى : ١٢\٥٩٣ . شرح الكرمانى : ٢١\١١٣)

٢) لامع الدرارى : ١٠\٣)

٣) عمدة القارى : ٢٢\٤٨ . فتح البارى : ١٠\٤٣٢ . إرشاد السارى : ١٢\٥٩٤)

٤) عمدة القارى: ٢٢\٤٩.فتح البارى: ١٠\٤٣٢ .إرشاد السارى : ١٢\ ٥٩٤ شرح الكرمانى : ٢١\١١٢)

په دې به دا اشکال وی چه د سپینو زرو پیالئ استعمالول خو جائز نه دی . د دې دا جواب ورکړې شویدې چه دا خالص د سپینو زرو نه وه . په دې صرف د سپینو زرو څه کار شوې وو یا خالص د سپینو زرو وه خو دا قسم د سپینو زرو واړه لوښی استعمالول حضرت ام سلمه جائز ګڼړل - (۱)
او دا هم کیدې شی چه حضرت ام سلمه رضی الله عنها دا د خوراك څښاك دپاره نه استعمالولو صرف د حضور ﷺ ویخته ئې دېکښې ایخودې وو . د سپینو زرو لوښی کښې څه داسې څیز محفوظ ساتل جائز دی - (۲)

③ دریم صورت دا دې چه " من فضة " د قدح " صفت نه دې بلکه د " جلجل " صفت دې . جلجل ډبی ته وائی . لکه چه حمید په " الجمع بین الصحیحین " کښې چه کوم روایت رانقل کړیدی . د دې الفاظ دی " أرسلني أهلي إلى أم سلمة بقدح من ماء فجاءت بجلجل من فضة فيه شعر " (۳) د دې حاصل دا دې چه عثمان صرف د اوبو پیالئ اوړې وه او حضرت ام سلمه د سپینو زرو هغه ډبې راوړو چه دیکښې د حضور انور ﷺ ویخته مبارك وو
خلقو به د اوبو وغیره لوښی اوړل . حضرت ام سلمه به دیکښې دننه دغه ډبی ایخودلو . بیا به دغه اوبه استعمالیدلې او مریضانو ته به شفا ملاویده -

حاصل دا چه روایت کښې د " من فضة ... " نه وړاندې " فجاءت بجلجل " الفاظ د حمیدی په روایت کښې دی ، دلته د بخاری په روایت کښې نشته دې چه د هغې په وجه نه په کلام کښې څه اشکال او سختی راغی لکه چه حافظ ابن حجر رحمه الله لیکی :

" قوله : فجاءت بجلجل ، وبه ينتظم الكلام ، ويعرفا منه أن قوله : " من فضة " بافاء والمعجمة ، وأنه صفة الجلجل ، لا صفة القدح الذي أحضره عثمان بن موهب " (۴)

اوس خبره پاتې کیږی د " وقبض إسرائيل ثلاث أصابع " .... اسرائیل بن یونس د خبرې د پوهولو دپاره درې ګوتې (مته ګوته ، مسواکه ګوته او مینځنئ ګوته) خورې کړې راغونډې کړې . حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی : چه دې سره د اوبو د پیالئ وړوکوالی ته اشاره وه چه دا دومره وړه پیالئ وه - (۵)
علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دې سره د عثمان حضرت ام سلمه ته د درې خلو تلو اشاره کول مقصود دی ، څکه چه په ګوتو باندې شمیر ته اشاره کیږی - (۶)

---

(۱) عمدة القاری: ۲۲\۴۹، فتح الباری: ۱۰\۴۳۲ ، إرشاد الساری: ۱۲\۵۹۴ ، شرح الکرمانی : ۲۱\۱۱۲)
(۲) عمدة القاری : ۲۲\۴۹ ، إرشاد الساری : ۱۲\۵۹۲ ، فتح الباری : ۱۰\۴۳۲)
(۳) فتح الباری : ۱۰\۴۳۲)
(۴) فتح الباری : ۱۰\۴۳۲)
(۵) فتح الباری : ۱۰\۴۳۲ ، إرشاد الساری : ۱۲\۵۹۲)
(۶) عمدة القاری : ۲۲\۴۸ ، شرح الکرمانی : ۲۱\۱۱۲)

شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا رحمه الله د "قبض أصابع" تشریح کوی او لیکی :

"ثم اعلم أن هیئة قبض الأصابع أن تطول أصابعك الثلاثة ، وهی الإبهام ، و السبابة و الوسطی ، ثم توسع بینها توسعا قلیلا بحیث یکون البعد بین رؤوسها و بین أصولها سواء ، فهذا القبض إما للإشارة إلی هیئة القدم أو للإشارة إلی هیئة الجلجل" (۱)

یعنی د " قبض أصابع " هیئت داسې دی چه ده خپلې درې گوتې (مته) مسواکه گوته او مینځمئ گوته خورې کړې او ددې په مینځ کښې ئې لږه غونده فاصله اوساتله چه د گوتو د بیخونو اود سرونو په مینځ کښې برابروی،ددې هیئت دا اشاره یا پیالئ ته وه یا ډبی ته وه -

مخضبة : ټب یعنی د اوبو لوښې ته وائی - (۲)

د روایت په آخر کښې عثمان بن موهب فرمائی چه ما دې لوښی کښې اوکتل نو په دیکښې څو سره ویخته په نظر راغلل ، معلومه شوه چه رسول الله ﷺ به خضاب لگولو ، په دې مناسبت سره امام دا حدیث دلته ذکر کړو - (۳)

۶۵=بَابُ الْخِضَابِ

[۵۵۵۹] حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ وَسُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى لَا يَصْبُغُونَ فَخَالِفُوهُمْ [ر:۳۲۷۵]

د خضاب لگولو حکم : نکریزې او د سور رنگ خضاب لگول بالاتفاق مستحب دی ، خو د تور رنگ خضاب کښې اختلاف دې -

د احنافو حضراتو په نزد د ضرورت شرعیه په وجه د تور رنگ خضاب لگول جائز دی - مثلاً په جهاد کښې په دښمنانو باندې رعب اچولو دپاره یو بوډا مجاهد تور خضاب لگوی یا بوډا خاوند د خوانې ښځې د اطمینان دپاره تور خضاب لگوی ، نو دا بې د کراهته جائز دی خو عام حالاتو کښې بې د ضرورت شرعیه نه د تور رنگ خضاب لگول مکروه دی - (۴) په احنافو کښې بعضې عالمانو تور خضاب لگولو ته مطلقاً جائز ویلې دی ، ضرورت وی او که ضرورت نه وی - (۵) د شوافعو په نزد په تور خضاب کښې دوه قوله دی د تحریم او د کراهت تنزیهی ، امام نووی رحمه الله د تحریم قول ته اصح وائی - (۶)

---

(۱) لامع الدراری : ۱۰\٤٤٤)

(۲) النهایة لابن الأثیر : ۲\۳۹ ، مجمع بحار الأنوار : ۲\۵۱ ، القاموس الوحید : ٤٤۷) .

(۳) إرشاد الساری : ۱۲\۵۹۳)

(۴) کفایت المفتی کتاب الحظر و الإباحة " بال اور داڑهی کآ احکام " . أوجز المسالک ، کتاب الشعر ، باب ما جاء فی صبغ الشعر : ۱۵\۲۵)

(۵) رد المحتار علی الدر المختار ، کتاب الحظر و الإباحة ، فصل فی البیع : ۵\۲۹۹)

(۶) فتح الباری : ۱۰\٤۳۶ ، أوجز المسالک ، کتاب الشعر ، باب ما جاء فی صبغ الشعر : ۱۵\۲۵)

د شوافعو په شان د حنابله په نزد هم دوه روایتونه دی ، یو د تحریم او بل د کراهت ، د دوی مشهور روایت د کراهت دې - (۱)

د امام مالك رحمه الله نه ابن وهب نقل کوی چه ده به فرمائل :" لم أسمع فی صبغ الشعرة بالسواد نهیا معلوما " (۲)

حاصل دا چه د جهاد وغیره د ضرورت شرعیه دپاره تور خضاب استعمالول بالاتفاق بغیر د کراهته جائز دی او د دهوکې ورکولو دپاره تور خضاب لګول بالاتفاق ممنوع دی ، او د عام زینت دپاره په لګولو کښې د جمهورو په نزد کراهت دې او د بعضو په نزد جائز دې -(۳)

د تور خضاب د ممانعت دلائل : مانعین استدلال کوی د حضرت جابر د هغه روایت نه چه په صحیح مسلم کښې دی چه د فتح د مکې په موقع باندې د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ پلار ابوقحافه راوستې شو ، د دوی ویخته بالکل سپین وو ، دوی ﷺ اوفرمائل :" غیروا هذا بشیء ، واجتنبوا السواد " (۴)

دارنګه د حضرت ابن عباس روایت امام ابوداود نقل کړیدې چه رسول الله ﷺ فرمائلې دی " یکون قوم یخضبون فی آخر الزمان بالسواد کحواصل الحمام ، لا یریحون رائحة الجنة " (۵) په آخری زمانه کښې به یو قوم راشی دوی به تور خضاب لګوی په شان د کونترو د ججورو ، دا خلق به د جنت خوشبوئي هم بیا نه مومی -)

د دې روایتونو په بنیاد باندې جمهور تور خضاب ته مکروه تحریمی یا تنزیهی وائی -

د جائز ګڼړونکو دلائل : چه کوم حضرات دیته جائز وائی هغوی د اصحابو او د تابعینو په آثارو سره استدلال کوی -

علامه ابن القیم په زاد المعاد کښې او ابن ابی شیبه په مصنف کښې د دوی نومونه لیکلې دی ، حضرت حسن ، حضرت حسین ، حضرت عثمان ، سعد بن ابی وقاص ، عقبه بن عامر ، مغیره بن شعبه ، جریر بن عبد الله ، عمرو بن العاص ، محمد بن سیرین ، ابراهیم نخعی ، سعید بن جبیر ، محمد بن الحنفیه نه تور خضاب لګول منقول دې - (۶)

دا حضرات احادیث د نهی لره په خداع او په دهوکه ورکولو محمولوی - (۷)

خو د نهی احادیث چه مطلق دی ، دې وجه نه دا په مخصوص صورت باندې حمل کول

---

(۱) أوجز المسالک ، کتاب الشعر ، باب ما جاء فی صبغ الشعر : ۱۵\۲۵)

(۲) الموطاء للإمام مالک ، کتاب الشعر ، باب ما جاء فی صبغ الشعر : ۲\۹٤۹)

(۳) الدر المختار ، کتاب الحظر و الإباحة : ۵\۲۹۹ ، البحر الرائق ، کتاب الکراهیة : ۸\۱۸۳)

(۴) صحیح مسلم، کتاب اللباس و الزینة، باب استحباب خضاب الشیب : ۳\۱۶۶۳ (رقم الحدیث : ۲۱۰۲)

(۵) رواه أبوداود فی کتاب الترجل ، باب ما جاء فی خضاب السواد ، ٤\۸۷ (رقم الحدیث : ٤۲۱۲)

(۶) زاد المعاد لابن القیم ، فصل فی ذکر شیء من الأدویة و الأغذیة المفردة التی جاءت علی لسانه صلی الله علیه وسلم و ما فیها من المنافع و الخواص : ٤ \ ۳۶۸)

(۷) أوجز المسالک ، کتاب الشعر ، باب ما جاء فی صبغ الشعر : ۱۵\۲۶)

خلاف د ظاهر دى -
مانعين د ذکر شوى آثارو په باره کښې وائى چه ديکښې د سواد نه خالص سواد مراد نه دې . بلکه هغه سواد مراد دې چه د سور رنګ ګډون ورسره وى - (۱)
بهر حال دا تفصيل خو د تورو خضاب متعلق دې ، نکريزې او سور خضاب لګول مستحب او مسنون دى -
امام ترمذى رحمه الله د حضرت ابوذر غفارى ﷺ نه روايت نقل کړيدې ، چه رسول الله ﷺ فرمائلي دى "إن أحسن ماغيرتم به الشيب : الحناء والكتم" (۲)

٦٦=بَاب الْجَعْدِ

[٥٥٦٠] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ سَمِعَهُ يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ بِالطَّوِيلِ الْبَائِنِ وَلَا بِالْقَصِيرِ وَلَيْسَ بِالْأَبْيَضِ الْأَمْهَقِ وَلَيْسَ بِالْآدَمِ وَلَيْسَ بِالْجَعْدِ الْقَطَطِ وَلَا بِالسَّبْطِ بَعَثَهُ اللَّهُ عَلَى رَأْسِ أَرْبَعِينَ سَنَةً فَأَقَامَ بِمَكَّةَ عَشْرَ سِنِينَ وَبِالْمَدِينَةِ عَشْرَ سِنِينَ وَتَوَفَّاهُ اللَّهُ عَلَى رَأْسِ سِتِّينَ سَنَةً وَلَيْسَ فِي رَأْسِهِ وَلِحْيَتِهِ عِشْرُونَ شَعَرَةً بَيْضَاءَ [ر:٣٣٥٤]
[٥٥٦١] حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ يَقُولُ مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَحْسَنَ فِي حُلَّةٍ حَمْرَاءَ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَعْضُ أَصْحَابِي عَنْ مَالِكٍ إِنَّ جُمَّتَهُ لَتَضْرِبُ قَرِيبًا مِنْ مَنْكِبَيْهِ قَالَ أَبُو إِسْحَاقَ سَمِعْتُهُ يُحَدِّثُهُ غَيْرَ مَرَّةٍ مَا حَدَّثَ بِهِ قَطُّ إِلَّا ضَحِكَ قَالَ شُعْبَةُ شَعَرُهُ يَبْلُغُ شَحْمَةَ أُذُنَيْهِ [ر:٣٣٥٦]
[٥٥٦٢] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَرَانِي اللَّيْلَةَ عِنْدَ الْكَعْبَةِ فَرَأَيْتُ رَجُلًا آدَمَ كَأَحْسَنِ مَا أَنْتَ رَاءٍ مِنْ أُدْمِ الرِّجَالِ لَهُ لِمَّةٌ كَأَحْسَنِ مَا أَنْتَ رَاءٍ مِنَ اللِّمَمِ قَدْ رَجَّلَهَا فَهِيَ تَقْطُرُ مَاءً مُتَّكِئًا عَلَى رَجُلَيْنِ أَوْ عَلَى عَوَاتِقِ رَجُلَيْنِ يَطُوفُ بِالْبَيْتِ فَسَأَلْتُ مَنْ هَذَا فَقِيلَ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ وَإِذَا أَنَا بِرَجُلٍ جَعْدٍ قَطَطٍ أَعْوَرِ الْعَيْنِ الْيُمْنَى كَأَنَّهَا عِنَبَةٌ طَافِيَةٌ فَسَأَلْتُ مَنْ هَذَا فَقِيلَ الْمَسِيحُ الدَّجَّالُ [ر:٣٢٥٦]
[٥٥٦٣\٥٥٦٨] (۳) حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ أَخْبَرَنَا حَبَّانُ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ حَدَّثَنَا أَنَسٌ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَضْرِبُ شَعَرُهُ مَنْكِبَيْهِ

---

(۱) أوجز المسالک ، کتاب الشعر ، باب ما جاء فى صبغ الشعر : ١٥ \ ٢٧)
(۲) أخرجه الترمذى فى کتاب اللباس ، باب ما جاء فى الخضاب . ٤ \ ٢٣٢ (رقم الحديث : ١٧٥٣) يعنى بهترين خضاب نکريزې او وسمه ده " الکتم : نبت يخلط مع الوسمة " النهاية لابن الأثير : ٤ \ ١٥٠)
(۳) الحديث أخرجه البخارى أيضا فى هذا الباب (رقم الحديث : ٥٥٦٤) ...[بقيه برصفحه آئنده....

[۵۵۶۴] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ كَانَ يَضْرِبُ شَعَرُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْكِبَيْهِ

[۵۵۶۵] (۱) حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ قَتَادَةَ قَالَ سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ شَعَرِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ كَانَ شَعَرُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجِلًا لَيْسَ بِالسَّبِطِ وَلَا الْجَعْدِ بَيْنَ أُذُنَيْهِ وَعَاتِقِهِ

[۵۵۶۶] حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَخْمَ الْيَدَيْنِ لَمْ أَرَ بَعْدَهُ مِثْلَهُ وَكَانَ شَعَرُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجِلًا لَا جَعْدَ وَلَا سَبِطَ

[۵۵۶۷] حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَخْمَ الْيَدَيْنِ وَالْقَدَمَيْنِ حَسَنَ الْوَجْهِ لَمْ أَرَ بَعْدَهُ وَلَا قَبْلَهُ مِثْلَهُ وَكَانَ بَسِطَ الْكَفَّيْنِ

[۵۵۶۸] حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هَانِئٍ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَوْ عَنْ رَجُلٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَخْمَ الْقَدَمَيْنِ حَسَنَ الْوَجْهِ لَمْ أَرَ بَعْدَهُ مِثْلَهُ وَقَالَ هِشَامٌ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَثْنَ الْقَدَمَيْنِ وَالْكَفَّيْنِ وَقَالَ أَبُو هِلَالٍ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ عَنْ أَنَسٍ أَوْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَخْمَ الْكَفَّيْنِ وَالْقَدَمَيْنِ لَمْ أَرَ بَعْدَهُ شَبَهًا لَهُ [ر: ۳۳۵۳]

[۵۵۶۹] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ عَنِ ابْنِ عَوْنٍ عَنْ مُجَاهِدٍ قَالَ كُنَّا عِنْدَ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا فَذَكَرُوا الدَّجَّالَ فَقَالَ إِنَّهُ مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ كَافِرٌ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لَمْ أَسْمَعْهُ قَالَ ذَاكَ وَلَكِنَّهُ قَالَ أَمَّا إِبْرَاهِيمُ فَانْظُرُوا إِلَى صَاحِبِكُمْ وَأَمَّا مُوسَى فَرَجُلٌ آدَمُ جَعْدٌ عَلَى جَمَلٍ أَحْمَرَ مَخْطُومٍ بِخُلْبَةٍ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْهِ إِذَا انْحَدَرَ فِي الْوَادِي يُلَبِّي [ر: ۱۴۸۰]

ګلکوتي (تاو راتاو) ویختو ته جعد وائي . حضرت شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا رحمه الله لیکي :

....بقیه ازحاشیه گذشته] و أخرجه مسلم فی کتاب الفضائل . باب صفة شعر النبی صلی الله علیه و سلم : ٤ \ ۱۸۱۹ (رقم الحدیث : ۲۲۳۸)

[1]) الحدیث أخرجه مسلم فی کتاب الفضائل . باب صفة شعر النبی صلی الله علیه و سلم : ٤ \ ۱۸۱۹ (رقم الحدیث : ۲۳۳۸) و أخرجه النسائی فی کتاب الزینة . باب الجعد : ٥ \ ٤٠٩ (رقم الحدیث : ۹۳۱۱) و أخرجه ابن ماجه فی کتاب الزینة . باب اتخاذ الجمة و الذوائب : ۲ \ ۱۲۰۰ (رقم الحدیث : ۳۶۳٤) و أخرجه الترمذی في الشمائل. باب ما جاء فی شعر رسول الله صلی الله علیه و سلم : ٤٨ (رقم الحدیث : ۲۷)

و الظاهر عند هذا العبد الضعيف في الغرض من الترجمة على ما يستفاد من مجموع أحاديث الباب أن شدة الجعودة ليست بمحمودة فينبغي إزالته بالإمشاط وغيره، وقليله محمود لايزال (١)
يعنى د ترجمة الباب مقصد دا دې چه د ويښتو زيات ګلګوتې کيدل څه وصف نه دې دې وجه نه د ګمنز په ذريعه زيات ګلګوتوالې ختمول پکار دى ، د ويښتو لږ غونده ګلګوتې کيدل ښه وصف دې -
د باب ترلاندې امام بخارى رحمه الله د رسول الله ﷺ د جسمانى اوصافو متعلق احاديث ذکر کړيدى، الطويل البائن: ډيرزيات اوږد ، الامهق : خالص سپين په شان د برص د مريض کيدل ، الآدم غنم رنګ يعنى د دوى رنګ داسې غنم رنګې نه وو چه په هغې باندې سپين والې غالب وى ، بلکه سور والې او سپين والې دواړه وو - الجعد القَطط (د قاف او د طاء د فتحه سره) ډير زيات ګلګوتې ويښتو والا - سبط (د سين د فتحه او د باء د کسره سره) هغه کس چه دده ويښته بالکل نيغ وى - "توفاه الله على رأس ستين" د وفات په وخت د رسول الله ﷺ عمر مبارک درې شپيته کاله وو ، دلته کسر خذف شويدې - (٢)
جُمّة او لِمّة زلفو او ويښتو ته وائى ، چه کوم ويښته اوږو پورې وى نو ديته جُمّة ، چه کوم د غوږونو او د اوږو مينځ پورې وى نو ديته لِمّة وائى - (٣) او چه غوږونو پورې وى نو ديته وفرة وائى -
رسول الله ﷺ به کله د اوږو پورې او کله د غوږونو د نرمو پورې ويښته ساتل په مختلف وختونو کښې ئې مختلف معمول پاتې شويدې -
لِمَم: د لِمّة جمع ده - أُدْم (د همزې په ضمه او د دال په سکون سره) د آدم جمع ده په معنى د غنم رنګې، رَجّلها :رَجّل په معنى د ګمنزکولو راځى، عِنَبَة طافية: د ډك انګور د دانې په شان
قوله: كان شعر رسول الله صلى الله عليه وسلم رجلا : رَجل (د راء په فتحه او د جيم په کسره سره) داسې ويښته چه زيات ګلګوتې نه وى او نه زيات نيغ وى ، بلکه ددې په مينځ کښې وى . ديته رجل وائى ضَخْم اليدين : د ډکو غټو لاسونو والا ، بَسْط الكفين : فراخه ورغوو والا ، شَثْن القدمين : د غوښې نه د ډکو قدمونو والا
قوله: وأما موسى فرجل آدم جعد على جمل أحمر مخطوم بخُلْبة : حضرت موسى عليه السلام غنم رنګې وو ، ويښته ئې ګلګوتې وو ، داسې سور اوښ باندې سور وو چه هغې ته د رسۍ واړې لګيدلې وې ، په وادى (کنده) کښې کوزيدلو او تلبيه ئې وئيله،

---

١) الأبواب و التراجم : ١٢\١١٠)
٢) إرشاد السارى : ١٢\٥٩٥)
٣) فتح البارى : ١٠\٤٣٨ ، إرشاد السارى : ١٢\٥٩٥ ، عمدة القارى : ٢٢\٥٢)

خُلْبَة (د خاء په ضمه او د لام په سكون سره) د كجورو د پوستكو او د مالوچو وغيره نه جوړه شوې مضبوطه رسئ - (۱)
علامه قسطلانی د دې روایتونو د باب سره مناسبت بیانولو دپاره لیکی .

"فإن قلت : هذه الروايات الواردة فى صفة الكفين و القدمين لا تعلق لها بالترجمة أجيب : بأنها كلها حديث واحد، و اختلفت رواته بالزيادة و النقص، و الغرض منه بالإصالة صفة الشعر و ما عدا ذلك فبالتبع"
یعنی کُه تا ته دا شبه اوشی چه دا روایتونه چه متعلق د ورغوو او د پښو د قدمونو سره دی ددې د ترجمة الباب سره څه تعلق نشته دې (ځکه چه ترجمة الباب د ویختو متعلق دې) نو ددې جواب دا دې چه دا هم یو حدیث دې ، خو راویانو دا په کمی زیاتی سره روایت کړیدې ، نو اصلاً دې سره د ویختو صفت بیانول مقصود دی ، باقی څیزونه بالتبع دی - (۲)

۶۷=باب التَّلْبِيدِ

[۵۵۷۰،۵۵۱۵] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي سَالِمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ مَنْ ضَفَّرَ فَلْيَحْلِقْ وَلَا تَشَبَّهُوا بِالتَّلْبِيدِ وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يَقُولُ لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُلَبِّدًا

[۵۵۷۱] حَدَّثَنِي حِبَّانُ بْنُ مُوسَى وَأَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَا أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا يُونُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَالِمٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُهِلُّ مُلَبِّدًا يَقُولُ لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَا يَزِيدُ عَلَى هَؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ [ر:۱۴۶۶]

[۵۵۷۲] حَدَّثَنِي إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ حَفْصَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا شَأْنُ النَّاسِ حَلُّوا بِعُمْرَةٍ وَلَمْ تَحْلِلْ أَنْتَ مِنْ عُمْرَتِكَ قَالَ إِنِّي لَبَّدْتُ رَأْسِي وَقَلَّدْتُ هَدْيِي فَلَا أَحِلُّ حَتَّى أَنْحَرَ [ر:۱۴۹۱]

د تلبید معنی ده په ګوند وغیره سره د سر ویختو یو بل سره انخلول چه خواره نه شی چه محفوظ وی د ګرد وغباره ، د تضفیر معنی ده د سر د ویختو کونځئ جوړول - (۳)
حضرت فاروق اعظم فرمائی : "من ضفّر فليحلق، ولا تشبهوا بالتلبيد" یعنی چه کوم سړی د سر د ویختو نه کونځئ جوړې کړې وی نو هغه دې د (احرام نه وتلو دپاره) حلق اوکړی او د

---

(۱) النهاية لابن الاثير : ۲\۹۸ ، عمدة القارى : ۲۲ \ ۵۴)
(۲) إرشاد السارى : ۱۲ \ ۵۹۹)
(۳) فتح البارى : ۱۰\۴۴۱ ، إرشاد السارى : ۱۲ \ ۶۰۰ ، عمدة القارى : ۲۲ \ ۵۵ ، النهاية لابن الاثير : ۱۳ ۹۲،۱۴ \ ۲۲۴)

تلبيد مشابهت دې اختيار نه کړي -

د حضرت فاروق اعظم د قول مختلف مطلبونه : شارحينو د حديث مختلف مطلبونه بيان کړيدى : ① يو مطلب دا بيان شويدې چه د حضرت فاروق اعظم دې حديث کښې اول د تلبيد او د تضفير د احرام نه د وتلو دپاره حکم بيان کړيدې چه کوم سړى ويخته په شريشو انخلولي وى يا ده د ويختو نه کونځۍ جوړې کړې وى نو د احرام نه د وتلو دپاره دې دې حلق اوکړى ، قصر دده دپاره کافي نه دى يا حلق ده دپاره د قصر په مقابله کښې افضل دې خو د احرام نه علاوه عام حالاتو کښې تلبيد او تضفير دواړه .... د شراحو په قول سره ...... د حضرت عمر په نزد مکروه دى دې وجه نه دوى اوفرمائل : "لاتشبّهوا بالتلبيد" يعنى د احرام نه علاوه د تلبيد په شان صورت مه اختياروي ، چه د ويختو کونځۍ جوړې کړئ ، د کونځو نه ئې منع اوکړه چه کوم مشبه دې نو د تلبيد نه په طريق اولى سره ممانعت راغلو ځکه چه دا مشبه به دې - ([1])

حضرت ابن عمر فرمائي :لقد رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم ملبدا

ددې تشريح په صورت کښې د حضرت ابن عمردې قول لره بعضو د حضرت فاروق اعظم په تائيد او په حمايت محمول کړيدې او بعضو په ترديد او په مخالفت باندې ، د تائيد او د حمايت په صورت کښې د ابن عمر د قول مطلب به دا وى چه حضرت عمر فاروق تلبيد ته په عام حالت کښې مکروه ويلې ، نو د دوى دا قول صحيح دې ځکه چه ابن عمر وائى : ما رسول الله ﷺ لره صرف د احرام په حالت کښې د تلبيد سره ليدلې دې ، د احرام د حالت نه غير کښې مې نه دې ليدلې ، ګويا حضرت ابن عمر چه فرمائى :"لقد رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم ملبدا" نو دينه په حالت د احرام کښې ليدل مراد دى -

او د مخالفت په صورت کښې د حضرت ابن عمر د قول مطلب دا دې ، چه حضرت فاروق اعظم د تلبيد نه چه کومه منع کړيده دا صحيح نه ده ځکه چه دوى ﷺ لره ما په حالت د تلبيد کښې ليدلې دې . حضرت ابن عمر . د حضرت فاروق اعظم د قول دا مطلب اخستې دى چه دې د تلبيد نه مطلقا (د احرام او د غير احرام دواړو حالتونو کښې) منع کوى ، دې وجه نه دوى د خپل والد ترديد اوکړو . حال دا دې چه د حضرت فاروق اعظم مقصد د تلبيد نه مطلقا ممانعت نه دې بلکه د احرام نه په غير حالت کښې ممانعت مراد دې - ([2])

بهرحال د حضرت ابن عمر قول د دوى تائيد هم کيدې شي او د دوى ترديد هم

② من ضفّر فليحلق دويم مطلب دا بيان شويدې چه کوم کس په حالت د احرام کښې د سر د ويختو کونځۍ جوړول غواړى نو دې دې د تضفير په ځائې د احرام نه وړاندې خپل ويخته اوخروى چه ددې تکلف ضرورت باقى پاتې نه شي - ([3])

---

[1]) فتح البارى : ١٠\٤٤١ ، إرشاد السارى : ١٢\٦٠٠ ، عمدة القارى : ٢٢\٥٥)

[2]) فتح البارى: ١٠\٤٤١ ، إرشاد السارى : ١٢\٦٠٠ ، عمدة القارى: ٢٢\٥٥)

[3]) فتح البارى : ١٠\٤٤١)

② خو ددې حديث د ټولو نه ښه مطلب قطب عالم حضرت ګنګوهي رحمه الله په " لامع الدراري " کښې بيان کړيدې ، هغه فرمائي ، د عبارت معنی دا ده چه رسول الله ﷺ په شريښو ويخته انخلولې وو او بيا ئې حلق کړې وو ، دې وجه نه د تلبيد کوونکی دپاره هم دا مستحب دی چه دې د قصر په ځائې دې حلق اوکړی ، دارنګه د ويختو نه کونځې جوړوونکې چه د تلبيد سره مشابهت اختياروی ده لره هم حلق کول پکار دی ، اصل او اعلی صورت د تلبيد دې ، تضفير نقل او ادنی صورت دې ، بيا اصل طرف ته فاروق اعظم د رغبت پيدا کولو دپاره فرمائی چه کونځې جوړول او د تلبيد صورت اختيارول په ځائې باندې اصل تلبيد ولې نه کوئ ، دې وجه نه د تلبيد مشابهت مه اختياروئ بلکه هم په تلبيد باندې عمل اوکړئ ... او ددې په تائيد کښې ئې د حضرت ابن عمر قول هم ذکر کړو ، چه دوی رسول الله ﷺ لره د تلبيد په صورت کښې په حالت د احرام کښې ليدلې دې لکه چه حضرت فرمائی :

" ومعنى العبارة أن النبي صلى الله عليه وسلم لبّد رأسه ، وحلق فكان الأدب للملبد الحلق وكذلك هو أدب لمن تشبه بالملبد بالتضفير، ثم حث على إختيار الأعلى بترك الأدنى، فقال : لا تشبهوا بالتلبيد بأن تضفروا ، بل حصلوا عين التلبيد ، ثم أورد ابن عمر تائيدا القول أبيه : إني رأيته صلى الله عليه وسلم ملبدا " (۱)

٦٨ = بَابُ الْفَرْقِ

[۵۵۷۳] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ حَدَّثَنَا ابْنُ شِهَابٍ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّ مُوَافَقَةَ أَهْلِ الْكِتَابِ فِيمَا لَمْ يُؤْمَرْ فِيهِ وَكَانَ أَهْلُ الْكِتَابِ يَسْدِلُونَ أَشْعَارَهُمْ وَكَانَ الْمُشْرِكُونَ يَفْرُقُونَ رُءُوسَهُمْ فَسَدَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَاصِيَتَهُ ثُمَّ فَرَقَ بَعْدُ [ر: ۳۳٦۵]

[۵۵۷۴] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ رَجَاءٍ قَالَا حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ الْحَكَمِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ الْأَسْوَدِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى وَبِيصِ الطِّيبِ فِي مَفَارِقِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُحْرِمٌ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ فِي مَفْرِقِ النَّبِيِّ [ر: ۲٦۸]

فرق (د فاء په فتحه او د راء په سکون سره) د سر په ويختو کښې کرخې ويستو ته وائی ، د سر ويخته چه بالکل په مينځ کښې په دوه حصو باندې تقسيم کړې شی ، په مينځ کښې چه کومه کرخه جوړه شی هغې ته په عربئ کښې فرق او په پښتو کښې ورته د سر د ويختو کرخه وائی - (۲) رسول الله ﷺ به وړاندې سر کښې کرخه نه ويستله بلکه ويخته به ئې هم

(۱) لامع الدراری : ۱۰\۶
(۲) فتح الباری : ۱۰\۴۴۱ ، عمدة القاری : ۲۲\۵۵ ، إرشاد الساری : ۱۲\۶۰۱ ، النهاية لابن الاثير : ۱۳ ۴۳۸ ، مجمع بحار الأنوار : ۴\۱۲۸)

داسې شا ته اړول . ځکه چه د اهل کتابو هم دا طريقه وه او مشرکانو به سر کښې کرخه ويستله ، چه په کومو امورو کښې به دوی ته د وحی په ذريعه تعليم نه وو ورکړې شې دې امورو کښې به دوی د اهل کتابو اتباع خوښوله خو روستو به دوی سر کښې کرخه ويستله سدل باب د نصر او د ضرب د دواړو نه راځی ، ويخته پريخودل ، زوړوندول ، سدل او فرق دواړه جائز دی ، د حضرات اصحابو دواړه قسمه معمول وو - ([1])

د باب په آخری حديث کښې دی :" كأنى أنظر إلى وبيص الطيب فى مفارق النبى .... قال عبد الله : فى مفرق النبى " ......مفرق (د ميم په فتحه د فاء په سکون او د راء په کسره سره) د سر کرخې ته وائی ، عبد الله بن رجاء د جمع په ځائې د مفرد روايت کړيدې - وبيص پرق ته وائی -

٦٩=بَابُ الذَّوَائِبِ

[٥٥٧٥]حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ عَنْبَسَةَ أَخْبَرَنَا هُشَيْمٌ أَخْبَرَنَا أَبُو بِشْرٍ ح وحَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ عَنْ أَبِي بِشْرٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ بِتُّ لَيْلَةً عِنْدَ مَيْمُونَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ خَالَتِي وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَهَا فِي لَيْلَتِهَا قَالَ فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي مِنْ اللَّيْلِ فَقُمْتُ عَنْ يَسَارِهِ قَالَ فَأَخَذَ بِذُؤَابَتِي فَجَعَلَنِي عَنْ يَمِينِهِ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ أَخْبَرَنَا أَبُو بِشْرٍ بِهَذَا وَقَالَ بِذُؤَابَتِي أَوْ بِرَأْسِي [ر:١١٧]

ذوائب : د ذُؤابة جمع ده زلفو او کونځو ته وائی ، ، روايت د باب کښې حضرت ابن عباس فرمائی چه رسول الله ﷺ خه د زلفو نه اونيولم او ښي طرف ته ئې اودرولم ، معلومه شوه چه زلفې ساتل جائز دی چه حضور ﷺ پرې خه رد اونکړو -
سرو دپاره د ويختو نه کونځې جوړول مکروه دی ([2]) خو د زلفو په صورت کښې لرې اوږدې ساتل بې دکراهته جائزدې اود سنن ترمذی په يوحديث کښې دحضور ﷺ نه ثابته هم ده([3])

٧٠=بَابُ الْقَزَعِ

[٥٥٧٦،٥٥٧٧]([4])حَدَّثَنِي مُحَمَّدٌ قَالَ أَخْبَرَنِي مَخْلَدٌ قَالَ أَخْبَرَنِي ابْنُ جُرَيْجٍ قَالَ أَخْبَرَنِي

---

[1]) الابواب و التراجم : ٢ \ ١١٠)

[2]) العرف الشذى على جامع الترمذى ، كتاب اللباس ، باب بلا ترجمة : ١ \ ٣٠٨ ، الفتاوى الهندية ، كتاب الكراهية ، الباب التاسع عشر فى الختان و الخضاء و قلم الأظفار ..... ٥ \ ٣٥٧)

[3]) عن أم هانى قالت : قدم رسول الله صلى الله عليه و سلم مكة ، وله أربع غدائر ، و فى رواية عنها : له أربع ضفائر (جامع الترمذى ، كتاب اللباس ، باب دخول النبى صلى الله عليه و سلم مكة : ٤ \ ٢٤٦) (رقم الحديث : ١٧٨١)

[4]) الحديث أخرجه مسلم فى كتاب اللباس ، باب كراهة القزع : ٣ \ ١٦٧٥ (رقم الحديث : ٢١٢٠) و أخرجه أبوداود فى كتاب الترجل،باب فى الذوابة: ٤ \ ٨٣ (رقم الحديث : ٤١٩٣) ...[بقيه برصفحه آئنده....

عُبَيْدُ اللّهِ بْنُ حَفْصٍ أَنَّ عُمَرَ بْنَ نَافِعٍ أَخْبَرَهُ عَنْ نَافِعٍ مَوْلَى عَبْدِ اللّهِ أَنَّهُ سَمِعَ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّهُ عَنْهُمَا يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْقَزَعِ قَالَ عُبَيْدُ اللّهِ قُلْتُ وَمَا الْقَزَعُ فَأَشَارَ لَنَا عُبَيْدُ اللّهِ قَالَ إِذَا حَلَقَ الصَّبِيُّ وَتَرَكَ هَا هُنَا شَعَرَةً وَهَا هُنَا وَهَا هُنَا فَأَشَارَ لَنَا عُبَيْدُ اللّهِ إِلَى نَاصِيَتِهِ وَجَانِبَيْ رَأْسِهِ قِيلَ لِعُبَيْدِ اللّهِ فَالْجَارِيَةُ وَالْغُلَامُ قَالَ لَا أَدْرِي هَكَذَا قَالَ الصَّبِيُّ قَالَ عُبَيْدُ اللّهِ وَعَاوَدْتُهُ فَقَالَ أَمَّا الْقُصَّةُ وَالْقَفَا لِلْغُلَامِ فَلَا بَأْسَ بِهِمَا وَلَكِنَّ الْقَزَعَ أَنْ يُتْرَكَ بِنَاصِيَتِهِ شَعَرٌ وَلَيْسَ فِي رَأْسِهِ غَيْرُهُ وَكَذَلِكَ شَقُّ رَأْسِهِ هَذَا وَهَذَا

[۵۵۷۷] حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّهِ بْنُ الْمُثَنَّى بْنِ عَبْدِ اللّهِ بْنِ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّهِ بْنُ دِينَارٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْقَزَعِ

قَزَع (د قاف او د زاء په فتحه سره) معنی ده د سر د ویختو څه حصه خرول او څه پریخودل، یا د مختلف ځایونو نه د سر ویخته خرولو ته قزع وائی - (۱)

امام نووی رحمه الله په دې د مکروه تنزیهی کیدو اجماع رانقل کړیده ، او دیکښې نر او ښځه دواړه برابر دی - (۲)

روایت د باب کښې د حضرت ابن عمر شاګرد نافع د دوی نه نقل کوی چه رسول الله ﷺ د قزع نه منع کړیده ، **قلت: وما القزع**..... راوی عبید الله بن حفص وائی چه ما عمر بن نافع نه دقزع د تفسیر تپوس اوکړو ، د مسلم په روایت کښې دی چه **قلت لنافع: و ما القزع** یعنی عبید الله د عمر بن نافع په ځائې د نافع نه د قزع تفسیر پوښتلې وو ... (۳)

نافع چه ددې کوم جواب ورکړیدې د هغې نقل کولو سره عبید الله د دې خودنه په اشاره هم اوکړه . نافع اوویل چه د ماشوم سر اوخرولې شی او دې دې ځائې کښې ویخته پریخودې شی عبید الله تندی او د سر دواړو اړخونو ته اشاره اوکړه ، عبید الله نه تپوس اوشو چه دا حکم د جینې دپاره دې او که د هلك دپاره نو ده اوویل : ما ته نور نه دې معلوم خو د "صبی" (د ماشوم) لفظ ئې ویلې وو -

عبید الله وائې چه ما د عمر بن نافع نه په دوباره تپوس اوکړو نو دوی اوویل : د کپړې او د څټ د ویختو اخستو کښې څه باك نشته دې خو قزع مکروه دې ، چه دنور سر ویخته اوخرولې شی او صرف د تندې ویخته پریخودې شی ، دارنګه نیم سر خرول او نیم پریخودل هم جائز نه دی -

---

....بقیه ازحاشیه گذشته] و أخرجه النسائی فی کتاب الزینة ، باب النهی عن القزع : ۵\۴۰۷ (رقم الحدیث : ۹۲۹۸) و أخرجه ابن ماجه فی کتاب الزینة ، باب النهی عن القزع : ۱\۱۲۰ (رقم الحدیث : ۳۶۳۷)

(۱) عمدة القاری : ۲۲\۵۷ ، فتح الباری : ۱۰\۴۴۶ ، إرشاد الساری : ۱۲\۶۰۳ ، مجمع بحارالأنوار : ۴\۲۶۷ ، النهاية لابن الاثير : ۴\۵۹ ، شرح البخاری للکرمانی : ۲۱\۱۲۱)

(۲) شرح صحیح مسلم للنووی ، کتاب اللباس ، باب کراهة القزع : ۲\۲۰۴)

(۳) صحیح مسلم ، کتاب اللباس و الزینة ، باب کراهة القزع : ۳\۱۶۷۵ (رقم الحدیث : ۲۱۲۰)

حديث كنبي فأشار لنا عبيدالله دوه خله په تکرار سره راغلي دي ، چه دينه په ترکيب کنبي څه اشکال پيدا کيږی ، حال دا دي چه يو خل کافي وو - (١)

القُصّة نه دلته د کيږئ ويخته مراد دی ، شارحين فرمائی " وهى هنا شعر الصدغين " - (٢)

قزع مکروه دي ځکه چه يو خو دا ډير بي خرته کار دي (بد ښکاری) ، دويم دا د يهوديانو شعار او د دوی طريقه وه - (٣)

٧١=بَاب تَطْيِيبِ الْمَرْأَةِ زَوْجَهَا بِيَدَيْهَا

[٥٥٧٨] (٤) حَدَّثَنِي أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْقَاسِمِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ طَيَّبْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِي لِحُرْمِهِ وَطَيَّبْتُهُ بِمِنًى قَبْلَ أَنْ يُفِيضَ [ر:١٤٦٥]

ښځه خاوند ته په خپل لاسونو خوشبو لګولي شی ئکه چه حديث د باب کښي د حضرت عائشه فرمان دي چه ما رسول الله ﷺ ته د احرام تړلو په وخت خپل لاس سره خوشبو اولګوله،اود طواف افاضه (طواف زيارت) نه وړاندي منی کښي مي ورته خوشبو اولګوله.

لحُرْمه : حُرْم (د حاء په ضمه او د راء په سکون سره) احرام ته وائی ، په حالت د احرام کښي خوشبو لګول خو جائز نه دي ، دلته ئي دا څنګه اوويلي ؟ علامه عينی فرمائی :"واجيب بأن مرادها قبل طواف الزيارة أى قبل أن يفيض إلى الطواف ، وهو عند التحلل الأول ، وهو بعد الرمى يوم النحر و الحلق ، وتحل به جميع المحرمات إلا الجماع (٥)

---

(١) فتح الباری : ١٠ \ ٤٤٦ ، عمدة القاری : ٢٢ \ ٥٨ ، إرشاد الساری : ١٢ \ ٦٠٤ ، شرح البخاری للکرمانی : ٢١ \ ١٢٢)

(٢) فتح الباری : ١٠ \ ٤٤٧ ، عمدة القاری : ٢٢ \ ٥٨ ، إرشاد الساری : ١٢ \ ٦٠٤)

(٣) فتح الباری : ١٠ \ ٤٤٧ ، عمدة القاری : ٢٢ \ ٥٨ ، إرشاد الساری : ١٢ \ ٦٠٤ ، شرح البخاری للکرمانی : ٢١ \ ١٢١)

(٤) قال الحافظ ابن حجر : کذن فقه هذه الترجمة من جهة الإشارة إلى الحديث الوارد فى الفرق بين طيب الرجل و المرأة . و أن طيب الرجل ما ظهر ريحه و خفى لونه . و المرأة بالعکس .فلو کان ذلک ثابتا لا متعنت المرأة من تطييب زوجها لما يعلق بيديها و بدنها منه حالة تطييبها له . و کان لکفيه أن يطيّب نفسه . فاستدل المصنف بحديث عائشة المطابق للترجمة و قد تقدم مشروحا فى الحج و هو ظاهر فيما ترجم له . و الحديث الذى أشاره إليه أخرجه الترمذى و صححه الحاکم من حديث عمران بن حصين . وله شاهد عن أبى موسى الأشعرى عند الطبرانى فى الأوسط ووجه التفرقة : أن المرأة مأمورة بالاستتار حالة بروزها من منزلها ، و الطيب الذى له رائحة لو شرع لها کانت فيه زيادة فى الفتنة بها .و إذا کان الخير ثابتا . فالجمع بينه و بين حديث الباب أن لها مندوحة أن تغسل أثر . اذا أرادت الخروج لأن منعها خاص بحالة الخروج . و الله أعلم (فتح الباری : ١٠ \ ٤٤٧)

(٥) عمدة القاری : ٢٢ \ ٥٩)

يعنى په لسم تاريخ د رمى او د حلق كولو نه د جماع نه ماسوا د احرام نورې تمامې پابندئ پورته شى خوشبو لګولې شى ، په حديث د باب كښې د احرام هم دا وخت مراد دې -

۷۲=بَابُ الطِّيبِ فِي الرَّأْسِ وَاللِّحْيَةِ

[۵۵۷۹] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ نَصْرٍ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْأَسْوَدِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أُطَيِّبُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَطْيَبِ مَا يَجِدُ حَتَّى أَجِدَ وَبِيصَ الطِّيبِ فِي رَأْسِهِ وَلِحْيَتِهِ [ر: ۲۶۸]

(۱) د سر او د ګيرى په ويختو كښې خوشبو لګول په سنت سره ثابت دى ، حضرت عائشه فرمائى چه ما به رسول الله ﷺ ته بهترين خوشبو لګوله تر دې چه د دوى په ګيره او په سر كښې به د خوشبو پړق پاتې وو -

۷۳=بَابُ الِامْتِشَاطِ

[۵۵۸۰] حَدَّثَنَا آدَمُ بْنُ أَبِي إِيَاسٍ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ أَنَّ رَجُلًا اطَّلَعَ مِنْ جُحْرٍ فِي دَارِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحُكُّ رَأْسَهُ بِالْمِدْرَى فَقَالَ لَوْ عَلِمْتُ أَنَّكَ تَنْظُرُ لَطَعَنْتُ بِهَا فِي عَيْنِكَ إِنَّمَا جُعِلَ الْإِذْنُ مِنْ قِبَلِ الْأَبْصَارِ [ر: ۵۸۸۷، ۶۵۰۵]

امام بخارى دې باب كښې د ګمنزې استحباب بيانول غواړى -

حضرت سهل بن سعد فرمائى : چه يو سړى په سورى كښې د رسول الله ﷺ كور ته اوكتل دې وخت كښې دوى ﷺ په سر مبارك كښې ګمنز وهله ، نو دوى ﷺ اوفرمائل :كه ما ته علم وې چه ته ديكښې ګورې نو ما به دا د ستا په ستركو كښې درمنډلې وه . د كتلو دپاره اجازت مقرر شويدې (كه د اجازت نه وړاندې په كور كښې اوګورې نو بيا د اجازت اخستو څه فائده ؟ .....)

مِدْرَى (د ميم په كسره او د دال په سكون او د راء په فتحه سره) ګمنز ته وائى ، بعضې وائى چه دا يو لرګې وى چه ښځې د ويختو راغونډولو دپاره ئې په سر كښې لګوى (كيلپ) او بعض وائى چه دا يو لرګې وى چه ديكښې د ګمنز په شان غاښ وى - (۲)

---

(۱) ۵۵۸۰) الحديث أخرجه البخارى أيضا فى كتاب الإستيذان . باب الإستيذان من أجل البصر (رقم الحديث : ۵۸۸۷) و أخرجه أيضا فى الديات . باب من أطلع فى بيت قوم ففقؤا عينه . فلا دية له (رقم الحديث : ۶۵۰۵) و أخرجه مسلم فى كتاب الأب . باب تحريم النظر فى بيت غيره : ۳ \ ۱۶۹۸ (رقم الحديث : ۲۱۵۶) و أخرجه الترمذى فى كتاب الإستيذان . باب من أطلع فى دار قوم بغير إذنهم : ۵ \ ۶۴ (رقم الحديث : ۲۷۰۹) و أخرجه النسائى فى كتاب القسامة . باب ذكر حديث عمرو بن حزم فى العقول و إختلاف الناقلين له : ۴ \ ۲۴۷ (رقم الحديث : ۷۰۶۴)

(۲) عمدة القارى : ۲۲ \ ۶۰ شرح البخارى للكرمانى: ۲۱ \ ۱۲۳ .و فى مجمع بحار الأنوار:[بقيه برصفحه آئنده.

د مدرۍ معنیٰ چه د ګمنز واخستې شی نو د حدیث د باب سره مناسبت سره بالکل ظاهره دې او که دډې نورې معنی مراد شی نو بیا په طریقه د مقایسه د روایت ترجمة الباب سره مناسبت دې - (۱)

۷۴=بَاب تَرْجِيلِ الْحَائِضِ زَوْجَهَا

[۵۵۸۱] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ كُنْتُ أُرَجِّلُ رَأْسَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا حَائِضٌ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ مِثْلَهُ [ر:۲۹۱، ۲۹۲]

حائضه ښځه خپل خاوند لره ګمنز کولې شی لکه چه حدیث د باب کښې دی -

۷۵=بَاب التَّرْجِيلِ وَالتَّيَمُّنِ

[۵۵۸۲] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَشْعَثَ بْنِ سُلَيْمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَائِشَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ يُعْجِبُهُ التَّيَمُّنُ مَا اسْتَطَاعَ فِي تَرَجُّلِهِ وَوُضُوئِهِ [ر:۱۶۶]

د ابوذر په نسخه کښې دی " باب الترجيل و التيمن " هندوستانی نسخو کښې او بعض نورو نسخو کښې " باب الترجل " دې ، رسول الله ﷺ به تیمن یعنی د ښی طرف نه شروع کول خوښول ، ګمنز کولو او اودس کولو کښې به دوی د ښی طرف نه شروع کوله ، ګمنز کول هم مستحب دې ځکه چه دا د نظافت او د پاکیزو ذریعه ده -

ددې بابونو او د احادیثو نه د دنیا اسباب او جائز زیب و زینت پریخودونکو د هغه بدبختو خلقو خیال واضح طور باندې غلط کیدل ثابتیږی چه هغوی دا خیال کوی چه د الله د طالبانو او د آخرت د فکر کوونکو دپاره د خپل صورت او هیئت او د لباس د حسن او د قبح نه بې پروا کیدل پکار دی خیرن خیچن او په بد حال او په ګډو وډو ویختو کښې اوسیدل پکار دی او د صفائې او د پاکئ او د صورت او د لباس د ښائسته کولو فکر او دیکښې د ښائست خوښوالې د دوی په نزد ګویا د دنیا دارئ خبرې دی ، چه کوم خلق داسې کوی هغوی بې شك او شبه د رسول الله ﷺ د تعلیم او د هدایت او د دوی د راوړې

...بقيه ازحاشيه گذشته] المدری و المدارة شيء يعمل من حديد أو خشب على شكل سن من أسنان المشط و أطول منه يسرح به الشعر المتلبّد و يستعمله من لا مشط له..... مجمع بحارالأنوار: ۲ \ ۱۷۰ .النهاية لابن الاثير: ۲ \ ۱۱۵ . و قال الحافظ ابن حجر : المدى تطلق على نوعين : أحدهما صغير يتخذ من أبنوس أو عاج أو حديد يكون طول المسلة يتخذ لفرق الشعر فقط و هو مستدير الرأس على هيئة نصل السيف بقبضة و هذه صفته : ●—— ثانيهما كبير و هو عود مخروط من آبنوس أو غيره . وفي رأسه قطعة منحوتة في قدر الكف . ولها مثل الأصابع أولاهن معوّجة مثل حلق الإبهام المستعمل للتسريح و يحك الرأس والجسدوهذ صفته: ●——☰ فتح الباري : ۱۰ \ ۴۴۹)

۱) الابواب والتراجم : ۲ \ ۱۱۱ ، عمدة القارى : ۲۲ \ ۶۰)

شوې شريعت د مزاجه بې خبره دى -
خو د صورت او د لباس وغيره د ډول او څنګار د حد نه زيات اهتمام او دې دپاره فضول او بې ځايه تکلفات کول هم ناخوښه او د شريعت د مزاج نه خلاف دى -

۷۶=باب مَا يُذْكَرُ فِي الْمِسْكِ

[۵۵۸۳] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا هِشَامٌ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنِ ابْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ لَهُ إِلَّا الصَّوْمَ فَإِنَّهُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ وَلَخُلُوفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللَّهِ مِنْ رِيحِ الْمِسْكِ [ر:۱۷۹۵]

امام مسلم او امام ابوداود رحمهما الله د رسول الله ﷺ مرفوع حديث نقل کړيدې چه " إن المسك أطيب الطيب " يعنى مشك د ټولو نه ښه خوشبو ده (۱) روايت د باب کښې دى چه د روژه دار د خُلې بوئې د الله تعالى په نزد د مشکو د بوئې نه زيات ښه دې ، خُلُوف د لوږې او د تندې د لاسه چه د روژه دار په خُله کښې کوم بوئې پيدا کيږى هغې ته وائى - (۲)

د أطيب معنې ئې بيان کړيده " أى خلوف الصائم أقبل عند الله من قبول ريح المسك عندكم يعنى د روژه دار د خُلې بوئې د الله تعالى په نزد زيات مقبول دې ددېنه چه څنګه د ستاسو په نزد د مشك بوئې مقبول دې - (۳)

۷۷=باب مَا يُسْتَحَبُّ مِنَ الطِّيبِ

[۵۵۸۴] حَدَّثَنَا مُوسَى حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ كُنْتُ أُطَيِّبُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ إِحْرَامِهِ بِأَطْيَبِ مَا أَجِدُ [ر:۱۴۶۵]
ښه او د بهتر نه بهتر خوشبوئې استعمالول مستحب دى ، اعلى خوشبو وى نو هم دا استعمالول پکار دى ، د اعلى په وجود کښې د ادنى خوشبوئې استعمالول نه دى پکار - (۴)

۷۸=باب مَنْ لَمْ يَرُدَّ الطِّيبَ

[۵۵۸۵] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا عَزْرَةُ بْنُ ثَابِتٍ الْأَنْصَارِيُّ قَالَ حَدَّثَنِي ثُمَامَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ كَانَ لَا يَرُدُّ الطِّيبَ وَزَعَمَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لَا يَرُدُّ الطِّيبَ [ر:۲۴۶۵]

علامه عينى رحمه الله فرمائى : أى هذا باب فى ذكر من لم يردّ الطيب و كأنه يريد بهذلك أن النهى عن رده

---

(۱) صحيح مسلم ، كتاب الألفاظ من الأدب ، باب استعمال المسک و أنه أطيب الطيب : ۴ \ ۱۷۶۵ (رقم الحديث:۲۲۵۲)وأخرجه أبوداود فى كتاب الجنائز،باب فى المسک للميت: ۳ \ ۲۰۰ (رقم الحديث : ۳۱۵۸)
(۲) عمدة القارى : ۲۲ \ ۶۱ . إرشاد السارى : ۱۲ \ ۶۰۸ . شرح البخارى للكرمانى : ۲۱ \ ۱۲۴)
(۳) عمدة القارى : ۲۲ \ ۶۱ . شرح البخارى للكرمانى : ۲۱ \ ۱۲۴ . إرشاد السارى : ۱۲ \ ۶۰۸)
(۴) فتح البارى : ۱۰ \ ۴۵۲)

ليس على التحريم (١) يعنى دې باب کښې امام بخارى رحمه الله د هغه کس ذکر کړيدې چه خوشبو نه واپس کوى ، حضور ﷺ به خوشبو نه واپس کوله او په يو روايت کښې دوى د خوشبوئې واپس کولو نه منع کړيده ، امام بخارى رحمه الله شايد دې خبرې ته اشاره کوى چه دا نهى تحريمى نه ده -

حديث د باب کښې دى چه رسول الله ﷺ به خوشبوئى نه واپس کوله (کُه چا به هديه کښې ورکوله) زعم د قال په معنى دې -

بزار د حضرت انس نه روايت نقل کړيدې ، ما عرض على النبى ﷺ طيب قط فرده " (٢)

امام ابوداود د حضرت ابوهريره ﷛ نه مرفوع روايت نقل کړيدې ، من عرض عليه طيب، فلا يرده، فإنه طيب الريح، خفيف المحمل " (٣) يعنى د چا په خدمت کښې کُه خوشبوئى پيش کړې شى نو ده لره ددې واپس کول نه دې پکار ځکه چه ددې بوئى ښه دې او د خوشبو ورکوونکى باندې دا سخت بوج راولى -

۷۹=بَاب الذَّرِيرَةِ

[۵۵۸۶] حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ الْهَيْثَمِ أَوْ مُحَمَّدٌ عَنْهُ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ أَخْبَرَنِي عُمَرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُرْوَةَ سَمِعَ عُرْوَةَ وَالْقَاسِمَ يُخْبِرَانِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ طَيَّبْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدَيَّ بِذَرِيرَةٍ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ لِلْحِلِّ وَالْإِحْرَامِ [ر:۱۴۶۵]

د خوشبوئې دوه قسمونه دى يو خو د عرق او د تيلو په شکل کښې او بل د سفوف (پوډر) وغيره په شکل کښې " ذريره " د يو خاص خوشبوئې نوم دې ، امام نووى رحمه الله فرمائى چه دا په اصل کښې د لرګى نه جوړېږى چه د هند نه راځى ، داودى وائى ړومبې ددې مفردات او اجزاء جمع کيږى،بيا دا ميده کيږى اوداسې د سفوف والا خوشبوئى تياريږى (٤)

روايت د باب کښې حضرت عائشه فرمائى چه ما رسول الله ﷺ ته خپل لاس د ذريره خوشبويى په حجة الوداع کښې د احرام تړلو او پرانستلو وخت کښې لګولې ده -

۸۰=بَاب الْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ

[۵۵۸۷] حَدَّثَنَا عُثْمَانُ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ لَعَنَ اللَّهُ الْوَاشِمَاتِ وَالْمُسْتَوْشِمَاتِ وَالْمُتَنَمِّصَاتِ وَالْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ الْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللَّهِ تَعَالَى مَالِي لَا أَلْعَنُ مَنْ لَعَنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي كِتَابِ اللَّهِ وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ [ر:۴۶۰۴]

---

١) عمدة القارى : ۲۲\ ۶۱)

٢) فتح البارى : ۱۰\۴۵۳)

٣) أخرجه أبوداود فى كتاب الترجل ، باب فى رد الطيب : ۴\ ۷۸ (رقم الحديث : ۴۱۷۲)

٤) فتح البارى : ۱۰ \ ۴۵۴ ، عمدة القارى : ۲۲\ ۶۲)

د ښائست والى دپاره د غاښونو ارتوونكو ښځو باندې لعنت ويلې شويدې ، لكه چه حديث د باب كښې دى چه د الله لعنت دې وى په خالونو لګوونكو او چه څوك په خپل جسم خال لګوى ، او چه د مخ ويخته اوباسى او د حسن دپاره غاښونه ارتوونكو ښځو باندې چه دوى د الله تعالى پيدا كړې صورت بدلوونكى دى -
ددې حديث تشريح په كتاب التفسير كښې د سورت الحشر په تفسير كښې تيره شويده (1)

۸۱=بَابُ الْوَصْلِ فِي الشَّعَرِ

[۵۵۸۸]حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ أَنَّهُ سَمِعَ مُعَاوِيَةَ بْنَ أَبِي سُفْيَانَ عَامَ حَجَّ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ وَهُوَ يَقُولُ وَتَنَاوَلَ قُصَّةً مِنْ شَعَرٍ كَانَتْ بِيَدِ حَرَسِيٍّ أَيْنَ عُلَمَاؤُكُمْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَى عَنْ مِثْلِ هَذِهِ وَيَقُولُ إِنَّمَا هَلَكَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ حِينَ اتَّخَذَ هَذِهِ نِسَاؤُهُمْ[ر:۳۲۸۱]

[۵۵۸۹] (2)وَقَالَ ابْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا فُلَيْحٌ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَعَنَ اللَّهُ الْوَاصِلَةَ وَالْمُسْتَوْصِلَةَ وَالْوَاشِمَةَ وَالْمُسْتَوْشِمَةَ[ر:۵۶۰۲]

امام بخارى رحمه الله په دې باب كښې د ويختو د لګولو ممانعت بيان كړيدې ، روايت د باب كښې دى چه حضرت معاويه ﷛ د حج په موقع په منبر باندې خطبه وركوله ، دوى د خپل يو سپاهى د لاسه د ويختو يو ګونجئ واخسته او وې ويل چه د ستاسو عالمان كوم خائې دى ؟ ما د نبى كريم ﷺ نه د دې منع كول اوريدلې دى ، دوى ﷺ به فرمائل : بنو اسرائيل هلاك شو چه كله د دوى ښځو دا اختيار كړو (يعنى چه كله د دوى ښځو د خپلو ويختو سره نور ويخته لګول شروع كړل)

قُصَّة د ويختو ګونجئ ، **حَرَسِيٌّ**: حفاظت كوونكې (3)

[۵۵۹۰]حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ قَالَ سَمِعْتُ الْحَسَنَ بْنَ مُسْلِمِ بْنِ يَنَّاقٍ يُحَدِّثُ عَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ شَيْبَةَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ جَارِيَةً مِنْ الْأَنْصَارِ تَزَوَّجَتْ وَأَنَّهَا مَرِضَتْ فَتَمَعَّطَ شَعَرُهَا فَأَرَادُوا أَنْ يَصِلُوهَا فَسَأَلُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَعَنَ اللَّهُ الْوَاصِلَةَ وَالْمُسْتَوْصِلَةَ تَابَعَهُ ابْنُ إِسْحَاقَ عَنْ أَبَانَ بْنِ صَالِحٍ عَنْ الْحَسَنِ عَنْ صَفِيَّةَ عَنْ عَائِشَةَ[ر:۴۸۰۹]

---

1) كشف البارى ، كتاب التفسير : ۶۶۶)

2) ۵۵۸۹) الحديث أخرجه البخارى أيضا فى اللباس ، باب المستوشمة (رقم الحديث : ۵۶۰۲) و أخرجه مسلم فى اللباس ، باب تحريم فعل الواصلة و المستوصلة و الواشمة و المستوشمة .... ۳ \ ۱۶۷۶ (رقم الحديث : ۲۱۲۴)

3) عمدة القارى : ۲۲ \ ۶۳ ، فتح البارى : ۱۰ \ ۴۵۸ ، إرشاد السارى : ۱۲ \ ۶۱۱)

دويم روايت كښې دى د انصارو د يو جينۍ نكاح اوشوه ، هغه بيماره شوه نو ددې د سر ويخته اووتل اودوړيدل نو د خلقو دا اراده وه چه ددې په ويختو كښې جوړ اولګوو (نور ويخته اولګوو) خلقو د نبى ﷺ نه تپوس اوكړو نو دوى ﷺ اوفرمائل : الله په ويختو لګوونكى او چه څوك ئې په كښې لګوى په دواړو لعنت كړيدې -

د محمد ابن اسحاق متابعت محاملى موصولا نقل كړيدې - ( )

تمعّط : غورزيدل ، رژيدل ..... په راتلونكى روايت كښې تمرّق دې ددې معنى د وتلو ده ، يعنى د سر ويخته د بيخه وتل -

[٥٥٩١\٥٥٩٢] حَدَّثَنِي أَحْمَدُ بْنُ الْمِقْدَامِ حَدَّثَنَا فُضَيْلُ بْنُ سُلَيْمَانَ حَدَّثَنَا مَنْصُورُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ حَدَّثَتْنِي أُمِّي عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ امْرَأَةً جَاءَتْ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ إِنِّي أَنْكَحْتُ ابْنَتِي ثُمَّ أَصَابَهَا شَكْوَى فَتَمَرَّقَ رَأْسُهَا وَزَوْجُهَا يَسْتَحِثُّنِي بِهَا أَفَأَصِلُ رَأْسَهَا فَسَبَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْوَاصِلَةَ وَالْمُسْتَوْصِلَةَ [ر:٥٥٩٧]

[٥٥٩٣] (٢) حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنِ امْرَأَتِهِ فَاطِمَةَ عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ قَالَتْ لَعَنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْوَاصِلَةَ وَالْمُسْتَوْصِلَةَ

[٥٥٩٣] (٣) حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَعَنَ اللَّهُ الْوَاصِلَةَ وَالْمُسْتَوْصِلَةَ وَالْوَاشِمَةَ وَالْمُسْتَوْشِمَةَ وَقَالَ نَافِعٌ الْوَشْمُ فِي اللِّثَةِ [ر:٥٥٩٦، ٥٥٩٨، ٥٦٠٣]

حضرت اسماء بنت ابى بكر ﷺ فرمائى چه يو ښځه د رسول الله ﷺ په خدمت كښې حاضره شوه او عرض ئې اوكړو چه ما د خپلې لور واده اوكړو ، بيا هغه بيماره شوه نو ددې سر ويخته اووتل . ددې خاوند ددې په باره كښې مونږ لمسوى (ترغيب راكوى چه ددې په سر كښې ويخته اولګوئ) نو آيا څه ددې په سر كښې ويخته لګولې شم ؟ رسول الله ﷺ چه دا واوريدل نو په ويختو لګوونكې ښځه او چه كومه ښځه ئې ورته په كښې لګوى په دواړو ئې لعنت اوويلې -

---

(١) إرشاد السارى : ١٢\٦١٢ ، فتح البارى : ١٠\٤٦٠)

(٢) الحديث أخرجه البخارى أيضا فى اللباس ، باب الموصولة (رقم الحديث : ٥٥٩٧) و أخرجه النسائى فى كتاب الزينة ، باب الواصلة : ٥\٤٢١ (رقم الحديث : ٩٣٧٤)

(٣) ٥٥٩٣) الحديث أخرجه البخارى أيضا فى اللباس ، باب الموصولة (رقم الحديث : ٥٥٩٦ - ٥٥٩٨) و فى باب المستوشمة (رقم الحديث : ٥٦٠٣) و أخرجه مسلم فى اللباس ، باب تحريم فعل الواصلة و المستوصلة و الواشمة و المستوشمة ..... ٣\١٦٧٦ (رقم الحديث : ٢١٢٤) و اخرجه الترمذى فى اللباس ، باب ما جاء فى مواصلة الشعر : ٤\٢٣٦ (رقم الحديث : ١٧١٥٨) و أخرجه النسائى فى الزينة ، باب المستوصلة : ٤\٣٢١ (رقم الحديث : ٩٣٧٧) و أخرجه أبوداود فى اللباس ، باب صفة الشعر : ٤\٧٧ (رقم الحديث : ٤١٦٨)

فتمزق :دا د راء سره هم دي او تمزق د زاء سره هم دي د دوارو يومعنى ده يعنى جُداكيدل-(١)

قال نافع : الوشم في اللثة : نافع فرمايي چه په اورو كښې هم دننه وشم كيږي -

[۵۵۹۳] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ مُرَّةَ سَمِعْتُ سَعِيدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ قَالَ قَدِمَ مُعَاوِيَةُ الْمَدِينَةَ آخِرَ قَدْمَةٍ قَدِمَهَا فَخَطَبَنَا فَأَخْرَجَ كُبَّةً مِنْ شَعَرٍ قَالَ مَا كُنْتُ أَرَى أَحَدًا يَفْعَلُ هَذَا غَيْرَ الْيَهُودِ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمَّاهُ الزُّورَ يَعْنِي الْوَاصِلَةَ فِي الشَّعَرِ [ر:۳۲۸۱]

د باب آخرى حديث كښې دى " فأخرج كبة من شعرٍ " يعنى حضرت معاويه د ويختو يو گُنجئ رااويستله ، كبة او قصة په يو معنى دى

دې حديث نه آداب مستنبط كولو كښې حافظ ابن حجر ليكى :

وفيه قيام الإمام بالنهي على المنبر، ولا سيما إذا رآه فاشيا ، فيفشى إنكاره تاكيدا ليحذر منه ، وفيه إنذار من عمل المعصية بوقوع الهلاك بمن فعلها قبله كما قال تعالى : (و ما هى من الظالمين ببعيد) و فيه جواز تناول الشىء فى الخطبة ليراه من لم يكن رآه لمصلحة الدينية ، و فيه إباحة الحديث عن بنى اسرائيل ، و كذا غيرهم من الأمم للتحذير مما عصوا فيه(٢)

يعنى ددې حديث نه يو خبره خو دا معلومه شوه چه د شريعت نهى د منبر د سر دپاسه بيانول پكاردى خاص كرچه كله دا خوريږى ، داسې صورت كښې خو ددې بر سر عام ترديد او رد پكار دى ، دويمه خبره دا معلومه شوه چه گناه كوونكو ته د تيرو شوو گناهگارو د هلاكت انجام خودل او يرول پكار دى - دريمه خبره دا معلومه شوه چه د خطبې دوران كښې په لاس كښې يو څيز راخستل دې دپاره چه خلقو ته ئې اوښائى او دوى پرې پوهه كړى جائز دى ، لكه چه حضرت معاويه دغه گُنجئ د ويختو په لاس كښې واخسته او خلقو ته ئې اوخودله، څلورمه خبره دا معلومه شوه چه دبنى اسرائيلو او د نورو امتونو قصې او واقعات خلقو ته اورول روا دى دې دپاره چه دوى دگناهونو نه بچ شى او اويريږى -

فائده :د ښځې دپاره چه ځنگه د سر په ويختو كښې نور ويخته لگول جائز نه دى داسې سر خرئيل ورلره هم جائز نه دى. طبرى دحضرت ابن عباس روايت نقل كړيدې "نهى النبى صلى الله عليه وسلم أن تحلق المرأة رأسها"(٣)(رسول الله ﷺ ښځې د سر د ويختو د خرولونه منع كړيدى) امام ابوداود هم دا حديث په دې الفاظو رانقل كړيدې " ليس على النساء حلق ، إنما على النساء التقصير"(٤) په ښځو باندې (د احرام نه وتلو دپاره) حلق نشته دې ، بلكه دوى به تقصير

---

١) فتح البارى : ۱۰\۴۶۰ ، إرشاد السارى : ۱۲\۶۱۳ ، عمدة القارى : ۲۲\۶۵ ، شرح البخارى للكرمانى : (۲۱\۱۲۸)

٢) فتح البارى : ۱۰\۴۶۱)

٣) فتح البارى : ۱۰\۴۵۹)

٤) أخرجه أبوداود فى كتاب الحج ، باب الحلق و التقصير : ۲\۲۰۳ (رقم الحديث : ۱۹۸۴)

کوی یعنی ویخته به واړه کوی -)
د ویختو سره نور ویخته لګولو حکم : د فقهاء حضراتو په نزد د ویختو سره د څه څیز لګولو په تفصیل کښې اختلاف دې :

① بعضو مطلقا وصل ممنوع ګرځولې دې ، برابره خبره ده چه هغه د سړی ویخته وی او که د سړی نه علاوه د بل څه وی او که د ریښمو او د جامو تارونه وی ، د ویختو سره د داسې څه څیز لګول مطلقا ممنوع دی -
مالکیه حضرات او اکثر شافعیان حضراتو دا قول اختیار کړیدې -([1])

② دانسان ویخته لګول خو مطلقا ممنوع دی دارنګه د انسان نه علاوه د یو بل څیز نجس ویخته هم لګول جائز نه دی ، لکه د مردار څناور ویخته خو د انسان نه علاوه د بل څیز پاك ویخته لګول جائز دی دا د احنافو حضراتو ، حنابله او د بعض شوافعو مسلك دې ([2]) لکه چه عالمګیریه کښې دی : ووصل الشعر بشعر الآدمی حرام، سواء کان شعرها أو شعر غيرها .... ولا بأس للمرأة أن تجعل فی قرونها و ذوائبها شيئا من الوبر([3])

امام محمد رحمه الله په موطا کښې فرمائی : ولا بأس فی الرأس إذا کان صوفا ، فأما الشعر من شعور الناس فلا ينبغی، وهو قول أبی حنيفة و العامة من فقهائنا ([4])

③ دریم قول دا دې چه د ویختو سره ویخته لګول ممنوع دې او د ویختو سره بل داسې څیز لګول هم ممنوع دی چه په هغې د ویختو ګمان کیږی خو که داسې څه التباس نه راځی نو بیا جائز دې - ([5])
حافظ ابن حجر رحمه الله دې قول ته ترجیح ورکړیده - ([6])

۸۲=بَابُ الْمُتَنَمِّصَاتِ

[۵۵۹۵]حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ أَخْبَرَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ لَعَنَ عَبْدُ اللَّهِ الْوَاشِمَاتِ وَالْمُتَنَمِّصَاتِ وَالْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ الْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللَّهِ فَقَالَتْ أُمُّ يَعْقُوبَ مَا

[1]) أوجز المسالک فی کتاب الشعر ، باب السنة فی الشعر : ۱۵\۱۳۱)
[2]) الدر المختار : کتاب الحظر و الإباحة ، فصل فی النظر و المس : ۵ \ ۲٦٤ ،بذل المجهود فی کتاب الترجل ، باب فی صلة الشعر : ۱٦ \ ۵۸ ، المغنی لابن قدامة " حکم وصل الشعر " فصل (بلا ترجمة) : ۱۱ ۳۸ ، أوجز السالک کتاب الشعر ، باب ما جاء فی السنة فی الشعر : ۱۵\۱۲)
[3]) الفتاوی الهندية ، کتاب الکراهية ، الباب التاسع عشر فی الختان و الخصاء و قلم الأظفار وقص الشارب ..... : ۵ \ ۳۵۸)
[4]) الموطا للإمام محمد ، باب المرأة تصل شعرها بشعر غيرها ص \ ۳۸۳)
[5]) بذل المجهود ، کتاب الترجل ، باب فی صلة الشعر : ۱۷ \ ۵۸ ، أوجز المسالک ، کتاب الشعر ، باب فی السنة فی الشعر : ۱۵ \ ۱۱)
[6]) فتح الباری : ۱۰ \ ٤۵۹)

هَذَا قَالَ عَبْدُ اللَّهِ وَمَا لِي لَا أَلْعَنُ مَنْ لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ وَفِي كِتَابِ اللَّهِ قَالَتْ وَاللَّهِ لَقَدْ قَرَأْتُ مَا بَيْنَ اللَّوْحَيْنِ فَمَا وَجَدْتُهُ قَالَ وَاللَّهِ لَئِنْ قَرَأْتِيهِ لَقَدْ وَجَدْتِيهِ وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا [ر: ۴۶۰۴]

مُتَنَمِّصات دا جمع د متنمصة ده دا د نمص نه دي چه ددې معنی د ويختو ويستلو راخی ،

نامصة: هغه ښځه ده چه د مخ نه ويښته اوباسی - امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه نامصة هغه ښځې ته وايی چه بانړه جوړوی او روزي نرۍ کوی - (۱)

متنمصة هغه ښځې ته وائی چه نمص طلب کوی يعنی په نورو ښځو باندې ويښته اوباسی - (۲) عموما ښځې د مخ د اړخونو نه او د روزو جوړولو او نری کولو دپاره په نورو ښځو ويښته اوباسی ، د حديث د باب په وجه داسې کول ناجائز او حرام دی

خو که د يوې ښځې په مخ ګيره يا زياتی ويښته رااوخيژی نو ددې د صفا کولو اجازت شته دې - (۳) او دا په دې وعيد کښې داخله نه ده بلکه امام نووی رحمه الله ديته مستحب ويلي دی - (۴)

۸۲= بَابُ الْمَوْصُولَةِ

[۵۶۰۵] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ أَخْبَرَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ لَعَنَ عَبْدُ اللَّهِ الْوَاشِمَاتِ وَالْمُتَنَمِّصَاتِ وَالْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ الْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللَّهِ فَقَالَتْ أُمُّ يَعْقُوبَ مَا هَذَا قَالَ عَبْدُ اللَّهِ وَمَا لِي لَا أَلْعَنُ مَنْ لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ وَفِي كِتَابِ اللَّهِ قَالَتْ وَاللَّهِ لَقَدْ قَرَأْتُ مَا بَيْنَ اللَّوْحَيْنِ فَمَا وَجَدْتُهُ قَالَ وَاللَّهِ لَئِنْ قَرَأْتِيهِ لَقَدْ وَجَدْتِيهِ وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا [ر: ۴۶۰۴]

موصولة: دا هغه ښځه ده چه ددې په سر کښې ويښته لګيدلي وی ، دې باب کښې ددې مذمت بيان کړې شويدې

قوله: أصابتها الحَصْبة: حصبة (د حاء په فتحه او د صاد په سکون سره) د يو بيمارۍ نوم دې چه ديکښې په بدن کښې وړې وړې سرې دانې رااوخی -

حافظ ابن حجر فرمائی : چه دا د چيچك يو قسم دې (۵)

بعضو په اردو کښې د دې ترجمه په " خسره " سره کړيده - (۶)

---

(۱) أخرجه أبوادو فی كتاب الترجل ، باب فی صلة الشعر : ٤ \ ٧٨ (رقم الحديث : ٤١٧٠)

(۲) إرشاد الساری : ١٢ \ ٦١٥ . فتح الباری : ١٠ \ ٤٦١ . عمدة القاری : ٢٢ \ ٦٦)

(۳) فتح الباری : ١٠ \ ٤٦٢ . إرشاد الساری : ١٢ \ ٦١٥)

(۴) شرح مسلم للنووی ، كتاب اللباس ، باب تحريم فعل الواصلة : ٢ \ ٢٠٥)

(۵) فتح الباری : ١٠ \ ٤٦٢)

(۶) القاموس الوحيد : ض ١ \ ٣٤٥)

قوله: قال النبي صلى الله عليه وسلم: لعن الله الواشمة .... يعني لعن النبي صلى الله عليه وسلم: حافظ ابن حجر فرمائي چه د حديث په آخر كښي " يعني لعن النبي صلى الله عليه وسلم " تفسيري جمله ښه سمه واضحه نه ده چه ددې څه مطلب دې، هو داسې ويلې كيدې شي چه الله تعالى دا لعنت د نبي ﷺ د ژبې په ذريعه راليږلې وي يا اوويلې شي چه د الله تعالى د لعنت په وجه رسول الله ﷺ هم لعنت اوويلې - [1]

په خو مصري نسخو كښې د حديث عبارت داسې دى " قال النبي الواشمة و المستوشمة ...... يعني لعن النبي صلى الله عليه وسلم " په دې صورت كښې دا تفسير بالكل واضح دې چه " د الواشمة... " نه وړاندې د " لعن " لفظ پاتې شوې دې نو دې وجه نه راوى د دې تصريح اوكړو او " لعن النبي.... " ئې اوويلې -[2]

۸۴=بَاب الْوَاشِمَةِ

[۵۶۰۰] حَدَّثَنِي يَحْيَى حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ هَمَّامٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَيْنُ حَقٌّ وَنَهَى عَنْ الْوَشْمِ حَدَّثَنِي ابْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا ابْنُ مَهْدِيٍّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ ذَكَرْتُ لِعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَابِسٍ حَدِيثَ مَنْصُورٍ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ فَقَالَ سَمِعْتُهُ مِنْ أُمِّ يَعْقُوبَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ مِثْلَ حَدِيثِ مَنْصُورٍ [ر:۵۳۰۸]

[۵۶۰۱] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَوْنِ بْنِ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ رَأَيْتُ أَبِي فَقَالَ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ ثَمَنِ الدَّمِ وَثَمَنِ الْكَلْبِ وَآكِلِ الرِّبَا وَمُوكِلِهِ وَالْوَاشِمَةِ وَالْمُسْتَوْشِمَةِ [ر:۱۹۸۰]

۸۵=بَاب الْمُسْتَوْشِمَةِ

[۵۶۰۲] حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ عُمَارَةَ عَنْ أَبِي زُرْعَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أُتِيَ عُمَرُ بِامْرَأَةٍ تَشِمُ فَقَامَ فَقَالَ أَنْشُدُكُمْ بِاللَّهِ مَنْ سَمِعَ مِنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْوَشْمِ فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ فَقُمْتُ فَقُلْتُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ أَنَا سَمِعْتُ قَالَ مَا سَمِعْتَ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا تَشِمْنَ وَلَا تَسْتَوْشِمْنَ [ر:۵۵۸۹]

[۵۶۰۳] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ أَخْبَرَنِي نَافِعٌ عَنْ ابْنِ عُمَرَ قَالَ لَعَنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْوَاصِلَةَ وَالْمُسْتَوْصِلَةَ وَالْوَاشِمَةَ وَالْمُسْتَوْشِمَةَ [ر:۵۵۹۳]

---

[1] فتح البارى : ۱۰\۶۳)

[2] الابواب و التراجم : ۲\۱۱۱ ، إرشاد السارى : ۱۲\۶۱۷ ، عمدة القارى : ۲۲\۶۷)

[٥٦٠٤] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ عَنْ سُفْيَانَ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ لَعَنَ اللَّهُ الْوَاشِمَاتِ وَالْمُسْتَوْشِمَاتِ وَالْمُتَنَمِّصَاتِ وَالْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ الْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللَّهِ مَا لِي لَا أَلْعَنُ مَنْ لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي كِتَابِ اللَّهِ [ر: ٤٦٠٤]

وَشم خال لګولو ته وائی ، چه په بدن کښې ستن وغيره نرئ نرئ وهلې کيږی او بيا دا ځائې د يو رنګ نه ډك کړی ، دې عمل ته وشم ويلې کيږی - [1] چه کومه ښځه دا عمل کوی هغې ته واشمه وائی چه د کومې ښځې سره دا عمل کيږی هغې ته موشومه وائی چه کوم د دې عمل مطالبه کوی ديته مستوشمه وائی ، وشم د جمهورو عالمانو په نزد حرام دې [2] ځکه چه الله تعالی او د الله تعالی رسول د دې عمل په کونکو باندې لعنت ويلې دې ، بعض ديته مکروه تحريمی وائی - [3]

يو اشکال او ددې جواب : طبری د قيس بن حازم نه په صحيح سند سره روايت نقل کړيدې هغه فرمائی " دخلت مع أبي على أبي بكر الصديق ، فرأيت يد أسماء موشومة " [4]

د دې يو جواب خو دا ورکړې شويدې چه دا د قبل النهی واقعه ده او دويم جواب دا ورکړې شويدې چه ممکن ده چه د نهی حديث دوی ته نه وی رارسيدلې - [5]

چه په کوم اندام خال يا څه بل نقش لګيدلې وی د هغې د طهارت حکم : دا خبره باقی پاتې کيږی چه د جسم په کومه حصه باندې نقش شوې وی د هغې په طهارت کښې څه حکم دې؟

امام نووی رحمه الله ليکلې دی چه دا حصه نجس کيږی دې وجه نه ديکښې چه کوم رنګ وغيره لګيدلې وی د هغې صفا کول واجب دی ، خو که د اندام د هلاك کيدو ويره وی نو بيا لرې کول ددې واجب نه دی ، دا د شوافعو مسلك دې - [6]

د احنافو حضراتو مسلك دا دې چه کله وينه اودريده او زخم جوړ شو او صرف رنګ سور يا شين پاتې شو نو اوس ددې زائله کول واجب نه دی ، بلکه په دې چه اوبه.واچولې شی نو دا طهارت به حاصل شی ، چه څنګه په ګيره کښې د خضاب لګولو نه پس چه په ګيره کښې اوبه واچولې شی نو د طهارت حکم حاصليږی - [7]

---

[1] إرشاد الساری : ١٢\٦١٨ ، فتح الباری : ١٠\٤٥٥ ، عمدة القاری : ٢٢\٦٣ ، النهاية لابن الاثير : ١٥ ١٨٩ ، مجمع بحار الانوار : ٥\٥٨)

[2] شرح مسلم للنووی ، کتاب اللباس ، باب تحريم فعل الواصلة الخ :٢\٢٠٥)

[3] فتح الباری : ١٠\٤٦١)

[4] فتح الباری : ١٠\٤٦١ ، إرشاد الساری : ١٢\٦١٣)

[5] فتح الباری : ١٠\٤٦١ ، إرشاد الساری : ١٢\٦١٣)

[6] شرح مسلم للنووی ، کتاب اللباس ، باب تحريم فعل الواصلة : ٢\٢٠٥)

[7] رد المحتار على الدر المختار ، کتاب الطهارة ، مطلب فی حکم الوشم : ١\٢٤٢)

۸۶=بَاب التَّصَاوِيرِ

[۵۶۰۵] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ أَبِي طَلْحَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ وَلَا تَصَاوِيرُ وَقَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِي يُونُسُ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ سَمِعَ ابْنَ عَبَّاسٍ سَمِعْتُ أَبَا طَلْحَةَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ر: ۳۰۵۳]

تصاوير د تصوير جمع ده ، دې باب کښې امام بخاري رحمه الله د تصوير حکم بيانوي -

قوله: لا تدخل الملائكة بيتا فيه كلب : دلته د ملائکو په باره کښې دوه قوله دی .

علامه خطابی وغيره څو عالمانو فرمائلې دی چه دينه هغه فرشتې مستثنی دی چه کومې د انسان عملونه ليکلو باندې مامور دی ځکه چه دوی د انسان نه هيڅ وخت هم نه جُدا کيږی ، دې وجه نه دينه د رحمت وغيره فرشتې مراد دی - (۱)

خو علامه قرطبی او د نورو عالمانو دا خيال دې چه لفظ عام دې او ديکښې هيڅ تخصيص نشته دې . دې وجه نه دينه تمامې فرشتې مراد دی ، هيڅ يو استثناء په کښې نشته دی ، باقی د عملونو د نګرانئ والا فرشتو باره کښې ويلې شی چه دوی د کوره بهر اوسی او الله دوی ته د کور دننه خلقو د عملونو د معلومولو صلاحيت ورکړيدې - (۲)

بيت نه مراد هر هغه ځائې دې چه هلته انسان اوسيږی او کلب نه مراد د هر قسم سپې دی ، علامه خطابی وغيره د ضرورت په وجه د ساتونکی سپی استثناء کړيده ، چه د ښکار او د حفاظت په غرض سره چه کوم سپې اوساتلې شی نو هغه ديکښې داخل نه دې - (۳)

خو د علامه قرطبی او د امام نووی رجحان عموم طرف ته دې ځکه چه حديث کښې داسې د هيڅ څه تخصيص هم نه دې شوې - (۴)

احتياط هم ديکښې دی چه د ضرورت دپاره کوم سپې اوساتلې شی هغه کور کښې دننه ساتلو په ځائې بهر چرته خواوشاه کښې اوساتلې شی -

سپې په خپله هم نجس او نجاستونه خوری هم ، دې وجه نه فرشتې داسې کور ته نه ځی چه کوم ځائې دا نجس وی - (۵)

يو دريم مطلب د دې جملې دا هم بيان شويدې چه ديکښې نفی د مطلق دخول نه ده بلکه د يو خاص صفت والا د دخول نفی ده او مطلب دا دې چه فرشتې داسې کور ته په هغه اطمينان او په رضا نه داخليږی چه کوم اطمينان او رضا سره هغه کور ته ورځی چه هلته

---

(۱) إرشاد الساری : ۱۲ \ ۶۲۱ . فتح الباری : ۱۰ \ ۴۶۶ . عمدة القاری : ۲۲ \ ۶۹)

(۲) فتح الباری : ۱۰ \ ۴۶۶)

(۳) إرشاد الساری : ۱۲ \ ۶۲۱ . فتح الباری : ۱۰ \ ۴۶۶ . عمدة القاری : ۲۲ \ ۶۰)

(۴) إرشاد الساری : ۱۲ \ ۶۲۱ . فتح الباری : ۱۰ \ ۴۶۷ . شرح مسلم للنووی . كتاب اللباس . باب تحريم صورة الحيوان : ۲ \ ۲۰۰ . عمدة القاری : ۲۲ \ ۲۳ \ ۶۹)

(۵) إرشاد الساری : ۱۲ \ ۶۲۱ . فتح الباری : ۱۰ \ ۴۶۷ . عمدة القاری : ۲۲ \ ۶۹)

سپي نه وی - (۱)

قوله: ولا تصاوير: د لا د نفی اعاده ئې ځکه اوکړه چه چا ته دا وهم رانشی چه د فرشتو د نه راتلو دپاره په کور کښې دننه د سپی او د تصويرونو د دواړو کيدل ضروری دی - ځکه چه کُه عبارت داسې وې " لا تدخل الملائكة بيتا فيه كلب و تصاوير " نو واو به د جمع دپاره اخستې شوې وو او چا ته به دا وهم کيدې شو ، دې وجه نه ئې " ولا تصاوير " اوويل او دا وهم ئې ختم کړو چه فرشتې به داسې کور ته هم نه داخليږی چه هغې کښې تصويرونه وی ځکه چه اوس تقدير د عبارت به داسې وی " ولاتدخل بيتافيه صورة " - (۲)

يو اشكال او ددې جواب : په دې دا اشكال كيدې شی چه قرآن كريم كښې د حضرت سليمان عليه السلام په تذكره كښې دی ، (يعملون له ما يشاء من محاريب و تماثيل) د " تماثيل " تفسير په تصويرونو سره شويدې ، کُه تصوير جائز نه وې نو بيا جناتو ولې د حضرت سليمان عليه السلام دپاره تصوير جوړولو ؟

د دې يو جواب خو دا دې چه د دوی په شريعت كښې د دې جواز وو ، اسلام كښې ممنوع دې - (۳)

او دا هم ممکن ده چه د " تماثيل " نه د ذی روح تصوير مراد نه وی بلکه د غير جاندار څيزونو تصويرونه او نقشونه ترينه مراد وی - (۴)

قوله: وقال الليث: حدثنی يونس......: دې تعليق كښې د ابن شهاب د عبيد الله بن عبد الله بن عتبه د سماع تصريح ده بره په سند موصول كښې عنعنه ده ، دې وجه نه امام دا تعليق ذكر كړو ، دا ابونعيم په " المستخرج " كښې موصولا نقل كړيدې - (۵)

۸۷=بَاب عَذَابِ الْمُصَوِّرِينَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

[۵۶۰۶] (۶) حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ عَنْ مُسْلِمٍ قَالَ كُنَّا مَعَ مَسْرُوقٍ فِي دَارِ يَسَارِ بْنِ نُمَيْرٍ فَرَأَى فِي صُفَّتِهِ تَمَاثِيلَ فَقَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَذَابًا عِنْدَ اللَّهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْمُصَوِّرُونَ

[۵۶۰۷] (۷) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ عِيَاضٍ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ نَافِعٍ أَنَّ

---

۱) فتح الباری : ۱۰\٤٦۷)

۲) ۸۰ إرشاد الساری : ۱۲\٦۲۱ ، فتح الباری : ۱۰\٤٦۷)

۳) فتح الباری : ۱۰\٦۲۱ ، عمدة القاری : ۲۲\٦۹)

۴) فتح الباری : ۱۰\٤٦۷)

۵) إرشاد الساری : ۱۲\٦۲۱ ، فتح الباری : ۱۰\٦٦ ، عمدة القاری : ۲۲\٦۹)

۶) الحديث أخرجه مسلم فی كتاب اللباس و الزينة ، باب تحريم تصوير صورة الحيوان ..... ۳\۱٦۷۰ (رقم الحديث : ۲۱۰۹) و أخرجه النسائی فی الزينة ، باب التصاوير : ٤\٥۰٤ (رقم الحديث : ۹۷۹٤)

۷) الحديث أخرجه البخاری أيضا فی التوحيد ، باب قول الله تعالی "و الله خلقكم ...[بقيه برصفحه آئنده....

عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الَّذِينَ يَصْنَعُونَ هٰذِهِ الصُّوَرَ يُعَذَّبُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُقَالُ لَهُمْ أَحْيُوا مَا خَلَقْتُمْ [ر: ۷۱۱۹]

د باب رومبی روايت كښې مسلم بن صبيح فرمائی چه مونږ مسروق بن الاجدع سره د يسار بن نمير په كور كښې وو ، نو دوی د ده د كور دكانچې (د خاورو جوړې شوې ډبې) سره تصويرونه اوليدل نو وې ويل ما د عبد الله بن مسعود ﷺ نه اوريدلي دي چه دوی د رسول الله ﷺ يو حديث بيانولو چه د قيامت په ورځ به تصوير جوړوونكو دپاره سخت عذاب وی -

يسار بن نمير : نمير (د تصغير سره) دې اصل كښې د مدينې وو او په كوفه كښې اوسيدلو، د حضرت فاروق اعظم وغيره نه دوی احاديث نقل كړيدی ، ثقه دې (۱) حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی "ولم أر له في البخاري إلا هذا الموضع" (۲)

قوله: فرأي في صُفَّته : صُفّة د صاد په ضمه او د فاء په تشديد سره) دكانچې (د خاورو جوړه شوې ډبه د ناستې ځائې) ته وائی، د مسلم په روايت كښې دی كنت مع مسروق في بيت فيه تماثيل، فقال لي مسروق: هذه تماثيل كسرى، فقلت: لا، هذه تماثيل مريم (۳) (خه د مسروق سره په يو كور كښې ووم چه هغې كښې تصويرونه ، مانه مسروق تپوس اوكړو دا د كسری تصويرونه دی ؟ ما اوويل : نه ، دا د مريم تصويرونه دی)

د تصوير جوړوونكو دپاره به د قيامت په ورځ سخت عذاب وی ، سخت عذاب به څو خلقو ته وی قرآن كريم كښې د آل فرعون متعلق دی (أدخلوا آل فرعون أشد العذاب) (۴)

امام طحاوی رحمه الله د حضرت ابن مسعود ﷺ نه مرفوع روايت نقل كړيدې "إن أشد الناس عذابا يوم القيامة رجل قتل نبيا أو قتله نبی ، وإمام ضلالة ، ممثل من الممثلين" (۵) يعنی د قيامت په ورځ به سخت عذاب د هغه كس وی چه هغه نبی قتل كړې وی يا ده لره نبی عليه السلام قتل كړې وی او امام د ګمراهئ وی او تصوير جوړوونكې وی -

د حضرت عائشه ﷺ يو مرفوع روايت هم امام طحاوی موصولا نقل كړيدې " أشد الناس عذابا يوم القيامة رجل هجا رجلا فهجا القبيلة بأسرها" (۶) يعنی د قيامت په ورځ به سخت عذاب د

...بقيه ازحاشيه گذشته]و ما تعملونه " (رقم الحديث : ۷۱۱۹) و أخرجه مسلم فی اللباس و الزينة ، باب تحريم تصوير صورة الحيوان ... ۱۳ \ ۱۶۷۰ (رقم الحديث : ۲۱۰۸)

۱) عمدة القاری : ۲۲ \ ۷۰ ، فتح الباری : ۱۰ \ ۴۶۸ ، تهذيب الكمال : ۳۲ \ ۲۹۸)

۲) فتح الباری : ۱۰ \ ۴۶۸ ، عمدة القاری : ۲۲ \ ۷۰)

۳) رواه مسلم فی كتاب اللباس و الزينة ، باب تحريم صورة الحيوان : ۱۳ \ ۱۶۷۰ (رقم الحديث : ۲۱۰۹)

۴) سورة المؤمن : ۴۶)

۵) فتح الباری : ۱۰ \ ۴۶۹)

۶) فتح الباری : ۱۰ \ ۴۶۹)

هغه کس وی چه ده ته يو سړی کنځل اوکړل نو ددې په جواب کښې دې دده پوره قبيلې ته کنځل اوکړل -

امام طحاوی رحمه الله فرمائی "فكل واحد من هؤلاء يشترك مع الآخر في شدة العذاب" يعنی په شدت د عذاب کښې به دا ټول خلق مشترك وی - [1]
علامه قرطبی رحمه الله فرمائی چه دا اشديت د تمامو خلقو په اعتبار سره به نه وی بلکه سړی ته به چه د کومې ګناه په وجه عذاب ورکولې کيږی ، ددې ګناه په عذاب کښې مبتلاء د نورو خلقو په اعتبار سره دا اشديت بيان کړې شوې دې - نو چه کومو خلقو د خدائې دعوی کړيده هغوی کښې به د فرعون عذاب سخت وی چه چا د کافرانو مشری اوکړه نو دده عذاب به په مقابله د هغه کس کښې سخت وی چه هغه د فاسقانو مشری کړې وی ، دارنګه چه چا د جاندار (سا والا) تصاوير د عبادت دپاره جوړ کړل ، د ده عذاب به سخت وی په مقابله د هغه کس کښې چه ده د سا والا تصاوير دپاره د عبادت نه وی جوړ کړې -
حاصل دا چه دا اشديت د عامو خلقو په اعتبار سره نه دې بلکه چه د دغه ګناه په عذاب کښې کوم خلق مبتلاء دی د هغو په اعتبار سره دې - [2]
د باب په دويم روايت کښې دی ، چه رسول الله ﷺ اوفرمائل چه کوم خلق تصويرونه جوړوی د قيامت په ورځ به دوی ته عذاب ورکړې کيږی او دوی ته به د تعجيز او د توبيخ دپاره اوويلې شی چه تاسو چه کوم تصويرونه جوړ کړی دی دا ژوندی کړئ (نو دوی خو به ددې په ژوندی کولو قادر نه وی نو دې وجه نه دوی به مسلسل په دې عذاب کښې مبتلاء وی) [3]

۸۸=بَاب نَقْضِ الصُّوَرِ

[۵۶۰۸] [4] حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ فَضَالَةَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ يَحْيَى عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حِطَّانَ أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا حَدَّثَتْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَكُنْ يَتْرُكُ فِي بَيْتِهِ شَيْئًا فِيهِ تَصَالِيبُ إِلَّا نَقَضَهُ

دې باب کښې د تصويرونو د ماتولو ذکردې ړومبی روايت کښې دی چه رسول الله ﷺ به خپل کور کښې داسې څيزونه نه پريخودل چه په هغې کښې تصويرونه وی ، تر دې چه دا به مات کړل او چوری چوری به ئې کړل -

تصاليب: د تصليب جمع ده، تصوير ته وايی ، حافظ ابن حجر فرمائی دا د صليب جمع ده[5]

---

[1] فتح الباری : ۱۰\۴۶۹)
[2] فتح الباری : ۱۰\۴۶۹ ، عمدة القاری : ۲۲\۷۰)
[3] فتح الباری : ۱۰\۴۷۰ ، عمدة القاری : ۲۲\۷۱ ، إرشاد الساری : ۱۲\۶۲۳)
[4] ۵۶۰۸) الحديث أخرجه أبوداود فی اللباس ، باب فی الصليب فی الثوب : ٤\۷۲ (رقم الحديث : ٤۱۵۱) و أخرجه النسائی فی الزينة ، باب التصاوير : ٤\۵۰٤ (رقم الحديث : ۹۷۹۱)
[5] فتح الباری : ۱۰\۴۷۱)

خو علامه عينى د دوى مؤاخذه كړيده - (١)

علامه كرمانى د تصاليب تشريح كړيده " أى التصاوير كالصليب يقال: ثوب مُصَلَّب أى عليه نقش كالصليب الذى للنصارى "يعنى دتصاليب نه دصليب په شان تصويرونه مراد دى ، ثوب مُصلَّب هغه جامې ته وايى چه په هغې د نصرانيانو د صليب په شان نقش و نګار شوې وى - (٢)

[٥٦٠٩] (٣) حَدَّثَنَا مُوسَى حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ حَدَّثَنَا عُمَارَةُ حَدَّثَنَا أَبُو زُرْعَةَ قَالَ دَخَلْتُ مَعَ أَبِي هُرَيْرَةَ دَارًا بِالْمَدِينَةِ فَرَأَى أَعْلَاهَا مُصَوِّرًا يُصَوِّرُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ ذَهَبَ يَخْلُقُ كَخَلْقِي فَلْيَخْلُقُوا حَبَّةً وَلْيَخْلُقُوا ذَرَّةً ثُمَّ دَعَا بِتَوْرٍ مِنْ مَاءٍ فَغَسَلَ يَدَيْهِ حَتَّى بَلَغَ إِبْطَهُ فَقُلْتُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ أَشَيْءٌ سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مُنْتَهَى الْحِلْيَةِ [ر: ٧١٢٠]

ابوزرعه وائى چه څه د ابوهريره رضي الله عنه سره يو كور ته لاړم نو اومې كتل چه په دې باندې يو مصور تصويرونه جوړوى نو دوى اوويل چه ما د رسول الله ﷺ دا فرمان اوريدلې دې چه د هغه كس نه زيات ظالم به څوك وى چه څما د پيدا كولو په شان د پيدا كولو كوشش كوى (دا ئې د الله تعالى و تبارك قول نقل كړو) دې خو دې لږه يوه دانه پيدا كړى ، يا ذره خو دې پيدا كړى او اودې نبائى ، بيا ئې د اوبو لوښې را اوغوښتلو او دواړه لاسونه ئې ترخونو پورې اووينځل -

د ابوذرعه نوم هرم بن عمر دې ، دې د مدينې منورې په كوم كور كښې چه پيدا شوې وو ، دا د مروان بن الحكم كور وو ، د مسلم روايت كښې ددې تصريح ده - (٤)

قوله: فقلت : يا أبا هريرة أشيء سمعته من رسول الله صلى الله عليه وسلم قال : مُنتهى الحلية: ابوذرعه تپوس اوكړو چه ائې ابوهريره په اوداسه كښې ترخه پورې لاسونو وينځلو متعلق تا د رسول الله ﷺ نه څه اوريدلې دى ؟ حضرت ابوهريره رضي الله عنه اوفرمائل : هم (د جنت د) كالى آخرى ځائې دې ، علامه عينى رحمه الله د دې معنى بيان كړيده "أى التبليغ إلى الإبط منتهى حلية المؤمن فى الجنة " (٥)

د حلية نه يا خو زيور مراد دې لكه چه د قرآن كريم په آيت كښې دى (يحلون فيها من أساور) او يا دينه د قيامت په ورځ د اوداسه د اثر نه لاسونه او پښې او نور اندامونه د اوداسه پرقيرې

(١) عمدة القارى : ٢٢ \ ٧١)

(٢) شرح الكرمانى : ٢١ \ ١٣٥)

(٣) ٥٦٠٩) الحديث أخرجه أيضا فى كتاب التوحيد ، باب قول الله تعالى : "والله خلقكم و ما تعملون" ..... (رقم الحديث : ٧١٢٠) و أخرجه مسلم فى اللباس و الزينة ، باب تحريم تصوير صورة الحيوان ..... ١٣ \ ١٦٧ (رقم الحديث : ٢١١١)

(٤) رواه مسلم فى كتاب اللباس و الزينة، باب تحريم صورة الحيوان الخ : ١٣ \ ١٦٧ (رقم الحديث : ٢١١١)

(٥) عمدة القارى : ٢٢ \ ٧٢)

مراد دي (١) چه ديته حديث كښې "غر محجلين" ويلې شويدى (٢)

۸۹=بَاب مَا وُطِئَ مِنْ التَّصَاوِيرِ

[۵۶۱۰\۵۶۱۱] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِاللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَالرَّحْمَنِ بْنَ الْقَاسِمِ وَمَا بِالْمَدِينَةِ يَوْمَئِذٍ أَفْضَلُ مِنْهُ قَالَ سَمِعْتُ أَبِي قَالَ سَمِعْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ سَفَرٍ وَقَدْ سَتَرْتُ بِقِرَامٍ لِي عَلَى سَهْوَةٍ لِي فِيهَا تَمَاثِيلُ فَلَمَّا رَآهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَتَكَهُ وَقَالَ أَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ الَّذِينَ يُضَاهُونَ بِخَلْقِ اللَّهِ قَالَتْ فَجَعَلْنَاهُ وِسَادَةً أَوْ وِسَادَتَيْنِ

[۵۶۱۱] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا عَبْدُاللَّهِ بْنُ دَاوُدَ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ سَفَرٍ وَعَلَّقْتُ دُرْنُوكًا فِيهِ تَمَاثِيلُ فَأَمَرَنِي أَنْ أَنْزِعَهُ فَنَزَعْتُهُ وَكُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ [ر:۲۳۴۷]

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى چه رسول الله ﷺ د يو سفر نه تشريف راوړو ما په دكانچه باندې يو پرده رازوړنده كړې وه ، چه ديكښې تصويرونه وو ، رسول الله ﷺ چه دا اوكتله نو وې شلوله ، او وې فرمائل د قيامت په ورځ به د ټولو نه زيات سخت عذاب د هغه خلقو وى چه دوى د الله تعالى د تخليق نقل كوى ، حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى چه ما دې نه يوه يا دوه تكيه ګانې جوړې كړې (او چه تكيه پائمال كيږى او دېته تكيه وهلې كيږى چه دينه معلومه شوه چه تصويرونه به هم داسې پائمال كيدې شى)

قوله: سترت بقرام لي على سهوة: قرام (د قاف په كسره سره) نقشدارې يا نرئ پردې ته وايى - (٣)

سهوة (د سين په فتحه او د باء په سكون سره) دكانچې ته يا ډيوډئ ته يا د كور ګودام ته وائى (٤) مولانا انورشاه كشميرى رحمه الله د دې ترجمه په طاق سره كړيده - (٥)

قوله: وعلقت دُرنوكا فيه تماثيل : درنوك (د دال په ضمه او د راء په سكون سره) پردې ته وائى -(٦)

---

(١) عمدة القارى: ٢٢ \ ٧٢ ،إرشاد السارى: ١٢ \ ٦٤٤ ،فتح البارى : ١٠ \ ٤٧٣ ، شرح الكرمانى: ٢١ \ ١٣٥)

(٢) قال أبوهريرة فى حديثه : سمعت رسول الله صلى الله عليه و سلم يقول : إن أمتى يأتون يوم القيامة غرا محجلين من أثر الوضوء . أخرجه مسلم فى كتاب الطهارة ، باب إستحبا إطالة الغرة : ١ \ ٢١٦ (رقم الحديث : ٢٤٦)

(٣) النهاية لابن الأثير : ٤ \ ٤٩ ، مجمع بحار الأنوار : ٤ \ ٢٥٧)

(٤) النهاية لابن الأثير : ٢ \ ٤٣٠ ، مجمع بحار الأنوار : ٣ \ ١٦١)

(٥) فيض البارى : ٤ \ ٣٨٣)

(٦) النهاية لابن الاثير : ٢ \ ٤٣٠ ، مجمع بحار الانوار : ٣ \ ١٦١)

٩٠- بَاب مَنْ كَرِهَ الْقُعُودَ عَلَى الصُّورَةِ

[٥٦١٢] حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ حَدَّثَنَا جُوَيْرِيَةُ عَنْ نَافِعٍ عَنْ الْقَاسِمِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّهَا اشْتَرَتْ نُمْرُقَةً فِيهَا تَصَاوِيرُ فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْبَابِ فَلَمْ يَدْخُلْ فَقُلْتُ أَتُوبُ إِلَى اللَّهِ مِمَّا أَذْنَبْتُ قَالَ مَا هَذِهِ النُّمْرُقَةُ قُلْتُ لِتَجْلِسَ عَلَيْهَا وَتَوَسَّدَهَا قَالَ إِنَّ أَصْحَابَ هَذِهِ الصُّوَرِ يُعَذَّبُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُقَالُ لَهُمْ أَحْيُوا مَا خَلَقْتُمْ وَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ لَا تَدْخُلُ بَيْتًا فِيهِ الصُّورَةُ [ر:١٩٩٩]

[٥٦١٣] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ بُكَيْرٍ عَنْ بُسْرِ بْنِ سَعِيدٍ عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ عَنْ أَبِي طَلْحَةَ صَاحِبِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْمَلَائِكَةَ لَا تَدْخُلُ بَيْتًا فِيهِ الصُّورَةُ قَالَ بُسْرٌ ثُمَّ اشْتَكَى زَيْدٌ فَعُدْنَاهُ فَإِذَا عَلَى بَابِهِ سِتْرٌ فِيهِ صُورَةٌ فَقُلْتُ لِعُبَيْدِ اللَّهِ رَبِيبِ مَيْمُونَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَمْ يُخْبِرْنَا زَيْدٌ عَنْ الصُّوَرِ يَوْمَ الْأَوَّلِ فَقَالَ عُبَيْدُ اللَّهِ أَلَمْ تَسْمَعْهُ حِينَ قَالَ إِلَّا رَقْمًا فِي ثَوْبٍ وَقَالَ ابْنُ وَهْبٍ أَخْبَرَنَا عَمْرٌو هُوَ ابْنُ الْحَارِثِ حَدَّثَهُ بُكَيْرٌ حَدَّثَهُ بُسْرٌ حَدَّثَهُ زَيْدٌ حَدَّثَهُ أَبُو طَلْحَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ر:٣٠٥٣]

امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې په تصویرونو د کښیناستو کراهت بیانوی - حدیث د باب کښې حضرت عائشه فرمائی چه ما یو تکیه واخسته چه هغې باندې تصویرونه وو ، نبی کریم ﷺ په دروازه کښې اودریدو او دننه رانغلو ، ما چه کله دا اولیدلو نو ماعرض اوکړو چه الله ته توبه کوم خما نه څه ګناه شوې وی، حضور ﷺ اوفرمائل دا تکیه څه ده ، ما اوویل دا ما د ستا د ناستې او د تکیه لګولو دپاره اخستې ده - دوی اوفرمائل : دې تصویرونو جوړوونکو ته به د قیامت په ورځ عذاب وی او دوی ته به اوویلې شی چه دیکښې روح واچوه ، چه په کوم کور کښې تصویر وی هغه ته فرښتې نه داخلیږی

تعارض د روایتونو او ددې دحل توجیهات: دینه معلومه شوه چه د تصوروالا تکیه استعمالول صحیح نه دی ، دینه ما قبل باب کښې د تصویرونو والا پردې په باره کښې حضرت عائشه فرمائلې وو مونږ دینه تکیه جوړه کړه چه دینه معلومیږی چه دا دوی ﷺ به استعمال کړې وه په روایت د باب کښې دوی ﷺ ددې د استعمال نه انکار اوکړو په ظاهره د دواړو روایتونو مینځ کښې تعارض دې

① حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله دې باب سره ددې تعارض لرې کولو او د دواړو مینځ کښې تطبیق پیدا کولو ته اشاره کړیده چه د تصویر والا پردې نه د تکیه جوړولو نه دا نه لازمیږی چه حضور ﷺ دا استعمال کړې هم وی ، دې وجه نه دواړو مینځ کښې څه تعارض نشته دې ، دومبی روایت کښې صرف د تکیه جوړولو ذکر دې ، د استعمال هیڅ وضاحت نشته دې - (١)

١) فتح الباری : ١٠\٤٧٧

④ او دا هم ویلې شي چه حضور ﷺ دا تکیه استعمال کړې وه خو دا پرده ئې د تکیه جوړولو نه وړاندې بالکل په مینځ شلولې وه او تصویرونه شلیدلې وو ، بیا ئې ترینه تکیه جوړه کړه نو دا بغیر د تصویرونو والا تکیه وه - (۱)

⑤ مولانا انورشاه کشمیری رحمه الله په فیض الباری کښې فرمائی چه رومبې باب کښې د حضرت عائشه قول " فجعلناه وسادتین " نه معلومیږی چه تصویرونه د تکیه وهلو او د پائمال کولو په حالت کښې جائز دی او ددې دویم باب د روایت نه د تصویرونو مطلق عدم جواز معلومیږی ځکه چه حضرت عائشه تصریح کړیده چه دا ما د دوی د کښینا ستو دپاره اخستې وه خو دوی ﷺ دا قبوله نه کړه -

امام بخاری رحمه الله رومبی په دې باندې د جواز او ثانیا په دې باندې د کراهت ترجمه قائم کړیده ، اوس خو به یا دا اوویلې شی چه د امام په نزد د جواز قول راجح دې ، دویمه ترجمه ئې قائم کړه چه کُه څوك د عدم جواز قول اختیاروی نو د هغه دپاره هم یوه لاره شته - او یا به دا اوویلې شی چه امام بخاری رحمه الله په ناسته او په پائمال کولو کښې فرق کوی چه د تصویرونو والا تکیه او پرده د ناستې دپاره خو نه شی استعمالولې خو په دې ډډه وهل او ځملاستل او تللو دپاره استعمالیدې شي ځکه چه دیکښې امتهان (سپکاوې) او تحقیر زیات دې - (۲)

مولانا انور شاه کشمیری رحمه الله خپله توجیه هم بیانه کړیده ، دې فرمائی چه اصل کښې حضرت عائشه چه کله رسول الله ﷺ ته اوویل چه دا ما د ستا د کښیناستو دپاره اخستې ده ، نو دوی د تصویرونو د مسئلې نه د تصویر جوړولو والا مسئلې ته منتقل شو ، ځکه چه کُه دوی په دې موقع خاموشی اختیار کړې وې نو چا ته به دا وهم کیدې شو چه کله دا تصویرونه جائز دی نو تصویرونه جوړول به هم جائز وی - دې وجه نه د دې وهم لرې کولو دپاره دوی تنبیه اوکړه چه تصاویر د امتهان په صورت کښې اګر چه ددې استعمال جائز دې خو د تصویر جوړول قطعا په هیڅ صورت کښې هم جائز نه دی ، هم دا وجه ده چه دوی د تصویرونو باره کښې هیڅ هم اونه فرمائل بلکه "إن أصحاب هذه الصور" سره ئې د تصویر جوړوونکو په باره کښې ئې وعید اوفرمائلو او د حدیث په آخر کښې ئې په "لاتدخل الملائکة بیتا فیه صورة" سره یو عام حکم بیان کړو چه هغې کښې د امتهان دا مخصوص صورت شامل نه وو - (۳)

ددې توجیه حاصل دا رااووتلو چه حدیث د باب د تصویرونو سره متعلق نه دې ، بلکه دیکښې د تصویر جوړوونکی حکم بیان شویدې، د امتهان یعنی د ډډې وهلو او د ملاستې او د ګرځیدو په صورت کښې د تصویرونو د حکم په باره کښې حدیث دباب خاموش دې ،

(۱) إرشاد الساری : ۱۲ \ ۶۶۶)
(۲) فیض الباری : ٤ \ ۳۸۳ ، الابواب و التراجم : ۲ \ ۱۱۲)
(۳) فیض الباری : ٤ \ ۳۸۳)

او د رومبی باب د حدیث نه ددې جواز معلومیږی . دې وجه نه داسې صورت کښې دا جائز دې ، والله اعلم
په مسئله د تصویر باندې تفصیلی بحث وړاندې راروان دې

۹۱=بَاب كَرَاهِيَةِ الصَّلَاةِ فِي التَّصَاوِيرِ

[۵۶۱۳] حَدَّثَنَا عِمْرَانُ بْنُ مَيْسَرَةَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ صُهَيْبٍ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ قِرَامٌ لِعَائِشَةَ سَتَرَتْ بِهِ جَانِبَ بَيْتِهَا فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمِيطِي عَنِّي فَإِنَّهُ لَا تَزَالُ تَصَاوِيرُهُ تَعْرِضُ لِي فِي صَلَاتِي [ر:۳۶۷]

علامه عینی رحمه الله فرمائی : "أی هذا باب فی بیان کراهیة الصلاة فی البیت الذی فیه الثیاب التی فیها التصاویر، فإذا کرهت فی مثل هذا، فکراهتها وهو لابسها أقوی وأشد" (۱)
یعنی دې باب کښې امام بخاری رحمه الله په هغه کوټه کښې د مونځ کولو کراهت بیان کړیدې چه کومې کښې تصویرونه وی ، نو چه کله دتصویرونو والا په کور کښې مونځ کول مکروه شو نو د تصویر والا لباس کښې خو مونځ کول په طریقه اولی سره مکروه به وی -
د تصویر والا جامو کښې مونځ کول مکروه دی ، امام په باب کښې چه کوم حدیث نقل کړیدې دیکښې دی چه حضرت عائشه یو پرده زوړنده کړې وه حضور ﷺ اوفرمائل دا خما نه لرې کړه ، ځکه چه دا تصویرونه په مانځه کښې خما وړاندې وی (نو خما په توجه کښې فرق راولی .....)
په حدیث د باب اشکال او ددې جواب : په دې حدیث اشکال کیږی چه د حدیث د باب نه معلومیږی چه رسول الله ﷺ د تصویرونو والا د پردې په وجود کښې کورته ننوتلو او په تیر شوې باب کښې دې چه دوی د تصویرونو والا پرده چه اولیده نو داخل نه شو -
ددې جواب دا ورکړې شویدې چه دیکښې د روح والا تصویرونه وو او په روایت د باب کښې چه د کومې پردې ذکر دې دیکښې د غیر جاندار تصویرونه وو - (۲)
د حدیث نه مستنبط اداب :علامه عینی رحمه الله د حدیث د باب نه څو آداب مستنبط کوی او لیکی : " وفیه من الفقه ینبغی التزام الخشوع فی الصلاة وتفریغ البال لله تعالی، وترک التعرض لما یشتغل المصلی عن الخشوع، وفیه أیضا أن ما یعرض للشخص فی صلاته من الفکرة فی أمور الدنیا لا یقطع صلاته " (۳)
یعنی ددې حدیث نه یو خبره خو دا معلومیږی چه په مانځه کښې خشوع او الله تعالی ته د زړه د توجه التزام کول پکار دی ، دویمه خبره دا معلومیږی چه په مانځه کښې د خضوع نه د غافل کیدونکو څیزونو نه بچ کیدل پکار دی او دریمه خبره ترینه دا معلومیږی چه مانځه کښې دننه څه دنیاوی فکر سره مونځ نه ختمیږی

---

(۱) عمدة القاری : ۲۲ \ ۷۴)
(۲) فتح الباری : ۱۰ \ ۷۴ . عمدة القاری : ۲۲ \ ۷۴ . إرشاد الساری : ۱۲ \ ۶۲۸)
(۳) عمدة القاری : ۲۲ \ ۷۴)

۹۲=بَاب لَا تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا فِيهِ صُورَةٌ

[۵٦١٥]حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سُلَيْمَانَ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ وَهْبٍ قَالَ حَدَّثَنِي عُمَرُ هُوَ ابْنُ مُحَمَّدٍ عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ وَعَدَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جِبْرِيلُ فَرَاثَ عَلَيْهِ حَتَّى اشْتَدَّ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَقِيَهُ فَشَكَا إِلَيْهِ مَا وَجَدَ فَقَالَ لَهُ إِنَّا لَا نَدْخُلُ بَيْتًا فِيهِ صُورَةٌ وَلَا كَلْبٌ[ر:۳۰۵۵]

په حديث د باب كښې دى چه حضرت جبرئيل ﷺ رسول الله ﷺ سره د راتلو وعده اوكړه ، خو دوى په راتلو كښې ناوخته كړو ، رسول الله ﷺ ته ددوى ناوخته كولو باندې سختى راغله نو چه كله دوى تشريف راوړو او د جبرائيل ﷺ سره ئې ملاقات اوشو نو دوى ﷺ ورته د ناوخته كيدو شكايت اوكړو ، نو جبرائيل ﷺ اوويل : مونږ هغه كور ته نه داخليږو چه كومو كښې تصوير وى او نه هغه كور ته چه په هغې كښې سپې وى -

قوله: فراث عليه : " راث روثا " په معنى د تاخير كول او ناراستى كولو راځى ، دلته روايت كښې اختصار دې ، د حضرت عائشه ﷺ په روايت كښې تفصيل دې په هغې كښې دى .... "

ثم التفت ، فإذا جرو كلب تحت سريره ، فقال : يا عائشة متى دخل هذا الكلب ، فقالت : وأيم الله ما دريت ، ثم أمر به ، فأخرج ، فجاء جبريل ، فقال : واعدتنى ، فجلست لك فلم تأت ، فقال : منعنى الكلب الذى كان فى بيتك .... "(١)

يعنى رسول الله ﷺ چه اوكتل چه دسپى يو بچې د كټ لاندې پروت دې ، نو دوى ﷺ اوفرمائل : " دا كله راغلې دې ، نو دوى اوويل :" والله ما ته نه ده معلومه ، بيا دوى ﷺ ددې د ويستلو حكم اوكړو او دا ئې اوويستلو ، چه حضرت جبرائيل راغلو ، نو دوى ﷺ ورته اوفرمائل :" تا ما سره وعده كړې وه ما د ستا انتظار كولو خو ته رانغلې " نو دوى اوويل : خه د دې سپى د لاسه نه يم راغلې چه كوم كور كښې دننه وو -

۹۳=بَاب مَنْ لَمْ يَدْخُلْ بَيْتًا فِيهِ صُورَةٌ

[٥٦١٦] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ نَافِعٍ عَنْ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهَا أَخْبَرَتْهُ أَنَّهَا اشْتَرَتْ نُمْرُقَةً فِيهَا تَصَاوِيرُ فَلَمَّا رَآهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ عَلَى الْبَابِ فَلَمْ يَدْخُلْ فَعَرَفَتْ فِي وَجْهِهِ الْكَرَاهِيَةَ قَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَتُوبُ إِلَى اللَّهِ وَإِلَى رَسُولِهِ مَاذَا أَذْنَبْتُ قَالَ مَا بَالُ هَذِهِ النُّمْرُقَةِ فَقَالَتْ اشْتَرَيْتُهَا لِتَقْعُدَ عَلَيْهَا وَتَوَسَّدَهَا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَصْحَابَ هَذِهِ الصُّوَرِ يُعَذَّبُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَيُقَالُ لَهُمْ أَحْيُوا مَا خَلَقْتُمْ وَقَالَ إِنَّ الْبَيْتَ الَّذِي فِيهِ الصُّوَرُ لَا تَدْخُلُهُ الْمَلَائِكَةُ[ر:۱۹۹۹]

---

(١) أخرجه مسلم فى كتاب اللباس ، باب تحريم تصوير صورة الحيوان : ١٣ ١٦٦٤ (رقم الحديث : ٢١٠٤)

تصویرونو والا کور ته د داخلیدو حکم: چه په کوم کور کښې تصویرونه وی، دیته د داخلیدو څه حکم دې؟ دیکښې اختلاف دې -
د احنافو اود مالکیه اود حنابله حضراتو په نزد دیته داخلیدل مکروه دی، حرام نه دی -(۱) په شوافعو کښې د اکثر عالمانو په نزد دیته داخلیدل جائز نه دی (۲) دوی د حدیث د باب نه استدلال کوی خو جمهور دا په کراهت محمولوی -

۹۴=بَاب مَنْ لَعَنَ الْمُصَوِّرَ

[۵۶۱۷] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنِي غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَوْنِ بْنِ أَبِي جُحَيْفَةَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ اشْتَرَى غُلَامًا حَجَّامًا فَقَالَ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ ثَمَنِ الدَّمِ وَثَمَنِ الْكَلْبِ وَكَسْبِ الْبَغِيِّ وَلَعَنَ آكِلَ الرِّبَا وَمُوكِلَهُ وَالْوَاشِمَةَ وَالْمُسْتَوْشِمَةَ وَالْمُصَوِّرَ [ر: ۱۹۸۰]
په تصویرونو جوړوونکی باندې رسول الله ﷺ لعنت ویلې دې لکه چه په حدیث د باب کښې دی -

۹۵=بَاب مَنْ صَوَّرَ صُورَةً كُلِّفَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَنْ يَنْفُخَ فِيهَا الرُّوحَ وَلَيْسَ بِنَافِخٍ

[۵۶۱۸] حَدَّثَنَا عَيَّاشُ بْنُ الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى حَدَّثَنَا سَعِيدٌ قَالَ سَمِعْتُ النَّضْرَ بْنَ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ يُحَدِّثُ قَتَادَةَ قَالَ كُنْتُ عِنْدَ ابْنِ عَبَّاسٍ وَهُمْ يَسْأَلُونَهُ وَلَا يَذْكُرُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى سُئِلَ فَقَالَ سَمِعْتُ مُحَمَّدًا صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ صَوَّرَ صُورَةً فِي الدُّنْيَا كُلِّفَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَنْ يَنْفُخَ فِيهَا الرُّوحَ وَلَيْسَ بِنَافِخٍ [ر: ۲۱۱۲]
په اکثرو نسخو کښې دا ترجمة الباب شته او د اسماعیلی په نسخه کښې نشته دې - (۳)

قوله: سمعتُ النضر بن أنس بن مالك يحدث قتادة: حافظ بن حجر رحمه الله ددې سند وضاحت کوی او لیکی:

كان سعيد بن أبي عروبة كثير الملازمة لقتادة، فاتفق أن قتادة و النضر بن أنس اجتمعا، فحدث النضر قتادة، فسمعه سعيد و هو معه ... وقد تقدم تصريح البخاری بدن سعيدا سمع من النضر هذا الحديث الواحد (۴)
یعنی سعید بن ابی عروبه د قتاده خصوصی شاګرد وو او اکثر به ده سره وو، یو ځل اتفاق

---

۱) فتح الباری: ۱۰\۴۸۱، الابواب و التراجم: ۲\۱۱۲، اوجز المسالک، کتاب الاستیذان، باب ما جاء في الصور و التماثیل: ۱۵\۱۴۸)
۲) الابواب و التراجم: ۲\۱۱۲، شرح مسلم للنووی: ۲\۲۰۰، اوجز المسالک، کتاب الاستیذان، باب ما جاء فی الصور و التماثیل: ۱۵\۱۴۸)
۳) الابواب والتراجم: ۲\۱۱۲، فتح الباری: ۱۰\۴۸۲، عمدة القاری: ۲۲\۷۵)
۴) فتح الباری: ۱۰\۴۸۲)

سره نضر بن انس او قتاده دواړه يو ځائې ملاو شو ، نضر بن انس قتاده ته دا حديث بيان کړو په دې موقع سعيد هم موجود وو ، ده هم د نضر نه دا حديث واوريدو ، سعيد بن ابي عروبه صرف هم دا يو حديث د نضر بن انس نه اوريدلې دې لکه چه امام بخاري رحمه الله ددې تصريح وړاندې کړيده ، دې حديث اگر چه قتاده ته اوروى خو سعيد ئې هم اورى -

قوله: وهم يسألونه ولا يذكر النبي ﷺ: يعنى خلقو د ابن عباس ﷺ نه د مسائلو تپوس کولو (او هغه به جواب ورکولو خو) د رسول الله ﷺ ذکر ئې نه کولو يعنى خپله ئې فتوى ورکوله ، د حضور ﷺ څه حديث ئې نه ذکر کولو ، د اسماعيلى روايت کښې د دې تفصيل دې "فجعلوا يستفتونه، ويفتيهم ولم يذكر فيما يفتيهم النبي ﷺ" ([1])

قوله: حتى سُئل، فقال: سمعت ....: دوى نه د کومې مسئلې تپوس اوشو دې باره کښې دلته ابهام دې ، د ابن ابى عدى په روايت کښې د دې تفصيل دې ، ديکښې دى "....حتى أتاه رجل من أهل العراق، أراه نجارا، فقال: إني أصور هذه التصاوير، فما تأمرني؟ فقال: إذا سمعت ...." ([2]) يعنى يو عراقى سړې راغلو غالبا دې ترکان وو ، وې ويل : څه دا تصويرونه جوړوم ، د ستا دې باره کښې ما ته څه حکم دې او څه فتوى راکوئ ؟ نو بيا حضرت ابن عباس مرفوع حديث واورولو -

قوله: من صوّر صورة في الدنيا: دلته صورة عام دې د سا والا او د غير سا والا ټولو ته شامل دې ، خو د حديث په آخر کښې " كُلف أن ينفخ فيها الروح " نه د غير د سا والا تخصيص اوشو ، او معلومه شوه چه د " صورة " نه مراد د سا والا تصوير مراد دې -

قوله: كُلِّف يوم القيامة أن ينفخ فيها الروح وليس بنافخ: په روح اچولو به مصور مکلف کړې شي او دې به روح نه شي اچولې ، دې وجه نه دائمى عذاب کښې به مبتلاء وى .... د فاسق عذاب دائمى نه وى ، دې وجه نه داسې نصوص په زجر او توبيخ محمولولې شي ، حقيقى معنى نه وى مراد ، لکه چه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى :

والجواب أنه يتعين تأويل الحديث على أن المراد به الزجر الشديد بالوعيد بعقاب الكافر، ليكون أبلغ في الارتداع، وظاهره غير مراد ([3])

مسئله د تصوير :امام بخاري رحمه الله په دې بابونو کښې د تصوير په حرمت باندې څو احاديث بيان کړيدى ، دې وجه نه د جمهورو عالمانو او د فقهاء د اسلام په نزد د سا والا تصوير جوړول حرام او په کبائرو کښې دې ، برابره خبره ده چه هغه د سورى والا د مجسمې په شکل وى يا د دې سورې نه وى - ([4])

---

[1]) فتح الباري : ۱۰\۴۸۲)

[2]) فتح الباري : ۱۰\۴۸۲)

[3]) فتح الباري : ۱۰\۴۸۳)

[4]) شرح مسلم للنووى، كتاب اللباس، باب تحريم تصوير صورة الحيوان : ۲\۱۹۹ ...[بقيه برصفحه آئنده....

تصوير جوړول خو مطلقا په تمامو صورتونو كښې حرام دى ، دارنګه د كور په ديوالونو، په جامو او په نورو اوچتو ځايونو باندې تصوير لګول حرام دى ... هو كه داسې ځائې وى چه هلته سرې كښيني . ګرځي يا ځملى نو چه دا ځايونه د امتهان او د تحقير دى نو دې وجه نه اكثر عالمان دې صورت كښې تصور ساتلو ته حرام نه وائى لكه علامه نووى ليكى :

تصوير صورة الحيوان حرام شديد التحريم و هو من الكبائر، سواء صنعه بما يمتهن أو بغيره فصنعته حرام بكل حال ، لأن فيه مضاهاة لخلق الله ، و أما اتخاذ المصور فيه صورة حيوان ، فإن كان معلقا على حائط أو ثوبا ملبوسا او عمامة و نحو ذالك مما لا يعد ممتهنا ، فهو حرام ، وإن كان فى بساط يداس و وسادة و نحوها مما يمتهن فليس بحرام ..... و لا فرق فى هذا كله بين ما له ظل و ما لا ظل له ، هذا تلخيص من مذهبنا فى المسئلة ، و بمعناه قال جماهير العلماء من الصحابة و التابعين و من بعدهم ، و هو مذهب الثورى و مالك و أبى حنيفة وغيرهم (۱)

مرداوى په الانصاف كښې (۲) او ابن قدامه په " المغنى " كښې د حنابله هم دا مسلك نقل كړيدې (۳) د احنافو حضراتو هم دا مسلك دى ، علامه عينى ، علامه شامى ددې تصريح كړيده (۴) امام محمد رحمه الله په موطاء كښې ليكى :

و ما كان فيه من تصاوير من بساط يبسط أو فراش يفترش أو وسادة ، فلا بأس بذلك ، وإنما يكره من ذلك فى الستر و ما ينصب نصبا ، و هو قول أبى حنيفة و العامة من فقهائنا (۵)

يعنى بستره او تكيه وغيره باندې تصوير كيدو كښې څه حرج نشته ، او په پردو او په هغه څه چه هغه اودرولې كيږى په هغې تصويرونه مكروه دى ، د امام ابوحنيفه او د عامو فقهاءو هم دا مسلك دې -

د مالكى حضراتو نه مختلف روايتونه دى ،د سورى والا مجسم تصوير په حرمت خو د دوى اتفاق دې . لكه چه د بعض خلقو مجسمې په طور د يادګار جوړيږى ، داسې مجسمې

...بقيه ازحاشيه گذشته]أوجز المسالک ، كتاب الإستيذان . باب ما جاء فى الصور و التماثيل : ۱۵\۱۴۰، المغنى لابن قدامة ، كتاب الوليمة ، وجوب الإنكار على ما يصنع فى الولائم من المنكرات : ۷\۲۱۵، ۲۱۶ شرح الزرقانى : كتاب الاستيذان . باب ما جاء فى الصور و الشمائل : ۴\۳۶۸ . البحرالرائق . كتاب الصلوة . باب ما يفسد الصلاة و ما يكره فيها : ۲\۲۷)

۱) شرح مسلم للنووى فى كتاب اللباس . باب تحريم تصوير صورة الحيوان الخ : ۲\۱۹۹)

۲) الانصاف : ۱\۴۷۴)

۳) المغنى لابن قدامة.كتاب الوليمة وجوب الإنكار على ما يصنع فى الولائم من المنكرات: ۷\۲۱۵-۲۱۶)

۴) عمدة القارى : ۲۲\۷۰ . الدر المحتار ، كتاب الصلوة ، مطلب مكروهات الصلاة : ۱\۴۷۹ . البحر الرائق . كتاب الصلوة . باب ما يفسد الصلوة و ما يكره فيها : ۲\۲۷ . إكما إكمال المعلم للأبى . كتاب اللباس . باب لاتدخل الملائكة .... ۵\۳۹۴)

۵) الموطاء لإمام محمد . كتاب الإستيذان باب التصاوير و الجرس و ما يكره منها . ص ۳۸۲)

بالاتفاق حرام دی . خو چه په کاغذ یا په جامو وغیره تصویر وی چه ذ هغې سورې نه وی .
دیکښې د دوی په نزد اختلاف دې . ابن القاسم وغیره دا جائز ګرځوی (۱) بعض دیته حرام
خو اکثر مالکی عالمان دیته مکروه وائی - (۲)
حاصل دا چه د ائمه ثلاثه په نزد تصویر که مجسم وی او که غیر مجسم دا حرام دې . د
مالکیانو په نزد مجسم خو حرام دې ، خو غیر مجسم د اکثرو مالکیانو په نزد مکروه دې ،
د بعضو په نزد جائز دې -

د غیر مجسم تصویر د جواز دلائل چه کوم حضرات غیرمجسم تصویر ته جائز وائی هغوی
په صحیح مسلم کښې د زید بن خالد د روایت نه استدلال کوی چه کوم دوی د بسر بن
سعید وړاندې بیان کړې وو

إن زيد بن خالد الجهني حدثه و مع بسر عبيد الله الخولاني ، أن أبا طلحة حدثه أن رسول الله صلى الله عليه و
سلم قال : لاتدخل الملائكة بيتا فيه صورة ، قال بسر : فمرض زيد بن خالد ، فعدناه ، فإذا نحن في بيته بستر
فيه تصاوير ، فقلت لعبيد الله الخولاني : ألم يحدثنا في التصاوير ؟ قال : إنه قال " إلا رقما في ثوب " ألم تسمعه ؟
قلت : لا ، قال : بلى ، قد ذكر ذلك (۳)

دې روایت کښې تصریح ده چه د تصاویرو د حرمت د حکم نه هغه تصویر چه کوم په جامو
کښې وی هغه ترینه مستثنی دې او زید بن خالد په خپل روایت کښې د دې استثناء ذکر
کړیدې
دارنګه یو بل حدیث امام ترمذی رحمه الله په کتاب اللباس کښې د عبید الله بن عبد الله
بن عتبه نه نقل کړیدې چه دې د حضرت ابو طلحه انصاری ﷺ بیمار پرسئ دپاره لاړو ،
هلته سهل بن حنیف هم موجود وو ، حضرت ابو طلحه یو سړې رااوبللو او د لاندینه ئې یو
څادر لرې کولو دپاره اوویل ، سهل اوویل ، دا ولې لرې کوئ ، نو حضرت ابو طلحه اوویل
: "لأن فيه تصاوير ، وقد قال فيه النبي ﷺ ما قد علمت" سهل اوویل : " أولم يقل : إلا ما كان رقما في ثوب"
یعنی رسول الله ﷺ خو په جامو چه کوم تصویر لګیدلې وی هغه مستثنی کړیدې . نو
حضرت ابوطلحه اوویل : "بلى ولكنه أطيب لنفسي" (۴) أخرجه الترمذي في كتاب اللباس باب ما جاء في
الصورة : ۴\۲۳۰ (رقم الحديث : ۱۷۵) یعنی رسول الله ﷺ اګر چه ددې استثنی کړیده خو ما ته دا
ښه لګي چه څه دا لرې کړم
جمهور ددې دواړو روایتونو دا جواب ورکوی چه دیکښې د " رقما في ثوب " نه د غیر
جاندار تصویرمراد دې ، د جاندارنه دې مراد ، په پرده باندې د ساوالا د تصویر په باره کښې
دلته بخاری کښې روایت تیر شویدې ، چه رسول الله ﷺ دیته د رانوتلو نه انکار اوکړو -

۱) إكمال إكمال المعلم . باب لاتدخل الملائكة بيتا فيه صورة و لا كلب : ۵\۳۹۴)
۲) إكمال إكمال المعلم . باب لاتدخل الملائكة بيتا فيه صورة و لا كلب : ۵\۳۹۴)
۳) رواه مسلم في كتاب اللباس والزينة،باب تحريم تصوير صورة الحيوان ۱: ۳\۱۶۶۶ (رقم الحديث : ۲۱۰۶)
۴) اخرجه الترمذي في كتاب اللباس . باب ماجاء في الصورة ۴| ۲۳۰ (رقم الحديث : ۱۷۵)

د کیمرې د تصویر حکم : د نن صبا د کیمرې د تصویر چه ترکومې تعلق دې نو ددې باره کښې اګر چه د مصر بعض عالمانو د جواز فتوی ورکړیده [۱] لکه د مصر یو مفتی علامه الشیخ محمد بخیت د دې په جواز یوه رساله لیکلې ده چه د هغې نوم دې " الجواب الشافی فی اباحة التصویر الفوتوغرافی " دارنګه اوګورئ " فقه السنة للسید سابق، التصویر، الصور التی لا ظل لها: ۳/ ۵۰۱) خو د جمهورو مفتیانو فتوی ددې په عدم جواز ده - [۲] خو د ضرورت ځایونه دینه مستثنی دی ، مثلا شناختی کارډ ، پاسپورټ وغیره دپاره تصویر یو ضرورت جوړ شویدې ، امام محمد رحمه الله په سیر کبیر کښې فرمائی " وإن تحققت الحاجة له إلی إستعمال السلاح الذی فیه تمثال فلا بأس بإستعماله " (یعنی کُه د داسې اسلحې ضرورت راپیښ شی چه دیکښې تصویر دې نو دا استعمالولې شی) [۳] علامه سرخسی رحمه الله ددې علت بیانوی او لیکی " لأن مواضع الضرورة مستثناة من الحرمة کما فی تناول المیتة " (ځکه چه د ضرورت مواقع د حرمت نه مستثنی دی ، مثلا د ضرورت په وخت د مردار ښناور خوراك اجازت شته) [۴]

د ټي وي او د ویډیو او د کمپیوټر د تصویر حکم :اوس پاتې دې د ټیلي ویژن ، د ویډیو او د کمپیوټر تصویر.دې باره کښې جمهور مفتیان فتوی د عدم جواز ورکوی [۵] دوی وائی چه په ټي وی باندې د راتلونکی تصویر هم هغه حکم دې چه کوم د نورو عامو تصویرونو دې - خو بعض عالمان وائی چه دا د تصویر په حکم کښې نه دې ، بلکه دا عکس دې چه د شعاګانو او د لهرونو په ذریعه په یو جدید تیکنیك سره محفوظ کیږی ، دې وجه نه په دې د تصویر وعیدونه به نه جاری کیږی - [۶]

دا اختلاف په هغه صورت کښې دې چه کله په ټی وی کښې او په ویډیو کښې او په کمپیوټر کښې او په سی ډیز کښې د راتلونکی او محفوظ کیدونکی تصویر کښې څه بل شرعی قباحت نه وی نو جمهور ددې د عدم جواز او بعض عالمان ددې د جواز قائل دی -

---

[۱] د مصر یومفتی علامه الشیخ محمد بخیت ددې په جواز باندې یوه رساله لیکلې ده چه دهغې نوم دې: الجواب الشافی فی اباحة التصویر الفوتوغرافی،، دغسې اوګورئ: فقه السنة للسید سابق، التصویر، الصور التی لاظل لها: ۳/ ۵۰۱.

[۲] کفایت المفتی ، کتاب الحظر والإباحة ، بحث فوټو ګرافی پیشه حرامه ده : ۹\۲۴۳)

[۳] السیر الکبیر مع شرحه : ۲\۲۷۸)

[۴] شرح السیر الکبیر : ۲\۲۷۸)

[۵] فتاوی حقانیه ،باب التصاویر ، جدید آلات کا حکم : ۲ \ ۴۳۲ ، احسن الفتاوی : ۸ \ ۲۸۹ ، ۳۰۰ ، فتاوی محمودیه : ۵ \ ۱۶۹ ، النهضة الإصلاحیة للشیخ مصطفی الحامی : ۲۶۴ ، ۲۶۵)

[۶] خو په دې اشکال شویدې چه په پرده باندې راتلونکې تصویر اګر چه عکس دې خو ددې نیګیټیو (negative) تصویر دې دې وجه نه دا د دې خبرې ذریعه جوړیږی چه دې لره په کاغذ باندې د یو شکل په صورت کښې راولی او د ذریعه حکم هم هغه وی چه کوم دینه د حاصلیدونکې مقصود وی،ماکان سببا لمحظور فهو محظور، ردالمختارعلی الدرالمختار ،کتاب الحظر والإباحة : ۶\ ۳۵۰)

خو که دیکښې منکرات وی او د نورو شرعی حدونو خیال نه وی ساتلې شوې نو دا بالاتفاق ناجائز او حرام دی - [1]

نن صبا په دنیا کښې چه د تی وی څومره چینلې هم دی ، دوی کښې څمونږ د علم مطابق یو هم داسې نشته دې چه دیکښې څه شرعی قباحت نه وی ، د غیر محرم د تصویر نه خو یو چینل هم خالی نه دې ، دې وجه دا په هر حال بالاتفاق ناجائز دی ، خو کمپیوټر ، سی ډیز او ویډیو چه اسلامی وی او د نورو شرعی قباحتونو نه پاك په کښې څه پروګرام مرتب کړې شی ، نو د بعضې عالمانو په نزد د دې د جواز لاره شته دې

۹۲=بَابُ الْإِرْتِدَافِ عَلَى الدَّابَّةِ

[۵۶۱۹] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا أَبُو صَفْوَانَ عَنْ يُونُسَ بْنِ يَزِيدَ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكِبَ عَلَى حِمَارٍ عَلَى إِكَافٍ عَلَيْهِ قَطِيفَةٌ فَدَكِيَّةٌ وَأَرْدَفَ أُسَامَةَ وَرَاءَهُ [ر:۲۸۲۵]

د ارتداف معنی ده یو سړې پسې بسوریدل ، امام بخاری رحمه الله دې باب کښې د دې جوازبیانوی ، حدیث دباب کښې دی چه رسول الله ﷺ د خر په کته (الرحل هغه کتې ته وائی چه هغه خالص د ناستې دپاره جوړ وی او لرګی په کښې لګیدلې وی خو پښتو کښې چه په خر اچولې کیږی نو هغې ته کته وائی ځکه ئې مونږ ترجمه په کته سره اوکړه) سور ناست وو په دوی د فدك څادر وو ، او دوی څان پسې اسامه کښینولې وو -

إكاف : کتې ته وائی - قطیفة : څادر ، فَدَكِية : فدك ته منسوب دې ، خیبر سره نزدې د یو ځائې نوم دې - [2]

د باب د کتاب سره مناسبت :① کتاب اللباس سره ددې باب د مناسبت په باره کښې علامه قسطلانی رحمه الله لیکی : ولم یظهر لی وجه دخول هذا الباب و ما بعده بکتاب اللباس ، لکن قال فی الکواکب : الغرض منه الجلوس علی لباس الدابة ، وإن تعدد أشخاص الراکبین علیها ، و التصریح بلفظ "القطیفة" مشعر بذلك کما قال فلیتأمل[3]

---

[1] لکه داسې پروګرامونه چه په ډانسونو ، په مسخرو او بې ضرورته په خنده خوندئ او موسیقئ وغیره باندې مشتمل وی نو ددې کتلو کښې د وخت ضیاع هم ده او ارتکاب د حرامو هم او د فقهاء کرامو د تصریح مطابق داسې پروګرامونو کښې شرکت کول دا کتل اوریدل ټول ناجائز او حرام دی صاحب د درمختار فرمائی : و فی السراج : و دلت المسئلة أن الملاهی کلها حرام . و یدخل علیهم بلا إذنهم لإنکار المنکر ... قلت و فی البزازیة : استماع صوت الملاهی کضرب قصب و نحوه حرام لقوله علیه الصلوة و السلام : " استماع الملاهی معصیة ، و الجلوس علیها فسق و التلذذ بها کفر " أی بالنعمة ، فصرف الجوارح إلی غیر ماخلق لأجله کفر بالنعمة لا شکر ، فالواجب کل الواجب أن یجتنب .... (الدر المختار مع رد المحتار ، کتاب الحظر و الإباحة : ۶\۳۴۹)

[2] عمدة القاری : ۲۲\۷۶ ، إرشاد الساری : ۱۲\۶۳۲)

[3] إرشاد الساری : ۱۲\۶۳۲)

یعنی ددې باب په کتاب اللباس کښې د ذکر کولو څه وجه ما ته ښکاره نه شوه ، خو صاحب د کواکب لیکلې دی ، چه دې باب نه مراد د سورلئ په جامه باندې کښیناستل دی ، اګر چه ناست کسان زیات وی ، د لفظ د لطیفة نه داخبره په فهم کښې راځی -
علامه کرمانی رحمه الله هم دا خبره لیکلې ده (۱)

② حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ما ته ددې باب دلته رواړو کښې اشکال وو ، خو بیا ما ته دا توجیه په فهم کښې راغله چه روستو ناسته کښې د غورزیدو خطره وی نو امام بخاری رحمه الله دې باب سره دیته اشاره کوی چه د غورزیدو احتمال د روستو ناستې دپاره مانع نه دې ، دې وجه نه ددې احتمال سره هم په طور د ردیف ناسته جائز ده ، خو چه کوم په طور د ردیف کښینی نو هغه دې محتاط اوسی ، کُه اوغورزیږی نو د ستر او د لباس د حفاظت دپاره دې چوکس وی - (۲)

③ حضرت شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا رحمه الله په " الابواب و التراجم " کښې فرمائی : و الأوجه عند هذا العبد الضعیف أنه قد تقدم أن المصنف رحمه الله ذکر عدة أبواب فی کتاب اللباس ما یتعلق بالزینة کما تقدم فی مبدأ هذا الکتاب ، و لما کانت هذه الأبواب علی الظاهر ما یخالف الزینة ، فذکرها بعد ذکر أبواب الزینة استطرادا ، فإن الضد أقرب حطورا بالبال مع ضده - (۳)

د دې حاصل دا دې چه امام بخاری رحمه الله په کتاب اللباس کښې څو بابونه د زینت سره متعلق هم ذکر کړیدی ، اوس دلته داسې بابونه ذکر کوی چه کوم د زینت خلاف دی ، دوه درې کسان په یو سورلئ او په یو څناور باندې کښیناستل د زینت خلاف دی ، او د ضد په ذکر کولو سره په خبره پوهیدل ښه راځی و بضدها تتبین الاشیاء نو ګویا دا ابواب ئې په وجه د نسبت د تضاد سره بیان کړیدی

۹۷=بَابُ الثَّلَاثَةِ عَلَى الدَّابَّةِ

[۵۶۳۰] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ لَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ اسْتَقْبَلَهُ أُغَيْلِمَةُ بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَحَمَلَ وَاحِدًا بَيْنَ يَدَيْهِ وَالْآخَرَ خَلْفَهُ [ر: ۱۷۰۳]

د امام بخاری رحمه الله مقصد دا دې چه په یو څناور درې کسان هم سوریدې شی ، په شرط د دې چه څناور کښې ددې طاقت او قدرت وی - (۴)
اګر چه بعض روایتونو کښې ددینه منع راغلې ده (۵) خو دا رویتونه متکلم فیها دی ، قابل

---

(۱) شرح الکرمانی : ۲۱\۱۴۱)
(۲) فتح الباری : ۱۰\۴۸۴)
(۳) الأبواب و التراجم : ۲\۱۱۲)
(۴) الابواب والتراجم : ۲\۱۱۲ ، إرشاد الساری : ۱۲\۶۳۳ ، عمدة القاری : ۲۲\۷۷)
(۵) أخرجه الطبرانی عن جابر : نهی رسول الله صلی الله علیه و سلم أن یرکب ...[بقیه برصفحه آئنده....

د استدلال نه دی او که دا قابل د احتجاج تسلیم هم کړې شی نو بیا به دا په هغه صورت محمولیږی چه کله ځناور کښې د درې سرو د اوړلو طاقت نه وی [۱]

قوله: استقبله أغيلمة بني عبد المطلب: أُغَيلِمة د غلمة تصغير دې . غلمة د غلام جمع ده ، دا تصغير خلاف قياس دې د قياس مطابق غليمة كيدل پكار وو [۲] د فتح مكه په موقع باندې د بنو عبد المطلب څو ماشومان د دوی استقبال دپاره راغلل . رسول الله ﷺ دوی کښې یو وړاندې او بل خان پسې کښینولو . راتلونکې باب کښې د دوی نومونه هم راغلې دی چه قثم بن عباس ئې وړاندې او فضل بن عباس ئې روستو کښینولو -

۹۸=باب حَمْلِ صَاحِبِ الدَّابَّةِ غَيْرَهُ بَيْنَ يَدَيْهِ

وَقَالَ بَعْضُهُمْ صَاحِبُ الدَّابَّةِ أَحَقُّ بِصَدْرِ الدَّابَّةِ إِلَّا أَنْ يَأْذَنَ لَهُ

[۵۶۳۱] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ ذُكِرَ شَرُّ الثَّلَاثَةِ عِنْدَ عِكْرِمَةَ فَقَالَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ أَتَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ حَمَلَ قُثَمَ بَيْنَ يَدَيْهِ وَالْفَضْلَ خَلْفَهُ أَوْ قُثَمَ خَلْفَهُ وَالْفَضْلَ بَيْنَ يَدَيْهِ فَأَيُّهُمْ شَرٌّ أَوْ أَيُّهُمْ خَيْرٌ

د سوارلۍ مالك كه غواړی نو بل وړاندې او په خپله روستو كښيناستې شی . د امام بخاری رحمه الله مقصد دادې چه د سوارلۍ مالك د مخكښې ناستې زيات حقدار دې . خو كه دې په خپله خوشحالۍ سره دا حق بل چا ته وركول غواړی نو وركولې شی -

قوله: وقال بعضهم: صاحب الدابة أحق بصدر الدابة إلا أن يأذن له: د بعض نه مراد امام شعبی دې ، ابن ابی شیبه د دوی دا تعلیق نقل کړیدې ، [۳] امام ابوداود او امام ترمذی دا مرفوع هم نقل کړیدې ، دیکښې دی

بينما رسول الله صلى الله عليه و سلم إذ جاءه رجل و معه حمار ، فقال : يارسول الله ، اركب ، و تأخر الرجل ، فقال : لا أنت أحق بصدر دابتك إلا أن تجعله لى و قال ، قد جعلته لك فركب [۴] يعنی رسول الله ﷺ پیاده روان وو چه دیکښې یو سړې راغلو ، ده سره خر وو ، وې ویل اے د الله رسوله په دې سور شئ او په خپله روستو شو ، حضور اوفرمائل : نه ته په خپله سوارلۍ باندې د وړاندې زيات حقدار ئې ، خو كه ته په خپله رضامندئ سره دا حق ما ته راكړې نو بيا صحيح ده ،

...بقیه ازحاشیه گذشته] ثلاثة على الدابة : و سنده ضعيف . و أخرج الطبرانى عن أبى سعيد رفعه " لا يركب الدابة فوق اثنين " و فى سنده لين . و أخرج الطبرى عن على قال:" إذا رأيتم ثلاثة على دابة فارجموهم حتى ينزل أحدهم " (فتح البارى : ۱۰\۴۸۵)

[۱] إرشاد السارى : ۱۲\۶۳۳ . عمدة القارى : ۲۲\۷۷ . فتح البارى : ۱۰\۴۸۵)

[۲] شرح الكرمانى : ۲۱\۱۴۱ . فتح البارى : ۱۰\۴۸۵ . عمدة القارى : ۲۲\۷۷)

[۳] فتح البارى : ۱۰\۴۸۵ . إرشاد السارى : ۱۲\۶۳۳ . عمدة القارى : ۲۲\۷۷)

[۴] رواه ابوداود : فى كتاب الجهاد . باب رب الدابة أحق بصدرها : ۳\۲۸ (رقم الحديث : ۲۵۷۲) و الترمذى فى كتاب الأدب . باب ما جاء أن الرجل أحق بصدر دابته : ۵\۹۹ (رقم الحديث : ۲۷۷۳)

نو ده اوويل ما دا حق تا ته درکړو ، نو بيا دوی سواره شو -
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه د کوم سړی په دې روايت کښې ذکر دې هغه حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه وو -
ابن العربي په شرح د ترمذی کښې ليکلي دی چه سړې په خپله سوارلئ په وړاندې حصه د سوريدو زيات مستحق ځکه دې چه دا يو شرافت دې او دا شرافت د مالك حق دې ، لکه چه د چلولو حق ده ته دې ، چه تيز ئې چلوی او که رو ، د تصرف دا اختيار مالك ته وی- (۱)
قوله: ذُكِرَ شَرُّ الثلاثة عند عكرمة: د عکرمه په خوا کښې چه په يو سوارلئ باندې د درې سړو د سوريدو د بد والی ذکر اوکړو چه په يو سوارلئ باندې د دريو سړو سوريدل بده خبره ده ، نو دوی اوويل : چه رسول الله ﷺ د خپل ځان نه وړاندې قُثَم او د ځان نه روستو فضل کښينولې وو يا ئې فضل وړاندې او قُثَم روستو کښېنولې وو نو دوی کښې کوم يو ښه دې او کوم يو بد ... عکرمه رد اوکړو چه د دريو ناسته بده نه ده ، د حضور ﷺ نه ثابت ده ، "شَرُّ الثلاثة" کښې اضافت لفظيه دې ، دا د الحسن الوجه د قبيلې نه دې ، (۲)
علامه قسطلانی رحمه الله ليکي -
وحاصل المعنى انهم ذكروا عند عكرمة أن ركوب الثلاثة على الدابة شر و ظلم ، و أن المقدم شر أو المؤخر، فأنكر عكرمة ذلك مستدلا بفعله ﷺ، إذ لا يجوز نسبة الظلم إلى أحدهما ، لأنهما ركبا بحمله إياهما (۳)
يعنى د عکرمه خوا کښې چا په يو سوارلئ باندې د دريو کسانو د سوريدو ذکر اوکړو چه دا ظلم او بد دې او وړاندينئ يا روستنئ بد دې ، نو عکرمه ددې انکار اوکړو ، او استدلال کښې ئې د رسول الله ﷺ عمل پيش کړو ، چه دوی دا دواړه خپل ځان پسې کښېنولې وو ، دوی کښې د چا طرف ته هم د ظلم نسبت نه شی کيدې
دا حديث په صحاح سته کښې صرف امام بخاری رحمه الله رانقل کړيدې - (۴)

۹۹=بَاب إِرْدَافِ الرَّجُلِ خَلْفَ الرَّجُلِ

[۵۶۲۲] حَدَّثَنَا هُدْبَةُ بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ بَيْنَا أَنَا رَدِيفُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ إِلَّا أُخِرَةُ الرَّحْلِ فَقَالَ يَا مُعَاذُ بْنَ جَبَلٍ قُلْتُ لَبَّيْكَ رَسُولَ اللَّهِ وَسَعْدَيْكَ ثُمَّ سَارَ سَاعَةً ثُمَّ قَالَ يَا مُعَاذُ قُلْتُ لَبَّيْكَ رَسُولَ اللَّهِ وَسَعْدَيْكَ ثُمَّ سَارَ سَاعَةً ثُمَّ قَالَ يَا مُعَاذُ قُلْتُ لَبَّيْكَ رَسُولَ اللَّهِ وَسَعْدَيْكَ قَالَ هَلْ تَدْرِي مَا حَقُّ اللَّهِ عَلَى عِبَادِهِ قُلْتُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ حَقُّ اللَّهِ

---
۱) فتح الباری : ۱۰\ ۴۸۶)
۲) عمدة القاری : ۲۲\ ۷۸ ، إرشاد الساری : ۱۲\ ۶۳۴ ، فتح الباری : ۱۰\ ۴۸۶)
۳) إرشاد الساری : ۱۲\ ۶۳۴)
۴) عمدة القاری : ۲۲\ ۷۸ ، إرشاد الساری : ۱۲\ ۶۳۴)

عَلَى عِبَادِهِ أَنْ يَعْبُدُوهُ وَلَا يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا ثُمَّ سَارَ سَاعَةً ثُمَّ قَالَ يَا مُعَاذُ بْنَ جَبَلٍ قُلْتُ لَبَّيْكَ رَسُولَ اللَّهِ وَسَعْدَيْكَ فَقَالَ هَلْ تَدْرِي مَا حَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللَّهِ إِذَا فَعَلُوهُ قُلْتُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ حَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللَّهِ أَنْ لَا يُعَذِّبَهُمْ [ر:۲۷۰۱]

سرې په سرې پسې کښیناستې شي په بعضې نسخو کښې دلته باب نشته دې ، په روایت د باب کښې حضرت معاذ بن جبل ﷛ فرمائی چه څه د رسول الله ﷺ پسې سور ووم ، څما او د دوی په مینځ کښې د زین د لرګو نه ماسوا بل څیز حائل نه وو ، دوی ﷺ اوفرمائل : اے معاذ ، ما اوویل : لبیك رسول الله و سعدیك ، بیا د لږ ساعت تلو نه پس ئې اوفرمائل : اے معاذ ما اوویل : لبیك رسول الله و سعدیك ، بیا د لږ ساعت تلو نه پس يې اوفرمائل : اے معاذ ، ما اوویل : لبیك رسول الله و سعدیك ، دوی اوفرمائل : تا ته پته شته چه د الله تعالی په خپل بنده څه حق دې ، ما اوویل : " الله و رسوله اعلم " دوی اوفرمائل د الله تعالی حق په بنده دا دې چه د ده عبادت اوکړی او ده سره شرك اونکړی بیا د لږ ساعت تلو نه پس يې اوفرمائل : اے معاذ ، ما اوویل : لبیك رسول الله و سعدیك وې فرمائل : تا ته پته شته چه په الله تعالی د بنده څه حق دې چه کله دې دا کار اوکړی ما اوویل : الله و رسوله اعلم ، (الله او د ده رسول ښه پوهیږی) دوی اوفرمائل : د بنده حق په الله تعالی دا دې چه دې ده ته عذاب ورنکړی -

قوله: ماحق العباد على الله: علامه قسطلانی رحمه الله لیکی " هو من باب المشاكلة، وهو نوع من أنواع البديع الذى يحسن به الكلام، أو المراد به أنه حق شرعى لا واجب بالعقل كما تقول المعتزلة، وكأنه لما وعد به، ووعده الصدق، صار حقا من هذه الجهة، " (۱)

حاصل دا دې چه د الله په ذمه د هیڅ چا څه حق نشته دې دې وجه نه " حق العباد على الله " مشاکلتًا اوویلې شو چه دینه وړاندې حق الله على العباد ویلې شوې وو ، نو په کلام کښې ئې ددې شکل برقرار ساتلو دپاره حق العباد على الله اوویلې ، او یا دینه شرعي حق مراد دې، الله چه ددې وعده کړیده اود الله وعده خو ربښتیا وی،خپله وعده په هرحالت کښې پوره کوی، ګویا الله تعالی دا په خپله ذمه واجب کړیده ، په دې اعتبار سره ئې دیته حق اوویلې.

۱۰۰=بَاب إِرْدَافِ الْمَرْأَةِ خَلْفَ الرَّجُلِ ذَا مَحْرَمٍ

[۵۶۲۳] حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ صَبَّاحٍ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ عَبَّادٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ أَخْبَرَنِي يَحْيَى بْنُ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ أَقْبَلْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ خَيْبَرَ وَإِنِّي لَرَدِيفُ أَبِي طَلْحَةَ وَهُوَ يَسِيرُ وَبَعْضُ نِسَاءِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَدِيفُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ عَثَرَتِ النَّاقَةُ فَقُلْتُ الْمَرْأَةَ فَنَزَلْتُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهَا أُمُّكُمْ فَشَدَدْتُ الرَّحْلَ وَرَكِبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

(۱) إرشاد الساری : ۱۲ \ ۶۳۶)

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا دَنَا أَوْرَأَى الْمَدِينَةَ قَالَ آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ [ر:۲۹۱۹]
ښځه يا محرمه په سورلۍ کښې ځان پسې کښينولې شي ، دا د شرم او د حيا خلاف نه ده سنت کښې د دې اصل شته دې

فقلت : المرأة : " المرأة " په ترکيب کښې منصوب ده " أى احفظ المرأة " او مرفوع هم کيدې شي " أى وقعت المرأة " (۱)

۱۰۱= بَاب الِاسْتِلْقَاءِ وَوَضْعِ الرِّجْلِ عَلَى الْأُخْرَى

[۵۱۲۳] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ حَدَّثَنَا ابْنُ شِهَابٍ عَنْ عَبَّادِ بْنِ تَمِيمٍ عَنْ عَمِّهِ أَنَّهُ أَبْصَرَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَضْطَجِعُ فِي الْمَسْجِدِ رَافِعًا إِحْدَى رِجْلَيْهِ عَلَى الْأُخْرَى [ر:۴۶۳]

استلقاء ستونې ستغ ملاستې ته وائى ، کتاب اللباس سره ددې باب مناسبت بيانولو کښې حافظ ابن حجر رحمه الله ليکى : وجه دخول هذه الترجمة فى كتاب اللباس من جهة أن الذى يفعل ذلك لا يأمن من الإنكشاف ، ولا سيما الإستلقاء يستدعى النوم والنائم لا يتحفظ ، فكأنه أشار إلى أن من فعل ذلك ينبغى له أن يتحفظ لئلا ينكشف (۲)

حاصل دا دې چه ستونې ستغ ملاسته کښې د جامو اخوا ديخوا کيدو او د پردې د ښکاره کيدو يره وى ، امام بخارى رحمه الله ستونې ستغ څملاستونکى لره خبردارول غواړى چه د خپلو جامو خيال اوساتى -

قوله: ووضع الرّجل على الأخرى: ستونى ستغ ملاستې حالت کښې يو پښه په بله پښه اچول امام بخارى رحمه الله جائز ګڼرى په حديث د باب کښې ددې تصريح ده -

امام مسلم رحمه الله د حضرت جابر ﷺ نه حديث نقل کړيدې چه رسول الله ﷺ فرمائلې دى " لا يستلقين أحدكم ثم يضع إحدى رجليه على الاخرى " (۳) دې حديث کښې د ستونې ستغ ملاستې په حالت کښې د پښې دپاسه بله پښې اچولو نه ممانعت راغلې دې ، دا حديث يا خو د امام بخارى رحمه الله په نزد ثابت نه دې او يا ثابت دې خو امام دا منسوخ ګڼرى ، چه لنګ دې وهلې وى او يوه پښه راغونډه کړې اودرولې وى نو دې دپاسه بله پښه ايخودل مناسب نه دې . ديکښې د عورت د ښکاره کيدو ويره شته ، او که پښې خورې وى نو بيا څه باك نشته دې- (۴)

....

(۱) عمدة القارى : ۲۲ \ ۷۹ . إرشاد السارى : ۱۲ \ ۶۳۶)
(۲) فتح البارى : ۱۰ \ ۴۸۹)
(۳) رواه مسلم فى كتاب اللباس ، باب فى صنع الإستلقاء على الظهر..... : ۳ \ ۱۶۶۱ (رقم الحديث : ۲۰۹۹)
(۴) فتح البارى : ۱۰ \ ۴۸۹ ، عمدة القارى : ۲۲ \ ۷۹)

۸۱=كتاب الأدب

(الأحاديث: ۵۶۲۵-۵۸۶۲)

كتاب الادب په يو سل اته ويشت بابونو باندې مشتمل دې ، چه ديكښې دوه سوه پنځه پنځوست احاديث دى ، پنځه اويا احاديث معلق او باقى موصول دې ، يو دپاسه دوه سوه احاديث مكرر دى او نور په رومبى ځل ذكر شويدى ، كتاب الادب كښې د حضرات اصحابو او د تابعينو او د اسلافو يوولس آثار امام بخارى رحمه الله ذكر كړيدى -

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

۸۱--كتاب الادب

ادب نوم دې د ښو او د بهترئ د اختيارولو ، برابره خبره ده چه ددې تعلق د عمل سره وى او كه د خبرې سره ، ښه اخلاق كول ، د لويو احترام كول ، ورو سره شفقت كول ، تهذيب او ښه سړيتوب اختيارولو ته ادب وائى - (۱)

مولانا انور شاه كشميرى رحمه الله په فيض البارى كښې د ادب ترجمه په تميز (هوښيارتوب) سره كړيده - (۲)

محدثين حضرات په " كتاب الادب " كښې د رسول الله ﷺ هغه احاديث ذكر كوى چه انسان ته د معاشرتى ژوند اخلاق او آداب ، د رشتو او د رشته دارانو حقونه او او د تعلق ساتونكو سره د سلوك تعليم وركوى چه كوم سرور كائنات ﷺ انسانيت ته وركړيدى -

امام بخارى رحمه الله په صحيح بخارى كښې " كتاب الادب " ډير په تفصيل سره پيش كړيدې چه ديكښې دوى د شپږوشلو نه زيات بابونه قائم كړيدى -

۱=باب البر والصلة

وَقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حُسْنًا [العنكبوت:۸]

[۵۶۲۵] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ الْوَلِيدُ بْنُ عَيْزَارٍ أَخْبَرَنِي قَالَ سَمِعْتُ أَبَا عَمْرٍو الشَّيْبَانِيَّ يَقُولُ أَخْبَرَنَا صَاحِبُ هَذِهِ الدَّارِ وَأَوْمَأَ بِيَدِهِ إِلَى دَارِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْعَمَلِ أَحَبُّ إِلَى اللَّهِ قَالَ الصَّلَاةُ عَلَى وَقْتِهَا قَالَ ثُمَّ أَيٌّ قَالَ بِرُّ

---

(۱) عمدة القارى : ۲۲\۸۱ ، فتح البارى : ۱۰\۴۹۰ ، شرح الكرمانى : ۲۱\۱۴۶ ، الابواب و التراجم : ۲\۱۱۳ ، إرشاد السارى : ۱۲\۱۳)

(۲) فيض البارى : ۴\۳۸۵ ، الابواب و التراجم : ۲\۱۱۳)

الْوَالِدَيْنِ قَالَ ثُمَّ أَيٌّ قَالَ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنِي بِهِنَّ وَلَوِ اسْتَزَدْتُهُ لَزَادَنِي [ر:٥٠٤]

په هندوستانی نسخو کښې د "البر والصلة" الفاظ نشته دې ، امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې د مور پلار د تابعدارئ ، د اطاعت او د دوی سره ښه سلوك او د صله رحمئ بیان کړیدې -

ترجمة الباب کښې امام بخاری رحمه الله د قرآن کریم آیت (ووصینا الانسان بوالدیه حسنا) ذکر کړیدی ، دارنګه الفاظ په درې سورتونو کښې واقع دې سورت عنکبوت کښې دی (و وصینا الانسان بوالدیه حسنا و ان جاهداك لتشرك بی مالیس لك به علم) ([1]) په سورت لقمان کښې دی (و وصینا الانسان بوالدیه حملته امه وهنا علی وهن) ([2]) او سورت احقاف کښې دی (و وصینا الانسان حسنا حملته امه کرها و وضعته کرها) ([3])

دلته د سورت عنکبوت والا آیت کریمه مراد دې چه کوم د حضرت سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه د واقعه متعلق نازل شوې وو ، چه د دوی مور خوراك څښاك پریخودې وو چه د حضرت سعد نه ئې مطالبه وه چه دین اسلام پریږده ، حضرت سعد د دې دا مطالبه نه منله نو د سورت عنکبوت دا آیت نازل شو ([4]) چه د هغې حاصل دا دې چه د مور پلار اطاعت واجب دې ، خو په شرك او په خلاف شریعت امورو کښې د دوی اتباع نه دی کول پکار -

د حضرت سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه د مور نوم حمنه لیکلې شویدې ، او په هیڅ روایت کښې هم ددې د اسلام د راوړو ذکر نه ملاویږی ، ابن حجر رحمه الله لیکی "ولم أرفي شيء من الأخبار أنها أسلمت" ([5])

قوله: الوليد بن عيزار أخبرني : دیکښې د راوی نوم په صیغه مقدم کړې شویدې او دا جائز دې ، د عام اسلوب مطابق " اخبرنی الولید .... " کیدل پکار وو خو دلته " اخبرنی " ئې د نوم نه پس ذکر کړیدې ، شعبه دا اسلوب په کثرت سره استعمال کړیدې ([6]) د دوی شیخ ابو عمرو شیبانی دې ، د دوی نوم سعد بن ابی ایاس دې ، دې وائی ما ته ددې کور اوسیدونکی خبر راکړو او د حضرت عبد الله بن مسعود کور ته ئې اشاره اوکړه ، چه دوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس اوکړو چه کوم عمل افضل دې ؟ نو وے فرمائل : مونځ په خپل وخت کښې کول، تپوس ئې اوکړو بیا کوم یو؟ نووے فرمائل، د مور او پلار تابعداری کول او دوی سره ښه سلوك کول ، تپوس ئې اوکړو ، بیا کوم یو ؟ نو وے فرمایل : جهاد فی سبیل الله -

[1]) سوره عنکبوت ۸)
[2]) سوره لقمان ۱۴)
[3]) سورت احقاف ۱۵)
[4]) عمدة القاری : ۲۲ \ ۸۱)
[5]) فتح الباری : ۱۰ \ ٤۹۱)
[6]) فتح الباری : ۱۰ \ ٤۹۱ ، عمدة القاری : ۲۲ \ ۸۱ ، إرشاد الساری : ۱۳ \ ٤)

دا حديث هم دې متن او سند سره په "كتاب الصلاة" كښې په "باب فضل الصلاة لوقتها" كښې تير شويدې -

٢=بَاب مَنْ أَحَقُّ النَّاسِ بِحُسْنِ الصُّحْبَةِ

[٥٦٢٦] (١) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ عُمَارَةَ بْنِ الْقَعْقَاعِ بْنِ شُبْرُمَةَ عَنْ أَبِي زُرْعَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَنْ أَحَقُّ النَّاسِ بِحُسْنِ صَحَابَتِي قَالَ أُمُّكَ قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ ثُمَّ أُمُّكَ قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ ثُمَّ أُمُّكَ قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ ثُمَّ أَبُوكَ وَقَالَ ابْنُ شُبْرُمَةَ وَيَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ حَدَّثَنَا أَبُو زُرْعَةَ مِثْلَهُ

د ښه ملګرتيا او د ښه سلوك د ټولو نه زيات حقدار څوك دى ، امام بخارى رحمه الله په دې باب كښې د دوى ذكر كړيدې

د مور حق د اطاعت او د خدمت زيات دى : روايت كښې دي چه يو سړى د رسول الله ﷺ په خدمت كښې حاضر شو او عرض ئې اوكړو اے د الله رسوله ، څما د ښه سلوك څوك زيات حقدار دى ؟ نو وې فرمائل : د ستا مور ، عرض ئې اوكړو : بيا څوك ؟ نو وې فرمائل : د ستا مور ، ده تپوس اوكړو : بيا څوك ؟ نو وې فرمائل : د ستا مور ، ده بيا تپوس اوكړو ، بيا څوك ؟ ..... نو وې فرمائل : د ستا پلار ،

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه دا راتلونكې سړې شايد حضرت معاويه بن حَيده وو ، ځكه چه امام بخارى رحمه الله په " الادب المفرد " كښې د دوى هم يو داسې حديث رانقل كړيدې - (٢)

خو علامه عينى د حافظ ددې خبرې سره اتفاق نه دې كړې ، دوى وائى چه د داسې څو واقعاتو ذكر په روايتونو كښې راغلې دې ، دې وجه نه دا ويل چه " الادب المفرد " په روايت كښې كوم نوم راغلې دې هغه د بخارى د باب په روايت كښې هم مراد دې څه معتمد خبره نه ده - (٣)

په روايت د باب كښې درې ځله رسول الله ﷺ د مور ذكر كړيدې چه دا زياته حقداره ده او په څلورم ځل ئې د پلار ذكر كړيدې - د بچى درې مراحل داسې دي چه ددې مشقت صرف مور تيروى ، يو حمل ، دويم وضع د حمل ، او دريم رضاعت ، قرآن مجيد دې درې واړو مراحلو ته اشاره كړيده ﴿وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ إِحْسَانًا حَمَلَتْهُ أُمُّهُ كُرْهًا وَوَضَعَتْهُ كُرْهًا وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ

(١) ٥٦٢٦) الحديث أخرجه مسلم فى البر و الصلة و الآداب ، باب بر الوالدين و أنهما أحق به : ٤ \ ١٩٧٤ (رقم الحديث : ٢٥٤٨) و أخرجه ابن ماجه فى كتاب الوصايا ، باب النهى عن الإمساك فى الحياة و التبذير عند الموت : ٢ \ ٩٠٣ (رقم الحديث : ٢٧٠٦)

(٢) فتح البارى : ١٠ \ ٤٩٢ ، ارشاد السارى : ١٣ \ ٥)

(٣) عمدة القارى : ٢٢ \ ٨٢)

ثَلٰثُوْنَ شَهْرًا﴾ مور خو مياشتې د حمل بوج اوچتوی ، د ولادت سختې تيروی ، بيا ورته پئې ورکوی او په زمانه د رضاعت کښې ئې نګهبانی کوی ، دې آيت کښې د درې واړو مرحلو ذکر دې - (۱)
ددې حاصل هم دا دې چه د مور پلار په حق د اطاعت او د خدمت کښې کُه څه مقابله راشی نو د مور حق به مقدم وی او دېته به ترجيح ورکولې کيږی
قاضی عياض فرمائی چه دجمهورو عالمانو مسلك هم دا دې چه اطاعت کښې د مور حق ته د پلار په حق ترجيح ورکولې کيږی (۲) بلکه حارث محاسبی په دې اجماع نقل کړيده (۳)
خو دبعض عالمانو مسلك دا دې چه د دواړو حق برابر دې ، حافظ ددې نسبت بعض شوافعو ته کړيدې - (۴)
شارح د بخاری ابن بطال نقل کړی دی چه د امام مالك نه تپوس اوشو چه پلار دې رابلی او مور دې منع کوی ، داسې کښې څه حکم دې ، وې فرمائل : " د پلار اطاعت اوکړه او د مور د نافرمانۍ نه بچ شه " - (۵)
هم دا مسئله چه کله د ليث نه اوپوښتلې شوه نو دوی اوويل : " د مور خبره دې اومنی ځکه چه ددې د اطاعت حق زيات دې " - (۶)
امام احمد او نسائی د حضرت عائشه يو روايت رانقل کړيدې او حاکم د دې تصحيح کړيده - حضرت عائشه ﷺ فرمائی ما تپوس اوکړو " په ښځې د ټولو نه زيات حق د چا دې ؟ نو وې فرمائل : د خاوند ، بيا ما تپوس اوکړو په سړی زيات حق د چا دې ؟ نو وې فرمايل : د مور - (۷)

قوله: وقال ابن شبرمة ويحي بن أيوب: حدثنا أبوزرعة مثله: عبد الله بن شبرمه د کوفې يو مشهور فقيه او قاضی دې ، د دوی او د يحي روايت امام بخاری رحمه الله په " الادب المفرد " کښې موصول نقل کړيدې - (۸)

---

۱) سورت احقاف ۱۵\
۲) فتح الباری : ۱۰\۴۹۲ ، الابواب والتراجم : ۲\۱۱۳)
۳) شرح صحيح البخاری لابن بطال : ۹\۱۹۱ ، فتح الباری : ۱۰\۴۹۳ ، عمدة القاری : ۲۲\۸۳ ، الابواب و التراجم : ۲\۱۱۳)
۴) فتح الباری : ۱۰\۴۹۲ ، الابواب و التراجم : ۲\۱۱۳ ، ارشاد الساری : ۱۳\۵)
۵) شرح البخاری لابن البطال : ۹\۱۹۰ ، فتح الباری : ۱۰\۴۹۳)
۶) شرح البخاری لابن بطال : ۹\۱۹۰)
۷) فتح الباری : ۱۰\۴۹۳)
۸) فتح الباری : ۱۰\۴۹۳)

۳=بَاب لَا يُجَاهِدُ إِلَّا بِإِذْنِ الْأَبَوَيْنِ

[۵۶۲۷] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ سُفْيَانَ وَشُعْبَةَ قَالَا حَدَّثَنَا حَبِيبٌ قَالَ ح وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنْ حَبِيبٍ عَنْ أَبِي الْعَبَّاسِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَجُلٌ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُجَاهِدُ قَالَ لَكَ أَبَوَانِ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَفِيهِمَا فَجَاهِدْ [ر:۲۸۴۲]

جهاد ته تلو دپاره د مور پلار اجازت ضروري دې: عام حالاتو کښې د مور پلار د اجازته بغير جهاد ته تلل صحيح نه دی ، خو کُه نفير عام وی نو بيا د مور پلار د اجازت ضرورت نشته دې ، د امام بخاری رحمه الله مقصود د مور پلار اهميت بيانول مقصود دې - چه د جهاد په شان اهم فريضه ادا کولو دپاره هم د مور پلار د اجازت ضرورت دې -

امام بخاری رحمه الله په کتاب الجهاد کښې داسې يو باب په " باب الجهاد باذن الابوين " په عنوان سره قايم کړيدې -

قوله: ففيهما فجاهد: ای ان کان لك ابوان ، فأبلغ جهدك فی برهما و الاحسان اليهما ، فان ذلك يقوم لك مقام قتال العدو - ([1]) يعنی کُه د ستا مور پلار ژوندی وی نو د دوی خدمت او اطاعت کښې ښه محنت اوکړه هم دا د ستا دپاره د شمن سره د جهاد قائم مقام دې -

۴=بَاب لَا يَسُبُّ الرَّجُلُ وَالِدَيْهِ

[۵۶۲۸] ([2]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ أَكْبَرِ الْكَبَائِرِ أَنْ يَلْعَنَ الرَّجُلُ وَالِدَيْهِ قِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَكَيْفَ يَلْعَنُ الرَّجُلُ وَالِدَيْهِ قَالَ يَسُبُّ الرَّجُلُ أَبَا الرَّجُلِ فَيَسُبُّ أَبَاهُ وَيَسُبُّ أُمَّهُ

رسول الله ﷺ فرمايلې دی چه د ټولو نه لويه ګناه دا ده چه سړې په خپل مور پلار لعنت اووائی ، اوويلې شو : اے د الله رسوله يو سړې به څنګه په خپل مور پلار لعنت اووائی ؟ وې فرمايل :" چه يو سړې د بل سړی مورپلار ته کنځل اوکړی او هغه دده په جواب کښې د ده پلار ته کنځل اوکړی " -

اګر چه داسې ده خپل مور پلار ته کنځل نه دی کړې د بل مور پلار ته ئې کنځل اوکړل خو د ده کنځل کول ، د بل سړی د جوابی کنځلو دپاره سبب جوړ شو مقصد دا دې چه داسې حرکت نه دی کول پکار چه د مور پلار د کنځلو دپاره سبب اوګرځی -

---

[1]) فتح الباری : ۱۰\۴۹۳ ، ارشاد الساری : ۱۳\۶)

[2]) ۵۶۲۸) الحديث أخرجه مسلم فی كتاب الإيمان ، باب بيان الكبائر و أكبرها : ۱\۹۲ (رقم الحديث : ۹۰) و اخرجه أبوداود فی كتاب الأدب ، باب بر الوالدين : ۴\۳۳۶ (رقم الحديث : ۵۱۴۱) و أخرجه الترمذی فی كتاب البر والصلة ، باب ما جاء فی عقوق الوالدين : ۴\۳۱۲ (رقم الحديث : ۱۹۰۲)

علامه عینی رحمه الله لیکلي دی چه څمونږ په زمانه کښې څه کمینه قسم خلق داسې هم اولیدلې شو چه په خپله مور پلار ته کنځل کوی او دوی وهی ، فرمائی چه دا وباء په مصری ښارونو کښې ډیره عامه شویده - (۱)

قوله: إن من أكبر الكبائر: کبائر لویو ګناهونو ته وائی ، لوې ګناهونه هم په شدت او په بد والی کښې د یو بل نه جدا او مختلف دی ، بعض ګناهونه د نورو بعضو ګناهونو نه زیات بد وی ، د جمهورو عالمانو هم دا مسلك دې - (۲)

د لویو ګناهونو شمار : علامه عینی رحمه الله " اکبر الکبائر " یعنی چه کوم په لویو ګناهونو کښې زیات لوې دی د هغې شماره څورلس خودلې ده ، شرك ، د مور پلار نافرمانی ، د دروغو ګواهی ، د ضرورت او د حاجت نه د زیاتو اوبو نه منع کول ، (د میخې او د غوا د مال کولو دپاره) دپاره نر سانډه (ښځې او کټې) نه ورکول ، د دروغو قسم ، په ناحق قتل کول ، د جهاد د میدان نه تیخته کول ، په پاك دامن باندې تهمت لګول ، جادو ازده کول ، د یتیم مال خوړل ، شراب څکل ، د دروغو حدیث بیانول ..... دا رنګه دا څورلس ګناهونه دی چه دیته ئې په مختلف روایتونو کښې " اکبر الکبائر " ویلې دی - (۳)

د بخاری او د مسلم په یو روایت کښې د سبع موبقات نه د بچ کیدو حکم ورکړې شویدې یعنی د اوو هلاك كوونكو ګناهونو نه حضور ﷺ منع کړیده :

اجتنبوا السبع الموبقات، قالوا : يا رسول الله، ماهي ؟ قال : الشرك بالله، والسحر وقتل النفس التي حرم الله إلا بالحق، وأكل الربا، وأكل مال اليتيم، والتولي يوم الزحف، وقذف المحصنات الغافلات المؤمنات" (۴)

دې حدیث کښې رسول الله ﷺ د شرك ، جادو ، قتل ناحق ، سود خوړل ، د یتیم مال خوړل ، د میدان د جهاد نه تیخته کول او په پاکدامنو مؤمنانو ښځو باندې تهمت لګول ..... دا اووه ګناهونه ئې مهلك ګرځولې دی -

حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه یو سړی سوال اوکړو چه کبائر اووه دی وې فرمائل : هی إلى السبعمائة أقرب منها إلى السبع غير أنه لا كبيرة مع استغفار، ولا صغيرة مع إصرار (۵) یعنی دا د اوو په ځائې اووه سوو ته نزدې دی ، خو استغفار او توبه چه سړې اوکړی نو یو کبیره کبیره نه پاتې کیږی او دا رنګه د اصرار سره صغیره ګناه صغیره نه پاتې کیږی بلکه کبیره جوړیږی - کبائر یعنی د لویو ګناهونو تعداد بعضو څلویښت او بعضو اویا خودلې دې - (۶)

---

۱) عمدة القاری : ۲۲ \ ۸٤)
۲) عمدة القاری : ۲.۲ \ ۸۳ ، ارشاد الساری : ۱۳ \ ۱۳)
۳) عمدة القاری : ۲۲ \ ۸۳ - ۸٤)
٤) رواه مسلم فی کتاب الإيمان ، باب بيان الكبائر و أكبرها : ۱ \ ۹۲ (رقم الحديث : ۸۹) رواه البخاری فی کتاب الوصايا، باب قول الله تعالى: (إن الذين يأكلون أموال اليتامى) : ۲ \ ۵۸۳ (رقم الحديث : ۲۷۶۶)
۵) عمدة القاری : ۲۲ \ ۸٤ ، شرح ابن بطال : ۹ \ ۱۹۸)
۶) عمدة القاری : ۲۲ \ ۸٤) .

بعض حضراتو د گناهونو کبائرو او صغائرو ته تقسیم کولو نه انکار کړیدې او ویلې دی چه الله تعالی د کوم څیز نه منع کړیده هغه کبیره ده هیڅ گناه صغیره نشته دې ، لکه چه ابو اسحاق اسفرائینې وائی : "لیس فی الذنوب صغیرة ، بل کل مانهی الله عنه کبیرة" دوی د حضرت ابن عباس نه دا نقل کړیدې او قاضی عیاض دا د محققینو نه رانقل کړیدې (۱) شارح ابن بطال اشاعره ته ددې قول نسبت کړیدې ، چه دوی وائې چه یو گناه ته کبیره د بلې گناه په نسبت ویلې کیږی ، گنی فی نفسه هره گناه کبیره ده - (۲)

خو د جمهورو مسلك دا دې چه په معاصی کښې صغائر او کبائر دواړه شته (۳) قرآن مجید کښې دی (الَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبٰٓئِرَ الْاِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ اِلَّا اللَّمَمَ) (۴) د یکښې د لمم نه صغائر مراد دی ، یو بل آیت کریمه کښې دی (ان تجتنبوا کبائر ما تنهون عنه نکفر عنکم سیئاتکم) (۵) دې آیتونو کښې د کبائر او د صغائر دواړو ذکر شته دې -

د کبیره گناه تعارفی ضابطه : کومه گناه کبیره ده ؟ دې دپاره بعضې عالمانو څه ضابطې بیان کړیدی ، حضرت ابن عباس رضی الله عنهما او د حضرت حسن بصری رحمه الله نه روایت دې هره هغه گناه کبیره ده چه د هغې په سزا کښې د جهنم ، د الله د غضب ، د لعنت یا د عذاب وعید ذکر شوې وی - (۶)

د امام احمد او په شوافعو کښې د ماوردی نه منقول دی چه هره هغه گناه چه د هغې په وعید کښې په آخرت کښې د جهنم ذکر وی او په دنیا کښې پرې حد واجبیږی - (۷)

ابن عبد السلام فرمائی چه دې سلسله کښې چه څومره ضابطې هم بیان شویدی دیکښې یو هم د اعتراض نه خالی نه ده ، بیا خپله ضابطه بیانوی او فرمائی :

والاولی ضبطها بما یشعر بتهاون مرتکبها بدینه اشعارا دون الکبائر المنصوص علیها - (۸)

ددې حاصل دا دې چه په نصوصو کښې د څومره گناهونو د کبیره کیدو ذکر دې هغه خو کبائر دی ، دینه علاوه هره هغه گناه کبیره ده چه دینه معلومیږی چه گناه کوونکی دا معمولی او سپکه اوگنړله او وې کړله او د دې بد والی ته ئې هیڅ اهمیت ورنکړو -

حافظ ابن حجر دا ضابطه بهترین گرځولې ده - (۹)

بعض عالمان وائی چه کومه گناه کبیره ده او شریعت ددې باره کښې د گناه کبیره تصریح

---

(۱) ارشاد الساری : ۱۳\۱۲ ، فتح الباری : ۱۰\۵۰۱)

(۲) شرح صحیح البخاری لابن البطال : ۹\۱۹۸ ، فتح الباری : ۱۰\۵۰۱)

(۳) فتح الباری : ۱۰\۵۰۲ ، عمدة القاری : ۲۲\۸۳)

(۴) سورت النجم : ۳۲\)

(۵) سورت النساء : ۳۱\)

(۶) شرح صحیح البخاری لابن البطال : ۹\۱۹۸ ، ارشاد الساری : ۱۳\۱۳ ، فتح الباری : ۱۰\۵۰۳)

(۷) فتح الباری : ۱۰\۵۰۳)

(۸) فتح الباری : ۱۰\۵۰۳)

(۹) فتح الباری : ۱۰\۵۰۳)

نه وی کړې نو دې دپاره څه ضابطه نه شی مقرر کیدې - (۱)

حدیث د باب په سد د ذرائع باره کښې اصل دې

شارح بخاری علامه ابن بطال رحمه الله فرمائی چه دا حدیث د باب په باره د سد د ذرائع کښې اصل دې . دې لیکی :

" هذا الحديث أصل في قطع الذرائع ، و أن من آل فعله إلى محرم وإن لم يقصده ، فهو كمن قصده و تعمده في الإثم ، ألا ترى أنه عليه السلام نهى أن يلعن الرجل والديه ؟ فكان ظاهر هذا أن يتولى الإبن لعنهما بنفسه ، فلما أخبر النبي عليه السلام أنه إذا سب أبا الرجل ، و سب الرجل أباه و أمه ، كان كمن تولى ذلك بنفسه ، وكان ما آل إليه فعل ابنه كلعنه في المعنى ، لأنه كان سببه و مثله قوله تعالى : (ولا تسبوا الذين يدعون من دون الله فيسبوا الله عدوا بغير علم) (۲)

یعنی دا حدیث د باب په باره د قطع د ذرائع کښې اصل دې او دا چه کوم کار نتیجتًا حرامو ته رسیږی ، اګر چه سړی په دې سره د حرامو قصد او اراده نه وی کړې . بیا هم دا کار په ګناه کښې د قصدًا حرامو کولو برابر دې ، اوګوره په حدیث کښې رسول الله ﷺ په خپل مور پلار د لعنت لیږلو نه منع کړیده ، او ددې په وضاحت کښې ئې اوفرمائل په والدینوباندې د لعنت لیږلو صورت دا دې چه سړې دبل په مور پلار باندې لعنت اووائی او هغه دده په جواب کښې د ده مور پلار ته بد رد اووائی نو ګویا ده په خپله خپل مور پلار ته بد رد اوویلې ځکه چه د دې سبب په خپله د ده عمل اوګرځیدو ، د قرآن کریم په یو آیت کښې هم د داسې کنځلو او د بدو ردو ویلو نه منع شویده ، ارشاد دې " تاسو د دوی باطل خدایانو ته بد رد مه وائې چه د کومو دوی عبادت کوی چه هسې نه دوی ددې په جواب کښې الله تعالی ته بد رد اووائی ..... "

۵=بَاب إِجَابَةِ دُعَاءِ مَنْ بَرَّ وَالِدَيْهِ

[۵۶۲۹] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عُقْبَةَ قَالَ أَخْبَرَنِي نَافِعٌ عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَمَا ثَلَاثَةُ نَفَرٍ يَتَمَاشَوْنَ أَخَذَهُمْ الْمَطَرُ فَمَالُوا إِلَى غَارٍ فِي الْجَبَلِ فَانْحَطَّتْ عَلَى فَمِ غَارِهِمْ صَخْرَةٌ مِنْ الْجَبَلِ فَأَطْبَقَتْ عَلَيْهِمْ فَقَالَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ انْظُرُوا أَعْمَالًا عَمِلْتُمُوهَا لِلَّهِ صَالِحَةً فَادْعُوا اللَّهَ بِهَا لَعَلَّهُ يَفْرُجُهَا فَقَالَ أَحَدُهُمْ اللَّهُمَّ إِنَّهُ كَانَ لِي وَالِدَانِ شَيْخَانِ كَبِيرَانِ وَلِي صِبْيَةٌ صِغَارٌ كُنْتُ أَرْعَى عَلَيْهِمْ فَإِذَا رُحْتُ عَلَيْهِمْ فَحَلَبْتُ بَدَأْتُ بِوَالِدَيَّ أَسْقِيهِمَا قَبْلَ وَلَدِي وَإِنَّهُ نَاءَ بِيَ الشَّجَرُ فَمَا أَتَيْتُ حَتَّى أَمْسَيْتُ فَوَجَدْتُهُمَا قَدْ نَامَا فَحَلَبْتُ كَمَا كُنْتُ أَحْلُبُ فَجِئْتُ بِالْحِلَابِ فَقُمْتُ عِنْدَ رُءُوسِهِمَا أَكْرَهُ أَنْ أُوقِظَهُمَا مِنْ نَوْمِهِمَا وَأَكْرَهُ أَنْ أَبْدَأَ بِالصِّبْيَةِ قَبْلَهُمَا وَالصِّبْيَةُ يَتَضَاغَوْنَ

---

۱) فتح الباری : ۱۰\۵۰۳)

۲) شرح البخاری لابن بطال : ۹\۱۹۲ ، ۱۹۳ . فتح الباری : ۱۰\۴۹۴ . الابواب و التراجم : ۲\۱۱۳)

عِندَ قَدَمَيَّ فَلَمْ يَزَلْ ذَلِكَ دَأْبِي وَدَأْبَهُمْ حَتَّى طَلَعَ الْفَجْرُ فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّي فَعَلْتُ ذَلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَافْرُجْ لَنَا فُرْجَةً نَرَى مِنْهَا السَّمَاءَ فَفَرَجَ اللَّهُ لَهُمْ فُرْجَةً حَتَّى يَرَوْنَ مِنْهَا السَّمَاءَ وَقَالَ الثَّانِي اللَّهُمَّ إِنَّهُ كَانَتْ لِي ابْنَةُ عَمٍّ أُحِبُّهَا كَأَشَدِّ مَا يُحِبُّ الرِّجَالُ النِّسَاءَ فَطَلَبْتُ إِلَيْهَا نَفْسَهَا فَأَبَتْ حَتَّى آتِيَهَا بِمِائَةِ دِينَارٍ فَسَعَيْتُ حَتَّى جَمَعْتُ مِائَةَ دِينَارٍ فَلَقِيتُهَا بِهَا فَلَمَّا قَعَدْتُ بَيْنَ رِجْلَيْهَا قَالَتْ يَا عَبْدَ اللَّهِ اتَّقِ اللَّهَ وَلَا تَفْتَحِ الْخَاتَمَ فَقُمْتُ عَنْهَا اللَّهُمَّ فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّي قَدْ فَعَلْتُ ذَلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَافْرُجْ لَنَا مِنْهَا فَفَرَجَ لَهُمْ فُرْجَةً وَقَالَ الْآخَرُ اللَّهُمَّ إِنِّي كُنْتُ اسْتَأْجَرْتُ أَجِيرًا بِفَرَقِ أَرُزٍّ فَلَمَّا قَضَى عَمَلَهُ قَالَ أَعْطِنِي حَقِّي فَعَرَضْتُ عَلَيْهِ حَقَّهُ فَتَرَكَهُ وَرَغِبَ عَنْهُ فَلَمْ أَزَلْ أَزْرَعُهُ حَتَّى جَمَعْتُ مِنْهُ بَقَرًا وَرَاعِيَهَا فَجَاءَنِي فَقَالَ اتَّقِ اللَّهَ وَلَا تَظْلِمْنِي وَأَعْطِنِي حَقِّي فَقُلْتُ اذْهَبْ إِلَى ذَلِكَ الْبَقَرِ وَرَاعِيهَا فَقَالَ اتَّقِ اللَّهَ وَلَا تَهْزَأْ بِي فَقُلْتُ إِنِّي لَا أَهْزَأُ بِكَ فَخُذْ ذَلِكَ الْبَقَرَ وَرَاعِيَهَا فَأَخَذَهُ فَانْطَلَقَ بِهَا فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّي فَعَلْتُ ذَلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَافْرُجْ مَا بَقِيَ فَفَرَجَ اللَّهُ عَنْهُمْ [ر: ۲۱۰۲]

دې باب کښې امام بخاری رحمه الله د والدينو د اطاعت کونکی د دعاء د قبليدو ذکر کړيدې ، او ددې لاندې ئې د درې سړو هغه مشهوره واقعه نقل کړيده چه هغې کښې دا درې واړه په يو غار کښې دننه بند شی او د خپلو نيکو اعمالو په وسيله سره دعا کوی او آزادی حاصله کړی....دا حديث په " کتاب البيوع، باب اذا اشترى لغيره .... " کښې تير شويدې -

رُحتُ عليهم : رُحتُ : د رواح نه دې ، د مابنام په وخت راتلل - نأى بي الشجر : اونو خه لرې بوتلم ، يعنی چيلئ څرولو څرولو کښې لرې اووتلم - نأى نأيًا دباب د فتح نه دې ، ددې معنی د لرې کيدو راځی - الحلاب : د محلوب په معنی کښې دې يعنی پئې . بعض وائی چه کوم لوښی کښې پئې لشلې کيږی ، هغه لوښې ته حلاب وائی - (۱)

يتضاغون : شور ئې کولو ژړل ئې ، فَرَق أرُزّ : ارز روژو ته وائی ، او فَرَق (د راء په فتحه سره) د يو پيمانې نوم دې چه ديکښې شپاړلس رطل راځی - (۲)

دلته اشکال کيږی چه داولاد نفقه د والدينو د نفقه نه مقدم ده ، ددې رعايت اونه شو بلکه دا نيکی شمار کړې شوه -

ددې جواب کښې ويلې شويدی چه ممکن ده چه د دوی په دين کښې د والدينو نفقه مقدم وی .... او دا هم ممکن ده چه اولاد ته ئې په قدرد ضرورت نفقه ورکړې وی ، دينه پس دوی د قدر د ضرورت نه د زياتو مطالبه کوله - (۳)

---

۱) عمدة القاری : ۲۲ \ ۸۶ ، ارشاد الساری : ۱۳ \ ۸)
۲) عمدة القاری : ۲۲ \ ۸۶ ، ارشاد الساری : ۱۳ \ ۹)
۳) عمدة القاری : ۲۲ \ ۸۶)

۶=باب عقوق الوالدين من الكبائر

قاله عبد الله بن عمرو عن النبي صلى الله عليه وسلم [ر:۶۲۹۸]

[۵۶۳۰] حدثنا سعد بن حفص حدثنا شيبان عن منصور عن المسيب عن وراد عن المغيرة بن شعبة عن النبي صلى الله عليه وسلم قال إن الله حرم عليكم عقوق الأمهات ومنعا وهات ووأد البنات وكره لكم قيل وقال وكثرة السؤال وإضاعة المال [ر:۱۴۰۷]

[۵۶۳۱] حدثني إسحاق حدثنا خالد الواسطي عن الجريري عن عبد الرحمن بن أبي بكرة عن أبيه رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ألا أنبئكم بأكبر الكبائر قلنا بلى يا رسول الله قال الإشراك بالله وعقوق الوالدين وكان متكئا فجلس فقال ألا وقول الزور وشهادة الزور ألا وقول الزور وشهادة الزور فما زال يقولها حتى قلت لا يسكت [ر:۲۵۱۱]

[۵۶۳۲] حدثني محمد بن الوليد حدثنا محمد بن جعفر حدثنا شعبة قال حدثني عبيد الله بن أبي بكر قال سمعت أنس بن مالك رضي الله عنه قال ذكر رسول الله صلى الله عليه وسلم الكبائر أو سئل عن الكبائر فقال الشرك بالله وقتل النفس وعقوق الوالدين فقال ألا أنبئكم بأكبر الكبائر قال قول الزور أو قال شهادة الزور قال شعبة وأكثر ظني أنه قال شهادة الزور [ر:۲۵۱۰]

عقوق (د عين په ضمه سره) نافرمانئ ته وائي ، دحضرت عبد الله بن عمرو بن العاص ﷛ روايت وړاندې په " كتاب الايمان و النذور ، باب اليمين و الغموس " كښې موصولاً راروان دې - چه هغه دلته امام تعليقًا ذكر كړيدې ، ديكښې دى " الكبائر : الإشراك بالله ، وعقوق الوالدين ، وقتل النفس واليمين الغموس " (۱)

د ړومبى روايت په سند كښې د منصور نه مراد منصور بن المعتمر دې او د مسيب نه مسيب بن رافع مراد دې ، د دوى شيخ وراد دې چه د حضرت مغيره بن شعبه كاتب وو .... رسول الله ﷺ فرمائي .... " الله تعالى د ميندو نافرمانى ، حقدارو ته د دوى حق نه وركول ، او لونړه ژوندئ خخول حرام كړيدى ، او د ستاسو دپاره ئې قيل و قال ، زيات سوال كول او د مال ضائع كول ناخوښه كړې دى -

الأمهات : دا د أمهة جمع ده ، مور ته وائي ، لفظ د أم ذوى العقول او غير ذوى العقول دواړو دپاره استعماليږى ، او أمهة صرف د ذوى العقول دپاره استعماليږى - (۲)

ومنعًا وهات : بعض روايتونو كښې " ومنع وهات " راغلي دي ، منع خو واضح ده چه مصدر د

---

۱) فتح البارى : ۱۰\۴۹۷ ، عمدة القارى : ۲۲\۸۶)

۲) فتح البارى : ۱۰\۴۹۸)

منع يمنع دې ، منع كول ، بندول ، دلته د منع كولو نه د هغه حقونو منع كول مراد دى ، چه دهغې د اداء كولو حكم راغلې دې ، مثلاً زكات ، صدقات او معمولي څيزونه بل ته د وركولو نه بندول ، د هات معنى ده :راوړه ، وركړه ، خليل نحوى فرمائى دا اصل كښې " آت " وو همزه په هاء سره بدله شوه - (١)

" هات " نه مراد د هغه څيز طلب او غوښتل دى چه د هغې سړې مستحق نه وى ، حاصل دا دې چه په خپله ذمه كوم حقوق دى د هغې د اداء كولو نه بې فكره اوسيدل او د خپل ځان دپاره د نورو د دې حقونو مطالبه كول چه دې د هغې د سره مستحق نه دې - (٢)

ووأد البنات : وَأْدٌ (د همزې په سكون سره) مصدر دې د دې معنى ده ژوندې خخول ، لونړه ژوندئ خخول يو خراب رسم په عربو كښې په زمانه د جاهليت كښې شروع شوې وو ، قيس بن عاصم تميمى په باره كښې ويلې كيږى چه ده د ټولو نه وړاندې خپله لور ژوندئ خخه كړې وه ، د ده يو دښمن په ده حمله اوكړه او د ده لور ئې اونيوله او بوتې تله ، روستو بيا دوى كښې صلح اوشوه او جينئ ته اختيار وركړې شو چه د ستا خوښه كه ته پلار سره ځې او كه خاوند سره اوسيږې ، جينئ د خاوند سره اوسيدل خوښ كړل ، په دې باندې ده قسم اوخوړو چه د ده چه بيا كله هم لور پيدا كيږى نو دې به دا ژوندئ دفن كوى ، او ده په دې عمل اوكړو او بيا دا رسم عام شو - (٣)

د جينكو د ژوندې خخولو صورتونه : د ژوندې خخولو يوصورت به دا وو چه دښځې به د وضع د حمل زمانه رانزدې شوه نو دا به ئې د يو كندې سره پريخودله ، نو د وضع د حمل نه پس به كه هلك وو خودا به ئې راوړو ، كه جينئ به وه نودا به ئې هم په دغه كنده كښې دفن كړو - دويم صورت به دا وو چه جينئ به كله د پنځو شپږو كالو شوه نو خاوند به ښځې ته اوويل چه رشته دارانو كره ځو ، دا تياره كړه ، چه دې به دا تياره كړه نو پلار به دا د رشته دارانو په ځائې صحراء ته د يو كوهى خوا ته بوتله ، ديته به ئې ويل ، ديكښې اوګوره ، نو دې به چه په كوهى كښې اوكتل نو پلار به ورته د شا نه ديكه وركړه او په كوهى كښې به ئې اوغورزوله - (٤)

د جينكو د ژوندى ښخولو په شان د هلكانو د ژوندى خخولو هم رواج وو ، بعض خلقو به په ميراث كښې دحصه اختستويا دخرچې د يرې نه خپل اولاد پيدا كولو سره ژوندې خخولو (٥)

قرآن كريم كښې د دې ذكر په څو آيتونو كښې راغلې دې ، يو ځائې كښې دى ﴿ ولا تقتلوا أولادكم خشية إملاق نحن نرزقهم وإياكم إن قتلهم كان خطئا كبيرا ﴾ (٦)

---

(١) فتح البارى : ١٠\٤٩٨ ، عمدة القارى : ٢٢\٨٧)
(٢) شرح الكرمانى : ٢١\١٥١ ، فتح البارى : ١٠\٤٩٨ ، عمدة القارى : ٢٢\ ٨٧)
(٣) فتح البارى : ١٠\٤٩٨ ، عمدة القارى : ٢٢\٨٧)
(٤) فتح البارى : ١٠\٤٩٨)
(٥) عمدة القارى : ٢٢\٨٧ ، فتح البارى : ١٠\٩٨)
(٦) سورة الأسراء : ٣١)

قوله: وکره لکم قیل وقال: په قیل او قال کښې درې اقوال دی

① دا دواړه اسم دی ،جوهری په صحاح کښې هم دا اختیار کړیدې او دلیل ئې دا ورکړیدې چه په دوی الف لام داخلیږی چه کوم د اسم په علاماتو کښې دې ، وائی " فلان کثیر القیل و القال " (۱)

دې صورت کښې د حدیث مطلب دا دې چه زیات بحث او خبرې اترې کول مکروه دی ځکه چه کثرت د کلام بهر حال د نقصان او د خطاء ذریعه جوړیږی -

② قال فعل ماضی معروف او قیل ماضی مجهول دې او دیکښې اشاره ده چه سړې د خلقو اقوال او قصې په کثرت سره نقل کړی او اووائی چه قال فلان کذا و قیل کذا ... فلان دا اوویل ، او دا خبره اوویلې شوه نو د داسې اقوالو په کثرت سره نقل کول مکروه دی ..... ځکه چه دارنګه څه خبرې به غلطې او د حقیقت نه خلاف نقل کړی - (۲)

③ دینه دینی معاملاتو کښې د اختلافی اقوالو ذکر مراد دې چه فلانی دې مسئله کښې دا ویلې دی او د فلانئ مسئله ئې دا حکم بیان کړیدې ، قال فلان کذا و قیل کذا فی هذه المسئلة ..... نو دارنګه په کثرت سره اقوال رانقل کول مکروه دی ځکه چه دیکښې د غلط قول نقل کولو امکان زیات وی - خو کُه څوك په تحقیق سره خبره کوی نو هغه دیکښې داخل نه دې ، خو ظاهره ده چه خلقو کښې د محققینو تعداد ډیر کم وی - (۳)

په دې آخری دوه صورتونو کښې " قیل و قال " فعل دې او حکایتًا ددې ذکر دې خو ړومبې قول راجح معلومیږی -

قوله: وکثرة السؤال: زیات سوال کول .... د سوال کولو نه غوښتل هم مراد کیدې شی او د مسئلو متعلق سوال کول هم مراد اخستې شی ، بعض عالمان وائی چه دینه د خلقو د حالاتو متعلق زیات سوالونه کول مراد دی ، دارنګه د یو معین سړی په باره کښې زیات سوالونه او تجسس کول هم صحیح نه دی - (۴)

عام حالاتو کښې غوښتل هم جائز نه دی ، د ابوداود روایت دې :

"إن المسئلة لا تصلح إلا لثلاثة : لذی فقر مدقع ، أو لذی غرم مفظع أو لذی دم موجع " (۵)

یعنی درې قسمه سړی سوال کولې شی یو فقیر چه د هغه سره څه هم نه وی ، دویم سخت نقصان اوچتوونکې او دریم هغه قاتل چه دده په ذمه دیت دې کُه دې دیت ورنکړی نو دې به په قصاص کښې قتل کړې شی -

---

(۱) فتح الباری : ۱۰\۹۸) -

(۲) عمدة القاری : ۲۲\۸۷ ، فتح الباری : ۱۰\۴۹۹)

(۳) فتح الباری : ۱۰\۴۹۹ ، عمدة القاری : ۲۲\۸۷ ، شرح الکرمانی : ۲۱\۱۵۱)

(۴) عمدة القاری : ۲۲\۸۷ ، فتح الباری : ۱۰\۴۹۹ ، شرح الکرمانی : ۲۱\۱۵۱)

(۵) أخرجه أبوداود فی کتاب الزکاة ، باب ماتجوز فی المسئلة : ۲\۱۲۰ (رقم الحدیث : ۱۶۴۱) ، بذل المجهود : ۸\۱۸۳)

مشهور حديث دي.رسول الله ﷺ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما ته اوفرمائل "إذا سألت فاسئل الله" (۱)
د سنن ابی داود روایت کښې دی "إن كنت لابد سائلا ، فاسئل الصالحين" (۲) کُه د غوښتو نه دې
بله څه چاره نه وی نو بيا د نيکانو نه اوغواړه -

د غوښتلو حکم : بغير د ضرورته غوښتل خو بالاتفاق جائز نه دی ، خو چه کوم سړې ضرورتمند وی او په گټلو قادر نه وی نو ده دپاره غوښتل جائز دی او کُه نه ؟ په دې باره کښې دوه قوله دی د تحريم او د جواز سره د کراهته خو د کراهت سره د جواز دپاره درې شرطونه ذکر شويدی چه په غوښتو کښې اصرار نه وی ، د خپل خان تذليل نه وی او چه د چا نه غواړی هغه تنګ نه کړی .... د دې درې شرطونو سره د غوښتو اجازت ورکړې شويدې - (۳) دلته حديث کښې کثرت سوال يعنی زيات غوښتلو ته مکروه ويلې دی ، دينه معلومه شوه چه په قدر د ضرورت غوښتل مکروه نه دی -

ياد اوساتئ چه دلته د غوښتلو نه دخپل خان دپاره غوښتل مراد دی ، کُه يو کس د نورو دپاره غواړی ، چه اهل خير او مالداران د محتاجانو او د بې وسو امداد ته متوجه کوی يا لکه چه څنګه د مدرسو منتظمين د دينی علمونو حاصلوونکو طالبانو د خرچې برداشت کولو دپاره اهل خير مسلمانان متوجه کوی نو دوی په ديکښې داخل نه دی بلکه دا خو په خپله يو زبردست د اجر او د ثواب والا عمل دې ..... خو ددې د جواز او په دې باندې اجر او ثواب ګټلودپاره شرط دا دې چه د دين او د عالمانو د وقار پوره پوره رعايت اوساتلې شي څه داسې طريقه اختيار نه کړې شي چه هغې سره د عالمانو وقار او استغناء مجروح شی يا دا د اهل علم د ذلت ذريعه جوړه شی -(۴)

قوله: وإضاعة المال :د مال ضائع کول جائز نه دی د مال ضائع کولو نه مراد دا دې چه مال داسې خرچ کول چه ديکښې نه د آخرت فائده وی او نه د دنيا څه جائز نفع او فائده وی، د آخرت او د دنيا د فائدې نه بغير د مال خرچ کولو ته د مال ضائع کول وائی او دا جائز نه دې - (۵)

د انفاق جائز او ناجائز صورتونه : حافظ ابن حجر رحمه الله ددې حاصل دا ليکلې دی چه د کثرت انفاق درې صورتونه دی :

① په ناجائز امورو کښې دمال خرچ کول ، دا بالاتفاق ممنوع دی -
② د نيکئ او د ښيګړې په لاره کښې مال خرچ کول .... دا بالاتفاق جائز او مطلوب دې -
③ مباح کارونو کښې مال خرچ کول ..... ددې دوه صورتونه دی يو دا چه سړې د خپل وس

---

۱) أخرجه الترمذي ، كتاب صفة القيامة ، باب بلا ترجمة : ٤ \ ٦٦٦ (رقم الحديث : ۲٥١٦)
۲) أخرجه أبوداود في كتاب الزكاة ، باب في الاستعفاف : ۲ \ ۱۲۲ (رقم الحديث : ۱٦٤٦)
۳) فتح الباري : ۱۰ \ ٥۰۰ ، شرح مسلم للنووي ، كتاب الزكاة باب النهى عن المسئلة : ۱ \ ۳۳۳)
٤) رد المحتار على الدر المختار ، كتاب الزكاة ، مطلب في الحوائج الاصلية : ۲ \ ۷٦)
٥) فتح الباري : ۱۰ \ ٥۰۰ ، ارشاد الساري : ۱۳ \ ۱۱ ، عمدة القاري : ۲۲ \ ۸۷)

او د حالت او د عرف مطابق مال خرچ کړی ، نو دا په اسراف کښې داخل نه دې او دا جائز دې ، دويم دا چه د عرف او د معمول نه زيات خرچ کړی ، نو جمهور عالمان ديته اسراف وائی ، او بعض شوافع ديته اسراف نه وائی "لأنه تقوم به مصلحة البدن وهو غرض صحيح، وإذا كان في غير معصية فهو مباح له ..." (۱) (ځکه چه ديکښې د انسانی جسم فائده او مصلحت دې او دا يو صحيح مقصد دې نو چه کله ده په غير دمعصيت کښې د معمول نه ئې زياته خرچه اوکړه نو دا مباح ده) خو امام غزالی ، ابن دقيق العيد ، امام رافعی او امام نووی دا صورت په اسراف کښې داخل کړيدې - (۲).

حافظ ابن حجر ليکی : "والذي يترجح أنه ليس مذموما لذاته ، لكنه يفضي غالبا إلى ارتكاب المحذور كسؤال الناس وما أدى إلى المحذور ، فهو محذور" (۳)

يعنی راجح خبره دا ده چه داسې خرچ کول فی نفسه مذموم نه دې خو عموما دا ناجائز او محذور عمل ته رسول کوی ، مثلاً چه د خرچ کولو نه پس به احتياج راشی نو د خلقو نه به سوال کول راشی اوچه کوم عمل مفضی الی المحذور وی هغه په خپله محذور اوممنوع وی.

شارح د مشکاة علامه طيبی رحمه الله ددې حديث باره کښې فرمائی -

هذا الحديث أصل في معرفة حسن الخلق الذي هو منبع جميع الأخلاق الحميدة ، و الخلال الجميلة" (۴)

يعنی دا حديث د " حسن خلق " په معرفت کښې اصل او بنياد دې ، چه کوم د تمام حميده اخلاقو او د حسنه خصائلو منبع او سر چينه ده -

فقال ألا وقول الزور أو قال : شهادة الزور ، فما زال يقولها حتى قلت : لا يسكت

د دروغو خبره او د دروغو ګواهی ذوی په کبائر کښې شميرله او دوی مسلسل دا تکراروله ، تر دې چه ما اوويل چه دوی به خاموش نه شی ..... د بشر بن الفضل په روايت کښې دی:

فقال : ألا وقول الزور ، فما زال يكررها حتى قلنا : ليته سكت" (۵)

د دروغو شهادت او ګواهی ورکول ډير اسان دی او ددې نقصانات او مضرات ډير زيات دی ، دې وجه نه رسول الله ﷺ ددې شناعت ته توجه راوستو دپاره بيا بيا د تکرار دا بليغ اسلوب اختيار کړو - (۶)

د قول الزور نه هم مراد د دروغو ګواهی ده ځکه چه هر دروغ کبيره ګناه نه ده - (۷)

---

۱) فتح الباری : ۱۰\۵۰۰)
۲) فتح الباری : ۱۰\۵۰۰)
۳) فتح الباری : ۱۰\۵۰۰)
۴) شرح المشکاة للطيبی ، کتاب الأدب ، باب البر و الصلة : ۹\۱۵۰ (رقم الحديث : ۴۹۱۶)
۵) فتح الباری : ۱۰\۵۰۴)
۶) فتح الباری : ۱۰\۵۰۴)
۷) فتح الباری : ۱۰\۵۰۴ ، عمدة القاري : ۲۲\۸۸)

قوله: قال شعبة: فأكثر ظني أنه قال: شهادة الزور: يعني قول الزور او شهادة الزور کښې شك دې ، شعبه وائي چه ځما غالب ګمان دا دې چه "شهادة الزور" ئې فرمائلې وو - شهادات " کښې هم دا روايت راغلې دی هلته "شهادة الزور" بغير د شك دې - (۱)

د احاديثو نه مستنبط اداب: حافظ ابن حجر رحمه الله ددې احاديثو نه آداب مستنبط کوی او ليکي : "وفي هذا الحديث والذي قبله استحباب إعادة الموعظة ثلاثا تفهم ، وانزعاج الواعظ في وعظه ، ليكون أبلغ في الوعي عنه والزجر عن فعل ماينهى عنه ، وفيه غلظ أمر شهادة الزور ..... وفيه التحريض على مجانبة كبائر الذنوب ليحصل تكفير الصغائر بذلك كما وعد الله عزو جل ، وفيه إشفاق التلميذ على شيخه منزعجا ، و تمنى عدم غضبه لما يترتب على الغضب من تغير مزاجه" (۲)

يعنى ددې حديث او دينه وړاندينى حديث نه څو خبرې معلومې شوې :

① په وعظ او نصيحت کښې يو خبرې لره درې ځله تکرارول د پوهولو په غرض مستحب دی - ② د وعظ ويونکی بعض خبرې د اضطراب ، پريشانئ او د وارخطائي په حالت کښې هم ويلې شی په داسې بليغ انداز سره د منکراتو نه د بچ کيدو اظهار کيږی -

③ دينه د دروغو د شهادت د سخت والی اظهار هم کيږی

④ د کبائرو نه د بچ کولو اهتمام کول پکار دی ، چه د کبائرو نه بچ شې نو دا بچ کيدل د صغائرو دپاره خپله کفاره جوړيږی ځنګه چه الله تعالى وعده کړيده (ان تجتنبوا كبائر ما تنهون عنه نكفر عنكم سيئاتكم)

⑤ شيخ او استاذ چه په حالت د پريشانئ او د وارخطائى کښې اووينى نو شاګردلره په ده ترس خوړل پکار دی او دا آرزو کول پکار دی چه دې په غصه نه شی ځکه چه د غصې په وجه مزاج په اعتدال نه پاتې کيږی -

٧ = بَاب صِلَةِ الْوَالِدِ الْمُشْرِكِ

[٥٦٣٣] حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ أَخْبَرَنِي أَبِي أَخْبَرَتْنِي أَسْمَاءُ بِنْتُ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَتْ أَتَتْنِي أُمِّي رَاغِبَةً فِي عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آصِلُهَا قَالَ نَعَمْ قَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى فِيهَا لَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ [ر:٢٤٧٧]

د مشرك مور پلار سره د صله رحمئ حکم دې باب کښې بيان کړې شويدې ، حديث د باب کښې حضرت اسماء بنت ابى بکر ﷺ د رسول الله ﷺ نه د خپلې مور سره د حسن سلوك باره کښې تپوس اوکړو نو دوی اوفرمائل چه هو دې سره ښه سلوك کوه -

---

(۱) فتح البارى : ١٠\٥٠٥ ، ارشاد السارى : ١٣\١٤)

(۲) فتح البارى : ١٠\٥٠٥)

أتتني راغبة في عهد النبي صلى الله عليه وسلم كښې دوه روايتونه دی :

① يو راويت " راغبة " په باء سره دی ، يعنی خما مور په عهد نبوی کښې رغبت سره ما ته راغله ، چه اسلام کښې ئې رغبت او مينه لرله يا ئې په صله رحمئ کښې مينه لرله " أی راغبة في الإسلام أو راغبة في صلتي.... " [1]

خو رومبی صورت کښې به دا اشکال وی چه کله دې په اسلام قبلولو کښې رغبت او مينه لرله او دې دپاره راغله نو بيا د حضرت اسماء په دې صورت کښې د حسن سلوك كولو باره كښې د تپوس كولو څه ضرورت وو ، څکه چه دا د مسلمانيدو دپاره راغلې وه او داسلام قبلوونكو سره حسن سلوك كول څه داسې مسئله نه ده چه د هغې متعلق تپوس اوكړې شی - [2] ته دا ويلې شې چه احتياطاً به ئې تپوس كړې وی -

② دويم روايت " راغمة " په ميم سره دی " أی كارهة للإسلام .... " يعنی ما ته راغله خو اسلام ئې نه خوښولو - [3]

دينه معلومه شوه چه كُه والدين كافر او مشرك هم وی نو بيا هم دوی سره حسن سلوك او صله رحمئ كول پكار دی ، نظريات كښې اختلاف او دشرك او د كفر په وجه دوی سره د بدسلوكئ كولو اجازت شريعت نه دې وركړې -

٨=بَاب صِلَةِ الْمَرْأَةِ أُمَّهَا وَلَهَا زَوْجٌ

وَقَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِي هِشَامٌ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ أَسْمَاءَ قَالَ قَدِمَتْ أُمِّي وَهِيَ مُشْرِكَةٌ فِي عَهْدِ قُرَيْشٍ وَمُدَّتِهِمْ إِذْ عَاهَدُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ ابْنِهَا فَاسْتَفْتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ إِنَّ أُمِّي قَدِمَتْ وَهِيَ رَاغِبَةٌ أَفَأَصِلُهَا قَالَ نَعَمْ صِلِي أُمَّكِ [ر:٢٤٧٧]

[٥٦٣٥] حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبَّاسٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ أَبَا سُفْيَانَ أَخْبَرَهُ أَنَّ هِرَقْلَ أَرْسَلَ إِلَيْهِ فَقَالَ يَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُنَا بِالصَّلَاةِ وَالصَّدَقَةِ وَالْعَفَافِ وَالصِّلَةِ [ر:٧]

ښځې ته د خپلې مور سره د صله رحمئ او د حسن سلوك حكم دې ، اگر چه د دې خاوند وی او دا واده شوې وی .... ولها زوج مرجع كښې دوه احتماله دی .... ديكښې ضمير " المرأة " ته هم راجع كيدې شی او أم ته هم ... دويم صورت كښې ئې مطلب دا دې چه اگر چه د مور خاوند وی (د مور خاوند سكه پلار وی يا ميرنې) بيا هم دې سره صله رحمی كول پكار دی -

په حديث د باب كښې دواړه صورتونه شته دې ، حضرت اسماء واده شوې وه ، د دوی

---

[1] عمدة القاری : ٢٢ \ ٨٩ . فتح الباری : ١٠ \ ٥٠٦ . ارشاد الساری : ١٣ \ ١٤)

[2] عمدة القاری : ٢٢ \ ٨٩ . فتح الباری : ١٠ \ ٥٠٦)

[3] عمدة القاری : ٢٢ \ ٨٩ . فتح الباری : ١٠ \ ٥٠٦)

خاوند حضرت زبیر بن العوام رضی الله عنه وو ، د دوی مور دیته راغله " مع ابیها " د خپل پلار سره چه د حضرت اسماء رضی الله عنها نیکه وو او یا ضمیر اسماء ته راجع دې یعنی د حضرت اسماء مور دوی ته راغله د حضرت اسماء د میرنی پلار سره چه ددې موجوده خاوند وو -

قوله: في عهد قريش ومدتهم: دینه زمانه دصلح مراد ده ، رسول الله ﷺ د قریشو سره د صلح چه کومه معاهده کړې وه ، دا هم په دغه زمانه د صلح کښې راغلې وه ، علامه ابن بطال لیکی :

" وفقه هذه الترجمة من حديث أسماء أن النبي صلى الله عليه و سلم أباح لأسماء أن تصل أمها و لم يشترط في ذلك مشاورة زوجها " [1]

یعنی د حضرت اسماء د حدیث نه واضحه ده چه دوی ﷺ حضرت اسماء ته د مور سره د صله رحمئ کولو حکم ورکړې وو او خاوند سره ئې دې باره کښې دمشورې کولو شرط نه وو لګولې ، معلومه شوه چه د مور پلار سره صله رحمئ کولو کښې د چا سره د مشورې کولو ضرورت نشته دې - د باب بل روایت کښې د صله رحمئ ذکر دې " فيؤخذ حكم الترجمة من عمومها " [2] چه اګر چه روایت کښې صله عامه ده خو دیکښې د ښځې د خپلې مور سره صله رحمی کول هم داخل دی -

۹=باب صِلَةِ الْأَخِ الْمُشْرِكِ

[۵۶۳۶] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُسْلِمٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ دِينَارٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا يَقُولُ رَأَى عُمَرُ حُلَّةَ سِيَرَاءَ تُبَاعُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ ابْتَعْ هَذِهِ وَالْبَسْهَا يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَإِذَا جَاءَكَ الْوُفُودُ قَالَ إِنَّمَا يَلْبَسُ هَذِهِ مَنْ لَا خَلَاقَ لَهُ فَأُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهَا بِحُلَلٍ فَأَرْسَلَ إِلَى عُمَرَ بِحُلَّةٍ فَقَالَ كَيْفَ أَلْبَسُهَا وَقَدْ قُلْتَ فِيهَا مَا قُلْتَ قَالَ إِنِّي لَمْ أُعْطِكَهَا لِتَلْبَسَهَا وَلَكِنْ تَبِيعُهَا أَوْ تَكْسُوهَا فَأَرْسَلَ بِهَا عُمَرُ إِلَى أَخٍ لَهُ مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ قَبْلَ أَنْ يُسْلِمَ [ر:۸۴۶]

د مشرک رور سره د صله رحمئ کولو حکم : د مشرک رور سره صله رحمی او حسن سلوک کول امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې بیان کړیدې ، " صله " مصدر دې او ددې اضافت " الاخ " مفعول به ته دې ، فاعل ئې نه دې ذکر کړې - علامه عینی رحمه الله لیکی:

" أي هذا الباب في بيان صلة المسلم لأخيه المشرك ، و الإضافة في صلة الأخ إضافة إلى المفعول و طوى ذكر الفاعل " [3]

روایت د باب وړاندې تیر شویدې ، رسول الله ﷺ حضرت فاروق اعظم ته ریښمی جوړا

---

[1] شرح ابن بطال : ۹\۲۰۱ ، فتح الباری : ۱۰\۵۰۷ ، ارشاد الساری : ۱۳\۱۶)

[2] فتح الباری : ۱۰\۵۰۶ ، ارشاد الساری : ۱۳\۱۶)

[3] عمدة القاری : ۲۲\۸۹ ، ارشاد الساری : ۱۳\۱۶)

ورکړه ، دوی داجوړا مکې مکرمې ته د خپل رور دپاره اولیږله چه هغه لا تر اوسه اسلام نه وو قبول کړې ، معلومه شوه چه د کافر او د مشرك رور سره صله رحمی کولې شي -
د حضرت فاروق اعظم ددې رور په باره کښې ویلې شی ، چه دا عثمان بن حکیم بن امیه وو ، چه د مشهورې صحابیې خوله بنت حکیم رور وو ، دا د حضرت عمر نه بلکه د حضرت فاروق اعظم زید بن الخطاب د مور خوې وو ، د زید بن الخطاب د مور نوم اسماء بنت وهب او د حضرت فاروق اعظم د مور نوم حنتمه (د حاء په فتحه او د نون په سکون او د تاء په فتحه سره) بنت هاشم دې - ([1])
امام نسائی رحمه الله فرمائی چه دې د حضرت فاروق اعظم د مور خوې وو ([2])
خوعلامه عینی رحمه الله ړومبی قول ته زیات صحیح ویلې دې - ([3])

۱۰=بَاب فَضْلِ صِلَةِ الرَّحِمِ

[۵۶۳۷] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنِي ابْنُ عُثْمَانَ قَالَ سَمِعْتُ مُوسَى بْنَ طَلْحَةَ عَنْ أَبِي أَيُّوبَ قَالَ قِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَخْبِرْنِي بِعَمَلٍ يُدْخِلُنِي الْجَنَّةَ وحَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ بِشْرٍ حَدَّثَنَا بَهْزُ بْنُ أَسَدٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا ابْنُ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَوْهَبٍ وَأَبُوهُ عُثْمَانُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّهُمَا سَمِعَا مُوسَى بْنَ طَلْحَةَ عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَجُلًا قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَخْبِرْنِي بِعَمَلٍ يُدْخِلُنِي الْجَنَّةَ فَقَالَ الْقَوْمُ مَا لَهُ مَا لَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَبٌ مَا لَهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعْبُدُ اللَّهَ لَا تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا وَتُقِيمُ الصَّلَاةَ وَتُؤْتِي الزَّكَاةَ وَتَصِلُ الرَّحِمَ ذَرْهَا قَالَ كَأَنَّهُ كَانَ عَلَى رَاحِلَتِهِ [ر:۱۳۲۲]

د صله رحمئ فضیلت : دې باب کښې د صله رحمئ فضیلت او ددې اهمیت امام بخاری رحمه الله بیان کړیدې ، روایت کښې دی چه یو سړی رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه اے د الله رسوله ما ته داسې عمل اوښایه چه ما جنت ته داخل کړئ ، خلقو اوویل : په ده څه اوشو ، په ده څه اوشو ؟ رسول الله ﷺ اوفرمائل : د ده یو ضرورت دې ، بیا ئې اوفرمائل : د الله تعالی عبادت کوه شرك مه کوه ، مونځ کوه ، زکات ورکوه ، او صله رحمی کوه ، اوس دا (سوارلی) پریږده ، راوی وائی : ګویا دې په سوارلئ باندې سور وو (حضور ﷺ اوفرمائل : د ستا د سوال جواب اوشو اوس سورلی پریږده)

قوله: ماله ماله؟ فقال: أرَبٌ ماله: خلقو ته د دې سړی په سوال کولو تعجب اوشو ، حضور اوفرمائل چه دده څه ضرورت دې أرَب حاجت او ضرورت ته وائی " ما " د عموم دپاره

[1]) عمدة القاری : ۲۲\۹۰)
[2]) عمدة القاری : ۲۲\۹۰)
[3]) عمدة القاری : ۲۲\۹۰)

ده ، ارب ما ، څه حاجت ، څه ضرورت - (۱)

قوله: ذرها، قال: كأنه كان على راحلته: ذرها يعنى دا سوارلي پريږده ، ديکښې دوه صورته کيدې شی يا خو دا سړې په خپلې سوارلئ باندې سور وو او رسول الله ﷺ نه نې په سوارلئ او په تُندئ کښې ئې دا تپوس اوکړو ، نو چه کله دوی ﷺ دا جواب ورکړو نو ورته ئې اوفرمائل اوس خپله سوارلی پريږده او روان شه -

دويم صورت دا کيدې شی چه خپله رسول الله ﷺ په سوارلئ باندې سور وو او دا سائل راغلو او د دوی ﷺ د سوارلئ واږې ئې اونيولې او دوی ئې اوذرول او دا تپوس ئې اوکړو ، نو حضور ﷺ چه کله جواب ورکړو نو وې فرمائل چه اوس خما سوارلئ ته لاره ورکړه چه ځي - (۲)

دا حديث په کتاب الزكات کښې تير شويدې - (۳)

باب إِثْمِ الْقَاطِعِ

[۵۶۳۸] (۴) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَنَّ مُحَمَّدَ بْنَ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ قَالَ إِنَّ جُبَيْرَ بْنَ مُطْعِمٍ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَاطِعٌ

دې باب کښې د قطع رحمی کوونکی د گناه او د سزا ذکر شويدې ، حديث کښې دی ، قطع رحمی کوونکې به جنت ته نه داخليږی ... قطع رحمی کول گناه کبيره ده او مرتکب د گناه کبيره به د اهل سنت و الجماعت په نزد تحت المشيت داخليږی او د تحت المشيت داخليدو مطلب دا دې چه يا خو به ابتداءً حق تعالی دې معاف کړی او دې به هډو دوزخ ته نه ځی ، او يا به دوزخ ته لاړ شی او د خپلې سزا تيرولو نه پس به جنت ته لاړ شی ، دې وجه نه حديث کښې ئې اوفرمائل چه قطع رحمی کوونکې به جنت ته نه ځی ، د دې مطلب دا دې چه دې به ابتداءً جنت ته د داخليدو مستحق نه وی ، دا خو يا په زجر او توبيخ محمول دې او يا دا وعيد دې په حق د هغه کس کښې چه هغه قطع رحمی جائز گڼړی او داسې سړې کافر کيږی - (۵)

---

(۱) عمدة القارى : ۲۲ \ ۹۱ ، ارشاد السارى : ۱۳ \ ۱۸ ، شرح الكرمانى : ۲۱ \ ۱۵۶)
(۲) عمدة القارى : ۲۲ \ ۹۱ ، ارشاد السارى : ۱۳ \ ۱۸ ، شرح الكرمانى : ۲۱ \ ۱۵۶)
(۳) صحيح البخارى ، كتاب الزكاة باب وجوب الزكاة (رقم الحديث : ۱۳۳۲)
(۴) ۵۶۳۸) الحديث أخرجه مسلم فى كتاب الأدب ، باب صلة الرحم و تحريم قطيعتها : ٤ \ ۱۹۸۰ (رقم الحديث:۲۵۵۶) وأخرجه الترمذى فى كتاب البر والصلة،باب ما جاء فى صلة الرحم: ٤ \ ۳۱۶ (رقم الحديث : ۱۹۰۹) و أخرجه أبوداود فى كتاب الزكاة ، باب فى صلة الرحم : ۲ \ ۱۳۳ (رقم الحديث : ۱۶۹۶)
(۵) عمدة القارى : ۲۲ \ ۹۱ ، ارشاد السارى : ۱۳ \ ۱۸)

۱۲=بَاب مَنْ بُسِطَ لَهُ فِي الرِّزْقِ بِصِلَةِ الرَّحِمِ

[۵۶۳۹] (۱) حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَعْنٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِهِ وَأَنْ يُنْسَأَ لَهُ فِي أَثَرِهِ فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ

[۵۶۴۰] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِهِ وَيُنْسَأَ لَهُ فِي أَثَرِهِ فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ [ر: ۱۹۶۱]

په صله رحمئ سره په رزق او په عمر دواړو کښې برکت او اضافه راځی ، رسول الله ﷺ فرمائی چه څوك دا خوښوی چه دده رزق دې فراخه شی او دده عمر دې دراز وی نو ده لره پکار دی چه دې صله رحمی اوکړی -

قوله: يُنْسَأ له في أثره: نسأ په معنی د مؤخر کولو ده ، د اثر نه اجل مراد دې ، يعنی دده په اجل کښې تاخير اوکړې شی ، او عمر کښې ئې اضافه اوشی - (۲) او يا د أثر نه نخې د قدم مراد دی ، او د قدمونو د نخو مؤخر کيدل کنايه ده د عمر د اوږديدو نه چه د قدم نخې ديکښې تر ډير وخته پورې جاری وی -

په ايت او حديث کښې تعارض اوددې جواب: په قرآن کريم کښې دی ﴿فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ﴾ (۳) .... او دلته حديث کښې دی چه دده عمر زياتيږی ، په ظاهره دواړو کښې تعارض دې -

① ددې يو جواب دا ورکړې شويدې چه په آيت کريمه کښې د تقدير مبرم ذکر دې او حديث کښې د تقدير معلق ذکر دې ، دې وجه نه دواړو کښې هيڅ تعارض نشته دې ، دې جواب ته اشاره کوی او شارحين ليکی :

"أو المراد به بالنسبة إلى ما يظهر للملائكة في اللوح المحفوظ ، أن عمره ستون سنة ، إلا أن يصل رحمه ، فإن وصلها ، زيد له أربعون سنة ، وقد علم الله سبحانه و تعالى بما سيقع من ذلك ، وهو من معنى قوله تعالى (يمحو الله ما يشاء و يثبت) فبالنسبة إلى علم الله ، و ما سبق به قدرته ، لا زيادة ، بل هي مستحيلة ، بالنسبة إلى ما ظهر للمخلوقين تتصور الزيادة ، وهو مراد الحديث" (۴)

حاصل دا دې چه د الله تعالی د علم او د تقدير مبرم په اعتبار سره کوم عمر مقرر دې ،

---

(۱) ۵۶۳۹) هذا الحديث من إفراد الإمام البخاری . عمدة القاری : ۲۲\۹۱)

(۲) عمدة القاری:۲۲\۹۱ ارشاد الساری: ۱۳\۱۹ . شرح ابن بطال: ۹\۲۰۳ . فيض الباری ۴\۳۸۶)

(۳) سورة الأعراف : ۳۴)

(۴) ارشاد الساری : ۱۳\۱۹ . عمدة القاری : ۲۲\۹۱ . فتح الباری : ۱۰\۵۱۰)

ديكبني خو هيڅ قسم اضافه نه شي كيدې ، د قرآن كريم آيت فإذا جاء أجلهم.... كښي هم دا اجل مراد دې ، خو لوح محفوظ كښې د فرشتو وړاندې يو تقدير معلق وى ، مثلاً داسې ليكلې شوې وى چه دفلانى سړى عمر خو به شپيته كاله وى خو كه ده صله رحمي اوكړه نو څلويښت كاله به ورسره نور هم زيات كړې شى ، اوس الله تعالى ته خو معلومه ده چه دا سړې به صله رحمى كوى او كه نه ، چه دې به شپيته كاله ژوندې وى او كه سل كاله ، خو فرشتو ته نه وى معلوم ، د دوى وړاندې هم دا خبره وى چه كه ده صله رحمى اوكړه نو دده عمر كښې به څلويښت كاله اضافه اوشي نو دا اضافه په تقدير معلق كښې د مخلوق وړاندې د ظاهريدو په اعتبار سره ده ، د الله تعالى د ازلى علم او تقدير مبرم په اعتبار سره نه ده - ② دويم جواب دا وركړې شويدې چه دده عمر كښې د اضافه نه مراد په مُده د عمر كښې اضافه مراد نه ده ، بلكه هم دې عمر كښې د نيكو او د اطاعتونو او د آثار صالحه اضافه مراد ده ..... د ده اولاد به نيك وى چه ده دپاره به دعاګانې كوى - [1] لكه چه په معجم طبرانى كښې د حضرت ابوالدرداء نه روايت دې چه دې فرمائى :

"ذكر عند رسول الله صلى الله عليه و سلم من وصل رحمه أنسئ له في أجله ، فقال : ليس زيادة في عمره ، قال الله تعالى : (فإذا جاء أجلهم....) ولكن الرجل يكون له الذرية الصالحة يدعون له من بعده" [2]

او دينه په بركت سره هم تعبير كيدې شى چه دده عمر چه سره د دې چه دې به مختصر وى داسې بركتمند وى چه د اوږدو عمرونو والا په مقابله كښې به ئې يا خو هم ددوى پشان ډير زيات ښه كارونه كولو والا به وى په شان د مولانا عبد الحى لكهنوى رحمه الله چه دده ټول عمر يو كم څلويښت كاله وو ، او كار ئې ډير كړې وو يا د مولانا محمد قاسم نانوتوى رحمه الله په شان چه د ده ټول عمر يو كم پنځوست كاله وو او كارونه ئې لوې لوې كړې وو -

محمد بن معن : صحيح بخارى كښې د ده صرف هم دا يو حديث دې [3] يحي بن معين ، محمد بن سعد ابوحاتم دوى ته ثقه ويلې دې ، ابن حبان د ده تذكره په كتاب الثقات كښې كړيده ، ابن سعد وايى دې قليل الحديث وو يعنى ده نه ډير كم روايتونه مروى دى - [4]

سفيان بن عيينه د وفات سره نزدې نزدې دده هم وفات شوې وو ، د دوى عمر څه كم سل كاله وو د نوى نه بره بره وو [5] د سفيان بن عيينه وفات رجب سن ١٩٨هـ كښې شوې وو [6] د صحاح سته مصنفينو كښې امام بخارى ، ابوداود ، ترمذى او ابن ماجه د دوى روايتونه نقل كړيدى - [7]

[1] عمدة القارى : ٢٢\٩١ ، ارشاد السارى : ١٣\١٩ ، فتح البارى : ١٠\٥١٠)
[2] ارشاد السارى : ١٣\٩١ ، فتح البارى : ١٠\٥١٠)
[3] عمدة القارى : ٢٢\٩١ ، فتح البارى : ١٠\٥٠٩)
[4] تهذيب الكمال : ٢٦\٤٨٩ ، و طبقات ابن سعد : ٥\٤٣٦)
[5] تهذيب الكمال : ٢٦\٤٨٩ ، تاريخ البخارى الكبير : ١\١ الترجمة : ٧١٩)
[6] تهذيب الكمال : ٢٦\٤٩٠)
[7] تهذيب الكمال : ٢٦\٤٩٠)

۱۳= بَاب مَنْ وَصَلَ وَصَلَهُ اللّٰهُ

[۵۶۳۱\۵۶۳۲] حَدَّثَنِي بِشْرُ بْنُ مُحَمَّدٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللّٰهِ أَخْبَرَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ أَبِي مُزَرِّدٍ قَالَ سَمِعْتُ عَمِّي سَعِيدَ بْنَ يَسَارٍ يُحَدِّثُ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ خَلَقَ الْخَلْقَ حَتَّى إِذَا فَرَغَ مِنْ خَلْقِهِ قَالَتِ الرَّحِمُ هَذَا مَقَامُ الْعَائِذِ بِكَ مِنَ الْقَطِيعَةِ قَالَ نَعَمْ أَمَا تَرْضَيْنَ أَنْ أَصِلَ مَنْ وَصَلَكِ وَأَقْطَعَ مَنْ قَطَعَكِ قَالَتْ بَلَى يَا رَبِّ قَالَ فَهُوَ لَكِ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ تَوَلَّيْتُمْ أَنْ تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوا أَرْحَامَكُمْ

[۵۶۳۲] حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ مَخْلَدٍ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ دِينَارٍ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الرَّحِمَ شِجْنَةٌ مِنَ الرَّحْمَنِ فَقَالَ اللّٰهُ مَنْ وَصَلَكِ وَصَلْتُهُ وَمَنْ قَطَعَكِ قَطَعْتُهُ [ر: ۳۵۵۲]

[۵۶۳۳] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ قَالَ أَخْبَرَنِي مُعَاوِيَةُ بْنُ أَبِي مُزَرِّدٍ عَنْ يَزِيدَ بْنِ رُومَانَ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الرَّحِمُ شِجْنَةٌ فَمَنْ وَصَلَهَا وَصَلْتُهُ وَمَنْ قَطَعَهَا قَطَعْتُهُ

الله جل شانه فرمائی چه څوک تا سره جوړ ساتی څه به هغه سره جوړ لرم او چه څوک تا ماتوی (پریږدی) نو څه به هغه مات کړم (پریږدم) ... مقصد دا دې چه کوم کس صله رحمی کوی نو الله تعالی به خپل فضل او احسان په ده باندې کوی او چه څوک قطع رحمی کوی نو الله تعالی به ده لره د خپل فضل اواحسان نه محروم اوساتی او دې به مصیبتونو او تکلیفونو ته وروراندې کړی .... لکه چه ابن ابی حمزه فرمائی " الوصل من الله كناية عن عظيم إحسانه .... والقطع منه هو كناية عن حرمان الإحسان " (۱)

قوله: إن الرحم شجنة من الرحمن : رَحِم (د راء په فتحه او د حاء په کسره سره) رشتې ته وائی او " ذو رحم " رشته دار ته وائی برابره خبره ده چه وراثت دوی کښې جاری کیږی او که نه جاری کیږی (۲)

شجنة د شین په کسرې او د جیم په سکون سره مشهور دې او د شین په ضمه او په فتحه سره ویل ئې هم جائز دی ، د ګورې اونې ګور ښاخ ته ویلې کیږی (۳) إن الرحم شجنة من الرحمن " معنی دا ده چه " رحم " د رحمن " نه مشتق دې ده سره د ده تعلق دې

(۱) فتح الباری : ۱۰\۵۱۲ ، عمدة القاری : ۲۲\۹۳ ، ارشاد الساری : ۱۳\۲۲)

(۲) فتح الباری ، کتاب الأدب ، باب فضل صلة الرحم : ۱۰\۵۰۷ ، عمدة القاری ، باب فضل صلة الرحم : ۲۲\۹۰ ، ارشاد الساری باب فضل صلة الرحم : ۱۳\۱۷)

(۳) عمدة القاری : ۲۲\۹۳ ، فتح الباری : ۱۰\۵۱۲ ، ارشاد الساری : ۱۳\۲۱)

۱۴- بَاب تُبَلّ الرَّحِمُ بِبَلَاهَا

[۵۶۴۴] (۱) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَبَّاسٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ أَنَّ عَمْرَو بْنَ الْعَاصِ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جِهَارًا غَيْرَ سِرٍّ يَقُولُ إِنَّ آلَ أَبِي قَالَ عَمْرٌو فِي كِتَابِ مُحَمَّدِ بْنِ جَعْفَرٍ بَيَاضٌ لَيْسُوا بِأَوْلِيَائِي إِنَّمَا وَلِيِّيَ اللَّهُ وَصَالِحُ الْمُؤْمِنِينَ
زَادَ عَنْبَسَةُ بْنُ عَبْدِ الْوَاحِدِ عَنْ بَيَانٍ عَنْ قَيْسٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَكِنْ لَهُمْ رَحِمٌ أَبُلُّهَا بِبَلَاهَا يَعْنِي أَصِلُهَا بِصِلَتِهَا
قَالَ أَبُو عَبْد اللَّهِ بِبَلَاهَا كَذَا وَقَعَ وَبِبَلَالِهَا أَجْوَدُ وَأَصَحُّ وَبِبَلَاهَا لَا أَعْرِفُ لَهُ وَجْهًا

رشته داریٔ لره د رشتې په لوندوالي سره لوندول پکار دی ، د لوندوالی نه صله رحمی مراد ده یعنی د رشته داریٔ حقونه اداء کول پکار دی او رشته دارانو سره حسن سلوك او صله رحمی کول پکار دی -

قوله: سمعت النبی صلی الله علیه وسلم جهارًا غیر سر: ما د نبی کریم ﷺ نه په قلار نه بلکه په اوچت اواز دا ویل اوریدلي دی او دا د ضمیر د متکلم نه هم حال جوړیدې شی یعنی دا حدیث خه پټ نه بلکه علانیه ئې بیانوم - (۲) یقول: "إن آل أبي - قال عمرو: في كتاب محمد بن جعفر بياض - ليسوا بأوليائي....."

رسول الله ﷺ فرمائلي دی چه آل د ابی (د عمرو بن عباس بیان دې چه د محمد بن جعفر په کتاب کښې د " آل ابی " نه پس بیاض دې یعنی څه خائې پریخودې شویدې) خما دوستان نه دی بلکه خما دوستان خو الله او نیك مومنان دی -

د محمد بن جعفر په کتاب کښې د " آل ابی " نه پس مضاف الیه نشته دې ، بلکه بیاض دې ، د مستملی په روایت کښې " آل ابی فلان " دې او په یو روایت کښې " آل ابی طالب " دې - (۳)

قوله: ولكن لهم رحم أبلها ببلالها يعني أصلها بصلتها: حاصل چه آل ابی طالب خما دوستان نه دی ، خو دوی سره خما رشته داری ده چه خه به دا د دې په لوند والی سره لوندوم یعنی خه به دوی سره صله رحمی کوم -

قوله: قال ابو عبدالله: ببلاها ، كذا وقع وببلالها اجود واصح ، وببلاها لا اعرف له وجها: بعض نسخو کښې دا عبارت شته او بعضو کښې نشته دې -امام بخاری رحمه الله

---

۱) ۵۶۴۴) الحديث أخرجه مسلم فی کتاب الإیمان ، باب موالاة المؤمنین و مقاطعه غیرهم و البراءة منهم : ۱ \ ۱۹۷ (رقم الحدیث : ۲۱۵)

۲) عمدة القاری : ۲۲ \ ۹۳ ، فتح الباری : ۱۰ \ ۵۱۲ ، ارشاد الساری : ۱۳ \ ۲۱)

۳) عمدة القاری : ۲۲ \ ۹۴ ، فتح الباری : ۱۰ \ ۵۱۵ ، ارشاد الساری : ۱۳ \ ۲۳)

فرمائی " ببلاها " هم واقع دې ، خو ببلالها " زيات عمده او صحيح دې او " ببلاها " په باره کښې فرمائي چه څه د دې معنی او وجه نه پيژنم - بلال (په کسره د باء سره) لوندوالی ته وائی ، بلا : آزمائش ته وائی ، مولانا انور شاه کشمیری رحمه الله فرمائی چه " يبل ببلالها " محاوره ده اوپه اردو کښې سینچنا یعنی " تازه کول " راځی - ([1])
داروایت امام مسلم په خپل صحیح کښې په کتاب الایمان کښې ذکر کړیدې - ([2])

۱۵=بَاب لَيْسَ الْوَاصِلُ بِالْمُكَافِئِ

[۵۶۳۶] ([3]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنْ الْأَعْمَشِ وَالْحَسَنِ بْنِ عَمْرٍو وَفِطْرٍ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ سُفْيَانُ لَمْ يَرْفَعْهُ الْأَعْمَشُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَفَعَهُ حَسَنٌ وَفِطْرٌ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيْسَ الْوَاصِلُ بِالْمُكَافِئِ وَلَكِنْ الْوَاصِلُ الَّذِي إِذَا قُطِعَتْ رَحِمُهُ وَصَلَهَا [ر:۱۳۶۹]

بدله ورکوونکې صله رحمی کوونکې نه دې . صله رحمی کوونکې هغه کس دې چه کله ده سره رشته داری بنده کړې شی نو دې دا جوړه کړی ، مقصد دا دې چه رشته دارانو کښې درسره چا حسن سلوك اوکړو او د دې په بدله کښې هم حسن سلوك اوشی نو دا د بنو په بدله کښې ښه دی ، او دا په خپل ځائې په کار دی - ﴿هَلْ جَزَآءُ الْإِحْسَانِ إِلَّا الْإِحْسَانُ﴾ خو صله رحمی دا ده چه سرې د رشته دارانو سره په هغه حالت کښې هم ښه سلوك اوکړی او د دوی د حقونو اداء کولو دې فکر اوکړی چه کله د دوی د طرفه قطع تعلق او قطع رحمی بیا راشی روایت د باب کښې د سفیان ثوری درې شیخان دی ، سلیمان اعمش ، حسن بن عمرو ، فطر بن خلیفه ، فطر (د فاء په زیر او د طاء په سکون سره) د پلار نوم خلیفه دې ، سفیان ثوری رحمه الله فرمائی ، اعمش دا حدیث مرفوع نه دې بیان کړې ، خو حسن بن عمرو او فطر بن خلیفه دا مرفوع بیان کړیدې -

۱۶=بَاب مَنْ وَصَلَ رَحِمَهُ فِي الشِّرْكِ ثُمَّ أَسْلَمَ

[۵۶۳۷] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنْ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ أَنَّ حَكِيمَ بْنَ حِزَامٍ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَرَأَيْتَ أُمُورًا كُنْتُ أَتَحَنَّثُ بِهَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ مِنْ صِلَةٍ وَعَتَاقَةٍ وَصَدَقَةٍ هَلْ لِي فِيهَا مِنْ أَجْرٍ قَالَ حَكِيمٌ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْلَمْتَ عَلَى مَا سَلَفَ مِنْ خَيْرٍ وَيُقَالُ أَيْضًا عَنْ أَبِي الْيَمَانِ أَتَحَنَّتُ وَقَالَ مَعْمَرٌ وَصَالِحٌ

---

[1] فيض الباری : ٤ \ ۳۸۶)

[2] صحیح مسلم ، کتاب الإيمان ، باب موالاة المؤمنين و مقاطعة غيرهم و البراء منهم : ۱ \ ۱۹۷ (رقم الحديث : ۲۱۵)

[3] الحديث أخرجه أبوداود فی کتاب الزكاة ، باب فی صلة الرحم : ۲ \ ۱۳۳ (رقم الحديث : ۱۶۹۷) وأخرجه الترمذی فی کتاب البروالصلة،باب ما جاء فی صلة الرحم: ٤ \ ۳۱۶ (رقم الحديث : ۱۹۰۸)

وَابْنُ الْمُسَافِرِ أَتَحَنَّثُ وَقَالَ ابْنُ إِسْحَاقَ التَّحَنُّثُ التَّبَرُّرُ وَتَابَعَهُمْ هِشَامٌ عَنْ أَبِيهِ [ر:۱۳۶۹]

چه چا د کفر او د شرك په حالت کښې صله رحمی اوکړه او بيا ئې اسلام راوړو نو د زمانې د کفر د صله رحمئ به ده ته ثواب ملاويږی او که نه ؟ ديکښې اختلاف دې ، د دې تفصيلی بحث په کتاب الايمان کښې د حضرت ابوسعيد خدری دحديث " إذا أسلم العبد فحسن اسلامه " تر لاندې تير شويدې - (۱) حديث د باب نه معلوميږی چه ده ته به اجر ملاويږی

روايت دباب کښې دی "حکيم بن حزام عرض اوکړو، اے د الله رسوله ، د هغې امورو متعلق ما ته بيان اوکړئ چه کوم به ما په زمانه د جاهليت کښې کول يعنی صله رحمی کول ، غلامان ازادول او صدقه وغيره ورکول شو ، آيا ددې به ما ته اجر ملاويږی ؟ رسول الله ﷺ اوفرمائل : ته خو هم ددې نيکو د وجه نه مسلمان شوې وې چه په تير شوی وخت کښې تا کړيدی اويا د "اسلمت علی ما سلف من خير" معنی داده چه ددې نيکوبه تا ته اجر ملاويږی.

قوله: ويقال ايضا عن ابى اليمان : أتحنت": بره د ابو اليمان حکم بن نافع چه کوم روايت امام بخاری رحمه الله ذکر کړيدې ، ديکښې " اتحنث " په ثاء سره راغلې دې ، امام بخاری رحمه الله چه ده نه " اتحنت " په تاء سره هم منقول دې ، " يقال " د مجهول صيغه ئې راوړه نو د دې ضعف ته ئې اشاره اوکړه -

قوله: وقال معمر، وصالح، وابن المسافر: اتحنث: معمر بن راشد ، صالح بن کيسان او عبد الرحمن بن خالد بن مسافر هم " اتحنث " ثاء سره نقل کړيدې .... د معمر روايت امام بخاری رحمه الله په کتاب الزکات کښې " باب من تصدق فی الشرك ثم اسلم " تر لاندې ، د صالح روايت امام مسلم او د ابن المسافر روايت طبرانی موصولاً نقل کړيدې - (۲)

قوله: وقال ابن اسحاق : التحنث : التبرر: محمد ابن اسحاق فرمائی چه د تحنث معنی نيکی سر ته رسول او تقرب الی الله حاصلول دی ، علامه ابن اثير په النهايه کښې ددې معنی ليکی "....كنت أتحنث بها فی الجاهلية" أی أتقرب بها إلى الله" (۳)

تر څو چه د " اتحنث " تعلق دې نو ابن التين فرمائی چه د دې معنی ما ته نه ده معلومه ، اسماعيلی دا تصحيف ګرځولې دې ، (۴) حافظ ابن حجر فرمائی : " وبالمثلثة أصح رواية و معنى" (۵) يعنی أتحنث (ثاء سره) د روايت او دمعنی په دواړو اعتبارو سره زيات صحيح دې

قوله: وتابعه هشام عن أبيه : يعنی محمد بن اسحاق د تحنث چه کوم تفسير بيان کړيدې ديکښې د دوی متابعت هشام بن عروه د خپل پلار حضرت عروه نه کړيدې ، دا

---

۱) کشف الباری و کتاب الايمان ، باب حسن اسلام المرء : ۲\۴۰۳)
۲) عمدة القاری : ۲۲\۹۶ ، فتح الباری : ۱۰\۵۲۰ ، ارشاد الساری : ۱۳\۲۵)
۳) النهاية لابن الاثير : ۱\۴۴۹)
۴) فتح الباری : ۱۰\۵۲۰ ، عمدة القاری : ۲۲\۹۶)
۵) فتح الباری ، کتاب الزکات ، باب من تصدق فی الشرک ثم أسلم : ۳\۳۰۲)

متابعت امام بخاری رحمه الله په "كتاب العتق" کښې موصولاً نقل کړيدې - ([1])
بعض نسخو کښې "تابعهم" د ضمير د جمع سره دې ، دې صورت کښې به مطلب وی چه د معمر ، صالح او د ابواليمان وغيره متابعت هشام کړيدې -

١٧=بَابُ مَنْ تَرَكَ صَبِيَّةَ غَيْرِهِ حَتَّى تَلْعَبَ بِهِ أَوْقَبَّلَهَا أَوْمَازَحَهَا

[٥٦٤٣] حَدَّثَنَا حِبَّانُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ عَنْ خَالِدِ بْنِ سَعِيدٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أُمِّ خَالِدٍ بِنْتِ خَالِدِ بْنِ سَعِيدٍ قَالَتْ أَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ أَبِي وَعَلَيَّ قَمِيصٌ أَصْفَرُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَنَهْ سَنَهْ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ وَهِيَ بِالْحَبَشِيَّةِ حَسَنَةٌ قَالَتْ فَذَهَبْتُ أَلْعَبُ بِخَاتَمِ النُّبُوَّةِ فَزَبَرَنِي أَبِي قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعْهَا ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبْلِي وَأَخْلِقِي ثُمَّ أَبْلِي وَأَخْلِقِي ثُمَّ أَبْلِي وَأَخْلِقِي قَالَ عَبْدُ اللَّهِ فَبَقِيَتْ حَتَّى ذَكَرَ يَعْنِي مِنْ بَقَائِهَا [ر:٢٩٠٦]

د بل ماشومه لوبول ، دا خكلول دې سره ټوقې ټقالې کول جائز دي او د رسول الله ﷺ نه ثابت دی ، حديث د باب كتاب اللباس کښې تير شويدې ([2]) او ددې مناسبت د باب سره ښه واضح دې -

قوله: فبقيت حتى ذكر يعني من بقائها: يعنى حضرت ام خالد دينه پس ژوندئ پاتې شوه ، تر دې چه راوی ډير اوږد وخت ذکر کړو .... بقيت که د مونث صيغه وی نوضميربه حضرت ام خالد ته راجع وی او مطلب به دا وی چه رسول الله ﷺ "ابلی و أخلقی" په الفاظو سره دوی دپاره د اوږد عمر دعا اوکړه ، د دې دعا اثر دا شو چه دې ډير عمر بيا موندلو -
حتى ذكر يعنى ذكر الراوى زمنا طويلا ([3])
خو حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه اكثر نسخو کښې د "فبقى" مذکر صيغه راغلې ده ، "أى فبقى ذلك الثوب المذكور" يعنى دا جامه ډير مودې پورې پاتې شوه ([4]) دې صورت کښې به په من بقائها کښې ضمير "الخميصة" ته راجع وی -
علامه کرمانی رحمه الله د "حتى ذكر" ترجمه کړيده "المعنى: صار القميص مذكورا عند الناس بخروجه بقائه عن العادة" ([5]) د دې معنى په صورت کښې به "ذُكر" صيغه د مجهول شی ، او د ذال به ضمه وی . يعنى ددې قميص د خلقو مينځ کښې ډيره چرچه وه -

---

[1] صحيح البخاری . كتاب العتق ، باب عتق المشرك (رقم الحديث : ٢٥٣٨
[2] صحيح البخاری . كتاب اللباس ، باب الخميصة السوداء (رقم الحديث : ٥٨٢٣)
[3] ارشاد السارى : ١٣\٢٦ وفتح البارى : ١٠\٥٢١ . و فى فيض البارى : بقيت تلك الإبنة حيا . و بقى ذلك الثوب أيضا : ٤\٣٨٤)
[4] فتح البارى : ١٠\٥٢١)
[5] شرح الكرمانى : ٢١\١٦٢ ، عمدة القارى : ٢٢\٩٧ . فتح البارى : ١٠\٥٢١)

١٨=بَاب رَحْمَةِ الْوَلَدِ وَتَقْبِيلِهِ وَمُعَانَقَتِهِ .

وَقَالَ ثَابِتٌ عَنْ أَنَسٍ أَخَذَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِبْرَاهِيمَ فَقَبَّلَهُ وَشَمَّهُ

د بچو سره شفقت کول ، د دوی خکلول او دوی راترغاړه ويستل د رسول الله ﷺ نه ثابت دی . امام بخاری رحمه الله د ثابت ابن اسلم البنانی روايت ذکر کړيدې چه امام بخاری په " باب مناقب الحسن و الحسين " کښې موصولاً نقل کړيدې چه رسول الله ﷺ خپل خوئ ابراهيم خکل کړو او دې ئې بوئې کړو - (١)

[٥٦٣٨] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا مَهْدِيٌّ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي يَعْقُوبَ عَنْ ابْنِ أَبِي نُعْمٍ قَالَ كُنْتُ شَاهِدًا لِابْنِ عُمَرَ وَسَأَلَهُ رَجُلٌ عَنْ دَمِ الْبَعُوضِ فَقَالَ مِمَّنْ أَنْتَ فَقَالَ مِنْ أَهْلِ الْعِرَاقِ قَالَ انْظُرُوا إِلَى هَذَا يَسْأَلُنِي عَنْ دَمِ الْبَعُوضِ وَقَدْ قَتَلُوا ابْنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ هُمَا رَيْحَانَتَايَ مِنْ الدُّنْيَا [ر: ٣٥٤٣]

ابن ابی نعيم بيان کړيدې چه څه د ابن عمر سره ووم چه دوی نه يو سړی د ماشی د وژلو (د دم) متعلق تپوس اوکړو (يعنی په حالت د احرام کښې د ماشی وژل څنګه دې ؟) نو دوی اوويل : ته د کوم ځائې اوسيدونکې ئې ؟ نو ده اوويل : د عراق اوسيدونکې يم . ابن عمر اوفرمائل : دې سړې ته اوګورئ دې د ماشي د وژلو (د دم) تپوس کوی حال دا دې چه دې خلقو د حضور ﷺ خوئ (حضرت حسين ﷛) قتل کړيدې . حال دا دې چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلې دی چه دا دواړه په دنيا کښې څما دوه ګلونه دی -

د ابن ابی نعيم نوم عبدالرحمن دې . رسول الله ﷺ د حضرت حسن او د حضرت حسين په بارد کښې فرمائی چه " هما ريحانتای من الدنيا " -

ابن تين فرمائی چه " ريحان " معنی دلته رزق دې (٢) " أی هما من رزق الله الذی رزقنيه " يعنی دا دواړه ما ته د الله تعالی د طرفه راکړې شوې " رزق او هديه " ده . علامه زمخشری په " الفائق " کښې هم دا معنی ليکلې ده - (٣)

دويمه معنی ئې دګل ده ، ريحانه ديو مشهور او خوشبوداره ګل نوم دې . او مطلب ئې دا دې چه دا دواړه په دنيا کښې ماد پاره ګلونه دی . چه څنګه ګلونه بويولې کيږی ، رسول الله ﷺ به هم دوی دواړه بويول - (٤)

[٥٦٣٩] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنْ الزُّهْرِيِّ قَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ أَنَّ عُرْوَةَ بْنَ الزُّبَيْرِ أَخْبَرَهُ أَنَّ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدَّثَتْهُ قَالَتْ جَاءَتْنِي امْرَأَةٌ

---

١) صحيح البخاری . کتاب فضائل اصحاب النبی صلی الله عليه وسلم . باب مناقب الحسن و الحسين (رقم الحديث : ٣٥٤٣)

٢) عمدة القاری : ٢٢ \ ٩٨ . فتح الباری : ١٠ \ ٥٢٤ . ارشاد الساری : ١٣ \ ٢٨)

٣) عمدة القاری : ٢٢ \ ٩٨ . فتح الباری : ١٠ \ ٥٢٤)

٤) عمدة القاری : ٢٢ \ ٩٨ . فتح الباری : ١٠ \ ٥٢٤ . ارشاد الساری : ١٣ \ ٢٨)

مَعَهَا ابْنَتَانِ تَسْأَلُنِي فَلَمْ تَجِدْ عِنْدِي غَيْرَ تَمْرَةٍ وَاحِدَةٍ فَأَعْطَيْتُهَا فَقَسَمَتْهَا بَيْنَ ابْنَتَيْهَا ثُمَّ قَامَتْ فَخَرَجَتْ فَدَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَدَّثْتُهُ فَقَالَ مَنْ يَلِي مِنْ هَذِهِ الْبَنَاتِ شَيْئًا فَأَحْسَنَ إِلَيْهِنَّ كُنَّ لَهُ سِتْرًا مِنَ النَّارِ [ر:۱۳۵۲]

حضرت عائشه فرمائی چه یو ښځه د دوه لونړو سره ما کره څه غوښتو دپاره راغله ، نو دې دپاره ما سره د یو کجور نه ماسوا نور څه ملاو نه شو ، نو ما دې ته دا ورکړه ، دې دا یو کجوره د خپلو دواړو لونړو په مینځ کښې تقسیم کړه ، بیا پاڅیده او روانه شوه ، رسول الله ﷺ چه راغلو نو ما دوی ته د دې ښځې قصه بیانه کړه نو وې فرمائل :" چه کوم کس په دې جینکو کښې د څه څیز والی جوړ شو پس ده د دوی سره ښه سلوك اوکړو نو دا جینکۍ به ده لره د جهنم پرده شی " -

قوله: من يلي من هذه البنات شيئًا : اکثر نسخو کښې " يلي " دې چه د ولایت نه دې ، بره ترجمه ددې مطابق شویده . د ترمذی وغیره روایت کښې " من یبتلي " دې [1]

امام نووی رحمه الله فرمائی چه خلقو به چه په دغه زمانه کښې جینکۍ یو آزمائش او مصیبت ګنړلو ، دې وجه نه د ابتلاء لفظ د خلقو ددې عادت په وجه استعمال کړې شو - [2]

علامه قسطلانی رحمه الله ددې حدیث په باره کښې فرمائی :

وفيه تاكيد حقوق البنات لما فيهن من الضعف غالبا عن القيام بمصالح انفسهن بخلاف الذكور" [3]

یعنی دې حدیث نه د جینکو د حقونو تاکید معلومیږی ځکه چه دوی طبعًا او فطرتًا کمزورې او ضعیفانې وی ، خپل ذاتی ضروریات په ښه شان نه شی پوره کولې -

د حدیث نه مستنبط اداب : علامه ابن بطال لیکی : " وفيه جواز سؤال المحتاج ، و سخاء عائشة لكونها لم تكن إلا تمرة فأثرت بها ، و أن القليل لا يمتنع التصدق به لحقارته ، بل ينبغي للمتصدق أن يتصدق بما تيسر له وإن قل ، وفيه جواز ذكر المعروف إن لم يكن على وجه الفخر و لا المنة [4]

یعنی دې حدیث نه یو خو دا خبره معلومیږی چه کُه سړې محتاج او ضرورتمند وی نو ده دپاره سوال کول جائز دی - د حضرت عائشه رضي الله عنها سخاوت هم دینه معلومیږی چه صرف یو کهجوره وه ورسره هغه ئې هم ورکړه ، دریمه ترینه دا خبره معلومیږی چه لږ او معمولی څیز هم صدقه کولې شې ، دا معمولی ګنړل او صدقه نه کول صحیح نه دی ، بلکه د وس او د توفیق مطابق چه څه هم وی صدقه کول پکار دی -

څلورمه خبره ترینه دا معلومه شوه چه د خپلې یو نیکۍ ذکر اوشی نو دا جائز دی خو په دې شرط چه دا د فخر او د احسان زباتلو (وریادولو) په نیت نه وی -

---

[1] جامع الترمذی ، كتاب البر والصلة ، باب ما جاء في النفقة على البنات و الأخوات : ٤ \ ٣١٩ (رقم الحديث : ١٩١٣)

[2] صحيح مسلم ، كتاب البر و الصلة ، باب فضل الإحسان إلى البنات : ٢ \ ٣٣٠)

[3] ارشاد الساری : ١٣ \ ٢٩)

[4] فتح الباری : ١٠ \ ٥٢٩)

دلته د بخاری په روایت کښې د یو کهجورې او د صحیح مسلم په روایت کښې د درې کجورو ذکر دې ، دواړو کښې تطبیق داسې کیدې شی چه ابتداء یو کجوره حضرت عائشه ته ملاوه شوه او روستو ورته دوه نورې هم ملاو شوې - (١)

[٥٦٥٠] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ حَدَّثَنَا سَعِيدٌ الْمَقْبُرِيُّ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ سُلَيْمٍ حَدَّثَنَا أَبُو قَتَادَةَ قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأُمَامَةُ بِنْتُ أَبِي الْعَاصِ عَلَى عَاتِقِهِ فَصَلَّى فَإِذَا رَكَعَ وَضَعَ وَإِذَا رَفَعَ رَفَعَهَا [ر: ٤٩٣]

[٥٦٥١] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَبَّلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحَسَنَ بْنَ عَلِيٍّ وَعِنْدَهُ الْأَقْرَعُ بْنُ حَابِسٍ التَّمِيمِيُّ جَالِسًا فَقَالَ الْأَقْرَعُ إِنَّ لِي عَشَرَةً مِنَ الْوَلَدِ مَا قَبَّلْتُ مِنْهُمْ أَحَدًا فَنَظَرَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ مَنْ لَا يَرْحَمُ لَا يُرْحَمُ

حضرت ابوهريره ﷛ فرمائی چه رسول الله ﷺ حضرت حسن لره خکل کړو ، او دوی ﷺ سره اقرع بن حابس ناست وو ، اقرع چه دا اولیدل نو وې ویل خما لس بچی دی ما دوی کښې یو هم کله هم نه دې خکل کړې ، رسول الله ﷺ ده ته اوکتل ، او بیا ئې اوفرمائل چه کوم سړې په نورو شفقت او رحم نه کوی نوپه ده به هم رحم نه کیږی -

قوله: مَن لَا يَرْحَم لَا يُرْحَم: دیکښې دوه صورتونه دی :

① مَن موصوله دې ، دا دواړه صیغې په حالت رفعی کښې دی او دا کلام از قبیل خبر دې . ترجمه ئې ده چه کوم سړې رحم نه کوی په ده هم رحم نه کیږی -

② مَن شرطیه جازمه دې ، " لا يَرحم او " لايُرحم " دواړه مجزوم دی . ړومبې شرط او دویم جزاء دد . ترجمه دا ده چه کوم سړې رحم نه کوی نو په هغه به هم رحم نه کیږی - (٢)

علامه سهیلی فرمائی چه ړومبې صورت د سیاق د کلام سره زیات موافق دې (٣)

[٥٦٥٢] (٤) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ هِشَامٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ تُقَبِّلُونَ الصِّبْيَانَ فَمَا نُقَبِّلُهُمْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَأَمْلِكُ لَكَ أَنْ نَزَعَ اللَّهُ مِنْ قَلْبِكَ الرَّحْمَةَ

حضرت عائشه فرمائی چه یو بانډیچی رسول الله ﷺ ته راغلو ، او وې ویل تاسو خلق بچو لره خکلوئ خو مونږ ئې نه خکلو ، دا بانډیچی یا خو اقرع بن حابس وو ، چه د هغه ذکر په تیر شوی حدیث کښې راغلې دې ، یا قیس بن عاصم تمیمی وو او یا عیینه بن حصن وو ،

---

(١) عمدة القاری : ٢٢ \ ٩٩ ، فتح الباری : ١٠ \ ٥٢٤ ، ارشاد الساری : ١٣ \ ٢٨)

(٢) عمدة القاری : ٢٢ \ ١٠٠ فتح الباری : ١٠ \ ٥٢٦ ،ارشاد الساری: ١٣ \ ٣٠ ، شرح الکرمانی : ٢١ \ ١٦٤)

(٣) عمدة القاری : ٢٢ \ ١٠٠ ، فتح الباری : ١٠ \ ٥٢٦ ، ارشاد الساری : ١٣ \ ٣٠)

(٤) ٥٦٥٢) الحدیث أخرجه مسلم فی کتاب الفضائل ، باب رحمته صلی الله علیه وسلم الصبیان و العیال ..... ٤ \ ١٨٠٨ (رقم الحدیث : ٢٣١٧)

په روايتونو كښې په دارنګه واقعه كښې د دې دواړو ذكر هم راغلې دې -

قوله: أو أملك لك أن نزع الله من قلبك الرحمة: يعنى الله تعالى كه د ستا زړه نه شفقت او نرمى ويستلې ده نو څه څه كولې شم -

أوَ أملك كښې همزه د استفهام انكارى دپاره ده "أى لا أملك، أى لا أقدر أن أجعل الرحمة فى قلبك بعد أن نزعها الله منه..."(١) أن نزع..... تركيب كښې د " أملك " دپاره مفعول به دې -

[٥٦٥٣] حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي مَرْيَمَ حَدَّثَنَا أَبُو غَسَّانَ قَالَ حَدَّثَنِي زَيْدُ بْنُ أَسْلَمَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَدِمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْيٌ فَإِذَا امْرَأَةٌ مِنَ السَّبْيِ قَدْ تَحْلُبُ ثَدْيَهَا تَسْقِي إِذَا وَجَدَتْ صَبِيًّا فِي السَّبْيِ أَخَذَتْهُ فَأَلْصَقَتْهُ بِبَطْنِهَا وَأَرْضَعَتْهُ فَقَالَ لَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتُرَوْنَ هَذِهِ طَارِحَةً وَلَدَهَا فِي النَّارِ قُلْنَا لَا وَهِيَ تَقْدِرُ عَلَى أَنْ لَا تَطْرَحَهُ فَقَالَ لَلَّهُ أَرْحَمُ بِعِبَادِهِ مِنْ هَذِهِ بِوَلَدِهَا(٢)

په بندګانو باندې د الله تعالى مهربانى څومره ده؟: حضرت فاروق اعظم فرمائى چه نبى كريم ﷺ ته يو څو قيديان راوستې شو ، دې قيديانو كښې يوه ښځه وه .... دا د تى نه پئې رااوباسى د څكلو دپاره ، نو چه كله دا كوم ماشوم په قيد كښې وينى نو دا ده لره رانيسى او خپلې ګيډې سره ئې لګوى او ده ته پئې وركوى ، نو نبى كريم ﷺ مونږ ته اوفرمائل : آيا تاسو دا سوچ كولې شئ چه دا ښځه دا خپل بچې اور كښې اچولې شى " مونږ اوويل : نه چه لګه دا په نه غورزولو قادره وى . نو دوى ﷺ اوفرمائل : چه الله په خپلو بندګانو د دينه هم زيات مهربان دې چه څومره دا ښځه په خپل بچى مهربان ده

قوله: قد تحلب ثديها تسقى: ① تَحَلَّبَ د باب د تفعل نه د واحد مذكر غائب فعل ماضى معلوم صيغه ده " ثَدْىٌ " ددې فاعل دې يعنى د دې تې پئې وركوى ، د پيو نه ډك وو

② تَحْلُبُ د باب د نصر نه دې " ثدي " ددې مفعول به دې يعنى دې ښځې د تينو نه پئې راويستل " تسقى " ددينه حال واقع كيږى (٣) په بعض روايتونو كښې " تسعى " دې ، يعنى دې د اضطراب په حالت كښې اخوا دیخوا منډې وهلې (٤) او د مسلم شريف په روايت كښې " تبتغى " دې يعنى دې يو بچې تلاش كولو - (٥)

حاصل دا چه ددې ښځې بچې په قيديانو كښې روك شوې وو او ددې تينه د پيو نه ډك

---

(١) عمدة القارى: ٢٢ \ ١٠٠ فتح البارى: ١٠ \ ٥٢٧ . ارشاد السارى: ١٣ \ ٣١ . شرح الكرمانى : ٢١ \ ١٦٤)

(٢) ٥٦٥٣) الحديث أخرجه مسلم فى كتاب التوبة . باب فى سعة رحمة الله تعالى و أنها سبقت غضبه : ٤ \ ٢١٠٩ (رقم الحديث : ٢٧٥٤)

(٣) عمدة القارى : ٢٢ \ ١٠٠ . ارشاد السارى : ١٣ \ ٣١)

(٤) فتح البارى : ١٠ \ ٥٢٨)

(٥) أخرجه مسلم فى كتاب التوبة . باب فى سعة رحمة الله و أنها سبقت غضبه : ٤ \ ٢١٠٩ (رقم الحديث ٢٧٥٤)

شوې وو ، دې وجه نه دې د پریشانی او د اضطراب په حالت د یو بچی په تلاش کښې اخوا دیخوا گرځیدله ، چه دې ته څوك بچې ملاو شی او دا ده ته پښې ورکړی ..... دیکښې دیته خپل بچې ملاو شو نو دې دا د خپلې سینې سره اولګولو ... (۱) رسول الله ﷺ په دې موقعه اوفرمائل الله جل شانه دینه هم زیات په خپلو بندګانو مهربانه دې -

" عباد " نه مؤمنان مراد دی ، ابو محمد بن ابی حمزه فرمائی چه " لفظ العباد عام و معناه خاص بالمؤمنین " (۲)

د حدیث نه مستنبط آداب : حافظ ابن حجر رحمه الله د دې حدیث آداب او مسائل ذکر کوی او لیکی : وفیه اشارة إلی أنه ینبغی للمرء أن یجعل تعلقه فی جمیع الأمور بالله وحده ، و أن کل من فرض أن فیه رحمة ما حتی یقصد لأجلها ، فالله سبحانه و تعالی أرحم منه ، و فیه جواز نظر النساء المسبیات ، و فیه ضرب المثل بما یدرك بالحواس لما لا یدرك بها لتحصیل معرفة الشیء علی وجهه ، وإن کان الذی ضرب به المثل لا یحاط بحقیقته ، لأن رحمة الله لا تدرك بالعقل ، و مع ذلك ، فقربها النبی صلی الله علیه و سلم للسامعین بحال المرأة المذکورة ....." (۳) یعنی دې حدیث نه څو خبرې معلومې شوې :

① سړی لره پکار دی چه په تمامو امورو کښې خپل تعلق د الله تعالی سره جوړ اوساتی . الله تعالی چه کوم احکام فرض کړیدی ، دیکښې هر یو باعث د رحمت دی ، او هم د یو رحمت د وجه نه ددې حکم ورکړې شویدې -

② د جنګی قیدیانو ښځو ته کتل جائز دی -

③ چه د کوم څیز ادراك په حواسو سره نه کیږی ، د دې د پوهولو دپاره او د خلقو ذهن ته د نزدې راوستو دپاره د محسوس څیزونو مثال ورکولې شی ، د الله تعالی د رحمت مکمل ادراك په عقل او حواسو سره نه شی کیدې خو حضور اکرم ﷺ د ښځې محسوس حالت باندې خلق د الله تعالی په رحمت پوهولو دپاره سعی اوکړه -

۱۹= بَاب جَعَلَ اللّٰهُ الرَّحْمَةَ مِائَةَ جُزْءٍ

[۵۶۵۴] (۴) حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ الْحَكَمُ بْنُ نَافِعٍ الْبَهْرَانِيُّ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنْ الزُّهْرِيِّ أَخْبَرَنَا سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ جَعَلَ اللّٰهُ الرَّحْمَةَ مِائَةَ جُزْءٍ فَأَمْسَكَ عِنْدَهُ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ جُزْءًا وَأَنْزَلَ فِي الْأَرْضِ جُزْءًا وَاحِدًا فَمِنْ ذَلِكَ الْجُزْءِ

---

۱) عمدة القاری : ۲۲ \ ۱۰۱ ، فتح الباری : ۱۰ \ ۵۲۸ ، ارشاد الساری : ۱۳ \ ۳۱)

۲) عمدة القاری : ۲۲ \ ۱۰۱ ، فتح الباری : ۱۰ \ ۵۲۹)

۳) فتح الباری : ۱۰ \ ۵۲۹)

۴) ۵۶۵۴) الحدیث أخرجه البخاری أیضا فی کتاب الرقاق ، باب الرجاء مع الخوف (رقم الحدیث : ۶۱۰۴) و أخرجه مسلم فی کتاب التوبة ، باب فی سعة رحمة الله تعالی و أنها سبقت غضبه : ۴ \ ۲۱۰۸ (رقم الحدیث : ۲۷۵۲)

يَتَرَاحَمُ الْخَلْقُ حَتَّى تَرْفَعَ الْفَرَسُ حَافِرَهَا عَنْ وَلَدِهَا خَشْيَةَ أَنْ تُصِيبَهُ [ر:٦١٠٤]

حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ فرمائلي دی چه الله تعالى د رحمت سل حصې کړيدی ، ديکښې ئې يو کم سل حصې د خان سره ساتلي دی او يو حصه ئې په زمکه راکوزه کړه او هم د دې يوې حصې نه مخلوق په يو بل رحم کوی تر دې چه اسپه چه خپله نوکه اوچتوی د خپل بچی نه د دې يرې نه چه هسې نه ده پورې اونه لګی (دا هم ددې يو حصې په سبب سره دې)

قوله: فمن ذلك الجزء يتراحم الخلق : الله جل شانه دنيا ته د رحمت صرف يوه حصه رالیږلې ده او يو کم سل ئې د خان سره ساتلي دی ، آخرت کښې به دا يو حصه هم دی سره ملاو شی نو د سلو عدد به پوره شی او په دنيا کښې د خلقو مينځ کښې چه دا کومه مهربانی او رحمت دې نو دا د دغه يو حصې په سبب دې ، نو آخرت کښې به د سلو حصو په سبب وی ، نو يو بل به هم ددې وجه په آخرت کښې معاف کوی -

او دا مطلب هم کيدې شی چه الله جل شانه د رحمت دا حصې اختيار کړې د دې وجه نه د خلقو به مغفرت او بخشش کوی ..... يو خو د الله تعالى هغه رحمت دې چه کوم د الله تعالى په صفات ذاتيه کښې دې ، نو دا رحمت به دينه علاوه وی - (١)

علامه قرطبی رحمه الله ددې يو بل مطلب بيان کړيدې چه د الله تعالى د نعمتونو سل انواع دی ، ديکښې يو نوع په دنيا کښې ده او باقی انواع الله تعالى د آخرت دپاره د خپل خان سره ساتلي دې .... په آخرت کښې به د دنيا والا نوع هم ورسره ملاو شی نو سل واړه انواع به مکمل مؤمنانو ته ملاوشی - (٢)

علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه د سلو شماره د خلقو د پوهې دپاره په طور د تمثيل ذکر شويده . چه د الله تعالى سره نعمتونه ډير زيات دی او د مخلوق سره کم دی - (٣)

حافظ ابن حجر رحمه الله د سلو د شمير تخصيص ذکر کوی او فرمائی چه جنت کښې به سل درجې وی ، د سلو رحمتونو ذکر د دغه درجاتو په مناسبت سره دې ، د هر يوې درجې دپاره به يو رحمت وی ځکه چه جنت محل د رحمت دې او ديکښې هم د الله تعالى په رحمت سره داخله ممکن کيدې شی ، دې وجه نه چه کوم کس ته د رحمت يو حصه هم ملاو شی هغه به ادنی جنتی وی . چه چا ته ټول رحمتونه ملاو شی هغه به اعلى جنتی وی ، لکه چه ليکی : "فيحتمل أن تكون مناسبة هذا العدد الخاص لكونه مثل عدد درج الجنة ، و الجنة هى محل الرحمة ، فكان كل رحمة بإزاء درجة ، وقد ثبت أنه لا يدخل أحد الجنة إلا برحمة الله تعالى ، فمن نالته منها رحمة واحدة كان أدنى أهل الجنة منزلة ، وأعلاهم منزلة من حصلت له جميع الأنواع من الرحمة" (٤)

---

(١) فتح البارى : ١٠\٥٣٠)

(٢) عمدة القارى : ٢٢\١٠١ . فتح البارى : ١٠\٥٣١)

(٣) شرح الكرمانى : ٢١\١٦٥)

(٤) فتح البارى : ١٠\٥٣١)

٢٠=باب قتل الولد خشية أن يأكل معه

[٥٦٥٥] حدثنا محمد بن كثير أخبرنا سفيان عن منصور عن أبي وائل عن عمرو بن شرحبيل عن عبد الله قال قلت يا رسول الله أي الذنب أعظم قال أن تجعل لله ندا وهو خلقك قلت ثم أي قال أن تقتل ولدك خشية أن يأكل معك قال ثم أي قال أن تزاني حليلة جارك وأنزل الله تصديق قول النبي صلى الله عليه وسلم والذين لا يدعون مع الله إلها آخر الآية [ر: ٤٢٠٧]

اولاد ددې يرې نه قتل كول چه دوى به ده سره خوراك كوى حرام او گناه كبيره ده ، حديث د باب په كتاب التفسير د سورة فرقان د تفسير لاندې تير شويدې - (١)

٢١=باب وضع الصبي في الحجر

[٥٦٥٦] حدثنا محمد بن المثنى حدثنا يحيى بن سعيد عن هشام قال أخبرني أبي عن عائشة أن النبي صلى الله عليه وسلم وضع صبيا في حجره يحنكه فبال عليه فدعا بماء فأتبعه [ر: ٢٢٠]

حجرد حاء په فتح او په كسره سره غيږې ته وائى او بچى په غيږه كښې اوچتول په سنت سره ثابت دې ، لكه چه حديث د باب كښې دى ، تحنيك كهجوره چه اوچيچلې شى او په تالو كښې كيخودې شى ديته وائى ،روايت دباب "كتاب الطهارة، باب بول الصبيان" كښې تيرشويدې.

٢٢=باب وضع الصبي على الفخذ

[٥٦٥٧] حدثنا عبد الله بن محمد حدثنا عارم حدثنا المعتمر بن سليمان يحدث عن أبيه قال سمعت أبا تميمة يحدث عن أبي عثمان النهدي يحدثه أبو عثمان عن أسامة بن زيد رضي الله عنهما كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يأخذني فيقعدني على فخذه ويقعد الحسن على فخذه الأخرى ثم يضمهما ثم يقول اللهم ارحمهما فإني أرحمهما وعن علي قال حدثنا يحيى حدثنا سليمان عن أبي عثمان قال التيمي فوقع في قلبي منه شيء قلت حدثت به كذا وكذا فلم أسمعه من أبي عثمان فنظرت فوجدته عندي مكتوبا فيما سمعت [ر: ٣٥٢٨]

بچى په پتون كښينول په سنت سره ثابت دې ، روايت د باب معتمر د خپل پلار سليمان بن طرفان نه نقل كوى ، د ده شيخ ابوتميمه دې ، د ابو تميمه نوم طريف بن مجالد دې (طريف په وزن د فعيل دې) د ده شيخ ابوعثمان دې چه د هغه نوم عبد الرحمن دې - (٢)

---

(١) صحيح البخارى ،كتاب التفسير ، باب قول الله تعالى ، و الذين لا يدعون مع الله إلها آخر ... الفرقان : ٦٨ (رقم الحديث : ٤٧٦١)

(٢) فتح البارى : ١٠\٥٣٢ ، عمدة القارى : ٢٢\١٠٣)

حضرت اسامه بن زيد فرمائى چه رسول الله ﷺ خه په يو پتون او حضرت حسن په بل پتون كښينولې وو . بيا ئې دواړه پيوسته كړو او دعا ئې اوكړه " اللهم ارحمهما ، فإنى أرحمهما" د رسول الله ﷺ دوفات په وخت د حضرت اسامه عمر د يو روايت مطابق شل كاله او د بل روايت مطابق نورلس كاله وو - (١)

او د حضرت حسن عمر دغه وخت زيات نه زيات اته كاله وو ، د دواړو عمرونو كښې ډير فرق دې ، دا واقعه شايد د هغه وخت ده چه كله حضرت حسن د يو يا د دوه كالو وو او حضرت اسامه به قريب البلوغ وو ، دارنګه لوې بچى هم په غيږه كښې اخستې كيږى او په پتون باندې كښينولې كيږى ، خاص كر چه كله دوى بيمار شى او دې وجه نه د دواړو په عمرونو كښې د فرق سره بيا هم د دوى په پتونونو كښينول څه بعيد خبره نه ده ن- (٢)

قوله: وعن على ،قال حدثنا يحى ،حدثنا سليمان......: " على " نه على بن عبد الله مدينى مراد دې په " عن على " كښې دوه احتماله دى

① يو دا چه چه ددې عطف په سابقه سند " حدثنا عبد الله بن محمد " باندې دې ، او عبد الله بن محمد د امام بخارى شيخ دې ، دې صورت كښې مطلب دا دې چه امام بخارى رحمه الله دا روايت د دوه حضراتو نه رانقل كړيدې يو د عبد الله بن محمد نه او بل د على بن المدينى نه -

② دويم صورت دا دې چه ددې عطف دې په " حدثنا عارم " باندې وى ، نو دې صورت كښې به دا مطلب شى چه امام بخارى رحمه الله د عبد الله بن محمد په واسطه سره دا حديث د على بن المدينى نه هم نقل كړيدې يعنى عبدالله سره دا حديث په واسطه د عارم هم دې او د على بن المدينى په واسطه هم ، امام بخارى رحمه الله دواړو واسطو سره دا رانقل كړيدې - (٣)

قوله: قال التيمى :فوقع فى قلبى منه شيئ،قلت: حدثت به كذا وكذا،فلم أسمعه من أبى عثمان ،فنظرت فوجدته عندى مكتوبا فيما سمعت: سليمان تيمى فرمائى چه دا حديث كله ما بيان كړو نو ځما زړه كښې شك راغلو چه ايا دا حديث ما د ابو عثمان نه بلاواسطه اوريدلې دې او كه د ابوتميمه په واسطه مې اوريدلې دې، يعنى دې حديث كښې ځما شيخ ابوعثمان دې او كه ابو تميمه دې ، چه ما ته شك راغلو نو ما په خپل كتاب كښې اوكتل نو ما په ديكښې بيا موندل چه دا ما د ابوتميمه نه اوريدلې دې يعنى د ابوعثمان نه مې بې د واسطې نه دې اوريدلې . حديث د باب كتاب المناقب ، باب مناقب الحسن و الحسين ﷺ كښې تير شويدې -

ابو تميمه طريف بن مجالد: د ابو تميمه طريف بن مجالد په بخارى كښې صرف دوه

---

١) فتح البارى : ١٠\٥٣٣)
٢) فتح البارى : ١٠\٥٣٣ . عمدة القارى : ٢٢\١٠٣)
٣) فتح البارى : ١٠\٥٣٣ . عمدة القارى : ٢٢\١٠٣)

روايتونه دي يو دا او بل په كتاب الاحكام كښې راخی - ([1])
يحي بن معين ، محمد بن سعد وغيره ائمه د جرح او د تعديل د دوی توثيق کړيدې ([2]) ابن حبان په كتاب الثقات كښې د ده ذکر کړيدې - ([3])
د ده تره ده لره په يو يمنی باندې خرڅ کړې وو ، چه د چا په لاس دې خرڅ کړې شوې وو ، د دې سړی ښځې يو ورځ ده ته بد رد اوويلې نو ده خپل تعارف اوكړو چه خه عرب يم ، ښځې خاوند ته اوويل ، خاوند ده نه تپوس اوكړو نو ده ورته پوره حقيقت ښكاره كړو چه په تا باندې خه خپل تره خرڅ کړې يم خه غلام نه يم بلكه خه اصلاً ازاد يم ، دې اخستونكى يمنی ورته اوويل : چه ته دا اوښه او زاد راه واخله او واپس خپل قوم ته لاړ شه خو ده انکار اوكړو او وې ويل چه كوم قوم خه خرڅ کړې يم ، خه به اوس كله هم دوی سره نه ملاويږم - ([4])
د دوی وفات په پنځه نوی ، اووه نوی يا نه نوی سن هجرئ كښې شويدې - ([5])
د امام مسلم نه علاوه باقی حضراتو د ده روايتونه ذکر کړيدی - ([6])

۲۳=بَاب حُسْنُ الْعَهْدِ مِنَ الْإِيمَانِ

[٥٦٥٨] حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ مَا غِرْتُ عَلَى امْرَأَةٍ مَا غِرْتُ عَلَى خَدِيجَةَ وَلَقَدْ هَلَكَتْ قَبْلَ أَنْ يَتَزَوَّجَنِي بِثَلَاثِ سِنِينَ لِمَا كُنْتُ أَسْمَعُهُ يَذْكُرُهَا وَلَقَدْ أَمَرَهُ رَبُّهُ أَنْ يُبَشِّرَهَا بِبَيْتٍ فِي الْجَنَّةِ مِنْ قَصَبٍ وَإِنْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيَذْبَحُ الشَّاةَ ثُمَّ يُهْدِي فِي خُلَّتِهَا مِنْهَا [ر:٣٦٠٥]

د تعلق لحاظ كول : د عهد څو معنی راځی ، زمان ، مكان ، يمين ، ذمه ، صحبت ، ميثاق ، امان ، نصيحت ، وصيت ([7]) دلته دينه احترام او لحاظ كول مراد دی - ([8]) د حقونو احترام كول او د تعلقاتو لحاظ كول ، په ايمانی عملونو كښې يو عمل دې -
روايت د باب كښې حضرت عائشه فرمائی چه خه يوې ښځې ته هم نه يم پسخيدلې چه څومره خديجه ته پسخيدلې يم ، حال دا دې چه هغه خما د نكاح نه درې كاله وړاندې وفات شوې وه ، ځكه چه ما به د رسول الله ﷺ نه د دوی ذکر كول اوريدل ، او په تحقيق سره دوی ﷺ ته خپل رب حكم کړې وو چه ديته زيرې وركړه د جنت په محل كښې د ملغلرو ، چه كله به دوی يو بكرئ حلاله کړه نو د حضرت خديجه ملګرو ته به ئې هم څه ليږل -

---

[1]) فتح البارى : ١٠\٥٣٣)
[2]) الجرح و التعديل : ٤\الترجمة : ٢١٦٤ ، طبقات بن سعد : ٧\١٥٢)
[3]) كتاب الثقات لابن حبان : ٤\٣٩٥)
[4]) تهذيب الكمال : ١٣\٣٨١ (رقم الترجمة ٢٩٦٢)
[5]) تهذيب الكمال : ١٣\٣٨١ (رقم الترجمة ٢٩٦٢)
[6]) تهذيب الكمال : ١٣\٣٨١ (رقم الترجمة ٢٩٦٢)
[7]) فتح البارى : ١٠\٥٣٤ ، عمدة القارى : ٢٢\١٠٣)
[8]) فتح البارى : ١٠\٥٣٤ ، عمدة القارى : ٢٢\١٠٣)

د حضرت خدیجه ملګرو ته د بکرئ غوښه لیږل "حسن عهد" او د دوی د تعلقاتو د لحاظ ساتلو په طور وه ، هم ددې مناسبت په وجه امام بخاری رحمه الله دا حدیث دلته ذکر کړو .
لکه چه د مستدرك حاکم او د شعب الایمان بیهقی کښې د حضرت عائشه په روایت کښې دده تصریح ده ، هغه فرمائی :

"جاءت عجوز إلی النبی صلی الله علیه و سلم، فقال: کیف أنتم حالکم، کیف کنتم بعدنا؟ قالت: بخیر، بأبی أنت و أمی یا رسول الله، فلما خرجت، قلت: یا رسول الله، تُقْبِلُ علی هذه العجوز هذا الإقبال، فقال: یا عائشة، إنها کانت تأتینا زمان خدیجة، وإن حسن العهد من الإیمان" (۱)

حضرت عائشه فرمائی : یوبوډئ ښځه رسول الله ﷺ ته راغله ، حضور ﷺ دینه د حال احوال تپوس اوکړو او دیته ئې ډیره توجه ورکړه ، دې اوویل : خما مور پلار دې په تا قربان وی ، خه روغه یم ، نو چه کله دا اووتله نو ما تپوس اوکړه ، اے د الله رسوله ! تا دې بوډئ ته دومره توجه ورکړه ؟ نو حضور ﷺ اوفرمائل : عائشه دا به مونږ کره د خدیجه په دور کښې راتله او تعلقاتو کښې احترام او لحاظ کول د ایمان حصه ده -

من قَصَب: قصب اصل کښې بانس ته وائی ، دلته ترینه "قصب الدرر" د ملغلرو بانس مراد دې ، علامه عینی رحمه الله فرمائی ، د جوهریانو په اصطلاح کښې ویلې کیږی "قصب من اللؤلؤ، قصب من الجوهر"..... (۲)

فی خُلَّتها: خُلّة (د خاء په ضمه او د لام په تشدید سره) مصدر دې ، دوستئ ته وائی - دلته ترینه ملګرې مراد دی ، مصدر جمع او اسم دپاره هم استعمالیږی - (۳)
بعضو ویلې دی دلته مضاف محذوف دې أی یهدی إلی أهل خلتها (۴)

۲۴=بَاب فَضْلِ مَنْ يَعُولُ يَتِيمًا

[٥٦٥٩] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الْوَهَّابِ قَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي حَازِمٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي قَالَ سَمِعْتُ سَهْلَ بْنَ سَعْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَنَا وَكَافِلُ الْيَتِيمِ فِي الْجَنَّةِ هَكَذَا وَقَالَ بِإِصْبَعَيْهِ السَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى [ر:٤٩٩٨]

دې باب کښې د یتیم د پالنې او د کفالت فضیلت او اهمیت بیان شویدې ، یعُول په معنی دپالنې او د تربیت کولو دې (۵) په حدیث د باب کښې رسول الله ﷺ فرمائی : خه او د یتیم پالنه کوونکې به په جنت کښې داسې یو او دوی ﷺ په مسواکه او په مینځه ګوته اشاره

---

(۱) المستدرک للحاکم ، کتاب الإیمان وباب حسن العهد من الإیمان : ۱\۱٦
(۲) عمدة القاری : ۲۲\۱۰٤
(۳) فتح الباری : ۱۰\٥۳٤ ، عمدة القاری : ۲۲\۱۰٤ ، النهایة لابن الاثیر : ۲\۷۲
(٤) فتح الباری : ۱۰\٥۳٤
(٥) فتح الباری : ۱۰\٥۳٥

اوګړه او ددې نزدې والې ئې اوخودلو يعنى چه څومره لږه فاصله د دې دوه ګوتو مينځ کښې ده دومره فاصله به څما او د يتيم پالنه کوونکى مينځ کښې وى ، لکه يو بل حديث کښې دى بعثت أنا و الساعة كهاتين يعنى څما د بعثت او د قيامت مينځ کښې دومره فاصله ده چه څومره د دې دوه ګوتو مينځ کښې ده - حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى :" وفيه إشارة إلى أن بين درجة النبى و كافل اليتيم قدر تفاوت ما بين السبابة و الوسطى ، وهو نظير قوله : بعثت أنا و الساعة كهاتين "(۱)

حافظ ابن حجر د خپل شيخ په حواله سره د دې تشبيه حکمت داليکلې دې چه رسول الله ﷺ يو داسې قوم ته رااليږلې شوې وو چه جاهل او د دين نه بيګانه وو ، دوى ﷺ دوى ته د دينى امورو معلم او کفيل رااوليږلې شو ، د يتيم کفالت کوونکې هم د يو داسې بچى پالنه او تربيت کوى چه هغه د خپلې دنيا او د دين دواړو نه بيګانه دې - (۲)

۲۵=بَابُ السَّاعِي عَلَى الْأَرْمَلَةِ

[۵۶۶۰] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ صَفْوَانَ بْنِ سُلَيْمٍ يَرْفَعُهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ السَّاعِي عَلَى الْأَرْمَلَةِ وَالْمِسْكِينِ كَالْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ كَالَّذِي يَصُومُ النَّهَارَ وَيَقُومُ اللَّيْلَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ ثَوْرِ بْنِ زَيْدٍ الدِّيلِيِّ عَنْ أَبِي الْغَيْثِ مَوْلَى ابْنِ مُطِيعٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ [ر:۵۰۳۸]

أرملة (د راء په سکون او د ميم په فتحه سره) هغه ښځې ته وايى چه د هغې خاوند نه وى، برابره خبره ده چه دې واده کړې وى او که ئې نه وى کړې (۳)

حديث د باب په كتاب النفقات، باب فضل النفقة على الأهل کښې تير شويدي

۲۶=بَابُ السَّاعِي عَلَى الْمِسْكِينِ

[۵۶۶۱] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ ثَوْرِ بْنِ زَيْدٍ عَنْ أَبِي الْغَيْثِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السَّاعِي عَلَى الْأَرْمَلَةِ وَالْمِسْكِينِ كَالْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَأَحْسِبُهُ قَالَ يَشُكُّ الْقَعْنَبِيُّ كَالْقَائِمِ لَا يَفْتُرُ

---

۱) فتح البارى : ۱۰\۵۳۵)

۲) فتح البارى : ۱۰\۵۳۶)

۳) إرشاد السارى : ۱۳\۳۸ . وقال إبن الأثير : الأرامل : المساكين من رجال و نساء و يقال لكل واحد من الفريقين على إنفراده : أرامل . و هو بالنساء أخص و أكثر استعمالا . و الواحد أرمل و أرملة . و قد تكرر ذكر الأرمل و الأرملة فى الحديث . فالأرمل الذى ماتت زوجته . و الرملة التى مات زوجها . و سواء كانا غنيين او فقيرين . النهاية لابن الأثير : ۲\۲۶۶ . و هكذا فى مجمع بحار الأنوار : ۲\۳۸۱)

وَكَالصَّائِمِ لَا يُفْطِرُ [ر:٥٠٣٨]

على المسكين أى لأجل المسكين ، على د سببيت دپاره دې ، ساعى : محنت كوونكى او گټونكى ته وائى " القائم لا يفتر " مركب توصيفى دې ، لا يفتر د القائم صفت دې - " القائم " باندې الف لام د عهد ذهنى دپاره دې لكه چه "ولقد أمر على اللئيم يسبُّنى" كښې دې - ([1])

قوله: وأحسبه قال - يشك القعنبي - : كالقائم...: د امام بخارى رحمه الله شيخ عبد الله بن مسلمه فرمائى چه ځما خيال دې چه امام مالك د " كالقائم لا يفتر ... " الفاظ هم ويلې وو - " احسبه " كښې ضمير منصوب " مالك " ته راجع دې " يشك القعنبى " جمله معترضه ده يعنى عبد الله بن مسلمه قعنبى ته شك دې -

۲۷= بَاب رَحْمَةِ النَّاسِ وَالْبَهَائِمِ

[٥٦٦٢] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ أَبِي قِلَابَةَ عَنْ أَبِي سُلَيْمَانَ مَالِكِ بْنِ الْحُوَيْرِثِ قَالَ أَتَيْنَا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ شَبَبَةٌ مُتَقَارِبُونَ فَأَقَمْنَا عِنْدَهُ عِشْرِينَ لَيْلَةً فَظَنَّ أَنَّا اشْتَقْنَا أَهْلَنَا وَسَأَلَنَا عَمَّنْ تَرَكْنَا فِي أَهْلِنَا فَأَخْبَرْنَاهُ وَكَانَ رَفِيقًا رَحِيمًا فَقَالَ ارْجِعُوا إِلَى أَهْلِيكُمْ فَعَلِّمُوهُمْ وَمُرُوهُمْ وَصَلُّوا كَمَا رَأَيْتُمُونِي أُصَلِّي وَإِذَا حَضَرَتْ الصَّلَاةُ فَلْيُؤَذِّنْ لَكُمْ أَحَدُكُمْ ثُمَّ لِيَؤُمَّكُمْ أَكْبَرُكُمْ [ر:٦٠٢]

د الله په مخلوق د رحمت كولو فضيلت : دې باب كښې امام بخارى رحمه الله د خلقو او د ځناورو سره د رحمت او د مهربانۍ سلوك كولو اهميت بيان كړيدې ، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه امام بخارى شايد د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه دې روايت ته اشاره كړيده چه كوم دوى مرفوع نقل كړيدې چه د هغې الفاظ دى "لن تؤمنوا حتى ترحموا ، قالوا : كلنا رحيم يا رسول الله ، قال إنه ليس برحمة أحدكم صاحبه ، ولكنها رحمة للناس رحمة العامة" ([2])

يعنى تاسو تر هغه مؤمن نه شئ جوړيدئ چه تر څوتاسو رحم اونكړئ نو خلقو اوويل : اے د الله رسوله مونږ ټول رحم كوونكې يو ، دوى ﷺ اوفرمائل : په خپل يو ملګرى رحم كول مراد نه دى (د ملګرى سره د رحمت او د شفقت معامله خو هر يو كوى) بلكه هغه رحمت مراد دې چه تمامو خلقو دپاره عام وى -

طبرانى دا حديث نقل كړيدې او حافظ فرمايى چه ددې رجال ثقه دى ([3])

ذ باب ړومبې روايت "كتاب الصلاة باب من قال ليؤذن فى السفر مؤذن واحد" كښې تير شويدې ،

شببة : د شاب جمع ده لكه چه د بار جمع بررة ده ، متقاربون يعنى مونږ يو بل سره قريب العمر وو : أى متقاربون فى السن - فظن أنا اشتقنا أهلنا : رسول الله ﷺ ته خيال اوشو چه مونږ د

---

[1]) ارشاد السارى : ۱۳\۳۸)

[2]) فتح البارى : ۱۰\۵۳۸)

[3]) فتح البارى : ۱۰\۵۳۸)

خپل کور د خلقو اشتياق لرو - وسألنا عمن تركنا في أهلنا فأخبرناه: رسول الله ﷺ مونږ نه تپوس اوکړو چه مونږ په کور کښې څوك څوك پريخودې دى -
د رسول الله ﷺ دوى نه د اهل وعيال متعلق تپوس کول او بيا دوى ته اجازت ورکول د تللو د شفقت او د همدردئ په وجه وو ، هم دې مناسبت سره امام دا حديث دلته ذکر کړو -
[۵۶۶۳] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ سُمَيٍّ مَوْلَى أَبِي بَكْرٍ عَنْ أَبِي صَالِحٍ السَّمَّانِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَمَا رَجُلٌ يَمْشِي بِطَرِيقٍ اشْتَدَّ عَلَيْهِ الْعَطَشُ فَوَجَدَ بِئْرًا فَنَزَلَ فِيهَا فَشَرِبَ ثُمَّ خَرَجَ فَإِذَا كَلْبٌ يَلْهَثُ يَأْكُلُ الثَّرَى مِنَ الْعَطَشِ فَقَالَ الرَّجُلُ لَقَدْ بَلَغَ هَذَا الْكَلْبَ مِنَ الْعَطَشِ مِثْلُ الَّذِي كَانَ بَلَغَ بِي فَنَزَلَ الْبِئْرَ فَمَلَأَ خُفَّهُ ثُمَّ أَمْسَكَهُ بِفِيهِ فَسَقَى الْكَلْبَ فَشَكَرَ اللَّهُ لَهُ فَغَفَرَ لَهُ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ وَإِنَّ لَنَا فِي الْبَهَائِمِ أَجْرًا فَقَالَ نَعَمْ فِي كُلِّ ذَاتِ كَبِدٍ رَطْبَةٍ أَجْرٌ [ر: ۱۷۱]

د څناورو سره د مهربانئ سلوك کولو فضيلت : د باب دويم روايت " كتاب المساقات ، باب فضل سقى الماء " کښې تير شويدې ، حضرت ابوهريره ؓ نه روايت دې . رسول الله ﷺ فرمائلې دى چه يو خل سړې روان وو نو ده ته په لاره کښې سخته تګه اولګيدله نو ده ته يو کوهې په نظر راغلو ، نو دې ديته کوز شو او اوبه ئې اوڅکلې او را اووتلو نو ده اوليدلو چه يو سپې زيى او د تندې د لاسه په ختو ژبه راکاږى ، دې سړى سوچ اوکړو چه دې سپى ته به هم هغه تکليف د تندې په وجه رسيدلې وى چه کوم ما ته رارسيدلې وو ، دا سوچ ئې اوکړو او کوهى ته کوز شو او خپله موزه ئې د اوبو نه ډکه کړه ، بيا ئې په خپله خُله کښې اونيوله (او بره راااوختلو) او دا ئې سپى باندې اوڅکله ، الله تعالى دده دا عمل قبول کړو او د ده ئې بخنه اوکړه . خلقو تپوس اوکړو ، اے د الله رسوله آيا د څناورو په باره کښې به هم مونږ ته اجر ملاويږى ؟ نو دوى ﷺ اوفرمائل : د هر لوند ځيګر لرونکى (يعنى د هر څناور) متعلق به اجر ملاويږى -

كل ذات كبد رطبة : رطبة د كبد صفت دې ، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى : الرطوبة كناية عن الحياة (۱)

[۵۶۶۴] (۲) حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي صَلَاةٍ وَقُمْنَا مَعَهُ فَقَالَ أَعْرَابِيٌّ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ اللَّهُمَّ ارْحَمْنِي وَمُحَمَّدًا وَلَا تَرْحَمْ مَعَنَا أَحَدًا فَلَمَّا سَلَّمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِلْأَعْرَابِيِّ لَقَدْ حَجَّرْتَ وَاسِعًا يُرِيدُ رَحْمَةَ اللَّهِ

روايت کښې دى چه يو باندېچى راغلو (دا ذوالخويصره يمانى وو يا اقرع بن حابس وو) (۳)

---

۱) ارشاد السارى : ۱۳\۳۹ . فتح البارى : ۱۰\۵۳۸ . عمدة القارى : ۲۲\۱۰۶)
۲) ۵۶۶۴) هذا الحديث من إفراد الإمام البخارى . عمدة القارى : ۲۲\۱۰۶)
۳) ارشاد السارى : ۱۳\۴۰ . فتح البارى : ۱۰\۵۳۸ . عمدة القارى . ۲۲\۱۰۶)

او ده اوویل : اے الله په ما او په محمد رحم اوکړه او مونږ سره په بل چا رحم مه کوه · نبی کریم ﷺ چه کله سلام اوګرځولو نو دې بانډيچی ته ئې اوویل تا یو فراخه څیز تنګ (او محدود) کړو - حَجَّرتحجيرا په معنی د تنګولو راځی ، (۱)

د " واسعا " نه د الله تعالی رحمت مراد دې ، مطلب دا دې چه د الله تعالی رحمت ډير وسیع دې او تا دې ډير محدود کړو - يريد رحمة الله.... دا د کوم راوی د طرفه تشریح ده ، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه کیدې شی دا د حضرت ابوهریره ؓ جمله وی -

علامه قسطلانی رحمه الله فرمائی چه دا حدیث په اصحاب صحاح سته کښې صرف امام بخاری رحمه الله نقل کړیدې - (۲)

[۵۶۶۵] (۳)حَدَّثَنَا أَبُونُعَيْمٍ حَدَّثَنَا زَكَرِيَّاءُ عَنْ عَامِرٍ قَالَ سَمِعْتُهُ يَقُولُ سَمِعْتُ النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَرَى الْمُؤْمِنِينَ فِي تَرَاحُمِهِمْ وَتَوَادِّهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ كَمَثَلِ الْجَسَدِ إِذَا اشْتَكَى عُضْوًا تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ جَسَدِهِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى

د مسلمانانو په خپل مینځ کښې د محبت بیان : رسول الله ﷺ چه ته به یو بل باندې مهربانئ کښې یو بل سره محبت لرلو کښې او خپل مینځ کښې شفقت کوونکو کښې (کامل) مؤمنان د یو جسم په شان وینې چه د جسم کوم یو اندام ته هم تکلیف وی نو ټول جسم په تبه او په بیداروالی کښې ده سره شریك وی -

دې حدیث کښې درې لفظونه تراحم ، تواد او تعاطف استعمال شویدی ، د تراحم معنی د یو بل سره رحم کول راځی ، د تواد معنی د یو بل سره محبت او مودت کول راځی او د تعاطف معنی دیوبل سره شفقت کول راځی،د تداعی معنی یو بل ته دعوت ورکول راځی(۴)

مطلب دا دې چه کله د سړی په جسم کښې په یو اندام څه تکلیف یا بیماری وی نو پوره جسم د دې په وجه بې ارامه وی او سړې بیدار وی ، د زیاتې شوکیرې او بې آرامه کیدو په وجه ورته عموما تبه هم وی ، دې وجه نه د " السهر " نه پس ئې د " الحمی " لفظ ذکر کړو(۵)

د کامل مؤمنانو د یو بل سره د محبت د تعلق هم دا عالم وی چه کوم یو مؤمن په تکلیف کښې مبتلاء اووینې نو ټول ده دپاره پریشانه وی ، علامه قسطلانی رحمه الله لیکی

والحاصل أن مثل الجسد في كونه إذا اشتكى بعضه اشتكى كله كالشجرة ، إذا ضرب من أغصانها اهتزت الأغصان كلها بالتحرك و الإضطراب ، وفيه جواز التشبيه و ضرب الأمثال لتقريب المعاني للأفهام (۶)

یعنی د جسم مثال په شان د اونې دې ، د اونې یو ښاخ چه دې اووهلو نو د دې ټول ښاخونه

---

(۱) فتح الباري : ۱۰\۵۳۸ ، عمدة القاری : ۲۲\۱۰۶)
(۲) ارشاد الساری : ۱۳\۴۰ ، عمدة القاری : ۲۲\۱۰۶)
(۳) الحديث أخرجه مسلم في كتاب الأدب ، باب تراحم المؤمنین و تعاطفهم و تعاضدهم : ۴\۱۹۹۹)
(۴) ارشاد الساری : ۱۳\۴۰ ، فتح الباري : ۱۰\۵۳۹ ، عمدة القاری : ۲۲\۱۰۷)
(۵) فتح الباري : ۱۰\۵۳۹ ، عمدة القاری : ۲۲\۱۰۹)
(۶) ارشاد الساری : ۱۳\۴۰)

په خوزيدو او په اضطراب كښې راشي ، دارنګه چه د جسم يو حصه هم بې آرامه وی نو ټول جسم بې آرامه وی . دينه معلومه شوه چه د معنی د پوهولو دپاره تشبيه ورکول جائز دی -

[۵۶۶۶] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ مُسْلِمٍ غَرَسَ غَرْسًا فَأَكَلَ مِنْهُ إِنْسَانٌ أَوْ دَابَّةٌ إِلَّا كَانَ لَهُ بِهِ صَدَقَةٌ [ر:۲۱۹۵]

[۵۶۶۷] (۱) حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ قَالَ حَدَّثَنِي زَيْدُ بْنُ وَهْبٍ قَالَ سَمِعْتُ جَرِيرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ لَا يَرْحَمُ لَا يُرْحَمُ [ر:۶۹۴۱]

رسول الله ﷺ مسلمان چه کله يو اونه اولګوی او دينه يو انسان يا يو ځناور څه خوراک اوکړی نو دا ده دپاره صدقه کيږی -

ترجمة الباب سره د حديث مناسبت : ترجمة الباب سره د دې حديث مناسبت بيانولو کښې علامه عينی رحمه الله ليکی

مطابقته للترجمة من حيث أن فی غرس المسلم الذی يأكل منه الإنسان و الحيوان ، فيه معنى الترجمة و التعطف عليهم ، لأن حال المسلم يدل على أنه يقصد ذلك وقت غرسه (۲)

يعنی مسلمان چه اونه وغيره کری نو ديکښې د ده اصل محرك او جذبه په مخلوق د خدائی پاك باندې رحم او شفقت وی چه د الله تعالی مخلوق دينه فائده واخلی ، ددې په مناسبت سره حديث د باب چه ديکښې د اونې د کرلو ذکر دې امام بخاری رحمه الله دلته ذکر کړو

۲۸=بَاب الْوَصَاءَةِ بِالْجَارِ

وَقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا إِلَى قَوْلِهِ مُخْتَالًا فَخُورًا [النساء:۳۶]

[۵۶۶۸] (۳) حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ أَبِي أُوَيْسٍ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو بَكْرِ بْنُ مُحَمَّدٍ عَنْ عَمْرَةَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا زَالَ يُوصِينِي جِبْرِيلُ بِالْجَارِ حَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهُ سَيُوَرِّثُهُ

---

[1] ۵۶۶۷) الحديث أخرجه البخاری أيضا فی كتاب التوحيد ، باب قول الله تبارک و تعالى : " قل ادعوا الله أو ادعوا الرحمن أيًّا ما تدعوا فله الأسماء الحسنى " (رقم الحديث : ۶۹۴۱) و أخرجه مسلم فی كتاب الفضائل ، باب رحمته صلى الله عليه وسلم الصبيان و العيال : ۴ \ ۱۸۰۹ (رقم الحديث : ۲۳۱۹) و أخرجه أبوداود فی كتاب الأدب ، باب فی الرحمة : ۴ \ ۲۸۵ (رقم الحديث : ۴۹۴۱)

[2] عمدة القاری : ۲۲ \ ۱۰۷)

[3] ۵۶۶۸) الحديث أخرجه مسلم فی كتاب البر و الصلة و الآداب ، باب الوصية بالجار و الإحسان إليه : ۴ \ ۲۰۲۵ (رقم الحديث : ۲۶۲۳) ، و أخرجه الترمذی فی كتاب البر و الصلة ، باب... [بقيه برصفحه آئنده....

[٥٦٦٩] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مِنْهَالٍ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِيهِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا زَالَ جِبْرِيلُ يُوصِينِي بِالْجَارِ حَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهُ سَيُوَرِّثُهُ

وصاءة (د واو په فتحه سره) د وصيت په معنى کښې ده - امام بخاري رحمه الله په ترجمة الباب کښې د سورة نساء آيت کريمه ذکر کړيدې پوره آيت دې (واعبدوا الله ولا تشركوا به شيئا و بالوالدين إحسانا و بذى القربى و اليتامى و المساكين و الجار ذى القربى و الجار الجنب و الصاحب بالجنب و ابن السبيل و ما ملكت أيمانكم إن الله لا يحب من كان مختالا فخورا)

دې آيت کريمه کښې د والدينو ، رشته دارانو ، ګاونډيانو ، غلامانو او وينځو سره د نيك سلوك حکم ورکړې شويدې -

د الجار ذى القربى او د الجار الجنب مصداق : " الجار ذى القربى " او د " الجار الجنب " مصداق کښې مفسرين مختلف اقوال کوی :

① حضرت عبد الله بن عباس نه روايت دې چه د " الجار ذى القربى " نه هغه کس مراد دې چه کوم ګاونډى هم وى او رشته دار هم او د " الجار الجنب " نه هغه کس مراد دې چه کوم صرف ګاونډى وى ، رشته دار نه وى - (٢)

② " الجار ذى القربى " نه مراد نزدې اوسيدونکې ګاونډى دې ، او " الجار الجنب " نه مراد لرې اوسيدونکې ګاونډى دې - (٣)

③ د " الجار ذى القربى " نه مسلمان ګاونډې دې او د " الجار الجنب " نه غير مسلم ګاونډى مراد دې .ابن جرير دا قول نقل کړيدې - (٤)

④ مجاهد نه منقول دې چه د " الجار الجنب " نه د سفر ملګرې مراد دې - (٥)

علامه قرطبى رحمه الله فرمائى چه دينه معلومه شوه چه د ګاونډى حقونه شته ، کافر وى

...بقيه ازحاشيه ګذشته] ما جاء فى حق الجواز : ٤ \ ٣٣٢ (رقم الحديث : ١٩٤٢) و أخرجه أبوداود فى كتاب الأدب ، باب فى حق الجوار : ٤ \ ٣٣٨ (رقم الحديث : ٥١٥١) و أخرجه ابن ماجة فى كتاب الأدب ، باب فى حق الجوار : ٢ \ ١٢١١ (رقم الحديث : ٣٦٧٣)

[١] الحديث أخرجه مسلم فى كتاب البر و الصلة و الآداب ، باب الوصية بالجار و الإحسان إليه : ٤ \ ٢٠٢٥ (رقم الحديث: ٢٦٢٥) وأخرجه الترمذى فى كتاب البر والصلة،باب ما جاء فى حق الجوار ٤\٣٣٣ (رقم الحديث:١٩٤٣) وأخرجه أبو داود فى كتاب الأدب ،باب فى حق الجوار : ٤ \ ٣٣٨ (رقم الحديث : ٥١٥٢)

[٢] فتح البارى : ١٠ \ ٥٤١ ، عمدة القارى : ٢٢ \ ١٠٨ ، تفسير ابن كثير : ١ \ ٤٩٤ ، النساء : ٣٦)

[٣] فتح البارى : ١٠ \ ٥٤١ ، تفسير ابن كثر : ١ \ ٤٩٤)

[٤] فتح البارى : ١٠ \ ٥٤١ ، عمدة القارى : ٢٢ \ ١٠٨ ، تفسير ابن كثير : ١ \ ٤٩٤ ، النساء : ٣٦)

[٥] فتح البارى : ١٠ \ ٥٤١ ،عمدة القارى : ٢٢ \ ١٠٨ ، تفسير ابن كثير : ١ \ ٤٩٤ ، النساء : ٣٦)

او که مسلمان ،رشته دار وی او که غیر رشته دار ، د کافر گاونډی سره به د احسان مطلب دا وی چه ده سره ښه ژوند تیرول اختیار کړې شی ، ده ته ضرر رسانئ نه خان اوساتی ، د احسان نه دوستی او محامات مراد نه دي ځکه چه دا ممنوع ده لکه چه لیکی :

قلت : وعلى هذا فالوصاءة بالجار مأمور بها مندوب إليها مسلما كان أو كافرا ، وهو الصحيح ، والإحسان قد يكون بمعنى المواساة ، وقد يكون بمعنى حسن العشرة ، وكف الأذى ، والمحاماة دونه - [1]

د ګاونډیانو قسمونه : طبرانی د حضرت جابر رضي الله عنه نه روایت رانقل کړیدې چه د ګاونډیانو درې قسمونه دی :

① هغه ګاونډی چه کوم صرف حق دجوار لری -

② هغه ګاونډی چه د هغه دوه حقه وی یو حق د جوار او دویم حق د اسلام -

③ هغه ګاونډی چه د هغه درې حقه وی یو حق د جوار ، دویم حق د اسلام او دریم د قرابت او د رشته دارئ حق - [2]

د ګاونډی په حد کښې اختلاف دې ، اوزاعی،وائی د هر جانب هر طرف نه څلویښتو کورو پورې په ګاونډ کښې شامل دی.... حضرت علی رضي الله عنه فرمائی چه من سمع النداء فهو جار [3]

بعضې خلق وائی **من سمع إقامة الصلاة فهو جار لذلك المسجد** [4]

بعضې وائی **من ساكن رجلا في محلة أو مدينة فهو جار** [5]

د دې اقوالو حاصل دا دې چه د آذان آواز تر کوم ځائې پورې رسی ، نو دا د یو بل ګاونډیان دی یا د اقامت اواز چه تر کوم ځائې پورې رسی نو دوی د یو بل ګاونډیان دی یا په یو محله او په یو ښار کښې اوسیدونکی خلق د یو بل ګاونډیان دی -

الصاحب بالجنب نه د سفر ملګرې مراددې ، بعضو ویلې دی دینه ښځه مراد ده ، علامه قرطبی رحمه الله اول قول ته اصح ویلې دې - [6]

مولانا شبیر احمد عثمانی رحمه الله ددې آیت تفسیر کوی او لیکی :

یتامی ، نساء ، ورثاء او د زوجینو حقوق دوی سره ئې د حسن معامله بیان اوکړو اوس دا ارشاد دې چه د هر یو حق درجه په درجه د تعلق موافق او د حاجتمندئ مناسب أدا کړئ د ټولو نه وړاندې حق د الله تعالی دې بیا د مور پلار بیا درجه په درجه د ټولو واسطه دارو او د حاجتمندو او د ګاونډیانو د قریب او دغیر قریب نه مراد قرب او بعد نسبی دې یا قرب

---

[1]) الجامع لأحكام القرآن للقرطبي : ١٨٤\٥)

[2]) ارشاد الساری : ٤٢\١٣ ، فتح الباری : ٥٤٢\١٠ ، تفسیر ابن کثیر : ٤٩٥\١ ، النساء : ٣٦ ، الجامع لاحكام القرآن للقرطبی : ١٨٤\٥)

[3]) عمدة القاری : ١٠٨\٢٢)

[4]) الجامع لأحكام القرآن للقرطبي : ١٨٥\٥)

[5]) الجامع لأحكام القرآن للقرطبي : ١٨٥\٥)

[6]) الجامع لأحكام القرآن للقرطبي : ١٨٩\٥)

او بعد مكاني دي - رومبي صورت كښې به دا مطلب وي چه د قرابتي ګاونډي حق د اجنبي ګاونډي نه زيات دې او دويم صورت كښې مدعا به دا وي چه د خوا كښې ګاونډي حق د لرې ګاونډي يعنې چه كوم په فاصله اوسيږي د ده نه زيات دې ، او د خوا كښې ناست د سفر ملګري ، هم پيشه او د كار شريك ، د يو آقا دوه نوكران ، د يو استاد دوه شاګردان ، دوست ، شاګرد او مريد وغيره ټول داخل دي او مسافر كښې ميلمه ، غير ميلمه دواړه راغلل او مال مملوك غلام او وينځې نه علاوه نورو حيواناتو ته هم شامل دې آخر كښې فرمائي چه د چا په مزاج كښې تكبر او ځان ته خوښي وي چه څوك هم د خپل ځان برابر نه ګڼړي ، په خپل مال مغرور او په عيش كښې مشغول وي ، هغه دا حقونه نه اداء كوي ، نو ده نه ځان اوساتئ او ترينه جدا شئ -

يعنې الله تعالى ځان ته خوښ او تكبر كوونكي لره چه كوم بخل كوي دوست نه ګرځوي او خپل مال او هغه علم چه خدائې پاك وركړيدې هغه د خلقو نه پټوي چا ته پرې نفع نه رسوي او قولاً او عملاً نورو ته هم د بخل ترغيب وركوي او دې كافرانو دپاره مونږه د ذلت عذاب تيار كړيدې -

فائده : دا آيت د يهوديانو په باره كښې نازل شوې وو چه في سبيل الله خرچ كولو كښې خپله هم بخل ئې كولو او مسلمانان به ئې هم بندول غوښتل او د رسول الله ﷺ كوم اوصاف چه په تورات كښې مذكور وو او د حقانيت د اسلام چه كوم آيتونه موجود وو هغه به ئې پټول ، نو په مسلمانانو د داسې خصلتونو نه احتراز كول لازم دي

حديث د باب كښې رسول الله ﷺ فرمائي چه حضرت جبرائيل عليه السلام د ګاونډي دپاره ما ته برابر وصيت كولو تر دې چه ما ته خيال راغلو چه دې به وارث اوګرځوي -

د ګاونډي سره څنګه حسن سلوك اوكړې شي؟ : د ګاونډيانو سره د حسن سلوك ذكر كولو كښې علامه قسطلاني رحمه الله ليكي : **و يحصل امتثال الوصية بإيصال ضروب الإحسان إليه بحسب الطاقة كالهدية ، والسلام ، و طلاقة الوجه عند لقائه ، و تفقد حاله ، و معاونته فيما يحتاج إليه ، و كف أسباب الأذى عنه على اختلاف أنواعه حسية كانت أو معنوية** (1)

يعنې د ګاونډيانو سره د حسن سلوك چه كوم وصيت شويدې په دې د عمل صورت دا دې چه سړې د خپل طاقت او د وس مطابق د ګاونډي سره د حسن سلوك معامله اوكړي ، هديه وركول ، سلام كول ، په رونړ تندي خنده رويه ملاويدل ، د حال احوال تپوس كول ، د ضرورت په موقعه ده سره تعاون كول او چه په څه ده ته اذيت ملاويږي كه هغه حسي وي او كه معنوي دينه خپل ځان ساتل د ګاونډيانو سره په حسن سلوك كښې داخل دي -

---

(1) ارشاد الساري: ۱۳\٤۲ ،فتح الباري: ۱۰\٥٤۲ ، فضل الله الصمد في توضيح الأدب المفرد : ۱\۱۹۰)

٢٩=بَاب إِثْمِ مَنْ لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَايِقَهُ يُوبِقْهُنَّ [٣٤]

يُهْلِكْهُنَّ مَوْبِقًا] الكهف: ٥٢] مَهْلِكًا

[٥٦٧٠] (١) حَدَّثَنَا عَاصِمُ بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ عَنْ سَعِيدٍ عَنْ أَبِي شُرَيْحٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَاللَّهِ لَا يُؤْمِنُ وَاللَّهِ لَا يُؤْمِنُ وَاللَّهِ لَا يُؤْمِنُ قِيلَ وَمَنْ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ الَّذِي لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَايِقَهُ تَابَعَهُ شَبَابَةُ وَأَسَدُ بْنُ مُوسَى وَقَالَ حُمَيْدُ بْنُ الْأَسْوَدِ وَعُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ وَأَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ وَشُعَيْبُ بْنُ إِسْحَاقَ عَنْ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ عَنْ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ

امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې د هغه سړی د ګناه ذکر کړيدې چه د هغه د هلاکت خيز تکليفونو نه ګاونډی محفوظ نه وی -

بوائق : د بائقة جمع ده هلاك كوونكى ، هلاكت خيز ..... امام بخاری رحمه الله د خپل عادت مطابق د قرآن کريم د دوه آيتونو الفاظ ذکر کړل ، يو د سورت شورى د آيت نمبر څلور ديرشم کښې واقع لفظ " يوبقهن " دې (او يوبقهن بما كسبوا و يعف عن كثير) بل لفظ دې " موبق " دا په سورت کهف آيت نمبر دوه پنځوستم کښې واقع دې (وجعلنا بينهم موبقا) موبق ديکښې د هلاك كوونكى په معنى دې -

ابن ابی خاتم د حضرت ابن عباس نه دا تفسير نقل کړيدې - (٢)

د باب رومبې روايت د حضرت ابو شريح نه دې ، دا صحابى دې او د ده نوم حضرت خويلد خزاعی دې - (٣)

د امام بخاری رحمه الله د شيخ عاصم بن علی متابعت شبابه بن سوار او اسد بن موسى کړيدې ، اسماعيلی د شبابه متابعت موصولا نقل کړيدې ، او د اسد بن موسى متابعت طبرانی موصول نقل کړيدې - (٤)

حميد بن الاسود ،عثمان بن عمر ، ابوبکر بن عياش او شعيب بن اسحاق ... دې څلورو وارو راويانو د " ابن ابی ذئب عن المقبری " په طريق سره د حضرت ابوهريره نه روايت نقل کړيدې - د عثمان طريق امام احمد موصولاً نقل کړيدې (٥)

.... بهر حال دا حديث د ابو شريح او حضرت ابوهريره د دواړو نه منقول دې ، د ابن ابی ذئب درې شاګردان دا د ابو شريح نه او څلور شاګردان ئې د ابوهريره نه نقل کوی -

---

(١) الحديث أخرجه مسلم فى كتاب الإيمان ، باب بيان تحريم إيذاء الجار : ١ \ ٦٨ (رقم الحديث : ٤٦)

(٢) روح المعانى : ١٥ \ ٢٩٨ ، سوره كهف : ٥٢ ، ارشاد السارى : ١٣ \ ٤٣ ، عمدة القارى : ٢٢ \ ١٠٩ ، فتح البارى : ١٠ \ ٥٤٣)

(٣) فتح البارى : ١٠ \ ٥٤٣ ، عمدة القارى : ٢٢ \ ١٠٩ ، ارشاد السارى : ١٣ \ ٤٣)

(٤) فتح البارى : ١٠ \ ٥٤٤ ، عمدة القارى : ٢٢ \ ١٠٩ ، ارشاد السارى : ١٣ \ ٤٣)

(٥) فتح البارى : ١٠ \ ٥٤٤ ، ارشاد السارى : ١٣ \ ٤٣)

" والله لا يؤمن ..... " كښې د ايمان كامل نفى ده يعنى چه كوم كس گاونډيانو ته تكليف او اذيت رسوى دي كامل الايمان نه دې ، يا دا به د كمال د ايمان په څانې په زجر و توبيخ محمول كړې شى - (۱)

۳۰- بَاب لَا تَحْقِرَنَّ جَارَةٌ لِجَارَتِهَا

[۵۶۷۱] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ حَدَّثَنَا سَعِيدٌ هُوَ الْمَقْبُرِيُّ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ يَا نِسَاءَ الْمُسْلِمَاتِ لَا تَحْقِرَنَّ جَارَةٌ لِجَارَتِهَا وَلَوْ فِرْسِنَ شَاةٍ [ر: ۲۴۲۷]

علامه عينى رحمه الله ليكى أى لا تمتنع الجارة عن إعطاء شيء حقير لجارتها لأجل قلته (۲) يعنى يوه ښځه دې د خپلې گاونډې دپاره څه څيز حقير نه گڼرى بلكه معمولى څيز هم كه ورته په طور د هديه ورليږلې شى نو ور او دې ليږى ، لكه چه په حديث د باب كښې رسول الله ﷺ مسلمانانو ښځو ته خطاب كوى او فرمائى هيڅ يوه ښځه دې د خپلې گاونډئ دپاره څه څيز حقير نه گڼرى ، اګر چه دا د بكرئ يو نوكه ولې نه وى - او ددې حديث يو مفهوم دا هم كيدې شى چه مهداة إليها دې دا هديه دې حقيره نه گڼرى چه كله د وركوونكې ښځې وَس هم دومره وى - دا بله خبره ده چه د دې هديه كوونكې وس زيات وى او دا بيا هم د قليل مقدار هديه اوكړى نو ديكښې د اعتراض ځائې شته -

يا نساء المسلمات كښې د موصوف اضافت صفت ته دې -

فِرسِن (د فاء په كسره او د راء په سكون سره او د سين په كسره سره) نوكې ته وائى - (۳)

روايت د باب حضرت سعيد مقبرى د خپل پلار كيسان په واسطه د حضرت ابوهريره رضی الله عنه نه نقل كړيدې . د سعيد مقبرى سماع بغير د واسطې هم د حضرت ابوهريره رضی الله عنه نه ثابت ده ، دې وجه نه دې كله بالواسطه او كله بلا واسطه نقل كوى - (۴)

۳۱- بَاب مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يُؤْذِ جَارَهُ

[۵۶۷۲] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ عَنْ أَبِي حَصِينٍ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ

---

۱) فتح البارى : ۱۰\۵۴۵ . عمدة القارى : ۲۲\۱۰۹ . ارشاد السارى : ۱۳\۴۳)

۲) عمدة القارى : ۲۲\۱۱۰)

۳) قال ابن الأثير : فرسن (س) فيه " لا تحقرن من المعروف شيئا و لو فرسن شاة " الفرْسن : عظم قليل اللحم ، وهو خف البعير ، كالحافر للدابة ، و قد يُستعار للشاة : فيقال : فرسن شاة ، و الذى للشاة هو الظلف ، و النون زائدة ، و قيل : أصلية ، النهاية لابن الأثير : ۲\۴۲۹ ، و هكذا فى مجمع بحار الأنوار : ۴\۱۱۷)

۴) عمدة القارى : ۲۲\۱۱۰ ، فتح البارى : ۱۰\۵۴۵)

فَلَا يُؤْذِ جَارَهُ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ [ر: ۳۱۵۳]

[۵۶۷۳] (۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي سَعِيدٌ الْمَقْبُرِيُّ عَنْ أَبِي شُرَيْحٍ الْعَدَوِيِّ قَالَ سَمِعَتْ أُذُنَايَ وَأَبْصَرَتْ عَيْنَايَ حِينَ تَكَلَّمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ جَارَهُ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ جَائِزَتَهُ قَالَ وَمَا جَائِزَتُهُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ يَوْمٌ وَلَيْلَةٌ وَالضِّيَافَةُ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ فَمَا كَانَ وَرَاءَ ذٰلِكَ فَهُوَ صَدَقَةٌ عَلَيْهِ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ [ر: ۵۷۸۴، ۶۱۱۱]

رسول الله ﷺ فرمائلي دی چه کوم کس په الله او په ورځ د قيامت ايمان لری ، نو هغه به خپل ګاونډی ته ضرر نه ورکوی چه کوم کس په الله او په ورځ د قيامت ايمان لری نو هغه لره پکار دی چه د خپل ميلمه اکرام او عزت اوکړی او چه کوم کس په الله او په ورځ د قيامت ايمان لری نو هغه لره پکار دی چه ښه خبره کوی يا چپ وی -

قوله: فليكرم ضيفه جائزته : " جائزته " د يكرم دپاره مفعول به ثانی دې ، إكرام د اعطاء په معنی دې ، يعنی خپل ميلمه ته دې جائزه او ضيافت ورکړی او يا منصوب دې په " نزع الخافض سره ، أى فليكرم ضيفه بجائزته (۲) ددې تفصيل وړاندې باب اكرام الضيف کښې زاروان دې -

قوله: فليقل خيرا أو ليصمت : صمت باب د نصر او د ضرب دواړو سره استعماليږی (۳) يعنی مؤمن لره پکار دی چه هغه خبره کوی چه کومه کښې خير او نيکی وی ، ګنی خاموش دې پاتې شی ..... ښه خبره کول د خاموش پاتې کيدو نه افضل ده او خاموش پاتې کيدل د بدې خبرې کولو نه افضل ده -

لکه چه مشهوره ده چه بې د ضرروته خبرې کول حماقت دې خو په وخت د ضرورت خاموش پاتې کيدل د دينه لوې حماقت دې -

---

(۱) ۵۶۷۳) الحديث أخرجه البخاری أيضا فی كتاب الأدب ، باب إكرام الضيف و خدمته إياه بنفسه (رقم الحديث : ۵۷۸٤) و أخرجه أيضا فی كتاب الرقاق ، باب حفظ اللسان (رقم الحديث : ۶۱۱۱) و أخرجه مسلم فی كتاب الإيمان ، باب الحث علی إكرام الجار و الضيف : ۱ \ ۶۹ (رقم الحديث : ٤۸) و أخرجه ابن ماجة فی كتاب الفتن ، باب كف اللسان فی الفتنة : ۲ \ ۱۳۱۳ (رقم الحديث : ۳۹۷۱) و أخرجه ابو داود فی كتاب الأطعمة ، باب ما جاء فی الضيافة : ۳ \ ۳٤۲ (رقم الحديث : ۳۷٤۸) و أخرجه الترمذی فی كتاب البر و الصلة ، باب ما جاء فی الضيافة كم هو : ٤ \ ۳٤۵ (رقم الحديث : ۱۹۶۷) و أخرجه ابن ماجه فی كتاب الأدب ، باب حق الضيف : ۲ \ ۱۲۱۲ (رقم الحديث : ۳۶۷۵)

(۲) ارشاد الساری : ۱۳ \ ٤۵ ، عمدة القاری : ۲۲ \ ۱۱۱)

(۳) ارشاد الساری : ۱۳ \ ٤۵ ، عمدة القاری : ۲۲ \ ۱۱۱ ، فتح الباری : ۱۰ \ ۵٤۶)

۳۲=بَاب حَقِّ الْجِوَارِ فِي قُرْبِ الْأَبْوَابِ

[۵۶۷۳] حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو عِمْرَانَ قَالَ سَمِعْتُ طَلْحَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ لِي جَارَيْنِ فَإِلَى أَيِّهِمَا أُهْدِي قَالَ إِلَى أَقْرَبِهِمَا مِنْكِ بَابًا [ر: ۲۱۴۰]

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی چه ما د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه ځما دوه ګاونډیان دی ، دوی کښې څه چا ته هدیه اولیږم ؟ نو دوی ﷺ اوفرمایل : چه د کوم دروازه زیاته نزدې وی -

د ګاونډی د حقونو تفصیل : حد د جوار کښې مختلف اقوال ذکر شویدی .... امام بخاری رحمه الله د ګاونډیانو د حقونو په سلسله کښې دا پنځه بابونه قائم کړیدي چه دیکښې د ګاونډی سره د حسن سلوك ذکر دې ، د حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه یو حدیث دې دیکښې د ګاونډیانو د حقونو او دوی سره د حسن سلوك تفصیل بیان شویدې ، د رسول الله ﷺ نه اصحابو تپوس اوکړو چه د ګاونډیانو څه حقونه دی ؟ نو دوی ﷺ اوفرمایل :

إن استقرضك أقرضته ، وإن استعانك أعنته ، وإن مرض عدته ، وإن احتاج أعطيته ، وإن افتقر عدت عليه ، وإن أصابه خير هنّيته ، وإن أصابته مصيبة عزيته ، وإذا مات اتبعت جنازته ، ولا تستطيل عليه بالبناء ، فتحجب عنه الريح إلا بإذنه ، وإن اشتريت فاكهة فأهدها له ، وإن لم تفعل فأدخلها سرا و لا يخرج بها ولدك ليغيظ بها ولده" ([1])

یعنی که دې قرض اوغواړی نو چه ته ورته قرض ورکړې ، مدد اوغواړی نو دده مدد اوکړې . بیمار شی نو چه دده تپوس اوکړې ، حاجت مند شی نو چه ته ورته عطیه ورکړې ، فقیر شی نو ته ورسره احسان اوکړې . د خوشحالۍ په موقعه ورته مبارکی ورکړې ، او که دې په کوم مصیبت کښې وی نو چه ده ته تسلی ورکړې ، که دې مړ شی نو چه دده جنازه کښې شریك شې او دده د اجازته بغیر عمارت دومره لوې نه کړې چه دده د کور هوا بنده شی ، څه میوه واخلې نو څه ده ته هم هدیه کړه ، هدیه کولې نه شې نو بیا ئې پټ کور ته یوسه او چه د ستا بچې دا میوه بهر اونه باسی چه دده بچې ورته اوګوری او پریشانه شی -

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمایی : وأسانيدهم واهية ، لكن اختلاف مخارجها يشعر بأن للحديث أصلا ([2]) یعنی ددې حدیث سندونه ضعیف دې، خو د مختلف فرقونو سره دی نو معلومیږی چه ددې څه نه څه أصل شته -

---

[1]) فتح الباري : ۱۰\۵٤۷)

[2]) فتح الباري : ۱۰\۵٤۷)

٣٣= باب كُلُّ مَعْرُوفٍ صَدَقَةٌ

[٥٦٧٥] (١) حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَيَّاشٍ حَدَّثَنَا أَبُوغَسَّانَ قَالَ حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْمُنْكَدِرِ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كُلُّ مَعْرُوفٍ صَدَقَةٌ [ر: ١٣٧٦]

[٥٦٧٦] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي بُرْدَةَ بْنِ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ صَدَقَةٌ قَالُوا فَإِنْ لَمْ يَجِدْ قَالَ فَيَعْمَلُ بِيَدَيْهِ فَيَنْفَعُ نَفْسَهُ وَيَتَصَدَّقُ قَالُوا فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ أَوْ لَمْ يَفْعَلْ قَالَ فَيُعِينُ ذَا الْحَاجَةِ الْمَلْهُوفَ قَالُوا فَإِنْ لَمْ يَفْعَلْ قَالَ فَيَأْمُرُ بِالْخَيْرِ أَوْ قَالَ بِالْمَعْرُوفِ قَالَ فَإِنْ لَمْ يَفْعَلْ قَالَ فَيُمْسِكُ عَنِ الشَّرِّ فَإِنَّهُ لَهُ صَدَقَةٌ

هره نیکی صدقه ده: هر نیك او معروف کار صدقه ده ، د معروف تعریف دې "المعروف إسم جامع لكل ما عرف من طاعة الله و التقرب إليه و الإحسان إلى الناس، وكل ما ندب إليه الشرع من المحسنات" یعنی د معروف اطلاق په اطاعت د الله تعالی ، ده ته په نزدې کیدو او د خلقو سره ښه کولو په هر عمل باندې کیږی داسې چه کوم څیزونه شرعا مندوب او مستحب دی په دوی هم د معروف اطلاق کیږی -

امام راغب فرمائی:المعروف اسم كل فعل يعرف حسنه بالشرع و العقل معا"(٢) یعنی معروف هرهغه فعل ته وائی چه د هغه ښه والې په شریعت او په عقل دواړو سره معلوم وی -

دلته د بخاری په روایت کښې دی " كل معروف صدقة" د دارقطنی او د حاکم په روایت کښې دینه پس اضافه ده " و ما أنفق الرجل على أهله كتب له به صدقة و ما وقى المرء به عرضه فهو صدقة" (٣) اهل و عیال باندې خرچ کول ، د خپل عزت حفاظت کول هم نیکی او صدقه ده -

د مسند احمد روایت کښې دا اضافه هم ده "ومن المعروف أن تلقى أخاك بوجه طلق، وأن تكفئ من دلوك في إناء أخيك" (٤) په رونړ تندی ملاویدل او د خپلې ډولچې نه د خپل رور په لوښې کښې اوبه اچول معروف او نیکی ده -

دباب دویم روایت کښې دی چه په هر مسلمان باندې صدقه ده ، اصحابو تپوس اوکړو که دې د صدقې دپاره څه بیا نه مومی ، نو وې فرمائل :" دې دې په خپلو لاسونو اوګټی او صدقه دې اوکړی " تپوس اوشو که دې ګټه نه شی کولې ، وې فرمائل : د ضرورت مند دې مدد اوکړې ، تپوس اوشو که دا هم نه شی کولې ، وې فرمائل : د نیکئ حکم دې اوکړې ،

---

(١) ٥٦٧٥) هذا الحديث من إفراد الإمام البخاري . عمدة القاری : ٢٢ \ ١١٢)
(٢) فتح الباری : ١٠ \ ٥٤٩)
(٣) المستدرک للحاکم . کتاب البیوع . باب كل معروف صدقة : ٢ \ ٥٠)
(٤) مسند الإمام أحمد بن حنبل . مسانید جابر بن عبد الله الأنصاری: ٣ \ ٣٦٠)

تپوس اوشو کُه دا هم نه شی کولې نو وې فرمائل : د شر نه دې ځان اوساتی ، دا هم ده دپاره صدقه ده -

قوله: فـإن لم يستطع أولم يفعل .....: راوی ته شك دې چه " إن لم يستطع " ئې ويلې وو او کُه " إن لم يفعل " ئې ويلې وو -

ملهوف د مظلوم او مغموم په معنی دې

رسول الله ﷺ د صدقې آخری درجه دا ګرځولې ده چه سړې خپل ځان کم ازکم د تکليف رسولو نه بند کړی نو دا هم ده دپاره صدقه ده ، صدقه نه ثواب مراد دې - (١)

شارح بخاری ابن بطال او علامه قسطلانی فرمائی چه د دې حديث نه هغه خلق استدلال کوی چه هغوی وائی چه ترك او څه نه کول هم يو عمل دې ، د متکلمينو مسلك دا دې چه ترك د عمل عمل نه دې ، د عمل دپاره څه کول ضروری دی - (٢)

د ظاهر د حديث نه استدلال کولو سره بعضې حضرات وائی چه شريعت کښې هيڅ يو امر مباح نشته دې بلکه هر امر يا خو باعث د اجر دې يا باعث د ګناه .... چه کوم سړې هيڅ هم نه کوی او صرف د ګناهونو نه ځان ساتی نو دا هم د اجر والا يو عمل دې - (٣)

٣٤=بَاب طِيبِ الْكَلَامِ

وَقَالَ أَبُوهُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْكَلِمَةُ الطَّيِّبَةُ صَدَقَةٌ [ر:٢٨٢٧]

[٥٦٧٧] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنِي عَمْرٌو عَنْ خَيْثَمَةَ عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ ذَكَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّارَ فَتَعَوَّذَ مِنْهَا وَأَشَاحَ بِوَجْهِهِ ثُمَّ ذَكَرَ النَّارَ فَتَعَوَّذَ مِنْهَا وَأَشَاحَ بِوَجْهِهِ قَالَ شُعْبَةُ أَمَّا مَرَّتَيْنِ فَلَا أَشُكُّ ثُمَّ قَالَ اتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ فَإِنْ لَمْ تَجِدْ فَبِكَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ [ر:١٣٤٧]

حضرت ابوهريره رضی الله عنه فرمائی چه ښه خبره کول صدقه ده ، د دوی دا تعليق امام بخاری رحمه الله په کتاب الصلح او کتاب الجهاد کښې موصولاً نقل کړيدې - (٤)

قوله: ذكر النبي صلى الله عليه وسلم فتعوذ منها و أشاح بوجهه : رسول الله ﷺ د جهنم ذکر اوکړو ، نو دينه ئې پناه طلب کړه او مخ ئې واړولو ګويا چه نبی کريم صلی الله دا وينی ، او ددې د تاو نه د بچ کيدو دپاره ئې مخ مبارك واړولو -

---

١) فتح الباری : ١٠\٥٤٩)

٢) ارشاد الساری : ١٣\٤٨ ، شرح ابن بطال : ٩\٢٢٤ ،فتح الباری : ١٠\٥٥٠)

٣) شرح ابن بطال : ٩\٢٢٤ ، ارشاد الساری : ١٣\٤٨ ، فتح الباری: ١٠\٥٥٠)

٤) صحيح البخاری و کتاب الجهاد ، باب فضل من حمل متاع صاحبه فی السفر (رقم الحديث ٢٨٢٧)

٣٥=بَاب الرِّفْقِ فِي الْأَمْرِ كُلِّهِ

[٥٦٧٨] حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ صَالِحٍ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ دَخَلَ رَهْطٌ مِنْ الْيَهُودِ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا السَّامُ عَلَيْكُمْ قَالَتْ عَائِشَةُ فَفَهِمْتُهَا فَقُلْتُ وَعَلَيْكُمْ السَّامُ وَاللَّعْنَةُ قَالَتْ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَهْلًا يَا عَائِشَةُ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الرِّفْقَ فِي الْأَمْرِ كُلِّهِ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَوَلَمْ تَسْمَعْ مَا قَالُوا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ قُلْتُ وَعَلَيْكُمْ [ر:٢٧٧٧]

[٥٦٧٩] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ قَالَ حَدَّثَنَا ثَابِتٌ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ أَعْرَابِيًّا بَالَ فِي الْمَسْجِدِ فَقَامُوا إِلَيْهِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُزْرِمُوهُ ثُمَّ دَعَا بِدَلْوٍ مِنْ مَاءٍ فَصُبَّ عَلَيْهِ [ر:٢١٦]

په هره معامله کښې نرمی کول پکار دی: رفق (د راء په کسره او د فاء په سکون سره) نرمئ ته وائی ، روایت دباب کښې دی چه د یهودو یو جماعت نبی کریم ﷺ ته راغلو او وې ویل : السام علیکم " (په تا دې مرګ نازل وی) حضرت عائشه فرمائی څه په دې پوهه شوم نو ما اوویل : " وعلیکم السام واللعنة " رسول الله ﷺ اوفرمائل : صبر عائشه الله جل شانه په هره معامله کښې نرمی خوښوی ، ما عرض اوکړو ، اے د الله رسوله تاسو د دوی کلام واونه ریدلو ، رسول الله ﷺ اوفرمائل : ما خو هم " وعلیکم " اوویلې -

د باب دویم روایت کښې دی چه یو بانډیچی په جمات کښې متیازې کول شروع کړل ، خلق دده د بندولو دپاره ور وړاندې شو ،نوحضور ﷺ اوفرمائل : دې د متیازو کولو نه مه بندوئ، بیا ئې یو ډولچه اوبه را اوغوښتلې اوپه دې ئې واړولې،لاتزرموه : داد إزرام باب افعال نه دې - د ازرام معنی د معنی د قطع (بندولو) ده یقال: زرم البول إذا انقطع، وأزرمته : قطعته

٣٦=بَاب تَعَاوُنِ الْمُؤْمِنِينَ بَعْضِهِمْ بَعْضًا

[٥٦٨٠] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ بُرَيْدِ بْنِ أَبِي بُرْدَةَ قَالَ أَخْبَرَنِي جَدِّي أَبُو بُرْدَةَ عَنْ أَبِيهِ أَبِي مُوسَى عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضًا ثُمَّ شَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسًا إِذْ جَاءَ رَجُلٌ يَسْأَلُ أَوْ طَالِبُ حَاجَةٍ أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ فَقَالَ اشْفَعُوا فَلْتُؤْجَرُوا وَلْيَقْضِ اللَّهُ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّهِ مَا شَاءَ [ر:٤٦٧]

رسول الله ﷺ فرمائلي دی ، يو مؤمن د بل مؤمن دپاره په شان د عمارت دې چه د هغې يو حصه بلې حصې لره مضبوطوی او دوی د (پوهولو دپاره) د يو لاس ګوتې د بل لاس په ګوتو کښې ورکړې -

" يشد بعضه بعضا " كښې " بعضا " د " يشد " دپاره مفعول به دې ، خو علامه كرمانى فرمائى : دا منصوب په نزع د خافض دې ، أى يشد بعضه ببعض - ([1])

علامه ابن بطال فرمائى : " تعاون المؤمنين بعضهم بعضا فى أمور الدنيا و الآخرة مندوب إليه بهذا الحديث ، و ذلك من مكارم الأخلاق ، و قد جاء فى حديث آخر عن النبى صلى الله عليه و سلم " الله فى عون العبد ، ما دام العبد فى عون أخيه " ([2])

يعنى ددې حديث په بناء باندې د مسلمانانو د يو بل سره په دنيوى او په اخروى كارونو كښې تعاون كول يو مندوب او مستحب امر دې او دا دښو اخلاقو يو حصه ده ، يو بل حديث كښې راغلې دى چه تر يو بنده د خپل رور په امداد او تعاون كښې مصروف وى نو الله تعالى ددې بنده امداد كوى -

قوله: ثم شبّك بين أصابعه: رسول الله ﷺ د يو لاس گوتې د بل لاس په گوتو كښې واچولې - او وې فرمائل مؤمنان د يو بل سره داسې لگيدلې او تړلې شويدى ..... دينه دا هم معلومه شوه چه كومه خبره كښې مبالغه مقصود وى نو د دې د پوهولو دپاره په لاس وغيره سره اشاره او حركت كولې شى دې دپاره چه اوريدونكى په دې ښه پوه شى ، حافظ ابن حجر رحمه الله ليكى : " و يستفاد منه أن الذى يريد المبالغة فى بيان أقواله يمثلها بحركاته ليكون أوقع فى نفس السامع " ([3]) و كان النبى صلى الله عليه و سلم جالسا إذ جاء رجل يسأل أو طالب حاجة ، أقبل علينا بوجهه ، فقال : اشفعوا .... ([4])

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى دې عبارت كښې اشكال دې ، ځكه چه مقصود په دې سره د رسول الله ﷺ دا معمول خودل دى چه كله به دوى ناست وو او يو سائل به راغلو نو دوى به فرمائل د ده دپاره سفارش اوكړئ .... حال دا دې د دې عبارت نه دا د يو ځل واقعه معلوميږى .... حافظ فرمائى چه كيدې شى چه اصل كښې " كان إذا كان جالسا ... " وو (يعنى چه كله به هم دوى تشريف فرما وو) خو راوى " كان إذا " د اختصار د وجه نه حذف كړو - ([5])

ابونعيم روايت نقل كړيدې ، د ده الفاظ دى " كان رسول الله صلى الله عليه و سلم إذا جاءه السائل أو طلبت إليه حاجة ، قال : إشفعوا توجروا " ([6])

---

[1]) شرح الكرمانى ۲۱ \ ۱۷۹)
[2]) شرح ابن بطال : ۹ \ ۲۲۷)
[3]) فتح البارى : ۱۰ \ ۵۵۲)
[4]) فتح البارى : ۱۰ \ ۵۵۲)
[5]) فتح البارى : ۱۰ \ ۵۵۲)
[6]) صحيح البخارى ، كتاب الزكاة ، باب التحريض على الصدقة و الشفاعة فيها (رقم الحديث : ۱۴۳۲)

دا عبارت بالکل بې ګرده او بې غباره دې

د حدیث شریف حاصل دا دې چه رسول الله ﷺ ته به کله هم څوك سائل راغلو یا به ورته څوك حاجتمند راغلو نو دوی به حضرات اصحابو ته فرمائل چه تاسو دده سفارش اوکړې نو تاسو ته به هم (ددې سفارش کولو) اجر ملاو شی ، برابره خبره ده چه د ستاسو سفارش قبول شی او که نه ، بهر حال تاسو ته به د سفارش کولو اجر ملاویږی -

اشفعوا فلتوجروا ..... دیکښې لام ، لام کَي دې أی اشفعوا کي توجروا ، فاء دیکښې زیاتی ده - (۱)

علامه کرمانی فرمائی چه دا فاء سببیه ده او د لام کَي په معنی دې او فاء سببیه او لام کَي دواړه جمع کیدې شی - (۲)

شارح د مشکاة علامه طیبی رحمه الله د دې په تشریح کښې فرمائی : یعنی إذا عرض صاحب الحاجة علیّ اشفعوا له ، فإنکم إذا شفعتم له إلیّ ای إذا عرض المحتاج حاجته علیّ فاشفعوا له إلیّ ، حصل لکم بتلك الشفاعة أجرٌ ، سواء قبلت شفاعتکم أو لم تقبل ، و قوله : "یقضی الله علی لسان رسوله " أی یجری علی لسانی ما شاء الله ، إن قضیت حاجة من شفاعتکم له ، فهو بتقدیر الله ، وإن لم أقض فهو أیضًا بتقدیر الله (۳)

یعنی چه کله هم یو حاجتمند خپل څه حاجت وړاندې کړی نو تاسو دده سفارش اوکړئ ، د سفارش په وجه به تاسو ته اجر ملاویږی ، برابره خبره ده چه د ستاسو سفارش قبول شی او که نه ، الله جل شانه خما په ژبه به هغه څه جاری کوی چه کوم د الله مشیت (اراده) وی ، د ستاسو په سفارش که څه د چا څه ضرورت پوره کړم نو دا هم په تقدیر د الله تعالی سره او که اونکړم نو دا به هم د الله تعالی په تقدیر سره وی -

مقصد دا دې چه د سفارش قبلیدل او نه قبلیدل جدا خبره ده ، صرف په سفارش کولو هم د اجر استحقاق حاصلیږی ، د حضرت ابن عباس نه روایت دې چه رسول الله ﷺ فرمایلي دی " من سعی لأخیه المسلم فی حاجة قضیت له أو لم تقض غفر له " (۴) چه چا د خپل مسلمان رور د حاجت او د ضرورت پوره کولو دپاره کوشش اوکړو ، نو د ده به مغفرت اوشی ، برابره خبره ده چه دده حاجت پوره شو او که او نشو -

حافظ ابن حجر د حدیث نه آداب مستنبط کوی او لیکی : "وفی الحدیث الحض علی الخیر بالفعل و بالتسبیب إلیه بکل وجه ، و الشفاعة إلی الکبیر فی کشف کربة و معونة ضعیف ، إذ لیس کل أحد یقدر علی الوصول إلی الرئیس ، ولا التمکن منه لیلج علیه أو یوضح له مراده لیعرف حاله علی وجهه ، وإلا فقد کان صلی الله

(۱) ارشاد الساری : ۱۳ \ ۵۱، فتح الباری : ۱۰ \ ۵۵۳)

(۲) شرح البخاری للکرمانی : ۲۱ \ ۱۷۹)

(۳) شرح الطیبی علی مشکاة المصابیح ، کتاب الأدب ، باب الشفعة و الرحمة علی الخلق : ۹ \ ۱۷۱ (رقم الحدیث : ۴۹۵۶)

(۴) فتح الباری : ۱۰ \ ۵۵۳)

عليه وسلم لايحتجب" (١)

یعنی دې حدیث کښې نیکۍ کولو او ددې سبب جوړیدو ته ترغیب ورکړې شویدی . د چا بوج سپکولو یا د یو ضعیف سره امداد کولو دپاره چا لوې سړی ته د سفارش کولو هم ترغیب دی ، ځکه چه د هر سړي امیر ته رسیدل نه وی دا رنګه امیر ته تلل او د خپل مقصد صحیح بیان کول هم د هرکس کارنه دې ، ګنی رسول الله ﷺ خو حاجب او دربان نه ساتلو.

قوله: وليقض الله على لسان نبيه: ليقض د لام سره هم دې او " ويقض " د لام نه بغير هم دې ، صحيح مسلم په روايت كښې فليقض دې (٢) خو د صحيح مسلم په روايت كښې هم " وليقض " دې) علامه قرطبی رحمه الله فرمایی :

"لا يصح أن تكون هذه اللام لام الأمر، لأن الله لا يؤمر، ولا لام كي إلا أنه ثبت في الرواية، وليقض، بغير ياء مد، ثم قال: يحتمل أن تكون بمعنى الدعاء: اللهم اقض أو الأمر هنا بمعنى الخبر" (٣)

یعنی " ولیقض " کښې لام ، لام امر نه شی کیدې ، ځکه چه کُه دا لام امر اوګرځولې شی او د امر صیغه فرض کړې شي نو ترجمه به ئې دا وی " الله لره پکار دی چه دې فیصله اوکړی .... " او الله مامور نه شی کیدې ، او دا " لام کَي " هم نه شی کیدې ځکه دې صورت کښې ئې څه مطلب نه جوړیږی ، خو روایت کښې هم دارنګه ثابت دی ، خو د امر په صورت کښې دا په دعا حمل کیدې شی ، " ولیقض الله .... " د " اللهم اقض ... " په معنی کښې به وی او دا احتمال هم شته چه امر د خبر په معنی کښې شی -

٣٧=بَاب قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى مَنْ يَشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَكُنْ لَهُ نَصِيبٌ مِنْهَا وَمَنْ يَشْفَعْ شَفَاعَةً سَيِّئَةً يَكُنْ لَهُ كِفْلٌ مِنْهَا وَكَانَ اللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ مُقِيتًا

[النساء:٨٥] كِفْلٌ نَصِيبٌ قَالَ أَبُو مُوسَى كِفْلَيْنِ [الحديد:٢٨] أَجْرَيْنِ بِالْحَبَشِيَّةِ

[٥٦٨١] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ بُرَيْدٍ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ إِذَا أَتَاهُ السَّائِلُ أَوْ صَاحِبُ الْحَاجَةِ قَالَ اشْفَعُوا فَلْتُؤْجَرُوا وَلْيَقْضِ اللَّهُ عَلَى لِسَانِ رَسُولِهِ مَا شَاءَ [ر:١٣٦٥]

دسفارش دوه قسمونه دی یو سفارش حسنه او بل سفارش سیئه ، آیت کریمه کښې دی چه

---

(١) فتح الباری : ١٠ \ ٥٥٣)

(٢) فتح الباری : ١٠ \ ٥٥٣ وصحيح مسلم ، كتاب البر و الصلة و الآداب ، باب استحباب الشفاعة فيما ليس بحرام : ٤ \ ٢٠٢٦ (رقم الحديث : ٢٦٢٧)

(٣) فتح الباری : ١٠ \ ٥٥٣)

کوم کس ښه سفارش اوکړي ، نو دده به دیکښې حصه وي ، او چه څوك بد سفارش اوکړي نو دده به هم دیکښې حصه وي -
شفاعت حسنه څو صورتونه دي ، په جائز او مباح امورو کښې د چا د نفع او د فائدې دپاره سفارش کول ، د نیکۍ په کارونو کښې سفارش کول ، شفاعت حسنه دې ، او چا ته نقصان ورکولو دپاره سفارش کول ، په خلاف شرع کارونو کښې د چا دپاره سفارش کول په شفاعت سیئه کښې داخل دي - (۱)
بعضو ویلي دي چه مسلمانانو ته دعا کول شفاعت حسنه او دوی ته خیرې کول شفاعت سیئه ده - (۲)
حضرت حسن بصری او قتاده کفل معنیٰ په گناه او په وزر سره کړیده (۳) او امام ددې معنی په "نصیب" (حصې) سره بیان کړیده ، دا د ابوعبیده تفسیر دې - (۴)
قوله: قال أبوموسى : كفلين : أجرين بالحبشية : سورة حدید کښې دی (يؤتكم كفلين من رحمته) دې آیت کریمه کښې کفل د اجر په معنی دې ، حضرت ابو موسی اشعری رضی الله عنه فرمائی : چه د کفلین معنی په حبشی ژبه کښې د اجر ده ، ابن ابی حاتم دا تعلیق موصولاً نقل کړیدې - (۵)

۳۸=بَاب لَمْ يَكُنْ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاحِشًا وَلَا مُتَفَحِّشًا

[۵۶۸۲] حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سُلَيْمَانَ سَمِعْتُ أَبَا وَائِلٍ سَمِعْتُ مَسْرُوقًا قَالَ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرٍو ح وحَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ الْأَعْمَشِ عَنْ شَقِيقِ بْنِ سَلَمَةَ عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ دَخَلْنَا عَلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو حِينَ قَدِمَ مَعَ مُعَاوِيَةَ إِلَى الْكُوفَةِ فَذَكَرَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَمْ يَكُنْ فَاحِشًا وَلَا مُتَفَحِّشًا وَقَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ أَخْيَرِكُمْ أَحْسَنَكُمْ خُلُقًا [ر: ۳۳۶۶]

[۵۶۸۳] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَامٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ يَهُودَ أَتَوْا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا السَّامُ عَلَيْكُمْ فَقَالَتْ عَائِشَةُ عَلَيْكُمْ وَلَعَنَكُمْ اللَّهُ وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ قَالَ مَهْلًا يَا عَائِشَةُ عَلَيْكِ بِالرِّفْقِ وَإِيَّاكِ وَالْعُنْفَ وَالْفُحْشَ قَالَتْ أَوَلَمْ تَسْمَعْ مَا قَالُوا قَالَ أَوَلَمْ تَسْمَعِي مَا قُلْتُ رَدَدْتُ عَلَيْهِمْ فَيُسْتَجَابُ لِي فِيهِمْ وَلَا يُسْتَجَابُ لَهُمْ فِيَّ [ر: ۲۷۷۷]

---

(۱) اوگورئ الجامع لاحكام القرآن للقرطبی : ۵\۲۹۵)
(۲) الجامع لاحكام القرآن للقرطبی : ۵\۲۹۵ ، عمدة القاری : ۲۲\۱۱۵)
(۳) الجامع لاحكام القرآن للقرطبی : ۵\۲۹۵ ، شرح ابن بطال : ۹\۲۲۸ ، عمدة القاری : ۲۲\۱۱۵)
(۴) فتح الباری : ۱۰\۵۵۳ ، عمدة القاری : ۲۲\۱۱۵)
(۵) عمدة القاری : ۲۲\۱۱۵)

رسول الله ﷺ ته نه د فحش خبرو كولو عادت وو او نه به دوى قصداً فحش خبرې كولې -
فاحش هغه كس ته وائى چه فحش كلام كوى ، كوم يو عمل هم ، قول او وصف چه د خپل مقدار نه واوړى نو دا بد لګى ، ديته فحش ويلې كيږى خو عموماً دا د كلام دپاره استعماليږى ، داسې خبره چه د حد د اعتدال نه بهر وى نو ديته به فحش وائى ، متفحش باب د تفعل نه د اسم فاعل صيغه ده ، د باب تفعل يو خاصيت د تكلف دې ، متفحش يعنى په تكلف سره او په قصد سره فحش خبرې كوونكې - ([1])

[٥٦٨٣] ([2]) حَدَّثَنَا أَصْبَغُ قَالَ أَخْبَرَنِي ابْنُ وَهْبٍ أَخْبَرَنَا أَبُو يَحْيَى هُوَ فُلَيْحُ بْنُ سُلَيْمَانَ عَنْ هِلَالِ بْنِ أُسَامَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ لَمْ يَكُنِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبَّابًا وَلَا فَحَّاشًا وَلَا لَعَّانًا كَانَ يَقُولُ لِأَحَدِنَا عِنْدَ الْمَعْتِبَةِ مَا لَهُ تَرِبَ جَبِينُهُ [ر:٥٦٩٩]

حضرت انس رضي الله عنه فرمائى چه رسول الله ﷺ كنځل كوونكې ، بدې خبرې كوونكې او لعنت كوونكې نه وو ، چه مونږ كښې به كله په يو كس غصه شو نو فرمائل به ئې ماله ترب جبينه (ده ته څه شويدى ، دده تندى دې په خاورو ككړ شى)

مَعْتَبَةٌ (د ميم په فتحه او د عين په سكون او دتا په فتحه او په كسره سره) ناراضګۍ ته وائى - ([3])

قوله: مـاله ترب جبينه : د دې دوه مطلبه كيدې شى ، يو خو دا چه دا د خيرو دپاره دې او مطلب ئې دا دې چه دې را اوغورزيږى دې دپاره چه دده تندى د خاورو شى .... خو ددې حقيقى معنى مراد نه اخستې كيږى بلكه دا د غصه او د ناراضتيا په وخت دا جمله عموما استعماليږى -

او دا د عبادت دپاره په دعا هم محمول كيدې شى يعنى ده ته دې په كثرت سره د مونځونو كولو توفيق ملاو شى چه د هغې په نتيجه كښې به د ده تندې په خاورو ككړ وى - ([4])

خو ړومبې مطلب زيات قرين سياق او راجح دې -

دا حديث دلته امام بخارى رحمه الله په ړومبى ځل ذكر كړيدې ، صحيح بخارى كښې دينه وړاندې دا چرته نه دې تير شوې -

---

[1]) شرح الطيبى باب فى اخلاقه و شمائله صلى الله عليه و سلم ، الفصل الثانى : ١١ \ ٣٦ (رقم الحديث : ٥٨٢٠) عمدة القارى : ٢٢ \ ١١٦ ، فتح البارى : ١٠ \ ٥٥٥)

[2]) ٥٦٨٤) هذا الحديث من افراد الامام البخارى ، عمدة القارى : ٢٢ \ ١١٧ ، و اخرجه ايضا فى كتاب الادب ، باب ما ينهى من السباب و اللعن : رقم الحديث : ٥٦٩٩)

[3]) عمدة القارى : ٢٢ \ ١١٧ ، ارشاد السارى : ١٣ \ ٥٤ ، فتح البارى : ١٠ \ ٥٥٦)

[4]) ارشاد السارى : ١٣ \ ٥٤ ، عمدة القارى : ٢٢ \ ١١٧ ، فتح البارى : ١٠ \ ٥٥٦)

[٥٦٨٥] (١) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عِيسَى حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَوَاءٍ حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ الْقَاسِمِ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَجُلًا اسْتَأْذَنَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا رَآهُ قَالَ بِئْسَ أَخُو الْعَشِيرَةِ وَبِئْسَ ابْنُ الْعَشِيرَةِ فَلَمَّا جَلَسَ تَطَلَّقَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي وَجْهِهِ وَانْبَسَطَ إِلَيْهِ فَلَمَّا انْطَلَقَ الرَّجُلُ قَالَتْ لَهُ عَائِشَةُ يَا رَسُولَ اللَّهِ حِينَ رَأَيْتَ الرَّجُلَ قُلْتَ لَهُ كَذَا وَكَذَا ثُمَّ تَطَلَّقْتَ فِي وَجْهِهِ وَانْبَسَطْتَ إِلَيْهِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَائِشَةُ مَتَى عَهِدْتِنِي فَحَّاشًا إِنَّ شَرَّ النَّاسِ عِنْدَ اللَّهِ مَنْزِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَنْ تَرَكَهُ النَّاسُ اتِّقَاءَ شَرِّهِ [ر: ٥٧٠٧، ٥٧٨٠]

د عمرو بن عيسى كنيت ابو عثمان دې ، صحيح بخارى كښې د دوى صرف دوه روايتونه دي يو دا او يو په مناقب كښې تير شويدې - (٢)

د ده د شيخ محمد بن سواء هم په صحيح بخارى كښې صرف دوه روايتونه دي يو دا او يو په مناقب كښې تير شويدې - (٣)

روايت د باب كښې حضرت عائشه فرمائي : چه يو سړى د رسول الله ﷺ نه د دننه راتللو اجازت اوغوښتلو ، چه كله دوى ﷺ دې اوليدلو نو وې فرمائل دا د قبيلې بد رور يا بد خوې دې - چه كله دې كښيناستو نو دوى ورسره په روڼ تندى او په روښانه مخ ملاو شو ، چه كله دا سړې لاړو نو حضرت عائشه دوى نه تپوس اوكړو ، چه اے د الله رسوله چه كله تاسو دا سړې اوليدو نو داسې داسې مو اوفرمائل (چه دا د قبيلې خراب سړې دې) بيا تاسو ده سره په روڼ تندى او په روښانه مخ ملاو شوئ ، نو رسول الله ﷺ اوفرمائل : اے عائشه تا څه كله فحش ويونكې ليدلې يم . د قيامت په ورځ به د الله په نزد د درجې په اعتبار په خلقو كښې بدترين هغه كس وى چه خلق ده لره د ده د شر په وجه پريږدى " -

قوله: إن رجلا استأذن ...: ابن بطال ، قاضى عياض ، قرطبى او امام نووى وائى چه دا سړې غيينه بن حصن وو - (٤)

امام مالك د حضرت عائشه نه يو روايت رانقل كړيدې ديكښې د دې تصريح ده - (٥)

---

(١) ٥٦٨٥) الحديث أخرجه البخارى أيضا فى كتاب الأدب ، باب ما يجوز من اغتياب أهل الفساد و الريب (رقم الحديث : ٥٧٠٧) و أخرجه ديضا فى كتاب الأدب ، باب المدارة مع الناس (رقم الحديث : ٥٧٨٠) و أخرجه مسلم فى كتاب الفضائل ، باب مدارة من يتقي فحشه : ٤ \ ٢٠٠٢ (رقم الحديث : ٢٥٩١) و أخرجه الترمذى فى كتاب البر و الصلة ، باب ما جاء فى المدارة : ٤ \ ٣٥٩ (رقم الحديث : ١٩٩٦) و أخرجه أبوداود فى كتاب الأدب ، باب فى حسن العشرة : ٤ \ ٢٥١ (رقم الحديث : ٤٧٩١)

(٢) ارشاد السارى : ١٣ \ ٥٥ ، عمدة القارى : ٢٢ \ ١١٧ ، فتح البارى : ١٠ \ ٥٥٦)

(٣) ارشاد السارى : ١٣ \ ٥٥ ، عمدة القارى : ٢٢ \ ١١٧ ، فتح البارى : ١٠ \ ٥٥٦)

(٤) عمدة القارى : ٢٢ \ ١١٧ ، فتح البارى : ١٠ \ ٥٥٦ ، ارشاد السارى : ١٣ \ ٥٥ ، شرح مسلم للنووى ، كتاب البر و الصلة ، باب مدارة من يتقي فحشه : ٢ \ ٣٢٢)

(٥) دا روايت امام مالك په خپل موطاء كښې (كتاب حسن الخلق ، باب ما جاء... [بقيه برصفحه آئنده....

د حضرت عائشه یو بل روایت کښې دی چه دا سړې مخرمه بن نوفل وو ، دا په تعدد د واقعاتو سره محمول کیدې شی - (۱)

قوله: فلما جلس تطلّق :تطلق دباب د تفعل نه د واحد مذکر غائب صیغه ده أی أبدی له طلاقة وجهه : (۲) یعنی دوی ﷺ ده ته خوشحالی او رونړ تندی والې ښکاره کړو -

حضرت عائشه ؓ ته د رسول الله ﷺ په رویه تعجب اوشو چه دوی ﷺ خو ده ته د قبیلې بدتر سړې اوویلې ، او دینه پس په دوران د ملاقات کښې ئې ورسره په خوشحالې او په خندا ملاقات اوکړو د مسند احمد په روایت کښې دی چه په دې موقعه یو بل سړې راغلو نو دوی ﷺ اوفرمائل "نعم بن العشیرة" (۳) (دا د قبیلې ښه سړې دې) خو چه کله دوی ﷺ د ده سره ملاو شو نو د زیاتې خوشحالئ اظهار ئې اونکړو .... ځکه حضرت عائشه د حضور نه تپوس اوکړو ، نو دوی اوفرمائل : عائشه تا څه کله فحش ویونکې لیدلې یم ؟ .... مقصد دا وو چه د سړي د خراب کیدو مطلب دا نه دې چه ده سره دې ملاقات کولو کښې تریخوالې او د بې توجهئ اظهار اوکړې شی -

د حدیث نه مستنبط فائدې : دې حدیث نه یو خبره خو دا معلومه شوه چه کُه یو سړې بد اخلاق او خراب وی نو چه د ده د خرابتیا نه د خلقو د خبرولو دپاره ده ته خراب اوویلې شی نو دا د حرام غیبت په زمره کښې نه راځی په شرط د دې چه کُه دا یره وی چه خلق په ده خبر نه وی نو دې به په بې خبرئ کښې خلقو ته دهوکه ورکړی - (۴) دویمه خبره دا معلومه شوه چه د یو خراب سړی د خرابئ بیانولو نه پس ده سره د ملاقات په وخت د خوش اخلاقئ مظاهره کول په نفاق کښې داخل نه دې - (۵)

دریمه خبره دا معلومه شوه چه د بداخلاقه او د فاسق سړي د شر نه د محفوظ پاتې کیدو دپاره او دې دین ته رانزدې کولو دپاره ظاهرا مدارات او د حسن اخلاق مظاهره کول پکار دی په شرط د دې چه حد د مداهنت ته سړې اونه رسوی - (۶)

مدارات او مداهنت کښې فرق دا دې چه مدارات دیته وائی چه دنیا څه د دنیوی یا د دینی فائدې او د اصلاح دپاره استعمالول او مداهنت دیته وائی چه د دنیا دپاره دین پریږدې ،

....بقیه ازحاشیه گذشته] فی حسن الخلق : ۲\۹۰۳) کښې ذکر کړیدې خو دیکښې د نوم تصریح نشته دې ، خو حافظ ابن حجر د بلاغات امام مالك په حواله سره ددې تصریح کړیده فتح الباری : ۱۰\۵۵۶)

۱) فتح الباری : ۱۰\۵۵٤ ، عمدة القاری : ۲۲\۱۱۷)

۲) فتح الباری : ۱۰\۵۵۷)

۳) مسند الإمام أحمد بن حنبل ، مسانید عائشة : ۶\۱۵۸)

۴) رد المختار علی الدر المختار ، کتاب الحظر و الإباحة ، فصل فی البیع : ۵\۲۹۰ ، فتح الباری : ۱۰\۵۵۷ ، عمدة القاری : ۲۲\۱۱۸)

۵) فتح الباری : ۱۰\۵۵۷ ، عمدة القاری : ۲۲\۱۱۸ ، شرح مسلم للنووی ، کتاب البر والصلة ، باب مداراة من یتقی فحشه : ۲\۳۲۲)

۶) فتح الباری : ۱۰\۵۵۷)

مدارات مباح او په بعض صورتونو کښې مستحب دي او مداهنت حرام او ناجائز دي - (۱)
علامه قرطبی د حدیث د باب د واقعه په باره کښې لیکی :

" والنبی ﷺ إنما بذل له من دنیاه حسن عشرته ، و الرفق فی مکالمته ، و مع ذلك فلم یمدحه بقول ، فلم یناقض قوله فیه فعله ، فإن قوله فیه قول حق ، و فعله معه حسن عشرة " (۲)

یعنی رسول الله ﷺ ده سره حسن سلوك او په خبرو کښې د شفقت او د نرمئ مظاهره اوکړه ، خو دې سره دوی ﷺ دده تعریف په ژبه نه دې کړې ، نو دارنګه د ده قول او عمل کښې څه تناقض رانغلو ، د ده باره کښې زباني رائې او قول په خپل ځائې حق وو خو بیا هم د ملاقات په وخت دوی سره نرم رویه اوساتله چه کوم د حسن معاشرت د قبیلې نه وو -
قاضی عیاض رحمه الله فرمائی چه عیینه دغه وخته پورې اسلام نه وو قبول کړې ، دې وجه نه " بئس أخو العشیرة " ویل په غیبت کښې داخل نه دی یا ئې اسلام قبول کړې وو خو دې په اسلام کښې کمزورې وو ، دوی ﷺ ددې باره کښې وضاحت اوکړو چه هسې نه څوك د ده په مسلمان کیدوسره په دهوکه کښې مبتلاء نه شی ، لکه چه د رسول الله ﷺ په ژوند کښې او دوی نه پس ده نه به داسې کارونه صادریدل چه دده د اسلام په ضعف دلیل وو - (۳)

۳۹=بَاب حُسْنِ الْخُلُقِ وَالسَّخَاءِ وَمَا يُكْرَهُ مِنْ الْبُخْلِ

وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَجْوَدَ النَّاسِ وَأَجْوَدُ مَا يَكُونُ فِي رَمَضَانَ [ر:۶] وَقَالَ أَبُو ذَرٍّ لَمَّا بَلَغَهُ مَبْعَثُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِأَخِيهِ ارْكَبْ إِلَى هَذَا الْوَادِي فَاسْمَعْ مِنْ قَوْلِهِ فَرَجَعَ فَقَالَ رَأَيْتُهُ يَأْمُرُ بِمَكَارِمِ الْأَخْلَاقِ [ر:۳۶۳۸]

ترجمة الباب کښې امام بخاری رحمه الله د درې جزءو ذکر کړیدې ، یو د حسن خلق یعنی ښه اخلاق ، د اخلاقو نه مراد هغه اوصاف مراد دی چه هغې سره انسان د نورو سره معامله کوی ، دا ښه هم وی او بد هم لکه عفو ، صبر ، رونړ تندې ، سخاوت ، ..... دا اخلاق حسنه دی ، بخل ، ترش والې ظلم وغیره اخلاق قبیحه دی - (۴)
سخا ، سخاوت ته وائی یعنی بغیر د څه د عوض نه خپل مال خرچ کول ، بخل ددې ضد دې -" ما یکره من البخل " کښې امام بخاری رحمه الله اشاره اوکړه چه د بخل بعض صورتونه چه په هغې د بخل اطلاق کیږی هغه په مذموم بخل کښې داخل نه دی - (۵)
حضرت ابن عباس فرمائی : چه رسول الله ﷺ په ټولو خلقو کښې زیات سخی وو ، او د رمضان په میاشت کښې به دوی نورهم زیات سخی کیدلو ، دا تعلیق امام بخاری رحمه الله

---

(۱) فتح الباری : ۱۰\۵۵۷)
(۲) فتح الباری : ۱۰\۵۵۷)
(۳) فتح الباری : ۱۰\۵۵۷)
(۴) فتح الباری : ۱۰\۵۵۸ . عمدة القاری : ۲۲\۱۱۸)
(۵) فتح الباری : ۱۰\۵۵۸ . عمدة القاری : ۲۲\۱۱۸ . ارشاد الساری : ۱۳\۵۶)

په کتاب الایمان کښې موصولاً نقل کړيدي او هلته ددې تشریح هم تیره شویده - (۱)

قوله: وقال ابوذر لما بلغه مبعث النبی صلی الله علیه وسلم......: د حضرت ابوذر غفاری رضی الله عنه بیان دې چه کله ده ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبعوث کیدو خبر ملاو شو نو ده خپل رور ته اوویل: چه دغه وادی ته لاړ شه او دده خبرې واوره ، نو چه کله دې واپس راغلو نو ده اوویل چه ما د ده نه د ښو اخلاقو حکم ورکول واوریدل او اومې لیدلو ، دا تعلیق امام بخاری رحمه الله په تفصیل سره په " المبعث النبوی " کښې موصولاً نقل کړیدې - (۲)

مکارم: مکرمة (د راء په ضمه سره) جمع ده ښو اخلاقو ته وائی - (۳)

[۵۶۸۶] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ هُوَ ابْنُ زَيْدٍ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْسَنَ النَّاسِ وَأَجْوَدَ النَّاسِ وَأَشْجَعَ النَّاسِ وَلَقَدْ فَزِعَ أَهْلُ الْمَدِينَةِ ذَاتَ لَيْلَةٍ فَانْطَلَقَ النَّاسُ قِبَلَ الصَّوْتِ فَاسْتَقْبَلَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ سَبَقَ النَّاسَ إِلَى الصَّوْتِ وَهُوَ يَقُولُ لَنْ تُرَاعُوا لَنْ تُرَاعُوا وَهُوَ عَلَى فَرَسٍ لِأَبِي طَلْحَةَ عُرْيٍ مَا عَلَيْهِ سَرْجٌ فِي عُنُقِهِ سَيْفٌ فَقَالَ لَقَدْ وَجَدْتُهُ بَحْرًا أَوْ إِنَّهُ لَبَحْرٌ [ر: ۲۴۸۴]

حضرت انس رضی الله عنه فرمائی چه یو شپه (په څه اواز اوریدو سره) اهل مدینه اویریدل ، خلق ددې اواز طرف ته روان شو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د خلقو استقبال اوکړو (ځکه چه دوی صلی الله علیه وسلم تحقیق اوکړو او واپس راروان وو او خلق اوس وتل) دوی صلی الله علیه وسلم آواز طرف ته د خلقو نه وړاندې وتلې وو ، وې فرمائل چه د یرې خبره نشته دې ، دوی صلی الله علیه وسلم د حضرت ابو طلحه رضی الله عنه په بربنډ اس بغیر د زینه سور وو ، او په غاړه کښې ئې توره وه او فرمایل ئې ما دا سمندر بیا موندلو یا هغه سمندر دې -

قوله: لم تُراعوا لم تُراعوا: دیکښې " لم " د " لا " په معنی دې ، نفی د نهی په معنی کښې ده ای لاتراعوا... د ابوذر نه علاوه په باقی نورو نسخو کښې " لن تراعو " دې - (۴)

عُري (د عین په ضمه او د راء په سکون سره) دا د فرس صفت دې ، د بربنډې ملا والا آس ماعلیه سرج د ا ددې تفسیر دې -

قوله: لقد وجدته بحرا: دیکښې دوه احتماله دی یو دا چه ضمیر " صوت " ته راجع وی او مطلب به ئې دا وی چه دا آواز د سمندر وو ، د دښمن اواز نه وو - (۵)

دویم دا چه ضمیر " فرس " ته راجع وی چه ما دا آس د سمندر په شان په تلو کښې فراخ او

---

(۱) صحیح البخاری کتاب بدء الوحی (رقم الحدیث : ۶) د حدیث د تشریح دپاره کشف الباری باب بدء الوحی : ۱ \ ۴۶۱ اوګورئ)

(۲) صحیح البخاری وباب اسلام ابی ذر رضی الله عنه (رقم الحدیث : ۳۸۶۱)

(۳) فتح الباری : ۱۰ \ ۵۶۰ . ارشاد الساری : ۱۳ \ ۵۶)

(۴) ارشاد الساری : ۱۳ \ ۵۷)

(۵) لم آجده فیما بین یدی من المصادر)

وسيع بيا موندو - (۱)

[۵۶۸۷] (۲) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنِ ابْنِ الْمُنْكَدِرِ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرًا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ مَا سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ شَيْءٍ قَطُّ فَقَالَ لَا

قوله: ما سئل النبي صلى الله عليه وسلم عن شيء قط فقال: لا: يعنى د رسول الله ﷺ نه چه كله هم څه دنيوى څيز طلب به كړې شو نو دوى ﷺ "لا" (نه) كله هم نه ده ويلې، بلكه كُه وركول به وو نو نعم (ښه) به ئې اوويل او كُه د څه عذر د وجه به ئې نه شو وركولې نوخاموشى به ئې اختياركړه، د ابن سعد يو روايت كښې ددې تصريح ده(۳)

[۵۶۸۸] حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ قَالَ حَدَّثَنِي شَقِيقٌ عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ كُنَّا جُلُوسًا مَعَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو يُحَدِّثُنَا إِذْ قَالَ لَمْ يَكُنْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاحِشًا وَلَا مُتَفَحِّشًا وَإِنَّهُ كَانَ يَقُولُ إِنَّ خِيَارَكُمْ أَحَاسِنُكُمْ أَخْلَاقًا [ر: ۳۳۶۶]

[۵۶۸۹] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ حَدَّثَنَا أَبُو غَسَّانَ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِبُرْدَةٍ فَقَالَ سَهْلٌ لِلْقَوْمِ أَتَدْرُونَ مَا الْبُرْدَةُ فَقَالَ الْقَوْمُ هِيَ الشَّمْلَةُ فَقَالَ سَهْلٌ هِيَ شَمْلَةٌ مَنْسُوجَةٌ فِيهَا حَاشِيَتُهَا فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَكْسُوكَ هَذِهِ فَأَخَذَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُحْتَاجًا إِلَيْهَا فَلَبِسَهَا فَرَآهَا عَلَيْهِ رَجُلٌ مِنَ الصَّحَابَةِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا أَحْسَنَ هَذِهِ فَاكْسُنِيهَا فَقَالَ نَعَمْ فَلَمَّا قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَامَهُ أَصْحَابُهُ قَالُوا مَا أَحْسَنْتَ حِينَ رَأَيْتَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَهَا مُحْتَاجًا إِلَيْهَا ثُمَّ سَأَلْتَهُ إِيَّاهَا وَقَدْ عَرَفْتَ أَنَّهُ لَا يُسْأَلُ شَيْئًا فَيَمْنَعَهُ فَقَالَ رَجَوْتُ بَرَكَتَهَا حِينَ لَبِسَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَعَلِّي أُكَفَّنُ فِيهَا [ر: ۱۲۱۸]

حضرت سهل رضی الله عنه فرمائى چه يو ښځه نبى كريم ﷺ ته راغله او دې د خان سره يو "برده" راوړه. سهل د خلقو نه تپوس اوكړو تاسو ته پته شته چه برده څه ته وائى؟ خلقو اوويل: دا شمله ده. سهل اوويل: برده هغه شمله (څادر) ته وائى چه په هغه حاشې (په غاړو گلكارى) جوړې شوې وى. دې ښځې عرض اوكړو، اے د الله رسوله، څه دا تا ته اغوستل غواړم. نبى كريم ﷺ د يو ضرورت مند كس په شان دا (ډيره په مينه) واخستو او وائې غوستو. حضرات اصحابو كښې يو كس دا اوليدلو نو وې ويل: اے د الله رسوله! دا

(۱) التعليق الصبيح، باب فى اخلاقه و شمائله صلى الله عليه و سلم: ۷\۹۲، شرح الطيبى، باب فى اخلاق و شمائله صلى الله عليه و سلم،الفصل الاول: ۱۱\۳۰، عمدة القارى: ۲۲\۱۱۹، ارشاد السارى: ۱۳\۵۷)

(۲) ۵۶۸۷) الحديث أخرجه مسلم فى كتاب الفضائل، باب ما سئل رسول الله صلى الله عليه و سلم قط. فقال: لا، و كثرة عطائه: ٤\۱۸۰۵ (رقم الحديث: ۲۳۱۱) و أخرجه الترمذى فى الشمائل، باب ما جاء في خلق رسول الله صلى الله عليه و سلم: ۲٤)

(۳) ارشاد السارى: ۱۳\۵۷ وفتح البارى: ۱۰\۵۶۱)

خومره ښائسته دې ، تاسو دا ما ته راکړئ ، دوی ﷺ اوفرمائل : ښه ده ، نو چه کله رسول الله ﷺ پاڅیدو (او دننه ئې تشریف یوړو) نو اصحابو دې ملامته کړو ، او ورته ئې اوویل : دا تا ښه اونکړل ، چه کله تا اولیدلو چه نبی کریم ﷺ دا څادر قبول کړو او دوی ﷺ ته ددې ضرورت هم وو خو تا سره د دې د دوی نه څادر اوغوښتلو ، حال دا دې چه تا ته معلومه هم ده چه حضور ﷺ نه چه کله څه څیز اوغوښتې شی نو دوی ﷺ انکار نه کوی ، دې صحابی عرض اوکړو چه کله رسول الله ﷺ دا واغوستو نو څه د دې د برکت امیدوار شوم ، چه کیدې شی دا څه خپل کفن جوړ کړم -

قوله: جاءت إمرأة: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه د دې ښځې نوم ما ته معلوم نه شو - (۱)

قوله: هي شملة منسوجة فيها حاشيتها: شمله څادر او پټو ته وائی ، اصل کښې شمله هر هغه جامې ته وائی چه هغه اغوستې کیږی خو بیا دا د څادر او د شړئ دپاره استعمالیدل شروع شو ، یعنی دا داسې څادر وو چه دیکښې حاشیې جوړې شوې وې ، ددې حاشې نه وې پرې کړې شوې ، یا مطلب دا دې چه دا بغیر د زوندړو نه وو تر اوسه پورې دیکښې زونډی نه وو جوړ شوې ، علامه قسطلانی رحمه الله لیکی :

"أی لم تقطع من ثوب فتكون بلا حاشية ، أو أنها جديدة لم يقطع هدبها ، وفی تفسير البردة بالشملة تجوز لأن البردة كساء ، والشملة ما يشتمل به ، لكن لما كثر استعمالهم لها ، أطلقوا عليها إسمها" (۲)

قوله: فرآها عليه رجل : دا سړې څوك وو ؟ په بعض روایتونو کښې دی چه دا حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷺ وو اوبعضوکښې دی چه دا حضرت سعد بن ابی وقاص ﷺ وو (۳)

[۵۶۹۰] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي حُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَقَارَبُ الزَّمَانُ وَيَنْقُصُ الْعَمَلُ وَيُلْقَى الشُّحُّ وَيَكْثُرُ الْهَرْجُ قَالُوا وَمَا الْهَرْجُ قَالَ الْقَتْلُ الْقَتْلُ [ر: ۶۶۵۲، وانظر: ۹۸۹، ۳۳۱۳]

رسول الله ﷺ فرمائی ، زمانه به قریبه شی ، عمل (صالح) به کم شی ، بخل به زیات شی او د هرج به کثرت وی ، خلقو اوویل : هرج څه څیز دې وې فرمائل قتل قتل -

د یتقارب الزمان مطلب : ① علامه توربشتی رحمه الله په شرح د مصابیح کښې فرمائی چه د " یتقارب الزمان " نه د قیامت نزدیکت مراد دې یعنی د دنیا او د آخرت زمانه دیو بل سره به نزدې شی - (۴)

---

(۱) ارشاد الساری : ۱۳ \ ۵۸ ، فتح الباری ، کتاب الجنائز ، باب من استعد الکفن فی زمن النبی صلی الله علیه و سلم : ۳ \ ۱۴۳)

(۲) ارشاد الساری : ۱۳ \ ۵۸)

(۳) ارشاد الساری : ۱۳ \ ۵۸)

(۴) مرقاة : کتاب الفتن ، الفصل الأول : ۱۰ \ ۱۲۰ و شرح الطیبی : کتاب الفتن ....[بقیه برصفحه آئنده....

④ ملا علی قاری رحمه الله فرمائی : د " يتقارب الزمان " دا معنی هم کیدې شی چه شر او فساد کښې به زمانه د يو بل سره نزدې شی ، فسادات به ډير زيات وی او مسلسل به وی ، په مينځ کښې به ئې بنديز ډير کم راځی - (۱)

⑤ بعض وايی چه دينه د خلقو د عمرونو کمی ته اشاره ده يعنی د اهل زمانه عمرونه به کم وی ، اوږده عمرونه به نه لری - (۲)

⑥ بعض وائی چه دينه د زمانې د برکت قلت ته اشاره ده چه د زمانې نه به برکت اوچت شی او وخت به ډير زر تيريږی - (۳)

د يو حديث نه ددې تائيد هم کيږی چه هغې کښې دی چه د قيامت سره نزدې وخت به داسې بې برکته شی چه کال به په شان د مياشت ، او مياشت به په شان د هفتې او هفته به په شان د ورځ تيريږی او محسوسيږی -(۴) په يتقارب الزمان سره دې بې برکتئ ته اشاره ده-

⑤ قاضی عياض رحمه الله فرمايی ددې مطلب دا دې چه ښارونه به په تيزئ سره ورانيږی او صدئ به په تيز رفتارئ سره تيريږی - (۵)

قوله: ويلقى الشحّ: شح بخل مع الحرص ته وائی ، يعنی بخل به د خلقو په زړونو کښې واچولې شی ، عالم به خپل علم کښې او دولتمند به خپل مال کښې بخل شروع کړی - (۶)

قوله: ويكثر الهرج: د هرج تشريح دلته حديث کښې په قتل سره شويده ، صاحب قاموس ليکی چه د هرج الناس معنی دا ده وقعوا فی فتنة وقتل واختلاط... (۷) دينه معلومه شوه چه هَرج هر قتل ته نه وائی بلکه هغه قتل ته وائی چه د څه فتنې په وجه وی -

ابن فارس په معجم مقاييس اللغة کښې د هرج معنی قتل او اختلاط بيان کړيدې ، علامه عينی او قسطلانی ليکلی دی چه ابن فارس ددې معنی د فتنې او د اختلاط کړيده ، خو معجم کښې دوی ددې معنی د قتل او اختلاط سره کړې ده - (۸)

...بقيه ازحاشيه گذشته] الفصل الأول : ۱۰ \ ۵۶ (رقم الحديث : ۵۳۸۹)

(۱) مرقاة : كتاب الفتن ، الفصل الأول : ۱۰ \ ۱۲۰)

(۲) ارشاد السارى : ۱۳ \ ۵۹ ، عمدة القارى : ۲۲ \ ۱۲۰ ، مرقاة : كتاب الفتن ، الفصل الأول : ۱۰ \ ۱۲۰)

(۳) مرقاة:كتاب الفتن،الفصل الأول:۱۰ \ ۱۲۰ معالم السنن ، كتاب الفتن : ۶ \ ۱۴۱ (رقم الحديث : ۴۰۸۸)

(۴) مسند الإمام أحمد بن حنبل ، مسانيد أسماء بنت زيد : ۶ \ ۴۵۴ ، ۴۵۹ ، سنن ابن ماجة ، كتاب الفتن ، باب فتنة الدجال ... ۲ \ ۱۳۵۶ (رقم الحديث : ۴۰۷۵)

(۵) مرقاة : كتاب الفتن ، الفصل الأول : ۱۰ \ ۱۲۰)

(۶) مرقاة : كتاب الفتن ، الفصل الأول : ۱۰ \ ۱۲۰)

(۷) مرقاة : كتاب الفتن ، الفصل الأول : ۱۰ \ ۱۲۰ ، القاموس المحيط ، فصل الهاء من باب لاجيم : ۲ \ ۱۱۵)

(۸) عمدة القارى : ۲۲ \ ۱۲۰ ، ارشاد السارى : ۱۳ \ ۵۹ ، معجم مقاييس اللغة : باب الهاء و الراء و ما يثلثهما : ۶ \ ۴۹)

علامه خطابی رحمه الله فرمائی چه هرج د حبشی ژبې لفظ دې ، او ددې معنی د قتل او د فتنې ده - (۱)

د يلقى الشح په مناسبت سره امام دا حديث دلته ذکر کړو خکه چه د ترجمة الباب جزء ثالث و ما يکره من البخل دې -

[۵۶۹۱] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ سَمِعَ سَلَّامَ بْنَ مِسْكِينٍ قَالَ سَمِعْتُ ثَابِتًا يَقُولُ حَدَّثَنَا أَنَسٌ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ خَدَمْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشْرَ سِنِينَ فَمَا قَالَ لِي أُفٍّ وَلَا لِمَ صَنَعْتَ وَلَا أَلَّا صَنَعْتَ [ر: ۲۶۱۶]

قوله: خدمت النبي صلى الله عليه وسلم عشر سنين: دلته د بخاری په روايت کښې لس او د صحيح مسلم په روايت کښې نه کاله ذکر دی - (۲)

خو دواړو کښې تطبيق کيدې شی چه ټوله مُده د خدمت نه کاله او څو مياشتې دی ، په لسو والا روايت کښې ئې کسر پوره کړو او د نهو والا روايت کښې ئې کسر حذف کړو - (۳)

رسول الله ﷺ حضرت انس په دنيوی کارونو کښې کله هم نه دې رټلې او نه ئې ترينه دا تپوس کړيدې چه دا کار دې ولې اوکړو او ولې دې اونکړو -

خو شرعی کارونو کښې به ئې د چشم پوشئ او بې پرواهئ نه کار نه اخستلو - (۴)

۴۰=بَاب كَيْفَ يَكُونُ الرَّجُلُ فِي أَهْلِهِ

[۵۶۹۲] حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ الْحَكَمِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ الْأَسْوَدِ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ مَا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُ فِي أَهْلِهِ قَالَتْ كَانَ فِي مِهْنَةِ أَهْلِهِ فَإِذَا حَضَرَتْ الصَّلَاةُ قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ [ر: ۶۴۴]

علامه عينی رحمه الله ليکی

"أي هذا باب يذكر فيه كيف يكون حال الرجل في أهله يعني إذا كان الرجل في بيته بين أهله ، كيف يعمل من أعمال نفسه ، ومن أعمال البيت على ما يجيء في حديث الباب" - (۵)

يعنی دې باب کښې امام بخاری رحمه الله دا خبره بيان کړيده چه سړې څنګه به په خپل اهل کښې اوسی او څنګه به د کور او خپل کار کوی -

روايت د باب کښې دی چه اسود بن زيد د حضرت عائشه نه تپوس اوکړو چه رسول الله ﷺ

---

(۱) ارشاد السارى : ۱۳ \ ۵۹ ، عمدة القارى : ۲۲ \ ۱۲۰ ، معالم السنن : ۶ \ ۱۴۳ (رقم الحديث : ۴۰۸۸)

(۲) رواه مسلم فى كتاب الفضائل ، باب كان رسول الله صلى الله عليه و سلم احسن الناس خلقا : ۴ \ ۱۸۵۴ (رقم الحديث : ۲۳۵۹)

(۳) فتح البارى : ۱۰ \ ۵۶۴ ، ارشاد السارى : ۱۳ \ ۵۹)

(۴) فتح البارى : ۱۰ \ ۵۶۵ ، ارشاد السارى : ۱۳ \ ۶۰)

(۵) عمدة القارى : ۲۲ \ ۱۲۱)

به د خپل كور والا سره اوسيدلو نو ځه به ئې كولو نو وې فرمائل چه دې به د خپل كور والا په كار وغيره كښې مصروف وو ، چه كله به وخت د مانځه شو نو مانځه دپاره به اودريدو -
د مسند احمد په روايت كښې حضرت عائشه فرمائى " يخيط ثوبه ، و يخصف نعله ، و يعمل ما يعمل الرجال فى بيوتهم (۱) خپلې جامې به ئې ګنډلې ، خپل پانزار به ئې ګنډلو او هغه كارونه به ئې كول چه خلق په كورونو كښې كوى -
ابن حبان په خپل صحيح كښې دا حديث صحيح ګرځولې دې (۲) او هم مسند احمد كښې د حضرت عائشه يو بل روايت كښې دا الفاظ دى " ماكان إلا بشرا من البشر، كان يفلى ثوبه ، ويحلب شاته ، ويخدم نفسه " (۳) د يفلى ثوبه لغوى معنى خو جامو كښې سپګې تلاش كول دى ، خو بل حديث كښې دى چه د رسول الله ﷺ په جامو كښې به سپګې نه وې ، دې وجه نه دينه هم داسې د جامو كتل مراد دى - (۴)
حديث د باب كتاب الصلاة كښې تير شويدې - (۵)
شارح بخارى علامه ابن بطال رحمه الله ليكى :
" أخلاق الأنبياء و المرسلين عليهم السلام التواضع و التذلل فى أفعالهم ، و البعد عن الترفة و التنعم ، فكانوا يمتهنون أنفسهم فيما يعن لهم ليستنوا بذلك فيسلك سبيلهم و تقتفى آثارهم و قول عائشة : " كان فى مهنة أهله " يدل على دوام ذلك من فعله متى عرض له ما يحتاج إلى إصلاحه ، لئلا يخلد إلى الدعة و الرفاهية التى ذمها الله و أخبر أنها من صفات غير المؤمنين فقال تعالى (فذرنى و المكذبين أولى النعمة و مهلهم قليلا) (۶)
يعنى د انبياء په اخلاقو كښې تواضع او عاجزى او د تعيش او د تنعم نه لرې والې داخل وى ، لكه چه دوى ته به كوم ضروريات راپيښيدل نو دا به دوى په خپله پوره كول ، دې دپاره چه د دوى عمل د نورو دپاره سنت او نمونه جوړې شى ، چه خلق د دوى په طريقه روان شى، او د دوى په آثارو او په نقش قدم تابعدارى اوكړى ، د حضرت عائشه قول " كان فى مهنة أهله " په دوام دلالت كوى ، چه حضور ﷺ ته به كله هم د څه څيز صحيح كولو او د جوړولو ضرورت راپيښ شو نو دوى به په خپله دا جوړولو ، دا دې دپاره چه ده به ځان د آرام او د اوزګارې نه ساتلو، چه دهغې الله تعالى مذمت كړيدې، اودا ئې خودلې ده چه دا د مؤمنانو صفت نه دې ، ارشاد ربانى دې " ته ما او انكار كوونكى خاوندان د مزو اخستو والا پريږده او دوى ته څه لږ وخت دپاره مهلت وركړه "

(۱) مسند الإمام أحمد بن حنبل فى مسانيد عائشة : ۶\۱۲۱)
(۲) عمدة القارى : ۲۲\۱۲۱)
(۳) مسند الإمام أحمد بن حنبل فى مسانيد عايشة : ۶\۲۵۶)
(۴) التعليق الصبيح . باب بدء الخلق و ذكر الانبياء : ۷\۹۷)
(۵) أخرجه البخارى فى كتاب الصلاة.باب من كان فى حاجة أهله فأقيمت الصلاة.فخرج(رقم الحديث:۶۷۶)
(۶) شرح صحيح البخارى لابن بطال : ۹\۲۳۴)

٤١=بَاب المِقَةِ مِنْ اللّٰهِ تَعَالَى

[٥٦٩٣] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ عَنْ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ أَخْبَرَنِي مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ عَنْ نَافِعٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا أَحَبَّ اللّٰهُ عَبْدًا نَادَى جِبْرِيلَ إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ فُلَانًا فَأَحِبَّهُ فَيُحِبُّهُ جِبْرِيلُ فَيُنَادِي جِبْرِيلُ فِي أَهْلِ السَّمَاءِ إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ فُلَانًا فَأَحِبُّوهُ فَيُحِبُّهُ أَهْلُ السَّمَاءِ ثُمَّ يُوضَعُ لَهُ الْقَبُولُ فِي أَهْلِ الْأَرْضِ [ر: ٣٠٣٧]

مقة په وزن د عدة محبت ته وايي (١) د الله تعالى د طرفه د يو بنده سره محبت شروع كيږي نو دا بنده په فرشتو كښې بيا په انسانانو كښې مقبول او محبوب جوړيږي " **المقة من الله** " دا د حديث الفاظ دي چه كوم امام احمد او ابن ابى شيبه نقل كړيدى " **المقة من الله، والصيت من السماء فإذا أحب الله عبدا ....** " (٢) (محبت د الله تعالى د طرفه او شهرت د اسمان د طرفه دي ، چه كله الله تعالى د يو بنده سره محبت اوكړي نو حضرت جبرائيل عليه السلام د ده د مقبوليت اعلان اوكړي ....) دا روايت چه د امام بخارى رحمه الله په شرط نه وو ، نو دې وجه نه دې ې په ترجمة الباب كښې ذكر نه كړو -

قوله: إذا أحب الله عبدا : د صحيح بخارى د كتاب الرقاق په روايت كښې د بنده سره د الله تعالى د محبت كولو سبب بيان كړيدې ، ديكښې دى " **لايزال عبدى يتقرب إلى بالنوافل حتى أحبه** " (٣) (خما بنده د نفلونو په ذريعه مسلسل ما ته نزديكت حاصلو تر دې چه څه ده سره محبت شروع كړم) او مسند احمد كښې د حضرت ثوبان حديث دې " **إن العبد ليلتمس مرضاة الله تعالى، ولا يزال بذلك فيقول الله عزوجل لجبريل : إن فلانا عبد يلتمس أن يرضيني ، ألا وإن رحمتي عليه ......** " (٤) يوبنده مسلسل د الله تعالى د رضا په تلاش كښې وى ، تر دې چه الله تعالى جبرائيل عليه السلام ته اووائى چه فلانې بنده خما د رضا په تلاش كښې دې ، واوره ، په ده باندې خما رحمت خور دې)

قبول (د قاف په فتحه سره) مصدر دې ، بعض اهل لغت ليكى چه په دې وزن د قاف په فتحه سره د " قبول " نه علاوه بل لفظ مونږ ته نه دې ملاو شوې ، علامه ابن منظور افريقى په " لسان العرب " كښې د دې تصريح كړيده - (٥) خو ابن برى دا رد كړيدې او ليكى چه په دې وزن باندې څلور نور مصدرونه هم شته دې فرمائى : **وقد جاء الوضوء ، والطهور ، والولوع ، و**

---

(١) النهاية لابن الاثير : ٤ \ ٣٤٨)

(٢) فتح البارى : ١٠ \ ٥۶۶)

(٣) أخرجه البخارى فى كتاب الرقاق ، باب من أحب لقاء الله أحب الله لقاءه (رقم الحديث : ۶٥٠٧)

(٤) مسند الإمام أحمد بن حنبل مسانيد ثوبان : ٥ \ ٢٧٩)

(٥) لسان العرب ، مادة " قبل " : ١١ \ ٤٤٠ .

الوفود، عدتها مع القبول خمسة) قرآن كريم كښې دى (فتقبلها ربها بقبول حسن)([1])
د معتمر روايت كښې د "قبول" په ځائې د "محبت" لفظ دې ديكښې دى "فيوضع له المحبة"([2])
حاصل دا چه كله الله تعالى د يو بنده سره د ده د اطاعت او د بندګئ په وجه محبت كوى نو مخلوق كښې هم دا بنده د الله په حكم او په فيصله سره محبوب جوړ شى ، د الله د محبت مطلب دا دې چه الله تعالى ده سره د خير او د نيكئ اراده اوكړى ، د فرشتو محبت ده دپاره د استغفار په صورت ښكاره كيږى ، او د خلقو محبت ، د عقيدت او د تعلق په صورت وړاندې راځى ([3]) د قرآن كريم يو آيت ديته اشاره كوى (إن الذين آمنوا وعملوا الصالحات سيجعل لهم الرحمن ودًّا)([4])
د صحيح مسلم په روايت كښې دا اضافه هم شته چه الله كله د يو بنده نه نفرت كوى نو حضرت جبريل اوبلى او ده دپاره په اسمان والا او په زمكه والا كښې د نفرت اعلان اوكړې شى "ثم توضع له البغضاء في الأرض"([5])
حافظ ابن حجر رحمه الله ليكى :
"وحقيقة المحبة عند أهل المعرفة من المعلومات التى لا تحد، وإنما يعرفها من قامت به وجدانا لا يمكن التعبير عنه، و الحب على ثلاثة أقسام : إلهى و روحانى و طبيعى، و حديث الباب يشتمل على هذه الأقسام الثلاثة، فحب الله العبد حب إلهى، وحب جبريل و الملائكة له حب روحانى، وحب العباد له حب طبيعى"([6])
دې حاصل دا دې چه د محبت حقيقت يو وجدانى څيز دې ، په لفظونو كښې ددې څه يو متعين تعريف نه شى كيدې ، د محبت درې قسمه دى ، الهى ، روحانى او طبعى ، حديث د باب درې واړو باندې مشتمل دې د الله تعالى د بنده سره محبت كول محبت الهى دې ، د جبريل او د فرشتو ددې بنده سره محبت كول محبت روحانى دې او د خلقو ده سره محبت كول محبت طبعى دې - خو د بندګانو هغه محبت معتبر دې چه كوم په اهل علم وفضل او نيكانو كښې موندې كيږى ، كُه كوم يو كس چه فاسق او فاجر وى هغه په خلقو كښې محبوب كيږى او د اهل علم او د فضل په نزد نه دې محبوب نو د دې محبت هيڅ اعتبار نشته دې -

---

[1]) سورة آل عمران : ۳۷)
[2]) فتح البارى : ۱۰ \ ۵۶۷)
[3]) فتح البارى : ۱۰ \ ۵۶۷ ، عمدة القارى : ۲۲ \ ۱۲۱ ، ارشاد السارى : ۱۳ \ ۶۱)
[4]) سورة مريم : ۹۶)
[5]) صحيح مسلم ، كتاب البر والصلة و الآداب ، باب إذا أحب الله عبدا ، حببه إلى عباده : ٤ \ ۲۰۳۰ (رقم الحديث : ۲۶۳۷)
[6]) فتح البارى : ۱۰ \ ۵۶۷)

۴۲=باب الحُبّ في الله

[۵۶۱۳] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَجِدُ أَحَدٌ حَلَاوَةَ الْإِيمَانِ حَتَّى يُحِبَّ الْمَرْءَ لَا يُحِبُّهُ إِلَّا لِلّٰهِ وَحَتَّى أَنْ يُقْذَفَ فِي النَّارِ أَحَبُّ إِلَيْهِ مِنْ أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الْكُفْرِ بَعْدَ إِذْ أَنْقَذَهُ اللهُ وَحَتَّى يَكُونَ اللهُ وَرَسُولُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا سِوَاهُمَا [ر:۱۶]

د الله دپاره محبت کول او د الله تعالی دپاره بغض کول د ایمان په نخو کښې ده ، د حدیث د باب تشریح په " کتاب الایمان " کښې تیره شویده - (۱)

۴۳=باب قَوْلِ اللهِ تَعَالَى يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِنْ قَوْمٍ عَسَى أَنْ يَكُونُوا خَيْرًا مِنْهُمْ الآية:الحجرات:۱۱]

امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې د سورة الحجرات آیت کریمه ذکر کړیدې چه دیکښې د مؤمنانوسره الله تعالی خطاب کوی اودوی دبل پسې د خندا اود ټوقونه منع کوی-

د تمسخر معنی او ددې ممانعت : علامه قرطبی رحمه الله په تفسیر قرطبی کښې فرمائی چه تمسخر دیته وائی چه یو سړې د بل کس د تحقیر او دده د تذلیل او د توهین دپاره دده څه عیب داسې ذکر کړی چه خلق په ده پورې اوخاندی ، دا د ژبې نه علاوه د لاسونو پښو په اشارو هم کیږی (۲)

قرآن کریم د ښځو او د سړو بیل بیل ذکر اوکړو او دینه ئې منع اوکړه ، او په قرآن کریم کښې په عمومی احکامو کښې د ښځو خان له مستقل ذکر نه کیږی ، نو دلته چه ئې د دواړو جدا جدا ذکر اوکړو یو خو ددې ډیر بد والی ته په خاص طور توجه ورکول مقصود دی ، دویم دا مرض په ښځو کښې ډیر په کثرت سره وی ، دې وجه نه د ښځو ئې په صراحت سره ذکر اوکړو - (۳)

قرآن کریم کښې ئې سړی د سړو تمسخر کولو نه او ښځې د ښځو پسې د خندا کولو نه منع کړل - حال دا دې چه څنګه دا حرام او ممنوع دی نو داسې د یو سړې یوې ښځې پورې خندا کول او د یوې ښځې د سړی پورې خندا کول هم حرام او ناجائز دی ـ

خو شرعا چه د ښځو او د سړو ګډون ممنوع دې ، دې وجه نه د دې صورت ذکر ئې اونکړو، دیکښې اشاره وه چه کله معاشره خالص په اسلامی بنیادونو جوړه شی نو دا صورت به خود بخود ناپید شی ، دې وجه نه په صراحت سره ئې د دې صورت ذکر اونکړو - (۴)

---

(۱) کشف الباری ، کتاب الإیمان ، باب حلاوة الإیمان : ۲ \ ۲۵)

(۲) الجامع لإحکام القرآن للقرطبی ،سورة الحجرات:۱۱،۱۶ \ ۳۲۵،دارنګه اوګورئ روح المعانی: ۱۳ \ ۱۵۲)

(۳) الجامع لأحکام القرآن للقرطبی ، سورة الحجرات : ۱۱ ، ۱۶ \ ۳۲۶ ، روح المعانی : ۱۳ \ ۱۵۳)

(۴) معارف القرآن للمفتی محمد شفیع : ۸ \ ۱۱۶)

و لا تلمزوا انفسكم معنى: د تمسخر سره نې د " لمز " نه هم په (ولا تلمزوا انفسكم)ويلو سره منع كړو - د لمز معنى ده چا كښې عيب راويستل يا چا ته ديو عيب پيغور وركول - (١)

علامه آلوسى رحمه الله فرمائى چه لمز د چا عيبونه واضح كول يا د چا د عيبونو تلاش او ورپسې كيدو ته وائى ، او سخريه چه ده نو دا تحقير او توهين ته وائى - (٢)

علامه عينى او علامه قسطلانى رحمهما الله فرمايى اللمز: الطعن، الضرب باللسان (٣) دې صورت كښې به د لاتلمزوا عطف په " لايسخر.... " باندې عطف الخاص على العام د قبيله وى - (٤)

د " لاتلمزو نه پس " انفسكم " نې اوفرمائلو : علامه آلوسى رحمه الله ليكى :" أى لايعيب بعضكم بقول أوإشارة لأن المؤمنين كنفس واحدة ، فمتى عاب المؤمن المؤمن فكأنه عاب نفسه (٥)يعنى تا سو په يو بل باندې په اشاره يا په قول سره عيبونه مه لګوئ څكه چه ټول مؤمنان په شان دې يو نفس دى،نوچه كله يومؤمن په بل مؤمن عيب لګوى نو ګويا ده په خپل خان عيب اولګولو-

علامه قسطلانى رحمه الله ددې يو بله توجيه هم ليكلې ده چه كوم كس په بل باندې عيب لګوى ظاهره ده چه عيب لګوونكې د عيب نه پاك نه شى كيدې ، ده كښې به هم يقينًا څه نه څه عيب وى،دې وجه نه په جواب كښې به دغه كس په ده باندې ددې موجوده عيب طعن اوكړى ، نو داسې ده چه ده په بل عيب اولګولو نو ده د خپل خان هم عيب بيان كړو ، ګويا دا عيب ده په خپله په خپل خان اولګولو ، " دې وجه نه په خپل خان عيب مه لګوئ " مطلب دا دې چه نورو ته پيغورونه مه وركوئ څكه چه بيا به ته په خپله د دې نخه جوړ شې(٦)

قوله: <u>ولاتنابزوابالالقاب</u>: يعنى يو بل په بدو القابو مه رابلئ، صاحب القاموس المحيط ليكلې دى التنابز: التعاير والتداعى بالالقاب (٧) يعنى په بدو القابو سره چا ته شرم وراچول او ده لره رابلل -

حافظ ابن جرير طبرى د حضرت ابن عباس نه د تنابز تفسير نقل كړيدې چه يو سړې په يو زمانه كښې بد كار او بد كردار وو ، ده توبه اوكړه او د نيكئ په لاره راغلو نو اوس ده ته په تيرو شوو بدو باندې شرم وراچول تنابز دې - (٨)

امام رازى رحمه الله تفسير كبير كښې او علامه ابن كثير په خپل تفسير كښې اوعلامه

---

(١) مجمع بحار الانوار : ٤ \ ٥٠٦ . النهاية لابن الاثير : ٤ \ ٢۶٩)
(٢) روح المعانى للآلوسى : ١٣ \ ١٥٣ . الجزء ٢٥)
(٣) عمدة القارى : ٢٢ \ ١٢٢ . ارشاد السارى : ١٣ \ ۶٣)
(٤) ٢٥ روح المعانى : ١٣ \ ١٥٣ . الجزء : ٢٥)
(٥) روح المعانى للعلمه آلوسى : ١٣ \ ١٥٣ . الجزء ٢٥)
(٦) ارشاد السارى : ١٣ \ ۶٣)
(٧) القاموس المحيط . باب الزاى . فصل الميم و النون : ٢ \ ٢٠٠)
(٨) تفسير الطبرى لابن جرير . سورة الحجرات : ١١ . ١١ \ ١٣٣)

قرطبی په تفسیرقرطبی کښې ددې آیت په شان نزول کښې داسې څوواقعات رانقل کړیدی[۱]

قوله: بئس الإسم الفسوق بعد الإیمان : علامه آلوسی رحمه الله په روح المعانی کښې لیکی : "بئس الذکر المرتفع للمؤمنین بسبب ارتکاب التنابز أن یذکروا بالفسق بعد اتصافهم بالایمان، وهو ذم علی اجتماع الفسق -- وهو ارتکاب التنابز -- والإیمان علی معنی : لاینبغی أن یجتمعا فإن الإیمان یأبی الفسق" (۲)یعنی په بدو القابو سره د مؤمنانو ذکر کول ډیر بد دی ، داسې چه په ایمان سره د متصف کیدو نه پس چه د دوی په فسق سره ذکر اوشی (دوی ته فاسق فاجر یهودی یا نصرانی وغیره ویل) یو کس چه په حقیقی معنو کښې مؤمن وی نو دې به مؤمنانو لره په بدو القابو د یادولو ارتکاب نه کوی ځکه چه دا ارتکاب فسق دې او ایمان او فسق دواړه نه دی جمع کیدل پکار -

دا رنګه که یو سړې وړاندې کافر وو ، بیا مسلمان شو یا فاسق فاجر وو ، بیا نیك او صالح شو ، د ده پوخ مؤمن کیدو نه پس د ده د پخوانی کفر او فسق ذکر کول جائز نه دی -

حاصل دا چه ویونکې مؤمن دې نو ده د تنابز ارتکاب نه دی کول پکار چه دا فسق دې او د ایمان راوړو نه پس د فسق ارتکاب نه دی کول پکار او چه د چا په باره کښې ویلې کیږی هغه مؤمن دې نو په ایمان باندې د متصف کیدو نه پس په فسق سره د ده تذکره نه دی کول پکار نو آیت د قائل او د مقول فیه دواړو سره متعلق دې -

اسم دلته د ذکر په معنی کښې دې ، وائی طار اسمه أی ذکره

[۵۶۹۵] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَمْعَةَ قَالَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَضْحَكَ الرَّجُلُ مِمَّا يَخْرُجُ مِنَ الْأَنْفُسِ وَقَالَ بِمَ يَضْرِبُ أَحَدُكُمْ امْرَأَتَهُ ضَرْبَ الْفَحْلِ أَوْ الْعَبْدِ ثُمَّ لَعَلَّهُ يُعَانِقُهَا وَقَالَ الثَّوْرِيُّ وَوُهَيْبٌ وَأَبُو مُعَاوِيَةَ عَنْ هِشَامٍ جَلْدَ الْعَبْدِ [ر:۳۱۹۷]

حضرت عبد الله بن زمعه ﷺ فرمائی چه رسول الله ﷺ د بادو په خارج کیدو باندې د خندلو نه منع کړیده (۳)او فرمائی چه ولې تاسو کښې یو کس خپله ښځه د سانډ (ښناور) شان وهی حال دا دې چه دې به دې سره بیا ملاویږی -

سفیان ثوری ، ابومعاویه ، محمد بن حازم ، او وهیب بن خالد د "ضرب الفحل" په ځائې "جلد العبد" ویلې دې د "جلد" معنی د کوړو وهلو ده -

د سفیان روایت په کتاب النکاح کښې ، د وهیب روایت په کتاب التفسیر کښې موصولاً

---

۱) التفسیر الکبیر للامام الفخر الرازی ، سورة الحجرات : ۲۸ \ ۱۳۱ ، تفسیر ابن کثیر ، سورة الحجرات : ۴ \ ۲۱۲ ، الجامع لأحکام القرآن للقرطبی : ۱۶ \ ۳۲۴)

۲) روح المعانی ، سورة الحجرات : ۱۳ \ ۱۵۵ (الجزء : ۲۶)

۳) لانه قد یکون بغیر الاختیار ، و لانه امر مشترک بین الکل ، عمدة القاری : ۲۲ \ ۱۲۳ ، ارشاد الساری : ۱۳ \ ۶۳)

تیر شویدي او د ابومعاویه روایت امام احمد موصولاً نقل کړيدي - (١)
ترجمة الباب کښې د ذکر شوي آیت سره د مناسبت بیانولو کښې علامه عینی رحمه الله لیکی "المناسبة بین الحدیث و الآیة الکریمة : هی أن ضحك الرجل مما یخرج من الأنفس فیه معنی الاستهزاء والسخریة" (٢) یعنی د بادو د خارجیدو په وجه خندل هم یو قسم استهزاء او تمسخر دې ، دې وجه نه ددې حدیث د دې آیت کریمه سره نې ذکر اوکړو -

[٥٦٩٦] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ أَخْبَرَنَا عَاصِمُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ زَيْدٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِنًى أَتَدْرُونَ أَيُّ يَوْمٍ هَذَا قَالُوا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ فَإِنَّ هَذَا يَوْمٌ حَرَامٌ أَفَتَدْرُونَ أَيُّ بَلَدٍ هَذَا قَالُوا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ بَلَدٌ حَرَامٌ أَتَدْرُونَ أَيُّ شَهْرٍ هَذَا قَالُوا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ شَهْرٌ حَرَامٌ قَالَ فَإِنَّ اللَّهَ حَرَّمَ عَلَيْكُمْ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ وَأَعْرَاضَكُمْ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا فِي شَهْرِكُمْ هَذَا فِي بَلَدِكُمْ هَذَا [ر:١٦٥٥]

علامه عینی رحمه الله لیکی : "وجه المناسبة بینه و بین الآیة المذکورة من حیث إن فیه حرمة العرض التی تتضمنها الآیة الکریمة أیضا علی ما لا یخفی علی الفطن" (٣)
یعنی حدیث شریف کښې د عزت او د حرمت ذکر دې چه د چا عزت پائمال کول حرام دی او آیت کریمه کښې هم ددې ذکر دې،داسې په مینځ دحدیث اود آیت کښې مناسبت واضح دې
په حقیقت کښې حقونه دوه قسمه دی یو حقوق الله او بل حقوق العباد .... حقوق العباد بیا په دوه قسمه دی یو هغه حقوق چه د انسان د جسم او د مال سره متعلق دی او دویم هغه حقونه چه د انسان د عزت او د رتبې او د حیثیت سره متعلق دی . په معاشرتی ژوند کښې شریعت د دواړو قسمونو حقونو د لحاظ او د پاسدارئ او د اداء کولو ډیر کلك تاکید کړیدې . او د دوی پائمال کولو ته نې ناجائز او حرام ویلې دی . آیت کریمه کښې دوی کښې د بعض صورتونو ذکر دې چه هغې کښې یو انسان د بل د حقونو د پائمال کولو او د دد عزت او د احترام تحقیر کولې شی ـ

روایت دباب کښې "إن الله حرم علیکم دماءکم و أموالکم و أعراضکم ....." د حقوق العباد د دواړو قسمونو لحاظ نه کول او د دې پائمال کول نې حرام اوګرځول - (٤)

....

(١) فتح الباری : ١٠\٥٦٩ . ارشاد الساری : ١٣\٦٣)
(٢) عمدة القاری : ٢٢\١٢٢)
(٣) عمدة القاری : ٢٢\١٢٣)
(٤) فتح الباری : ١٠\٥٢٩)

۴۴=باب ما ينهى من السباب واللعن

[۵۶۹۷] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ مَنْصُورٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا وَائِلٍ يُحَدِّثُ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِبَابُ الْمُسْلِمِ فُسُوقٌ وَقِتَالُهُ كُفْرٌ تَابَعَهُ غُنْدَرٌ عَنْ شُعْبَةَ [ر:۴۸]

یو مسلمان ته کنځل او په ده لعن او طعن ویل ممنوع دی ، حدیث د باب کښې دی چه مسلمان ته کنځل کول فسق اوګناه ده او ده سره قتال کول کفر دې، د کفر نه مراد یا کفران نعمت مراد دې یا حقیقی کفر مراد دې خو حقیقی کفر به د هغه کس په حق کښې وی چه هغه د مسلمان قتال حلال او جائز ګڼړی او یا دا په زجر او په توبیخ باندې محمول دې - (۱)

قوله: تابعه محمد بن جعفر عن شعبة: یعنی د سلیمان بن حرب متابعت محمد بن جعفر غندر کړیدې ، د ده دا متابعت امام احمد رحمه الله موصولاً نقل کړیدې - (۲)

[۵۶۹۸] حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ عَنْ الْحُسَيْنِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ يَعْمَرَ أَنَّ أَبَا الْأَسْوَدِ الدِّيلِيَّ حَدَّثَهُ عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَرْمِي رَجُلٌ رَجُلًا بِالْفُسُوقِ وَلَا يَرْمِيهِ بِالْكُفْرِ إِلَّا ارْتَدَّتْ عَلَيْهِ إِنْ لَمْ يَكُنْ صَاحِبُهُ كَذَلِكَ [ر:۳۳۱۷]

حضرت ابوذر غفاری ﷛ فرمائی چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلې دی چه فرمائل ئې: چه یو کس دې په چا د فسق الزام او نه لګوی او نه دکفر ، ځکه چه که دې د دې اهل نه وی نو دا (فسق او کفر) به دې الزام لګوونکی ته راواپس شی -

چا ته د کافر یا د فاسق ویلو حکم:

قوله: الا ارتدت علیه إن لم یکن صاحبه کذلك: یعنی دا کلمه د کفر به ده راواپس کیږی ، دیکښې څه تفصیل دی ، یو سړی بل کس ته فاسق یا کافر اوویلې او چه چا ته ئې ویلې دی هغه په حقیقت کښې کافر یا فاسق دې نو داسې صورت کښې به د ویونکی نیت ته کتلې کیږی که ده د خیر خواهئ په جذبه سره یا په دې چه خلق د ده د حال نه خبر کړی ئې دا جمله ویلې وی نو جائز دی - (۳)

خو که دده مقصد په دې سړی طعن زنی (عیب لګول) وی او بغیر د ضرورته ئې د ده د فسق او د کفر تشهیر کړې وی نودا جائز نه ده، ځکه چه شریعت د بدو د مشهورولو اجازت نه ورکوی ، د پردې او د پټولو حکم ورکوی ترمذی شریف کښې حدیث دې "من ستر علی مسلم ستره الله فی الدنیا و الآخرة"

---

(۱) فتح الباری : ۱۰\۵۷۱ ، عمدة القاری : ۲۲\۱۲۳ ، ارشاد الساری : ۱۳\۶۴)

(۲) مسند الامام احمد بن حنبل ، مسانید عبد الله بن مسعود : ۱\۳۸۵)

(۳) فتح الباری : ۱۰\۵۷۱ ، عمدة القاری : ۲۲\۱۲۴ ، ارشاد الساری : ۱۳\۶۵)

او صحيح مسلم كښې روايت دى "من ستر مسلما ستره الله يوم القيامة". [1]
خو چه کوم سړی ته ئې فاسق يا کافر اوويلي او دې په حقيقت کښې فاسق يا کافر نه وی نو دلته په روايت کښې فرمائی چه دا کلمه به د تکفير ويونکی (د کافر حکم لګوونکی) ته راواپس کيږی ، د دې مختلف مطالب بيان شويدی :

① ويونکی طرف ته د راواپس کيدو ظاهری مطلب خو دا دې چه دې به په خپله کافر شی ، حال دا دې چه مسلمان ته کافر ويلو سره سړې ګناهګار خو خامخا دی خو کافر نه دې ، دې وجه نه يو خو دغه مشهور تاويل شويدې چه دا حکم د مستحل دپاره دې يعنی چه کوم سړې مسلمان ته کنځل کول حلال او جائز ګنړی نو دې کافر کيږی او دده په کافر کيدو کښې هيڅ کښې شك نشته دې ([2]) خو د سياق د کلام نه ددې مطلب تائيد نه کيږی -
② دا په زجر او په توبيخ محمول دې ، حقيقی معنی مراد نه ده - ([3])
③ دا مطلب هم کيدې شی چه د دې جُملې ويلو وبال په ده وی ، لکه چه حافظ ابن حجر د علامه قرطبی په حواله ليکی :

"و الحاصل أن المقول له ، إن كان كافرا كفرا شرعيا ، فقد صدق القائل ، و ذهب بها المقول له ، وإن لم يكن ، رجعت للقائل معرة ذلك القول وإثمه .... وهو من أعدل الأجوبة". ([4])
يعنی چه کوم سړی ته کافر ويلې شويدې کُه دې واقعی کافر وی ، نو بيا خو ويونکې رښتونې دې ، او چه د چا متعلق دا قول ويلې شويدې هغه ددې مستحق دې ، خو کُه دې کافر نه وی نو په ويونکې به د دې جُملې ويلو وبال او ګُناه وی ، دا د دې حديث د ټولو نه ښه توجيه ده -
دلعنت متعلق هم داسې يو حديث امام ابوداود رحمه الله د حضرت ابو الدرداء ﷺ نه رانقل کړيدې ، د دې الفاظ دی "إن العبد إذا لعن شيئًا صعدت اللعنة إلى السماء ، فتغلق أبواب السماء دونها ، ثم تهبط إلى الأرض ، فتأخذ يمنة ويسرة ، فإن لم تجد مساغا ، رجعت إلى الذى لعن ، فإن كان أهلا ، وإلا رجعت إلى قائلها". ([5])
يعنی سړې چه کله په يو څيز باندې څه لعنت ليږی نو دا لعنت د اسمان په طرف ځی ، د آسمان دروازې ده ته بندې شی نو دا بيا زمکې ته راشی ، هلته کښې دې ښی طرف او ګس طرف ته ګرځی راګرځی نو چه کله ده ته څۀ بل ځائې ملاو نه شی نو دې لاړشی هغه څيز ته چه په څۀ لعنت ليږلې شويدې ، نو کُه دې د دې اهل وی خو په ده پورې اونخلی ګنی بيا

---

[1] الجامع الصحيح للترمذی ، كتاب الحدود ، باب ما جاء فی الستر علی المسلم : ٤ \ ٣٨ (رقم الحديث : ١٣٢٥) ، رواه مسلم ، كتاب البر و الصلة و الآداب ، باب تحريم الظلم : ٤ \ ١٩١٦ ، (رقم الحديث : ٢٥٨٠)
[2] فتح الباری : ١٠ \ ٥٧١ ، عمدة القاری : ٢٢ \ ١٢٣ ، ارشاد الساری : ١٣ \ ٦٤)
[3] فتح الباری : ١٠ \ ٥٧١)
[4] فتح الباری : ١٠ \ ٥٧٢)
[5] سنن أبی داود ، كتاب الأدب ، باب فی اللعن : ٤ \ ٢٧٧ (رقم الحديث : ٤٩٠٥)

لعنت ليږونکي ته راواپس شي -

[۵۶۹۹] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سِنَانٍ حَدَّثَنَا فُلَيْحُ بْنُ سُلَيْمَانَ حَدَّثَنَا هِلَالُ بْنُ عَلِيٍّ عَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمْ يَكُنْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاحِشًا وَلَا لَعَّانًا وَلَا سَبَّابًا كَانَ يَقُولُ عِنْدَ الْمَعْتَبَةِ مَا لَهُ تَرِبَ جَبِينُهُ [ر:۵۶۸۳]

[۵۷۰۰] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْمُبَارَكِ عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ عَنْ أَبِي قِلَابَةَ أَنَّ ثَابِتَ بْنَ الضَّحَّاكِ وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ الشَّجَرَةِ حَدَّثَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ حَلَفَ عَلَى مِلَّةٍ غَيْرِ الْإِسْلَامِ فَهُوَ كَمَا قَالَ وَلَيْسَ عَلَى ابْنِ آدَمَ نَذْرٌ فِيمَا لَا يَمْلِكُ وَمَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِشَيْءٍ فِي الدُّنْيَا عُذِّبَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنْ لَعَنَ مُؤْمِنًا فَهُوَ كَقَتْلِهِ وَمَنْ قَذَفَ مُؤْمِنًا بِكُفْرٍ فَهُوَ كَقَتْلِهِ [ر:۱۲۹۷]

ثابت بن ضحاك چه کوم په اصحاب شجره (د اونې لاندې بعت کوونکو) کښې وو ، بيان کړيدې چه رسول الله ﷺ فرمائی چه کوم سړی د اسلام نه ماسوا د يو بل ملت قسم اوخوړو نو هغه هم هغسې دې چه څنګه ده ويلې دی او په سړی باندې د هغه څيز متعلق نذر پوره کول ضروری نه دی چه دې د هغې مالك نه وی، او چه چا په کوم څيز باندې (په ذريعه) په دنيا کښې خودکشی اوکړه نو قيامت کښې به ده لره هم دا څيز ذريعه د عذاب اوګرځولې شی او چه چا په يو مؤمن باندې د کفر تهمت اولګولو نو دا دده د قتل په شان دې -

قوله: من حلف علی ملة غير الإسلام فهو كما قال : ملة موصوف او غيرالاسلام ددې صفت دې " علی " د " باء " په معنی ده ، مثلا چا قسم اوکړو چه که ده دا کار اوکړو نو دې به يهودی وی يا به نصرانی وی او ده دا کار اوکړو نو دې يهودی او نصرانی به شی ، دلته هم هغه خبرې شويدی چه د کومو ذکر اوس تير شويدې ، چه دا خو يا په زجر او په توبيخ او په مبالغه فی الوعيد محمول دې ، حقيقی معنی نه ده مراد ، يا د هغه سړی په باره کښې دې چه کوم يهودی يا د نصرانی کيدو اراده لری نو اراده د کفر کفر دې ، دې وجه نه داسې سړی به کافر وی ، خو که چا د محلوف عليه نه د ځان ساتلو دپاره داسې قسم اوکړو نو دا شرعاً يمين نه دې ، دې وجه نه په ده به کفاره واجب نه وی ، خو چه حديث کښې ترينه ممانعت راغلې دې نو دې وجه نه دې به ګناهګار وی او په ده توبه کول لازم دی ، لکه علامه قسطلانی رحمه الله ليکی :

" و ظاهره أنه يكفر ، أو هو محمول على من أراد أن يكون متصفا بذلك ، إذا وقع المحلوف عليه ، لأن إرادة الكفر كفر ، فيكفر فى الحال ، أو المراد التهديد و المبالغة فى الوعيد ، لا الحكم ، وإن قصد تبعيد نفسه عن الفعل ، فليس بيمين ولا يكفر به " -[1]

قوله: وليس على ابن آدم نذر فيما لا يملك : نذر او منت سړې صرف د خپل مملوك

---

[1] ارشاد الساری : ۱۳\۶۶)

ځيز په باره کښې کولې شي ، چه د کوم ځيز سړې مالك نه وى ، د دې نذر کول صحيح نه دى ، مثلاً څوك اووائى چه که خما خوې صحتمند شو نو خه به د زيد کور صدقه کښې ورکوم - (۱)

قوله: ومن قتل نفسه بشيءٍ في الدنيا .....: سړې چه دنيا کښې په کوم ځيز سره خودکشى کړې وى ، آخرت کښې به هم په دې ځيز په طور د سزا خپل ځان قتل کوى ليکون الجزاء من جنس العمل، وإن كان عذاب الآخرة أعظم (۲) (دې دپاره چه سزا ، د ګناه د جنس نه شى ، اګر چه د آخرت عذاب به ډير سخت وى)

قوله: ومن لعن مؤمناً فهو كقتله : په مؤمن لعنت کول د ده د قتل کولو په شان دې يعنى چه څنګه د مؤمن قتل کول حرام دى ، داسې په ده لعنت کول هم حرام دې يا چه څنګه د مؤمن قتل کول باعث د سزادې نوداسې په ده لعنت کول هم باعث د سزا اود عقاب دې (۳)

[۵۷۰۱] حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ قَالَ حَدَّثَنِي عَدِيُّ بْنُ ثَابِتٍ قَالَ سَمِعْتُ سُلَيْمَانَ بْنَ صُرَدٍ رَجُلًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اسْتَبَّ رَجُلَانِ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَغَضِبَ أَحَدُهُمَا فَاشْتَدَّ غَضَبُهُ حَتَّى انْتَفَخَ وَجْهُهُ وَتَغَيَّرَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَأَعْلَمُ كَلِمَةً لَوْ قَالَهَا لَذَهَبَ عَنْهُ الَّذِي يَجِدُ فَانْطَلَقَ إِلَيْهِ الرَّجُلُ فَأَخْبَرَهُ بِقَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ تَعَوَّذْ بِاللَّهِ مِنْ الشَّيْطَانِ فَقَالَ أَتُرَى بِي بَأْسٌ أَمَجْنُونٌ أَنَا اذْهَبْ [ر: ۳۱۰۸]

روايت کښې دى چه دوه سړو د رسول الله ﷺ وړاندې يو بل ته کنځل اوکړل ، دوى کښې يو کس ته ډيره سخته غصه ورغله ، تر دې چه دده مخ اوپړسيدو او رنګ ئې بدل شو ، رسول الله ﷺ اوفرمائل ، ما ته يو داسې کلمه معلومه ده که دا سړې دا اووائى نو دده غصه به لاړه شى ، يو سړې ده ته ورغلو او ده ته ئې د رسول الله ﷺ د دې ارشاد خبر ورکړو چه ته " اعوذ بالله ..... " اووايه ، نو ده اوويل : چه آيا ته په ما کښې څه خرابى وينې ؟ آيا څه ليونې يم ؟ څه اخوا شه -

قوله: استبّ رجلان : حافظ ابن حجر فرمائى ما ته ددې دوه سړو نومونه معلوم نه شو (۴)

قوله: إني لأعلم كلمة لو قالها لذهب عنه الذي يجد: دوى اوفرمائل چه ما ته يو داسې کلمه معلومه ده که دې سړى دا اوويلې نو دده غصه به ختمه شى ، صحيح مسلم په روايت

---

۱) رد المحتار على الدر المختار ، كتاب الآيمان ، مطلب فى احكام النذر : ۳ \ ۷۳۷ ، الفتاوى البزازيه ، كتاب الآيمان ، النوع الثالث فى النذر : ٤ \ ۲۷۱)

۲) ارشاد السارى : ۱۳ \ ۶۷ ، عمدة القارى : ۲۲ \ ۱۲۵)

۳) ارشاد السارى : ۱۳ \ ۶۷)

۴) فتح البارى : ۱۰ \ ۵۷۲)

كښې د دې كلمې تصريح راغلې ده . ديكښې دى " لوقالها لذهب ذا عنه : أعوذ بالله من الشيطان الرجيم " (١)

حضرت معاذ رضي الله عنه په روايت كښې دى " إني لأعلم كلمة لو قالها لذهب عن ما يجد من الغضب فقال : ما هي يا رسول الله ؟ قال : يقول : اللهم إني أعوذ بك من الشيطان لرجيم " (٢) (حضور ﷺ اوفرمائل : ما ته داسې جمله معلومه ده چه كُه دا سړې ئې اووائى نو ده نه به غصه لاړه شى ، نو تپوس اوشو : هغه څه ده ؟ نو وې فرمائل : " اللهم أني أعوذبك من الشيطان الرجيم " ده)

قوله: فـأنطلق اليه الرجل : د سنن ابى داود په روايت كښې دى چه خبر وركوونكې كس حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه وو - (٣)

قوله: أتُري بي بأس : تُرى د تاء په ضمه سره د " تظن " په معنى دې . بأس " مبتداء مؤخره او " بى " خبر مقدم دې ، بعض روايتونو كښې " بأسا " منصوب دې ، د منصوب كيدو په صورت كښې دا " ترى " دپاره مفعول به به وى . حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه قسطلانى رحمه الله فرمائى دا صورت زيات مناسب دې -(٤) اذهب

دا سړې يا خو منافق وويا كافر وو ، يا څوك ديهاتى مسلمان وو او ده ته معلومه نه وه چه د غصې په وخت تعوذ ويل پكار دى . د ده دا خيال وو چه تعوذ به صرف هغه كس وائى چه هغه پاګل يا ليونې وى خكه چه زياته غصه د شيطان اثر وى - (٥)

دينه معلومه شوه چه د غصې په وخت تعوذ ويل پكار دى ، د سنن ابى داود روايت كښې دى " إن الغضب من اشيطان " (٦)

[٥٠٢٠]حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ عَنْ حُمَيْدٍ قَالَ قَالَ أَنَسٌ حَدَّثَنِي عُبَادَةُ بْنُ الصَّامِتِ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيُخْبِرَ النَّاسَ بِلَيْلَةِ الْقَدْرِ فَتَلَاحَى رَجُلَانِ مِنَ الْمُسْلِمِينَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجْتُ لِأُخْبِرَكُمْ فَتَلَاحَى فُلَانٌ وَفُلَانٌ وَإِنَّهَا رُفِعَتْ وَعَسَى أَنْ يَكُونَ خَيْرًا لَكُمْ فَالْتَمِسُوهَا فِي التَّاسِعَةِ وَالسَّابِعَةِ وَالْخَامِسَةِ[ر:٤٩]

قوله: فتلاحى رجلان من المسلمين : د تلاحى معنى د جنګ جګړې كولو ده . ددې جملې په مناسبت سره امام بخارى رحمه الله دا حديث دلته د " باب ما ينهى من

١) فتح البارى : ١٠ \ ٥٧٢)
٢) سنن أبي داود كتاب الأدب . باب ما يقال عند الغضب : ٤ \ ٢٤٨ (رقم الحديث : ٤٧٨٠)
٣) سنن أبي داود كتاب الأدب . باب ما يقال عند الغضب : ٤ \ ٢٤٨ (رقم الحديث : ٤٧٨٠)
٤) فتح البارى : ١٠ \ ٥٧٣ . ارشاد السارى : ١٣ \ ٦٧)
٥) فتح البارى : ١٠ \ ٥٧٣ . عمدة القارى : ٢٢ \ ١٢٥ . ارشاد السارى : ١٣ \ ٦٨)
٦) سنن أبي داود كتاب الأدب . باب ما يقال عند الغضب : ٤ \ ٢٤٩ (رقم الحديث : ٤٧٨٤)

السباب و اللعن " تر لاندې ذکر کړو ، خکه چه جنګ جګړه عموما د لعن د طعن او د کنخلو کولو سبب ګرځي ، دا دوه سړی کعب بن مالك او عبد الله بن ابی حدرد وو - (۱) دا روایت کتاب الایمان کښې تیر شویدې (۲) دوی ﷺ د شب قدر خبر ورکولو دپاره راروان وو خو د دوه اصحابو د جنګ په وجه د دې تعین د دوی ﷺ د زړه نه اوچت کړې شو . په دې باندې دوی ﷺ اوفرمائل : کیدې شی دېکښې به بهتری وی ، خکه چه مبهم پاتې کیدو په صورت کښې خلق به ددې په تلاش کښې ټولو شپو کښې عبادتونه کوی ، او که دا شپه متعین کړې شوې وه نو د نورو شپو نه به د خلقو توجه اخوا شوې وه

[۵۷۰۳]حَدَّثَنِي عُمَرُبْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ عَنِ الْمَعْرُورِ هُوَ ابْنُ سُوَيْدٍ عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ رَأَيْتُ عَلَيْهِ بُرْدًا وَعَلَى غُلَامِهِ بُرْدًا فَقُلْتُ لَوْ أَخَذْتَ هَذَا فَلَبِسْتَهُ كَانَتْ حُلَّةً وَأَعْطَيْتَهُ ثَوْبًا آخَرَ فَقَالَ كَانَ بَيْنِي وَبَيْنَ رَجُلٍ كَلَامٌ وَكَانَتْ أُمُّهُ أَعْجَمِيَّةً فَنِلْتُ مِنْهَا فَذَكَرَنِي إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لِي أَسَابَبْتَ فُلَانًا قُلْتُ نَعَمْ قَالَ أَفَنِلْتَ مِنْ أُمِّهِ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ إِنَّكَ امْرُؤٌ فِيكَ جَاهِلِيَّةٌ قُلْتُ عَلَى حِينِ سَاعَتِي هَذِهِ مِنْ كِبَرِ السِّنِّ قَالَ نَعَمْ هُمْ إِخْوَانُكُمْ جَعَلَهُمُ اللَّهُ تَحْتَ أَيْدِيكُمْ فَمَنْ جَعَلَ اللَّهُ أَخَاهُ تَحْتَ يَدِهِ فَلْيُطْعِمْهُ مِمَّا يَأْكُلُ وَلْيُلْبِسْهُ مِمَّا يَلْبَسُ وَلَا يُكَلِّفُهُ مِنَ الْعَمَلِ مَا يَغْلِبُهُ فَإِنْ كَلَّفَهُ مَا يَغْلِبُهُ فَلْيُعِنْهُ عَلَيْهِ[ر:۳۰]

دا روایت په کتاب الایمان کښې تیر شویدې (۳) د حضرت ابوذر غفاری رضی الله عنه د یو سړی سره څه ترخې خبرې اوشوې ، د ده مور عجمی وه ، دوی ده ته بد رد اوویلې . چه رسول الله ﷺ ته معلومه شوه نو دوی ﷺ ابو ذر غفاری رضی الله عنه ته اوفرمائل : په تاکښې د جاهلیت اثر باقی پاتې دې . حضرت ابوذر رضی الله عنه تپوس اوکړو چه آیا څما په دې بوډا توب کښې هم ! ..... نو حضور ﷺ اوفرمائل : " هو "

چه د کوم سړی سره ئې ترخې خبرې راغلې وې دا سړې حضرت بلال وو . د دوی د مور نوم حمامه وو - (۴) د جاهلیت نه خویا مراد د اسلام نه وړاندې والا جاهلیت مراد دې او یا د دې نه جهل مراد دې - (۵)

قوله: قلتُ: على حين ساعتي: هذه من كبر السن ؟: یعني دومره عمر زیاتیدو سره په ما کښې د جاهلیت اثر شته دې . حضرت ابوذر غفاری رضی الله عنه مشر جلیل القدر صحابی وو . حضور ﷺ دوی ته غصه اوکړه دې دپاره چه بیا دپاره محتاط وی . علامه قسطلانی رحمه الله لیکی وإنما وبّخه بذلك مع عظم درجته تحذيرا له أن يفعل مثل ذلك مرة أخرى (۶)

---

۱) فتح الباری : ۱۰ \ ۵۷۳ . عمدة القاری : ۲۲ \ ۱۲۶ . ارشاد الساری : ۱۳ \ ۶۸)

۲) صحیح البخاری کتاب الایمان . باب خوف المومن أن یحبط عمله و هو لا یشعر (رقم الحدیث : ۴۹)

۳) صحیح البخاری . کتاب الإیمان . باب المعاصی من أمر الجاهلیة .... (رقم الحدیث : ۳۰)

۴) عمدة القاری : ۲۲ \ ۱۲۶ . فتح الباری : ۱۰ \ ۵۷۳)

۵) فتح الباری : ۱۰ \ ۵۷۳ . عمدة القاری : ۲۲ \ ۱۲۶)

۶) ارشاد الساری : ۱۳ \ ۶۹)

قوله: أفنلت من أمه.....: يعني آيا تا دده مور ته بدرد اوويلې -

د حديث نه مستنبط فائدې: حافظ ابن حجر رحمه الله د حديث نه څو فائدې مستنبط كړى او ليكى : "ويؤخذ منه المبالغة في ذم السب و اللعن لما فيه من تحقير المسلم، وقد جاء الشرع بالتسوية بين المسلمين في معظم الأحكام، وأن التفاضل الحقيقي بينهم إنما هو بالتقوى، فلا يفيد الشريف النسب نسبه، إذا لم يكن من أهل التقوى، وينتفع الوضيع النسب بالتقوى كما قال تعالى: (إن أكرمكم عند الله أتقاكم)[1]

دې حديث نه يو خو د كنځلو او د لعنت شناعت معلوم شو ځكه چه ديكښې د مسلمانانو تحقير او توهين كيږى - دويم دا خبره معلومه شوه چه د يو مسلمان په بل مسلمان باندې د فضيلت او د فوقيت حاصلولو معيار تقوى ده ، دې وجه نه د يو اوچت او د شريف نسب سره تعلق لرونكې يو سړې متقى نه وى نو صرف نسب ده ته هيڅ فائده نه شى وركولې ، دده په عكس يو سړې چه د لاندې نسب سره تعلق لرى خو متقى دې نو دده مقام اوچت دې ، قرآن كريم كښې هم ديته ئې اشاره كړيده او ويلې دى (ان اكرمكم عند الله اتقاكم)

٣٥=بَاب مَا يَجُوزُ مِنْ ذِكْرِ النَّاسِ نَحْوَ قَوْلِهِمْ الطَّوِيلُ وَالْقَصِيرُ

وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا يَقُولُ ذُو الْيَدَيْنِ [ر:٤٦٨] وَمَا لَا يُرَادُ بِهِ شَيْنُ الرَّجُلِ

[٥٧٠٣] حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ صَلَّى بِنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الظُّهْرَ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ ثُمَّ قَامَ إِلَى خَشَبَةٍ فِي مُقَدَّمِ الْمَسْجِدِ وَوَضَعَ يَدَهُ عَلَيْهَا وَفِي الْقَوْمِ يَوْمَئِذٍ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ فَهَابَا أَنْ يُكَلِّمَاهُ وَخَرَجَ سَرَعَانُ النَّاسِ فَقَالُوا قَصُرَتْ الصَّلَاةُ وَفِي الْقَوْمِ رَجُلٌ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُوهُ ذَا الْيَدَيْنِ فَقَالَ يَا نَبِيَّ اللَّهِ أَنَسِيتَ أَمْ قَصُرَتْ فَقَالَ لَمْ أَنْسَ وَلَمْ تَقْصُرْ قَالُوا بَلْ نَسِيتَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ صَدَقَ ذُو الْيَدَيْنِ فَقَامَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ ثُمَّ كَبَّرَ فَسَجَدَ مِثْلَ سُجُودِهِ أَوْ أَطْوَلَ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ وَكَبَّرَ ثُمَّ وَضَعَ مِثْلَ سُجُودِهِ أَوْ أَطْوَلَ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ وَكَبَّرَ [ر:٤٦٨]

د ترجمة الباب مقصد : علامه عينى ليكى : أى هذا باب في بيان ما يجوز من ذكر أوصاف الناس نحو قوله : فلان طويل، وفلان قصير[2]

د امام بخارى رحمه الله مقصد ددې باب نه دا دى چه بعض داسې جسمانى اوصاف چه كوم عيب نه ګڼړلې كيږى كه د يو سړى دپاره دا استعمال كړې شى نو دا جائز دى ، مثلاً طويل، قصير وغيره په دې شرط چه د چا دپاره دا استعماليږى هغه ته په دې تكليف نه رسى ، ترجمة الباب كښې و مالا يراد به شين الرجل سره ديته اشاره ده ، د شين معنى د عيب ده ، په خپله رسول الله ﷺ ديو صحابى دپاره د " ذو اليدين " لفظ استعمال كړې وو،

---

[1]) فتح البارى : ١٠\٥٧٣)
[2]) عمدة القارى : ٢٢\١٢٦)

روایت دباب کښې ددې تفصیل راغلې دې ، دا روایت په کتاب الصلاة کښې تیر شویدې(۱)
د "اعمش" او د "اعرج" وغیره چه کوم اوصاف د بعض راویانو دپاره استعمالیږی اصولاً دا صحیح نه دی . خو چه دا راویان په دې اوصافو سره دومره مشهور شویدی چه ددې اوصافو ذکر کولو نه بغیر د دوی پیژندګلو مشکله ده ، دې وجه نه دا د یو ضرورت تر لاندې محدثین ذکر کوی . مقصود د دوی عیب بیانول نه وی بلکه تعارف کول وی ، بعض محدثینو دیکښې سختی کړیده او ویلې دی چه دا صحیح نه ده ، امام بخاری رحمه الله په "مالا یراد به شین الرجل" سره دې طرف ته اشاره کړیده - (۲)

۴۶=بَابُ الْغِيبَةِ وَقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَحِيمٌ [الحجرات:۱۲]

[۵۷۰۸] حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا وَكِيعٌ عَنْ الْأَعْمَشِ قَالَ سَمِعْتُ مُجَاهِدًا يُحَدِّثُ عَنْ طَاوُسٍ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ مَرَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى قَبْرَيْنِ فَقَالَ إِنَّهُمَا لَيُعَذَّبَانِ وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرٍ أَمَّا هَذَا فَكَانَ لَا يَسْتَتِرُ مِنْ بَوْلِهِ وَأَمَّا هَذَا فَكَانَ يَمْشِي بِالنَّمِيمَةِ ثُمَّ دَعَا بِعَسِيبٍ رَطْبٍ فَشَقَّهُ بِاثْنَيْنِ فَغَرَسَ عَلَى هَذَا وَاحِدًا وَعَلَى هَذَا وَاحِدًا ثُمَّ قَالَ لَعَلَّهُ يُخَفَّفُ عَنْهُمَا مَا لَمْ يَيْبَسَا [ر:۲۱۳]

د غیبت متعلق څو خبرې په ذهن کښې اوساتئ

د غیبت تعریف ① رومبئ خبره د غیبت د تعریف سره متعلق ده ، امام راغب د غیبت تعریف کړیدې : الغیبة أن یذکر الإنسان غیرہ بما فیه من عیب من غیر أن أحوج إلی ذکرہ (۳) د یو بل سړی عیب بغیر د ضرورته بیانولو ته غیبت ویلې کیږی -

امام غزالی رحمه الله په " احیاء العلوم " کښې غیبت تعریف کړیدې " الغیبة أن تذکر أخاك بما یکرهه لو بلغه " (۴)

علامه ابن اثیر په " النهایة فی غریب الحدیث " کښې د غیبت تعریف کړیدې " الغیبة وهی أن یذکر الإنسان فی غیبته بسوء وإن کان فیه " (۵) علامه قرطبی رحمه الله په تفسیر قرطبی کښې د غیبت

---

(۱) صحیح البخاری ، کتاب الصلاة ، باب تشبیک الأصابع فی المسجد و غیره (رقم الحدیث : ۴۸۲)
(۲) ۶۵) عمدة القاری : ۲۲ \ ۱۲۷ ، ارشاد الساری : ۱۳ \ ۷۰ ، فتح الباری : ۱۰ \ ۵۷۴)
(۳) المفردات فی غرائب القرآن ، کتاب الغین و ما یتصل بها : ۳۶۷)
(۴) إحیاء علوم الدین للإمام الغزالی کتاب آفات اللسان ، الآفة الخامسة عشرة الغیبة : ۳ \ ۱۴۳)
(۵) النهایة لابن الأثیر : ۳ \ ۳۹۹)

تعريف کړيدې "هي ذكر العيب بظهر الغيب" [1]
حاصل دا چه ديو سړی په داسې انداز سره د هغه په غير موجودګئ کښې داسې تذکره کول چه کُه دې دا واوری نو ده ته به دا ښه نه لګی ، غيبت دې -
بعض خلق وائی چه غيبت مطلقًا د چا د بدی بيانولو نوم دې ، کُه هغه حاضر وی او کُه غائب وی .... خو راجح دا ده چه شا په شا د چا بد بيان کړې نو دا غيبت دې ځکه چه د لفظ د لغوی معنی په دې صورت کښې رعايت کيږی ، او چه د چا په تعريفاتو کښې د " غائب کيدو " قيد نه وی لګيدلې ، هلته هم دا قيد محذوف منل پکار دی - [2]
د غيبت حکم : ② غيبت بعض عالمانو په صغائرو يعنی وړو ګناهونو کښې شمار کړيدې [3]
خو د جمهورو عالمانو په نزد غيبت په کبائرو کښې دی ، علامه قرطبی وغيره څو عالمانو په دې اجماع هم نقل کړيده ، [4] ځکه چه د غيبت متعلق په قرآن او حديث کښې ډير سخت وعيدونه راغلې دی چه کوم د دې په کبيره کيدو باندې واضح دلالت کوی -
حديث د معراج کښې دی چه رسول الله ﷺ څه خلقو لره اوليدل چه دوی په نوکونو خپل مخونه شوکوی . د دوی باره کښې ئې معلومات اوغوښتل نو حضرت جبريل عليه السلام اوفرمائل
: " هؤلاء الذين يأكلون لحوم الناس و يقعون في أعراضهم " [5] يعنی دا هغه خلق دی چه کوم د خلقو غوښې خوری (يعنی غيبت کوی) او د دوی په عزت کښې وريريووځی -
د سعيد بن زيد مرفوع روايت دې " إن من أربى الربا الاستطالة في عرض المسلم بغير حق [6] د يو مسلمان د عزت په باره کښې په ناحقه ژبه خوزول د سود بدترين صورت دې)
د حضرت ابوهريره ﷺ روايت کښې دی :" من أكل لحم أخيه في الدنيا ، قرب له يوم القيامة ، فيقال له : كله ميتا ، كما أكلته حيا ، فيأكله ، ويكلح ويصيح " [7] يعنی چه کوم سړی په دنيا کښې د خپل رور غوښه اوخوړه يعنی غيبت ئې اوکړو د قيامت په ورځ به دې دده قريب کړې شی او ده ته به اووېلې شی چه دده لره د مړی په حالت کښې اوخوره چه څنګه تا دې د ژوند په حالت کښې خوړلې وو نو دې به دده لره خوری او د ده طبيعت به تروش شی او چغې به وهی -
امام بخاری رحمه الله په " الادب المفرد " کښې د حضرت جابر روايت رانقل کړيدې ، هغه

---

[1]) الجامع لأحكام القرآن للقرطب . سورة الحجرات : ۱۶ : ۳۳۵)
[2]) فتح الباری : ۱۰ \ ۵۷۵)
[3]) فتح الباری : ۱۰ \ ۵۷۶ . ارشاد الساری : ۱۳ \ ۷۱)
[4]) الجامع لأحكام القرآن للقرطبی . سورة الحجرات : ۱۶ \ ۳۳۷ . فتح الباری : ۱۰ \ ۵۷۶)
[5]) أخرجه ابوداود فی كتاب الأدب . باب فی الغيبة : ٤ \ ۲۶۹ (رقم الحديث : ٤۸۷۸) و أخرجه البيهقی في شعب الإيمان . باب فی تحريم أعراض الناس : ۵ \ ۲۹۹ (رقم الحديث : ۶۷۱۶)
[6]) أخرجه ابوداود فی كتاب الأدب . باب فی الغيبة : ٤ \ ۲۶۹ (رقم الحديث : ٤۸۷۸) و أخرجه البيهقی في شعب الإيمان . باب فی تحريم أعراض الناس : ۵ \ ۲۹۹ (رقم الحديث : ۶۷۱۶) .....
[7]) تفسير ابن كثير . سورة الحجرات ک ٤ \ ۲۱۶)

فرمانی " كنا مع رسول الله صلى الله عليه وسلم فارتفعت ريح خبيثة منتنة، فقال أتدرون ما هذه؟ هذه ريح الذين يغتابون المؤمنين "[۱] (حضرت جابر فرمائی : چه مونږ د رسول الله ﷺ سره وو چه ديکښې يو بد بوداره هوا راغله ، نو دوی ﷺ اوفرمائل ، تاسو ته پته شته چه دا څه څيز دې ؟ ... دا د هغه خلقو بدبو ده چه کوم د مؤمنانو غيبت کوی)

د غيبت په باره کښې دې احاديثو کښې چه کوم وعيدونه بيان شويدی . ددې په وجه عالمانو غيبت کول په کبائرو کښې شمار کړيدې -

د غيبت نه د توبه کولو صورت :③ د غيبت د ګناه نه د توبه کولو څه صورت دې ؟ د بعض عالمانو خيال دې چه الله تعالى ته دې توبه اوکړې شی يعنی ندامت سره دې استغفار اوکړې شی، او په زړه کښې دې بيا دپاره دينه د بچ کيدو عزم وی ، بس هم دا کافی ده ([۲])

بعض عالمانو ليکلې دی چه د چا غيبت شويدې . د هغه دپاره دې استغفار اوکړی نو دا به ددې تلافی شی - ([۳])

خو جمهور عالمان فرمائی چه ده په غيبت کولو سره د بل حق وهلې دې ، دې وجه نه چه ده د چا غيبت کړيدې د هغه نه معافی اونه غواړی او د حق وهل ترينه معاف نه کړی نو تر دغه وخته دا ګناه نه معاف کيږی ځکه چه حق العبد صرف په توبه او په استغفار سره نه ادا کيږی . چه تر څو اداء نه کړې شی يا معاف نه کړې شی - ([۴])

ددې تائيد د يو حديث نه هم کيږی ، دوی ﷺ فرمائی " من كانت له عند أخيه مظلمة فى عرض أو مال، فليتحللها منه "([۵]) (چه کوم سړی په خپل رور باندې د عزت يا د مال په باره کښې ظلم کړې وی نو دا دې په ده سره معاف کړی)

د معاف کولو يو صورت دا دې چه لاړ شی او هغه ته صفا اووائی چه ما د ستا غيبت کړيدې . ته ما معاف کړه -

علامه شامی او علامه قرطبی فرمائی . چه دارنګ اظهار کول ضروری نه دی ، مجمل او مبهم کُه اوويلې شی چه د ستا کومه حق تلفی څما نه شوې وی نو دا راته معاف کړه او چه دې معافی اوکړی نو انشاء الله د غيبت ګناه به معاف شی ، - ([۶]) خو چه د کوم سړې غيبت

---

[۱]) الأدب المفرد مع فضل الله الصمد ، باب بلا ترجمة : ۲ \ ۱۹٤)

[۲]) روح المعاني ، سورة الحجرات ، ۱۳ \ ۱٦۰ ، الجزء : ۲٥)

[۳]) الجامع لأحكام القرآن ، سورة الحجرات : ۱٦ \ ۳۳۷)

[٤]) شرح الطيبي على مشكاة المصابيح ، كتاب الادب ، باب حفظ اللسان و الغيبة و الشتم : ۱۰ \ ۱۲٥ ، مرقاة المفاتيح على مشكاة المصابيح ، كتاب الآداب ، باب حفظ اللسان ، و الغيبة و الشتم : ۹ \ ۱۹۷)

[٥]) أخرجه البخاري في كتاب المظالم و الغصب ، باب من كانت له مظلمة عند الرجل ..... (رقم الحديث : ۲٤٤۹) و أخرجه الإمام أحمد في مسنده : ۲ \ ۱٦۱)

[٦]) رد المحتار على الدر المختار ، كتاب الحظر و الإباحة ، فصل في البيع : ٥ \ ۲۹۰ ، الجامع لأحكام القرآن للقرطبي : ۱٦ \ ۳۳۹ ، روح المعاني : ۱۳ \ ۱٦۱)

شویدې هغه ته د غیبت علم نه وی شوې نو بیا د ده نه د معافئ په ځائې د الله تعالی نه ددې ګناه معافی غوښتل کافی دی -

د چا غیبت کول جائز دی ؟ :⑥ که یو سړې مشهور فاسق او فاجر دې او دې علانیه د فسق او د ګناه ارتکاب کوی ، نو د ده بد ا وفسق بیانول ممنوع غیبت کښې داخل نه دی - یو روایت کښې دی " من ألقی جلباب الحیاء فلاغیبة له "(۱) .... (چه کوم د حیاء څادر لرې کړی د هغه غیبت حرام نه دې) او یو مرفوع حدیث کښې دی "اذکروا الفاجر بما فیه کی یحذره الناس" (۲) یعنی د فاسق بد بیان کړه چه خلق ترینه ځان اوساتلې شی -

د حضرت حسن بصری نه روایت دې : ثلاثة لیست لهم حرمة : صاحب الهوی ، و الفاسق المعلن ، و الإمام الجائر(۳) یعنی د دریو کسانو غیبت حرام نه دې ، یو د خواهش او د هوا (بدعت) والا ، دویم د علانیه فسق کوونکی او دریم د ظالم حکمران ، دارنګه چه د چا عیب بیانول دینی یا دنیوی ضرورت وی ، نو دا غیبت هم ممنوع نه دې ، په راویانو چه کوم جرح کیږی نو دا هم یو دینی ضرورت دې دې وجه نه دا جائز دې - (۴)

علامه شامی د حلال او دحرام غیبت مقامات په اشعارو کښې بیان کړیدې فرمائی :

بما یکره الإنسان یحرم ذکره ۔۔۔ سوی عشرة حلت أتت تلو واحد

تظلم و شرو أجرح و بین مجاهرا ۔۔۔ بفسق و مجهولا وغشا لقاصد

وعرف کذا استفت استعن عند زاجر ۔۔۔ کذلك اهتمم حذر فجور معاند

دا رنګه اوګورئ فتح الباری ، کتاب الأدب ، باب مایجوز من اغتیاب أهل الفساد و الریب : ۱۰\۵۸۷)

قوله: اَیُحِبُّ اَحَدُکُمْ اَنْ یَّاْکُلَ لَحْمَ اَخِیْهِ مَیْتًا : د غیبت مثال ئې د مړی د غوښې سره ورکړو ، یو خو ددې وجه چه څنګه مړی ته پته نه لګی چه د ده غوښه څوك خوری داسې چه د چا غیبت کیږی ، هغه ته هم پته نشته دې چه د ده غیبت کیږی څنګه چه د مړی غوښه خوړل یو ناخوښه او بد عمل دې داسې غیبت کول هم شرعاً قبیح او ناخوښه دې (۵)

د روایت د باب د ترجمة الباب سره مناسبت : روایت د باب ، طهارت ، کتاب الوضوء ، باب من الکبائر أن لایستتر من بوله او جنائز باب الجرید علی القبر کښې تیر شویدی ، دیکښې د غیبت ذکر نشته دې ، په ظاهره ددې د ترجمة الباب سره مناسبت نشته دې -

بعض شارحان وائی چه روایت کښې د نمیمه یعنی د چغل خورئ ذکر دې او چغل خوری او

---

(۱) أخرجه البیهقی فی السنن الکبری ، کتاب الشهادات ، باب الرجل من أهل الفقه .... : ۱۰\۲۱۰)

(۲) الجامع لأحکام القرآن للقرطبی ، سورة الحجرات : ۱۶\۳۳۹)

(۳) ۸۵ الجامع لأحکام القرآن للقرطبی ، سورة الحجرات : ۱۶\۳۳۹)

(۴) کتاب الحظر و الإباحة ، فصل فی البیع : ۵\۲۹۰ ،

(۵) الجامع لأحکام القرآن للقرطبی ، سورة الحجرات : ۱۶\۳۳۵)

غيبت دواړه حرام كيدو كښې مشترك دى - (١)
خو صحيح خبره دا ده چه د روايت د باب په بعض طرق كښې د " غيبت " ذكر شته دې ، لكه چه امام بخارى رحمه الله په " الادب المفرد " كښې د حضرت جابر ﷺ روايت رانقل كړيدې چه د هغې الفاظ دا دى " أما أحدهما فكان يغتاب الناس...." (٢)
او امام احمد او طبرانى په صحيح سند سره د حضرت ابوبكره نه روايت رانقل كړيدې ، د دې الفاظ دى " إنهما ليعذبان في الغيبة و البول " (٣) دارنګه مسند احمد او طبرانى كښې د يعلى بن شبابه روايت كښې دى " إن النبى صلى الله عليه و سلم مر على قبر يعذب صاحبه ، فقال : إن هذا كان يأكل لحوم الناس " (٤)

دې روايتونو كښې تصريح ده چه قبر كښې چا ته عذاب وركيدلو د هغه د معذّب كيدو يو وجه غيبت وو ، دا روايتونه چه د امام بخارى رحمه الله په شرطونو برابر نه وو ، دې وجه نه امام د نميمه والا روايت ذكر كړو او نورو روايتونو ته ئې اشاره كول كافى اوګڼړل - (٥)
روايت د باب كښې د " عسيب " لفظ راغلې دى ، بياخ ته وائى -

٤٧=بَاب قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ دُورِ الْأَنْصَارِ

[٥٧٠٦] حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي أُسَيْدٍ السَّاعِدِيِّ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ دُورِ الْأَنْصَارِ بَنُو النَّجَّارِ [ر:٣٥٧٨]

د باب مناسبت : رسول الله ﷺ فرمائى چه بنو نجار د انصارو په كورونو كښې د ټولو نه بهتر دى ، په ظاهره د دې باب د غيبت سره مناسبت نه معلوميږى خو شارحانو مناسبت بيان كړيدې او هغه دا دې چه امام بخارى رحمه الله دې خبرې ته اشاره كول غواړى چه د يو كس تعريف اوشى او ده لره په نورو خلقو باندې ترجيح وركړې ، نو ډير كرته دا ترجيح چه په كومو خلقو وركړې شوې وى هغه په دوى بده اولګى خو دا بد لګيدل په " ذكرك أخاك بما يكره " كښې نه ده داخل ، ځكه چه " ذكرك أخاك بما يكره " هغه وخت قابل د زجر او د تنبيه دې ، چه كله په دې څه شرعى حكم مرتب نه وى ، بغير د څه شرعى حكم او د وجه نه ناخوښه خبره كول په ممنوع غيبت كښې داخل ده ، خو كُه د څه شرعى حكم او د مصلحت په وجه د چا متعلق څه ناخوښه خبره اوشى نو دا په غيبت كښې داخل نه ده - لكه چه حافظ ابن حجر

(١) ارشاد السارى : ١٣ \ ٨١ ، عمدة القارى : ٢٢ \ ١٢٨ ، فتح البارى : ١٠ \ ٥٧٧)
(٢) الأدب المفرد مع فضل الله الصمد ، باب الغيبة و قول الله تعالى و قول الله تعالى : و لا يغتب بعضكم بعضا : ١ \ ١٩٨ (رقم الحديث : ٧٣٥)
(٣) مسند الإمام أحمد بن حنبل ، مسانيد أبى بكرة : ٥ \ ٣٩ ، فتح البارى : ١٠ \ ٥٧٧)
(٤) فتح البارى : ١٠ \ ٥٧٧)
(٥) ارشاد السارى : ١٣ \ ٧٣)

او علامه قسطلانی لیکی : و مناسبة إيراد هذه الترجمة هنا ولم يذكر فيها شيء من الغيبة من جهة أن المفضل عليهم يكرهون ذلك ، فيستثنى ذلك من عموم قوله : ذكرك أخاك بما يكره ، إذ محل الزجر، إذا لم يترتب عليه حكم شرعي ، فإن ترتب ، فلايكون غيبة ، ولو كرهه المحدث عنه "(۱)

۳۸=بَاب مَا يَجُوزُ مِنْ اغْتِيَابِ أَهْلِ الْفَسَادِ وَالرِّيَبِ

[۵۷۰۷] حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ الْفَضْلِ أَخْبَرَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ سَمِعْتُ ابْنَ الْمُنْكَدِرِ سَمِعَ عُرْوَةَ بْنَ الزُّبَيْرِ أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَخْبَرَتْهُ قَالَتْ اسْتَأْذَنَ رَجُلٌ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ ائْذَنُوا لَهُ بِئْسَ أَخُو الْعَشِيرَةِ أَوْ ابْنُ الْعَشِيرَةِ فَلَمَّا دَخَلَ أَلَانَ لَهُ الْكَلَامَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ قُلْتَ الَّذِي قُلْتَ ثُمَّ أَلَنْتَ لَهُ الْكَلَامَ قَالَ أَيْ عَائِشَةُ إِنَّ شَرَّ النَّاسِ مَنْ تَرَكَهُ النَّاسُ أَوْ وَدَعَهُ النَّاسُ اتِّقَاءَ فُحْشِهِ [ر:۵۶۸۵]

ریب د ریبة جمع تهمت ته وائی ، امام بخاری رحمه الله مقصد دا دې ، چه کُه یو کس مشهور فاسق فاجر وی او د ده فسق او فجور مشهور او معروف وی ، نو دده غیبت کول جائز دی. چه د هغې تفصیل بیان کړې شویدې ، علامه انور شاه کشمیری رحمه الله لیکی:

" وقد ذكر الشامي فيها المستثنيات ، ملخصا يرجع عندي إلى كلمة واحدة ، وهي أن الغيبة هي التي كانت لتبريد الصدر و التلذذ بها ، و جعلها مشغلا ، أما إذا كان بصدد ذكر حوادث الأيام و صروفها ، فذكر فيها أشياء ، لا يكون من الغيبة المحظورة ، ولذا ترجم البخاري : "باب ما يجوز من اغتياب أهل الفساد و الريب

شر الورى بمساوي الناس مشتغل مثل الذباب يراعي موضع العلل "(۲)

یعنی علامه شامی رحمه الله د غیبت محرمه نه څه صورتونه مستثنی کړیدی خو خما په نزد د ټولو حاصل دا دې چه کُه څوك د خوند اخستو دپاره غیبت باقاعده یو مشغولتیا اوګرخوی نو دا حرام او ناجائز دې خو کُه چا واقعات او حالات اورولو اورولو کښې د بعض څیزونو ذکر اوکړو (د بعض خلقو د بدئ ذکر ضمنا راغلو) نو دا په ممنوع غیبت کښې داخل نه دې . امام بخاری رحمه الله دا باب هم دې دپاره قائم کړیدې . یو عربی شاعر ډیر ښه ویلي دی " بدتر دې هغه کس چه د خلقو په بدو بیانولو کښې مشغوله وی په شان د هغه مچ همیشه په ګنده ځائې ګرځی راګرځی " -

۳۹=بَاب النَّمِيمَةُ مِنْ الْكَبَائِرِ

[۵۷۰۸] حَدَّثَنَا ابْنُ سَلَامٍ أَخْبَرَنَا عَبِيدَةُ بْنُ حُمَيْدٍ أَبُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَعْضِ حِيطَانِ الْمَدِينَةِ فَسَمِعَ صَوْتَ

---

(۱) ارشاد الساری : ۱۳ \ ۷۳)

(۲) فیض الباری ، کتاب الأدب ، باب الغیبة : ٤ \ ۳۸۹)

إِنْسَانَيْنِ يُعَذَّبَانِ فِي قُبُورِهِمَا فَقَالَ يُعَذَّبَانِ وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرٍ وَإِنَّهُ لَكَبِيرٌ كَانَ أَحَدُهُمَا لَا يَسْتَتِرُ مِنَ الْبَوْلِ وَكَانَ الْآخَرُ يَمْشِي بِالنَّمِيمَةِ ثُمَّ دَعَا بِجَرِيدَةٍ فَكَسَرَهَا بِكِسْرَتَيْنِ أَوْ ثِنْتَيْنِ فَجَعَلَ كِسْرَةً فِي قَبْرِ هَذَا وَكِسْرَةً فِي قَبْرِ هَذَا فَقَالَ لَعَلَّهُ يُخَفَّفُ عَنْهُمَا مَا لَمْ يَيْبَسَا [ر: ۲۱۳]

چغل خوری لويه گناه ده :نميمة چغل خورئ ته وائی ، بعض عالمان نميمة او غيبت يو ګرځوی چه دې دواړو کښې څه فرق نشته دې - (۱)

خو راجح دا ده چه دواړو کښې فرق شته ، نميمة يعنى چغل خورى ديته وائی چه يو سړې د بل کس حالت يا د ده څه خبره بل کس ته په نيت د فساد د ده د رضامندئ نه بغير نقل کړی . برابره خبره ده چه ده ته معلومه وی او که نه وی او غيبت ديته وائی چه د چا شا په شا د ده بدی بيان کړې شی - (۲)

حافظ ابن حجر رحمه الله د دې دواړو په مينځ کښې نسبت د عموم خصوص من وجه بيان کړيدې ، عموم خصوص من وجه درې مادې غواړی ، دوه افتراقی او يو اجتماعی ، که د چا بدی د فساد په نيت سره بل کس ته د ده په موجودګئ کښې بيان کړې شی نو دا نميمه ده غيبت نه دې .... او چه د چا بدی دده شا په شا بغير د نيت د فساده بل کس ته بيان کړې شی نو دا غيبت دې نميمه نه ده ..... دا دواړه افتراقی مادې شوې . دينه علاوه باقی صورتونه د اجتماعی مادې دی ، يعنی که د فساد نيت هم وی او مقول فيه موجود هم نه وی نو دواړه به جمع شی ، لکه چه دې د مذکوره تفصيل بيانولو نه پس ليکی :

"فامتازت النميمة بقصد الإفساد ، و لا يشترط ذلك فى الغيبة ، و امتازت الغيبة بكونها فى غيبة المقول فيه و اشتركتا فيما عدا ذلك" (۳)

۵۰= بَاب مَا يُكْرَهُ مِنَ النَّمِيمَةِ وَقَوْلِهِ هَمَّازٍ مَشَّاءٍ بِنَمِيمٍ [القلم: ۱۱]

وَيْلٌ لِكُلِّ هُمَزَةٍ لُمَزَةٍ [الهمزة: ۱] يَهْمِزُ وَيَلْمِزُ وَيَعِيبُ وَاحِدٌ

[۵۷۰۹] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ هَمَّامٍ قَالَ كُنَّا مَعَ حُذَيْفَةَ فَقِيلَ لَهُ إِنَّ رَجُلًا يَرْفَعُ الْحَدِيثَ إِلَى عُثْمَانَ فَقَالَ لَهُ حُذَيْفَةُ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَتَّاتٌ

(۴) امام بخاری رحمه الله دې باب سره اشاره کول غواړی چه چغل خوری بعض صورتونو

---

۱) ارشاد السارى : ۱۳\۷۷ . فتح البارى : ۱۰\۵۸۰)

۲) ارشاد السارى : ۱۳\۷۷ . فتح البارى : ۱۰\۵۸۰)

۳) فتح البارى : ۱۰\ :۵۸)

۴) ۵۷۰۹) الحديث أخرجه مسلم فى كتاب الإيمان ، باب بيان غلظ تحريم النميمة : ۱\۱۰۱ (رقم الحديث : ۱۰۵) و أخرجه أبوداود فى كتاب الأدب ، باب فى القتات : ۴\۲۶۸ ...[بقيه برصفحه آئنده....

کښې جائز کیږی، مثلاً جاسوسئ په ذریعه د کافرانو د حالاتو چغل خوری کول جائز دی[۱]

قوله: همّاز مشّاء بنميم: دا سورة قلم کښې دی همّاز صیغه د مبالغه ده ، زیات طعن زنی (پیغور) کوونکې [۲]

مشّاء د مشئ نه د مبالغه صیغه ده ، د تللو په معنی ، نمیم چغل خور ته وائی ، اهل لغت لیکلې دی چه " نم " په اصل معنی کښې د حرکت کولو او د خوزیدو دې - [۳]

قوله: ويل لكل همزة لمزة : همزة او لمزة دواړه د مبالغې صیغې دی ، زیات پیغور ورکوونکې د عیبونو او زیات غیبت کوونکې -

بعض وائی لمز مخامخ عیب بیانوونکې ته وائی او همز شا په شا عیب بیانوونکی ته وائی ، بعضو د دې په عکس خبره کړیده

دلته امام بخاری رحمه الله د یهمز یلمز معنی د عیب بیانولو کړیده -

بیهقی د ابن جریج نه نقل کړیدی چه د همز تعلق د سترګو ، لاس وغیره سره دې او دلمز تعلق د ژبې سره دې - [۴]

په سند کښې تمام راویان کوفیان دی : "إن رجلا يرفع الحديث " حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ددې سړی نوم ما ته معلوم نه شو[۵]

لايدخل الجنة قتات.....قتات چغل خور ته وائی - [۶]

بعضو ویلې دی چه نمام هغه کس ته وائی چه کوم حاضر شی او خبره واوری او بیا ئې دینه پس د فساد خورولو په نیت سره نقل کوی او قتات هغه ته وایی چه اوریدلې شوې خبره د فساد خورولو په نیت سره نقل کوی - [۷]

•••

...بقيه ازحاشيه گذشته] (رقم الحديث : ٤٢٨١) و أخرجه الترمذي فی كتاب البر و الصلة ، باب ما جاء فی النمام : ٤ \ ٣٧٥ (رقم الحديث : ٢٠٢٦) و أخرجه النسائی فی كتاب التفسير ، سورة القلم : ٦ \ ٤٩٦ (رقم الحديث : ١١٦١٤)

[۱]) ارشاد الساری : ١٣ \ ٧٦، عمدة القاری : ٢٢ \ ١٢٩)

[۲]) النهاية لابن الأثير ، مادة " همز " : ٥ \ ٢٧٣ ، مجمع بحار الأنوار : ٥ \ ١٦٨)

[۳]) تاج العروس ، مادة نم : ١٠ \ ٨٥ ، لسان العرب : ١٢ \ ٥٩٢)

[۴]) أخرجه البيهقی فی شعب الإيمان ، باب فی تحريم أعراض الناس : ٥ \ ٣٠٩ (رقم الحديث : ٦٧٥٢)

[۵]) فتح الباری : ١٠ \ ٥٧٩)

[۶]) مجمع بحار الأنوار : ٤ \ ٢٠٥ ، النهاية لابن الأثير ، باب القاف مع التاء : ٤ \ ١١)

[۷]) فتح الباری : ١٠ \ ١٠ \ ٥٨٠ ، ارشاد الساری : ١٣ \ ٧٦ ، ٧٧)

٥١ = بَاب قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ

[٥٧١٠] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ عَنْ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِ وَالْعَمَلَ بِهِ وَالْجَهْلَ فَلَيْسَ لِلَّهِ حَاجَةٌ أَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ قَالَ أَحْمَدُ أَفْهَمَنِي رَجُلٌ إِسْنَادَهُ [ر: ١٨٠٤]

امام راغب اصفهانی رحمه الله فرمائی چه د زور معنی دروغ دی (١) روایت کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمایی چه کوم سړی دروغ ویل او د دې مطابق عمل کول او جهل پرې نه خودلو نو الله تعالی ته دده د خوراک څښاک پریخودو هیڅ حاجت نشته دې -

قوله: قال أحمد : أفهمني رجل إسناده : احمد بن یونس وائی چه یو سړی خه د حدیث په سند پوه کړم ، مطلب دا دې چه کله دوی د خپل شیخ ابن ابي ذئب نه حدیث واوریدو نو په سند دوی پوه نه شو ، نو دوی سره یو بل سړې ناست وو دغه سړی دې په سند پوه کړو -

امام ابوداود رحمه الله په سنن کښې دا روایت نقل کوی او بالکل ددې په عکس ئې خبره نقل کړیده هلته د روایت په آخر کښې دی " و قال أحمد : فهمت إسناده من بن أبي ذئب و أفهمني الحديث رجل إلى جنبه ، أراه ابن أخيه " .... (٢)

د دې حاصل دا دې چه حدیث ئې د بل سړی نه او سند ئې د ابن ابی ذئب نه ازده کړو او دلته د بخاری په روایت کښې دی چه حدیث ئې د ابن ابی ذئب نه او سند ئې د بل سړی نه ازده کړو - ممکن ده چه دا حدیث په دواړه رنګه احمد بن یونس روایت کړې وی - (٣)

علامه کرمانی رحمه الله د أفهمني رجل إسناده مطلب دا بیان کړیدې چه ما نه دا سند هیر شوې وو ، یو بل سړی ما ته دا سند یاد کړو - (٤)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه دا مطلب صحیح نه دې بلکه صحیح مطلب هم هغه دې چه کوم بره بیان کړې شو - (٥)

د حدیث شریف مطلب دا دې چه یو سړی روژه خو اوساتله خو دروغ وائی او په دروغو عمل کوی نو الله تعالی ته د داسې روژې هیڅ ضرورت نشته دې ، یعنی الله تعالی داسې روژه نه قبلوی (٦)

---

(١) قال الإمام الراغب الأصفهاني : وقيل للكذب زور لكونه مائلا عن جهته ، المفردات في غرائب القرآن ، كتاب الزاى و ما يتصل بها : ٢١٧)

(٢) سنن أبي داود ، كتاب الصوم ، باب الغيبة للصائم : ٢\٣٠٧ (رقم الحديث : ٢٣٦٢)

(٣) فتح الباري : ١٠\٥٨١)

(٤) شرح البخاري للكرماني : ٢١\١٩٧)

(٥) فتح الباري : ١٠\٥٨١)

(٦) فتح الباري : ١٠\٥٨١)

علامه توربشتي رحمه الله په شرح د مشكات كښې ليكي : "أى لايبالى بعمله ذلك، لأنه أمسك عما أبيح له فى غير حين الصوم، ولم يمسك عما حرم عليه فى سائر الحالتين" (۱)
(يعنى الله تعالى ته د ده د عمل پروا نشته دې خكه چه ده د خوراك او د اوبو او د جماع نه خو خان بند كړو چه كوم د روژي نه علاوه په عام حالاتو كښې مباح دى خو د دروغو نه ئې خان بند نه كړو چه كوم په تمامو وختونو كښې حرام دې -
حديث د باب په كتاب الصوم كښې تير شويدې -(۲)

۵۲=بَاب مَا قِيلَ فِي ذِي الْوَجْهَيْنِ

[۵۷۱۱] حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ حَدَّثَنَا أَبُو صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَجِدُ مِنْ شَرِّ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عِنْدَ اللَّهِ ذَا الْوَجْهَيْنِ الَّذِي يَأْتِي هَؤُلَاءِ بِوَجْهٍ وَهَؤُلَاءِ بِوَجْهٍ [ر: ۶۷۵۷]
دې باب كښې د هغه كس چه دوه رخى اختياروى مذمت كړې شويدې ، حديث دباب كښې دى . چه د قيامت په ورځ به د الله تعالى په نزد ته هغه كس ډير بد بيا مومې چه دوى ته په يو رُخ سره راځي او هغوى ته په بل رُخ سره راځي -
يعنى څه خلقو ته راشي هغوى ته وائي څه د ستاسو ملګرې يم او د ستاسو حمايت کر يم او د هغه نورو مخالف يم ، بيا نورو ته لاړ شي هغوى ته خپل محبت ښكاره كوى ..... ظاهره ده چه دا نفاق دې - (۳)
يو بل طريق كښې دى الذى يأتى هؤلاء بحديث هؤلاء، و هؤلاء بحديث هؤلاء (۴) يعنى د خلقو خبرې يو بل ته رسوى او اراده ئې د فساد وى د داسې كس په باره كښې وعيد راغلې دې -

۵۳=بَاب مَنْ أَخْبَرَ صَاحِبَهُ بِمَا يُقَالُ فِيهِ

[۵۷۱۲] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنْ الْأَعْمَشِ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَسَمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِسْمَةً فَقَالَ رَجُلٌ مِنْ الْأَنْصَارِ وَاللَّهِ مَا أَرَادَ مُحَمَّدٌ بِهَذَا وَجْهَ اللَّهِ فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ فَتَمَعَّرَ وَجْهُهُ وَقَالَ رَحِمَ اللَّهُ مُوسَى لَقَدْ أُوذِيَ بِأَكْثَرَ مِنْ هَذَا فَصَبَرَ [ر: ۲۹۸۱]
د امام بخارى رحمه الله مقصد دا دې چه كه يو سړې خپل ملګرى ته د ده باره كښې ويلې شوې څه خبره اوواني نو دا جائز ده او په سنت كښې ددې اصل شته لكه چه روايت د باب كښې دى حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ رسول الله ﷺ ته د خلقو هغه خبرې رانقل كړې

---

۱) شرح الطيبى على مشكاة المصابيح . كتاب الصوم . باب تنزيه الصوم : ۴ \ ۱۵۷ (رقم الحديث : ۱۹۹۹)
۲) صحيح البخارى، كتاب الصوم ،باب من لم يدع قول الزور و العمل به فى الصوم (رقم الحديث : ۱۸۰۴)
۳) ارشاد السارى : ۱۳ \ ۷۸ . فتح البارى : ۱۰ \ ۵۸۲)
۴) فتح البارى : ۱۰ \ ۵۸۲ . ارشاد السارى : ۱۳ \ ۷۷)

چه د دوی باره کښې ویلې شوې وو او رسول الله ﷺ حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه ته غصه نه شو او وې فرمائل چه دا تکلیف ورکوونکې خبره ده خو دینه زیات تکلیف خما نه وړاندې موسی علیه السلام ته د ده امتیانو په دینه سختو خبرو ورکړې وو - (۱)

مولانا رشید احمد گنگوهی رحمه الله په "لامع الدراری" کښې فرمائی : "والفرق بینه وبین النمیمة أن المقصود ههنا الإصلاح ودفع الشر، وفی النمیمة الإفساد وإثارة الشر، فجاز ذلك دونها" (۲)

یعنی دې صورت کښې هم د خلقو خبره رانقل کیږی خو دا په چغل خوزئ کښې داخل نه ده . ځکه چه چغلخورئ کښې نیت د اصلاح نه وی . بلکه د فساد او د شر د خورولو اراده وی او دلته د اصلاح او د دفع د شر نیت وی ... علامه قسطلانی رحمه الله د حدیث د باب په باره کښې فرمائی : ویفهم منه أن الکبراء من الخواص قد یعز علیهم ما یقال من الباطل لما فی فطر البشر، إلا أن أهل الفضل یتلقون ذلك بالصبر الجمیل اقتداء بالسلف لیتأسی بهم الخلف"

یعنی دینه داخبره معلومیږی چه په خواصو باندې هم بعض خبرې سختې لګی او دا سختې لګیدل د انسان په فطرت کښې داخل دی خو دوې صبر کوی دې دپاره چه روستو راتلونکې خلق د دوی تقلید اوکړی (۳) حدیث کښې دی تمعر وجهه یعنی د دوی مخ رنګ بدل شو -

۵۴=بَاب مَا يُكْرَهُ مِنَ التَّمَادُحِ

[۵۷۱۳] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ صَبَّاحٍ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ زَكَرِيَّاءَ حَدَّثَنَا بُرَيْدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ بْنِ أَبِي مُوسَى عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ سَمِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا يُثْنِي عَلَى رَجُلٍ وَيُطْرِيهِ فِي الْمِدْحَةِ فَقَالَ أَهْلَكْتُمْ أَوْ قَطَعْتُمْ ظَهْرَ الرَّجُلِ [ر:۲۵۲۰]

[۵۷۱۴] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ خَالِدٍ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرَةَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَجُلًا ذُكِرَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَثْنَى عَلَيْهِ رَجُلٌ خَيْرًا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيْحَكَ قَطَعْتَ عُنُقَ صَاحِبِكَ يَقُولُهُ مِرَارًا إِنْ كَانَ أَحَدُكُمْ مَادِحًا لَا مَحَالَةَ فَلْيَقُلْ أَحْسِبُ كَذَا وَكَذَا إِنْ كَانَ يُرَى أَنَّهُ كَذَلِكَ وَحَسِيبُهُ اللَّهُ وَلَا يُزَكِّي عَلَى اللَّهِ أَحَدًا قَالَ وُهَيْبٌ عَنْ خَالِدٍ وَيْلَكَ [ر:۲۵۱۹]

تمادح مصدر دې د باب د تفاعل . یعنی د یو بل تعریف کول -

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دا دواړو صورتونو ته عام دې . برابره خبره ده چه دواړه د یو بل تعریف (صفت ، ثناء) اوکړی . یا دیو طرف نه تعریف وی لکه چه حدیث د باب کښې د یو جانب نه په تعریف کولو باندې دوی منع اوفرمائله - (۴)

---

(۱) الابواب والتراجم : ۲\۱۱۵ . ارشاد الساری : ۱۳\۷۹)

(۲) لامع الدراری علی جامع البخاری : ۱۰\۲۲)

(۳) ارشاد الساری : ۱۳\۷۹)

(۴) فتح الباری : ۱۰\۵۸۳)

خو علامه عینی رحمه الله د دوی تردید کړیدې ، هغه فرمائی چه د ترجمة الباب مقصد دا دې چه په تعریف کښې دې د حد نه زیاته مبالغه او تجاوز اونکړې شی چه دا مکروه دی لکه چه حدیث د باب کښې دی، د یو بل تعریف کول مراد نه دی خکه چه هغه باب د مبادحة یعنی باب د مفاعلة سره مستعمل دې او دلته تمادح باب د تفاعل دې ، هغه فرمائی :

" هذا باب فی بیان مایکره من التمادح بین الناس الذی فیه الإطراء و مجاوزة الحد، و هو المراد من الترجمة، لأن الحدیث یدل علی هذا ، قال بعضهم : هو مدح کل من الشخصین الآخر، قلت : لیس کذلك، هذا الذی قاله باب المفاعلة، وهذا من باب التفاعل لمشارکة القوم، و من له أدنی مسکة من الصرف یعرف هذا " - (۱)

د چا په تعریف کښې مبالغه کول صحیح نه دی ، د دې څو خرابئ دی ، اول خو مبالغه د حقیقت خلاف ده ، دویم دې سره سړی کښې عجب او ځان ته خوښوالې پیدا کیدو یره ده ، هغه به دا مبالغه حقیقت اوګڼړی او د خپل ځان باره کښې به په غلط فهمئ کښې مبتلاء شی - (۲)

خو که د یو سړی داسې تعریف اوشی چه دې د هغې مستحق او غالب ګمان دا وی چه دا کس به په عجب او ځانته خوښیئ کښې مبتلاء نه شی نو داسې تعریف جائز دې - (۳)

یو مرفوع حدیث کښې رسول الله ﷺ فرمائی " أحثوا التراب فی وجوه المداحین " (۴) (د تعریف کوونکو په مخ باندې خاوره اولئ) .... خو عالمانو لیکلې دی چه دا د هغه مداحینو په باره کښې دی چه کوم غلط او د دروغو تعریفونه کوی - (۵)

خکه چه په خپله د رسول الله ﷺ په اشعارو او په خطبو کښې تعریف شویدې ، او دوی په دې څه بد نه دی ګڼړلې، د حضرت حسان بن ثابت او د کعب بن زهیر قصائد او اشعار مشهور دی - (۶)

قوله: یطریه فی المدحة: إطراء په تعریف کښې د مبالغه کولو په معنی ده ، مِدْحَة (د میم په کسره او دال په سکون سره) تعریف ته وائی - حافظ ابن حجر رحمه الله فرمایی چه ددې

---

(۱) عمدة القاری : ۲۲\۱۳۲)

(۲) فتح الباری : ۱۰\۵۸۳ ، ۵۸٤ ، ارشاد الساری : ۱۳\۸۰)

(۳) فتح الباری : ۱۰\۵۸۷ ، ارشاد الساری : ۱۳\۸۱)

(۴) الأدب المفرد مع فضل الله الصمد ، باب یحثی فی وجوه المداحین : ۱\٤۳۳ (رقم الحدیث : ۳٤۱) أخرجه مسلم فی کتاب الزهد ، باب النهی عن المدح إذا کان فیه إفراط : ٤\۲۲۹ (رقم الحدیث : ۳۰۰۲) و أخرجه الترمذی فی کتاب الزهد ، باب ما جاء فی کراهیة المدح و المداحین : ٤\۵۹۹ (رقم الحدیث : ۲۳۹۳) و أخرجه أبوداود فی کتاب الأدب ، باب فی کراهیة التمادح : ٤\۲۵٤ (رقم الحدیث : ٤۸۰٤) و أخرجه الإمام أحمد فی مسانید المقداد بن الأسود : ۶\۵).....

(۵) عمدة القاری : ۲۲\۱۲۳ ، فتح الباری : ۱۰\۵۸۵)

(۶) عمدة القاری : ۲۲\۱۲۳)

دوارو سړو نومونه ما ته په صراحت معلوم نه شو ، خو د امام بخاري رحمه الله د " الادب المفرد " د يو روايت نه معلوميږي چه تعريف كوونكې دا سړې محجن بن الدرع وو او چه د چا نې تعريف كولو نو غالبا دا عبدالله ذو البجادين مزنى وو - (۱)

قوله: قال وهيب عن خالد: ويلك : شعبه خو د خالد بن مهران نه " ويحك " نقل كړيدې ، خو وهيب بن خالد ويلك نقل كړيدې ، دا تعليق نه دې ، دا د ماقبل سند سره متصل دې -

دې حديث كښې د تعريف كولو يو ادب بيان كړې شويدې چه تعريف كولو كښې د احتياط تقاضا هم دا ده چه سړې اووائى خما خيال كښې دې داسې دې .... ځكه چه ممكن ده چه دې كوم تعريف كوى حقيقت كښې دا سړې د دې مستحق نه وى او د ده خيال د حقيقت سره مطابقت نه خورى -

حديث د باب په شهادات كښې تير شويدې - (۲)

۵۵=بَاب مَنْ أَثْنَى عَلَى أَخِيهِ بِمَا يَعْلَمُ

وَقَالَ سَعْدٌ مَا سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لِأَحَدٍ يَمْشِي عَلَى الْأَرْضِ إِنَّهُ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ إِلَّا لِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلَامٍ [ر:۳۶۰۱]

[۵۷۵۵] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ ذَكَرَ فِي الْإِزَارِ مَا ذَكَرَ قَالَ أَبُو بَكْرٍ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ إِزَارِي يَسْقُطُ مِنْ أَحَدِ شِقَّيْهِ قَالَ إِنَّكَ لَسْتَ مِنْهُمْ [ر:۳۴۶۵]

دې باب كښې امام بخارى رحمه الله دا واضحه كړيده چه كه په كوم مسلمان رور كښې دې واقعى يو صفت وى او سړى ته د دې علم وى نو دا صفت بيانول " تمادح مكروه " كښې داخل نه دې بلكه دا جائز دې (۳)، امام بخارى رحمه الله د حضرت سعد بن ابى وقاص قول نقل كړيدې چه كوم موصولاً په كتاب المناقب ، باب مناقب عبد الله بن سلام ﷺ كښې تيرشويدې.هغه فرمائى چه ما د يوكس باره كښې هم چه دې د زمكې دپاسه ګرځى د رسول الله ﷺ نه دا نه دى اوريدلې چه دې جنتى دې ماسوا د عبد الله بن سلام ﷺ په باره كښې..... خپله حضرت سعد بن ابى وقاص ﷺ په عشره مبشره كښې وو ، خو دوى د خپل ځان باره كښې د رسول الله ﷺ نه په خپله دا به نه وو اوريدلې - (۴)

---

(۱) أخرجه مسلم فى كتاب الزهد ، باب النهى عن المدح إذا كان فيه إفراط ..... (رقم الحديث : ۳۰۰۲) و أخرجه الترمذى فى كتاب الزهد ، باب ما جاء فى كراهية المدح و المداحين : ٤ \ ٥٩٩ (رقم الحديث : ٢٣٩٣) و أخرجه أبوداود فى كتاب الأدب ، باب فى كراهية التمادح : ٤ \ ٢٥٤ (رقم الحديث : ٤٨٠٤) و أخرجه الإمام أحمد فى مسانيد المقداد بن الأسود : ٦\ ٥)

(۲) صحيح البخارى ، كتاب الشهادات ، باب ما يكره من الإطناب فى لامدح .... (رقم الحديث : ۲۵۲۰)

(۳) فتح البارى ۱۰| ۵۸۷، ارشاد السارى ۱۳| ۸۱_

(۴) ارشاد السارى : ۱۳ \ ۸۱ ، عمدة القارى : ۲۲ \ ۱۳۳)

دويم روايت كتاب اللباس، باب قول الله تعالى (قل من حرم زينة الله ...) كښې تير شويدې . دوى حضرت صديق اكبر ﷺ ته اوفرمائل : "إنك لست منهم" ... (ته په متكبرينو كښې نه ئې) دې دواړو روايتونو كښې رسول الله ﷺ د حضرت عبد الله بن سلام او د حضرت صديق اكبر صفت بيان كړيدې ، معلومه شوه چه د يو مسلمان صفت بيانول ممنوع نه دې -

٥٦=بَاب قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَى وَيَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ [النحل:٩٠]

وَقَوْلِهِ إِنَّمَا بَغْيُكُمْ عَلَى أَنْفُسِكُمْ [يونس:٢٣]
ثُمَّ بُغِيَ عَلَيْهِ لَيَنْصُرَنَّهُ اللَّهُ [٦٠] وَتَرْكِ إِثَارَةِ الشَّرِّ عَلَى مُسْلِمٍ أَوْ كَافِرٍ

[٥٧٦٨] حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ مَكَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَذَا وَكَذَا يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ يَأْتِي أَهْلَهُ وَلَا يَأْتِي قَالَتْ عَائِشَةُ فَقَالَ لِي ذَاتَ يَوْمٍ يَا عَائِشَةُ إِنَّ اللَّهَ أَفْتَانِي فِي أَمْرٍ اسْتَفْتَيْتُهُ فِيهِ أَتَانِي رَجُلَانِ فَجَلَسَ أَحَدُهُمَا عِنْدَ رِجْلَيَّ وَالْآخَرُ عِنْدَ رَأْسِي فَقَالَ الَّذِي عِنْدَ رِجْلَيَّ لِلَّذِي عِنْدَ رَأْسِي مَا بَالُ الرَّجُلِ قَالَ مَطْبُوبٌ يَعْنِي مَسْحُورًا قَالَ وَمَنْ طَبَّهُ قَالَ لَبِيدُ بْنُ أَعْصَمَ قَالَ وَفِيمَ قَالَ فِي جُفِّ طَلْعَةٍ ذَكَرٍ فِي مُشْطٍ وَمُشَاقَةٍ تَحْتَ رَعُوفَةٍ فِي بِئْرِ ذَرْوَانَ فَجَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ هَذِهِ الْبِئْرُ الَّتِي أُرِيتُهَا كَأَنَّ رُءُوسَ نَخْلِهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ وَكَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ فَأَمَرَ بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأُخْرِجَ قَالَتْ عَائِشَةُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَهَلَّا تَعْنِي تَنَشَّرْتَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَّا اللَّهُ فَقَدْ شَفَانِي وَأَمَّا أَنَا فَأَكْرَهُ أَنْ أُثِيرَ عَلَى النَّاسِ شَرًّا قَالَتْ وَلَبِيدُ بْنُ أَعْصَمَ رَجُلٌ مِنْ بَنِي زُرَيْقٍ حَلِيفٌ لِيَهُودَ [ر:٣٠٠٤]

امام بخارى رحمه الله په ترجمة الباب كښې د قرآن كريم د درې آيتونو ذكر اوفرمائلو ، ړومبې آيت د سورة نحل دې (إن الله يأمر بالعدل والإحسان)

مولانا شبير احمد عثماني رحمه الله ليكى ديكښې د عدل او د احسان او د رشته دارانو د حقونو اداء كولو حكم وركړې شويدې - قرآن ته تبيانا لكل شيء ويلې شويدې - دا آيت د دې يو نمونه ده - ابن مسعود فرمائى چه الله تعالى د هر يو څيز د خير او د شر بيان په دې آيت كښې راجمع كړو - ګويا هيڅ يو عقيده ، خوي ، نيت ، عمل ، معامله بنه وى او كه بد داسې نشته دې چه امرا يا نهيا ددې تر لاندې داخل نه وى - بعض عالمان ليكي چه كه قرآن كريم كښې بل آيت نه وې نو يواځې دا آيت هم "تبيانا لكل شيء" د ثبوت دپاره كافى وو - شايد دې وجه نه خليفه راشد حضرت عمر بن عبد العزيز د جمعې په خطبه كښې دا درج

کړو او د امت دپاره ئې اسوه حسنه قائم کړه - آیت کښې د درې څیزونو ئې امر فرمائلې دې - عدل ، احسان ، ایتاء ذی القربی ... د " عدل " مطلب دا دې چه د سړې تمام عقائد ، اعمال ، اخلاق ، معاملات ، جذبات د اعتدال او د انصاف په تله تللې شوې وی . د افراط او د تفریط په وجه یو چاپړې د تلې هم نه خکته وی او نه بره - د سخت نه سخت دښمن سره چه هم معامله کوی نو چه انصاف لمن پرې نږدې ، د ده ظاهر او باطن یو شان وی چه کومه خبره د خپل ځان دپاره نه خوښه وی هغه د خپل ورور دپاره هم نه خوښوی - د " احسان " معنی دا ده چه انسان په خپله د نیکئ او د ښو مجسم نمونه شی او د نورو ښه غواړی . د مقام د عدل او د انصاف نه لږ اوچت شی د فضل او د عفو او د لطف او د رحمت خوئې اختیار کړی ، د فرض د اداء کولو نه پس تطوع او تبرع طرف ته قدمونه اوچت کړی ، د انصاف سره مروت اوساتی او دا یقین اولری چه څه نیکی کوی الله تعالی هغه وینی - د هلته نه به د نیکئ جواب ضرور په نیکئ ملاویږی - دا دواړه خویونه (یعنی عدل او احسان یا په نورو الفاظو سره انصاف او سړیتوب) خو د خپل نفس او د هر یو خپل او پردی او د دوست او د دښمن سره متعلق وو ، خو د رشته دارانو حق د پردو نه لږ زیات دې چه تعلقات د رشته دارئ قدرت یو بل پورې تړلې دی نو د دې خیال پریخودل نه دې پکار بلکه د رشته دارانو سره همدردی او دوی سره مروت او احسان کول د پردو په نسبت زیات کول پکار دی - صله رحمی یو مستقل نیکی ده چه کوم د رشته دارانو او د ذوی الارحامو دپاره درجه په درجه استعمالول پکار دی- ګویا د احسان نه پس ئې د ذوی القربی په تخصیص سره ذکر اوکړو په دې ئې خبردارې ورکړو چه عدل او انصاف او خوئی د ټولو دپاره یو شان دې خو د مروت او د احسان کولو په وخت بعض ځایونو کښې د بعضو سره زیات رعایت او اهتمام کول پکار دی . د مراتبو فرق هیرول یو قسم د قدرت د قائم کړې قوانینو نه انحراف کول دی . اوس چه د دې درې واړو لفظونو په جامعیت باندې نظر اوساتی نو پوه انسان فیصله کولې شی چه هغه کوم داسې فطری ښه خوئ او نیکی او صفت په دنیا کښې پاتې دې چه هغه د دې درې فطری اصولو د احاطې نه بهر دی -

دې آیت کریمه کښې ئې منع هم د درې څیزونو نه کړیده ، فحشاء ، منکر . بغی . ځکه چه انسان کښې درې قوتونه دی چه د هغې بې ځایه او په غلط استعمال سره ټولې خرابئ او بدئ پیدا کیږی ، قوت بهیمیه شهوانیه ، قوت وهمیه شیطانیه . قوت غضبیه سبعیه ، غالبا په " فحشاء " سره هغه د بې حیائې خبرې مراد دی چه د کوم منشاء د شهوت او د بهیمیت افراط وی او " منکر " د معروف ضد دې یعنی د نامعقول کار چه د هغې نه فطرت سلیمه او صحیح عقل انکار کوی - ګویا د قوت وهمیه شیطانیه په غلبې سره د قوت عقلیه ملکیه دباویږی - دریم څیز " بغی " دې یعنی سرکشی کول او د حد نه وتل ظلم او زیاتئ ته ملا تړل د درندګانو په شان خوړلو او خېرې کولو ته ورمنډه وهل او د نورو د ځان او د مال او د عزت ناموس وغیره اخستو دپاره ناحق دست درازی کول ، دا قسم ټول حرکتونه کول د قوت سبعیه غضبیه په بې ځایه استعمال سره پیدا کیږی . حاصل دا چه په آیت کښې ئې تنبیه ورکړیده چه انسان تر کومې دغه درې قوتونه په قابو کښې او نه ساتی او قوت عقلیه ملکیه د دې ټولو حاکم نه کړی نو دې مهذب او پاک نه شی کیدې -

اکثم بن صفي چه دا آیت کریمه واوریدو نو ده خپل قوم ته اوویل "خه وینم چه دا پیغمبر د تماموښو او د اعلی اخلاقو تعلیم ورکوي او د بدو اخلاقو او اعمالو نه منع کول کوي . نو تاسو دده په منلو کښې تُندي اوکړئ . فكونوا في هذا الأمر رؤوسا و لا تكونوا فيه أذنابا (یعنی تاسو دې سلسله کښې سر جوړ شئ او تاسو لکۍ مه جوړیږئ) حضرت عثمان بن مظعون فرماني چه هم دا آیت کریمه ما واوریدلو نو څما زړه کښې ایمان مضبوط شو او د محمد ﷺ محبت مې په زړه کښې ځائې اونیولو " (۱)

دویم آیت د سورة یونس دې (إنما بغيكم على أنفسكم) یعنی د ستاسو بغاوت او سرکشي به په خپله د ستاسو دپاره وبال او عذاب جوړ شي ، او دریم آیت کریمه د سورة حج دې (ثم بغي عليه لينصرنه الله) یعنی کُه د چا سره ظلم شوې وي د هغه به الله تعالی مدد او نصرت اوکړي -

قوله: وترك إثارة الشر على مسلم أو كافر: إثارة په معنی د رااوچتولو او د رابرڅیره کولو دي یعنی د یو مسلم او د کافر خلاف شر رابرڅیره کول پریخودل امام بخاري رحمه الله په دې باب کښې بیان کړیدې -

د باب لاندې امام بخاري رحمه الله هغه حدیث ذکر کړیدې چه هغې کښې په رسول الله ﷺ د جادو کیدو واقعه ذکر شویده ، د دې تفصیل کتاب الطب ، باب " سحر " و باب هل يستخرج السحر کښې تیر شویدې - (۲)

د حدیث د ایاتونو سره مناسبت : د حدیث د آیتونو سره بیانولو کښې شارحین لیکي چه دې آیتونو کښې الله تعالی د بغي او د ظلم نه منع کړیده او دا ئې خودلې ده چه د سرکشئ نقصان خپله سرکشئ او ظلم کوونکي ته واپس کیږي او دا چه د مظلوم به الله جل شانه امداد کوي ...... د الله تعالی د طرفه د مظلوم دپاره د مدد او د نصرت راتلل تقاضا کوي چه د الله په دې احسان او فضل باندې شکر ادا کړې شي ، او د دې شکر یو صورت دا دې چه دا ظالم معاف کړې ، لکه چه روایت کښې رسول الله ﷺ جادو کوونکي کس معاف کړو او ورته ئې اوفرمائل " أما أنا فأكره أن أثير على الناس شرا " (په خلقو کښې شر رااوچتول ما ته خوښ نه دي)

حاصل دا دې چه آیتونو کښې د فضل او د احسان او د الله تعالی د امداد ذکر دې چه د هغې تقاضا شکر دې او د مظلوم د ظالم نه بدله نه اخستل هم د دې شکر یو صورت دې (۳)

حافظ ابن حجر رحمه الله یو بل مناسبت بیان کړیدې هغه لیکي :

ويحتمل أن تكون مطابقة الترجمة للآيات و الحديث من جهة أنه ترك استخراج السحر خشية أن يثور على الناس منه شر، فسلك مسلك العدل في أن لا يحصل لمن لم يتعاط السحر شيء من أثر الضرر الناشيء عن

---

(۱) تفسیر عثماني : ۳٦۷ ، سورة النحل : الآية : ۹۰)

(۲) ۱۸ کشف الباري : باب السحر : ۱۰٤ ، ۱۱۰)

(۳) فتح الباري : ۱۰ \ ۵۸۸ ، ارشاد الساري : ۱۳ \ ۸۳ ، عمدة القاري : ۲۲ \ ۱۳٤)

السحر شر، وسلك مسلك الإحسان في ترك عقوبة الجاني" (١)

د دې حاصل دا دې چه آيت كريمه كښې د عدل او احسان ذكر دې او رسول الله ﷺ هم د جادو په دې واقعه كښې په عدل او په احسان دواړو عمل كړيدې ، په عدل داسې چه د جادو دا واقعه دوی مشهوره نه كړه دې دپاره چه كوم خلق دوی كښې شريك نه دی چه دوی كښې شر او فساد خور نه شي ، څكه چه كه دوی د سحر كوونكو يهوديانو نومونه خودلې وې نو مسلمانانو به د دوی خلاف كارروائي كوله نو دا معامله به نزاع او جنګ او جدل ته رسيدلې وه ... دې وجه نه دا معامله دوی دباو كړه او د عدل او د انصاف لار ئې اختيار كړه ، بل طرف ته ئې د جادو كولو مجرم معاف كړو په احسان ئې عمل اوكړو داسې په آيت كريمه كښې چه د كوم عدل او احسان حكم دې په دې باندې دوی عمل اوكړو -

٥٧=بَاب مَا يُنْهَى عَنْ التَّحَاسُدِ وَالتَّدَابُرِ

وَقَوْلِهِ تَعَالَى وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ[ه]

[٥٧١٧] حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ مُحَمَّدٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الْحَدِيثِ وَلَا تَحَسَّسُوا وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا تَحَاسَدُوا وَلَا تَدَابَرُوا وَلَا تَبَاغَضُوا وَكُونُوا عِبَادَ اللَّهِ إِخْوَانًا[ر:٤٨٤٩]

[٥٧١٨] (٢) حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنْ الزُّهْرِيِّ قَالَ حَدَّثَنِي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَبَاغَضُوا وَلَا تَحَاسَدُوا وَلَا تَدَابَرُوا وَكُونُوا عِبَادَ اللَّهِ إِخْوَانًا وَلَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ[ر:٥٧٢٦]

دې باب كښې امام بخاری رحمه الله د دوه څيزونو ممانعت بيان كړيدې ، يو د حسد او بل د تدابر -

د حسد معنى او ددې علاج : د حسد معنى ده چه څوك په نعمت او په خوشحالو كښې اووينې او د دې د زوال تمنا اوكړې ، دا جائز نه ده (٣)

خو كه څوك دې په نعمت كښې اوليدلو او دې سره دې دا جذبه او تمنا پيدا شي چه ما سره دې هم داسې نعمت وی نو ديته غبطه وائي او دا جائز دې- (٤)

حسد يو مهلكه باطنى بيمارى ده ، د دې په وجه انسان هيڅ بې هيڅه چه د خلقو سره د الله

---

(١) فتح البارى : ١٠ \ ٥٨٨)

(٢) ٥٧١٨) الحديث أخرجه البخارى أيضا فى كتاب الأدب ، باب الهجرة (رقم الحديث ٥٧٢٦) و أخرجه مسلم فى كتاب البر و الصلة و الآداب ، باب تحريم التحاسد و التباغض و التدابر : ٤ \ ١٩٨٣ (رقم الحديث : ٢٥٥٩)

(٣) فتح البارى : ١٠ \ ٥٩١ ، عمدة القارى : ٢٢ \ ١٣٦ ، ارشاد السارى : ١٣ \ ٨٣)

(٤) فتح البارى ، كتاب العلم ، باب الإغتباط فى العلم و الحكمة : ١ \ ١٦٧ ، عمدة القارى ، كتاب العلم باب الإغتباط فى العلم و الحكمة : ٢ \ ٥٧ ، معارف القرآن : ٨ \ ٨٤٩)

تعالی نعمتونه اووینی نو دي سوزي او ویلي کیږی -
صوفیان حضرات د حسد علاج دا ذکر کوی چه حاسد دي په زړه باندي جبر اوکړی او څو خله دي په مختلفو مجلسونو کښي د محسود تعریف دي اوکړی ، او ده دپاره دي دعا اوغواړی نو داسي به رو رو د ده حسد ختمیږی - ([1])

په قرآن کریم کښي د حاسد د حسد د شر نه پناه غوستي شویده (ومن شر حاسد إذا حسد) "إذا حسد" معنی ده إذا أظهر حسده وعمل بمقتضاه يعنی چه حاسد كله خپل حسد ظاهر کړی او ددي مطابق د محسود خلاف د دښمنئ شروع اوکړی ، ځکه چه د اظهار د حسد نه وړاندي محسود ته د حاسد د شر نه څه نقصان نه شی رسیدي - ([2])

د تدابر معنی علامه ابن اثیر لیکلي ده : التدابر: هو أن يعطى كل واحد من الناس أخاه دبره وقفاه، فيعرض عنه ويهجره ([3])
یعنی چه سړي خپل رور ته شا واړوی او ده نه اعراض اوکړی او دي پریږدی -
علامه هروی د تدابر ترجمه په تقاطع سره کړیده ، وائی : تدابر القوم أی أدبر كل واحد عن صاحبه یعنی چه قطع تعلق اوکړي شی ([4]) امام مالك رحمه الله په موطاء کښي فرمائی أحسب التدابر إلا الإعراض عن المسلم يدبر عنك بوجهه فتدبر عنه بوجهك ([5]) یعنی د تدابر معنی دا ده چه د مسلمان نه اعراض اوکړي او مخ واړولي شی -

قوله: حدثنا بشر بن محمد.....: حضور اکرم ﷺ فرمائی چه تاسو د بدګمانئ نه بچ شئ ځکه چه بدګمانی د ټولو نه زیاته دروغژنه خبره ده او مه د چا عیبونه تلاش کړي او مه تجسس کوئ او مه د یو بل سره حسد کوئ او مه د یو بل سره قطع تعلق کوئ او مه د یو بل سره بغض ساتئ اے د الله بندګانو خپلو کښي رونړه شئ -

قوله: إياكم والظن: د ظن نه بدګماني مراد ده یعنی صرف د ګمان په بنیاد په چا تهمت مه لګوئ - حدیث کښي ني " ظن " ته " أكذب الحديث " ویلي دي ، حال دا دي چه کذب او صدق د قول صفت دي او د " ظن " تعلق د قول سره نه دي -
د دي جواب دا ورکړي شویدي چه دلته د کذب نه خلاف واقع مراد دي ، برابره خبره ده چه دا قول وی او که فعل وی - ([6])

---

[1]) بهشتی زیور ، حصه هفتم ، ٤١ ، دارنګه اوګورئ تربیت السالک : ١ \ ٣٢٨)
[2]) الجامع لأحكام القرآن للقرطبی ، سورة الفلق : ٢ \ ٢٥٩ ، روح المعانی ، سورة الفلق : ١٥ \ ٣٢٧)
[3]) النهاية لابن الأثير ،مادة " دبر " : ٢ \ ٩٧)
[4]) عمدة القاری : ٢٢ \ ١٣٦ ، فتح الباری : ١٠ \ ٥٩٢ ، ارشاد الساری : ١٣ \ ٨٥)
[5]) الموطاء للإمام مالک ، کتاب الجامع ، باب ما جاء فی المهاجرة : ٢ \ ٧٠٦)
[6]) عمدة القاری: ٢٢ \ ١٣٦، فتح الباری: ١٠ \ ٥٩١ .ارشادالساری : ١٣ \ ٨٥ ، شرح الکرمانی : ٢١ \ ٢٠٢)

او دا هم ویلې شي چه د ظن نه مراد ، د ظن نه پیدا کیدونکي قول دي مجازا دیته نې ظن ویلې دي (۱)

قوله: ولا تحسّسوا ولا تجسّسوا: علامه کرماني رحمه الله فرمايي چه تحسس او تجسس دواړه په یو معنی دی - (۲)
د ابراهیم حربی او د ابن الانباری هم دا خیال دي - (۳)

د تحسس او د تجسس په مینځ کښې فرق: خو علامه عینی رحمه الله فرمائی چه د دواړو په مینځ کښې فرق دې : ① یو فرق دا بیان شویدي چه تجسس (په جیم سره) عیبونو تلاش کولو ته وائی او تحسس د یو قوم خبرو اوریدو ته وائی - (۴)
② بعضې وائی چه تجسس د باطنی امورو په باره کښې تحقیق او تلاش ته وائی او عموما د شر دپاره استعمالیږی او تحسس د هغه څیزونو متعلق جستجو او تلاش ته وائی چه د هغې د ادراك تعلق د سترګو او د غوږونو سره وی ، علامه قرطبی رحمه الله دیته ترجیح ورکړیده او تفسیر قرطبی کښې دوی دا اعرف ګرځولې دي - (۵)
③ بعضې وائی تجسس وائی دیته چه د یو سړی تتبع د غیر په وجه کول او تحسس دیته وائی چه د یو سړی تتبع د خپل ځان دپاره کول دی د نحو مشهور امام ثعلب هم دا اختیار کړیدي - (۶)

قوله: وكونوا عباد الله إخوانا: دیکښې " إخوانا " د " كونو " خبر دي او " عبادالله " منادی دي ، حرف نداء محذوف دي ...... أى كونوا إخوانا يا عباد الله او دا د عباد الله نه بدل یا د کونوا دپاره خبر ثانی هم ګرځولې شي - (۷)
دې حدیث کښې نې د حسد ، بغض ، قطع تعلق او د بدګمانئ نه منع کړیده ، مصنف عبد الرزاق کښې یو روایت نقل شویدي حضور اکرم ﷺ فرمائی " ثلاث لا يعجزهن ابن آدم: الطيرة، و سوء الظن ، و الحسد ، قال : فينجيك من الطيرة ألا تعمل بها ، وينجيك من سوء الظن ألا تتكلم به ، وينجيك من الحسد ألا تبغى أخاك سوء " (۸)

---

۱) فتح الباری : ۱۰ \ ۵۹۱ ، ارشاد الساری : ۱۳ \ ۸۵)
۲) شرح الکرمانی : ۲۱ \ ۲۰۲)
۳) عمدة القاری : ۲۲ \ ۱۲۶ ، فتح الباری : ۱۰ \ ۵۹۱ ، ارشاد الساری : ۱۳ \ ۸۵)
۴) عمدة القاری : ۲۲ \ ۱۳۶ ، فتح الباری : ۱۰ \ ۵۹۱ ، ارشاد الساری : ۱۳ \ ۸۵)
۵) عمدة القاری : ۲۲ \ ۱۳۶ ، فتح الباری : ۱۰ \ ۵۹۱ ، ارشاد الساری : ۱۳ \ ۸۵ ، الجامع لاحکام القرآن للقرطبی سورة الحجرات : ۱۶ \ ۳۳۳)
۶) عمدة القاری : ۲۲ \ ۱۳۶ ، فتح الباری : ۱۰ \ ۵۹۱)
۷) ارشاد الساری : ۱۳ \ ۸۵)
۸) المصنف للحافظ عبد الرزاق ، باب الطیرة : ۱۰ \ ۴۰۳ (رقم الحدیث : ۱۹۵۰۴)

درې څيزونه ابن آدم لره نه شي عاجز (ستړې) كولې ، يو بدشګوني كول ، دويم بدګماني كول دريم حسد ، د بد شګونۍ نه نجات داسې حاصليدې شي چه په دې عمل اونكړې شي ، د بد ګمانۍ نه د نجات د حاصليدو طريقه دا ده چه ددې په ژبه سره اظهار او نه كړې شي ، او د حسد نه نجات داسې حاصليدې شي چه دخپل زور بدى تلاش نه كړې شي -
علامه قرطبى هم د امام ابوداود په حواله سره د دې مفهوم يو حديث نقل كړيدې - (۱)

د باب دويم حديث كښې هم دا خبرې ذكر شويدى ، خو ديكښې دا اضافه هم ده لايحل لمسلم أن يهجر أخاه فوق ثلاثة أيام- يعنى يو مسلمان لره نه دى جائز چه دې د خپل مسلمان رور سره قطع تعلق اوكړى او د درې ورځو نه زيات ئې پريږدى ، دلته څو خبرې ذهن نشين كړئ :
د درې ورځو نه زيات ترك تعلق جائز نه دې
① لكه چه حديث كښې دى چه د درې ورځو نه زيات د خپل مسلمان رور سره قطع تعلق او اعراض كول جائز نه دى ..... معلومه شوه چه د درې ورځو نه د كمې مدې دپاره قطع تعلق كولو جواز شته - (۲)
حكيم الامت تهانوى رحمه الله او نورو بعضو محدثينو ددې وجه دا ليكلې ده چه د تريخوالى او د ترخو خبرو او دغصې په وجه كله قطع تعلق كول راځى ، خو د درې ورځو مده دومره ده چه ديكښې د سړى غصه په خپله ختميږى ، دې وجه نه ده دپاره اوس جائز نه دى چه قطع تعلق لره برقرار اوساتى - (۳)
د فاسق سره قطع تعلق كولې شي :② دا حكم د هغه خلقو په باره كښې دې ، چه كوم پابند د صوم او د شريعت وى خو كه څوك فاسق او فاجر دې يا چا څه شرعى حكم مات كړې وى، د دې په بنياد دوى سره قطع تعلق د درې ورځو نه زيات هم كيدې شي -
په خپله رسول الله ﷺ په غزوه تبوك كښې د درې اصحابو سره د پنځوستو ورځو پورې قطع تعلق كړې وو.دارنګه د ازواج مطهرات نه د يوې مياشتې دپاره په كوركښې جدا شوې وو(۴)
علامه قسطلانى رحمه الله فرمائى چه د " أخ " ئې ذكر كولو سره د دې حكم علت طرف ته اشاره كول دى چه تركومې د اخوت تعلق او دا نسبت برقرار دې ، تر هغې دا حكم دې خو كه چا د دې نسبت په خپله خيال او نه ساتلو ، او دا رابطه ئې ماته كړه نو دده حق كښې به دا حكم لاګو نه وى ، نو د خواهش پرستو او د بدعتيانو سره هميشه دپاره ترك تعلق كول جائز دى ، چه تر څو دې توبه او حق ته رجوع اونكړى ، لكه چه دې ليكى :

---

(۱) الجامع لاحكام القرآن للقرطبى سورة الحجرات : ۱۶\۳۳۲)
(۲) فتح البارى ، كتاب الأدب ، باب الهجرة : ۱۰\۶۰۳ ، ارشاد السارى : ۱۳\۹۳)
(۳) فتح البارى : ۱۰\۶۰۸ ، المرقاة شرح المشكاة ، كتاب الآداب ، باب ما ينهى عنه من التهاجر ..... ۹\۲۶۲ ، ارشاد السارى : ۱۳\۹۳)
(۴) شرح الطيبى على مشكاة المصابيح ، شرح المشكاة ، كتاب الآداب ، باب ما ينهى عنه من التهاجر ..... ۹\۲۰۸ (رقم الحديث : ۵۰۲۷) المرقاة شرح المشكاة ، كتاب الآداب ، باب ما ينهى عنه من التهاجر ..... ۹\۲۶۲ ، عمدة القارى : ۲۲\۱۳۷)

"تخصيص الأخ بالذكر إشعار بالعلية و مفهومه أنه إن خالف هذه الشريطة، و قطع هذه الرابطة جاز هجرانه فوق ثلاثة، فإن هجرة أهل الأهواء و البدع دائمة على ممر الأوقات ما لم تظهر التوبة و الرجوع إلى الحق" (۱)

۞ اوس دا خبره پاتې کيږی چه قطع تعلقی به څنګه ختميږی ، جمهور عالمان فرمائی چه صرف کولو سره قطع تعلقی ختميږی او دې د دې وعيد نه بهر کيږی- (۲)

خو امام احمد وائی چه قطع تعلق به هغه وخت ختم اوګڼړلې شی چه کله تعلقات په خپل سابقه معمول واپس راشی ، کُه په ترک د تعلقاتو سره ده ته درد رسيدلې وی نو صرف په سلام اچولو سره به هجران نه ختميږی - (۳)

۵۸=بَابٌ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلَا تَجَسَّسُوا [الحجرات:۱۲]

[۵۷۱۹] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الْحَدِيثِ وَلَا تَحَسَّسُوا وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا تَنَاجَشُوا وَلَا تَحَاسَدُوا وَلَا تَبَاغَضُوا وَلَا تَدَابَرُوا وَكُونُوا عِبَادَ اللَّهِ إِخْوَانًا [ر:۴۸۴۹]

باب کښې ذکرشوی آيت کريمه کښې د کثرت د ظن نه منع راغلې ده او ويلې شويدی چه د ظن بعض صورتونه په زمره د ګناه کښې راځی -

د ظن قسمونه : علامه قرطبی رحمه الله فرمائی چه د ظن دوه قسمونه دی يو محمود او دويم مذموم ، د چا باره کښې ښه ظن لرل دا په محمود ظن کښې داخل دې او بغير د څه دليل او د علامته د چا متعلق بد ګمان کول دا په مذموم ظن کښې داخل دې - (۴)

کُه يو کس کښې آثار د خير غالب او ښکاره وی ، نو دده متعلق بد ګمانی کول صحيح نه دی ، خو کُه يو کس فاسق او فاجر دې او د ده فسق او فجور مشهور دې نو د ده متعلق بد ګمانی کول (إن بعض الظن إثم) کښې نه دې - (۵)

لکه چه امام بخاری رحمه الله په راتلونکې "باب ما يجوز من الظن" هم دې خبرې ته اشاره کولو دپاره قائم کړيدې ، حضرت حسن بصری رحمه الله به فرمائل - كنا في زمن، الظن بالناس فيه حرام، و أنت اليوم في زمن اعمل و اسكت، و ظن في الناس ما شئت (۶)

---

(۱) ارشاد الساري : ۱۳\۸۶)
(۲) عمدة القاري : ۲۲\۱۳۷ ، فتح الباري : ۱۰\۶۰۸ ، ارشاد الساري : ۱۳\۹۵)
(۳) عمدة القاري : ۲۲\۱۳۷ ، فتح الباري : ۱۰\۶۰۸ ، ارشاد الساري : ۱۳\۹۵)
(۴) الجامع لأحكام القرآن للقرطبي ، سورة الحجرات : ۱۶\۳۳۲)
(۵) فتح الباري : ۱۰\۵۹۵)
(۶) الجامع لأحكام القرآن للقرطبي ، سورة الحجرات : ۱۶\۳۳۲)

يعني مونږ په يو داسې دور کښې وو چه ديکښې د چا متعلق بد گمان کول حرام وو او اوس خو د ستاسو زمانه داسې ده چه ديکښې خپل کار اوکړه او چپ شه او د خلقو متعلق هر قسم گمان کيدې شی (ځکه چه فاسقان او بد خلق ډير شويدی)

د خلقو عيبونه تلاش کول صحيح نه دی . بغير د څه دليله او د څه قرينې نه هيڅ بې هيڅه په چا بدگمان کول د خلقو عيبونه تلاش کول او د دوی د کمزورو تجسس کول شرعا ممنوع او ناجائز دی او دې سره ډيرې معاشرتی خرابئ او بې قاعدگئ پيدا کيږی . ظاهره ده چه هر انسان کښې څه نا څه بدی او کمزوری به وی ، که په تلاش او په جستجو کښې څوك اولگی نو يقينا د هر انسان په باره کښې به عيب او کمزوری درته په نظر راشی او داسې کس نه به ما سوا د خپل ځان نه بل څوك خاوند د نيکئ او ښو په نظر نه راځی . رسول الله ﷺ دې حقيقت ته اشاره کوی او فرمائی "إن اتبعت عورات الناس، أفسدتهم أو كدت أن تفسدهم " (١) (که ته د خلقو په عيبونو په تلاش کښې اولگې نو ټولو خلقو لره به خراب او فاسد کړې)

يو بل روايت کښې دی ، چه دوی ﷺ فرمائلې دی " إن الأمير إذا ابتغى الريبة فى الناس أفسدهم (٢) (يعنی که امير په خلقو کښې تهمتونه او عيبونه تلاش کوی نو دې به دوی لره خراب کړی)

اود حضرت ابو برزه ﷺ روايت دې ، چه رسول الله ﷺ فرمائلې دی "يا معشر من آمن بلسانه ، ولم يدخل الإيمان قلبه ، لا تغتابوا المسلمين ، ولا تتبعوا عوراتهم ، فإن من اتبع عوراتهم يتبع الله عورته و من يتبع الله عورته يفضحه فى بيته (٣) (دوی ﷺ منافقانو ته خطاب اوکړو او وې فرمائل چه اے هغه خلقو چه دوی په ژبه اسلام قبول کړيدې خو ايمان د دوی په زړونو کښې ځائې نه دې نيولې ، د مسلمانانو غيبت مه کوئ او ددوی عيبونه مه تلاش کوئ ځکه چه څوك د مسلمانانو په عيبونو پسې اولگی الله تعالی به دده په عيبونو پسې اولگی او الله تعالی چه د چا په عيبونو پسې اولگی نو ده لره به په کور دننه رسوا کړی)

د دې احاديثو نه دا خبره صفا معلوميږی چه چا پسې لگيدل او د هغه عيبونه تلاش کول او بې د څه قرينې او د دليله بد گمانی کول صحيح نه دی -

د لاتناجشوا معنی : روايت د باب دينه وړاندې باب کښې هم تير شويدې ، خو دلته د يو جملې د " و لا تناجشوا " اضافه ده . تناجش دهوکې ته وائی ، ددې صورت دا کيږی چه يو څيز اخستل دې مقصود نه وی ، خو د نورو خلقو دې طرف ته توجه پيدا کولو دپاره د دې قيمت زيات بيان کړې شی او خلقو ته دا تاثر ورکړی چه دې په دې قيمت اخستو ته تيار دې ، حال دا دې چه مقصود ئې په خپل اخستل نه وی ، بل په اخستلو تيارول وی - (٤)

---

١) سنن أبی داود ، كتاب الأدب ، باب فى النهى عن التجسس : ٤ \ ٢٧٢ (رقم الحديث :٤٨٨٨).....) سنن أبی داود ، كتاب الأدب ، باب فى النهى عن التجسس : ٤ \ ٢٧٢ (رقم الحديث :٤٨٨٨).....) سنن أبی داود ، كتاب الأدب ، باب فى النهى عن التجسس : ٤ \ ٢٧٢ (رقم الحديث :٤٨٨٨).....

٢) سنن أبی داود ، كتاب الأدب ، باب فى النهى عن التجسس : ٤ \ ٢٧٢ (رقم الحديث :٤٨٨٩)

٣) سنن أبی داود ، كتاب الأدب ، باب الغيبة : ٤ \ ٢٧٠ (رقم الحديث :٤٨٨٠) ......

٤) مجمع بحار الانوار : ٤ \ ٦٦٢ ، النهاية لابن الاثير : ٥ \ ٢١)

شارحینو او اهل لغتو د نجش تعریف کړیدې " هوأن یزید فی السلعة و هو لا یرید شراءها ، بل لیوقع غیرها فیها " ([1])

۵۹ = باب ما یجوز من الظن

[۵۷۲۰] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُفَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَظُنُّ فُلَانًا وَفُلَانًا يَعْرِفَانِ مِنْ دِينِنَا شَيْئًا قَالَ اللَّيْثُ كَانَا رَجُلَيْنِ مِنَ الْمُنَافِقِينَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بِهَذَا وَقَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا وَقَالَ يَا عَائِشَةُ مَا أَظُنُّ فُلَانًا وَفُلَانًا يَعْرِفَانِ دِينَنَا الَّذِي نَحْنُ عَلَيْهِ

حضرت عائشه ﷺ نه روایت دې رسول الله ﷺ فرمائلې دی ما ته پته نشته چه فلانې فلانې سړې څمونږ د دین باره کښې څه خبره هم ورته معلومه ده ، لیث بن سعد فرمائی چه دا دواړه منافقان وو -

دویم روایت کښې حضرت عائشه ﷺ فرمائی رسول الله ﷺ ما ته راغلو او وې فرمائل : " څه د فلانی فلانی سړی ګمان نه کوم چه مونږ په کوم دین یو چه دوی ته د دې متعلق څه معلوم هم دی " -

د ترجمة الباب مقصد : حضرت ګنګوهی رحمه الله د دې باب متعلق فرمائی : " هذا باب بیان جواز إظهار ما فی ظن الرجل ، أو المعنی : باب ما یکون فی الظن من جواز أو کراهة ، أو حرمة ، فالظن الظاهر دلیله جائز کما هو ظاهر الحدیث ، و الظن الذی لیس علیه قرینة و فیه إساءة ظن بالآخر لا یجوز " ([2])

یعنی دې باب کښې ئې د ظن د اظهار جائز صورت خودلې دې یا دې اوویلې شی چه د ظن یو صورت د جواز او دویم د کراهت او د حرمت دې ، چه د کوم ظن بنیاد بالکل په واضح دلیل وی نو هغه جائز دې لکه چه حدیث د باب کښې دې ، خو هغه بدګمانی چه په هغې څه قرینه او دلیل نه وی نو دا جائز نه ده -

شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا رحمه الله فرمائی چه دا باب د سابقه باب نه په منزله د استثناء دې ([3]) یعنی په سابقه باب کښې د ظن نه ممانعت راغلې وو او دې باب کښې ئې د جواز او د استثناء صورت بیان کړو -

علامه کرمانی رحمه الله لیکی : " فإن قلت : ترجم بوجود الظن ، وفی الحدیث نفی الظن ، قلت : العرف فی قول القائل : ما أظن زیدا فی الدار : أظنه لیس فی الدار " ([4])

---

[1] عمدة القاری : ۲۲\۱۳۷ ، فتح الباری : ۱۰\۵۹٤ ، ارشاد الساری : ۱۳\۸۶)

[2] لامع الدراری علی جامع البخاری : ۱۰\۲۳)

[3] لامع الدراری علی جامع البخاری : ۱۰\۲۳)

[4] شرح الکرمانی : ۲۱\۲۰)

او علامه قسطلانی رحمه الله لیکی :

"فالنفی فی الحدیث لظن النفی، لا النفی للظن، وفی الترجمة إثبات الظن، فلا تنافی بینه وبین الترجمة" (۱)

حاصل دا دې چه ترجمة الباب کښې د ظن اثبات دې او په حدیث کښې ئې " ما أظن ... " اوویلې نو حضور ﷺ نفی اوکړه نو د حدیث نه به ترجمة الباب څنګه ثابتیږی -

د دې جواب دا دې چه حدیث کښې د ظن نفی نشته دې بلکه نفی د ظن یعنی د منفی ظن ذکر دې، ظن د یو کار د کیدو متعلق هم کیدې شی او د یو کار دنه کیدو متعلق هم کیدې شی ، حدیث د باب کښې د دې دویم صورت ذکر دې او دا د ترجمة الباب منافی نه دې -

علامه کرمانی په دې د پوهیدو دپاره یو مثال ذکر کړیدې چه یو سړې وائی ما أظن زیدا فی الدار (د زید متعلق څما خیال نه دې چه دې په کور کښې دې) نو دې جُمله کښې په حقیقت کښې د ظن نفی نه ده بلکه د منفی ظن ذکر دې او مطلب ئې دا دې چه أظنه لیس فی الدار یعنی څما خیال دې چه دې په کور کښې نشته دې -

روایت د باب کښې چه د کومو دوه سړو متعلق حضور اکرم ﷺ اوفرمائل چه دوی څمونږ د دین نه ناخبره دی . حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ما ته ددې دواړو نومونه معلوم نه شو - (۲)

۶۰- بَاب سَتْرِ الْمُؤْمِنِ عَلَى نَفْسِهِ

[۵۷۲۱] (۳) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ ابْنِ أَخِي ابْنِ شِهَابٍ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ كُلُّ أُمَّتِي مُعَافًى إِلَّا الْمُجَاهِرِينَ وَإِنَّ مِنْ الْمُجَاهَرَةِ أَنْ يَعْمَلَ الرَّجُلُ بِاللَّيْلِ عَمَلًا ثُمَّ يُصْبِحَ وَقَدْ سَتَرَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ فَيَقُولَ يَا فُلَانُ عَمِلْتُ الْبَارِحَةَ كَذَا وَكَذَا وَقَدْ بَاتَ يَسْتُرُهُ رَبُّهُ وَيُصْبِحُ يَكْشِفُ سِتْرَ اللَّهِ عَنْهُ

[۵۷۲۲] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ صَفْوَانَ بْنِ مُحْرِزٍ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ ابْنَ عُمَرَ كَيْفَ سَمِعْتَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي النَّجْوَى قَالَ يَدْنُو أَحَدُكُمْ مِنْ رَبِّهِ حَتَّى يَضَعَ كَنَفَهُ عَلَيْهِ فَيَقُولُ عَمِلْتَ كَذَا وَكَذَا فَيَقُولُ نَعَمْ وَيَقُولُ عَمِلْتَ كَذَا وَكَذَا فَيَقُولُ نَعَمْ فَيُقَرِّرُهُ ثُمَّ يَقُولُ إِنِّي سَتَرْتُ عَلَيْكَ فِي الدُّنْيَا فَأَنَا أَغْفِرُهَا لَكَ الْيَوْمَ [ر: ۲۳۰۹]

امام بخاری رحمه الله مقصد دا دې چه د مؤمن نه ګناه کیږی خو د دې ښکاره او خورول نه

---

۱) ارشاد الساری : ۱۳ \ ۸۷)

۲) فتح الباری : ۱۰ \ ۵۹۵)

۳) ۵۷۲۱) الحدیث أخرجه مسلم فی کتاب الزهد و الرقائق . باب النهی عن هتک الإنسان ستر نفسه : ۴ \ ۲۲۹۱ (رقم الحدیث : ۲۹۹۰)

دی پکار ، په ښکاره کولو او په خوررولو د معصیت سره په معاشره کښې گناه خورېږی او ددې بد والې د خلقو د زړه نه اوځی -

حدیث د باب کښې رسول الله ﷺ فرمائی چه څما د تمام امت گناهونه به معاف شی . خو د هغه خلقو چه کوم علانیه گناه کوی (دوی ته به معافی نه ملاوېږی) بې شك دا ډیره د بې حیائی خبره ده چه یو سړې د شپې یو د بدئ کار اوکړی او الله تعالی په ده پرده واچوی خو سحر کیدو باندې دا سړې په خپله اووائی (ښکاره ئې کړی) ، اے فلانی ما د شپې دا دا حرکت کړې وو ، حال دا دې چه ده دا شپه په داسې حالت کښې تیره کړه چه الله تعالی په ده باندې پرده اچولې وه ، خو ده په سحر کیدو سره د الله تعالی پرده اوچته کړه -

قوله: كل أمتي معافى : مُعافیٰ د باب مفاعله نه د اسم مفعول صیغه ده ، په میم پیش دې یعنی څما ټول امت به معاف کړې شی - ([1])

قوله: إلا المجاهرين : د مجاهر تعریف دې هوالذی جاهربمعصیته وأظهرها ([2]) یعنی چه کوم علانیه گناه کوونکې وی -

" المجاهر " په حالت نصبی سره د اکثرو روایت دې ، ([3]) او په ترکیب کښې مستثنی متصل واقع کیږی ، مستثنی متصل منصوب وی -

په بعض روایتونو کښې " المجاهرون " په حالت رفعی سره راغلې دې ([4]) دې صورت کښې د کوفیانو په مسلك خو هیڅ اشکال نشته دې څکه چه د دوی په نزد دا استثناء منقطع ده...... او " إلا " د لکن په معنی دې ، " المجاهرون " د مبتداء کیدو په وجه مرفوع دې او ددې خبر د " لا يعافون " محذوف دې ، تقدیر د عبارت دا دې "لكن المجاهرون بالمعاصی لا يعافون...." ([5])

قوله: وإن من المجانة : مَجانَة : د میم په فتحه سره بې باکي ، بې حیائې او بې پرواهئ ته وائی - ([6])

د باب بل روایت کښې دی چه یو سړی د حضرت ابن عمر نه تپوس اوکړو چه تا د رسول الله ﷺ نه (د بنده او د رب په مینځ) د سرگوشئ (راز خبرې کول) متعلق څنگه اوریدلې دی نو دوی اوویل : رسول الله ﷺ فرمائی چه تاسو کښې به یو سړې خپل رب ته نزدې وی تر دې چه الله تعالی به په ده خپله پرده واچوی او ده نه به تپوس اوکړی چه تا دا کار کړیدې

---

[1]) فتح البارى : ۱۰\۵۹۵ ، عمدة القارى : ۲۲\۱۳۸)
[2]) عمدة القارى : ۲۲\۱۳۹)
[3]) عمدة القارى : ۲۲\۱۳۹)
[4]) عمدة القارى : ۲۲\۱۳۹)
[5]) فتح البارى : ۱۰\۵۹۶)
[6]) عمدة القارى : ۲۲\۱۳۹ . ارشاد السارى : ۱۳\۸۸)

؟ سړي به اووائی " هو جی " بيا به الله تعالى تپوس اوکړی چه تا دا دا کار کړيدې ؟ نو دې به اووائی : هو جی " الله تعالى به دده نه اقرار واخلی بيا به ده ته اووائی چه ما په تا په دنيا کښې پرده اچولې وه نن هم خه د ستا دغه ګناهونه معاف کوم -

يدنو: دا دتږنه دې : نزدې کيدل ، علامه عينی رحمه الله فرمائی : دينه قرب مکانی نه دې مراد ، قرب رتبی مراد دې - (١)

كنفه: كَنَف (د كاف او د نون په فتحه سره) پردې ته وائی - (٢)

فيقرّره: أی يجعله مقرّا بذلك يعنى الله تعالى د ده نه به اقرار واخلی -

٦١= بَابُ الْكِبْرِ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ ثَانِيَ عِطْفِهِ [الحج: ٩] مُسْتَكْبِرٌ فِي نَفْسِهِ عِطْفُهُ رَقَبَتُهُ

[٥٧٢٣] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا مَعْبَدُ بْنُ خَالِدٍ الْقَيْسِيُّ عَنْ حَارِثَةَ بْنِ وَهْبٍ الْخُزَاعِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ الْجَنَّةِ كُلُّ ضَعِيفٍ مُتَضَاعِفٍ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللَّهِ لَأَبَرَّهُ أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ النَّارِ كُلُّ عُتُلٍّ جَوَّاظٍ مُسْتَكْبِرٍ [ر: ٤٦٣٤]

[٥٧٢٤] وَقَالَ مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ أَخْبَرَنَا حُمَيْدٌ الطَّوِيلُ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ إِنْ كَانَتِ الْأَمَةُ مِنْ إِمَاءِ أَهْلِ الْمَدِينَةِ لَتَأْخُذُ بِيَدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَنْطَلِقُ بِهِ حَيْثُ شَاءَتْ (٣)

علامه عينی رحمه الله ليکی : " أی هذا باب فی بيان ذم الكبر (بكسر الكاف و سكون الباء) و هو ثمرة العجب و قد هلك بها كثير من العلماء و الزهاد ، و الكبر و التكبر و الإستكبار متقارب ، و التكبر هو الحالة التی يتخصص بها الإنسان من إعجابه بنفسه ، و ذلك أن يرى نفسه أكبر من غيره ، و أعظم ذلك أن يتكبر على ربه بأن يمتنع من قبول الحق و الإذعان له بالتوحيد و الطاعة " (٤)

يعنی دا باب دکبر دمذمت په باره کښې دی دکبراو دتکبر د دواړو يومعنی ده ، دا د عجب نتيجه وی چه انسان خپل خان د نورو نه لوې او نورو لره سپك ګنړی ، د تکبر يو خطرناك صورت دا دې چه انسان د خپل رب په مقابله کښې تکبر اختيار کړی داسې چه د حق د قبلولو نه او د الله تعالى د توحيد او د اطاعت نه او ده ته د سر خکته کولو نه انکار اوکړی-

قوله: وقال مجاهد: ثاني عطفه: مستكبر في نفسه- عطفه: رقبته: د سورة حج آيت

---

(١) عمدة القاری : ٢٢ \ ١٣٩)

(٢) عمدة القاری : ٢٢ \ ١٣٩ . فتح الباری : ١٠ \ ٥٩٨)

(٣) ٥٧٢٤) هذا الحديث من إفراد الإمام الخاری ، عمدة القاری : ٢٢ \ ١٤١)

(٤) عمدة القاری : ٢٢ \ ١٤٠)

کریمه کښې دی ﴿ثَانِيَ عِطْفِهِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ ۖ لَهُ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ ۖ وَنُذِيقُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَذَابَ الْحَرِيقِ﴾ (۱)
مجاهد فرمائی چه دې آیت کریمه کښې د " ثانی عطفه " نه هغه کس مراد دې چه کوم په زړه کښې خپل ځان لوې ګڼړی - (۲)
د عطف ترجمه ئې په رقبه یعن څټ سره کړیده ، د مجاهد دا تعلیق فریابی موصولا نقل کړیدې - (۳)

قوله: کل ضعیف متضاعف: د ضعیف نه ضعیف الحال مراد دی ، ضعیف البدن مراد نه دې او د متضاعف نه متواضع مراد دې - (۴)

قوله: کل عتل جواظ: د عتل څو معانی بیان شویدی چه د یو بل سره نزدې دی : الجافی الشدید فی کفره ، الشدید الخصومة بالباطل ، الأکول الشروب القوی الشدید ، الفاحش السیء الخلق (۵)
حاصل ددې ټولو دا دې چه داسې سړې چه ارت ناغیجه وی مضبوط وی په باطل انختونکې بد اخلاقه کمینه وی نو ده ته عتل وائی -

جَوَّاظ: چه ډیر زیات بخیل ، متکبر او په تکبر تلل کوی په یو حدیث کښې د رسول الله ﷺ نه د جواظ تشریح منقول ده ، دوی فرمائی " الجَوَّاظ الذی جمع و منع " یعنی جواظ هغه کس دې چه کوم مال جمع کوی او د دې واجب حقوق نه اداء کوی یو بل روایت کښې دوی فرمائل " الجماع المناع " (۶)

قوله: وقال محمد بن عیسی ......: محمد بن عیسی د " ابن الطباع " په نوم مشهور دې ، امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه دوی ته څلویښت زره احادیث حفظ وو څو تدلیس نې کولو ، سن ۲۲۴ هجرئ کښې وفات شویدې (۷) علامه مزی په تهذیب الکمال کښې لیکلې دی چه امام بخاری رحمه الله دوی نه تعلیقًا روایت نقل کوی -. (۸)
په ائمه د جرح او تعدیل کښې امام ابوداود ، ابوحاتم ، امام نسائی او علی مدینی د دوی توثیق کړیدې - (۹)

---

۱) سورة الحج : ۹)
۲) شرح ابن بطال لصحیح البخاری : ۹ \ ۲۶۵ ، عمدة القاری : ۲۲ \ ۱٤۰ ، فتح الباری : ۱۰ \ ۶۰۰ ، ارشاد الساری : ۱۳ \ ۹۰)
۳) عمدة القاری : ۲۲ \ ۱٤۰ ، فتح الباری : ۱۰ \ ۶۰۰ ، ارشاد الساری : ۱۳ \ ۹۰)
۴) عمدة القاری : ۲۲ \ ۱٤۰ ، ارشاد الساری : ۱۳ \ ۹۰)
۵) الجامع لأحکام القرآن للقرطبی : ۱۸ \ ۲۳۳)
۶) مسند الإمام أحمد بن حنبل فی مسانید أنس بن مالک : ۳ \ ۱٤۵)
۷) تهذیب الکمال : ۲۶ \ ۲۶۰ (رقم الترجمة : ۵۵۳٤)
۸) تهذیب الکمال : ۲۶ \ ۲۶۰ (رقم الترجمة : ۵۵۳٤)
۹) تهذیب الکمال : ۲۶ \ ۲۶۰ (رقم الترجمة : ۵۵۳٤)

ابن حبان په کتاب الثقات کښې د دوی ذکر کړيدې - (۱)
په اصحابو د صحاح سته کښې امام ترمذی ، نسائی ، او ابن ماجه د دوی روايتونه نقل کړيدی - (۲)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی "لم أر له في البخاري سوى هذا الموضع" (۳)
خو علامه عينی رحمه الله فرمائی :"قلت : قال الذي جمع رجال الصحيحين روى عنه البخاري في آخر الحج و الأدب ، و قال في الموضعين : قال محمد بن عيسى" (۴) علامه عينی رحمه الله فرمائی چه د صحيح بخاری او د صحيح مسلم رجال جمع کوونکو دا تصريح کړيده چه امام بخاری رحمه الله د محمد بن عيسى نه د کتاب الحج په آخر کښې او کتاب الادب کښې روايت نقل کړيدې او دوارو ځايونو کښې " قال محمد بن عيسى " الفاظ ذکر کړيدی دينه معلومه شوه چه د کتاب الادب نه علاوه په کتاب الحج کښې هم ددوی روايت امام بخاری رانقل کړيدې.
حديث کښې دی چه د مدينې منورې يوه وينځه رسول الله ﷺ ايساروی او چه کوم خوا ته ئې غواړی اخوا ئې بوځی ... دينه د رسول الله ﷺ د تواضع د اوچت مقام اندازه لګيدې شی چه دوی ﷺ د هر قسم تکبر نه برى پاک او صفا وو -

٦٢=بَابُ الْهِجْرَةِ

وَقَوْلِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَحِلُّ لِرَجُلٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ
[٥٧٢٥]حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ حَدَّثَنِي عَوْفُ بْنُ مَالِكِ بْنِ الطُّفَيْلِ هُوَ ابْنُ الْحَارِثِ وَهُوَ ابْنُ أَخِي عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأُمِّهَا أَنَّ عَائِشَةَ حُدِّثَتْ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ الزُّبَيْرِ قَالَ فِي بَيْعٍ أَوْ عَطَاءٍ أَعْطَتْهُ عَائِشَةُ وَاللَّهِ لَتَنْتَهِيَنَّ عَائِشَةُ أَوْ لَأَحْجُرَنَّ عَلَيْهَا فَقَالَتْ أَهُوَ قَالَ هَذَا قَالُوا نَعَمْ قَالَتْ هُوَ لِلَّهِ عَلَيَّ نَذْرٌ أَنْ لَا أُكَلِّمَ ابْنَ الزُّبَيْرِ أَبَدًا فَاسْتَشْفَعَ ابْنُ الزُّبَيْرِ إِلَيْهَا حِينَ طَالَتِ الْهِجْرَةُ فَقَالَتْ لَا وَاللَّهِ لَا أُشَفِّعُ فِيهِ أَبَدًا وَلَا أَتَحَنَّثُ إِلَى نَذْرِي فَلَمَّا طَالَ ذَلِكَ عَلَى ابْنِ الزُّبَيْرِ كَلَّمَ الْمِسْوَرَ بْنَ مَخْرَمَةَ وَعَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ الْأَسْوَدِ بْنِ عَبْدِ يَغُوثَ وَهُمَا مِنْ بَنِي زُهْرَةَ وَقَالَ لَهُمَا أَنْشُدُكُمَا بِاللَّهِ لَمَّا أَدْخَلْتُمَانِي عَلَى عَائِشَةَ فَإِنَّهَا لَا يَحِلُّ لَهَا أَنْ تَنْذِرَ قَطِيعَتِي فَأَقْبَلَ بِهِ الْمِسْوَرُ وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ مُشْتَمِلَيْنِ بِأَرْدِيَتِهِمَا حَتَّى اسْتَأْذَنَا عَلَى عَائِشَةَ فَقَالَا السَّلَامُ عَلَيْكِ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ أَنَدْخُلُ قَالَتْ عَائِشَةُ ادْخُلُوا قَالُوا كُلُّنَا قَالَتْ نَعَمْ ادْخُلُوا كُلُّكُمْ وَلَا تَعْلَمُ أَنَّ مَعَهُمَا ابْنَ الزُّبَيْرِ فَلَمَّا دَخَلُوا دَخَلَ ابْنُ الزُّبَيْرِ الْحِجَابَ فَاعْتَنَقَ عَائِشَةَ وَطَفِقَ يُنَاشِدُهَا وَيَبْكِي وَطَفِقَ الْمِسْوَرُ وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ يُنَاشِدَانِهَا إِلَّا مَا

---

۱) کتاب الثقات لابن حبان : ۹\۴۱۹)
۲) تهذيب الکمال : ۲۶\۱۲۶ ،۲۰ (رقم الترجمة : ۵۵۳۴)
۳) فتح الباری : ۱۰\۶۰۱)
۴) عمدة القاری : ۲۲\۱۴۰)

كَلَّمَتْهُ وَقَبِلَتْ مِنْهُ وَيَقُولَانِ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَمَّا قَدْ عَلِمْتِ مِنَ الْهِجْرَةِ فَإِنَّهُ لَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ فَلَمَّا أَكْثَرُوا عَلَى عَائِشَةَ مِنَ التَّذْكِرَةِ وَالتَّحْرِيجِ طَفِقَتْ تُذَكِّرُهُمَا نَذْرَهَا وَتَبْكِي وَتَقُولُ إِنِّي نَذَرْتُ وَالنَّذْرُ شَدِيدٌ فَلَمْ يَزَالَا بِهَا حَتَّى كَلَّمَتِ ابْنَ الزُّبَيْرِ وَأَعْتَقَتْ فِي نَذْرِهَا ذَلِكَ أَرْبَعِينَ رَقَبَةً وَكَانَتْ تَذْكُرُ نَذْرَهَا بَعْدَ ذَلِكَ فَتَبْكِي حَتَّى تَبُلَّ دُمُوعُهَا خِمَارَهَا [ر: ٣٣١٤]

[٥٧٢٦] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَبَاغَضُوا وَلَا تَحَاسَدُوا وَلَا تَدَابَرُوا وَكُونُوا عِبَادَ اللَّهِ إِخْوَانًا وَلَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ [ر: ٥٧١٨]

[٥٧٢٧] (١) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَزِيدَ اللَّيْثِيِّ عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَحِلُّ لِرَجُلٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ يَلْتَقِيَانِ فَيُعْرِضُ هَذَا وَيُعْرِضُ هَذَا وَخَيْرُهُمَا الَّذِي يَبْدَأُ بِالسَّلَامِ [ر: ٥٨٨٣]

د يو مسلمان سره د ترک تعلقات متعلق تفصيلي خبري څو بابه وړاندې اوشوې (باب ما ينهى من التحاسد و التدابر ...) ، امام بخاری رحمه الله دلته د حضرت عبد الله بن زبير - ﷺ چه کوم رومبې روایت ذکر کړيدې ، هغه امام په مناقب د قريش کښې دوه خايه ذکر کړيدي (٢) خو هلته ئې نسبتا مختصر ذکر کړيدې او دلته ئې تفصيل سره -

د حضرت عبد الله بن زبير نه د حضرت عائشه د ناراضتيا واقعه : عوف بن مالك چه د حضرت عائشه وراره دې ، نقل کوی چه دوی ته دا خبره اوشوه چه عبد الله بن زبير د څه بيع يا د څه عطيه متعلق چه کومه حضرت عائشه ته ورکړې وه اوويل چه والله ! عائشه (که د داسې عطياتو ورکولو نه) منع نه شوه نو څه به په دې پابندی اولګوم ، حضرت عائشه تپوس اوکړو، آيا واقعی ده داسې ويلې دی ؟ نو خلقو اوويل هو ، حضرت عائشه اوويل : **هولله علی نذر أن لا أکلم ابن الزبير أبدا** (د الله تعالى دپاره په ما دا نذر واجب دې چه څه به د ابن زبير سره کله هم خبرې نه کوم) -

چه کله ددې جدايئ ډيره زمانه تيره شوه نو ابن زبير سفارشونه شروع کړل ، حضرت عائشه اوويل چه څه به د چا سفارش هم نه قبلوم ، او نه خپل قسم ماتوم ....بيا چه کله ابن زبير

---

[١] ٥٧٢٧) الحديث أخرجه البخاری أيضا فی كتاب الاستئذان ، باب السلام للمعرفة و غير المعرفة (رقم الحديث : ٥٨٨٣) و أخرجه مسلم فی كتاب البر و الصلة و الآداب ، باب تحريم الهجر فوق ثلاث بلا عذر شرعی : ٤ \ ١٩٨٤ (رقم الحديث : ٢٥٦٠) و أخرجه الترمذی فی كتاب البر و الصلة ، باب ما جاء فی كراهية الهجر للمسلم : ٤ \ ٣٢٧ (رقم الحديث : ١٩٣٢) و أخرجه أبوداود فی كتاب الأدب ، باب فيمن يهجر أخاه المسلم : ٤ \ ٢٧٨ (رقم الحديث : ٤٩١١)

[٢] صحيح البخاری ، أبواب المناقب ، باب مناقب قريش (رقم الحديث : ٣٥٠٣ - ٣٥٠٥)

باندې دا خبره ډيره سخته شوه نو دوى مسور بن مخرمه او عبد الرحمن بن الاسود ته (چه د قبيله بنى زهره وو) اوويل چه څه تاسو ته د الله تعالى واسطه درکوم چه ما حضرت عائشه ته بوځئ ، ځکه چه دوى دپاره جائز نه ده چه ماسره قطع تعلق دپاره قسم برقرار اوساتى ..
.... نو مسور او عبدالرحمن خپل خپل څادرونه ځان نه تاو کړل او ابن زبير ئې د ځان سره واخستو ، دواړو د حضرت عائشه نه د ننوتلو اجازت اوغوښتلو او وې ويل : السلام عليك ورحمة الله وبركاته ! آيا مونږ در ننوځو ؟ ...... " نو حضرت عائشه اوفرمائل : هو ، دوى تپوس اوکړو : ټول درشو ؟ وې فرمائل : هو ټول راځئ ، دوى ته معلومه نه وه چه دوى سره ابن زبير هم دې ، نو چه کله دوى دننه شو نو ابن زبير پردې ته دننه لاړو او حضرت عائشه ته ورترغاړه وتلو او دوى ته ئې د الله تعالى خاطر واچولو او په ژړا شو ، مسور او عبد الرحمن هم دوى ته د الله تعالى خاطر واچولو چه ده سره خبرې اوکړئ او ددوى عذر قبول کړئ ....
دواړو دا هم ويلې چه تاسو ته پته ده چه رسول الله ﷺ د قطع تعلق نه منع کړيده ، چه د چا مسلمان دپاره جائز نه دى چه دخپل رور نه د درې شپو نه زيات جدائى اختيار کړى (او ترک تعلق اوکړى)
چه کله دې خلقو ډير زيات حضرت عائشه ته نصيحت او اصرار اوکړو نو دا هم په ژړا شوه چه ما نذر منلې دې او د نذر معامله ډيره سخته ده ..... خو دې دواړو مسلسل اصرار کولو تر دې چه دوى ابن زبير سره خبرې اوکړې او ددې نذر په کفاره کښې دوى څلويښت غلامان ازاد کړل ..... او دينه پس به چه کله هم دوى ته دا نذر راياد شو نو دوى به دومره ژړل چه د دوى لوپټه به لونده شوه په اوښکو -
ياد اوساتئ چه دې حديث کښې چه د حضرت عبد الله بن زبير کومه واقعه ذکر ده نو دا د هغه وخت ده چه کله حضرت عبد الله بن الزبير لا حکمران شوې نه وو - ځکه چه د حضرت عائشه وفات په سن ۵۷ هجرئ کښې د حضرت معاويه په دور کښې شويدې ، او د حضرت عبد الله بن زبير دور د خلافت روستو شروع کيږى - (۱)

دسند وضاحت : حدثني عوف بن مالك بن الطفيل هو ابن الحارث وهو ابن أخى عائشة لأمها

① دلته سند کښې لږ غونده اختلاف دې ، يو روايت کښې دى عوف بن مالك بن طفيل بن الحارث دې -
② د صالح بن کيسان د روايت په طريق کښې دى عوف بن طفيل بن الحارث -
③ يو بل روايت کښې دى عوف بن الحارث بن الطفيل ، ديته على ابن المدينى صحيح ويلې دى - (۲)

يعنى د عوف په نوم کښې خو اختلاف نشته دې ، د دوى د والد په نوم کښې اختلاف دې ، په بعضو کښې طفيل بن الحارث دې ، په بعضو کښې مالك بن الطفيل دې او په بعض روايتونو کښې حارث بن طفيل دې -

---

(۱) عمدة القارى : ۲۲\۱٤۲)
(۲) عمدة القارى : ۲۲\۱٤۲ . ارشاد السارى : ۱۳\۹۲ . فتح البارى : ۱۰\٦۰٤)

ابراهيم حربى ددې تفصيل ليكلې دې چه د طفيل پلار د حضرت ام رومان سره واده كړې ، ده د يمن قبيلې ازد سره تعلق لرلو ، د هلته نه مكې مكرمې ته راغلو ، ام رومان نه د دوى يو بچې طفيل پيدا شو د دوى د مرګ نه پس ام رومان سره حضرت صديق اكبر رضي الله عنه واده اوكړو او دوى نه حضرت عائشه او حضرت عبد الرحمن پيدا شو نو طفيل د حضرت عائشه د مور د طرفه رور شو (۱) او علامه ذهبى فرمائى چه دې صحابي وو (۲) ابن عبد البر په " الاستيعاب كښې دوى د اصحابوپه فهرست كښې شامل كړيدې ، (۳) د ده خوې د حضرت عائشه ورازه شو يعنى د دوى د مور د طرفه د رور خوې وو -

قوله: أن عـائشة حُدِّثت : حُدِّثَت صيغه د مجهول ده ، يعنى حضرت عائشه ته دا خبره بيان كړې شوه ، د اوزاعى په روايت كښې دى " أن عائشة بلغها ... " (۴)

قوله: في بيع أو عطـاء أعطته عـائشة : يعنى دا خو يا د بيع څه معامله وه يا څه عطيه حضرت عائشه وركړې وه ، د اوزاعى په روايت كښې دى چه حضرت عائشه خپل يو كور خرڅ كړې وو ، چه په هغې حضرت ابن زبير غصه شوې وو - (۵)

قوله: أو لأحجُرَنَّ عليهـا : ديكښې " أو " په معنى د " إلى " دې او دينه پس " أن " مقدر دې يعنى د ا د " لألزمنك أو تعطيني حقي " د قبيلې نه دې ، يعنى حضرت عائشه دې منع شى ګنى څه به په دې پابندى اولګوم - (۶)

قوله: هو لله علي نذر أن لا أكلم ابن الزبير : ابن التين فرمائى " أن لا أكلم " تقدير د عبارت دې " عليّ نذر إن كلمته " (۷) په مناقبو د قريش كښې چه كوم روايت تير شويدې هغې كښې هم دى " لله علي نذر ، إن كلمته ،

په بعض روايتونو كښې دې " لله علي نذر ، إن أكلم ابن الزبير " (۸) د شرط او جزاء په صورت كښې جمله شرطيه ده نو ددې روايت مطابق به دا نذر معلق شى -

---

(۱) فتح الباري : ۱۰\۶۰۳ ، ذكر هذا فى عمدة القارى من الواقدى : ۲۲\۱۴۲ ، و كذا فى تهذيب الكمال : ۱۳\۳۹۰ (رقم الترجمة : ۲۹۶۶)

(۲) عمدة القارى : ۲۲\۱۴۲)

(۳) الاستيعاب على هامش الإصابة ، باب الطاء : ۴\۱۱۵)

(۴) ارشاد السارى : ۱۳\۹۲ ، فتح البارى : ۱۰\۶۰۴)

(۵) فتح البارى : ۱۰\۶۰۵ ، عمدة القارى : ۲۲\۱۴۲ ، ارشاد السارى : ۱۳\۹۲)

(۶) عمدة القارى : ۲۲\۱۴۲)

(۷) عمدة القارى : ۲۲\۱۴۲ ، فتح البارى : ۱۰\۶۰۵ ، ارشاد السارى : ۱۳\۹۲)

(۸) عمدة القارى : ۲۲\۱۴۲ ، فتح البارى : ۱۰\۶۰۵ ، شرح الكرمانى : ۲۱\۲۰۶ ، أخرجه البخارى فى كتاب المناقب ، باب فى مناقب قريش (رقم الحديث : ۳۵۰۵)

قوله: فأستشفع ابن الزبير حين طالت الهجرة: یعنی چه کله د حضرت عائشه د طرفه دا جُدائی اوږده شوه ، نو حضرت عبدالله بن الزبیر دوی ته سفارشونه شروع کړل چه دا راضی شی ، د اوزاعی په روایت کښې دی "فطالت هجرتها إياه ، فتنقصه الله بذلك في أمره كله فاستشفع لكل جدير أنها تقبل عليه ...."(١) یعنی د حضرت عائشه د قطع تعلق زمانه چه اوږده شوه نو د حضرت ابن زبیر په تمام معاملاتو کښې د قدرت د طرفه نقصان شروع شو نو دوی په هر مناسب ذریعه سره سفارشونه شروع کړل چه حضرت عائشه ده ته متوجه شی او ده نه راضی شی -

قوله: فقالت: لا والله لا أشفّع فيه أحدا: شَفَّع د باب تفعیل نه دې د دې معنی د سفارش قبلولو راځی - لا أتحنث إلى نذر یعنی خه په خپل نذر کښې به نه حانثه کیږم ، د معمر په روایت کښې دی "لا أحنث في نذري"(٢)

قوله: وهما من بني زهرة: بنو زهره چه د رسول الله ﷺ ماماګان لګیدل (٣) د مور د طرفه ئې رشته داران وو نو د دې رشتې به حضرت عائشه رعایت کولو ، نو حضرت عبدالله بن زبیر د سفارش دپاره مسور او عبد الرحمن راوستل ځکه چه دوی دواړو د بنوزهره سره تعلق لرلو -

قوله: أنشدكما بالله لمّا أدخلتماني: لمّا د میم په تشدید او په تخفیف دواړو سره صحیح دې ، دا د "إلا" حرف استثناء په معنی کښې دې لکه په قرآن کریم کښې ﴿إن كل نفس لما عليها حافظ﴾ "لمّا" د "إلا" په معنی دې ، یعنی خه تاسو دواړو ته د الله تعالی خاطر اچوم چه ما عائشه ته بوځئ ، د اوزاعی روایت کښې دا هم دی چه ده دوی ته اوویل : تاسو ما ته خپل ځادر واغوندوئ -

قوله: من التذكرة والتحريج: د تذکره نه تذکیر مراد دې یعنی د صله رحمئ د فضیلت او د اهمیت یادول ئې ورته اوکړه ، د تخریج معنی ده چا لره په حرج کښې اچول یعنی دوی حضرت عائشه باندې اصرار اوکړو چه کله دوی بنه تنګول اوکړو نو حضرت عائشه خبرې اوکړې او په طور د کفاره ئې څلویښت غلامان ازاد کړل -

یو اشکال او ددې جواب : په ظاهره دلته اشکال کیږی چه د درې ورځو نه زیات د یو مسلمان سره قطع تعلق کول جائز نه دی نو حضرت عائشه داسې ولې اوکړل ؟
ددې جواب وړاندې تیر شویدې چه دځه دینی مصلحت په وجه یا د ځه نافرمانئ او د معصیت په وجه ترک د تعلق اوکړې شی نو د دې جواز شته ، لکه چه امام بخاری په

---

(١) فتح الباری : ١٠\٦٠٥)
(٢) عمدة القاری : ٢٢\١٤٢ ، فتح الباری : ١٠\٦٠٥)
(٣) فتح الباری : ١٠\٦٠٥)

راتلونكى باب " باب مايجوز الهجران لمن عصى " سره دا ثابت كړيده -
د حضرت عبد الله بن زبير سره د حضرت عائشه ډير محبت وو (١) او ده به د دوى ډير خيال هم ساتلو ، نو چه كله د ده د طرفه داسې سخته جمله اوويلې شوه ، نو دا يو قسم نافرمانى وه ، د محبوب خورئى د طرفه دا جمله دوى ته ډيره سخته اولګيدله او دده د تاديب دپاره ده سره ترك تعلق اوكړو - (٢)

٦٣=بَاب مَا يَجُوزُ مِنْ الْهِجْرَانِ لِمَنْ عَصَى

وَقَالَ كَعْبٌ حِينَ تَخَلَّفَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُسْلِمِينَ عَنْ كَلَامِنَا وَذَكَرَ خَمْسِينَ لَيْلَةً [ر:٣١٥٦]

[٥٧٢٨] حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ أَخْبَرَنَا عَبْدَةُ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَأَعْرِفُ غَضَبَكِ وَرِضَاكِ قَالَتْ قُلْتُ وَكَيْفَ تَعْرِفُ ذَاكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ إِنَّكِ إِذَا كُنْتِ رَاضِيَةً قُلْتِ بَلَى وَرَبِّ مُحَمَّدٍ وَإِذَا كُنْتِ سَاخِطَةً قُلْتِ لَا وَرَبِّ إِبْرَاهِيمَ قَالَتْ قُلْتُ أَجَلْ لَسْتُ أُهَاجِرُ إِلَّا اسْمَكَ [ر:٤٩٣٠]

د معصيت په وجه كه د چا سره تعلق پريخودې شى نو د دې جواز شته او د سلف نه داسې ترك تعلق منقول دې ، مهلب فرمائى :

غرض البخارى فى هذا الباب أن يبين صفة الهجران الجائز و أنه يتنوع بقدر الجرم ، فمن كان من أهل العصيان يستحق الهجران بترك المكالمة ، كما فى قصة كعب و صاحبيه ، و ما كان من المغاضبة بين الأهل و الإخوان ، فيجوز الهجر فيه بترك التسمية مثلا ، أو بترك بسط الوجه مع عدم هجر السلام و الكلام " (٣)

يعنى امام بخارى رحمه الله په دې باب كښې د ترك تعلق د جواز صورت بيانول غواړى ، د جرم په اعتبار سره د مختلف قسم ترك تعلق كيدې شى ، كه څوك نافرمانى كوونكې وى نو ده سره خبرې پريخودې شى او ترك د تعلق ورسره كيدې شى لكه چه د حضرت كعب بن مالك ﷺ په قصه كښې ترك د كلام شوې وو - دارنګه د رور او د اهل و عيال سره د ناراضګئ صورت كښې ترك تعلق داسې كيدې شى چه د ده نوم وانه خستې شى چه د چا سره ترك تعلق شويدې نور ده سره سلام كلام خو كيږى خو په رونړ تندى او په خندا خوشحالئ ورسره ملاويدل پريخودې شى -

---

(١) لكه چه د بخارى په يو روايت كښې د دې تصريح ده " عن عروة بن الزبير قال : كان عبد الله بن الزبير أحب البشر إلى عائشة بعد النبى صلى الله عليه و سلم و أبى بكر ، و كان أبر الناس بها ، و كانت لاتمسك شيئا ممّا جاءها من رزق الله تصدقت ...... صحيح البخارى ، كتاب المناقب ، باب مناقب قريش (رقم الحديث : ٣٥٠٥)

(٢) فتح البارى : ١٠\٦٠٨ ، ارشاد السارى : ١٣\٩٣ ، شرح صحيح البخارى لابن البطال : ٩\٢٧١)

(٣) فتح البارى : ١٠\٦١٠ ، عمدة القارى : ٢٢\١٤٤ ، ابن بطال هم ددې ترجمه دا مقصد بيان كړيدې شرح ابن بطال : ٩\٢٧٢)

يو اشكال او ددې جوابونه : دلته يو اشكال كيږي د مسلمان فاسق او فاجر سره ترك خو جائز دې خو كافر لره پريخودل جائز نه دى ، حال دا دې چه كافر د مسلمان فاسق په مقابله كښې زيات سخت دې ؟

① د دې يو جواب خو دا وركړې شويدې ، يو هجران بالقلب دې او بل هجران باللسان دې، د مسلمان سره هجران باللسان كيږي او د كافر سره هجران بالقلب وى اگر چه د ژبې خبرې اترې ده سره جارى وى خو د زړه محبت ورسره نه وى - (١)

② شارح د بخارى ابن بطال رحمه الله رجحان دې طرف ته دې چه دا د الله حكم دې او بنده د الله د حكم پابند دې ، د الله په احكامو كښې مختلف مصلحتونه وى او الله تعالى ته دا مصلحتونه په بهتر طريقه معلوم دى (٢) گويا دې دا يو امر تعبدى گرځوى -

٦٤=بَابٌ هَلْ يَزُورُ صَاحِبَهُ كُلَّ يَوْمٍ أَوْ بُكْرَةً وَعَشِيًّا

[٥٧٢٩] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا هِشَامٌ عَنْ مَعْمَرٍ وَقَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِي عُقَيْلٌ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَأَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ أَنَّ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ لَمْ أَعْقِلْ أَبَوَيَّ إِلَّا وَهُمَا يَدِينَانِ الدِّينَ وَلَمْ يَمُرَّ عَلَيْهِمَا يَوْمٌ إِلَّا يَأْتِينَا فِيهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَرَفَيِ النَّهَارِ بُكْرَةً وَعَشِيَّةً فَبَيْنَمَا نَحْنُ جُلُوسٌ فِي بَيْتِ أَبِي بَكْرٍ فِي نَحْرِ الظَّهِيرَةِ قَالَ قَائِلٌ هَذَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَاعَةٍ لَمْ يَكُنْ يَأْتِينَا فِيهَا قَالَ أَبُو بَكْرٍ مَا جَاءَ بِهِ فِي هَذِهِ السَّاعَةِ إِلَّا أَمْرٌ قَالَ إِنِّي قَدْ أُذِنَ لِي بِالْخُرُوجِ [ر: ٤٦٣]

د ترجمة الباب مقصد : د دې باب نه د امام بخارى رحمه الله مقصد دا دې چه كه يو سړې روزانه د خپل دوست او د متعلق كور ته ورځى نو دې كښې څه حرج نشته دې ، په حديث كښې ددې اصل شته دې ، روايت د باب كښې دى چه رسول الله ﷺ به د حضرت صديق اكبر كورته د ورځ په شروع كښې يا د دې په آخره حصه كښې تشريف راوړو -

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه امام بخارى رحمه الله دا باب قائم كړو شايد ددې مشهور حديث ضعف ته اشاره كوى ، چه هغې كښې دى "زرغبا تزدد حبا" يعنى د يو ورځ په ناغه سره ملاقات كوه نو يو بل سره محبت كښې به مو اضافه راځى ، حافظ وائى چه دا حديث اگر چه په مختلف طريقو سره روايت دې خو يو طريق هم د ضعف او د كلام نه خالى نه ده - (٣)

خو علامه عينى رحمه الله د حافظ ترديد كړيدې او فرمائى چه "هذا تخمين فى حق البخارى لأنه حديث مشهور" (٤) يعنى د امام بخارى رحمه الله په باره كښې دا ويل چه دوى د يو مشهور

١) فتح البارى : ١٠\٦١٠ . ارشاد السارى : ١٣\٩٥)
٢) شرح صحيح البخارى لابن بطال : ٩\٢٧٣)
٣) فتح البارى : ١٠\٦١١)
٤) عمدة القارى : ٢٢\١٤٥)

حديث ضعف ته اشاره کړېده ، نو دا د خپل خان د طرفه د هغه په حق کښې اندازه کول او د اټکل خبره ده ، د حقیقت سره د دې هیڅ تعلق نشته دې ، مشهور حدیث ته هغه څنګه ضعیف ویلی شي -

دا حدیث واقعتا مشهور دې او د حضرت ابوهریره نه علاوه د نورو څو اصحابو نه هم منقول دې (١) ابو نعیم ددې تمام طرق راجمع کړېدی ، حافظ ابن حجر فرمائی و قد جمعتها فی جزء مفرد (٢)

او په دواړو حدیثونو کښې څه تضاد نشته دې ، کُه دوست اوملګرې بې تکلفه وی او خپل مینځ کښې ئې محبت او خصوصی تعلق بالکل بې غباره وی نو داسې صورت کښې روزانه ملاقات کېدې شي خو کُه تعلق او محبت زیات نه وی نو بیا کله کله ملاقات زیات بهتر او باعث د زیات والی د محبت دې - (٣)

حدیث د باب دینه وړاندې څو ځایه تیر شویدې او تفصیل سره په باب الهجرة کښې تیر شویدې -

یو شبه او ددې جواب :د چا په ذهن کښې دا شبه راتلې شي چه حضور اکرم ﷺ به حضرت صدیق اکبر کره روزانه تلو ، حال دا دې چه حضرت صدیق اکبر هم راتلې شو ؟ چه کُه دې راتلې نو شاید د دوی تللو ته به ضرورت نه راپیښیدو ؟

د دې جواب دا دې چه حضرت صدیق اکبر به هم یقینا راتللو ، دلته روایت کښې د دې ذکر نشته دې ، دلته د حضرت صدیق اکبر سره د محبت او د خصوصی تعلق په بناء د رسول الله ﷺ معمول نقل کړې شو -(٤) ابن التین هم ددې یو جواب ورکړېدې خو دا جواب تسلی بخش نه دې - (٥)

٦٥=بَابُ الزِّيَارَةِ

وَمَنْ زَارَ قَوْمًا فَطَعِمَ عِنْدَهُمْ وَزَارَ سَلْمَانُ أَبَا الدَّرْدَاءِ فِي عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَكَلَ عِنْدَهُ [ر:١٨٦٧]

[٥٧٣٠] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَامٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ عَنْ أَنَسِ بْنِ سِيرِينَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَارَ أَهْلَ بَيْتٍ مِنَ الْأَنْصَارِ فَطَعِمَ عِنْدَهُمْ طَعَامًا فَلَمَّا أَرَادَ أَنْ يَخْرُجَ أَمَرَ بِمَكَانٍ مِنَ الْبَيْتِ فَنُضِحَ لَهُ عَلَى بِسَاطٍ

---

١) عمدة القاری : ٢٢\١٤٥)

٢) فتح الباری : ١٠\٦١١)

٣) فتح الباری:١٠\٦١٢،ارشاد الساری : ١٣\٩٦ ،عمدة القاری : ٢٢\١٤٥ ،شرح ابن بطال : ١٩\٢٧٤)

٤) فتح الباری : ١٠\٦١١)

٥) فتح الباری : ١٠\٦١١ و أجاب ابن التين بأنه لم يكن يجيء إلى أبي بكر لمجرد الزيارة بل لما يتزايد عنده من علم الله ، قال ابن حجر : و لم يتضح لي هذا الجواب ، و يحتمل أن يكون منزل أبي بكر كان بين بيت النبي صلى الله عليه و سلم،و بين المسجد، فكان يمربه ، والمقصود المسجد ،و كان يشهده ، كلما مربه)

فَصَلَّى عَلَيْهِ وَدَعَا لَهُمْ [ر:٦٣٩]

د ملاقات دپاره د راتلونکو په خدمت کښې طعام دې پیش کړې شی : د چا د ملاقات دپاره چه تلل اوشی او هلته د خوراك كولو موقع ملاو شی نو خوراك كول صحيح دی او سنت كښې د دې اصل شته ، اصحاب حضرات به د یو بل کور ته تلل او هلته به ئې خوراك كولو لكه چه دلته ترجمة الباب كښې دی چه حضرت سلمان فارسی ﷺ د حضرت ابو الدرداء ﷺ د ملاقات دپاره تشريف يوړو او دوی سره ئې خوراك اوكړو ، د زيارت كوونكی او د ملاقات كوونكي په خدمت كښې چه څه حاضر وی هغه پیش كول د اسلام په آدابو كښې يو ادب دې او خپل مينځ كښې د محبت د زياتيدو يو مؤثر ذريعه ده ، علامه ابن بطال رحمه الله ليكي:- "من تمام الزيارة إطعام الزائر ما حضر وإتحافه بما تيسر، و ذلك من كريم الأخلاق، و هو مما يثبت المودة ويؤكد المحبة" (1)

روايت د باب كښې دی چه رسول الله ﷺ د يو انصاری كور ته د ملاقات دپاره تشريف يوړو (دا د عتبان بن مالك كورنۍ وه) هلته ئې خوراك اوكړو ، چه كله راوتلو نو وې فرمائل د كور يو حصه دې صفا كړې شی ، نو هلته ئې اوبه چړكاؤ كړې او يو پوزې ئې خور كړو ، په دې ئې مونځ اوكړو ، او د دې خلقو دپاره ئې دعاء اوكړه فنضح له على بساط : د نضح معنی ده اوبه چړكاول ، يعنې اوبه ئې چړكاو كړې او يو پوزې وغيره ئې خور كړو -

ددې حديث نه يو ادب دا معلوم شو چه كله د چا سره خوراك اوكړې شی نو دوی ته دعا كول د خوراك نه پس سنت دې - (2) او رسول الله ﷺ به په داسې موقعو باندې د دغه كور والا دپاره د بركت دعاء كوله

د مسلمان د زيارت او د ملاقات كولو فضائل : د چا د ملاقات او د زيارت دپاره د تلو باره كښې په احاديثو كښې ډير فضيلت راغلې دې ، امام ترمذی رحمه الله د حضرت ابوهريره ﷺ نه روايت نقل كړيدې ، چه حضور فرمائلې دی " من عاد مريضا أو زار أخاله في الله ، ناداه مناد: أن طبت و طاب ممشاك وتبوأت من الجنة منزلا" (3) (چه كوم سړې د يو مريض تپوس كوی يا د يو رور ملاقات دپاره ځی نو يو اواز كوونكې آواز كوی " ته دې ښه ئې او د ستا د ا تلل دې ښه وی او د ستا منزل دې جنت وی " -)

امام مالك رحمه الله هم د حضرت معاذ بن جبل نه يو حديث قدسی نه نقل كړيدې چه حضور ﷺ فرمائلې دی "وجبت محبتي للمتحابين في، و المتجالسين في و للمتزاورين في و المتباذلين في" (4) (زما محبت د هغه خلقو دپاره ثابت دې چه كوم زما په وجه د يو بل سره محبت لری او ديو بل سره كښينی او يو بل سره ملاقات كوی او په يو بل خرچ كوی)

---

(1) شرح بن بطال : ٩\٢٧٥)

(2) فتح البارى : ١٠\٦١٣ ، شرح ابن بطال : ٩\٢٧٥)

(3) أخرجه الترمذی فی كتاب البر والصلة ،باب ما جاء فی زيارة الإخوان : ٤\٣٦٥ (رقم الحديث : ٢٠٠٨)

(4) الموطاء للإمام مالک رحمه الله فی كتاب الشعر ، باب ما جاء فی المتحابين فی الله : ٢\٩٥٤) ....

او امام احمد رحمه الله يو روايت د عتبان بن مالك نه رانقل كړيدې ، د دې الفاظ دى " من زار أخاه المؤمن خاض في الرحمة حتى يرجع " (١) (چه كوم كس د خپل مومن رور ملاقات كوى نو دې د واپس راتلو وخته پورې د الله تعالى د رحمت په غيږه كښې وى -)

٦٦=بَاب مَنْ تَجَمَّلَ لِلْوُفُودِ

[٥٧٣١] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي قَالَ حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ قَالَ لِي سَالِمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ مَا الْإِسْتَبْرَقُ قُلْتُ مَا غَلُظَ مِنْ الدِّيبَاجِ وَخَشُنَ مِنْهُ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ يَقُولُ رَأَى عُمَرُ عَلَى رَجُلٍ حُلَّةً مِنْ إِسْتَبْرَقٍ فَأَتَى بِهَا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ اشْتَرِ هَذِهِ فَالْبَسْهَا لِوَفْدِ النَّاسِ إِذَا قَدِمُوا عَلَيْكَ فَقَالَ إِنَّمَا يَلْبَسُ الْحَرِيرَ مَنْ لَا خَلَاقَ لَهُ فَمَضَى مِنْ ذَلِكَ مَا مَضَى ثُمَّ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ إِلَيْهِ بِحُلَّةٍ فَأَتَى بِهَا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ بَعَثْتَ إِلَيَّ بِهَذِهِ وَقَدْ قُلْتَ فِي مِثْلِهَا مَا قُلْتَ قَالَ إِنَّمَا بَعَثْتُ إِلَيْكَ لِتُصِيبَ بِهَا مَالًا فَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يَكْرَهُ الْعَلَمَ فِي الثَّوْبِ لِهَذَا الْحَدِيثِ [ر: ٨٤٦]

د امام بخارى رحمه الله مقصد دا دې چه د بهر راتلونكو وفدونو د ملاويدو دپاره د خپل عادت نه لږ زيات زيب و زينت اختيار كړې شى نودا جائزدې اوسنت كښې ددې اصل شته.
علامه انورشاه كشميرى رحمه الله د صاحب د فتح القدير په حواله سره په فيض البارى كښې ليكى :

" إن الجمال غير الزينة ، فإن التزين يكون من الأوصاف الرديئة ، بخلاف الجمال ، فإنه من الخصال الحميدة ، ثم فرق أن الزينة هو جلب الحسن و التطرية ، ليكون له منظرا حسنا عند الخلائق ، بخلاف الجمال ، فإنه : اكتساب الحسن لئلا يكون قبيح المنظر ، مشارا إليه بالأصابع يضرب به مثل بين الناس " (٢)

د دې حاصل دا دې چه په زينت او په جمال كښې فرق دې زينت كول ښه عادت نه دې خو جمال ښه خصلت دې ، زينت او جمال كښې فرق دا دې چه زينت خپل خان په تكلف سره خوبصورته كولو او د ښائسته كولو نوم دې دې دپاره چه خلقو كښې ښائسته په نظر راشم او د جمال معنى دا ده چه سړې هغه بې ډوله طريقې پريږدى چه هسې نه بې ډبه ښكاره شى او په خلقو كښې مسخره جوړ شى او ده پورې خندا گانې شروع شى ، نو داسې بې ډولتيا ختمولو ته جمال وائى او دا ممدوح هم دې او مقصود هم دې -

---

(١) فتح البارى : ١٠ \ ٦١٢)
(٢) فيض البارى: ٤ \ ٣٩١)

۶۷ = بَاب الْإِخَاءِ وَالْحِلْفِ

وَقَالَ أَبُو جُحَيْفَةَ آخَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ سَلْمَانَ وَأَبِي الدَّرْدَاءِ [ر:۱۸۶۷]

وَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ لَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ آخَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنِي وَبَيْنَ سَعْدِ بْنِ الرَّبِيعِ [ر:۱۹۴۳]

[۵۷۳۲] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمَّا قَدِمَ عَلَيْنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ فَآخَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ سَعْدِ بْنِ الرَّبِيعِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْلِمْ وَلَوْ بِشَاةٍ [ر:۱۹۴۴]

[۵۷۳۳] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ صَبَّاحٍ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ زَكَرِيَّاءَ حَدَّثَنَا عَاصِمٌ قَالَ قُلْتُ لِأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَبَلَغَكَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا حِلْفَ فِي الْإِسْلَامِ فَقَالَ قَدْ حَالَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ قُرَيْشٍ وَالْأَنْصَارِ فِي دَارِي [ر:۲۱۷۲]

إخاء رورولئ ته وائی او حِلْف د حاء په کسره سره او د لام په سکون سره معاهدې ته وائی (۱) نبی کریم ﷺ مدینې ته د هجرت په ابتدائي ورځو کښې د اصحابو په مينځ کښې رورولي قائم کړې وه - د ابوجحیفه (د جیم په ضمه او د حاء په فتحه سره) نوم وهب بن عبد الله دې، د حضرت ابو الدرداء نوم " عویمر " دې (۲) د ابوجُحیفه دا تعلیق د حدیث موصول حصه ده چه کوم امام بخاری په باب الهجرة إلى المدينة کښې ذکر کړیدې - (۳)

دارنګه د عبد الرحمن بن عوف او د سعد بن الربیع په مينځ کښې مواخاة قائم کړې وو ، دا حدیث هم موصولا په کتاب البیوع ، باب ما جاء فی قول الله تعالی (فإذا قضیت الصلوة ......) کښې تیر شویدې -

د باب بل روایت کښې دی چه د حضرت انس ﷺ نه چا تپوس اوکړو چه د رسول الله ﷺ دا حدیث تا ته رارسیدلې دې لاحِلْف فی الإسلام نو دوی اوویل چه رسول الله ﷺ د قریشو او د انصارو په مينځ کښې خما په کور کښې معاهده کړې وه ، دینه د رورولئ معاهده مراد ده - دیکښې چه د کوم حدیث حواله ورکړې شویده ، دا امام مسلم رحمه الله رانقل کړیدې "لا حلف فی الإسلام، و أیما حلف کان فی الجاهلیة، لم یزده الإسلام إلا شدة" (۴)

حاصل دا دې چه زمانه د جاهلیت کښې به خلقو به د یو بل سره ملګرتیا کولو او امداد

---

۱) عمدة القاری : ۲۲ \ ۱٤۸ ، ارشاد الساری : ۱۳ \ ۹۹)

۲) ارشاد الساری : ۱۳ \ ۹۹) ......

۳) أخرجه البخاری فی کتاب الصوم ، باب من أقسم علی أخیه لیفطر فی التطوع (رقم الحدیث : ۱۹۶۸)

۴) أخرجه مسلم فی کتاب فضائل الصحابة ، باب مؤاخاة النبی صلی الله علیه و سلم بین أصحابه رضی الله عنهم : ٤ \ ۱۹۶۰ (رقم الحدیث : ۲۵۳۰)

كولو دپاره معاهده كوله ، بيا د ده حليف قبيلې به د ده امداد او حمايت كولو اګر چه دې به په ناجائزه او په باطله وو .... رسول الله ﷺ د داسې معاهدو رد اوكړو او وې فرمائل لا حلف في الإسلام-

او داسې معاهده او ميثاق چه د نيكو كارونو دپاره يا د څه امر د خير دپاره وى نو دې باره كښې دوى ﷺ فرمائلي دى لم يزده الإسلام إلا شدة يعنى اسلام داسې معاهدې ته نور هم مضبوط والې وركوى -

امام نووى رحمه الله فرمائى " المنفي حلف التوارث و ما يمنع منه الشرع ، أما التحالف على طاعة الله و نصر المظلوم و المؤاخاة في الله تعالى فهو أمر مرغب فيه " (١) يعنى ميراث او خلاف شرع امورو كښې خو حلف او معاهده ممنوع ده او د الله تعالى په اطاعت كښې او د مظلوم په نصرت او د رورولئ دپاره كُه په خپل مينځ كښې معاهده اوشى نو د دې ترغيب وركړې شويدې او دا ممنوع نه ده -

د حضرت انس ﷺ په حديث كښې دى " قد حالف النبي صلى الله عليه و سلم بين قريش و الأنصار في دارى" سفيان بن عيينه وايى چه ديكښې د حالف نه مراد مؤاخاة دې - (٢)

خو حافظ ابن حجر رحمه الله ليكي :

لكن سياق عاصم عنه يقتضى أنه أراد المحالفة حقيقة ، .... و ترجمة البخارى ظاهرة في المغايرة بينهما " (٣)

يعنى دينه رورولى نه ده مراد بلكه حقيقتًا حلف او معاهده مراد ده ، امام بخارى رحمه الله هم ترجمة الباب كښې دواړه جُدا كړيدى -

٦٨=بَابُ التَّبَسُّمِ وَالضَّحِكِ

وَقَالَتْ فَاطِمَةُ عَلَيْهَا السَّلَامُ أَسَرَّ إِلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضَحِكْتُ [ر:٣٤٢٦]

وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ إِنَّ اللَّهَ هُوَ أَضْحَكَ وَأَبْكَى [ر:١٢٢٦]

[٥٧٣٣] حَدَّثَنَا حِبَّانُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ رِفَاعَةَ الْقُرَظِيَّ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ فَبَتَّ طَلَاقَهَا فَتَزَوَّجَهَا بَعْدَهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الزَّبِيرِ فَجَاءَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّهَا كَانَتْ عِنْدَ رِفَاعَةَ فَطَلَّقَهَا آخِرَ ثَلَاثِ تَطْلِيقَاتٍ فَتَزَوَّجَهَا بَعْدَهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الزَّبِيرِ وَإِنَّهُ وَاللَّهِ مَا مَعَهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِلَّا مِثْلُ هَذِهِ الْهُدْبَةِ لِهُدْبَةٍ أَخَذَتْهَا مِنْ جِلْبَابِهَا قَالَ وَأَبُو بَكْرٍ جَالِسٌ عِنْدَ

---

١) فتح البارى : ١٠ \ ٦١٦ ، شرح مسلم للنووى ، كتاب فضائل الصحابة ، باب مؤاخاة النبى صلى الله عليه وسلم بين أصحابه : ٢ \ ٣٠٨)

٢) فتح البارى : ١٠ \ ٦١٥)

٣) فتح البارى : ١٠ \ ٦١٤)

النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَابْنُ سَعِيدِ بْنِ الْعَاصِ جَالِسٌ بِبَابِ الْحُجْرَةِ لِيُؤْذَنَ لَهُ فَطَفِقَ خَالِدٌ يُنَادِي أَبَا بَكْرٍ يَا أَبَا بَكْرٍ أَلَا تَزْجُرُ هَذِهِ عَمَّا تَجْهَرُ بِهِ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا يَزِيدُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى التَّبَسُّمِ ثُمَّ قَالَ لَعَلَّكِ تُرِيدِينَ أَنْ تَرْجِعِي إِلَى رِفَاعَةَ لَا حَتَّى تَذُوقِي عُسَيْلَتَهُ وَيَذُوقَ عُسَيْلَتَكِ [ر: ۲۴۹۶]

[۵۷۳۵] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ عَنْ صَالِحِ بْنِ كَيْسَانَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَبْدِ الْحَمِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ زَيْدِ بْنِ الْخَطَّابِ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ اسْتَأْذَنَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعِنْدَهُ نِسْوَةٌ مِنْ قُرَيْشٍ يَسْأَلْنَهُ وَيَسْتَكْثِرْنَهُ عَالِيَةً أَصْوَاتُهُنَّ عَلَى صَوْتِهِ فَلَمَّا اسْتَأْذَنَ عُمَرُ تَبَادَرْنَ الْحِجَابَ فَأَذِنَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَخَلَ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَضْحَكُ فَقَالَ أَضْحَكَ اللَّهُ سِنَّكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي فَقَالَ عَجِبْتُ مِنْ هَؤُلَاءِ اللَّاتِي كُنَّ عِنْدِي لَمَّا سَمِعْنَ صَوْتَكَ تَبَادَرْنَ الْحِجَابَ فَقَالَ أَنْتَ أَحَقُّ أَنْ يَهَبْنَ يَا رَسُولَ اللَّهِ ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَيْهِنَّ فَقَالَ يَا عَدُوَّاتِ أَنْفُسِهِنَّ أَتَهَبْنَنِي وَلَمْ تَهَبْنَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْنَ إِنَّكَ أَفَظُّ وَأَغْلَظُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِيهٍ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا لَقِيَكَ الشَّيْطَانُ سَالِكًا فَجًّا إِلَّا سَلَكَ فَجًّا غَيْرَ فَجِّكَ [ر: ۳۱۲۰]

[۵۷۳۶] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو عَنْ أَبِي الْعَبَّاسِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ لَمَّا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالطَّائِفِ قَالَ إِنَّا قَافِلُونَ غَدًا إِنْ شَاءَ اللَّهُ فَقَالَ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا نَبْرَحُ أَوْ نَفْتَحَهَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاغْدُوا عَلَى الْقِتَالِ قَالَ فَغَدَوْا فَقَاتَلُوهُمْ قِتَالًا شَدِيدًا وَكَثُرَ فِيهِمُ الْجِرَاحَاتُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّا قَافِلُونَ غَدًا إِنْ شَاءَ اللَّهُ قَالَ فَسَكَتُوا فَضَحِكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بِالْخَبَرِ كُلِّهِ [ر: ۴۰۷۰]

[۵۷۳۷] حَدَّثَنَا مُوسَى حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ أَخْبَرَنَا ابْنُ شِهَابٍ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ أَتَى رَجُلٌ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ هَلَكْتُ وَقَعْتُ عَلَى أَهْلِي فِي رَمَضَانَ قَالَ أَعْتِقْ رَقَبَةً قَالَ لَيْسَ لِي قَالَ فَصُمْ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ قَالَ لَا أَسْتَطِيعُ قَالَ فَأَطْعِمْ سِتِّينَ مِسْكِينًا قَالَ لَا أَجِدُ فَأُتِيَ بِعَرَقٍ فِيهِ تَمْرٌ قَالَ إِبْرَاهِيمُ الْعَرَقُ الْمِكْتَلُ فَقَالَ أَيْنَ السَّائِلُ تَصَدَّقْ بِهَا قَالَ عَلَى أَفْقَرَ مِنِّي وَاللَّهِ مَا بَيْنَ لَابَتَيْهَا أَهْلُ بَيْتٍ أَفْقَرُ مِنَّا فَضَحِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ قَالَ فَأَنْتُمْ إِذًا _ [ر: ۱۸۳۴]

[۵۷۳۸] حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْأُوَيْسِيُّ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كُنْتُ أَمْشِي مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

وَعَلَيْهِ بُرْدٌ نَجْرَانِيٌّ غَلِيظُ الْحَاشِيَةِ فَأَدْرَكَهُ أَعْرَابِيٌّ فَجَبَذَ بِرِدَائِهِ جَبْذَةً شَدِيدَةً قَالَ أَنَسٌ فَنَظَرْتُ إِلَى صَفْحَةِ عَاتِقِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ أَثَّرَتْ بِهَا حَاشِيَةُ الرِّدَاءِ مِنْ شِدَّةِ جَبْذَتِهِ ثُمَّ قَالَ يَا مُحَمَّدُ مُرْ لِي مِنْ مَالِ اللَّهِ الَّذِي عِنْدَكَ فَالْتَفَتَ إِلَيْهِ فَضَحِكَ ثُمَّ أَمَرَ لَهُ بِعَطَاءٍ [ر: ٢٩٨٠]

[٥٧٣٩] حَدَّثَنَا ابْنُ نُمَيْرٍ حَدَّثَنَا ابْنُ إِدْرِيسَ عَنْ إِسْمَاعِيلَ عَنْ قَيْسٍ عَنْ جَرِيرٍ قَالَ مَا حَجَبَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنْذُ أَسْلَمْتُ وَلَا رَآنِي إِلَّا تَبَسَّمَ فِي وَجْهِي وَلَقَدْ شَكَوْتُ إِلَيْهِ أَنِّي لَا أَثْبُتُ عَلَى الْخَيْلِ فَضَرَبَ بِيَدِهِ فِي صَدْرِي وَقَالَ اللَّهُمَّ ثَبِّتْهُ وَاجْعَلْهُ هَادِيًا مَهْدِيًّا [ر: ٢٨٥٧]

[٥٧٣٠] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ هِشَامٍ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبِي عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ أُمِّ سَلَمَةَ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّ أُمَّ سُلَيْمٍ قَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ لَا يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ هَلْ عَلَى الْمَرْأَةِ غُسْلٌ إِذَا احْتَلَمَتْ قَالَ نَعَمْ إِذَا رَأَتِ الْمَاءَ فَضَحِكَتْ أُمُّ سَلَمَةَ فَقَالَتْ أَتَحْتَلِمُ الْمَرْأَةُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبِمَ شَبَهُ الْوَلَدِ [ر: ١٣٠]

[٥٧٣١] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سُلَيْمَانَ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ وَهْبٍ أَخْبَرَنَا عَمْرٌو أَنَّ أَبَا النَّضْرِ حَدَّثَهُ عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسْتَجْمِعًا قَطُّ ضَاحِكًا حَتَّى أَرَى مِنْهُ لَهَوَاتِهِ إِنَّمَا كَانَ يَتَبَسَّمُ [ر: ٤٥٥٩]

[٥٧٣٢] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَحْبُوبٍ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ ح وَقَالَ لِي خَلِيفَةُ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ حَدَّثَنَا سَعِيدٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَجُلًا جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَهُوَ يَخْطُبُ بِالْمَدِينَةِ فَقَالَ قَحَطَ الْمَطَرُ فَاسْتَسْقِ رَبَّكَ فَنَظَرَ إِلَى السَّمَاءِ وَمَا نَرَى مِنْ سَحَابٍ فَاسْتَسْقَى فَنَشَأَ السَّحَابُ بَعْضُهُ إِلَى بَعْضٍ ثُمَّ مُطِرُوا حَتَّى سَالَتْ مَثَاعِبُ الْمَدِينَةِ فَمَا زَالَتْ إِلَى الْجُمُعَةِ الْمُقْبِلَةِ مَا تُقْلِعُ ثُمَّ قَامَ ذَلِكَ الرَّجُلُ أَوْ غَيْرُهُ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ فَقَالَ غَرِقْنَا فَادْعُ رَبَّكَ يَحْبِسْهَا عَنَّا فَضَحِكَ ثُمَّ قَالَ اللَّهُمَّ حَوَالَيْنَا وَلَا عَلَيْنَا مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا فَجَعَلَ السَّحَابُ يَتَصَدَّعُ عَنِ الْمَدِينَةِ يَمِينًا وَشِمَالًا يُمْطَرُ مَا حَوَالَيْنَا وَلَا يُمْطِرُ مِنْهَا شَيْءٌ يُرِيهِمُ اللَّهُ كَرَامَةَ نَبِيِّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِجَابَةَ دَعْوَتِهِ [ر: ٨٩٠]

علامه عینی او علامه قسطلاني فرمائي: " هذا باب في إباحة التبسم و الضحك " (١) تبسم مسکي کیدلو ته وائي ، ضحك داسې خندا ته وائي چه دیکښې اواز ډیر نرې وی چه نزدې سړې ئې هم واونه رې ، او کُه اواز دومره اوچت وی چه ټول ئې واوری نو دیته قهقهه وائي -

د حضور د خندلو کیفیت : رسول الله ﷺ به په عام حالاتو کښې تبسم کولو ، کله کله به ئې ضحك کولو - (٢) علامه شامي او نورو فقهاءو د تبسم تعریف کړیدې چه کوم بغیر د اوازه وی چه هغې ته مسکاوائي ، ضحك هغه دې چه دیکښې دې په خپله اواز واوری ، اوقهقهه

(١) ارشاد الساري : ١٣ \ ١٠٠ ، عمدة القاري : ٢٢ \ ١٤٧)

(٢) زاد المعاد ، فصل في هديه صلى الله عليه و سلم في كلامه و سكونه ، و ضحكه ، و بكائه : ١ \ ١٨٢)

دا ده چه ديكښې په خوا كښې خلق اواز واورى - (۱)

علامه بن قيم رحمه الله په زاد المعاد كښې فرمائى "وكان رجل ضحكه التبسم، بل كله التبسم، فكان نهاية ضحكه أن تبدو نواجذه ..... لم يكن ضحكه بقهقهة" (۲)

(د رسول الله ﷺ خندا به بس تبسم وو ، د دوى د خندا انتهاء به دا وه چه د دوى غاښونه مبارك به ښكاره شو ، په قهقهه به دوى كله هم نه خندل)

د رسول الله ﷺ د زيات نه زيات خندا چه كوم كيفيت په روايتونو كښې منقول دى ، نو هغه په الفاظو د " حتى بدت نواجذه .... " سره منقول دې ، لكه دې باب كښې د حضرت ابوهريره ﷺ روايت كښې دى ...... دينه معلومه شوه چه رسول الله ﷺ كله هم قهقهه نه ده كړې ، لكه چه وړاندې د حضرت عائشه ﷺ روايت راځى ، ما رأيت رسول الله صلى الله عليه و سلم مستجمعا ضاحكا"- (ما كله هم رسول الله ﷺ په پوره خندا نه دې ليدلې -)

خو بعض فقهاء حضراتو د " بدت نواجذه " والا كيفيت په قهقهه كښې شامل كړيدې او ويلې دى چه دې كيفيت سره په مانځه كښې څوك اوخاندى نو د مانځه سره ئې اودس هم ماتيږى (۳) ددې تفسير مطابق د رسول الله ﷺ نه قهقهه ثابته ده، خو جمهور د قهقهه دا تعريف نه كوى - (۴)

د باب تر لاندې امام بخارى رحمه الله اته حديثونه رانقل كړيدى او ديكښې هر يو كښې د ضحك او د تبسم ذكر شته دې -

د دريم حديث په آخر كښې دى ، قال الحميدى : حدثنا سفيان : بالخبر كله " حميدى د امام بخارى رحمه الله شيخ دې او د ده نوم عبد الله بن الزبير دې ، فرمائى چه سفيان بن عيينه دا حديث ماته په صيغه د اخبار سره اوروليې دې چر ته هم په كښې عنعنه نشته دې -

قوله: ما رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم مستجمعا ضاحكا: حضرت عائشه ﷺ فرمائي ، چه رسول الله ﷺ ما كله هم په پوره خندا نه دې ليدلې ، داسې چه د دوى تالو په نظر راغلې وى . لَهَوات: د لهاة جمع ده تالو ته وائى - (۵)

---

(۱) رد المحتار على الدر المختار ، كتاب الطهارة ، مطلب نوم الأنبياء غير ناقض : ۱\۱۰۷)

(۲) زاد المعاد ، فصل فى هديه صلى الله عليه و سلم فى كلامه و سكونه ، و ضحكه ، و بكائه : ۱\۱۸۲)

(۳) رد المحتار على الدر المختار ، كتاب الطهارة ، مطلب نوم الأنبياء غير ناقض : ۱\۱۰۷)......

(۴) مجمع بحار الأنوار مادة " لها " : ۴\۵۲۰ ، النهاية لابن الأثير : " باب اللام مع الهاء " : ۴\۲۸۳)

(۵) عمدة القارى : ۲۲\۱۵۲ ، ارشاد السارى : ۱۳\۱۰۸)

۶۹ = بَاب قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ [التوبة:۱۱۹] وَمَا يُنْهَى عَنْ الْكَذِبِ

[۵۷۴۳] (۱) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إِلَى الْبِرِّ وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِي إِلَى الْجَنَّةِ وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَصْدُقُ حَتَّى يَكُونَ صِدِّيقًا وَإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِي إِلَى الْفُجُورِ وَإِنَّ الْفُجُورَ يَهْدِي إِلَى النَّارِ وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَكْذِبُ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللَّهِ كَذَّابًا

[۵۷۴۴] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ سَلَامٍ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ أَبِي سُهَيْلٍ نَافِعِ بْنِ مَالِكِ بْنِ أَبِي عَامِرٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثٌ إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ [ر:۳۳]

[۵۷۴۵] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ حَدَّثَنَا أَبُو رَجَاءٍ عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَيْتُ اللَّيْلَةَ رَجُلَيْنِ أَتَيَانِي قَالَا الَّذِي رَأَيْتَهُ يُشَقُّ شِدْقُهُ فَكَذَّابٌ يَكْذِبُ بِالْكَذْبَةِ تُحْمَلُ عَنْهُ حَتَّى تَبْلُغَ الْآفَاقَ فَيُصْنَعُ بِهِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ [ر:۸۰۹]

د صدق او د رښتيا اهميت : امام بخاری رحمه الله چه دې ابواب کښې د ژوند آداب بيانوی دې وجه نه ئې مختلف اسلامي آدابو او احکامو باندې ابواب قائم کړل ، دا باب د صدق او د رښتيا د اهميت او د دروغو په ممانعت قائم شويدې -

سورة توبة آيت کريمه ئې نقل کړيدې چه هغې کښې الله تعالى د رښتونو سره د کيدو حکم ورکوی . يعنی هغه خلق چه کوم په خپل ايمان ، عمل او اقوالو کښې رښتوني دی دروغژن او منافقان نه دې (۲)

د باب رومبی حديث د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه دې ، فرمائی چه صدق او رښتيا نيکي ته هدايت کوی ، اونيکی جنت ته هدايت کوی ، سړې رښتيا وائی ، تر دې چه " صديق " جوړ شی . او دروغ فسق او فجور ته بوتلل کوی او فسق جهنم ته بوتلل کوی او سړې دروغ وائی وائي تر دې چه د الله تعالى په نزد دې " کذاب " اوليکلې شی -
دا روايت امام بخاری رحمه الله دلته په رومبي ځل ذکر کړيدې -

---

(۱) ۵۷۴۳) الحديث أخرجه مسلم فى كتاب البر و الصلة و الآداب . باب قبح الكذب و حسن الصدق : ۴ \ ۲۰۱۲ (رقم الحديث : ۲۶۰۷) و أخرجه أبوداود فى كتاب الأدب . باب فى التشديد فى الكذب : ۴ \ ۲۹۷ (رقم الحديث : ۴۹۸۹) و أخرجه الترمذى فى كتاب البر و الصلة . باب ما جاء فى الصدق و الكذب : ۴ \ ۳۴۷ (رقم الحديث : ۱۹۷۱)

(۲) عمدة القارى : ۲۲ \ ۱۵۲ . ارشاد السارى : ۱۳ \ ۱۰۸)

د دروغو نقصان:

قوله: حتی یُکتب عند الله کذابا: د حضرت عبد الله بن مسعود په یو بل روایت کښې د دې تفصیل راغلې دې ددې الفاظ دی "لایزال العبد یکذب وتنکت فی قلبه نکتة سوداء حتی یسود قلبه، فیکتب عند الله من الکاذبین" [1] (سړې دروغ وائی نو د ده په زړه کښې یو تور داغ لګې تر دې چه د ده زړه پوره تور شی او د الله تعالی په نزد دې په دروغژنو کښې اولیکلې شی)
امام غزالی رحمه الله فرمائې چه کذب قبیح لعینه نه دی، بلکه دیکښې چه د نورو خلقو ضرر دې نو دې وجه نه دا قبیح دی، [2] بعض عالمان دیته قبیح لعینه وائی ځکه چه دا خلاف واقع او خلاف حقیقت خبره اګر چه د چا دپاره مضر نه وی فی نفسه هم قبیح ده -
په بعضې خاص صورتونو کښې د کذب اجازت په خپله احادیثو کښې هم نقل دې، مثلاً د دوه سړو په مینځ کښې د صلح کولو په غرض سره که د دروغو ضرورت راپیښ شی نو د دې جواز شته، د ښځې سره په مخصوص صورتونو کښې د دروغو ویلو او په جنګ کښې کافرانو ته د نقصان رسولو په غرض سره د کذب جواز شته دی - [3]
د باب دویم روایت په تفصیل سره په کشف الباری کتاب الایمان کښې تیر شویدې - [4]
د کذب په مقابله کښې صدق دې، صدق فی القول، صدق فی العمل، صدق فی العزم او صدق فی الایمان، دا ټول مطلوب او محبوب دی -
د باب آخری روایت کښې دی، رسول الله ﷺ فرمائې؛ چه ما اولیدل چه ما ته دوه سړی راغلل (دوی نه مراد حضرت جبرائیل علیه السلام او حضرت میکائیل علیه السلام دی) [5] او دې دواړو ما ته اوویل، چه کوم سړې تا اولیدلو چه د ده وخکې شلولې کیږی، دې کذاب وو، بخاری، کتاب الجنائز کښې دی: ده به د دروغو خبرې داسې خورولې چه د دنیا په ټولو ګوټونو کښې به خوریدلې، د قیامت ورځې پورې به ده سره داسې کیږی، دلته په روایت کښې اختصار دې، په جنائز کښې دا روایت په تفصیل سره تیر شویدې، هلته الفاظ دی:
"رأیت اللیلة رجلین أتیانی فأخذا بیدی وأخرجانی إلی أرض مقدسة، فإذا رجل جالس، ورجل قائم، بیده کلوب من حدید یدخله فی شدقه حتی یبلغ قفاه، ثم یفعل بشدقه الآخر مثل ذلک ویلتئم شدقه هذا، فیعود، فیصنع مثله، فقلت: ما هذا؟ قالا: ......" [6] یعنی ما اولیدل چه د شپې ما ته دوه کسان راغلل څه دوی مقدس زمکې ته بوتلم، ما یو سړې اولیدو چه ولاړ دې او دده په لاس کښې د

---

[1] الموطاء للإمام مالک، کتاب الجامع، باب ما جاء فی الصدق و الکذب: ۷۳۲؛
[2] فتح الباری: ۱۰\۶۲۲)
[3] رد المحتار، کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی البیع: ۵\۳۰۳)
[4] کشف الباری، کتاب الإیمان، باب علامة المنافق: ۲\۲۷۰ (رقم الحدیث: ۳۳)
[5] لکه چه هم د بخاری په یو روایت کښې د دې دواړو فرشتو نومونه ذکر دی - کتاب الجنائز، باب بلا ترجمة (رقم الحدیث: ۱۳۲۰)
[6] أخرجه البخاری فی کتاب الجنائز، باب بلا ترجمة (رقم الحدیث: ۱۳۸۶)

اوسپنې کونده ده چه د يو ناست سړی په وخکي کښې ئې ورننه باسی او تر څته پورې ئې راکاږی بيا د بل طرف وخکي سره داسې اوکړې ، او دې وخته پورې رومبې وخکي ئې ورغلې وی، بيا دې ورغلې وخکي سره دا عمل په دوباره اوکړی.ما تپوس اوکړو داڅه دې؟ نو دوی اوويل (دې كذاب دې)

۷۰=بَاب فِي الْهَدْيِ الصَّالِحِ

[۵۷۴۶] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ قُلْتُ لِأَبِي أُسَامَةَ أَحَدَّثَكُمُ الْأَعْمَشُ سَمِعْتُ شَقِيقًا قَالَ سَمِعْتُ حُذَيْفَةَ يَقُولُ إِنَّ أَشْبَهَ النَّاسِ دَلًّا وَسَمْتًا وَهَدْيًا بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَابْنُ أُمِّ عَبْدٍ مِنْ حِينِ يَخْرُجُ مِنْ بَيْتِهِ إِلَى أَنْ يَرْجِعَ إِلَيْهِ لَا نَدْرِي مَا يَصْنَعُ فِي أَهْلِهِ إِذَا خَلَا [ر:۳۵۵۱]

[۵۷۴۷] (۱) حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ مُخَارِقٍ سَمِعْتُ طَارِقًا قَالَ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ إِنَّ أَحْسَنَ الْحَدِيثِ كِتَابُ اللَّهِ وَأَحْسَنَ الْهَدْيِ هَدْيُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ر:۶۸۴۹]

هَدْى (د هاء په فتحه او دال په سکون سره) طريقه ته وائی (۲) امام بخاری رحمه الله د حديث په الفاظو سره دا ترجمه قائم کړيده ، امام بخاری رحمه الله په " الادب المفرد " او امام ابوداود په خپل سنن کښې دا حديث رانقل کړيدې "إن الهدى الصالح و السمت الصالح و الاقتصاد جزء من خمسة وعشرين جزء من النبوة" (۳) (ښه طريقه ، نيك عادت او ميانه روی د نبوت په پنځويشتو اجزاءو کښې يو جزء او يو حصه ده -)

رومبی روايت کښې حضرت حذيفه ﷺ فرمائی ، خلقو کښې د رسول الله ﷺ د عادتونو طور او طريقو اوخصلتونو کښې زيات مشابه ابن ام عبد (حضرت عبد الله بن مسعود) دې ، د کور نه وتلو نه واخله واپس کيدو پورې (چه مونږ ته د دوی د ژوند دا معمولات په نظر راځی ، اوس چه کور ته لاړ شی هلته څه کوی هغه مونږ ته نه دی معلوم ځکه چه د کور ژوندون خو صرف کور والا ته معلوميدې شی)

په حديث کښې درې لفظونه استعمال شويدی دَل (ددال په فتحه سره) ترجمه ده حسن الحركة فى المشى والحديث وغيرهما (۴) يعنی د انسان د حرکاتو او سکناتو ښائست ته دَل وائی - سَمْت (د سين په فتحه او د ميم په سکون سره) ښه منظر ته هم وايی او طور طريقو ته هم وائی - (۵)

---

۱) ۵۷۴۷) الحديث أخرجه البخارى أيضا فى كتاب الإعتصام بالكتاب و السنة ، باب الاقتداء بسنن رسول الله صلى الله عليه و سلم (رقم الحديث : ۶۸۴۹)

۲) مجمع بحار الأنوار " مادة هدى " : ۵\۱۴۵ ، النهاية لابن الأثير : ۵\۲۵۳)

۳) أخرجه أبوداود فى كتاب الأدب ، باب فى الوقار : ۴\۲۴۷ (رقم الحديث : ۴۷۷۶) ، الأدب المفرد مع فضل الله الصمد ، باب الهدى و السمت الحسن : ۲\۲۶۰ (رقم الحديث : ۷۹۱)

۴) ارشاد السارى : ۱۳\۱۱۱)

۵) مجمع بحار الأنوار " مادة سمت " : ۳\۱۱۳ ، النهاية لابن الأثير : ۲\۳۹۷)

هَدْی طور طریقه سکینت او وقار ته وائی ، هدي او دل قریب المعنی دی - ([1])
ددې حدیث په سند کښې اسحاق بن ابراهیم وائي ، ما ابو اسامه (حماد بن اسامه) نه تپوس اوکړو چه اعمش دا حدیث تا ته بیان کړیدې ، نو دوی په هو یا په نه سره جواب رانکړو ، بلکه وړاندې ئې سند نقل کړو او وې ویل : سمعت شقیقا قال سمعت حذیفة ... "
شارحین لیکی چه د دوی دا خاموشی او جواب نه ورکول د دوی تصدیق او د " هو " د جواب ورکولو قائم مقام وو ([2]) چه د دې حاصل دادې چه د ابواسامه شیخ اعمش دې او دې فرمائی چه ما د شقیق بن سلمه نه اوریدلې دې -
د باب دویم حدیث هم د حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ دې ، او امام بخاری رحمه الله په ړومبی ځل دلته رانقل کړیدې ، هغه فرمائی ، چه د ټولو نه ښائسته کلام کتاب الله دې او د ټولو نه ښائسته طریقه او سیرت د نبي کریم ﷺ طریقه او سیرت دې -
دا حدیث دلته موقوف روایت دې په بعض طریقو کښې مرفوع هم راغلې دې ([3]) او د عبد الله بن مسعود په بعض طرق کښې دا اضافه هم شته " وشر الأمور محدثاتها ، وإن ما توعدون لآت ، وما أنتم بمعجزین " ([4]) اصحاب السنن دا حدیث په مختلف الفاظو سره نقل کړیدې - ([5])
فائده : دلته د باب په روایت کښې دی چه حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ په طور طریقو کښې د رسول الله ﷺ سره د ټولو نه زیات مشابه وو ..... خو بعض روایتونو کښې دا حضرت فاروق اعظم ، او د حضرت فاطمه او د حضرت عمرو بن الاسود په باره کښې راغلې دی ، چه دوی د حضور ﷺ سره د ټولو نه زیات مشابه وو - ([6])
د دې جواب دا ورکولې کیدې شی چه دا د مختلفو اصحابو خپله خپله مشاهده وه ، چا ته په یو کښې او چا ته په بل کښې د حضور ﷺ سره زیات مشابهت په نظر راغلو -
حافظ ابن حجر د دې نور جوابونه هم ذکر کړیدی ، خو راجح هم دا خبره معلومیږی چه کوم موننږ ذکر کړه ([7])

---

[1]) عمدة القاری : ۲۲\۱۵٤ ، شرح الکرمانی : ۲۱\۲۲۲ ، فتح الباری : ۱۰\۶۲۵)
[2]) عمدة القاری : ۲۲\۱۵٤ ، ارشاد الساری : ۱۳\۱۱۱)
[3]) امام احمد رحمه الله دا د حضرت جابر رضی الله عنه نه مرفوع نقل کړیدې د " شر الأمور محدثاتها " اضافي سره (مسند الإمام أحمد بن حنبل فی مسانید جابر بن عبد الله : ۳\۳۱۹)
[4]) أخرجه البخاری فی کتاب الإعتصام بالکتاب و السنة ، باب الإقتداء بسنن رسول الله صلی الله علیه و سلم (رقم الحدیث : ۷۲۷۷)
[5]) فتح الباری : ۱۰\۶۲۶)
[6]) فتح الباری : ۱۰\۶۲۵)
[7]) لکه چه حافظ ابن حجر فرمائی " و یحتمل أن تکون مقالة حذیفة و قعت بعد موت عمر " او چه کوم روایت کښې د حضرت فاطمه رضی الله عنها ذکر دې چه د دې د رسول الله صلی الله علیه و سلم سره زیات مشابهت وو نو دې باره کښې حافظ فرمائی :" قلت: و یجمع بالحمل فی هذا علی نساء " او د حضرت عمرو بن الاسود د زیاتوالی د مشابهت په باره کښې فرمائی...[بقیه برصفحه آئنده..

۷۱-باب: الصَّبْرِ عَلَى الأَذَى

وقوله الله تعالى: إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ (الزمر: ۱۰)

[۵۷۴۸] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ عَنْ سُفْيَانَ قَالَ حَدَّثَنِي الْأَعْمَشُ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ السُّلَمِيِّ عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيْسَ أَحَدٌ أَوْ لَيْسَ شَيْءٌ أَصْبَرَ عَلَى أَذًى سَمِعَهُ مِنَ اللَّهِ إِنَّهُمْ لَيَدْعُونَ لَهُ وَلَدًا وَإِنَّهُ لَيُعَافِيهِمْ وَيَرْزُقُهُمْ [ر: ۶۹۳۲]

[۵۷۴۹] حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ قَالَ سَمِعْتُ شَقِيقًا يَقُولُ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ قَسَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِسْمَةً كَبَعْضِ مَا كَانَ يَقْسِمُ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ وَاللَّهِ إِنَّهَا لَقِسْمَةٌ مَا أُرِيدَ بِهَا وَجْهُ اللَّهِ قُلْتُ أَمَا أَنَا لَأَقُولَنَّ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَيْتُهُ وَهُوَ فِي أَصْحَابِهِ فَسَارَرْتُهُ فَشَقَّ ذَلِكَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَغَيَّرَ وَجْهُهُ وَغَضِبَ حَتَّى وَدِدْتُ أَنِّي لَمْ أَكُنْ أَخْبَرْتُهُ ثُمَّ قَالَ قَدْ أُوذِيَ مُوسَى بِأَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ فَصَبَرَ [ر: ۲۹۸۱]

د صبر لغوی او صطلاحی معنی او قسمونه: د صبر لغوی معنی د بندیدو ، ایساریدو راځي او اصطلاح کښې صبر په دري معنی مشهور دي ، یو : صبرعلی المصیبة " دویم : صبرعلی الطاعة او دریم : صبرعن المعصیة-

صبرعلی المصیبة معنی دا ده چه انسان په کوم آزمائش او تکلیف کښې مبتلا وی په هغې د الله تعالی نه هیڅ قسم شکوه او شکایت او د ناراضګۍ اظهار اونکړي ، او ددې په وجه د الله تعالی په اطاعت او عبادت کښې هیڅ قسم فرق رانه ولی ، بلکه استقامت سره رضاء بالقضاء باندې عمل کوی ..... (۱) دیته " صبرعلی المصیبة " ..... وائي ، قرآن کریم کښې صبر په دې معنی سره ډیر استعمال دي ، او صبر هم په دې معنی د ټولو نه زیات مشهور دې - دلته دې دا خبره یاده وی چه د مصیبت په وخت شکوه شکایت نه کول او راضی بالقضاء اوسیدو اصل اعتبار په ابتدائي وخت کښې دي ، حدیث کښې دی ، الصبرعند صدمة الأولی (۲) روستو چه وخت تیریږی نو صبر خو خود راځی -

دویم قسم صبرعلی الطاعة دې چه د هغې حاصل دا دې چه د الله تعالی په اطاعت او په عبادت باندې سرې په استقامت سره اوسی - (۳)

دریم قسم صبرعن المعصیة دې یعنی د الله تعالی د نافرمانۍ او د معصیت نه انسان ځېل

...بقیه ازحاشیه گذشته] " قلت : و یجمع بالحمل علی من بعد الصحابة " فتح الباری : ۱۰\۶۲۵)

۱) معارف القرآن ، سورة البقرة : ۱\۳۹۴ ، الجامع لأحکام القرآن للقرطبی : ۲\۱۷۳)

۲) أخرجه البخاری فی کتاب الجنائز ، باب الصبر عند الصدمة الأولی (رقم الحدیث : ۱۳۰۲)......

۳) الجامع لأحکام القرآن للقرطبی : ۲ ۱۷۴ ، معارف القرآن ، سورة البقرة : ۱\۳۹۴)

ځان بند اوساتی - (١)
قران كريم د صابرينو ډير لوئ فضيلت بيان كړيدې ، او په قرآن كښې صبر تقريبًا په پنځه نوی ځايونو كښې ذكر شويدې - (٢)
د باب ړومبی روايت كښې حضرت ابوموسى اشعرى رضي الله عنه فرمائی چه حضور اكرم ﷺ فرمانلي دی ، چه هيڅ يو سړې هم په تكليف ده خبره اوريدو كښې د الله تعالى نه زيات صابر نشته دې چه خلق ده دپاره ځوې وائی او دې (سره د دې په دنيا) ده لره معاف كوی او ده ته رزق وركوی -
ليس أحداو ليس شيء كښې راوی ته شك دې چه كوم لفظ ئې استعمال كړيدې -
قوله: أصبر على أذى سمعه من الله: د " من الله " تعلق د أصبر سره دې " من " ... د " أصبر " صله ده ، أذى موصوف او سمعه ئې صفت دې تقدير د عبارت دې .... "ليس أحد أصبر من الله على أذى سمعه ..... " د باب دويم حديث كښې هم د صبر ذكر دې -
د امام بخاری رحمه الله مقصد په دې باب كښې د خلقو په اذيت ملاويدو باندې د صبر كولو بيانول دی ، امام ابن ماجه په خپل سنن كښې يو روايت نقل كړيدې ، چه دا د امام بخاری رحمه الله په شرط نه دې ، دې وجه نه امام د دې ذكر اونكړو ، د هغې الفاظ دی "المؤمن الذی يخالط الناس و يصبر على أذاهم أعظم أجرا من المؤمن الذی لا يخالط الناس و لا يصبر على أذاهم" (٣) يعنی چه كوم سړې د خلقو سره اوسيږی او د دوی په اذيتونو صبر كوی نو دده ثوابونه د هغه سړې په مقابله كښې زيات دی چه كوم د خلقو سره نه اوسيږی او د دوی په اذيتونو وركولو صبر نه كوی -

۷۲=بَاب مَنْ لَمْ يُوَاجِهِ النَّاسَ بِالْعِتَابِ

[۵۷۵۰] (٤) حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَتْ عَائِشَةُ صَنَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا فَرَخَّصَ فِيهِ فَتَنَزَّهَ عَنْهُ قَوْمٌ فَبَلَغَ ذَلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَطَبَ فَحَمِدَ اللَّهَ ثُمَّ قَالَ مَا بَالُ أَقْوَامٍ يَتَنَزَّهُونَ عَنْ الشَّيْءِ أَصْنَعُهُ فَوَاللَّهِ إِنِّي لَأَعْلَمُهُمْ بِاللَّهِ وَأَشَدُّهُمْ لَهُ خَشْيَةً [ر: ۶۸۷۱]
[۵۷۵۱] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ هُوَ ابْنُ أَبِي عُتْبَةَ

---

(١) معارف القرآن : ١١ \ ٣٩٤)
(٢) ارشاد السارى : ١٣ \ ١١٢)
(٣) سنن ابن ماجه ، كتاب الفتن ، باب الصبر على البلاء : ٢ \ ١٣٣٨ (رقم الحديث : ٤٠٣٢)
(٤) ٥٧٥٠) الحديث أخرجه البخارى أيضا فى كتاب الاعتصام بالكتاب و السنة (رقم الحديث : ٦٨٧١) و أخرجه مسلم فى الفضائل ، باب علمه صلى الله عليه وسلم بالله تعالى و شدة خشيته : ٤ \ ١٨٢٩ (رقم الحديث : ٢٣٥٦)

مَوْلَى أَنَسٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشَدَّ حَيَاءً مِنَ الْعَذْرَاءِ فِي خِدْرِهَا فَإِذَا رَأَى شَيْئًا يَكْرَهُهُ عَرَفْنَاهُ فِي وَجْهِهِ[ر:۳۳٦۹]

د رسول الله ﷺ يو عادت مباركه دا وو چه دوى ته به د چا خبره بده اولگيده نو خاص ده ته به ئې په تعين سره خطاب د عتاب (زورنې) وركولو نه كولو ، بلكه كُه چا ته به دوى په يو خبره د عتاب وركولو ضرورت محسوسولو نو عمومى خطاب كښې به ئې عتاب بيان كړو - د حياء د غلبې په وجه به دوى په تعين سره يو خاص كس ته عتاب نه وركولو ، لكه امام ابوداود رحمه الله د حضرت عائشه ﵂ روايت رانقل كړيدې " كان النبى صلى الله عليه و سلم إذا بلغه عن الرجل الشىء لم يقل : ما بال فلان يقول ، ولكن يقول : ما بال أقوام يقولون كذا و كذا " (١)
لكه چه د باب په ړومبى روايت كښې دى ، رسول الله ﷺ يو كار اوكړو او ديكښې ئې رخصت هم وركړو خو خلقو به دينه ځان ساتلو ، نو رسول الله ﷺ ته چه كلُه معلومه شوه نو دوى خطبه كښې ارشاد اوكړو ، په خلقو څه شويدى چه ما يو كار اوكړو خو خلق دينه بيا هم ځان ساتى ، د الله قسم دې چه څه د خلقو نه الله تعالى زيات پيژنم او ده نه زيات يريږم- دې حديث كښې چه د كوم كار ذكر دې شارحين د بخارى دينه لا علمى ښكاره كوى - (٢)
ديكښې رسول الله ﷺ ما بال أقوام په خطبه كښې ارشاد كړو او نه ئې څوك متعين كړو او نه ئې چا ته په شخصى طور خطاب اوكړو -
د مسلم شريف په روايت كښې دومره اضافه هم ده " فبلغ ذلك النبى صلى الله عليه و سلم ، فغضب حتى بان الغضب فى وجهه " (٣)

قوله: عن الشىء أصنعه: دشىء نه مراد كار دې لكه چه د جرير په روايت كښې دى " بلغهم عنى أمر ترخصت فيه فكرهوه و تنزهوا عنه " (٤) او د ابومعاويه په روايت كښې دى " يرغبون عما رخصت فيه " (٥) يعنى چه كوم كار كښې رخصت وركړې شويدې ، خلقو دې رخصت نه اعراض اوكړو او ددې په كولو شرميږى ، د شعبى مشهور قول دې ،إن الله يحب أن يعمل برخصه كما يحب أن يعمل بعزائمه (٦) يعنى الله تعالى ته چه څنگه په عزيمت باندې عمل خوښ

---

(١) سنن أبى داود ، كتاب الأدب ، باب فى حسن العشرة : ٤ \ ٢٥٠ (رقم الحديث : ٤٧٨٨) د ابوداود يو بل روايت كښې دى " كان رسول الله صلى الله عليه و سلم قلما يواجه رجلا فى وجهه بشىء يكرهه (سنن أبى داود ، كتاب الأدب ، باب فى حسن العشرة : ٤ \ ٢٥٠ (رقم الحديث : ٤٧٨٩)

(٢) ارشاد السارى : ١٣ \ ١١٤)

(٣) رواه مسلم فى كتاب الفضائل ، باب علمه صلى الله عليه و سلم و شدة خشيه: ٤ \ ١٨٢٩(رقم الحديث: ٢٣٥٦)

(٤) و رواية جرير أخرجها مسلم فى كتاب الفضائل ، باب علمه صلى الله عليه و سلم و شدة خشيه : ٤ \ ١٨١٩ (رقم الحديث : ٢٣٥٦)

(٥) و رواية أبى معاوية أيضا فى مسلم فى كتاب الفضائل ، باب علمه صلى الله عليه و سلم و شدة خشيه : ٤ \ ١٨٢٩ (رقم الحديث ٢٣٥٦)

(٦) شرح صحيح البخارى لابن بطال : ٩ \ ٢٨٧)

دي نو داسي ورته په رخصتونو هم عمل كول خوښ دي -
د باب دويم روايت كښې دى ، رسول الله ﷺ د پرده دارې پيغلې جينۍ نه هم زيات حياء دار وو ..... عذراء ، پيغلې جينۍ ته وائى ، خدر : پردې ته وائى ، علامه عينى رحمه الله ترجمة الباب سره د حديث مناسبت بيانولو كښې ليكى :

" مطابقته للترجمة من حيث إنه لشدة حيائه لا يعاتب أحدا فى وجهه " (١) يعنى دوى ﷺ كښې چه حياء ډيره زياته وه نودې وجه نه دوى يو خاص كس مخاطب كړې او زورلې نه دې -

٧٣=بَاب مَنْ أَكْفَرَ أَخَاهُ بِغَيْرِ تَأْوِيلٍ فَهُوَ كَمَا قَالَ

[٥٧٥٢] (٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ وَأَحْمَدُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَا حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ أَخْبَرَنَا عَلِيُّ بْنُ الْمُبَارَكِ عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا قَالَ الرَّجُلُ لِأَخِيهِ يَا كَافِرُ فَقَدْ بَاءَ بِهِ أَحَدُهُمَا وَقَالَ عِكْرِمَةُ بْنُ عَمَّارٍ عَنْ يَحْيَى عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يَزِيدَ سَمِعَ أَبَا سَلَمَةَ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

[٥٧٥٣] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَيُّمَا رَجُلٍ قَالَ لِأَخِيهِ يَا كَافِرُ فَقَدْ بَاءَ بِهَا أَحَدُهُمَا

[٥٧٥٤] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ أَبِي قِلَابَةَ عَنْ ثَابِتِ بْنِ الضَّحَّاكِ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ حَلَفَ بِمِلَّةٍ غَيْرِ الْإِسْلَامِ كَاذِبًا فَهُوَ كَمَا قَالَ وَمَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِشَيْءٍ عُذِّبَ بِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ وَلَعْنُ الْمُؤْمِنِ كَقَتْلِهِ وَمَنْ رَمَى مُؤْمِنًا بِكُفْرٍ فَهُوَ كَقَتْلِهِ [ر:١٢٩٧]

دامام بخارى رحمه الله مقصد دا دې چه كه يو مسلمان بل مسلمان بغير د څه قرينې او د دليله او د تاويله تكفير اوكړى نو دې په خپله كافر كيږى، " بغير د تاويله " قيد ئې څكه اولګوله چه كه د تاويل او د دليل د وجه نه د ده تكفير اوكړى ، نو بيا دې معذور دې - (٣) لكه چه په را روان باب كښې راځى -

د باب لاندې چه كوم احاديث راغلې دى په دې باندې خبرې څو بابه وړاندې باب ما ينهى من السباب و اللعن كښې شويدى ، د " فهو كما قال " يو تاويل ابن بطال كړيدې ، هغه فرمائى ، ما د مهلب نه دې باره كښې تپوس اوكړو دوى په مختلف تعبيرونو كښې هم يو جواب راكړو ، او وې ويل چه د فهو كما قال مطلب دا دې چه دې دروغژن دې ، كافر نه دې

---

(١) عمدة القارى : ٢٢ \ ١٥٦)
(٢) ٥٧٥٢) هذا الحديث من إفراد الإمام البخارى . عمدة القارى : ٢٢ \ ١٥٧)
(٣) عمدة القارى : ٢٢ \ ١٥٧)

يعني چه څنګه په نورو باندې د دروغو فتوى لګوى ، داسي دې په خپله دروغژن دې (١)

د عكرمه بن عمار تعليق ابونعيم او حارث بن ابى سلمه موصولاً نقل كړيدې - (٢)

٧٣=بَاب مَنْ لَمْ يَرَ إِكْفَارَ مَنْ قَالَ ذَلِكَ مُتَأَوِّلًا أَوْ جَاهِلًا

وَقَالَ عُمَرُ لِحَاطِبِ بْنِ أَبِي بَلْتَعَةَ إِنَّهُ مُنَافِقٌ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ اللَّهَ قَدْ اطَّلَعَ إِلَى أَهْلِ بَدْرٍ فَقَالَ قَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ [ر:٢٦٠٨]

[٥٧٥٥] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبَادَةَ أَخْبَرَنَا يَزِيدُ أَخْبَرَنَا سَلِيمٌ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ حَدَّثَنَا جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ كَانَ يُصَلِّي مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ يَأْتِي قَوْمَهُ فَيُصَلِّي بِهِمْ الصَّلَاةَ فَقَرَأَ بِهِمْ الْبَقَرَةَ قَالَ فَتَجَوَّزَ رَجُلٌ فَصَلَّى صَلَاةً خَفِيفَةً فَبَلَغَ ذَلِكَ مُعَاذًا فَقَالَ إِنَّهُ مُنَافِقٌ فَبَلَغَ ذَلِكَ الرَّجُلَ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا قَوْمٌ نَعْمَلُ بِأَيْدِينَا وَنَسْقِي بِنَوَاضِحِنَا وَإِنَّ مُعَاذًا صَلَّى بِنَا الْبَارِحَةَ فَقَرَأَ الْبَقَرَةَ فَتَجَوَّزْتُ فَزَعَمَ أَنِّي مُنَافِقٌ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا مُعَاذُ أَفَتَّانٌ أَنْتَ ثَلَاثًا اقْرَأْ وَالشَّمْسِ وَضُحَاهَا وَسَبِّحْ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى وَنَحْوَهَا [ر:٦٦٨]

[٥٧٥٦] حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ أَخْبَرَنَا أَبُو الْمُغِيرَةِ حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَلَفَ مِنْكُمْ فَقَالَ فِي حَلِفِهِ بِاللَّاتِ وَالْعُزَّى فَلْيَقُلْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَمَنْ قَالَ لِصَاحِبِهِ تَعَالَ أُقَامِرْكَ فَلْيَتَصَدَّقْ [ر:٤٥٧٩]

[٥٧٥٧] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا لَيْثٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّهُ أَدْرَكَ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ فِي رَكْبٍ وَهُوَ يَحْلِفُ بِأَبِيهِ فَنَادَاهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا إِنَّ اللَّهَ يَنْهَاكُمْ أَنْ تَحْلِفُوا بِآبَائِكُمْ فَمَنْ كَانَ حَالِفًا فَلْيَحْلِفْ بِاللَّهِ وَإِلَّا فَلْيَصْمُتْ [ر:٢٥٣٣]

د ترجمة الباب مقصد : دې باب كښې امام بخارى رحمه الله د هغه خلقو دليل بيان كړيدې چه كوم د جهالت يا د تاويل په بناء باندې د چا تكفير كوونكى ته كافر نه وائى لكه چه مهلب فرمائى :

"معنى هذا الباب أن المتأول معذور غير مأثوم ، ألا ترى أن عمر بن الخطاب قال لحاطب ، لما كاتب المشركين بخبر النبى : إنه منافق ، فعذر النبى عليه السلام عمر لما نسبه إلى النفاق -- وهو أسوأ الكفر -- ولم يكفر عمر بذلك من أجل ما جناه حاطب ، وكذلك عذر عليه السلام معاذ حين قال للذى خفف الصلاة وقطعها خلفه : إنه منافق ، لأنه كان متأولا ، فلم يكفر معاذا بذلك" (٣) يعنى د امام بخارى رحمه الله مقصد دا دې چه د عذر او د تاويل په وجه كه څوك چا ته كافر اووائى نو دې ګنهګار نه دې ، لكه چه

---

(١) شرح صحيح البخارى لابن بطال : ٩ \ ٢٨٩)

(٢) فتح البارى : ١٠ \ ٦٣١)

(٣) شرح ابن بطال : ٩ \ ٢٩١)

حضرت فاروق اعظم حضرت حاطب ته منافق اوويلې خو رسول الله ﷺ دوی معذور اوګرځولو ځکه چه حضرت فاروق اعظم ده ته د خط ليکلو د جرم په وجه منافق ويلې وو ، دارنګه حضرت معاذ بن جبل د مونځ نه تلونکی سړي ته منافق اوويلې ، حضور دې هم معذور اوګرځولو ، ځکه چه ده سره هم د خپلې خبرې تاويل او دليل وو -

① د شارحينو د کلام حاصل دا دې چه ړومبی باب کښې امام بخاری رحمه الله دا بيان اوکړو چه بغير د تاويله تکفير کول باعث د کفر دې او دې باب کښې امام بخاری رحمه الله دا بيانوی چه د تاويل او د عدم واقفيت په بنياد باندې تکفير کونکې معذور دې - (۱)

② شيخ الحديث مولانا محمد زکريا رحمه الله يو بله خبره ليکلې ده ، هغه په " الابواب و التراجم " کښې ليکی :

ما يخطر بالبال -- و الله أعلم بحقيقة الحال -- أنهما مسألتان مختلفتان ، فالباب الأول كما قال الشراح فى حق من قال للآخر : يا كافر ، بغير تاويل فى هذا القول ، و أما الباب الثانى فمؤداه عندى مسألة أخرى ، وهى تكفير من قال كلمة الكفر ، أو فعل فعلا يوجب الكفر جاهلا أو متأولا ، فمتعلق التأويل ههنا فعل المقول فيه ، لا فعل القائل ، بخلاف الترجمة السابقة ، فإنها على عكس ذلك ، و على هذا لا يلزم التكرار ، فتأمل ، فإنه لطيف مناسب لدقائق تراجم البخارى ، و مطابقة حديث الباب أعنى قصة حاطب أما على قول الشراح ، ففى قول عمر : إنه منافق ، فإنما قال عمر ما قاله متأولا ، و أما على ما اخترته فى معنى الترجمة ، فالمطابقة فى فعل حاطب ، فإنه فعل ما فعله متأولا ، و الله أعلم " (۲)

حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله د ويلو حاصل دا دې چه د تير شوې ترجمة الباب مقصد هم هغه مقصد دې چه کوم شارحينو بيان کړيدې ، چه بغير د تاويله د چا تکفير کول جائز نه دی او موجب د کفر دی ، خو ددې باب نه د امام بخاری رحمه الله غرض د تاويل په وجه د تکفير کوونکی حکم بيانول مقصد نه دې بلکه د هغه سړی دپاره د جواز بيان کول مقصد دې ، چه هغه د تاويل يا د جهالت په وجه څه کافرانه قول يا عمل اختيار کړو نو ړومبې باب د قائل سره متعلق دې يعنی چه نورو ته کافر وائی او دا باب د مقول فيه سره متعلق دې يعنی چه کوم سړی ته کافر اوويلې د ده باره کښې دې چه کُه ده د کفر والا کار د څه تاويل د وجه نه کړې وی نو دې معذور دې لکه چه حضرت حاطب د خط ليکلو تاويل بيان کړو چه ما ته معلومه وه چه مسلمانانو ته به په دې سره څه نقصان نه رسی ، خو ما ته به دا فائده اوشی چه ځما اهل و عيال به محفوظ شی -

قوله: من حلف منكم فقال فى حلفه ......: د دې حديث مناسبت د ترجمة الباب د دويم جزء " جاهلا " سره دې چه چا د جهالت په وجه د لات او د عزی قسم اوکړو نو دې دې کلمه د توحيد اووائی ، خو چه دغه وخت خلق د زمانه د جاهليت سره نزدې وو او د جاهليت

---

۱) عمدة القاری : ۲۲ \ ۱۵۸ ، ارشاد الساری : ۱۳ \ ۱۱۶ ، الابواب و التراجم : ۲ \ ۱۱۶)

۲) الأبواب و التراجم : ۲ \ ۱۱۶)

د زمانې الفاظ او تعبيرات او كلمات د دوى په ژبو پراته وو ، دې وجه نه حضور اكرم ﷺ د جهالت او د غلطئ په وجه داسې حلف كوونكې معذور اوګرځولو - (١)

٧٥-بَاب مَا يَجُوزُ مِنْ الْغَضَبِ وَالشِّدَّةِ لِأَمْرِ اللَّهِ

وَقَالَ اللَّهُ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ [التوبة:٧٣]

[٥٧٥٨] حَدَّثَنَا يَسَرَةُ بْنُ صَفْوَانَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ الْقَاسِمِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي الْبَيْتِ قِرَامٌ فِيهِ صُوَرٌ فَتَلَوَّنَ وَجْهُهُ ثُمَّ تَنَاوَلَ السِّتْرَ فَهَتَكَهُ وَقَالَتْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ أَشَدِّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ الَّذِينَ يُصَوِّرُونَ هَذِهِ الصُّوَرَ [ر:٢٣٤٧] .

[٥٧٥٩] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ حَدَّثَنَا قَيْسُ بْنُ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ أَتَى رَجُلٌ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي لَأَتَأَخَّرُ عَنْ صَلَاةِ الْغَدَاةِ مِنْ أَجْلِ فُلَانٍ مِمَّا يُطِيلُ بِنَا قَالَ فَمَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَطُّ أَشَدَّ غَضَبًا فِي مَوْعِظَةٍ مِنْهُ يَوْمَئِذٍ قَالَ فَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ مِنْكُمْ مُنَفِّرِينَ فَأَيُّكُمْ مَا صَلَّى بِالنَّاسِ فَلْيَتَجَوَّزْ فَإِنَّ فِيهِمْ الْمَرِيضَ وَالْكَبِيرَ وَذَا الْحَاجَةِ [ر:٩٠]

[٥٧٦٠] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا جُوَيْرِيَةُ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ بَيْنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي رَأَى فِي قِبْلَةِ الْمَسْجِدِ نُخَامَةً فَحَكَّهَا بِيَدِهِ فَتَغَيَّظَ ثُمَّ قَالَ إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا كَانَ فِي الصَّلَاةِ فَإِنَّ اللَّهَ حِيَالَ وَجْهِهِ فَلَا يَتَنَخَّمَنَّ حِيَالَ وَجْهِهِ فِي الصَّلَاةِ [ر:٣٩٨]

[٥٧٦١] حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ أَخْبَرَنَا رَبِيعَةُ بْنُ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ يَزِيدَ مَوْلَى الْمُنْبَعِثِ عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ اللُّقَطَةِ فَقَالَ عَرِّفْهَا سَنَةً ثُمَّ اعْرِفْ وِكَاءَهَا وَعِفَاصَهَا ثُمَّ اسْتَنْفِقْ بِهَا فَإِنْ جَاءَ رَبُّهَا فَأَدِّهَا إِلَيْهِ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَضَالَّةُ الْغَنَمِ قَالَ خُذْهَا فَإِنَّمَا هِيَ لَكَ أَوْ لِأَخِيكَ أَوْ لِلذِّئْبِ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَضَالَّةُ الْإِبِلِ قَالَ فَغَضِبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى احْمَرَّتْ وَجْنَتَاهُ أَوْ احْمَرَّ وَجْهُهُ ثُمَّ قَالَ مَا لَكَ وَلَهَا مَعَهَا حِذَاؤُهَا وَسِقَاؤُهَا حَتَّى يَلْقَاهَا رَبُّهَا [ر:٩١]

د ترجمة الباب مقصد: د امام بخارى رحمه الله مقصد ترجمة الباب نه دا دې چه رسول الله ﷺ به د خلقو په اذيت وركولو صبر كولو او د خپل ذات دپاره به ئې د دوى نه انتقام نه اخستلو او دوى سره د شفقت او د نرمئ سلوك كول اګر چه د دوى اخلاق كريمه كښې داخل وو خود دين اود شريعت اود الله تعالى د احكامو په معامله كښې به دوى رعايت نه كولو(٢)

---

(١) عمدة القارى : ٢٢ \ ١٥٩ ، شرح ابن بطال : ٩ \ ٢٩٢)

(٢) فتح البارى : ١٠ \ ٦٣٤ ، عمدة القارى : ٢٢ \ ١٦٠)

بلکه الله جل شانه په قرآن کریم کښې د الله د دښمنانو کافرانو سره د سخت برتاو حکم کړیدي ، ارشاد دي (یاأیها النبی جاهد الکفار و المنافقین و اغلظ علیهم)(۱) دا رنګه باب کښې دننه امام بخاری رحمه الله چه کوم روایتونه رانقل کړیدی ، دیکښې د رسول الله ﷺ د غضب او دغصه ذکر دې -

د باب ړومبې روایت په کتاب اللباس باب ما وطئ من التصاویر کښې تیر شویدې - چه کور کښې ئې تصویرونه اولیدل نو دوی غصه شو او د مخ مبارک رنګ ئې بدل شو -

دویم روایت کښې دی چه اوږد مونځ ورکوونکی ته دوی ﷺ غصه شو ، دا روایت هم په کتاب الصلاة کښې تیر شویدې - (۲)

دریم روایت کښې دی چه رسول الله ﷺ مونځ کولو نو د قبلې په طرف د سجدې کولو په ځائې کښې توك (بلغم یا خړینګ) اولیدلو نو دا ئې په خپل لاس سره صفا کړو او غصه شو او وې فرمائل چه تاسو کښې کله یو کس په مانځه کښې وی نو الله تعالی دده مخامخ وی ، دې وجه په مانځه کښې خپلې مخې ته د پوزې وغیره رطوبت نه غورزوئ -

نُخامة (د میم په ضمه سره) د پوزې وغیره نه چه کوم رطوبت اوځی هغې ته وائی . حِیال وجهه : حیال (د حاء په کسره سره) د مخامخ په معنی دې - (۳) أی مقابل وجهه ، یو روایت کښې " قبَل وجهه " دې (۴)

د باب څلورم حدیث کښې هم د دوی د غصې ذکر دې ، دیکښې دی فغضب رسول الله صلی الله علیه وسلم حتی أحمرت وجنتاه.... وجنة ننګی ته وائی ، وکاء : تار (د تړلو تار) ته وائی - عفاص (د عین په کسره سره) ګوتئ ته وائی - لایتتعّمن : دباب تفعیل د تنعّم معنی ده پوزه څونړ کول - (۵) دا حدیث کتاب اللقطة ، باب ضالة الإبل کښې تیر شویدې -

[۵۷۶۲] وَقَالَ الْمَكِّيُّ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَعِيدٍ ح وحَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ زِيَادٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنِي سَالِمٌ أَبُو النَّضْرِ مَوْلَى عُمَرَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ بُسْرِ بْنِ سَعِيدٍ عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ احْتَجَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُجَيْرَةً مُخَصَّفَةً أَوْ حَصِيرًا فَخَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِيهَا فَتَتَبَّعَ إِلَيْهِ رِجَالٌ وَجَاءُوا

---

(۱) سورة التحریم : ۹)

(۲) أخرجه البخاری فی کتاب الصلاة ، باب تخفیف الإمام فی القیام ، و إتمام الرکوع و السجود (رقم الحدیث : ۷۰۲)

(۳) فتح الباری : ۱۰ \ ۶۳۴ ، ارشاد الساری : ۱۳ \ ۱۲۰ ، عمدة القاری : ۲۲ \ ۱۶۱)

(۴) أخرجه البخاری فی کتاب الصلوة ، باب حک البزاق بالید فی المسجد (رقم الحدیث : ۴۰۶) و أخرجه مسلم فی کتاب المساجد و مواضع الصلوة ، باب النهی عن البصاق فی المسجد ... ۱ \ ۳۸۸ (رقم الحدیث : ۵۴۷)

(۵) مجمع بحار الانوار : ۴ \ ۶۷۶)

يُصَلُّونَ بِصَلَاتِهِ ثُمَّ جَاءُوا لَيْلَةً فَحَضَرُوا وَأَبْطَأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْهُمْ فَلَمْ يَخْرُجْ إِلَيْهِمْ فَرَفَعُوا أَصْوَاتَهُمْ وَحَصَبُوا الْبَابَ فَخَرَجَ إِلَيْهِمْ مُغْضَبًا فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا زَالَ بِكُمْ صَنِيعُكُمْ حَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهُ سَيُكْتَبُ عَلَيْكُمْ فَعَلَيْكُمْ بِالصَّلَاةِ فِي بُيُوتِكُمْ فَإِنَّ خَيْرَ صَلَاةِ الْمَرْءِ فِي بَيْتِهِ إِلَّا الصَّلَاةَ الْمَكْتُوبَةَ [ر: ٦٩٨]

د باب آخری روایت د مکی بن ابراهیم دې ، مکی د ده نوم دې دا مکه ته نسبت نه دې ، علامه مزی او ائمه رجال دذې تصریح کړیده - [1]

محمد بن زیاد : د محمد بن زیاد ذکر دلته په رومبي خل راغلې دې ، صحیح بخاری کښې د ده صرف هم دا یو حدیث دې [2] ابن حبان په کتاب الثقات کښې د ده ذکر کړیدې - [3] ابن عساکر فرمائی " روی عنه البخاری کالمقرون " [4] ابن منده ده ته ضعیف ویلې دې [5] حافظ ابن حجر په " تقریب " کښې فرمائی " صدوق یخطي " [6] په دوه سوه او پنځوستمه هجرئ کال کښې د ده وفات شوې وو - [7]

قوله: احتجر رسول الله صلى الله عليه وسلم حُجَيْرَةً مُخَصَّفَةً أو حصيرا : د احتجر معنی ده په زمکه باندې نخه او علامه وغیره لګول چه څوك په دې کښینه نی ، حُجَيْرة په تصغیر سره هم دې او حَجِيرة (د حاء په فتحه او جیم په کسره سره) هم دې ، بیل او خانله ځائې ته وائی - **مُخَصَّفَة** : د باب تفعیل نه صیغه د اسم مفعول ده - خصفه نه جوړ شویدې ، امام نووی فرمائی خصفه او حصیر دواړه په یو معنی دی ، و المعنى احتجر حجرة أي حوط موضعا من المسجد بحصير يستره ليصلي فيه ولا يمر عليه أحد ويتوفر عليه فراغ القلب [8]

یعنی رسول الله ﷺ یو ځانلا ځائې د کجورو د ښاخونو یا دپوزو نه جوړ کړې وو دې دپاره چه دیکښې په سکون سره مونځ اوکړې شی -

قوله: و حصبوا الباب : په دروازه کُتکانړي ویشتل - حصبوا : أي رموه بالحصباء ، حصباء کُتکانړو ته وائی - [9]

---

[1] علامه مزی فرمائی : " ذكره الخليفة بن خياط في الطبقة الخامسة من أهل خراسان " او وړاندې فرمائی : " و قال الحافظ ابوبكر الخطيب : إن مكي بن ابراهيم رواه هكذا بالري وهو جائي من خراسان يريد الحج .... تهذيب الكمال : ٢٨ \ ٤٧٩ ، ٤٨٠ ، (رقم الترجمة : ٦١٧٠) و تاريخ الخطيب : ١٣ \ ١١٧)

[2] فتح الباري : ١٠ \ ٦٣٤ وارشاد الساری : ١٣ \ ١٢٢)

[3] كتاب الثقات لابن الحبان : ٩ \ ١١٤)

[4] تهذيب الكمال : ٢٥ \ ٢١٦ (رقم الترجمة : ٥٢٢١)

[5] تقريب التهذيب ک ٤٧٨ (رقم الترجمة : ٥٨٨٧)

[6] تهذيب الكمال : ٢٥ \ ٢١٧ (رقم الترجمة : ٥٢٢١)

[7] تهذيب الكمال : ٢٥ \ ٢١٧ (رقم الترجمة : ٥٢٢١)

[8] شرح مسلم للنووی ، كتاب صلوة المسافرين ، باب استحباب صلوة النافلة فی بيته .... : ١ \ ٢٦٦)

[9] عمدة القاری : ٢٢ \ ١٦٢)

د روایت حاصل دا دي چه رسول الله ﷺ د مانځه دپاره کوم بیل ځائې جوړ کړې وو ، دیکښې ئې یو شپه مونځ اوکړو ، خلقو هم دیکښې مونځ کول شروع کړل ، په بله ورځ خلق راغلل ، دوی ﷺ رانغللو نو خلقو شور جوړ کړو او په دروازه ئې ټکټکانړی ویشتل شروع کړل ، رسول الله ﷺ د غصې په حالت کښې د کوره رااووتلو او وې فرمائل چه څه دې دپاره را اونه وتلم چه څه یریدم چه هسې نه تاسو باندې دا مونځ فرض کړې شی -
رسول الله ﷺ په دې موقع ولې غصه شو حافظ ابن حجر رحمه الله لیکی :

" والظاهر أن غضبه لكونهم اجتمعوا بغير أمره فلم يكتفوا بالإشارة منه لكونه لم يخرج عليهم بل بالغوا فحصبوا بابه أو غضب لكونه تأخر إشفاقا عليهم لئلا تفرض عليهم ، وهم يظنون غير ذلك " (١)
یعنی رسول الله ﷺ یا خو ددې وجه نه غصه شو چه دغلته موجود خلق په دې اشاره پوهه نه شو چه دوی راونه وتل بلکه دوی د کور په دروازه ټکټکانړی ویشتل شروع کړل نو دوی ﷺ ته دا طریقه ناخوښه شوه او غصه شو -
یا ددې وجه نه غصه شو چه د رسول الله ﷺ تاخیر کول په وجه د شفقت وو چه هسې نه دا مونځ په دوی فرض نه شی دې وجه نه دوی راونه وتل ، او خلقو نور څه اوګڼړل -
علامه کرمانی رحمه الله د دوی د غصه کیدو یو بله وجه هم لیکلې ده چه خلقو د دوی د اجازت نه بغیر د دوی په جوړ شوی مخصوص ځائې باندې مونځ اوکړو ، دې وجه نه دوی ﷺ غصه شو - (٢)
خو حافظ ابن حجر دا بعید ګرځولې ده (٣) علامه عینی رحمه الله په حافظ باندې تنقید کړیدې اوفرمائی چه دا څه بعید خبره نه ده (٤) دا روایت په کتاب الصلوة کښې تیر شویدې (٥)

٧٦= بَابُ الْحَذَرِ مِنَ الْغَضَبِ

لِقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى وَالَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَائِرَ الْإِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ وَإِذَا مَا غَضِبُوا هُمْ يَغْفِرُونَ [الشوری:٣٧]
وَقَوْلِهِ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ [ر:آل عمران:١٣٤]
[٥٧٦٣] (٦) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيْسَ الشَّدِيدُ ب

١) فتح الباری : ١٠\٦٣٥)
٢) شرح البخاری للکرمانی : ٢١\٢٣٢)
٣) فتح الباری : ١٠\٦٣٥)
٤) عمدة القاری : ٢٢\١٦٥)
٥) صحیح البخاری کتاب الصلوة ، باب شرب الناس و الدواب من الأنهار (رقم الحدیث : ٢٣٧٢)
٦) ٥٧٦٣) الحدیث أخرجه مسلم فی کتاب البر و الصلة و الآداب ، باب فضل...[بقیه برصفحه آئنده....

الصُّرَعَةِ إِنَّمَا الشَّدِيدُ الَّذِي يَمْلِكُ نَفْسَهُ عِنْدَ الْغَضَبِ

[٥٧٦٤] حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ صُرَدٍ قَالَ اسْتَبَّ رَجُلَانِ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ عِنْدَهُ جُلُوسٌ وَأَحَدُهُمَا يَسُبُّ صَاحِبَهُ مُغْضَبًا قَدِ احْمَرَّ وَجْهُهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَأَعْلَمُ كَلِمَةً لَوْ قَالَهَا لَذَهَبَ عَنْهُ مَا يَجِدُ لَوْ قَالَ أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ فَقَالُوا لِلرَّجُلِ أَلَا تَسْمَعُ مَا يَقُولُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنِّي لَسْتُ بِمَجْنُونٍ [ر: ٣١٠٨]

[٥٧٦٥] (١) حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا أَبُو بَكْرٍ هُوَ ابْنُ عَيَّاشٍ عَنْ أَبِي حَصِينٍ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَجُلًا قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْصِنِي قَالَ لَا تَغْضَبْ فَرَدَّدَ مِرَارًا قَالَ لَا تَغْضَبْ

دینه د وړاندیني باب حاصل دا وو چه د دیني او شرعي امورو او د الله تعالی د احکامو په سلسله کښي د غصه او د غضبناك كيدو جواز شته ، د دې باب مقصد دا دې چه د الله تعالى د حکم نه علاوه په عام معاشرتي رويو كښي د غصې او د غضب نه حتى الامكان خان ساتل پکار دی (٢)

ترجمة الباب کښې امام بخاري رحمه الله دوه آيتونه ذكر كړيدی ، دواړو آيتونو کښې د مؤمنانو صفت بيان كړې شويدې چه دوی غصه خوری ، د غصې د تقاضو مطابق عمل كولو په ځاې معاف كول كوی او دارنګه د غصې د بدو نتائجو نه محفوظ پاتې كيږی ، يو د سورة شورٰی آيت كريمه دې چه ديكښې دی (وإذا ما غضبوا هم يغفرون) د غصې په وخت معاف کول د غصي نه بچ كيدل دی -

دويم آيت د سورة آل عمران دې چه هغې كښې دی (والكاظمين الغيظ والعافين عن الناس)

د باب روميې روايت كښې دی چه پهلوان هغه كس نه دې چه كوم زيات راپرزول كوی بلكه پهلوان هغه كس دې چه د غصې په وخت په خپل نفس قابو اوساتی -

صُرَعة د صاد په ضمه او د راء په فتحه سره پهلوان ته وائی ، دا د فُعَلة وزن د مبالغې صيغه ده لكه چه حُفَظَة او ضُحَكة دې يعنی هغه كس چه ډير راپرزول كوی - (٣)

...بقيه ازحاشيه گذشته] من يملك نفسه عند الغضب : ٤ \ ٢٠١٤ (رقم الحديث : ٢٦٠٩) و أخرجه النسائی فی كتاب عمل اليوم و الليلة : ٦ \ ١٠٥ (رقم الحديث : ١٠٢٢٦)

١) ٥٧٦٥) الحديث أخرجه الترمذی فی كتاب البر و الصلة ، باب ما جاء فی كثرة الغضب : ٤ \ ٣٧١ (رقم الحديث : ٢٠٢٠)

٢) عمدة القاری : ٢٢ \ ١٦٣)

٣) فتح الباری : ١٠ \ ٦٣٦ ، شرح الكرمانی : ٢١ \ ٢٣٣ ، عمدة القاری : ٢٢ \ ١٦٣ ، وقال ابن الأثير : " الصُّرَعة بضم الصاد و فتح الراء : المبالغة فی الصراع الذی لا يُغلب ، فنقله إلى الذی...[بقيه برصفحه آئنده....

د باب آخری روایت کښې دی چه يو سړي رسول الله ﷺ ته درخواست اوکړو چه ما ته وصيت اوکړئ ، نو دوی ﷺ اوفرمائل :" غصه مه کوه " درې ځله دوی دا ارشاد اوکړو ، د مسند احمد او د صحيح ابن حبان په روايت کښې د ده نوم جاريه بن قدامه راغلې دې - (١)

د لاتغضب دا معنی هم کيدې شی چه د غصې او د غضب اسباب مه اختياروه ځکه چه غصه خو يو طبعی څيز دې دينه نهی نه صحيح کيږی خو اسباب د غضب اختياری دی . علامه خطابی رحمه الله هم دا معنی اخستې ده - (٢)

او دا مطلب هم کيدې شی چه د غصې په تقاضو عمل مه کوه يعنی د غصې په حالت کښې چه دې زړه څه ويل او څه کول غواړی دينه خپل ځان بند کړه - (٣)

درې ځله دوی د تاکيد دپاره اوفرمائل ، چه کله به هم د دوی ﷺ ديو خبرې تاکيد مقصود وو نو دوی به درې ځله ارشاد فرمائلو - (٤)

او دا وجه هم کيدې شی چه سائل کښې غصه زياته وه ، دې وجه نه دوی ﷺ په ده د قابو ساتلو دپاره دا درې ځله ويلې وی - (٥)

٧٧= بَابُ الْحَيَاءِ

[٥٧٦٦] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَبِي السَّوَّارِ الْعَدَوِيِّ قَالَ سَمِعْتُ عِمْرَانَ بْنَ حُصَيْنٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحَيَاءُ لَا يَأْتِي إِلَّا بِخَيْرٍ فَقَالَ بُشَيْرُ بْنُ كَعْبٍ مَكْتُوبٌ فِي الْحِكْمَةِ إِنَّ مِنَ الْحَيَاءِ وَقَارًا وَإِنَّ مِنَ الْحَيَاءِ سَكِينَةً فَقَالَ لَهُ عِمْرَانُ أُحَدِّثُكَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتُحَدِّثُنِي عَنْ صَحِيفَتِكَ

[٥٧٦٧] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي سَلَمَةَ حَدَّثَنَا ابْنُ شِهَابٍ عَنْ سَالِمٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى رَجُلٍ وَهُوَ يُعَاتِبُ

...بقيه ازحاشيه گذشته] يغلب نفسه عند الغضب و يقهرها ، فإنه إذا ملكها كان قد قهر أقوى أعدائه و شر خصومه ، و لذلک قال : " أعدى عدو لک نفسک التی بین جنبیک " النهية : ١٣ \ ٢٤ ، مجمع بحار الأنوار : ٣١٣\٣)

١) مسند الإمام أحمد بن حنبل فی مسانيد جارية ابن قدامة : ١٥ \ ٣٤ ، لاإحسان بترتيب صحيح ابن حبان ، كتاب الحظر و الإباحة ، باب الاستماع المكروه ، و سوء الظن ، و الغضب ، و الفحش : ٨ \ ٤٧٩ (رقم الحديث : ٥۶۶٠ ، ٥۶۶١)

٢) فتح الباري : ١٠ \ ۶٣٧ ، عمدة القاری : ٢٢ \ ١۶٤ ، ارشاد الساری : ١٣ \ ١٢۶)

٣) فتح الباري : ١٠ \ ۶٣٧ ، عمدة القاری : ٢٢ \ ١۶٤ ، شرح الكرمانی : ٢١ \ ٢٣٤)

٤) لكه چه د حضرت انس روايت دې : " عن أنس عن النبی صلى الله عليه و سلم ، أنه كان إذا تكلم بكلمة ، أعادها ثلاثا حتى تفهم عنه ... " صحيح البخاری ، كتاب العلم ، باب من أعاد الحديث ثلاثا ليُفهم عن ، رقم الحديث : ٩٥)

٥) فتح الباري : ١٠\۶٣٧)

أَخَاهُ فِي الْحَيَاءِ يَقُولُ إِنَّكَ لَتَسْتَحْيِي حَتَّى كَأَنَّهُ يَقُولُ قَدْ أَضَرَّ بِكَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعْهُ فَإِنَّ الْحَيَاءَ مِنَ الْإِيمَانِ [ر:۲۴]

[۵۷۶۸] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْجَعْدِ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ مَوْلَى أَنَسٍ قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ اسْمُهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي عُتْبَةَ سَمِعْتُ أَبَا سَعِيدٍ يَقُولُ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشَدَّ حَيَاءً مِنَ الْعَذْرَاءِ فِي خِدْرِهَا [ر:۳۳۶۹]

حیاء په انسان کښې یو داسې صفت دې چه د ډیرو بدو نه د انسان په بندولو موثر کردار کوی ، امام بخاری رحمه الله چه اخلاق او اداب بیانوی نو دې وجه نه دلته ئې د حیاء متعلق درې بابه قائم کړل - د حیاء متعلق تفصیل کتاب الایمان ، باب الحیاء من الایمان کښې تیر شویدې - دلته څو خبرې په دوباره اوګورئ :

د حیاء لغوی او اصطلاحی معنی : لغت کښې حیاء د ماتیدلو او د انکسارپه معنی ده ، ابن دقیق العید فرمائی چه حیاء په اصل کښې په معنی د امتناع یعنی د بندیدو راخی ، بیا دا د انقباض په معنی کښې استعمال شوه - (۱)

او په اصطلاح کښې امام راغب د حیاء تعریف کړیدې " خلق یبعث علی اجتناب القبیح و یمنع عن التقصیر فی حق ذی الحق " (۲)

او د بعض عالمانو نه دا تعریف منقول دې " الحیاء حالة تتولد من رؤیة النعماء و رؤیة التقصیر " (۳)

(یعنی حیاء د هغه حالت او کیفیت نوم دې چه کوم د الله تعالی په بې شماره نعمتونو کښې او په خپلو کوتاهو کښې د غور کولو نه راپیدا کیږی -)

بعض عالمانو حیاء په شرعی ،عرفی او په عقلی خانو کښې تقسیم کړیده ، ځکه چه اسباب د حیاء شرع ، عقل او عرف درې واړه کیدې شی ، دې وجه نه چه کوم سبب هم بیا موندې شو ، نو دیته به د حیاء نسبت کیږی - (۴)

علامه انور شاه کشمیری رحمه الله په فیض الباری کښې فرمائی چه څیز هم یو دې خو د سبب په نسبت سره ئې نوم کښې فرق راځی - (۵)

بعض امور عرف کښې باعث د شرم جوړیږی ، اصل حیاء شرعی ده ، حیاء عرفی محمود ده ، خو هله چه کله د شریعت سره متصادم نه وی (۶) مثلاً بعض قومونو کښې طلاق باعث

---

۱) شرح الطیبی ، کتاب الإیمان ، الفصل الأول : ۱\۱۱۳ (رقم الحدیث : ۵) المرقاة شرح المشکاة ، کتاب الإیمان ، الفصل الأول : ۱\۷۰ ، النهایة لابن الأثیر : ۱\۴۷۲)

۲) شرح الطیبی ، کتاب الإیمان ، الفصل الأول : ۱\۱۱۳ (رقم الحدیث : ۵) المرقاة شرح المشکاة ، کتاب الإیمان ، و قول النبی صلی الله علیه و سلم : بنی الإسلام علی خمس : ۱\۱۲۹)

۳) أشعة اللمعات : ۱\۶۳ ، عمدة القاری ، کتاب الإیمان ، باب الإیمان و قول النبی صلی الله علیه و سلم بنی الإسلام علی خمس : ۱\۲۴۹)...

۴) فضل الباری : ۱\۳۲۲)

۵) فیض الباری ، کتاب الایمان باب امور الایمان : ۱\۷۹)

۶) فضل الباری : ۱\۳۲۲ ، ۳۲۳)

د عار او باعث د شرم دې ، دې وجه نه دې عرفي حياء د وجه نه څه خلق د ظلم داسې ارتکاب هم کوی چه ښځې ته طلاق هم نه ورکوی او ددې حقوق هم قطعا نه اداء کوی ، نتيجه ئې د ظلم په صورت کښې رااوځي او دا ظلم د عرفي حياء نتيجه ده ، نو داسې عرفي حياء محمود نه ده چه کومه د شريعت سره متصادم وی ... دارنګه د پټو مسئلو نه د عرفي حياء د وجه جاهل پاتې کيدل هم صحيح نه دی ، حضرت عائشه ﷺ د انصارو د ښځو تعريف اوکړو او فرمائلي وو "نعم النساء نساء الأنصار ، لم يكن يمنعهن الحياء أن يتفقهن في الدين"(١) (د انصارو ښځې ډيرې ښې دی د دين په مسئلو خان پوهولو کښې نه شرميږی -)

دلته د باب رومبې روايت د حضرت عمران بن حصين ﷺ دې ، رسول الله ﷺ فرمائی چه حياء نيکی راولی ، بشير بن کعب وائی چه د حکمت په کتابونوکښې ئې ليکلې دی ، چه حياء د وقار او د سکون سبب دې .... عمران بن حصين ﷺ چه دا واوريدل نو خفه شو او وې فرمائل چه څه تا ته د رسول الله ﷺ حديث بيانوم او ته ما ته د خپل کتاب نه خبرې اوروې -

چه حضرت عمران بن حصين ﷺ حديث د رسول بيان کړو او بشير بن کعب د دې په تائيد کښې د حکمت د کتابونو نه د حياء متعلق خبره رانقل کړه ، نو حضرت عمران بن حصين ته دا تقابل ښه اونه لګيدو ، دا رنګه دې کښې د حديث د رسول او د يو عام قول د ګډيدو هم يره کيده ، نو دې وجه نه دا په دوی بده اولګيده - (٢)

د باب دويم حديث کښې دی چه رسول الله ﷺ د يو سړی په خوا کښې تيريدو ، ده خپل رور ..... چه ډير شرميدونکې وو .... رټلو او ورته ئې ويل چه ته دومره حياء کوې ؟ ګويا ده دا ويل چه تا ته به د دينه نقصان ملاو شی ، رسول الله ﷺ اوفرمايل دې پريږده ، ځکه چه حياء د ايمان حصه ده - حافظ ابن حجر فرمائی چه ددې سړی او دده د رور نوم ما ته معلوم نه شو - (٣)

د حياء طبعي په وجه انسان چه د ډيرو زياتو مصيبتونو او ګناهونو نه بچ کيږی ، دې وجه نه حضور ﷺ اوفرمائل : چه دا د ايمانه ده ، يو حديث کښې ئې حياء د ايمان شعبو نه يو شعبه ګرځولې ده - (٤)

---

(١) أخرجه مسلم في كتاب الحيض ، باب استحباب استعمال المغتسلة من الحيض : ١ \ ٢٦١ (رقم الحديث : ٣٣٢)

(٢) فتح الباری : ١٠ \ ٦٣٩ ، ٦٤٠ ، ارشاد الساری : ١٣ \ ١٢٨)

(٣) فتح الباری : ١٠ \ ٦٤٠)

(٤) عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه و سلم قال : الإيمان بضع و سبعون شعبة و الحياء من الإيمان . أخرجه البخاري في كتاب الإيمان ، باب أمور الإيمان (رقم الحديث : ٩) و أخرجه مسلم في كتاب الإيمان ، باب بيان عدد شعب الإيمان : ١ \ ٦٣ (رقم الحديث : ٣٥)

۷۸=باب إذا لم تستحي فاصنع ما شئت

[۵۷٦۹] حدثنا أحمد بن يونس حدثنا زهير حدثنا منصور عن ربعي بن حراش حدثنا أبو مسعود قال قال النبي صلى الله عليه وسلم إن مما أدرك الناس من كلام النبوة الأولى إذا لم تستحي فاصنع ما شئت [ر: ۳۲۹٦]

فارسى كښې ددې ترجمه شويده چه كومه محاوره جوړه شويده چه .... " بے حياء باش و هر چه خواهى كن " حياء چه دې د ستركو نه لاړه شى او د بې حيائې مرض راپيدا شى نو بيا د معاصى او د گناهونو سلسله نه بنديږى -

۷۹=باب ما لا يستحيا من الحق للتفقه في الدين

[۵۷۷۰] حدثنا إسماعيل قال حدثني مالك عن هشام بن عروة عن أبيه عن زينب بنت أبي سلمة عن أم سلمة رضي الله عنها قالت جاءت أم سليم إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم فقالت يا رسول الله إن الله لا يستحي من الحق فهل على المرأة غسل إذا احتلمت فقال نعم إذا رأت الماء [ر: ۱۳۰]

[۵۷۷۱] حدثنا آدم حدثنا شعبة حدثنا محارب بن دثار قال سمعت ابن عمر يقول قال النبي صلى الله عليه وسلم مثل المؤمن كمثل شجرة خضراء لا يسقط ورقها ولا يتحات فقال القوم هي شجرة كذا هي شجرة كذا فأردت أن أقول هي النخلة وأنا غلام شاب فاستحييت فقال هي النخلة وعن شعبة حدثنا خبيب بن عبد الرحمن عن حفص بن عاصم عن ابن عمر مثله وزاد فحدثت به عمر فقال لو كنت قلتها لكان أحب إلي من كذا وكذا [ر: ٦١]

[۵۷۷۲] حدثنا مسدد حدثنا مرحوم سمعت ثابتا أنه سمع أنسا رضي الله عنه يقول جاءت امرأة إلى النبي صلى الله عليه وسلم تعرض عليه نفسها فقالت هل لك حاجة في فقالت ابنته ما أقل حياءها فقال هي خير منك عرضت على رسول الله صلى الله عليه وسلم نفسها _ [ر: ۴۸۲۸]

امام بخارى رحمه الله د دې باب سره مقصد واضح دې چه حياء اګر چه يو محمود وصف دې خو د دين حكم معلومولو دپاره حياء مانع كيدل نه دى پكار لكه چه په باب كښې د ذكر شوې روايتونو نه معلوميږى -

دويم روايت كښې حضرت ابن عمر رسول الله ﷺ ته د سوال جواب ورنكړې شو حال دا وو چه ده ته جواب ورتلو ، حضرت فاروق اعظم د دوى په نه حودلو باندې افسوس ښكاره كړو چه دينه معلومه شوه چه د دين په معاملاتو كښې حياء نه دى كول پكار ، هم د دې په مناسبت سره دا حديث امام بخارى رحمه الله دلته ذكر كړيدې .... لكه چه علامه عينى رحمه الله ليكى : قيل : لا مطابقة هنا بين الحديث و الترجمة ، لأن الترجمة فيها لايستحيا و في الحديث

استحى يعني عبد الله، قلت: تفهم المطابقة من كلام عمر بأن عبد الله كان صغيرا فاستحى أن يتكلم عند الأكابر، وقول عمر رضي الله عنه يدل على أن سكوته غير حسن، لأنه لو كان حسنا، لقال له: أصبت، فبالنظر إلى كلام عمر يدخل في: "باب مالا يستحيا" (١)

د باب دريم روايت كښې دى فقالت ابنته: ما أقل حياءها
د حضرت انس لور اوويل: چه كومې ښځې خپل ځان دوى ﷺ ته پيش كړې وو دا څومره كمې حياء والا وه. نو حضرت انس لور ته اوويل: دا د ستا نه بهتره وه ځكه چه دې ځان رسول الله ﷺ ته پيش كړې وو (او ظاهره ده چه دا ئې د حضور د ذات سره عقيدت او محبت وو)

حافظ ابن حجر د دوى ددې لور نوم "أمينة" ليكلې دې (٢)
ددې حديث ترجمة الباب سره مناسبت بيانولو كښې علامه عينى رحمه الله ليكى:
مطابقته للترجمة من حيث إن المرأة المذكورة لم تستحى فيما سألته، لأن سؤالها كان للتقرب إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم، وتصير من أمهات المؤمنين المتضمنة لسعادات الدارين (٣)
يعنى مذكوره ښځې چه د رسول الله ﷺ په خدمت كښې كوم درخواست كړې وو، ديكښې دا ځكه نه وه شرميدلې چه د دې مقصد د حضور ﷺ نزديكت حاصلول وو او په امهات المؤمنين كښې خپل نوم شاملول وو چه دې سره به ديته د دنيا او د آخرت دواړه سعادتونه نصيب شى!

٨٠= بَاب قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسِّرُوا وَلَا تُعَسِّرُوا وَكَانَ يُحِبُّ التَّخْفِيفَ وَالْيُسْرَ عَلَى النَّاسِ

[٥٧٧٣] حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ حَدَّثَنَا النَّضْرُ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ لَمَّا بَعَثَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ قَالَ لَهُمَا يَسِّرَا وَلَا تُعَسِّرَا وَبَشِّرَا وَلَا تُنَفِّرَا وَتَطَاوَعَا قَالَ أَبُو مُوسَى يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا بِأَرْضٍ يُصْنَعُ فِيهَا شَرَابٌ مِنْ الْعَسَلِ يُقَالُ لَهُ الْبِتْعُ وَشَرَابٌ مِنْ الشَّعِيرِ يُقَالُ لَهُ الْمِزْرُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ [ر: ٢٨٧٣]

[٥٧٧٤] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي التَّيَّاحِ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسِّرُوا وَلَا تُعَسِّرُوا وَسَكِّنُوا وَلَا تُنَفِّرُوا [ر: ٦٩]

---

(١) عمدة القارى: ٢٢\١٦٦
(٢) فتح البارى: ١٠\٦٣٢
(٣) عمدة القارى: ٢٢\١٦٧

[۵۷۷۵] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّهَا قَالَتْ مَا خُيِّرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ أَمْرَيْنِ قَطُّ إِلَّا أَخَذَ أَيْسَرَهُمَا مَا لَمْ يَكُنْ إِثْمًا فَإِنْ كَانَ إِثْمًا كَانَ أَبْعَدَ النَّاسِ مِنْهُ وَمَا انْتَقَمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِنَفْسِهِ فِي شَيْءٍ قَطُّ إِلَّا أَنْ تُنْتَهَكَ حُرْمَةُ اللَّهِ فَيَنْتَقِمَ بِهَا لِلَّهِ [ر: ۳۳۶۷]

[۵۷۷۶] حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ الْأَزْرَقِ بْنِ قَيْسٍ قَالَ كُنَّا عَلَى شَاطِئِ نَهَرٍ بِالْأَهْوَازِ قَدْ نَضَبَ عَنْهُ الْمَاءُ فَجَاءَ أَبُو بَرْزَةَ الْأَسْلَمِيُّ عَلَى فَرَسٍ فَصَلَّى وَخَلَّى فَرَسَهُ فَانْطَلَقَتْ الْفَرَسُ فَتَرَكَ صَلَاتَهُ وَتَبِعَهَا حَتَّى أَدْرَكَهَا فَأَخَذَهَا ثُمَّ جَاءَ فَقَضَى صَلَاتَهُ وَفِينَا رَجُلٌ لَهُ رَأْيٌ فَأَقْبَلَ يَقُولُ انْظُرُوا إِلَى هَذَا الشَّيْخِ تَرَكَ صَلَاتَهُ مِنْ أَجْلِ فَرَسٍ فَأَقْبَلَ فَقَالَ مَا عَنَّفَنِي أَحَدٌ مُنْذُ فَارَقْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ إِنَّ مَنْزِلِي مُتَرَاخٍ فَلَوْ صَلَّيْتُ وَتَرَكْتُهُ لَمْ آتِ أَهْلِي إِلَى اللَّيْلِ وَذَكَرَ أَنَّهُ قَدْ صَحِبَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَأَى مِنْ تَيْسِيرِهِ [ر: ۱۱۵۳]

[۵۷۷۷] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنْ الزُّهْرِيِّ وَقَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِي يُونُسُ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ أَخْبَرَهُ أَنَّ أَعْرَابِيًّا بَالَ فِي الْمَسْجِدِ فَثَارَ إِلَيْهِ النَّاسُ لِيَقَعُوا بِهِ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعُوهُ وَأَهْرِيقُوا عَلَى بَوْلِهِ ذَنُوبًا مِنْ مَاءٍ أَوْ سَجْلًا مِنْ مَاءٍ فَإِنَّمَا بُعِثْتُمْ مُيَسِّرِينَ وَلَمْ تُبْعَثُوا مُعَسِّرِينَ [ر: ۲۱۷]

بې ځایه سختي په شریعت کښې محبوب نه ده :د دین په معامله او په دیني امورو کښې سختي او خامخا بې ځایه شدت په شریعت کښې خوښ عمل نه دې ، بلکه چه کوم ځائې شریعت وسعت او رخصت ورکړیدې ، هلته دینه استفاده کول پکار دی .... د خپل ځان دپاره خو بیله خبره ده ، که څوك صاحب عزیمت وی او د خپل مضبوط ایمان په وجه ځان دپاره اوچت معیار قائموی نو دا بیله خبره ده خو د عامو خلقو دپاره د عزیمت هم دغه معیار نه شی قائمولې ، ځکه چه عام خلق په دې عمل نه شی کولې -

په باب کښې ذکر شوی ټول روایتونه وړاندې تیر شویدی او دیکښې د اسانو او د رخصت ذکر دې -

نَضَبَ عنه الماءُ : د دې اوبه اوچې شوې وې ، د نَضَبَ معنی د اوچیدو راځی -

قوله: وفينا رجل له رأيٌ: مونږ کښې یو سړې وو هغه یو فاسده رائي لرله " له رأيٌ" کښې تنوین د تحقیر دپاره دې : أی له رأیٌ فاسد ، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی : چه د رایٔ نه د خوارج رایٔ مراد ده ، لکه چه کتاب الصلاة ، باب إذا انفلتت الدابة فی الصلوة په روایت کښې دی " فجعل رجل من الخوارج يقول " (۱)

(۱) فتح الباری : ۱۰\۶۴۴)

قوله: ليقعوا به : وقع به : تكليف وركول ، اذيت وركول ، ذنوب (د ذال په فتحه سره) ډولچې ته وائى (١)

حافظ ابن حجررحمه الله ليكى: "وفي هذه الأحاديث أن الغلو ومجاوزة القصد في العبادة وغيرها مذموم، وأن المحمود من جميع ذلك ما أمكنت المواظبة معه، وأمن صاحبه العجب وغيره من المهلكات" (٢)

يعنى دې احاديثو نه معلومه شوه چه عبادت كښې غلو او د ميانه روئ نه تجاوز كول مذموم دى ، چه په كومه اندازه د عبادت مواظبت او دوام كيدې او انسان د عجب وغيره مهلكو باطنى مرضونو نه محفوظ پاتې كيدې شى هم دا محمود او خوښ دې -

٨١=بَابُ الِانْبِسَاطِ إِلَى النَّاسِ

وَقَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ خَالِطِ النَّاسَ وَدِينَكَ لَا تَكْلِمَنَّهُ وَالدُّعَابَةِ مَعَ الْأَهْلِ

[٥٧٧٨] (٣) حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا أَبُو التَّيَّاحِ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ إِنْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيُخَالِطُنَا حَتَّى يَقُولَ لِأَخٍ لِي صَغِيرٍ يَا أَبَا عُمَيْرٍ مَا فَعَلَ النُّغَيْرُ [ر:٥٨٥٠]

[٥٧٧٩] (٤) حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ أَخْبَرَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ كُنْتُ أَلْعَبُ بِالْبَنَاتِ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ لِي صَوَاحِبُ يَلْعَبْنَ مَعِي فَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ يَتَقَمَّعْنَ مِنْهُ فَيُسَرِّبُهُنَّ إِلَيَّ فَيَلْعَبْنَ مَعِي

د خلقو سره په روڼ تندى او په روښانه مخ ملاويدل او ډوى ته مخامخ راتلو باره كښې امام بخارى رحمه الله دا باب قائم كړيدې .... ترجمة الباب كښې د حضرت عبد الله بن مسعود قول نقل كړيدې چه دا طبرانى په " معجم كبير " كښې موصولا نقل كړيدې (٥)

---

(١) مجمع بحار الانوار : ٢ \ ٢٥٠ ، النهاية لابن الاثير : ٢/ ١٧١)

(٢) فتح البارى : ١٠ \ ٦٤٤)

(٣) ٥٧٧٨) الحديث أخرجه البخارى أيضًا فى كتاب الأدب ، باب الكنية للصبى وقبل أن يولد للرجل (رقم الحديث : ٥٨٥٠) و أخرجه الترمذى فى كتاب البر و الصلة ، باب ما جاء فى المزاح : ٤ \ ٣٥٧ (رقم الحديث : ١٩٧٩) و أخرجه مسلم فى الآداب ، باب استحباب تحنيك المولود عند ولادته و حمله إلى صالح يحنكه ..... ٣ \ ١٦٩٣ (رقم الحديث : ٢١٥٠) و أخرجه أبوداود فى كتاب الأدب ، باب ما جاء فى الرجل يتكنى وليس له ولد : ٤ \ ٢٩٣ (رقم الحديث : ٤٩٦٩) و أخرجه ابن ماجه فى كتاب الأدب ، باب المزاح : ٢ \ ١٢٢٤ (رقم الحديث : ٣٧١٦)

(٤) ٥٧٧٩) الحديث أخرجه مسلم فى كتاب فضائل الصحابة ، باب فى فضل عائشة رضى الله عنها : ٤ \ ١٨٩٠ (رقم الحديث : ٢٤٤٠)

(٥) معجم كبير للطبرانى ، مرويات عبد الله بن مسعود رضى الله عنه : ٩ \ ٣٥٣ ...[بقيه برصفحه آئنده....

چه د خلقو سره ملاويږئ او ګډون ساتئ خو خپل دين مه زخمي کوئ -
لَاتَکْلِمَنَّه: د باب ضرب نه د نهي بانون ثقيله صيغه ده ، كَلَمَ يكلِم--كَلْمًا : زخمي كول -
قوله: الدُّعـابة مع الأهل : دُعابة(د دال په ضمه سره) مزاح او لطافت او ظرافت (ټوقې) ته وائي ، اهل لغتو ددې ترجمه کړيده الملاطفة في القول بالمزاح (۱)
د کور والا سره ، دارنګه د ملګرو او د متعلقينو سره داسې مزاح کول چه هغې کښې د شرعي حدودو رعايت وی ، نه صرف جائز بلکه مستحب ده ، په خپله رسول الله ﷺ نه داسې مزاح کول ثابت دی - (۲) خو مزاح معمول او مشغله جوړول ناخوښه عمل دې - (۳)
د باب ړومبی روايت کښې حضرت انس فرمائي چه رسول الله ﷺ به مونږ سره ګپ شپ کولو ، تر دې چه ځما يو کشر روړ ته به ئې ويلې اے ابو عمير : نغير باندې څه اوشو -
د حضرت انس د مور د طرفه يو کشر رور وو ، چه د حضرت ابوطلحه خوې وو ، د دوی نوم " عمر " وو ، رسول الله ﷺ به ده سره خوش طبعي کوله (۴)، ده د نغير نومې يو مارغه ساتلې وو چه ديته په پښتو کښې بلبل وائی (۵) دا ئې مړه شوې وه يا چرته روکه شوې نو دوی به فرمائل : ابو عمير ! په بلبل څه اوشو ؟
د حديث نه مستنبط فائدې : د دې مختصر غونده حديث نه عالمانو تقريبًا سلو ته نزدې نزدې مسئلې مستنبط کړيدې ، امام نووی رحمه الله بعضو ته اشاره کوی او ليکی :
"وفي الحديث جواز تكنية من لم يولد له ، وتكنية الطفل ، وأنه ليس كذبا ، وجواز المزاح فيما ليس بإثم ، وجواز السجع في الكلام الحسن بلا كلفة ، وملاطفة الصبيان وتأنيسهم ، وبيان ما كان عليه النبي صلى الله عليه وسلم من حسن الخُلُق وكرم الشمائل والتواضع" (۶)
① دې حديث نه معلومه شوه چه د چا اولاد نه وی شوې ، هغه هم کنيت ايخودې شی ، د ماشوم کنيت هم ايخودې شي ، ده ته " ابو فلان " ويلې شی دا به په دروغو کښې شمار نه وی - ② مزاح کول جائز دی - ③ کلام کښې بې تکلفه سجع جائز ده -
④ د ماشومانو سره ټوقې کول جائز دی -
⑤ دې حديث نه د نبی کريم ﷺ د مبارك اخلاقو يو نمونه مخې ته راځی -

---

...بقيه ازحاشيه گذشته] (رقم الحديث : ۹۷۵۷ ، پوره روايت طبرانی کښې دارنګه دې : عن عبد الله بن باباه عن ابن مسعود قال : خالطوا الناس و صافوهم مما يشتهون و دينكم فلا تكلمنه -)
(۱) النهاية لابن الأثير : ۲\۱۱۸ ، مجمع بحار الأنوار : ۲\۱۷٤ ، فتح الباری : ۱۰\٦٤٥ ، ارشاد الساری : ۱۳\۱۳۵)
(۲) فتح الباری : ۱۰\٦٤٥ ، عمدة القاری : ۲۲\۱۲۹)
(۳) قال الإمام الغزالي : من الغلط أن يتخذ المزاح حرفة . فتح الباری : ۱۰\۱٥٤)
(۴) عمدة القاری : ۲۲\۱۷۰)
(۵) القاموس الوحيد : ۱٦۷٦)
(۶) شرح مسلم للنووی . كتاب الآداب . باب جواز تكنية من لم يولد له ..... : ۲\۲۱۰)

د باب دویم حدیث کښې حضرت عائشه ﷺ فرمائي چه ما به رسول الله ﷺ کره د ګډیانو لوبې کولې ، خما ملګرو به ماسره لوبې کولې ، چه کله به دوی ﷺ تشریف راوړلو نو دوی به پټې شوې ، دوی ﷺ به دوی رااوغوښتلې او ما ته به ئې راوستې ، ما به بیا دوی سره لوبې شروع کړې -

قوله: كنت ألعب بالبنات: د بنات نه دلته ګډیانې مراد دی ، ماشومانې د جامو وغیره نه ورې ورې ګډیانې جوړوی بیا دې سره لوبې کوی -

بعض خلقو ویلې دی چه " بنات " نه ملګرې مراد دی،او"باء " په معنی د " مع " سره ده یعنی ما د خپلو ملګرو سره لوبې کولې - ([1])

خو دا صحیح نه ده ځکه چه دې پسې جمله : و کان لی صواحب .... " کښې د ملګرو ذکر راځی - بلکه د جریر عن هشام په روایت کښې تصریح ده چه د بنات نه ګډیانې مراد دی ، دیکښې دی "كنت ألعب بالبنات وهن اللعب" ([2])

بلکه د سنن ابی داود او د سنن نسائی په یو روایت کښې ددې تفصیل هم شته چه حضور ﷺ یوخل ګډیانې اولیدلې نوحضرت عائشه ﷺ نه ئې تپوس اوکړو " ماهذا یاعائشة؟قالت: بناتی، قالت : و رأی فرسا مربوطا له جناحان ، فقال : ما هذا ؟ قلت : فرس ، قال : فرس له جناحان ؟قلت: الم تسمع أنه كان لسليمان خيل لها أجنحة فضحك" ([3])

قوله: يَتَقَمَّعْنَ منه فَيُسَرِّبُهُنَّ: تَقَمُّع معنی دېټیدو راځی ، چه کله میوه په خپله خوشه او پلی کښې دننه وی نو ویلې کیږی تقمع الثمرة - یسربهن : دا د تسریب نه دې أی یبعثهن و یرسلهن یعنی دوی ﷺ به دوی لره خما طرفته رااولیږلې - ([4])

دې حدیث نه استدلال کوی او جمهور عالمان فرمائی چه ماشومان کُه د ګډیانو سره لوبې کوی نو جائز ده - ([5]) خو ګډیانو لره به باقاعده سترګو جوړولو نه او د پوزې جوړولو نه او د خُلې جوړولو چه باقاعده ورته د بُت شکل ورکړې شی ځان ساتل پکار دی -

بعض عالمانو دې حدیث ته منسوخ ویلې دې او لیکلې دی چه دا د تصویرونو د حرمت نه وړاندې واقعه ده خو دوی سره د تنسیخ دپاره څه دلیل نشته دې او دې دپاره دلیل ضروری دې - ([6])

---

[1]) فتح الباری : ۱۰ \ ٦۳٦ . عمدة القاری : ۲۲ \ ۱۷۰)
[2]) فتح الباری : ۱۰ \ ٦٤٦ . عمدة القاری : ۲۲ \ ۱۳۹)
[3]) سنن أبی داود . کتاب الأدب . باب فی اللعب بالبنات : ٤ \ ۲۸۳ (رقم الحدیث : ٤۹۳۲) و أخرجه النسائی فی السنن الکبری . کتاب عشرة النساء . باب إباحة الرجل اللعب لزوجته بالبنات : ۵ \ ۳۰۵ (رقم الحدیث : ۸۹۵۰)
[4]) ارشاد الساری : ۱۳ \ ۱۳٦)
[5]) عمدة القاری : ۲۲ \ ۱۷۰ . ارشاد الساری : ۱۳ \ ۱۳٦ فتح الباری : ۱۰ \ ٦۳٦)
[6]) عمدة القاری : ۲۲ \ ۱۷۰ . فتح الباری : ۱۰ \ ٦۳٦)

٨٢= باب المداراة مع الناس

ويذكر عن أبي الدرداء إنا لنكشر في وجوه أقوام وإن قلوبنا لتلعنهم

[٥٧٨٠] حدثنا قتيبة بن سعيد حدثنا سفيان عن ابن المنكدر حدثه عن عروة بن الزبير أن عائشة أخبرته أنه استأذن على النبي صلى الله عليه وسلم رجل فقال ائذنوا له فبئس ابن العشيرة أو بئس أخو العشيرة فلما دخل ألان له الكلام فقلت له يا رسول الله قلت ما قلت ثم ألنت له في القول فقال أي عائشة إن شر الناس منزلة عند الله من تركه أو ودعه الناس اتقاء فحشه [ر: ٥٦٨٥]

[٥٧٨١] حدثنا عبد الله بن عبد الوهاب أخبرنا ابن علية أخبرنا أيوب عن عبد الله بن أبي مليكة أن النبي صلى الله عليه وسلم أهديت له أقبية من ديباج مزررة بالذهب فقسمها في ناس من أصحابه وعزل منها واحدا لمخرمة فلما جاء قال قد خبأت هذا لك قال أيوب بثوبه وأنه يريه إياه وكان في خلقه شيء رواه حماد بن زيد عن أيوب وقال حاتم بن وردان حدثنا أيوب عن ابن أبي مليكة عن المسور قدمت على النبي صلى الله عليه وسلم أقبية [ر: ٢٤٥٩]

د خاطر مدارت فضيلت : د خلقو سره په نرمي سره ملاويدو ته مدارات وائى ، ابن عدى په الكامل كښې او طبرانى په معجم اوسط كښې د حضرت جابر ﷺ نه يو مرفوع روايت رانقل كړيدې ديكښې دى " مداراة الناس صدقة " (١) دې سند كښې يوسف بن محمد يو راوى دې - چه دې محدثينو ضعيف ګرځولې دې خو ابن عدى فرمائى : أرجو لا بأس به (٢)

بزار هم په ضعيف سند سره د حضرت ابوهريره يو روايت رانقل كړيدې " رأس العقل بعد الإيمان بالله مداراة الناس " (٣) يعنى د ايمان راوړو نه پس د ټولو نه لويه عقل مندى د خلقو سره نرم رويه او مدارات اختيارول دى - ابن بطال فرمائى :

" المداراة من أخلاق المؤمنين ، وهى خفض الجناح للناس ، ولين الكلمة ، و ترك الإغلاظ لهم فى القول ، و ذلك من أقوى أسباب الألفة " (٤) يعنى خاطر مدارت د مؤمنانو اخلاق دى ، مدارات د خلقو سره عاجزى ، خبرو اترو كښې نرمى اختيارول ، او تريخ والې پريخودلو ته وائى ، چه كوم په خپل مينځ كښې د الفت او د محبت پيدا كولو يو قوى تر سبب دې -

---

(١) الكامل فى ضعفاء الرجال لابن عدى : ٧\١٥٦ (رقم الترجمة : ١٢\٢٠٦٥)
(٢) ارشاد السارى : ١٣\١٧٨ . فتح البارى : ١٠\٦٣٧)
(٣) فتح البارى : ١٠\٦٤٧ . ارشاد السارى : ١٣\١٣٨)
(٤) شرح صحيح البخارى لابن البطال : ٩\٣٠٥)

په مدارات او په مداهنت کښې دا فرق دې چه په مداهنت کښې په يو بد کار سره د قدرت لرلو سکوت اختيار کړې شی ، اګر چه دا د زړه نه وی او مدارات نرم رويه اختيارولو ته وائی - (١)ويذكر عن أبي الدرداء : إنا لنكشر في وجوه أقوام وإن قلوبنا لتلعنهم
حضرت ابوالدرداء فرمائی چه مونږ بعض خلقو سره په خندا ملاويږو حال دا دې چه دننه خمونږ زړونه په دوی لعنت وائی ، کشر .... د باب د ضرب نه دې ، غاښونه ښکاره کولو او د مسکې کيدو په معنی راځی (٢)
ابن ابی الدنيا او ابراهيم حربی دا تعليق موصولاً نقل کړيدې - (٣)
د حضرت ابوالدرداء ﷺ مطلب دا دې چه بعض خلق د بدکردارئ په وجه مونږ ته ښه نه لګی او خمونږ زړونو کښې دوی دپاره ماسوا د نفرته بل څه نه وی خو د ملاويدو په وخت مونږ دوی ته اظهار د خوشحالئ او د خندا کوو ، ديته مدارات وائی
مُزَرَّرة بالذهب .... يعنی ديکښې د سرو زرو تنړئ لګيدلې وې -
قوله: قال أيوب بثوبه وأنه يريه إياه: شارحينو د دې معنی ليکلې ده " والمعنى : أشار أيوب بثوبه ليرى الحاضرين كيفية ما فعل النبي صلى الله عليه و سلم عند كلامه مع مخرمة ، ولفظ القول يطلق ، و يراد به الفعل"
يعنی راوی د حديث ايوب د رسول الله ﷺ د جامې ورکولو په کيفيت پوهولو دپاره خپله جامه داسې رااوويستله او وې خودله .... قال أيوب د "فعل أيوب" په معنی کښې دې ، قول د فعل په معنی هم کله کله استعماليږی
قوله: وكان في خلقه شيء: يعنی د مخرمه په اخلاقو کښې څه سختې او تيزی وه ، ړومبی حديث کښې حضور ﷺ د يو سړی په باره کښې " بئس أخو العشيرة " فرمائلې وو خو روايت کښې د دې سړی څه تعيين نشته دې بعضو ويلې دی چه دا مخرمه وو (٤)
امام بخاری رحمه الله دويم حديث دينه پس ذکر کړيدې چه هغې کښې د مخرمه ذکر دې ، غالباً دې خبرې ته اشاره کولو دپاره چه ړومبی روايت کښې د " رجل مبهم " نه مخرمه مراد دې - (٥)
قوله: وقال حاتم بن وردان : حدثنا أيوب .....: امام بخاری رحمه الله چه کوم موصول روايت ذکر کړيدې ديکښې د صحابی ذکر نشته دې يعنی دا مرسل دې ، چه دا تعليق ئې راوړلو نو امام په دې سره د دې موصول کيدو ته اشاره اوکړه ، ديکښې د " مسور

(١) فتح الباري : ١٠\٦٤٧ ، عمدة القاری : ٢٢\١٧١ ، ارشاد الساری : ١٣\١٣٦)
(٢) النهاية لابن الأثير : ٤\١٧٦ ، مجمع بحار الانوار : ٤\٤٠٤)
(٣) فتح الباري : ١٠\٦٤٧ ، عمدة القاری : ٢٢\١٧١)
(٤) ارشاد الساری : ١٣\١٣٨ ، عمدة القاری : ٢٢\١٧٢)
(٥) فتح الباري : ١٠\٦٣٨)

بن مخرمه ؓ صحابی تذکره ده - دا تعلیق امام په " شهادات " کښې موصولاً ذکر کړيدې (۱)

۸۳= بَاب لَا يُلْدَغُ الْمُؤْمِنُ مِنْ جُحْرٍ مَرَّتَيْنِ وَقَالَ مُعَاوِيَةُ لَا حَكِيمَ إِلَّا ذُو تَجْرِبَةٍ

[۵۷۸۲] (۲) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ ابْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ لَا يُلْدَغُ الْمُؤْمِنُ مِنْ جُحْرٍ وَاحِدٍ مَرَّتَيْنِ

رسول الله ﷺ فرمائی چه مؤمن نه د یو سوری نه دوه خله ټك نه ورکولې کیږی ، مطلب دا چه مؤمن دوه خله دهوکه نه خوری ، یو ځل چه ده سره دهوکه اوشی نو دې محتاط کیږی او په دوباره د دهوکې نخه نه ګرځی -

د حدیث سبب د ورود : د دې حدیث سبب د ورود دا دې چه رسول الله ﷺ د غزوه بدر په موقع باندې مشهور شاعر ابوعزه ګرفتار کړو ، خلقو دده سفارش اوکړو نو دوی ﷺ په ده احسان اوکړو او دې ئې آزاد کړو ، خو دا عهد ئې ترینه واخستو چه بیا به دې د اسلام خلاف او د رسول الله ﷺ په مخالفت کښې اشعار نه وائی ... ده د آزادیدو نه پس دا وعده ماته کړه او د پخوا په شان ئې هجویه اشعار ویلې د غزوه احد په موقع په دوباره ګیر شو ، بیا خه خلقو د ده سفارش اوکړو خو رسول الله ﷺ په دې موقع اوفرمائل : چه مؤمن د یو سوری نه دوه خله ټك نه خوری - (۳) لايُلدَغ د مجهول صیغه ده او دیکښې د مؤمن د یو وصف خبر ورکړې شویدې ، خو بیا هم شارحینو لیکلی دی چه دا د نهی په معنی کښې دې - نهي په صورت د خبر ده او مطلب دا دې چه مؤمن دپاره محتاط او بیدار اوسیدل پکار دی چه دې بیا بیا دهوکه اونه خوری - (۴)

قوله: وقال معاوية : لا حكيم إلا ذو تجربة : حضرت معاویه ؓ فرمائی چه هم تجربه کار سړې حکیم دې ، بعض روایتو نو کښې دی " لاحليم إلا ذوتجربة " (۵)، حلیم بردبار او باوقار ته وائی ، مطلب دا دې چه حکمت او پوهه او حلم او بردباری انسان کښې په تجربو کولو سره پیدا کیږی او مضبوطیږی ، چه کوم کس تجربه کار نه وی او د زمانې نرمې او سختې ئې نه وی لیدلې ، ده کښې حلم او بردباری ، صبر او تحمل او حکمت او پوهه نه ښکاره کیږی.....دحدیث سره د دې اثر مناسبت بیانولو کښې علامه عینی رحمه الله لیکی:

" ومناسبة ذكر أثره للحديث الذي هو الترجمة : هي أن الحليم الذي ليس له تجربة قد يقع في أمر مرة بعد

---

۱) صحيح البخاری ، كتاب الشهادات ، باب شهادة الأعمى ..... (رقم الحديث : ۲۶۵۷)

۲) ۵۷۸۲) الحديث أخرجه مسلم فى كتاب الزهد والرقائق ، باب لا يلدغ المؤمن من جحر مرتين : ۴ \ ۳۲۹۵ (رقم الحديث : ۲۹۹۸) و أخرجه أبوداود فى كتاب الأدب ، باب فى الحذر من الناس)

۳) فتح الباری : ۱۰ \ ۶۵۰ ، عمدة القاری : ۲۲ \ ۱۷۳ ، ارشاد الساری : ۱۳ \ ۱۴۰)

۴) فتح الباری : ۱۰ \ ۶۵۰ ، عمدة القاری : ۲۲ \ ۱۷۳ ، ارشاد الساری : ۱۳ \ ۱۳۹)

۵) فتح الباری : ۱۰ \ ۶۴۹ ، عمدة القاری : ۲۲ \ ۱۷۳ ، ارشاد الساری : ۱۳ \ ۱۳۹)

أخرى فلذاك قيد الحليم بذى التجربة" (۱)
یعنی چه د کوم سړی تجربه نه وی هغه به بیا بیا غلطی کوی او دهوکه به خوری ، خو صاحب د تجربه چه حلیم دې هغه به داسې نه وی -
امام بخاری رحمه الله په الادب المفرد کښې دا اثر موصولاً نقل کړیدې (۲) او امام احمد او ابن حبان دا مرفوعًا نقل کړیدې -(۳)

۸۳=بَاب حَقِّ الضَّيْفِ

[۵۷۸۳] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ حَدَّثَنَا حُسَيْنٌ عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَلَمْ أُخْبَرْ أَنَّكَ تَقُومُ اللَّيْلَ وَتَصُومُ النَّهَارَ قُلْتُ بَلَى قَالَ فَلَا تَفْعَلْ قُمْ وَنَمْ وَصُمْ وَأَفْطِرْ فَإِنَّ لِجَسَدِكَ عَلَيْكَ حَقًّا وَإِنَّ لِعَيْنِكَ عَلَيْكَ حَقًّا وَإِنَّ لِزَوْرِكَ عَلَيْكَ حَقًّا وَإِنَّ لِزَوْجِكَ عَلَيْكَ حَقًّا وَإِنَّكَ عَسَى أَنْ يَطُولَ بِكَ عُمُرٌ وَإِنَّ مِنْ حَسْبِكَ أَنْ تَصُومَ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فَإِنَّ بِكُلِّ حَسَنَةٍ عَشْرَ أَمْثَالِهَا فَذَلِكَ الدَّهْرُ كُلُّهُ قَالَ فَشَدَّدْتُ فَشُدِّدَ عَلَيَّ فَقُلْتُ فَإِنِّي أُطِيقُ غَيْرَ ذَلِكَ قَالَ فَصُمْ مِنْ كُلِّ جُمُعَةٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ قَالَ فَشَدَّدْتُ فَشُدِّدَ عَلَيَّ قُلْتُ أُطِيقُ غَيْرَ ذَلِكَ قَالَ فَصُمْ صَوْمَ نَبِيِّ اللَّهِ دَاوُدَ قُلْتُ وَمَا صَوْمُ نَبِيِّ اللَّهِ دَاوُدَ قَالَ نِصْفُ الدَّهْرِ [ر:۱۰۷۹]

د میلمستیا ورکولو حکم: د میلمه حق دې چه په قدر د وس د ده میلمستیا اوشی ، میلمستیا ورکول د جمهورو عالمانو په نزد مسنون او مستحب ده ، او د امام احمد رحمه الله په نزد واجب ده - (۴)
د بعض عالمانو په نزد په کلی والو باندې واجب ده ، او په ښار والا باندې نه ده واجب ځکه چه کلی کښې د خوراك وغیره څه انتظام نه وی او په ښار کښې هوټل وغیره وی او خوراك په اسانه ملاویږی - (۵)

قوله: فشددت فشدد علي: یعنی ما دسختئ او د قوت مظاهره اوکړه چه څه زیاتې روژې ساتلې شم نو د رسول الله ﷺ د طرفه هم سختی اوکړې شوه او دوی ﷺ اوفرمائل چه یو ورځ روژه او بله ورځ کوژه کوه کنی شروع کښې رسول الله ﷺ په میاشت کښې صرف د

(۱) عمدة القاری : ۲۲\۱۷۲)
(۲) فتح الباری : ۱۰\۶۴۶)
(۳) مسند احمد فی مسانید ابی سعید : ۱۳\۶۹)
(۴) عمدة القاری : ۲۲\۱۷۳ ، مرقاة المفاتیح ، کتاب الأطعمة ، باب القیامة : ۸\۲۰۳ ، الجامع لأحکام القرآن للقرطبی ، سورة هود : ۱۹\۶۴ ، شرح صحیح البخاری لابن البطال : ۱۹\۳۱۰)
(۵) عمدة القاری : ۲۲\۱۷۳)

دري ورځو روژو نيولو دپاره ويلې وو -

حديث د باب كښې دباب كښې دی إن لزورك مليك حقًا، زَوْر ميلمه ته وائي -

٨٥=بَاب إِكْرَامِ الضَّيْفِ وَخِدْمَتِهِ إِيَّاهُ بِنَفْسِهِ

وَقَوْلِهِ ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ الْمُكْرَمِينَ] الذاريات:٢٤]

قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ يُقَالُ هُوَ زَوْرٌ وَهَؤُلَاءِ زَوْرٌ وَضَيْفٌ وَمَعْنَاهُ أَضْيَافُهُ وَزُوَّارُهُ لِأَنَّهَا مَصْدَرٌ مِثْلُ قَوْمٍ رِضًا وَعَدْلٍ يُقَالُ مَاءٌ غَوْرٌ وَبِئْرٌ غَوْرٌ وَمَاءَانِ غَوْرٌ وَمِيَاهٌ غَوْرٌ وَيُقَالُ الْغَوْرُ الْغَائِرُ لَا تَنَالُهُ الدِّلَاءُ كُلَّ شَيْءٍ غُرْتَ فِيهِ فَهُوَ مَغَارَةٌ تَزَاوَرُ] الكهف:١٧] تَمِيلُ مِنَ الزَّوَرِ وَالْأَزْوَرُ الْأَمْيَلُ

[٥٧٨٤] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ أَبِي شُرَيْحٍ الْكَعْبِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ جَائِزَتُهُ يَوْمٌ وَلَيْلَةٌ وَالضِّيَافَةُ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ فَمَا بَعْدَ ذَلِكَ فَهُوَ صَدَقَةٌ وَلَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَثْوِيَ عِنْدَهُ حَتَّى يُحْرِجَهُ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ مِثْلَهُ وَزَادَ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ [ر:٥٦٧٣]

[٥٧٨٥] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا ابْنُ مَهْدِيٍّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ أَبِي حَصِينٍ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يُؤْذِ جَارَهُ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ [ر:٣١٥٣]

[٥٧٨٦] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ عَنْ أَبِي الْخَيْرِ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ قُلْنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّكَ تَبْعَثُنَا فَنَنْزِلُ بِقَوْمٍ فَلَا يَقْرُونَنَا فَمَا تَرَى فَقَالَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ نَزَلْتُمْ بِقَوْمٍ فَأَمَرُوا لَكُمْ بِمَا يَنْبَغِي لِلضَّيْفِ فَاقْبَلُوا فَإِنْ لَمْ يَفْعَلُوا فَخُذُوا مِنْهُمْ حَقَّ الضَّيْفِ الَّذِي يَنْبَغِي لَهُمْ [ر:٢٣٢٩]

[٥٧٨٧] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا هِشَامٌ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ [ر:٣١٥٣]

د ترجمة الباب وضاحت : د ترجمة الباب دوه جزءه دی :

① رومبی جزءدی إكرام الضيف و خدمته إياه بنفسه يعني د ميلمه عزت كول او دده په خپله خدمت كول .... يو صورت خو ئې دا دې چه د ميلمه د خدمت دپاره چا ته اوويلي شی ، او دې د ده ميلمستيا اوكړي ، دويم صورت دا دې چه انسان په خپله د ده خدمت اوكړی .... دينه پس ئې د قرآن كريم آيت (ضيف ابراهيم المكرمين) ذكر كړو امام بخاری رحمه

الله غالبًا دیته اشاره کړیده چه ابراهیم عليه السلام په خپله د خپلو میلمنو خدمت کولو، لکه چه قرآن کریم کښې دی (و جاء بعجل حنيذ) (۱)
په بعض روایتونو کښې دی چه د میلمستیا طریقه د ټولو نه وړمبې ابراهیم عليه السلام جاری کړیده ، دوی به بغیر د میلمنو نه خوراك نه کولو - (۲)

② امام بخاری رحمه الله د ترجمة الباب د دویم جزء په طور د سورة حجرات آیت کریمه ذکر کړو (ضيف إبراهيم المكرمين) المكرمين ، د " ضيف " صفت دې ، ضيف د مفرد او د جمع دواړو دپاره استعمالیږی ، دلته دجمع دپاره دې ، دې دپاره ددې صفت " المکرمین " جمع راوړیده-
د ضيف جمع قلت أضياف او جمع کثرت ئې ضيوف او ضيفان راځی (۳)
وړاندې امام بخاری رحمه الله د لفظ د ضيف په شان درې نور الفاظ هم ذکر کړيدی چه کوم مفرد او جمع په دواړو طریقو استعمالیږی ، لکه چه دې فرمائی :

قوله: قال أبوعبدالله: يقال: هوزور وضيف، ومعناه: أضيافه وزواره: یعنی زور او ضیف دواړه مفرد ویلې کیږی خو مراد ترینه جمع اخستې کیږی ، ابو عبدالله نه په خپله امام بخاری رحمه الله مراد دی .... دلیل ئې دا ذکر کړیدې چه دا مصدر دې او مصدر مفرد جمع دواړو دپاره استعمالیږی ، مثلاً ویلې کیږی ، قوم رضا او قوم عدل ... دیکښې رضا او عدل دواړه مصدر دی د جمع دپاره استعمال شویدی -

دارنګه ویلې کیږی ماء غَوْر ، بئر غَوْر ، ماءان غور ، میاه غور ......غور مصدر دې او د مفرد ، تثنیه او د جمع دپاره استعمالیږی .... دا تفصیل په اصل کښې امام فراء په " معاني القرآن " کښې لیکلې دې او امام بخاری رحمه الله د ده نه اخذ کړیدې ، دوی د قرآن کریم آیت (قل أرأيتم إن أصبح ماءكم غورا) (۴) تر لاندې لیکلې دی چه " غورا " جمع نه استعمالیږی - (۵)

قوله: ويقال: الغور الغائر لا تناله الدلاء، كل شيء غرت فيه فهو مغارة: دا د ابوعبیده کلام دې چه غور د غائر په معنی کښې دې یعنی مصدر د اسم فاعل په معنی دې . اوبه کمې شی یا اوچې شی ، او په ډولچه کښې رااونه څی نو دغه وخت ویلې کیږی ماء غور .... دلاء ، ډولچې ته وائی ، وړاندې فرمائی هر هغه څیز چه دیکښې ته روان ئې دیته " مغارة " وائی او دیته غار هم وائی - (۶)

قوله: تزاور: تميل من الزور، والأزور الأميل: امام بخاری رحمه الله د خپل عادت

---

(۱) سورة هود : ۶۹)
(۲) الجامع لأحكام القرآن للقرطبي ، سورة البقرة (الآية : ۱۲۴) ۲\۹۸)
(۳) عمدة القاری : ۲۲\۱۷۳)
(۴) سورة الملک : ۳۰)
(۵) الجامع لأحكام القرآن للقرطبي : ۱۰\۴۰۹)
(۶) عمدة القاری : ۲۲\۱۷۳)

مطابق د لفظي مناسبت سره د سورة كهف آيت تفسير ته منتقل شو ، سورة كهف كښې دي(و ترالشمس إذا طلعت تزاور عن كهفهم ذات اليمين)([1]) فرمائي ديكښې تزاور د " تميل " په معنى كښې دې يعنى نمر مائله كيږى ، فرمائي دا د " زَور " نه ماخوذ دې ، د زور معنى كوږ والى او ميلان دې ، د ازور معنى أميل دې يعنى زيات مائله كيدل ، دا تشريح د ابوعبيده د كلام نه امام رانقل كړيده - ([2])

قوله: فليكرم ضيفه جائزته يوم وليلة والضيافة ثلاثة أيام فما بعد ذلك فهو صدقة:

جائزته په تركيب كښې د " ضيفه " نه بدل اشتمال هم كيدې شى ، دې صورت كښې به دا منصوب وى ځكه چه دده متبوع " ضيفه " د " ليكرم " دپاره مفعول به كيدو په بناء منصوب دې ، او دا مبتداء هم كيدې شى" يوم وليلة " دې دپاره خبر دې ، دې صورت كښې به دا مرفوع وى- ([3])

د ميلمستيا مده : دينه پس ئې او فرمائل چه ميلمستيا درې ورځې ده ، دينه پس چه څه وركړې شى دا صدقه ده ،

علامه خطابى او نورو څو محدثينو ددې تشريح داسې كړيده چه ټوله مده د ميلمستيا درې ورځې ، ديكښې په رومبۍ ورځ خو دې ښه اكرام اوكړې شى او د ماحضر او د معمول نه دې زيات اهتمام اوكړې شى ، په دويمه او په دريمه ورځ دې د ما حضر او د معمول مطابق خدمت اوكړې شى .... دې درې ورځو نه پس چه څه وركړې شى ، دا " حق د ضيافت " نه دې بلكه صدقه ده - ([4]) د جائزه معنى عطاء ، تحفه ، هديه او د بخشش ده - ([5])

ابن بطال رحمه الله فرمائى چه رسول الله ﷺ ميلمستيا په درې حصو تقسيم كړه ، رومبۍ ورځ خو دده خدمت كښې دې هديه او تحفه وړاندې كړې شى ، په دويمه ورځ دې د معمول نه لږ زيات په خوراك كښې تكلف اوكړې شى او په دريمه ورځ دې ماحضر حاضر كړې شى ، دينه پس كوربه ته اختيار دې ، چه د ده خدمت كوى او كه نه كوى لكه چه څنګه نفلى صدقه كښې اختيار وى - ([6]) د علامه خطابى او د ابن بطال د دواړو د تشريح حاصل هم دا دې چه ټوله مده د ميلمستيا درې ورځې ده -

بعضو عالمانو " يوم الجائزة " بيله شمار كړيده ، د دوى په نزد د ضيافت درې ورځې او يو

---

[1]) سورة الكهف : ۱۷)

[2]) عمدة القارى : ۲۲ \ ۱۷۳)

[3]) ارشاد السارى : ۱۳ \ ۱٤۳ ، عمدة القارى : ۲۲ \ ۱۷۳)

[4]) عمدة القارى : ۲۲ \ ۱۷۵ ، فتح البارى : ۱۰ \ ۶۵۳)

[5]) عمدة القارى : ۲۲ \ ۱۷۳ ، مجمع بحار الانوار ، مادة " جوز " : ۱ \ ٤۱۱ ، النهاية لابن الأثير ، مادة " جوز " : ۱ \ ۳۱٤)

[6]) شرح صحيح البخارى لابن بطال : ۹ \ ۳۰۹) .

ورځ د " جائزه " ده ([1]) نو دارنګه تپولې ورځې ځلور جوړيږی ، د دې تائيد د مسلم شريف د
يو روايت نه هم کيږی ، ديکښې دی " الضيافة ثلاثة أيام و جائزته يوم و ليلة " ([2]) دينه دا هم
معلوميږی چه د " جائزه " د ضيافت نه روستو ده ، ددې حاصل دا راووتلو چه د ميلمه دې
درې ورځو پورې ميلمستيا اوکړې شی چه دا د ده حق دې او دينه پس چه په کومه ورځ دې
تلو والا وی نو د ده په خدمت کښې دې څه هديه او تحفه هم وړاندې کړې شی ([3]) او د
وړاندينی منزل ته تللو دپاره دې ده ته زاد راه (د لارې خرچه) هم ورکړې شی ، ديته " جيزه
" وائی ، يو بل حديث کښې ديته اشاره شته " أجيزالوفد بنحو ما كنت أجيزهم " ([4])

د " جائزته " يو بله تشريح حافظ ابن حجر رحمه الله کړيده ، هغه ليکی : " ويحتمل أن يكون
المراد بقوله : " و جائزته " بيانا لحالة أخرى ، و هى أن المسافر تارة يقيم عند من ينزل عليه ، فهذا لا يزاد على
الثلاث بتفاصيلها ، و تارة لا يقيم ، فهذا يعطى ما يجوز به قدر كفايته يوما و ليلة ، و هذا أعدل الوجه " ([5])

د دې حاصل دا دې چه ميلمه په دوه قسمه دې ، يو خو هغه ميلمه دې چه د کوربه سره
درې ورځو پورې اوسيږی ، د ده دپاره خو هم هغه تفصيل دې چه کوم تير شو چه په ړومبۍ
ورځ دې ورته ښه اکرام اوکړې ، په دويمه ورځ دې د معمول نه لږ زيات اوکړې شی ، او په
دريمه ورځ دې د معمول مطابق ماحضر وړاندې کړی ، دويم هغه ميلمه دې چه د هغه اراده
د اوسيدو نه وی ، د ده د رخصتيدو په وخت دې ده ته دې د لارې دپاره دومره خرچه ورکړې
چه دده د يو ورځ او د يو شپې دپاره کافی وی ، خلاصه دا ده چه د " ميلمستيا " تعلق د
درې ورځو پورې اوسيدونکی ميلمه سره دې او د " جائزه تعلق د هغه ميلمه سره دې چه
کوم د قيام اراده نه لری ، بلکه چه څه لږ ساعت دپاره راغلې وی -

چه کوم حضرات ضيافت او ميلمستيا ته واجب وائی ، هغوی د حديث د باب نه استدلال
کوی چه " فما بعد ذلك فهو صدقة " نه معلوميږی چه دينه وړاندې ضيافت صدقه نه ده ، بلکه
واجب ده - ([6])

خو چه کوم حضرات د وجوب قائل نه دی هغوی وائی چه د صدقه لفظ دلته دې دپاره
استعمال شويدې چه د درې ورځو نه زيات څوك په ضيافت باندې مکلف نه کړې شی ،

---

[1] ۱۱۷ مرقاة المفاتيح ، كتاب الأطعمة ، باب الضيافة : ۹\۲۰۲ ، شرح الطيبى ، كتاب الأذعمة ، باب الضيافة : ۸\۱۷۲ (رقم الحديث : ۴۲۴۴)

[2] رواه مسلم فى كتاب اللقطة ، باب الضيافة و نحوها : ۳\۱۳۵۳ (رقم الحديث : ۱۷۲۶)

[3] فتح البارى : ۱۰\۶۵۳ ، شرح الطيبى ، كتاب الأطعمة ، باب الضيافة : ۸\۱۷۲ (رقم الحديث : ۴۲۴۴) مرقاة المصابيح ، كتاب الأطعمة ، باب الضيافة : ۸\۲۰۲)....

[4] سنن أبى داود ، كتاب الخراج و الإمارة و الفئ ، باب فى إخراج اليهود من جزيرة العرب : ۳\۱۶۵ (رقم الحديث : ۳۰۲۹)

[5] فتح البارى : ۱۰\۶۵۳)

[6] ۱۲۲ فتح البارى : ۱۰\۶۵۳ ارشاد السارى : ۱۳\۱۴۴)

ځکه چه ډير خلق ، خاصکر دولت مند خلق د صدقې د خوراك نه اعراض کوی - (۱)

قوله: ولا يحل له أن يثوى عنده حتى يُحْرِجه: د يو ميلمه دپاره دا جائز نه دی چه د کوربه سره دومره ايسار شی چه دې په حرج ، په تنګسيا او په تکليف کښې مبتلاء کړی ، يُحْرِجه د باب د افعال نه دې ، أحرج په معنی د تنګئ او په حرج کښې د اچولو دې -

د صحيح مسلم په يو روايت کښې دی: " حتى يؤثمه " (۲) أى يوقعه فى الإثم ..... امام نووی رحمه الله فرمائی چه دومره دې ايسار نه شی چه کوربه لره په ګناه کښې مبتلاء کړی ځکه چه د زيات اوسيدو په وجه ممکن ده چه کوربه د ده غيبت شروع کړی يا ده ته څه تکليف ورکړی يا څه بد ګمانی پرې اوکړی نو دارنګه به کوربه په ګناه کښې مبتلاء شی- (۳)

خو دا حکم هغه وخت دې چه کله د ميلمه په زيات اوسيدو سره کوربه په حرج او تکليف کښې مبتلاء کيږی ، کُه د ميلمه په اوسيدو سره کوربه ته څه حرج او تکليف نه وی ، ظاهره ده چه داسې صورت کښې د عدم جواز دا حکم نه دې - (۴)

قوله: فخذوا منهم حق الضيف الذى ينبغى لهم: په زبردستئ د چا مال د ده د رضامندئ نه بغير اخستل په عام حالاتو کښې بالاتفاق ناجائز دې ، اګر چه د ضيافت دپاره ولې نه وی ، دې وجه نه ددې جملې مختلف مطلبونه بيان کړې شويدی -

① دا په حالت اضطرار باندې محمول دې ، يعنی چه کوم ميلمه حالت د اضطرار ته اورسی، او خلق د ده ضيافت نه کوی نو داسې صورت کښې دې دا په زبردستئ سره د خپل خان د بچ کولو دپاره اخستې شی (۵)

الضرورة تبيح المحظورة : ② دا د هغه مخصوص خلقو متعلق ويلې شويدې چه د هغوی سره معاهده شوې وه چه کُه د مسلمانانو لښکر په دغه خائې تيريږی نو دوی به ئې ميلمستيا کوی ، او په معاهده عمل کول واجب دی ، دې وجه نه دوی ته په زبردستئ حق د ضيافت وصولولو اجازت ورکړې شو - (۶)

٨٦=بَاب صُنْعِ الطَّعَامِ وَالتَّكَلُّفِ لِلضَّيْفِ

[٥٧٨٨] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ عَوْنٍ حَدَّثَنَا أَبُو الْعُمَيْسِ عَنْ عَوْنِ بْنِ أَبِي جُحَيْفَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ آخَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ سَلْمَانَ وَأَبِي الدَّرْدَاءِ فَزَارَ

---

(۱) فتح البارى : ۱۰\۶۵۳ ، ارشاد السارى : ۱۳\۱۴۴)

(۲) رواه مسلم فى كتاب للقطة ، باب الضيافة و نحوها : ۳\۱۳۵۳ ، (رقم الحديث : ۱۷۲۶) .

(۳) شرح مسلم للنووى ، كتاب اللقطة ، باب الضيافة و نحوها : ۲\۸۰)

(۴) فتح البارى : ۱۰\۶۵۴)

(۵) عمدة القارى : ۲۲\۱۷۶)

(۶) ارشاد السارى : ۱۳\۱۴۶)

سَلْمَانُ أَبَا الدَّرْدَاءِ فَرَأَى أُمَّ الدَّرْدَاءِ مُتَبَذِّلَةً فَقَالَ لَهَا مَا شَأْنُكِ قَالَتْ أَخُوكَ أَبُو الدَّرْدَاءِ لَيْسَ لَهُ حَاجَةٌ فِي الدُّنْيَا فَجَاءَ أَبُو الدَّرْدَاءِ فَصَنَعَ لَهُ طَعَامًا فَقَالَ كُلْ فَإِنِّي صَائِمٌ قَالَ مَا أَنَا بِآكِلٍ حَتَّى تَأْكُلَ فَأَكَلَ فَلَمَّا كَانَ اللَّيْلُ ذَهَبَ أَبُو الدَّرْدَاءِ يَقُومُ فَقَالَ نَمْ فَنَامَ ثُمَّ ذَهَبَ يَقُومُ فَقَالَ نَمْ فَلَمَّا كَانَ آخِرُ اللَّيْلِ قَالَ سَلْمَانُ قُمِ الآنَ قَالَ فَصَلَّيَا فَقَالَ لَهُ سَلْمَانُ إِنَّ لِرَبِّكَ عَلَيْكَ حَقًّا وَلِنَفْسِكَ عَلَيْكَ حَقًّا وَلِأَهْلِكَ عَلَيْكَ حَقًّا فَأَعْطِ كُلَّ ذِي حَقٍّ حَقَّهُ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدَقَ سَلْمَانُ أَبُو جُحَيْفَةَ وَهْبٌ السُّوَائِيُّ يُقَالُ وَهْبُ الْخَيْرِ [ر:۱۸٦٧]

په میلمستیا کښې تکلف کول: د میلمه دپاره په قدر د استطاعت دپاره د معمول نه لږ بدل خوراك تیارول پکار دی او په خوراك کښې ورته تکلف کول پکاری ، دا په اسراف یا په تبذیر کښې نه راځی دا د سلف صالحین معمول پاتې شویدې امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې هم دا بیانول غواړی -

خو دیکښې د خپل استطاعت مطابق د تکلف اهتمام کول پکار دی ، د وس نه زیات تکلف کولو کښې نور ډیر زیات حقوق العباد متاثر کیږی ، .... بعض خلق مقروض وی خو د میلمنو دمیلمستیا کولو دپاره د نورو قرضونو اخستو اهتمام کوی ، نو دا صحیح نه ده ، ځکه چه قرض اداء کول واجب او میلمستیا کول مستحب دی ، د مستحب د اداء کولو خو دې اهتمام وی او فرض او واجب دې شا ته اوغورزولې شی ، دا شرعاً غلطه ده -

حدیث د باب کښې دی چه حضرت سلمان فارسی ﷺ د حضرت ابو الدرداء میلمه شو ، د شپې هلته پاتې شو ، حضرت ابوالدرداء دوی دپاره خوراك تیار کړو " فصنع له طعاماً ....." سره امام ترجمة الباب ثابت کړیدې -

قوله: فرأى أمّ الدرداء متبذّلة: حضرت سلمان فارسی ﷺ حضرت ابو الدرداء بنځه ام الدرداء اولیدله چه دې بالکل ساده جامې اغوستې دی چه کومې عموماً د کار کولو په وخت په کور کښې استعمالیږی ، حضرت سلمان اوویل چه ته دې حالت کښې ولې ئې ؟ نو دې جواب ورکړو چه د ابوالدرداء مونږه ته څه رغبت نشته دې ، بیا د چا دپاره اهتمام اوکړې شی؟ د ام الدرداء نوم خیرة بنت ابی حدرد دې - (۱)

مُتَبَذِّلَةً دا د باب تفعل نه د اسم فاعل مونث صیغه ده أی لابسة ثیاب البِذْلة-

قوله: صدق سلمان: حضرت سلمان فارسی ﷺ حضرت ابوالدرداء ﷺ ته چه کوم نصیحت کړې وو ، رسول الله ﷺ د دې توثیق او تصدیق اوکړو ، د طبرانی په روایت کښې دی چه رسول الله ﷺ دوی ته اوویل " عویمر! سلمان أفقه منك"(۲)

---

(۱) ارشاد الساری : ۱۳\۱٤۷ ، عمدة القاری : ۲۲\۱۷٦ ، و الإصابة فی تمییز الصحابة : ٤\٤٤۸ (رقم الترجمة : ۱۲۵٦)

(۲) ارشاد الساری : ۱۳\۱٤۸)

قوله: أبو جُحَيْفَةَ وَهْبُ السُّوائي، يقال له وهب الخير: يعنى جحيفه ته وهب الخيرهم وائى.

د ترجمة الباب سره مناسبت : د ترجمة الباب رومبى جزء " سنع طعام " ذكر خو په حديث كښې صراحتًا موجود خو د دويم جزء " التكلف للضيف " ذكر نشته ، مولانا رشيد احمد گنگوهى رحمه الله په " لامع الدرارى " كښې فرمائى :

ولعله قصد إثبات الجزء الثانى بقوله : كُلْ فإنى صائم ، فإنهم لما كانت عادتهم الصوم و التهذل ، فالظاهر أنهم لم يكونوا يصنعون طعامًا بالنهار ، و كانوا يكتفون بطعام الليل ، فكان صنع الطعام الجديد له تكلفا و لا يبعد أين يستنبط التكلف من قوله : فأكل ، فمنه لما اعتاد الصوم و التزمه ، كان الإفطار لأجل اضيف احتمالا للكلفة من غير شك." ([1])

د دې حاصل دا دې چه امام بخارى رحمه الله د ترجمة الباب د دويم جزء ثابتول په حديث كښې واقع په " كُلْ فإنى صائم " سره غواړى ، حضرت ابوالدرداء ﷛ او د دوى د كور والا عادت چه د روژې ساتلو وو ، دې وجه نه ظاهر هم دا ده چه دې خلقو به د ورځې خوراك نه تيارولو صرف د شپې به ئې د خوراك انتظام كولو ، نو په دې موقع د دوى د ورځې د خوراك انتظام كول د ميلمه دپاره په طور د تكلف وو ، دارنگه د ترجمة الباب دويم جزء " التكلف للضيف " دې سره ثابتيږى ، او دا هم ممكن ده چه د ترجمة الباب دا دويم جزء د حديث په لفظ " فأكل " سره ثابت كړې شى ، د حضرت ابوالدرداء ﷛ عادت د روژې ساتلو وو خو دوى د ميلمه په خاطر افطار اوكړو ، دا افطار كول د ميلمه دپاره په طور د تكلف وه -

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه امام بخارى رحمه الله " التكلف للضيف " سره د حضرت سلمان فارسى ﷛ دې روايت ته اشاره كړيده ، چه هغه امام احمد په خپل مسند كښې نقل كړيدې ، چه ديكښې دى " نهانا رسول الله ﷺ أن نتكلف للضيف " ([2])

دواړو كښې تطبيق داسې كيدې شى چه د وس په صورت كښې خو اهتمام او تكلف كول پكار دى او د عدم استطاعت په صورت كښې تكلف صحيح نه دې ، د ممانعت والا روايت د عدم استطاعت په صورت محمول دې - ([3])

دا حديث د باب په كتاب الصوم كښې " باب من أقسم على أخيه ليفطر " كښې تير شويدې -

...

---

[1]) لامع الدرارى : ١٠ \ ٣١ ، و الأبواب و التراجم : ٢ \ ١١٧)

[2]) و فى لفظ مسند الإمام أدحمد بن حنبل فى مسانيد سلمان : أن سلمان دخل عليه رجل ، فدعا له بما كان عنده فقال : لو لا أن رسول الله صلى الله عليه و سلم نهانا أو لولا أنا نهينا أن يتكلف أحدنا لصاحبه لتكلفنا لك: ٥ \ ٤٤١ ،وكذا ذكر الهيثمى فى مجمع الزوائد ، كتاب البر والصلة ، باب النهى عن التكلف : ٨ \ ١٧٩)

[3]) لامع الدرارى : ١٠ \ ٣١ ، و الأبواب و التراجم : ٢ \ ١١٧)

۸۷=بَاب مَا يُكرَهُ مِنَ الغَضَبِ وَالجَزَعِ عِندَ الضَّيفِ

[۵۷۸۹] حَدَّثَنَا عَيَّاشُ بنُ الوَلِيدِ حَدَّثَنَا عَبدُ الأَعلَى حَدَّثَنَا سَعِيدٌ الجُرَيرِيُّ عَن أَبِي عُثمَانَ عَن عَبدِ الرَّحمَنِ بنِ أَبِي بَكرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنهُمَا أَنَّ أَبَا بَكرٍ تَضَيَّفَ رَهطًا فَقَالَ لِعَبدِ الرَّحمَنِ دُونَكَ أَضيَافَكَ فَإِنِّي مُنطَلِقٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَافرُغ مِن قِرَاهُم قَبلَ أَن أَجِيءَ فَانطَلَقَ عَبدُ الرَّحمَنِ فَأَتَاهُم بِمَا عِندَهُ فَقَالَ اطعَمُوا فَقَالُوا أَينَ رَبُّ مَنزِلِنَا قَالَ اطعَمُوا قَالُوا مَا نَحنُ بِآكِلِينَ حَتَّى يَجِيءَ رَبُّ مَنزِلِنَا قَالَ اقبَلُوا عَنَّا قِرَاكُم فَإِنَّهُ إِن جَاءَ وَلَم تَطعَمُوا لَنَلقَيَنَّ مِنهُ فَأَبَوا فَعَرَفتُ أَنَّهُ يَجِدُ عَلَيَّ فَلَمَّا جَاءَ تَنَحَّيتُ عَنهُ فَقَالَ مَا صَنَعتُم فَأَخبَرُوهُ فَقَالَ يَا عَبدَ الرَّحمَنِ فَسَكَتُّ ثُمَّ قَالَ يَا عَبدَ الرَّحمَنِ فَسَكَتُّ فَقَالَ يَا غُنثَرُ أَقسَمتُ عَلَيكَ إِن كُنتَ تَسمَعُ صَوتِي لَمَّا جِئتَ فَخَرَجتُ فَقُلتُ سَل أَضيَافَكَ فَقَالُوا صَدَقَ أَتَانَا بِهِ قَالَ فَإِنَّمَا انتَظَرتُمُونِي وَاللَّهِ لَا أَطعَمُهُ اللَّيلَةَ فَقَالَ الآخَرُونَ وَاللَّهِ لَا نَطعَمُهُ حَتَّى تَطعَمَهُ قَالَ لَم أَرَ فِي الشَّرِّ كَاللَّيلَةِ وَيلَكُم مَا أَنتُم لِمَ لَا تَقبَلُونَ عَنَّا قِرَاكُم هَاتِ طَعَامَكَ فَجَاءَهُ فَوَضَعَ يَدَهُ فَقَالَ بِاسمِ اللَّهِ الأُولَى لِلشَّيطَانِ فَأَكَلَ وَأَكَلُوا [ر: ۵۷۷]

د حضرت عبد الرحمن بن ابي بكر ﷺ نه روايت دې چه حضرت ابوبكر ﷺ د يوې ډلې ميلمستيا اوكړه ، او عبدالرحمن ته ئې اوويل چه خه رسول الله ﷺ خدمت ته ورځم ، ته دا ميلمانه بوخه او خما د واپس كيدو نه پرې وړاندې وړاندې په ذوى خوراك اوكړه او دينه خان فارغ كړه ، عبد الرحمن د حكم مطابق لاړو او چه څه حاضر وو هغه ئې ميلمنو ته كيخودل او ورته ئې اويل چه خورئ ، دوى اوويل ، د كور مالك (حضرت صديق اكبر) كوم خائې دې ، عبدالرحمن اوويل : تاسو خوراك اوكړئ ، دوى اوويل : چه تر څو د كور مالك نه وى راغلې مونږ به خوراك نه كوو ، عبدالرحمن اوويل : تاسو خمونږ د طرفه دا ضيافت قبول كړئ كه تاسو خوراك اونكړو او دوى واپس راغلل نومونږ ته به غصه وى ، خو ميلمنو د خوراك نه انكار اوكړو ، خه پوهه شوم چه اوس به دوى په ما خامخا خفه كيږى ، چه كله دوى راغلل نو خه اړخ ته شوم ، دوى تپوس اوكړو چه تا څه څه اوكړل ؟ نو ميلمنو ورته ټول حال بيان كړو ، دوى ما ته اواز راكړو ، اے عبدالرحمن ! خه چپ پاتې شوم ، دوى بيا اواز راكړو ، اے عبدالرحمن ! په دې هم خه خاموش پاتې شوم ، بيا ئې اوويل : اے جاهله ، خه تا ته قسم دركوم چه كه ته خما اواز اورې نو ته ما ته ولې نه رابهر كيږې ؟ نو خه راووتلم او ما اوويل : چه ته دې د خپلو ميلمنو نه تپوس اوكړه ، نو دوى اوويل : دې صحيح وائى ، ده مونږه ته خوراك راوړې وو ، حضرت ابوبكر ﷺ اوويل : تاسو خما انتظار اوكړو په خدائې مې دې قسم وى خه به نن خوراك نه كوم ، دې ميلمنو اوويل : په خدائې مو دې قسم وى چه مونږ به هم خوراك نه كوو ، چه تر څو تا نه وى خوړلې ، حضرت ابوبكر ﷺ اوويل ما د ننئ شپې په شان خرابه شپه نه ده ليدلې ، افسوس دې په تاسو ، تاسو خمونږ ميلمستيا ولې نه قبلوئ ، بيا ئې اوويل : خوراك راوړئ ، عبدالرحمن خوراك راوړو ، نو ده بسم الله اوويلې

او خوراك کښې ئې لاس واچولو ، او وې ويل : ړومبې حالت د شيطان د وجه وو ، نو دوی خوراك اوکړو ، او خلقو هم خوراك اوکړو-

د حديث د باب سره مناسبت :حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه باب کښې دننه امام بخاری رحمه الله حضرت ابوبکر صديق ته د ميلمنو راتلو قصه ذکر کړه ، ديکښې د حضرت عبد الرحمن بن ابی بکر دا قول هم دې " فعرفت أنه يجد علی " ديجد معنی دلته د غصه کولو ده ، امام بخاری رحمه الله په راروان باب کښې دا په بل طريق سره نقل کړيدې ، ديکښې د " فغضب ابوبکر " تصريح هم ده -

شيخ الحديث مولانا محمد زکريا رحمه الله په دې تنقيد کړيدې او فرمائي چه د غضب اثبات مقصود نه دې بلکه د دې نفی او کراهت بيانول مقصود دی - (۱) ځکه چه امام په ترجمة الباب کښې " مايکره من الغضب " ويلې دې -

قطب عالم حضرت مولانا رشيد احمد گنگوهی رحمه الله د حديث د ترجمة الباب سره مناسبت بيانولو کښې په " لامع الدراری " کښې ليکی :

" دل عليه قوله : لم أر فی الشر كالليلة ، وقوله : " الأولى من الشيطان " فإن مقالته هذه دلت على أنه عد غضبه و حلفه وجميع ما جرى شرا ، ومن أمر الشيطان " (۲)

يعنی حضرت صديق اکبر ﷺ اوفرمائل " لم أر فی الشر كالليلة " او خپله غصه وغيره ئې د شيطان امر اوگرځولو ، نو ددې کلام نه معلومه شوه چه د دوی غصه کيدل ، حلف اوچتول او د ميلمنو قسم کول دا ټول شر او د شيطان د طرفه وو ، دينه " ما يکره من الغضب " يعنی د غصه کراهت ثابتيږی -

مولانا محمد زکريا رحمه الله د لامع الدراری په حاشيه او په الابواب والتراجم کښې دا توجيه وجيه گرځولې ده - (۳)

۸۸=بَاب قَوْلِ الضَّيْفِ لِصَاحِبِهِ لَا آكُلُ حَتَّى تَأْكُلَ

فِيهِ حَدِيثُ أَبِي جُحَيْفَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ر:۵۷۸۸]

[۵۷۰۸] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ أَبِي عُثْمَانَ قَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا جَاءَ أَبُو بَكْرٍ بِضَيْفٍ لَهُ أَوْ بِأَضْيَافٍ لَهُ فَأَمْسَى عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا جَاءَ قَالَتْ لَهُ أُمِّي احْتَبَسْتَ عَنْ ضَيْفِكَ أَوْ عَنْ أَضْيَافِكَ اللَّيْلَةَ قَالَ مَا عَشَّيْتِهِمْ فَقَالَتْ عَرَضْنَا عَلَيْهِ أَوْ عَلَيْهِمْ فَأَبَوْا أَوْ فَأَبَى فَغَضِبَ أَبُو بَكْرٍ فَسَبَّ وَجَدَّعَ وَحَلَفَ لَا يَطْعَمُهُ فَاخْتَبَأْتُ أَنَا فَقَالَ يَا غُنْثَرُ فَحَلَفَتْ الْمَرْأَةُ لَا تَطْعَمُهُ حَتَّى يَطْعَمَهُ فَحَلَفَ الضَّيْفُ أَوْ الْأَضْيَافُ

---

۱) الابواب و التراجم : ۲\۱۱۷)

۲) لامع الدراری : ۱۰\۳۲ ، الابواب و التراجم : ۲\۱۱۷)

۳) ۸) تعليقات لامع الدراری : ۱۰\۳۲ ، الابواب و التراجم : ۲\۱۱۷)

أَنْ لَا يَطْعَمَهُ أَوْ يَطْعَمُوهُ حَتَّى يَطْعَمَهُ فَقَالَ أَبُوبَكْرٍ كَأَنَّ هٰذِهِ مِنْ الشَّيْطَانِ فَدَعَا بِالطَّعَامِ فَأَكَلَ وَأَكَلُوا فَجَعَلُوا لَا يَرْفَعُونَ لُقْمَةً إِلَّا رَبَا مِنْ أَسْفَلِهَا أَكْثَرُ مِنْهَا فَقَالَ يَا أُخْتَ بَنِي فِرَاسٍ مَا هٰذَا فَقَالَتْ وَقُرَّةِ عَيْنِي إِنَّهَا الْآنَ لَأَكْثَرُ قَبْلَ أَنْ نَأْكُلَ فَأَكَلُوا وَبَعَثَ بِهَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ أَنَّهُ أَكَلَ مِنْهَا [ر:۵۷۷]

د ابوذر په نسخه كښې دا ترجمة الباب نشته دې ، بلكه دا حديث ئې د ړومبى حديث سره بغير د ترجمة الباب نه رانقل كړيدې - (۱)

عبد الرحمن بن ابى بكر په روايت كښې وائي چه حضرت ابوبكر يو يا يو څو ميلمانه كورته راوستل او په خپله د مابنام په وخت رسول الله ﷺ ته ورغلو ، چه كله واپس شو نو خپا مور د ده نه تپوس اوكړو او ورته ئې اوويل چه تا ميلمانه پريخودل په خپله چرته ايسار شوې وې ، دوى تپوس اوكړو ، تا په دې خلقو خوراك اونكړو ؟ نو خپا مور ورته اوويل : مونږ خو خوراك د دوى وړاندې پيش كړو خو دوى انكار اوكړو ، حضرت صديق اكبر سخت خفه شو ، بد رد ئې اوويلې او قسم ئې اوكړو چه خوراك به نه كوم ، د عبد الرحمن بيان دې چه څه پټ ولاړ ووم ، دوى اواز راكړو : " اے جاهله " ښځې يعنى خپا مور هم قسم اوكړو چه څه به هم خوراك نه كوم چه ترڅو دې خوراك اونكړى ، ميلمنو هم قسم اوكړو چه دوى به هم خوراك نه كوى ..... حضرت ابوبكر ﷺ اوويل ، دا د شيطان د طرفه وو ، بيا ئې خوراك رااوغوښتو ، او په خپله ئې هم اوخوړلو او په دې خلقو ئې هم اوخوړلو ، خلقو به چه كومه نمړئ هم اوچتوله د دې لاندې به نوره هم زياتيدله ، چه حضرت ابوبكر دا اوليدل نو (خپلې بى بى حضرت ام رومان ته ئې) وې ويل : اے د بنى فراس خور ! دا څه چل دې ؟ نودې اوويل : خپا دې قسم وى د خپلو سترګو په يخوالى ، اوس خو د هغې نه هم زيات شو چه كوم خمونږ د خوراك نه وړاندې وو ، نو چه ټولو خلقو اوخوړله بيا ئې دا د رسول الله ﷺ خدمت ته هم اوليږله ، د عبدالرحمن بيان دې چه رسول الله ﷺ هم دينه خوراك اوكړو -

د ترجمة الباب مقصد : شارحينو د دې ترجمة الباب په مقصد هيڅ كلام نه دې كړې ، امام بخارى رحمه الله كيدې شى دې خبرې ته اشاره كول غواړى چه ګه كوربه څه سخته خبره اوكړى او ميلمه ته دا ښه نه ښكارى نو ميلمه هم داسې خبره په جواب كښې ويلې شى او شرعاً د دې جواز شته دې -

قوله: فغضب أبوبكر، فسبّ وجدّع : جدّع يعنى دوى هم "يامجدوع الأذنين" اوويلې او په طور د خيرو ئې ورته اواز اوكړو (۲)

ياغنثر: د غنثر معنى د جاهل ، كمينه او د ثقيل (ناپوهه) راځى ، د غين په ضمه ، د نون په سكون او د ثاء په فتحه سره دې (۳) ربا من أسفلها : د ربا معنى د زياتيدو ده -

(۱) عمدة القارى : ۲۲ \ ۱۷۸ ، فتح البارى : ۱۰ \ ۶۵۶)

(۲) عمدة القارى : ۲۲ \ ۱۷۸)

(۳) (۱۱) ارشاد السارى : ۱۳ \ ۱۵۰ ، قال ابن الأثير : قيل : هو الثقيل الوَخم .... [بقيه برصفحه آئنده....

قوله: يا أخت بني فراس: فراس (د فاء د كسرې سره) نه د غنم بن مالك خوې مراد دې ، د ده د رور نوم حارث بن غنم دې ، حضرت ام رومان د حارث په اولاد كښې وه ، يعنى دغنم دوه خامن دى ، يو فراس او دويم حارث ، حضرت ام رومان د حارث په اولاد كښې ده خو چه د بنو حارث په مقابله كښې چه بنو فراس زيات مشهور دى ، دې وجه نه حضرت صديق اكبر د دوى نسبت بنوفراس ته اوكړو او وې ويل "يا أخت بني فراس" فالمعنى: يا أخت القوم المنتسبين إلى بني فراس

قوله: وقرة عيني: ديكښې واو قسميه دې يعنى خما د خپلو سترګو په يخ والى قسم ، دينه رسول الله ﷺ مراد دې ، په غيرالله قسم كول ناجائز دى ، غالبًا دا د نهى نه مخكښې واقعه ده -

۸۹= بَاب إِكْرَامِ الْكَبِيرِ وَيَبْدَأُ الْأَكْبَرُ بِالْكَلَامِ وَالسُّؤَالِ

د خبرو كولو حق مشر ته دې : د امام بخارى رحمه الله مقصد دا دې چه د مشرانو اكرام او احترام كول پكار دى ، دارنګه خبرو كښې ، تپوس كښې او په مجلس كښې د خبرو كولو ابتداء د مشره كول پكار دى چه دا د ده حق دې ، خو دا په هغه صورت كښې چه كله عمر كښې مشر او علم او فضل كښې برابر وى ، او كه يو كس په عمر كښې كم او علم او فضل كښې زيات وى نو بيا دده حق وړاندې دې - (۱)

[۵۷۹] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ هُوَ ابْنُ زَيْدٍ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنْ بُشَيْرِ بْنِ يَسَارٍ مَوْلَى الْأَنْصَارِ عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ وَسَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ أَنَّهُمَا حَدَّثَاهُ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ سَهْلٍ وَمُحَيِّصَةَ بْنَ مَسْعُودٍ أَتَيَا خَيْبَرَ فَتَفَرَّقَا فِي النَّخْلِ فَقُتِلَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَهْلٍ فَجَاءَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ سَهْلٍ وَحُوَيِّصَةُ وَمُحَيِّصَةُ ابْنَا مَسْعُودٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَكَلَّمُوا فِي أَمْرِ صَاحِبِهِمْ فَبَدَأَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ وَكَانَ أَصْغَرَ الْقَوْمِ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَبِّرِ الْكُبْرَ قَالَ يَحْيَى يَعْنِي لِيَلِيَ الْكَلَامَ الْأَكْبَرُ فَتَكَلَّمُوا فِي أَمْرِ صَاحِبِهِمْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَسْتَحِقُّونَ قَتِيلَكُمْ أَوْ قَالَ صَاحِبَكُمْ بِأَيْمَانِ خَمْسِينَ مِنْكُمْ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ أَمْرٌ لَمْ نَرَهُ قَالَ فَتُبْرِئُكُمْ يَهُودُ فِي أَيْمَانِ خَمْسِينَ مِنْهُمْ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ قَوْمٌ كُفَّارٌ فَوَدَاهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ قِبَلِهِ قَالَ سَهْلٌ فَأَدْرَكْتُ نَاقَةً مِنْ تِلْكَ الْإِبِلِ فَدَخَلَتْ مِرْبَدًا لَهُمْ فَرَكَضَتْنِي بِرِجْلِهَا قَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِي يَحْيَى عَنْ بُشَيْرٍ عَنْ سَهْلٍ قَالَ يَحْيَى حَسِبْتُ أَنَّهُ قَالَ مَعَ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ وَقَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ بُشَيْرٍ عَنْ

....بقيه ازحاشيه گذشته] و قيل : الجاهل ، من الغثارة : الجهل ، و النون زائدة ، النهاية : ۱۳ \ ۳۸۹)

۱) شرح صحيح البخارى لابن بطال : ۹ \ ۳۱۷ ، فتح البارى : ۱۰ \ ۶۵۷ ، ارشاد السارى : ۱۳ \ ۱۵۱ ، عمدة القارى : ۲۲ \ ۱۷۹)

سَهْلٍ وَحْدَهُ[ر:۲۵۵۵]
بشير بن يسار (د انصارو ازاد کړې غلام) د رافع بن خديج او د سهل بن ابی حصمه دواړو نه روايت کوی ، دې دواړو بيان کړيدې چه عبد الله بن سهل او محيصه بن مسعود د خيبره راغلل او د کهجورو په باغ کښې د يو بل نه جدا شو ، عبد الله بن سهل لره چا قتل کړو نو عبد الرحمن بن سهل او حويصه بن مسعود او محيصه بن مسعود د رسول الله ﷺ خدمت ته حاضر شو او د خپل ملګری (د قتل) په معامله کښې ئې خبرې شروع کړې عبدالرحمن خبره شروع کړه چه کوم په دې کسانو کښې د ټولو نه کشر وو ، ، نو رسول الله ﷺ اوفرمائل لوی سړې دې خبره اوکړی ،نو دې خلقو د خپل ملګری د قتل په معامله کښې خبرې اترې اوکړې ، نو رسول الله ﷺ اوفرمائل : آيا تاسو د خپل ملګری د ديت حقدار ئې ، يا ئې اوفرمائل يا تاسو پنځوست قسمونه به خورئ (نو د ديت به مستحق شئ) نو خلقو عرض اوکړو : اے د الله رسوله دا خو داسې څيز دې چه مونږ خلقو په خپلو سترګو نه دې ليدلې ، نو دوی ﷺ اوفرمائل : بيا به يهود پنځوست قسمونه اوخوری او بری به شی ، نو دې خلقو عرض اوکړو : اے د الله رسوله دا خلق خو کافران دی (يعنی د دروغو قسمونه به اوخوری) نو بيا رسول الله ﷺ دې خلقو ته د خپل ځان نه ديت ورکړو -

دباب په دې ړومبې روايت به تفصيلی کلام روستو په قسامه کښې راشی ، دلته امام بخاری رحمه الله دا روايت ځکه ذکر کړيدې چه ديکښې حضور اکرم ﷺ اوفرمائل "كَبِّرِ الكُبْرَ" يحي بن سعيد راوی د حديث د دې تشريح کړيده "ليلي الكلام الأكبر" يعنی چه کوم لوې دې هغه دې د کلام او د خبرو ذمه داری واخلی ، علامه قسطلانی رحمه الله د كَبِّرِ الكُبْرَ ترجمه کړيده أى قدم الأكبر سنا للتكلم[1]

د روايت په آخر کښې حضرت سهل فرمائی چه د ديت په اوښانو کښې ما ته يو اوښ ملاو شو ، دې چه کله ما باړې (د څاروو غوجل) ته داخل کړو نو ده خه په لته اووهلم ، مِرْبَد (د ميم په کسره او د راء په سکون سره او د باء په فتحه سره) باړې ته وائی سهل دا جمله د اهتمام سره چه ذکر کړيده نو د حديث د پوره ياد ساتلو دپاره ئې ذکر کړيده ، علامه عينی رحمه الله ليکی : "وأراد بهذا الكلام ضبط الحديث وحفظه حفظا بليغا"[2]

قوله: قَالَ اللَّيْثُ: حَدَّثَنِي يَحْيَى عَنْ بُشَيْرٍ عَنْ سَهْلٍ، قَالَ يَحْيَى: حَسِبْتُ أَنَّهُ قَالَ مَعَ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ: د ليث دا تعليق امام مسلم او ترمذی موصولا نقل کړيدې[3] ديکښې يحي وايی چه ځما خيال دې چه بشير د سهل نه چه کوم روايت نقل کړيدې نو

[1]) ارشاد السارى : ۱۳\۱۵۲)
[2]) عمدة القارى : ۲۲\۱۸۰)
[3]) صحيح مسلم ، كتاب القسامة ، باب القسامة : ۳\۱۲۹۱ (رقم الحديث : ۱۶۶۹) ، سنن الترمذى ، كتاب الديات ، باب ما جاء فى القسامة : ۴\۰۳ (رقم الحديث : ۱۴۲۲)

دوی د رافع بن خدیج معیت ذکر کړې وو ، یعنی بره چه کوم موصول روایت دې دا " رافع بن خدیج او سهل " دې ، د لیث په طریق کښې " عن سهل " دې او د " رافع بن خدیج " په باره کښې دوی " حسبت " اوویل چه دې هم وو -

قوله: وقال ابن عيينة: حدثنا يحيى عن بشير عن سهل وحده: سفیان بن عیینه دا تعلیق امام مسلم او نسائی موصولاً نقل کړیدې (١) دا روایت صرف د سهل نه دې -

حاصل دا چه حماد بن زید روایت چه کوم دلته امام بخاری موصولاً نقل کړیدې ، دا د رافع بن خدیج او د سهل د دواړو نه دې ، د لیث روایت کښې د " رافع " په باره کښې یو قسم شك دې او د سفیان بن عیینه روایت صرف د سهل نه دې -

[۵۷۹۲] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ حَدَّثَنِي نَافِعٌ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبِرُونِي بِشَجَرَةٍ مَثَلُهَا مَثَلُ الْمُسْلِمِ تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا وَلَا تَحُتُّ وَرَقَهَا فَوَقَعَ فِي نَفْسِي أَنَّهَا النَّخْلَةُ فَكَرِهْتُ أَنْ أَتَكَلَّمَ وَثَمَّ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ فَلَمَّا لَمْ يَتَكَلَّمَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هِيَ النَّخْلَةُ فَلَمَّا خَرَجْتُ مَعَ أَبِي قُلْتُ يَا أَبَتَاهُ وَقَعَ فِي نَفْسِي أَنَّهَا النَّخْلَةُ قَالَ مَا مَنَعَكَ أَنْ تَقُولَهَا لَوْ كُنْتَ قُلْتَهَا كَانَ أَحَبَّ إِلَيَّ مِنْ كَذَا وَكَذَا قَالَ مَا مَنَعَنِي إِلَّا أَنِّي لَمْ أَرَكَ وَلَا أَبَا بَكْرٍ تَكَلَّمْتُمَا فَكَرِهْتُ [ر: ٦١]

د حدیث د باب ذکر کولو وجه : د باب دا دویم حدیث ړومبې په کتاب العلم ، باب قول المحدث : حدثنا أو أخبرنا و أنبأنا تر لاندې تیر شویدې ، دلته ددې د ذکر کولو حافظ بن حجر وجه لیکی او دده اتباع کښې علامه قسطلانی لیکی

" وكأن البخاري أشار بإيراد هذا الحديث هنا إلى تقديم ما لكبير حيث يقع التساوى ، أما لو كان عند الصغير ماليس عند الكبير ، فلا يمنع من الكلام بحضرة الكبير ، لأن عمر تأسف حيث لم يتكلم ولده مع أنه اعتذر له ، بكونه بحضورہ وحضور أبي بكر ، ومع ذلك تأسف على كونه لم يتكلم " (٢)

یعنی د دې باب لاندې دا حدیث نې راوړو په دې سره امام بخاری رحمه الله دې خبرې ته شاره کول غواړی چه مشر به هغه وخت مقدم کول پکار وی چه کله دې په علم او فضل کښې هم مشر وی یا د کشرانو سره برابر وی ، خو که یو کس چه په عمر کښې کشر وی خو په علم او فضل کښې زیات وی نو داسې صورت کښې د لویو په وجود کښې ده لره د خبرو کولو نه بندولې نه شي ، حضرت ابن عمر ته جواب معلوم وو خو دوی د خپل پلار فاروق اعظم او د حضرت صدیق اکبر په وجود کښې کلام کول مناسب او نه ګڼړل نو حضرت فاروق اعظم د ده په چپ پاتې کیدو د افسوس اظهار اوکړو-

---

(١) صحیح مسلم ، کتاب القسامة ، باب القسامة : ٣ \ ١٢٩١ (رقم الحدیث : ١٦٦٩) ، سنن النسائی ، کتاب القسامة ، باب القسامة : ٤ \ ٢١١ (رقم الحدیث : ٢٩١٩)

(٢) فتح الباری : ١٠ \ ٦٥٧ ، ارشاد الساری : ١٣ \ ١٥٣)

٩٠-باب ما يجوز من الشعر والرجز والحداء وما يكره منه

وقوله والشعراء يتبعهم الغاوون ألم تر أنهم في كل واد يهيمون وأنهم يقولون ما لا يفعلون إلا الذين آمنوا وعملوا الصالحات وذكروا الله كثيرا وانتصروا من بعد ما ظلموا وسيعلم الذين ظلموا أي منقلب ينقلبون] الشعراء: ٢٢٣-٢٢٧]

قال ابن عباس في كل لغو يخوضون

[٥٧٩٣] (١) حدثنا أبو اليمان أخبرنا شعيب عن الزهري قال أخبرني أبو بكر بن عبد الرحمن أن مروان بن الحكم أخبره أن عبد الرحمن بن الأسود بن عبد يغوث أخبره أن أبي بن كعب أخبره أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال إن من الشعر حكمة

د شعر تعريف دي: " الكلام المقفى الموزون قصدا " (٢) يعني شعر هغه كلام ته وائى چه كوم په قصد سره په قافيه او په وزن جوړ شوې وى ، د قصداً په قيد لګولو سره هغه كلام اووتلو چه كوم په اتفاق سره په وزن برابر شوې وى -

رَجَز (د راء او د جيم په فتحه سره) د اكثرو په نزد داد شعر يو خاص قسم دې - (٣) دې صورت كښې به په " الشعر " ددې عطف د " عطف الخاص على العام " د قبيله وى ، او بعض وائى چه دا شعر نه دې بلكه د كلام يو مستقل نوع ده ، د دوى دليل دا دې چه ددې ويونكى ته راجز وائى شاعر نه وائى - (٤)

د رجز معنى د حركت كولو او د نزدې نزدې قدم ايخودو راخى ، رجز البعير هغه وخت ويلې كيږى چه كله اوښ نزدې نزدې قدم اږدى او روان وى نو چه د رجز اجزاء د يوبل سره نزدې وې دې وجه نه رجزد ويلوپه وخت ژبه متحرك اومضطرب وى،دې وجه نه ديته رجز وائى(٥)

حُداء (د حاء په ضمه سره) حدى ته وائى ، د اوښانو د رفتار تيزولو دپاره چه كوم رجز يا شعر په مخصوص سر كښې ويلې كيږى ، ديته حدى وائى - (٦)

علامه ابن عبدالبر د حدى په جواز باندې اجماع رانقل كړيده - (٧)

د اشعارو جوړولو او د ويلو حكم: د شعر په باره كښې بعض عالمانو د مطلق كراهت قول

---

١) ٥٧٩٣) الحديث أخرجه الترمذي في كتاب الأدب ، باب ما جاء إن من الشعر حكمة : ١٣٧\٥ (رقم الحديث : ٢٨٤٤) و أخرجه أبوداود في كتاب الأدب ، باب ما جاء في الشعر : ٣٠٣\٤ (رقم الحديث : ٥٠١٠) و أخرجه ابن ماجه في كتاب الأدب ، باب الشعر : ١٢٣٥\٢ (رقم الحديث : ٧٥٥)

٢) فتح الباري: ٦٥٩\١٠ ،ارشادالساري : ١٥٣\١٣ ، عمدة القاري : ١٨٠\٢٢ ، شرح الكرماني : ١٨\٢١)

٣) فتح الباري : ٦٥٩\١٠ ، ارشاد الساري : ١٥٣\١٣ ، عمدة القاري : ١٨٠\٢٢)

٤) فتح الباري : ٦٥٩\١٠ ، ارشاد الساري : ١٥٤\١٣ ، عمدة القاري : ١٨٠\٢٢)

٥) فتح الباري : ٦٥٩\١٠ ، ارشاد الساري : ١٥٤\١٣)

٦) فتح الباري : ٦٥٩\١٠ ، ارشاد الساري : ١٥٤\١٣)

٧) فتح الباري : ٦٦٠\١٠)

اختيار كړيدې ، دوى خو يو د حضرت ابن مسعود د قول نه استدلال كوى ، چه " الشعر مزامير الشيطان " (۱) (شعر د شيطان د موسيقۍ يو آله ده -)
دارنګه د مسروق نه روايت دې چه دوى يو مصرعه اوويله او بيا خاموش شو ، د دوى نه د خاموشۍ په باره كښې تپوس اوشو نو دوى اوويل " أخاف أن أجد فى صحيفتى شعرا " (۲) (څه په دې خبره يريږم چه هسې نه څه په خپله عملنامه كښې يو شعر بيا مومم -)
دارنګه د ابوامامه نه يو مرفوع حديث منقول دې ، چه ابليس چه كله په زمكه راكوز كړې شو نو ده اوويل ، اجعل لى قرآنا ...... (خما د لوستلو دپاره څه څيز مقرر كړه) نو الله تعالى اوفرمائل الشعر (۳) خو دا ټول روايتونه خلاف اصل او ضعيف دى (۴) هم راتلونكې باب كښې باب مايكره أن يكون الغالب على الإنسان الشعر.... امام بخارى رحمه الله يو صحيح روايت رانقل كړيدې ديكښې دى " لأن يمتلئ جوف رجل قيحاً حتى يريه خير من أن يمتلئ شعرا " (تاسو كښې چه د چا خېټه د پيپه ډكه شى تر دې چه ده لره خراب كړى نو دا ده لره بهتر دې د دينه چه د ده خېټه د شعر نه ډكه شى)
دا روايت اګر چه صحيح دې خو دينه هغه اشعار مراد دى چه هغې كښې دروغ او فحاشى وى ، يا دا د هغه سړې په باره كښې دى ، چه دې شعر د خپل ژوند داسې مقصد او مشغله اوګرځى چه نور واجبات او د فرائضو په اداء كولو كښې دا مخل وى -
تر كومې چه د عامو اشعارو تعلق دې نو ددې په اباحت كښې كلام نشته دې ، امام بخارى رحمه الله په " الادب المفرد " كښې د حضرت عائشه رضي الله عنها روايت رانقل كړيدې چه دوى فرمائى " الشعر منه حسن ، و منه قبيح ، خذ الحسن ، و دع القبيح ، ولقد رويت من شعر كعب بن مالك أشعارا منها القصيدة فيها أربعون بيتا " (۵) يعنى په اشعارو كښې ښه او بد دواړه قسمونه شته دې ، ما د كعب بن مالك څه اشعار رانقل كړيدى چه ديكښې يو قصيده په څلويښتو اشعارو مشتمل وه -
حافظ ابن حجر فرمائى چه ددې روايت سند حسن دې - (۶)
امام بخارى رحمه الله چه دلته په باب كښې كوم روايتونه ذكر كړيدى نو هغه د اشعارو د ويلو په جواز دلالت كوى -

---

(۱) فتح البارى : ۱۰\ ۶۶۲)
(۲) فتح البارى : ۱۰\ ۶۶۲)
(۳) فتح البارى:۱۰\ ۶۶۲ ،و مجمع الزوائد للهيثمى،كتاب الأدب،باب ما جاء فى الشعروالشعراء : ۸\ ۱۱۹)
(۴) ۲۷ فتح البارى : ۱۰\ ۶۶۲)
(۵) فضل الله الصمد . باب الشعر حسن كحسن الكلام و منه قبيح : ۲\ ۳۱۵ (رقم الحديث : ۸۶۶) و فى مجمع الزوائد للهيثمى ، " سئل رسول الله صلى الله عليه و سلم عن الشعر . فقال : هو كلام . فحسنه حسن و قبيح قبيح . كتاب الأدب . باب الشعر فى الكلام : ۸\ ۱۲۲)
(۶) فتح البارى : ۱۰\ ۶۶۰)

امام مسلم رحمه الله د شريد بن سويد ثقفی ﷺ روايت نقل کړيدي هغه فرمائی :

" ردفت رسول الله صلى الله عليه و سلم يوما، فقال : هل معك من شعر أمية بن أبي الصلت شيئا، قلت : نعم، قال : هيه، فأنشدته بيتا، فقال : هيه، ثم أنشدته بيتا، فقال : هيه حتى أنشدته مائة بيت " (١)

حضرت شريد بن سويد ثقفی ﷺ فرمائی چه خه رسول الله ﷺ پسې يو ورځ سور ووم ، دوی ﷺ اوفرمائل :" تا ته د اميه بن ابی الصلت څه اشعار ياد دی ؟ ما اوويل " هو " دوی ﷺ اوفرمائل : ته واوروه ، ما يو شعر واورولو ، دوی اوفرمائل : " نور هم واوروه " ما بل شعر هم واورولو، داسې ما سل شعرونه دوی ﷺ ته واورول -

امام ترمذی او امام احمد د حضرت جابر بن سمره ﷺ نه روايت نقل کړيدې ، هغه فرمائی "كان أصحاب رسول الله صلى الله عليه و سلم يتذاكرون الشعر وحديث الجاهلية عند رسول الله صلى الله عليه و سلم فلاينهاهم، و ربما يتبسم " (٢) (اصحابو به د رسول الله ﷺ وړاندې اشعار او د جاهليت خبرې کولې ، حضور ﷺ به دوی نه منع کول بلکه کله کله به مسکې هم شو)

دې وجه نه ددې احاديثو په وجود کښې اشعارو ته مطلقًا مکروه ويل صحيح نه دې ، خو ديکښې د شرعی حدونو رعايت کول ضروری دی ، ډير زيات ددې شغل نه دی ساتل پکار ، او چه ديکښې د چا هجو نه وی ، د چا په تعريف کښې مبالغې نه کار نه وی اخستې شوې ، ديو خاص متعين ښځې ذکر نه وی ، شعر کښې د دې امورو که رعايت اوشی نو دا بلا کراهت جائز دې ، بلکه ابن عبد البر د دې په جواز اجماع نقل کړيده ، لکه چه حافظ ابن حجر رحمه الله ليکی : " و الذي يتحصل من كلام العلماء في حد الشعر الجائز أنه إذا لم يكثر منه في المسجد، وخلا عن هجو، وعن الإغراق في المدح و الكذب المحض، و التغزل بمعين لا يحل، وقد نقل ابن عبد البر الإجماع على جوازه إذا كان كذلك " (٣)

امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې د سورة شعراء آيت کريمه (و الشعراء يتبعهم الغاوون ...) ذکر کړيدې يعنی د شاعرانو اتباع خو ګمراه خلق کوی ، آيا تا نه دی ليدلې دوی لره چه دوی په هر ميدان کښې سرګردانه ګرځی او دوی چه څه وائی هغه نه ګوی ، خو (د دې حکم نه هغه شاعران مستثنی دی) چه کومو ايمان راوړيدې او صالح عمل ئې اختيار

---

١) رواه مسلم ، كتاب الشعر : ٤ \ ١٧٦٧ (رقم الحديث : ٢٢٥٥) .

٢) و في لفظ مسند الإمام أحمد بن حنبل في مسانيد جابر بن سمرى : أكنت تجالس رسول الله صلى الله عليه و سلم : قال : نعم فكان طويل الصمت ، قليل الضحک ، و كان أصحابه يذكرون عنده الشعر و أشياء من أمورهم ، فيضحكون و ربما تبسم (٥ \ ٨٦) و في الجامع الصحيح للإمام الترمذي عن جابر بن سمرة قال : جالست النبي صلى الله عليه و سلم أكثر من مائة مرة ، فكان أصحابه يتناشدون الشعر ، و يتذاكرون أشياء من أمر الجاهلية ، وهو ساكت ، فربما تبسم معهم ، كتاب الأدب ، باب ما جاء في إنشاد الشعر : ٥ \ ١٤٠ (رقم الحديث : ٢٨٥٠) ....

٣) فتح الباري : ١٠ \ ٦٦٠)

کړيدې او د الله تعالی په کثرت سره ذکر ئې اوکړو او د ظلم نه پس ئې بدله واخستله (يعنی د چا هجو ئې هله اوکړه چه کله رومبی والې بل چا اوکړو ، داسې صورت کښې د دوی جوابی هجو مورد د عتاب نه ده) او ظالمانو ته به زر معلومه شی چه د دوی واپسی کوم خائې ته ده -

مفسرينو او شارحينو د بخاری ليکلې دی ، چه دا آيت کريمه چه کله نازل شو نو په اصحابو کښې درې مشهور شاعران حضرت عبدالله بن رواحه ، حضرت حسان بن ثابت او حضرت کعب بن مالک رضی الله عنهم د رسول الله ﷺ خدمت کښې حاضر شو او وې ويل : مونږ خو شعر وايو ؟ نو دوی ﷺ اوفرمائل : چه روستو وريسې (إلا الذين آمنوا ....) خو هم اولولئ چه دينه ئې هغه شاعران مستثنی کړيدی چه کوم مؤمنان او نيک عمله دی ، نو بيا دوی مطمئن شو (۱)

د دريو د نومونو سره د حضرت کعب بن زهير رضی الله عنه نوم هم قرطبی وغيره ذکر کړيدې - (۲)

آيت کريمه کښې دی چه د اکثروشاعرانواتباع کوونکی ګمراه وی ، دينه په خپله د شاعرانو ګمراهي هم ثابتيږی خکه چه د چا متبعين ګمراه وی نو هغه په خپله هم ګمراه وی - (۳)

حضرت تهانوی رحمه الله فرمائی چه دا خبره مطلق نه ده ، بلکه دا هله ده چه کله د متبعينو په ګمراه کيدو کښې د متبوع د قول او د عمل دخل وی ، خو که د دوی په ګمراه کيدو کښې د متبوع څه دخل نه وی نو بيا د متبعينو ګمراه کيدل د متبوع ګمراه کيدل نه شی ګرخولې کيدې - (۴)

قوله: في كل واد يهيمون ......: يعنی چه څنګه په هره وادئ کښې سرګردانه ګرځيدل ډير کرتې د حسی هلاکت ذريعه ګرخی ، دارنګه هر قسم اشعار ويل او فاسد اقوال ويل هم ډير کرته د معنوی هلاکت سبب ګرخی ، " فی کل واد " کښې " کل " د اکثر په معنی کښې دې او دا په " کل " استغراقی باندې محمول کيدې شی مفسرين ليکي :

" والمراد فی كل واد من أودية القول الفاسد ، وجه الستعارة مظان الهلاك ، فكما أن الوادی مظنة الهلاك الحسی ، كذلك الأقوال الفاسدة مظنة الهلاك المعنوی ، والجامع مطلق مظنة الهلاك ، والكل فی مثل هذا بمعنی الأكثر ، ولك أن تقول : إن الإستغراق عرفی " (۵)

قوله: قال ابن عباس : في كل لغو يخوضون : حضرت ابن عباس (فی كل واد) ترجمه فی کل لغو او د (يهيمون) ترجمه په يخوضون سره کړيده - دا تعليق ابن ابی حاتم او طبری

---

۱) فتح الباری: ۱۰ ۶۶۰ ،عمدة القاری: ۲۲ \ ۱۸۱ ، ارشاد الساری : ۱۳ \ ۱۵٤ ، شرح الكرمانی : ۲۱ \ ۱۸)

۲) الجامع لاحكام القرآن للقرطبی : ۱۳ \ ۱۵۱)

۳) الجامع لاحكام القرآن للقرطبی : ۱۳ \ ۱٤۵)

٤) معارف القرآن : ۶ \ ۵۵۵)

۵) فضل الله الصمد علی الأدب المفرد : ۲ \ ۳۲۰)

موصولاً نقل کړيدي - (۱)

قوله: إن من الشعر حكمة : بعض اشعار د حکمت او دهوښیارتیا نه ډك وى ، امام ابوداود رحمه الله دا روايت نقل کړيدې - ديکښې دى "إن من البيان سحرا ، وإن من العلم جهلا ، وإن من الشعر حكما ، وإن من القول عيا" (۲) (بې شك بعض بيان جادو دې ، او بعض علم جهل او بعض شعر حكمت ، او بعض كلام د مراد بيانولو نه عاجز وى) ډيرې د حكمت او د نصيحت خبرې دنثر په مقابله كښې په شعر كښې زياتې موثرې وى ، شارح بخارى ابن بطال رحمه الله فرمائى :

"ما كان فى الشعر و الرجز ذكر الله تعالى ، و تعظيم له و وحدانيته و قدرته و إيثار طاعته و تصغير الدنيا و الإستسلام له ، فهو حسن مرغب فيه ، وهو المراد فى الحديث بأنه حكمة ، وما كان كذبا و فحشا ، فهو مذموم" (۳)
يعنى شعر او رجز كښې كُه د الله تعالى ذكر ، او دده تعظيم او د ده د وحدانيت او د قدرت او د ده اطاعت او د دنيا تحقير بيان كړې شى نو داسې شعر خو قابل د رغبت او د مينې دې او صحيح دې ، خو كُه په كښې دروغ او فحاشى ذكر وى نو بيا مذموم دې -
[۵۸۷۳] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الْأَسْوَدِ بْنِ قَيْسٍ سَمِعْتُ جُنْدَبًا يَقُولُ بَيْنَمَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْشِي إِذْ أَصَابَهُ حَجَرٌ فَعَثَرَ فَدَمِيَتْ إِصْبَعُهُ فَقَالَ هَلْ أَنْتِ إِلَّا إِصْبَعٌ دَمِيتِ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ مَا لَقِيتِ [ر:۲۶۴۸]
حضرت جندب ﷺ فرمائى چه رسول الله ﷺ يو خل (د جهاد دپاره) تشريف اوړلو چه يو كاڼړې په دوى اولګيدلو نو دوى اوخويدل او د دوى ﷺ د ګوتې نه وينه اوبهيدله نو دوى ﷺ اوفرمائل :

هل أنت إلا إصبع دميت وفى سبيل الله مالقيت
يعنى ستا خو صرف يو ګوته ده چه وينې شوې ده او چه كوم تا ته در رسيدلې دې نو دا درته د الله تعالى په لاره كښې رسيدلې دې -
ديكښې اختلاف دې چه دا د رسول الله ﷺ خپل كلام دې يا د چا بل چا دې او دوى ﷺ دا په طور د تمثيل بيان كړو په دې موقع -
د امام طبرى او د ابن التين وغيره راي ده چه دا د رسول الله ﷺ كلام نه دې ، ابن التين وائى چه دا د عبد الله بن رواحه شعر دې - (۴)

خو د نورو محدثينو حضراتو خيال دې چه دا د رسول الله ﷺ خپل كلام دې - (۵) او دا د (د

---

[1] فتح البارى : ۱۰\۶۶۰ ، ارشاد السارى : ۱۳\۱۵۵ ، عمدة القارى : ۲۲\۱۸۱)
[2] سنن أبى داود ، كتاب الأدب ، باب ما جاء فى الشعر " : ۴\۳۰۳ (رقم الحديث : ۵۰۱۲)
[3] شرح صحيح البخارى لابن بطال : ۹\۳۱۹)
[4] فتح البارى : ۱۰\۶۶۳ ، عمدة القارى : ۲۲\۱۸۲)
[5] فتح البارى : ۱۰\۶۶۳ ، ارشاد السارى : ۱۳\۱۵۶ عمدة القارى : ۲۲\۱۸۲)

ما أنت بشاعر) منافی نه دي ، ځکه چه د شعر تعریف په دې نه صادقیږی ، شعر ویلې کیږی هغه کلام ته چه کوم په قصد سره ورته وزن ورکړې شی او حضور ﷺ دا الفاظ نې سمدست اوویلې بغیر د ارادې د شعره

[۵۸۲۵] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا ابْنُ مَهْدِيٍّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصْدَقُ كَلِمَةٍ قَالَهَا الشَّاعِرُ كَلِمَةُ لَبِيدٍ أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلَا اللَّهَ بَاطِلٌ وَكَادَ أُمَيَّةُ بْنُ أَبِي الصَّلْتِ أَنْ يُسْلِمَ [ر: ۳۶۲۸]

رسول الله ﷺ فرمائلي دی چه د ټولو نه زیات رښتونې کلمه او مصرعه لبید ویلې ده :

ألا كل شيء ما خلا الله باطل   مشهور شاعر لبيد بن ربيعه

لبید د عربئ ژبې مشهور شاعر دې ، د امام شافعي رحمه الله یو شعر ډیر مشهور دې :

لولا الشعر بالعلماء يزرى   لكنت أشعر من لبيد

([1]) (که شعر د عالمانو دپاره د عیب باعث نه وې نو ځه به د لبید نه لوی شاعر ووم)

لبید بن ربیعه بن مالك عامری ﷺ زمانه د اسلام او د جاهلیت دواړه بیا موندلې وه ، د ده کنیت " ابوعقیل " دې ، د دوی ډیر زیات عمر وو ، یو سل او شل کاله یو سل او دیرش کاله او یو سل او څلویښت کاله مختلف روایتونه دی ([2]) دوی د خپل اوږد شکایت په یو خپل شعر کښې داسې کړیدې -

ولقد سئمت من الحياة و طولها   وسؤال هذا الناس : كيف لبيد([3])

(په الله مې دې قسم وی چه ځه په اوږد ژوند او د خلقو په دې سوال تنګ شوم چه د لبید حالت څنګه دې ؟)

د اسلام د قبلولو نه پس دوی شعر ویل پریخودې وو ، حضرت فاروق اعظم ﷺ دوی نه تپوس اوکړو نو دوی اوویل سورة بقرة او سورة آل عمران الله تعالی ما دپاره د شعر نعم البدل ګرځولې دی ، دې وجه نه ځما اوس شعر ویلو ته څه حاجت نشته دې - ([4]) ویلې کیږی چه د اسلام د قبلولو نه پس دوی ضرف یو شعر ویلې دی او هغه دا دې :

ما عاتب المرء الكريم كنفسه   و المرء يصلحه الجليس الصالح

شریف کس دپاره د ده د خپل ځان نه زیات ملامت کوونکې څوك هم نشته دې او د هر کس اصلاح د هغه نیك دوست کوی)

یا دا شعر :

---

[1]) الفوائد الضيائيه المعروف شرح الجامي ، حذف المبتداء أو الخبر جوازاً و وجوبًا : ص : ۱۰۸)

[2]) الإصابة في تمييز الصحابة : ۳\۳۶۲ - ۳۶۷ (رقم الترجمة : ۷۵۴۱)

[3]) الشعر و الشعراء لابن قتيبة : ۱۲۳ ، الاستيعاب لابن عبد البر على هامش الإصابة : ۳\۳۲۸ ، و فتح الباري ، كتاب مناقب الأبصار ، باب أيام الجاهلية : ۷\۱۵۳)

[4]) ۴۷ (المصابة في تمييز الصحابة : ۳\۳۲۶)

الحمد لله إذ لم يأتني أجلي حتى كساني من الإسلام سربالا (١)

(توله ثناء خاص الله دپاره ده چه ده ماته د مرګ نه وړاندې د اسلام لباس راکړو)

بهر حال حضور اکرم ﷺ د دوی د شعر يو مصرعه ته "أصدق الكلمة" فرمائلې ده - دا د دوی د يوقصيدې مصرعه ده ، د دې قصيدې څو اشعار دا دې :

ألا كل شيء ما خلا الله باطل	و كل نعيم لا محالة زائل
إذا المرء أسرى ليلة ظن أنه	قضى عملا، و المرء ما عاش آمل
فقولا له و إن كان يقسم أمره	ألما يعظك الدهر؟ أمك هابل
فإن أنت لم تصدقك نفسك فانتسب	لعلك تهديك القرون الأوائل
و كل أمريء يوما سيعلم سعيه	إذا كشفت عند الإله المحاصل (٢)

① پوهه شه چه د الله تعالی نه ماسوا هر څيز پناه کيدونکې دې

② چه کله سړې د يو شپې سفر کوی نو د ده خيال وی چه ده يو کار سر ته اورسولو ، حال دا دې چه هر سړې پوره ژوند په اميدونو کښې تيروی

③ پس تاسو ده ته اووائې اګر چه ده کار تقسيم کړې وی آيا تا تر اوسه د زمانې نه عبرت نۀ دې اخستې ؟ د ستا مور دې بوره شی

④ که د ستا نفس د ستا نه منی نو ته خپل نسب بيان کړه کيدې شی چه تير شوی خلق تا ته هدايت اوکړی -

⑤ او د هر سړې محنت نزدې ده چه په هغه ورځ ښکاره شی چه کله د الله تعالی وړاندې د ده د کړو نتيجه ظاهر شی

لبيد دا قصيده د اسلام راوړو نه وړاندې په زمانه د جاهليت کښې ويلې وه ، اګر چه بعضې حضرات داوائی چه دا ده د اسلام راوړو نه پس ويلې ده خو رومبې قول صحيح دې (٣)

قوله: اميه بن ابى الصلت، وكاد أمية بن أبى الصلت أن يسلم: اميه بن ابى الصلت د زمانې د جاهليت مشهور شاعر وو ، د ابو الصلت نوم ربيعه دې او د عربو د مشهورې قبيلې ثقيف سره ئې تعلق لرلو ، ده زمانه د اسلام موندلې وه خو اسلام ئې نه وو قبول کړې ، د پخوانو اسمانی کتابونو او د پيغمبرانو د قصو مطالعه ئې کوله - (٤)

حضور ﷺ د ده د اشعارو په باره کښې به فرمائل آمن لسانه وكفر قلبه (٥)

(د ده ژبه مؤمنه وه خو د ده زړه کافر وو)

---

١) الاصابة فى تمييز الصحابة : ٣ \ ٣٢٦)

٢) الشعر و الشعراء لابن قتيبة : ١٢٤)

٣) فتح البارى : كتاب مناقب الأنصار ، باب أيام الجاهلية : ٧ \ ١٥٣)

٤) عمدة القارى : ٢٢ \ ١٨٣ ، الاعلام للزركلى: ٢ \ ٢٣ ، تاريخ الخميس : ١ \ ٤١٢)

٥) تاريخ الخميس : ١ \ ٤١٢ ، الشعر و الشعراء لابن قتيبة : ٢٢٧)

حضور اکرم ﷺ د ده باره کښې فرمائلي دی چه امیه ابن ابی الصلت اسلام قبلولو ته بالکل نزدې وو (ځکه چه د ده اشعار د ایمان او د اسلام د تعلیماتو مطابق وو خو د ده په قسمت کښې اسلام نه او د دنیا نه محروم لاړو -)
په بعض روایتونو کښې دی چه ده اسلام قبول کړې وو ، دې په شام کښې وو ، د طائف نه خپل مال اخستو دپاره حجاز ته راغلو چه کله " بدر " ته را اورسیدو نو ده نه چا تپوس اوکړو د کوم ځائې اراده لرې ، نو ده اوویل طائف ته خم خپل مال راخلم ، او د هغه ځائې نه مې مدینې منورې ته د هجرت کولو او د محمد (ﷺ) د اتباع کولو اراده ده ، ده ته اوویلې شو چه تا ته معلومه ده چه دې کوهې کښې څه دی ؟ ده اوویل " نه دیکښې شیبه ، عتبه او فلانې فلانې د ستا د تره خامن دی، چه دا ئې واوریدل نو په ژړا شو او د هجرت اراده ئې ترک کړه او طائف ته لاړو ، د هجرت په دویم کال دې مړ شو - (۱)
[۵۸۴۲] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي عُبَيْدٍ عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى خَيْبَرَ فَسِرْنَا لَيْلًا فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ لِعَامِرِ بْنِ الْأَكْوَعِ أَلَا تُسْمِعُنَا مِنْ هُنَيْهَاتِكَ قَالَ وَكَانَ عَامِرٌ رَجُلًا شَاعِرًا فَنَزَلَ يَحْدُو بِالْقَوْمِ يَقُولُ اللَّهُمَّ لَوْلَا أَنْتَ مَا اهْتَدَيْنَا وَلَا تَصَدَّقْنَا وَلَا صَلَّيْنَا فَاغْفِرْ فِدَاءً لَكَ مَا اقْتَفَيْنَا وَثَبِّتِ الْأَقْدَامَ إِنْ لَاقَيْنَا وَأَلْقِيَنْ سَكِينَةً عَلَيْنَا إِنَّا إِذَا صِيحَ بِنَا أَتَيْنَا وَبِالصِّيَاحِ عَوَّلُوا عَلَيْنَا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ هَذَا السَّائِقُ قَالُوا عَامِرُ بْنُ الْأَكْوَعِ فَقَالَ يَرْحَمُهُ اللَّهُ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ وَجَبَتْ يَا نَبِيَّ اللَّهِ لَوْلَا أَمْتَعْتَنَا بِهِ قَالَ فَأَتَيْنَا خَيْبَرَ فَحَاصَرْنَاهُمْ حَتَّى أَصَابَتْنَا مَخْمَصَةٌ شَدِيدَةٌ ثُمَّ إِنَّ اللَّهَ فَتَحَهَا عَلَيْهِمْ فَلَمَّا أَمْسَى النَّاسُ الْيَوْمَ الَّذِي فُتِحَتْ عَلَيْهِمْ أَوْقَدُوا نِيرَانًا كَثِيرَةً فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا هَذِهِ النِّيرَانُ عَلَى أَيِّ شَيْءٍ تُوقِدُونَ قَالُوا عَلَى لَحْمٍ قَالَ عَلَى أَيِّ لَحْمٍ قَالُوا عَلَى لَحْمِ حُمُرٍ إِنْسِيَّةٍ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهْرِقُوهَا وَاكْسِرُوهَا فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَوْ نُهَرِيقُهَا وَنَغْسِلُهَا قَالَ أَوْ ذَاكَ فَلَمَّا تَصَافَّ الْقَوْمُ كَانَ سَيْفُ عَامِرٍ فِيهِ قِصَرٌ فَتَنَاوَلَ بِهِ يَهُودِيًّا لِيَضْرِبَهُ وَيَرْجِعُ ذُبَابُ سَيْفِهِ فَأَصَابَ رُكْبَةَ عَامِرٍ فَمَاتَ مِنْهُ فَلَمَّا قَفَلُوا قَالَ سَلَمَةُ رَآنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَاحِبًا فَقَالَ لِي مَا لَكَ فَقُلْتُ فِدًى لَكَ أَبِي وَأُمِّي زَعَمُوا أَنَّ عَامِرًا حَبِطَ عَمَلُهُ قَالَ مَنْ قَالَهُ قُلْتُ قَالَهُ فُلَانٌ وَفُلَانٌ وَأُسَيْدُ بْنُ الْحُضَيْرِ الْأَنْصَارِيُّ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَذَبَ مَنْ قَالَهُ إِنَّ لَهُ لَأَجْرَيْنِ وَجَمَعَ بَيْنَ إِصْبَعَيْهِ إِنَّهُ لَجَاهِدٌ مُجَاهِدٌ قَلَّ عَرَبِيٌّ نَشَأَ بِهَا مِثْلَهُ [ر:۲۳۴۵]
د حضرت سلمه بن اکوع ﷺ نه روایت دې ، دوی بیان کړیدې چه مونږ خلق د رسول الله ﷺ سره خیبر ته روان شو ، مونږ د شپې په وخت کښې تلو نو په ملګرو کښې یو کس عامر

(۱) عمدة القاری : ۲۲ \ ۱۸۳)

بن اكوع ته اوويل چه ته خپل كلام ولې نه اوروې ، د راوى بيان دې چه عامر ﷺ شاعر وو ، نو دوى حدى اورول شروع كړل :
" اے الله كه ته نه وې نو مونږ هدايت نه شو موندلې .... نه به مونږه صدقه كوله ، او نه به مونږ مونځ كولو .....دې وجه نه چه مونږ څه كړيدى نو دا صدقه كړې د خپل ځان اومونږ ته ئې بخنه اوكړې ، او كه مونږ دښمن ته مخامخ شو نو مونږ ثابت قدم اوساتې ، ....او په مونږ اطمينان قلبى نازل كړه ...... چه كله د جنګ اعلان اوشى نو چه مونږ حاضر يو ...... او چه دښمن اعلان اوكړى او په مونږ حمله اوكړى "
رسول الله ﷺ اوفرمائل : دا څوك اوښ شړى ، خلقو عرض اوكړو ، عامر بن اكوع دې ، دوى ﷺ اوفرمائل ، الله دې په ده رحم اوكړى ، په لښكر كښې يو كس اوويل : اے د الله نبى (جنت) ورلره واجب شو ، كاش چه مونږ د ده نه نوره هم فائده اخستې وې ، د راوى بيان دې چه مونږ خيبر ته اورسيدو او محاصره مو اوكړه تر دې چه مونږ ته ډير تكليف اورسيدو ، خو الله تعالى فتح راكړه او په دغه ورځ چه كله مابښام شو نو خلقو ډير اور بل كړو ، رسول الله ﷺ تپوس اوكړو دا اور مو د څه دپاره بل كړيدى څه پرې پخوئ ؟ نو خلقو اوويل : غوښه ، دوى ﷺ تپوس اوكړو د څه څيز غوښه ؟ نو خلقو اوويل : د كورونې خر غوښه، رسول الله ﷺ اوفرمائل : دا اوغورزوئ او (لوښى) مات كړئ ، يو سړى عرض اوكړو : اے د الله رسوله آيا (داسې نه شى كيدې) چه دا (غوښه) اوغورزوو او (لوښى) اووينځو ، نو دوى ﷺ اوفرمائل هم داسې اوكړئ ، د راوى بيان دې چه كله د لښكر صف بندى اوشوه ، نو عامر په يو يهودى باندې د خپلې تورې ګزار اوكړو ، دې دپاره چه دې قتل كړى خو د ده توره وړه وه نو ددې په سبب دا د ده په پتون اولګيدله او دې شهيد شو ، چه كله خلق د جنګ نه واپس شو نو د سلمه بيان دې چه رسول الله ﷺ څه پريشانه اوليدلم نو وې فرمائل : څه خبره ده ؟ ما عرض اوكړو : خما مور پلار دې په تا قربان وى ، خلق وائى چه د عامر عمل ضائع شو ، رسول الله ﷺ اوفرمائل : څوك وائى ؟ ما عرض اوكړو : فلانى فلانى سړې او اسيد بن خضير انصارى (وائى) نو رسول الله ﷺ اوفرمائل : چه څوك دا وائى هغه دروغ وائى او دواړه ګوتې ئې ملاؤ كړې او وې فرمائل : د هغه دپاره دوه ثوابونه دى ، هغه جاهد مجاهد وو عربو كښې داسې سړى ډير كم پيدا شويدى " -

هُنَيْهاتك : دا دهُنَيْهَة جمع ده دينه مراد اشعار او رجز دى (۱)

قوله: فقال رجل من القوم: وَجَبَت يانبي الله لو أمتعتنا به: رسول الله ﷺ چه كله د دې صحابى دپاره د " يرحمه الله " جمله استعمال كړه نو يو سړى اوويل (دا حضرت فاروق اعظم ﷺ وو (۲) چه اې د الله نبى شهادت اوس ده دپاره واجب شو ، تاسو مونږه ته

---

(۱) عمدة القارى : ۲۲ \ ۱۸٤ ، قال ابن الأثير : و فى حديث ابن الأكوع " قال له : ألا تسمعنا من هَنَاتک " أى من كلماتک ،أو من أرا جيزک .وفى رواية " من هنيّاتک " على التصغير و فى أخرى " من هُنَيهاتک " على قلب الياء هاء ، النهاية لابن الأثير : ۵ \ ۲۷۹)

(۲) ارشاد السارى : ۱۳ \ ۱۵۹)

دده نه د استفادې موقع ولې رانکړه -
رسول الله ﷺ به چه کله چا دپاره د رحمت دعا (یرحمه الله) اوکړه نو هغه به شهید کیدو (١) دې وجه نه چه رسول الله ﷺ کله دا دعا اوکړه نو حضرت فاروق اعظم دا جمله اوویله -

قال : أوذاك : یو سړي تپوس اوکړو چه مونږ به دا اوغورزوو او وینځل به اوکړو - دوی اوفرمائل أوذاك........

رسول الله ﷺ د لوښو د ماتولوحکم کړې، یو سړی چه غالبا حضرت فاروق اعظم وو اوویل چه کُه مونږ دا د ماتولو په ځائې دا لوښی اووینځو نو دوی اوفرمائل أوذاك یعنی ښه ده دا اوکړئ ، د " ذاك " مشارالیه " غسل " دې یعنی یا خو لوښی مات کړئ یا ئې ښیا اووینځئ.

قوله: فلما تصاف القوم كان سيف عامر فيه قصر: چه کله خلق د جنګ دپاره صفونه صفونه شو نو د حضرت عامر توره وړه وه ، قصر د قاف په کسره او د صاد په فتحه سره دې ذُباب سیف : د تورې تیره والی او طرف - رأى رسول الله صلى الله عليه و سلم شاحبا : رسول الله ﷺ خه اولیدلم چه ځما رنګ الوتې وو ، شاحب : هغه کس وی چه د هغه رنګ بدل شوې وی - (٢)

قوله: إن له لأجرين : یعنی ده دپاره خو دوه اجره دی یو اطاعت د الله تعالی کښې د محنت اجر او دویم د جهاد فی سبیل الله اجر (٣)

قوله: إنه لجاهد مجاهد: هغه محنت کوونکې هم وو او مجاهد هم ، ، د جاهد نه مراد د الله تعالى په نورو احکامو کښې اطاعت کوونکې مراد دې او د مجاهد نه اصطلاحی مجاهد مراد دې -
دا هم احتمال دې چه دیو ماده دوه الفاظ په غرض د مبالغه ذکر شوې وی او مطلب دا وی چه دې لوې مجاهد دې -

قوله: قَلَّ عربي نشأ بها مثله: مدینه منوره کښې د ده پشان عربی ډیر کم پیدا شویدی د "بها" ضمیر مدینه ته یا " أرض " ته او یا حرب ته راجع دې - (٤)

[٥٨٤٩] (٥) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ أَبِي قِلَابَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ أَتَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى بَعْضِ نِسَائِهِ وَمَعَهُنَّ أُمُّ سُلَيْمٍ

---

(١) ارشاد الساری : ١٣ \ ١٥٩)
(٢) ارشاد الساری : ١٣ : ١٣ \ ١٥٩ ، عمدة القاری : ٢٢ \ ١٨٤)
(٣) ارشاد الساری : ١٣ \ ١٥٩ ، عمدة القاری : ٢٢ \ ١٨٤)
(٤) ارشاد الساری : ١٣ \ ١٥٩ ، عمدة القاری : ٢٢ \ ١٨٤)
(٥) ٥٧٩٧) الحديث أخرجه البخاری أيضا فی كتاب الأدب ، باب ماجاء فی قول الرجل : ويلك (رقم الحديث : ٥٨٠٩) و اخرجه أيضا فی كتاب الأدب ، باب من دعا صاحبه فنقص...[بقيه برصفحه آئنده....

فَقَالَ وَيْحَكَ يَا أَنْجَشَةُ رُوَيْدَكَ سَوْقًا بِالْقَوَارِيرِ قَالَ أَبُوقِلَابَةَ فَتَكَلَّمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَلِمَةٍ لَوْتَكَلَّمَ بِهَا بَعْضُكُمْ لَعِبْتُمُوهَا عَلَيْهِ قَوْلُهُ سَوْقَكَ بِالْقَوَارِيرِ [٥٨٠٩، ٥٨٤٩، ٥٨٥٦، ٥٨٥٧]

حضرت انس ﷺ فرمائي چه رسول الله ﷺ خپلې يو بي بي ته تشريف راوړو ، دوى سره ام سليم هم وه ، حضور ﷺ اوفرمائل .... " انجشه هلاك شې ، خپله حدى دې بنده کړه د شيشو د وجه " د ابوقلابه بيان دې چه رسول الله ﷺ داسې خبره اوکړه چه که دا تاسو کښې چا کړې وه نو دا به تاسو معيوب ګڼړله -

رسول الله ﷺ به چه کله سفر کولو نو عمومًا به ازواج مطهراتو کښې يو يا دوه دوى سره په سفر کښې وې ، دوى به د اوښ په کجاوه کښې په پرده کښې سورې وې ، د دې اوښ د بوتلو دپاره به يو حبشى غلام مقرر وو چه د هغه نوم " انجشه " وو ، بلاذرى نقل کړيدى چه دده کنيت " ابوماريه " وو - ([1])

د حديث د باب دا واقعه هم د يو سفر ده ([2]) اوښ د رفتار د تيزولو دپاره به حدى ويلې کيدله ، دا به رجزيه اشعار وو چه مخصوص سُر کښې به ويلې کيدل نو اوښ به په وجد کښې راغلو او تيز تيز به تللو ، په يو موقع باندې انجشه د اوښانو د رفتار زياتولو دپاره حدې ويل شروع کړل نو رسول الله ﷺ دې منع کړو او وې فرمائل : انجشه هلاك شې دا حدې ويل او د اوښانو تيزرفتاره کول بنده کړه ، ځکه چه په دوى باندې د شيشې په شان نازکې او حساس ښځې ناستې دى -

رَويد اسم فعل د " أمهل " امر په معنى دى " سوقك " د دې مفعول به دې يعنى ته د اوښانو تيز رفتارى بنده کړه او د دوى رفتار کم کړه .... او د " سوقك " نه حدى هم مراد اخستې شې ځکه چه " حدى " د " سوق " سبب دې ،ذکر د سبب مراد ترينه مسبب په طريقه د مجاز اخستې شى ، دې صورت کښې به مطلب دا وى چه ته خپله حدى بنده کړه - ([3])

قوارير **قارورة** جمع ده ،**قارورة** د شيشې ګلاس او بوتل ته وائى - ([4])

دلته د " قوارير " نه مراد ښځې دى ، د شيشې سره د ښځو تشبيه د کمزورې کيدو او د زر ماتيدو او د حساس کيدو او د لطيف او د رقيق کيدو په وجه ورکړې شويده ، چه څه رنګه شيشه يو حساس ، لطيف او په لږ خوزولو سره ماتيږى او درې ورې کيږى داسې ښځه هم

...بقيه ازحاشيه گذشته] من اسمه حرفا (رقم الحديث : ٥٨٤٩) و أخرجه أيضا فى كتاب الأدب ،باب المعاريض مندوحة عن الكذب (رقم الحديث : ٥٨٥٦ ، ٥٨٥٧) و أخرجه مسلم فى كتاب الفضائل ، باب رحمة النبى صلى الله عليه و سلم للنساء و أمر السواق مطاياهن بالرفق بهن : ٤ \ ١٨١١ (رقم الحديث : ٢٣٢٣) و أخرجه النسائى فى عمل اليوم و الليلة : ٦ \ ١٣٤ (رقم الحديث : ١٠٣٥٩)

[1] فتح البارى : ١٠ \ ٦٦٦ ، عمدة القارى : ٢٢ \ ١٨٥)

[2] فتح البارى : ١٠ \ ٦٦٦ ، عمدة القارى : ٢٢ \ ١٨٥)

[3] فتح البارى : ١٠ \ ٦٦٧ ،عمدة القارى : ٢٢ \ ١٨٥)

[4] فتح البارى : ١٠ \ ٦٦٧ ، عمدة القارى : ٢٢ \ ١٨٦)

يو نازك او كمزوري صنف دې ، چه كوم زر متاثر كيږي هم او زر ماتيږي هم - [1]
د رويدک سوقک بالقوارير دوه مطلبه : د دې جملې دوه مطلبه بيان شويدي
① يو مطلب خو دا چه ته دا اوښان د حدي ويلو په وجه تيز مه بوځه ځكه چه په دې باندې د شيشې په شان كمزورې ښځې ناستې دی ، چه دوی به د اوښانو د تيز رفتارئ په وجه راګزار شي او زخمي به شي -
② دويم مطلب دا دې چه ته خپله حدی دې بنده كړه ، ځكه چه د ستا د ښائسته اواز په وجه د شيشې په شان ښځې متاثره كيدې شي ، چه ځنګه شيشه زر ماتيږي او ريزه ريزه كيږي داسې د ښځو زړونه هم زر متاثره كيدې شي ، د انجشه اواز ډير ښائسته وو - علامه خطابی او طيبی دا دواړه مطلبونه بيان كړيدی [2]
ابن بطال رومبي مطلب ته او قاضی عياض دويم مطلب ته ترجيح وركړيدې [3] د امام بخاری رحمه الله په نزد هم دا دويمه معنی راجح ده ، لكه چه حافظ ابن حجر رحمه الله ليكی : "قلت : و الراجح عند البخاری الثاني ، ولذلك أدخل هذا الحديث فی "باب المعاريض" ولو أريد المعنى الأول لم يكن فی القوارير تعريض" [4]
په دې روايت كښې د حدی ويلو ذكر دې او په حدی كښې اشعار وی ، دې وجه نه امام بخاری رحمه الله دا دلته ذكر كړو - [5]

قوله: قـال أبوقلابة: فتكلم النبی صلى الله عليه و سلم بكلمة لوتكلم بها بعضكم لعبتموها عليه
دا د ماقبل سند سره متصل ده - حضرت ابوقلابه رحمه الله فرمائی چه رسول الله ﷺ يو داسې خبره اوفرمائله چه كه تاسو كښې چا دا خبره كړې وې نو تاسو به په ده باندې عيب لګولو ، د خبرې نه سوقك بالقوارير مراد دې ، د ابوذر په نسخه كښې د دې تصريح ده - [6]
د ابوقلابه د دې كلام دوه مطلبه بيان شويدی
① يو مطلب خو دا چه ديكښې د ښځو تشبيه د قوارير يعنی د شيشې سره وركړې شويده ، د دواړو په مينځ كښې وجه د تشبيه ظاهر نه ده ، د حضرت ابوقلابه مطلب دا دې چه د مشبه او د مشبه به په مينځ كښې وجه د تشبيه ظاهر نه ده ، داسې استعاره او د تشبيه والا كلام كه ځوك بل ځوك استعمال كړی نو تاسو به په ده تنقيد كولو - [7]
خو د ابوقلابه دا مطلب واضح نه دې ځكه چه د مشبه او د مشبه به په مينځ كښې وجه د

[1]) فتح الباری : ۱۰\۶۶۷ ، عمدة القاری : ۲۲\۱۸۶ ، فيض الباری : ٤\۳۹٤)
[2]) فتح الباری : ۱۰\۶۶۷ ، عمدة القاری : ۲۲\۱۸۶)
[3]) فتح الباری : ۱۰\۶۶۸) .....
[4]) فتح الباری : ۱۰\۶۶۸)
[5]) عمدة القاری : ۲۲\۱۸۵)
[6]) ارشاد الساری : ۱۳\۱۶۰ ، عمدة القاری : ۲۲\۱۸۶ ، فتح الباری : ۱۰\۶۶۷)
[7]) ارشاد الساری : ۱۳\۱۶۰ ، عمدة القاری : ۲۲\۱۸۶ ، فتح الباری : ۱۰\۶۶۷)

تشبیه د خپل ذات په اعتبار سره ظاهرول ضروری نه دی ، بلکه په قرائنو سره د وجه د تشبیه ظهور کافی دې او دا دلته په درجه اتم موجود دې ، د دې استعارې په ښائست کښې هیڅ کلام نشته دې نو د تنقید کولو خو هیڅ سوال نه پیدا کیږی - (١)

② دویم مطلب ئې دا دې چه دا استعاره او جمله د رسول الله ﷺ نه روایت ده او د دوی بلاغت او فصاحت مسلم دې ، دې وجه نه په دې باندې د ستاسو د طرفه تنقید نشته دې کُه داسې معیاری او ښائسته استعاره او جمله بل چا استعمال کړې وې نو د ښائسته کیدو سره به تاسو خپل ناقدانه طبیعت په وجه به په ده ضرور تنقید کولو -

د عراقیانو په مزاج کښې چه د اعتراض او د تنقید مرض ډیر زیات وو ، حضرت ابوقلابه دې طرفته اشاره اوکړه چه دا څومره ښائسته کلام دې خو چه تاسو په دې د تنقید کولو نه خاموش ئې نو د دې صرف دا وجه ده چه دا د رسول الله ﷺ مبارك كلام دې ، کُه چا بل چا داسې کلام ویلې نو د ستاسو د تنقید نه به بچ نه وو ، شارحینو دا دویم مطلب راجح گرځولې دې - (٢)

فائده :کُه د چا په ذهن کښې دا شبه راشی چه قرآن کریم کښې خو د رسول الله ﷺ د شاعر کیدو نفی شویده (وماهوبقول شاعر)(٣) ویلې شویدی او په احادیثو کښې دی چه دوی به شعر لوستلو او په بل به ئې هم ویلې -

د دې جواب واضح دې چه نفی د انشاء د شعر ده ، د شعر د انشاد نفی نه ده ، شعر جوړول بیل څیز دې او شعر لوستل او ویل بیل څیز دې ..... دې وجه نه دواړو په مینځ کښې څه تضاد نشته دې (٤) باقی د رسول الله ﷺ نه چه کوم منظوم کلام مروی دې نو دا د " شعر " په تعریف کښې داخل نه دې ، ځکه چه شعر هغه مقفی او موزون کلام ته وائی چه کوم بالقصد انسان اووائی ، او اتفاقا او بې ساخته (سوچه) څوك منظوم كلام اووائی نو دیته " شعر " نه ویلې کیږی (٥)

د قرآن کریم په څو آیتونو باندې مختلف اوزان د بحور منطبق کیږی ، او ابو طیب حجازی په خپله رساله " قلائد النحور فی جواهر البحور " کښې د دې آیتونو ذکر هم کړیدې ، لکه چه د بحرکامل ، بحر رمل او د بحر طویل ، او د بحر وافر وغیره مثالونه دوی ذکر کړیدی، خو چه دا اتفاقی دی نو دې وجه نه په دې د " اصطلاحی شعر " تعریف نه صادقیږی - (٦)

---

(١) ارشاد الساری : ١٣ \ ١٦٠ ، عمدة القاری : ٢٢ \ ١٨٦ ، فتح الباری : ١٠ \ ٦٦٧)

(٢) ارشاد الساری : ١٣ \ ١٦٠ ، عمدة القاری : ٢٢ \ ١٨٦ ، فتح الباری : ١٠ \ ٦٦٧)

(٣) سورة الحاقة : ٤١)

(٤) ارشاد الساری : ١٣ \ ١٦١)

(٥) ارشاد الساری : ١٣ \ ١٦١)

(٦) علامه قسطلانی فرمائی : فمن ذلک قوله مما هو من البر الطویل :

أیا من طویل اللیل بالنوم قصرو أنیبوا و کونوا من أناس به تاهوا

و إن شئتموا تحیوا أمیتوا نفوسکم و لا تقتلوا النفس التی حرم الله ...[بقیه برصفحه آئنده....

۹۱=بَاب هِجَاءِ الْمُشْرِكِين

[۵۷۹۸] حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ حَدَّثَنَا عَبْدَةُ أَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ اسْتَأْذَنَ حَسَّانُ بْنُ ثَابِتٍ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هِجَاءِ الْمُشْرِكِينَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَيْفَ بِنَسَبِي فَقَالَ حَسَّانُ لَأَسُلَّنَّكَ مِنْهُمْ كَمَا تُسَلُّ الشَّعَرَةُ مِنْ الْعَجِينِ وَعَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ ذَهَبْتُ أَسُبُّ حَسَّانَ عِنْدَ عَائِشَةَ فَقَالَتْ لَا تَسُبَّهُ فَإِنَّهُ كَانَ يُنَافِحُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ر: ۳۳۳۸]

...بقیه ازحاشیه گذشته] و من البحر الوافر :

صدور الجيش يظفركم إنه يوافر سهمكم بالكافرين
ويخزهمو و ينصركم عليهم و يشف صدور قوم مؤمنين

و من الكامل :

مات ابن موسى و هو بحر كامل فهناكمو جمع الملائک مشترک
يأتيكم التابوت فيه سكينة من ربكم و بقية مما ترک

و من الرمل :

أيها الأرمل إن رمت عفافا فتزوج من نساء خيرات
مسلمات مؤمنات قانتات تائبات عابدات سائحات

و من مجزو الرمل :

أسعدوا المرمل تجزوا ذاک أولى ما تعدون
لن تنالوا البر حتى تنفقوا مما تحبون

و من السريع :

يا أهل دين الله بشراكمو أقر مولاكم به عينكم
إذا أنزل الله على المصطفى اليوم أكملت لكم دينكم

و من الخفيف :

لاتدع اليتيم يوما و كن فى شأنه كله رؤوفا رحيما
أرأيت الذى يكذب بالدين فذلک الذى يدع اليتيما

و من المضارع :

و ضارع أهيل خير تنل من رب يقينا
جنانًا مزخرفات و هم فيها خالدون

و من المجتث

إجتث قلبى بذنبى و الله خيرا يريد
و كيف أخشى ذنوبى و هو الغفور الودود

ارشاد السارى : ۱۳ \ ۱۶۱ ، ۱۶۲)

هجاء او هجو دواړه په یو معنی دی ، دې باب سره امام بخاری رحمه الله د بعض اشعارو استحباب ته اشاره کول غواړی - حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی ...... وأشار بهذه الترجمة إلى ان بعض الشعر قد يكون مستحبا (١)

طبرانی د عمار بن یاسر روایت نقل کړیدې "لما هجانا المشركون شكونا ذلك إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال: قولوا لهم كما يقولون لكم" (٢) یعنی چه کله مشرکانو خمونږ هجو اوکړه نو مونږ رسول الله ﷺ ته ددې شکایت اوکړو ، حضور ﷺ فرمائی ..... تاسو هم د دوی داسې هجو اوکړئ چه څنګه دوی د ستاسو هجو کوی" ....

روایت د باب کښې حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی چه حسان بن ثابت رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه د مشرکانو د هجو کولو اجازت اوغوښتو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیلو خما د نسب به څه کیږی (یعنی مشرکانو کښې د بعضو مونږ سره نسبي تعلق دې ، نو که د دوی هجو وی دا به خما هجو وی) حضرت حسان عرض اوکړو ، څه به تاسو د دینه داسې اوباسم چه څنګه ویخته د اوړو نه ویستې کیږی -

هشام د خپل والد عروه نه نقل کوی ، چه دوی وائی چه ما د حضرت عائشه وړاندې حضرت حسان پسې بد اوویلې نو دې اوویل حسان پسې بد مه وایه خکه ده به د رسول الله ﷺ نه دفاع کوله-

قوله: كما تُسلّ الشعرة من العجين : یعني چه څنګه د اوړو نه ویخته ویستلې کیږی او په ده څه اثر نه وی ، داسې به خما د هجو هیڅ اثر هم په تاسو نه وی - (٣)

په اصل کښې د مشرکانو بعض شاعرانو د رسول الله ﷺ او د اصحابو هجو اوویلې ، نو انصارو کښې حضرت حسان بن ثابت رضي الله عنه ته اوویلې شو چه دې دې جواب ورکړی ، نو ده اوویل چه ما ته د قریشو ښاخونو (خاندانونو) تفصیل نه دې معلوم ، حضور ﷺ صدیق اکبر رضي الله عنه ته اوفرمائل : چه ده ته تفصیل بیان کړه ، حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه دې خبر کړو او دوی بیا د رسول الله ﷺ د طرف نه دفاع شروع کړه -

[٥٨٩٩] حَدَّثَنَا أَصْبَغُ قَالَ أَخْبَرَنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ وَهْبٍ قَالَ أَخْبَرَنِي يُونُسُ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ أَنَّ الْهَيْثَمَ بْنَ أَبِي سِنَانٍ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ فِي قَصَصِهِ يَذْكُرُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ أَخًا لَكُمْ لَا يَقُولُ الرَّفَثَ يَعْنِي بِذَاكَ ابْنَ رَوَاحَةَ قَالَ وَفِينَا رَسُولُ اللَّهِ يَتْلُو كِتَابَهُ إِذَا انْشَقَّ مَعْرُوفٌ مِنَ الْفَجْرِ سَاطِعُ أَرَانَا الْهُدَى بَعْدَ الْعَمَى فَقُلُوبُنَا بِهِ مُوقِنَاتٌ أَنَّ مَا قَالَ وَاقِعُ يَبِيتُ يُجَافِي جَنْبَهُ عَنْ فِرَاشِهِ إِذَا اسْتَثْقَلَتْ بِالْكَافِرِينَ الْمَضَاجِعُ تَابَعَهُ عُقَيْلٌ عَنْ

---

(١) فتح الباری : ١٠\٦٦٩)

(٢) مجمع الزوائد و منبع الفوائد : باب هجاء المشركين : ٨\١٢٣ ، ١٢٤ ، عمدة القاری : ٢٢\١٨٦ ، فتح الباری : ١٠\٦٦٩)

(٣) فتح الباری : ١٠\٦٧٠ ، عمدة القاری : ٢٢\١٨٦ ، ارشاد الساری : ١٣\١٦٣)

الزُّهْرِيِّ وَقَالَ الزُّبَيْدِيُّ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَعِيدٍ وَالْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ [ر: ۱۱۰۳]
د باب په دې دويم روايت کښې هيثم بن ابی سنان وائی چه ده د حضرت ابوهريره ﷺ وعظ او نصيحت او قصو بيانولو کښې واوريدل چه ده په کښې د رسول الله ﷺ ذکر کولو ، چه دا ئې فرمائل :إن أخالكم لا يقول الرفث " د ستاسو رور به فحش خبره نه کوله ، د دوی مراد حضرت عبد الله بن رواحه وو ، حاصل دا چه د رسول الله ﷺ په مدح کښې د حضرت عبد الله بن رواحه مذكوره اشعار اورولو نه وړاندې حضرت ابوهريره اوويل چه ابن رواحه فحش گو شاعر نه وو ، بلکه د رسول الله ﷺ باره کښې به ئې حقائق بيانول او بيا ئې د دوی درې شعره واورول چه د هغې ترجمه ده :
① او مونږ کښې د الله رسول دې چه د ده د کتاب تلاوت کوی چه کله طلوع د فجر اوشی.
② ده مونږ ته نيغه لاره اوخودله روستو د گمراه کيدو خمونږه نو خمونږ زړونه يقين لری چه ده څه فرمائلې دی هغه واقع کيدونکې دی -
③ دې شپه په داسې حالت کښې تيروی چه دده اړخ د بسترې نه لرې وی حال دا دې چه د مشرکانو بسترې د دوی د بوجه سترې شی -
قوله: معروف..... ساطع: د معروف نه مراد رڼرا ده ، د ساطع معنی د اوچتوالی او د ظاهره کيدو ده ، يعنی چه د سحر رڼرا راښکاره شی -
قوله: تابعه عقيل عن الزهري..... وقال الزبيدي.....: د عقيل بن خالد متابعت امام طبرانی او د محمد بن وليد زبيدی تعليق امام بخاری رحمه الله په تاريخ صغير کښې موصولاً نقل کړيدې - (۱)
[۵۸۰۰] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ ح وحَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي أَخِي عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي عَتِيقٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ أَنَّهُ سَمِعَ حَسَّانَ بْنَ ثَابِتٍ الْأَنْصَارِيَّ يَسْتَشْهِدُ أَبَا هُرَيْرَةَ فَيَقُولُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ نَشَدْتُكَ بِاللَّهِ هَلْ سَمِعْتَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ يَا حَسَّانُ أَجِبْ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ اللَّهُمَّ أَيِّدْهُ بِرُوحِ الْقُدُسِ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ نَعَمْ [ر: ۴۴۲]
[۵۸۰۱] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ عَنِ الْبَرَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِحَسَّانَ اهْجُهُمْ أَوْ قَالَ هَاجِهِمْ وَجِبْرِيلُ مَعَكَ [ر: ۳۰۴۱]
روايت کښې دی چه حضرت حسان بن ثابت حضرت ابوهريره گواه جوړ کړو او وې ويل چه ابوهريره :څه تا ته د الله تعالی واسطه درکوم چه آيا تا د رسول الله ﷺ نه دا فرمان نه دې اوريدلې چه "ياحسان أجب عن رسول الله صلى الله عليه و سلم ، اللهم أيده بروح القدس " .... حضرت ابوهريره اوفرمائل : نعم (هو اوريدلې مې دې)

---

(۱) فتح البارى ، كتاب التهجد ، باب فضل من تعارمن الليل فصلى : ۳ \ ۴۲ ، عمدة القارى : ۲۲ \ ۲۱۵ ارشاد السارى : ۱۳ \ ۱۶۴)

قوله: اهجهم أو قال : هاجهم: راوی ته شك دې اهجهم ئې اوویل یا هاجهم ، ړومبې د باب د نصر نه امر حاضر دې او دویم د باب د مفاعله د امر حاضر صیغه ده - یعنی رسول الله ﷺ حضرت حسان ته اوویل : چه ته ددې مشرکانو هجو اوکړه ، حضرت جبرائیل د ستا سره دې -

۹۲=بَاب مَا يُكْرَهُ أَنْ يَكُونَ الْغَالِبَ عَلَى الْإِنْسَانِ الشِّعْرُ حَتَّى يَصُدَّهُ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَالْعِلْمِ وَالْقُرْآنِ

[۵۸۰۲] حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا حَنْظَلَةُ عَنْ سَالِمٍ عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَأَنْ يَمْتَلِئَ جَوْفُ أَحَدِكُمْ قَيْحًا خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَمْتَلِئَ شِعْرًا

[۵۸۰۳] (١) حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَأَنْ يَمْتَلِئَ جَوْفُ رَجُلٍ قَيْحًا يَرِيهِ خَيْرٌ مِنْ أَنْ يَمْتَلِئَ شِعْرًا

قوله: شعر ویل کله مکروه دي ؟ : دامام بخاری رحمه الله مقصد دا دې چه په انسان باندې د شعر مشغله داسې غالبه شی چه د الله تعالی د ذکر او د قرآن پاك د تلاوته او د خیر د نورو کارونو دپاره دیوال اوګرځی نو دا مکروه دې ، اشعار ویل او لوستل او د بل نه اوریدل دا په دې صورت کښې جائز دی چه کله دا ددې امورو د خیر دپاره باعث د خلل نه وی - (٢)

لکه چه په روایت د باب کښې دی چه تاسو کښې د چا خیټه د پیپ نه داسې ډکه شی چه دا خرابه کړی دا د دینه بهتره ده چه دا د شعر نه ډکه وی -

" قیحا یریه " موصوف صفت دی ، " قیحا " موصوف او " یریه " د دې صفت دې ، یَري دباب د ضرب نه دې ،وَرَی.......وَرْيًا: پیپ سره خیټه خرابیدل - (٣)

دې حدیث کښې د شعر یاد ساتلو مذمت بیان شویدې ، امام بخاری رحمه الله دا په دې صورت محمول کړیدې ، چه کله شعر د نورو کارونو د خیر نه او د حقوق نه او د الله د ذکر او د تلاوت وغیره باندې غالب وی -

د حضرت عائشه ﷦ په یو روایت کښې دی چه طحاوی او ابن عدی نقل کړیدې چه کله د دوی په خدمت کښې د حضرت ابوهریره دا حدیث پیش کړې شو نو دوی اوفرمائل " لم یحفظ،

---

(١) ۵۸۰۳) الحديث أخرجه مسلم فی کتاب الشعر : ٤ \ ۱۷۶۹ (رقم الحديث : ۲۲۵۷) و أخرجه ابن ماجه في کتاب الأدب ، باب ماکره من الشعر : ۲ \ ۲۳۶ : (رقم الحديث : ۳۷۵۹)

(٢) فتح الباري : ۱۰ \ ۶۷۲ ، عمدة القاری : ۲۲ \ ۱۸۸ ، ارشاد الساری : ۱۳ \ ۱۶۵ - ۱۶۶ ، شرح صحیح البخاری لابن بطال : ۹ \ ۳۲۸)

(٣) النهاية لابن الأثير : ۵ \ ۱۷۸ ، مجمع بحارالأنوار " مادة وری " : ۵ \ ٤۵)

إنما قال: أنيتلي شعرا هُجيتُ به " حضرت ابوهريره ته ياد نه دې پاتې شوې - يعنى د رسول الله ﷺ دا ارشاد مطلقا د هر شعر په باره کښې نه دې فرمائلې ، بلکه د هغه اشعارو سره متعلق دې چه کومو کښې د حضور ﷺ هجو بيان کړې شوې وى - (۱)

خو حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه د " هجيت به " دا اضافه په صحيح سند سره ثابت نه ده - (۲)

۹۳=بَاب قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَرِبَتْ يَمِينُكِ وَعَقْرَى حَلْقَى

[۵۸۰۴] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ إِنَّ أَفْلَحَ أَخَا أَبِي الْقُعَيْسِ اسْتَأْذَنَ عَلَيَّ بَعْدَ مَا نَزَلَ الْحِجَابُ فَقُلْتُ وَاللَّهِ لَا آذَنُ لَهُ حَتَّى أَسْتَأْذِنَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنَّ أَخَا أَبِي الْقُعَيْسِ لَيْسَ هُوَ أَرْضَعَنِي وَلَكِنْ أَرْضَعَتْنِي امْرَأَةُ أَبِي الْقُعَيْسِ فَدَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ الرَّجُلَ لَيْسَ هُوَ أَرْضَعَنِي وَلَكِنْ أَرْضَعَتْنِي امْرَأَتُهُ قَالَ ائْذَنِي لَهُ فَإِنَّهُ عَمُّكِ تَرِبَتْ يَمِينُكِ قَالَ عُرْوَةُ فَبِذَلِكَ كَانَتْ عَائِشَةُ تَقُولُ حَرِّمُوا مِنْ الرَّضَاعَةِ مَا يَحْرُمُ مِنْ النَّسَبِ [ر:۲۵۰۱]

حضرت عائشه فرمائى چه د ابو القيس رور افلح د پردې د آيت نازليدو نه پس ما نه د دننه راتلو اجازت اوغوښتو نو ما اوويل چه څه به اجازت درنکړم ، چه تر څو څه د رسول الله ﷺ نه اجازت وانخلم ، څکه چه د ابوالقعيس رور ما ته پئ نه دى راکړې ، بلکه ما ته د ابو القعيس ښځې پئ راکړيدى ، رسول الله ﷺ چه ما ته راغلو نو ما عرض اوکړو د الله رسوله ! سړى ما ته پئ نه دى راکړې بلکه د ده ښځې ما ته پئ راکړيدى ، نو حضور اوفرمائل ، ده ته اجازت ورکړه ، څکه چه دې د ستا تره دې ، دې وجه نه حضرت عائشه فرمائى د رضاعت په سبب هغه رشتې حرام اوګڼړى چه کوم د نسب په وجه حرام ګرځى-

دې حديث باره کښې کلام په کتاب النکاح ، باب لبن الفحل کښې تير شويدې - (۳)

[۵۸۰۵] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا الْحَكَمُ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ الْأَسْوَدِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ أَرَادَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَنْفِرَ فَرَأَى صَفِيَّةَ عَلَى بَابِ خِبَائِهَا كَئِيبَةً حَزِينَةً لِأَنَّهَا حَاضَتْ فَقَالَ عَقْرَى حَلْقَى لُغَةٌ لِقُرَيْشٍ إِنَّكِ لَحَابِسَتُنَا ثُمَّ قَالَ أَكُنْتِ أَفَضْتِ يَوْمَ النَّحْرِ يَعْنِي الطَّوَافَ قَالَتْ نَعَمْ قَالَ فَانْفِرِي إِذًا [ر:۳۲۲]

حضرت عائشه فرمائى چه نبى کريم ﷺ د واپسئ اراده اوکړه نو صفيه ئې اوليدله چه د خپلې خيمې په دروازه کښې غمژنه ولاړه ده ، په دې وجه چه د دې جامې راغلې وې ، نو

(۱) فتح البارى : ۱۰ \ ۶۷۲ ، عمدة القارى : ۲۲ \ ۱۸۹ ، ارشاد السارى : ۱۳ \ ۱۶۶)
(۲) فتح البارى : ۱۰ \ ۶۷۲)
(۳) کشف البارى ، کتاب النکاح : ۱۸۷ - ۱۹۹)

دوی اوفرمائل : ویخته دې پرې شه (دا د قریشو په لغت کښې استعمالیږی) بې شك ته مونږ ایساروې ، بیا ئې اوفرمائل آیا تا د قربانۍ په ورځ طواف افاضه کړیدې ؟ نو حضرت صفیه اوویل : هو ، نو دوی ﷺ اوفرمائل بیا ته هم روانه شه -

د ترجمة الباب مقصد : دې ترجمة الباب سره د امام بخاری رحمه الله مقصد دا دی چه څه الفاظ داسې وی چه دا په طور د محاوره یا په خاص مواقعو د خصوصی استعمال دپاره رائج وی او د دې لغوی معنی مراد نه اخستې کیږی ، داسې الفاظ استعمالول صحیح دی ، مثلا یو جمله ده " تربت یداك " ، د دې لغوی معنی خو دا ده چه د ستا دواړه لاسونه دې په خاورو ککړ وی خو دا جمله عموما د خیرو په لغوی معنی کښې نه استعمالیږی بلکه دیو کار کښې د شوق پیدا کولو دپاره یا په مدح کښې مبالغه دپاره استعمالیږی ، مطلب ئې دا وی چه دا کار ته ضرور اوکړه ، او که نه کوې نو دستا لاسونه دې په خاورو ککړ وی یا په مدح کښې د مبالغه دپاره استعمالیږی ، مثلاً یو شاعر ته په یو شعر داد ورکولو دپاره ویلې کیږی قاتله الله ، لقد أجاد (1)

دارنګه دوه لفظونه نور دی : عَقْرَیٰ او حَلْقَیٰ د فعلی په وزن مونث دې أی عقرها الله یعنی الله تعالی دې دا پریکړی ، او د حلقی معنی ده حلقها الله : الله تعالی دې ددې په حلق کښې تکلیف پیدا کړی -

عَقْرًا او حَلْقًا تنوین سره هم مروی دې ، دې صورت کښې به دا مفعول مطلق وی : أی عقرها الله عَقْرًا وحلقها حَلْقًا (2)

ددې څه تفصیل کشف الباری ، کتاب الطلاق ، باب قول الله تعالی : (ولا یحل لهن أن یکتمن ....) کښې تیر شویدې -(3)

د باب ترلاندې امام بخاری رحمه الله دوه روایتونه نقل کړیدی ، ړومبی روایت کښې " تربت یمینك " او بل روایت کښې " عقری حلقی " استعمال شویدې -

دویم روایت کښې دی " لغة قریش " یعنی عقری او حلقی د قریشو لغت دې ، علامه عینی رحمه الله لیکی : أی هذه اللفظ أعنی عقری حلقی لغة قریش یطلقونها ولا یریدون حقیقتها (4)

٩٤=بَاب مَا جَاءَ فِي زَعَمُوا

[٥٨٠٦] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ أَبِي النَّضْرِ مَوْلَى عُمَرَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ أَنَّ أَبَا مُرَّةَ مَوْلَى أُمِّ هَانِئٍ بِنْتِ أَبِي طَالِبٍ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ سَمِعَ أُمَّ هَانِئٍ بِنْتَ أَبِي طَالِبٍ تَقُولُ ذَهَبْتُ إِلَى

---

1) فتح الباری : ١٠ \ ٦٧٣ ، عمدة القاری : ٢٢ \ ١٩٠ ، ارشاد الساری : ١٣ \ ١٦٧)
2) النهایة لابن الاثیر : ٣ \ ٢٧ - ٢٧٢ ، مجمع بحار الانوار : ٣ \ ٦٤٠ - ٦٣٩)
3) کشف الباری ، کتاب الطلاق : ٥٧٢ - ٥٧٣)
4) ٨٧ الف) عمدة القاری : ٢٢ \ ١٩١

رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْفَتْحِ فَوَجَدْتُهُ يَغْتَسِلُ وَفَاطِمَةُ ابْنَتُهُ تَسْتُرُهُ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَقَالَ مَنْ هٰذِهِ فَقُلْتُ أَنَا أُمُّ هَانِئٍ بِنْتُ أَبِي طَالِبٍ فَقَالَ مَرْحَبًا بِأُمِّ هَانِئٍ فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ غُسْلِهِ قَامَ فَصَلَّى ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ مُلْتَحِفًا فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ فَلَمَّا انْصَرَفَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ زَعَمَ ابْنُ أُمِّي أَنَّهُ قَاتِلٌ رَجُلًا قَدْ أَجَرْتُهُ فُلَانُ بْنُ هُبَيْرَةَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أَجَرْنَا مَنْ أَجَرْتِ يَا أُمَّ هَانِئٍ قَالَتْ أُمُّ هَانِئٍ وَذَاكَ ضُحًى [ر:٢٨٠]

د ترجمة الباب مقصد : دې ترجمة الباب سره شايد امام بخاري رحمه الله دې روايت ته اشاره کول غواړي چه کوم ابوداود او امام احمد د ابوقلابه په طريق سره نقل کړيدې ، چه هغې کښې " د زعموا " په باره کښې ويلې شويدي چه بئس مطية الرجل([1]) يعنى دا د سړي خرابه سورلى ده -

په اصل کښې چه يو سړې کله دروغ ويل غواړي او ددې ذمه داري هم په خپل سر اخستل نه غواړي ، يا داسې خبره ويل غواړي چه د هغې حقيقت ده ته پوره علم نه وي نو داسې صورت کښې دې خبره پوره خپل ځانته منسوب کولو په ځاى وايي " د خلقو خيال دې " د حديث شريف مطلب دا دې چه دا کلمه د دروغو خورولو او د عام کولو يو ذريعه ده چه څنګه سورلى د فاصله قطع کولو دپاره ذريعه وى - سړې چه کله پياده تلل نه غواړي نو په سوارلئ سور شى ، داسې که سړې دروغ ويل غواړي او ددې ذمه داري په خپل سر نه اخلى نو " زعموا " اووائى او دروغ خواره کړي امام بخاري رحمه الله دباب لاندې داسې څه حديث نه دې نقل کړې چه هغې کښې د زعموا ويلو نه منع راغلې وى ، بلکه د حضرت ام هانى حديث ئې نقل کړيدې چه هغې کښې دوى د " زعم ابن امى " الفاظ استعمال کړيدى ، مقصد او حاصل دا دې چه د دروغو دپاره د دې لفظ استعمالول صحيح نه دى ، خو که دا غرض نه وى نو بيا ددې لفظ استعمال جائز دې ، لکه چه مولانا انورشاه کشميري رحمه الله په " فيض الباري " کښې فرمائى:

" وفيه الحديث : بئس مطية الرجل : زعموا " فإن الإنسان إذا أراد أن يتكلم بأمر يعلم أنه كذب يصدره بتلك الكلمة ، و يقول : زعم الناس كذلك ، كأنه لا يحمله على نفسه ، و يعزوه إلى الناس احترازا عن صريح الكذب و الزور ، فالمعنى : أن تلك الكلمة آلة لإشاعة الزور ، كما أن المطية آلة لقطع السفر ، فإذا أراد الرجل أن لا يمشي على أقدامه ، ركب راحلته ، و ذهب كذلك إذا أراد أن يتكلم بالكذب و لا يحمله على نفسه ، قال : زعموا ، فأجرى الكذب بين الناس ، و المصنف لم يخرج الحديث في النهي عنه ، بل أخرج حديثا فيه : أن أم هانئ تكلمت بها ، قالت : زعم ابن أمي ..... و الحاصل : أن النهي في موضعه و الإباحة في موضعها ، ولا كلية في مثل هذه الأبواب ..... "([2])

---

[1]) الحديث أخرجه أبوداود في كتاب الأدب ، باب في الرجل يقول : زعموا : ٤ \ ٢٩٤ (رقم الحديث : ٧٢٩٤) و أحمد في مسنده : ٤ \ ١١٩ - ٥ \ ٤٠١)

[2]) فيض الباري : ٤ \ ٣٩٧ ، ٣٩٨)

۲ حضرت شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا رحمه الله په " الابواب و التراجم کښې لیکي چه امام بخاری رحمه الله اصل کښې د لفظ د " زعم د استعمال جواز ته اشاره کول غواړي ، د ابوداود د روایت نه د دې عدم جواز معلومیږی ، امام حدیث د باب ذکر کړو او د دې جواز ته ئې اشاره اوکړه چه مطلقا د دې استعمال ممنوع نه دې ، بلکه چه کله دا د دروغو ویلو دپاره ذریعه جوړه کړې شی نو بیا ممنوع دې - (۱)

۹۵=بَاب مَا جَاءَ فِي قَوْلِ الرَّجُلِ وَيْلَكَ

[۵۸۰۷] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَجُلًا يَسُوقُ بَدَنَةً فَقَالَ ارْكَبْهَا قَالَ إِنَّهَا بَدَنَةٌ قَالَ ارْكَبْهَا قَالَ إِنَّهَا بَدَنَةٌ قَالَ ارْكَبْهَا وَيْلَكَ [ر:۱۶۰۵]

[۵۸۰۸] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ عَنْ مَالِكٍ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنْ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَجُلًا يَسُوقُ بَدَنَةً فَقَالَ لَهُ ارْكَبْهَا قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّهَا بَدَنَةٌ قَالَ ارْكَبْهَا وَيْلَكَ فِي الثَّانِيَةِ أَوْ فِي الثَّالِثَةِ [ر:۱۶۰۴]

ړومبې روایت د حضرت انس او دویم د حضرت ابوهریره دې ، دواړو کښې یو واقعه ده ، رسول الله ﷺ یو سړې اولیدلو چه د قربانۍ اوښان ئې شړل او روان وو ، حضور ﷺ اوفرمائل : په دې سور شه ، ده اوویل : اے د الله رسوله دا د قربانۍ اوښان دی ، دوی دوه خله یا درې خله اوویل : ارکبها ویلك ، کمبخته په دې سور شه -

[۵۸۰۹] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ وَأَيُّوبَ عَنْ أَبِي قِلَابَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ وَكَانَ مَعَهُ غُلَامٌ لَهُ أَسْوَدُ يُقَالُ لَهُ أَنْجَشَةُ يَحْدُو فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيْحَكَ يَا أَنْجَشَةُ رُوَيْدَكَ بِالْقَوَارِيرِ [ر:۵۷۹۷]

[۵۸۱۰] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ عَنْ خَالِدٍ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ أَثْنَى رَجُلٌ عَلَى رَجُلٍ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ وَيْلَكَ قَطَعْتَ عُنُقَ أَخِيكَ ثَلَاثًا مَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَادِحًا لَا مَحَالَةَ فَلْيَقُلْ أَحْسِبُ فُلَانًا وَاللَّهُ حَسِيبُهُ وَلَا أُزَكِّي عَلَى اللَّهِ أَحَدًا إِنْ كَانَ يَعْلَمُ [ر:۲۵۱۹]

د حضرت ابوبکره نه روایت دې چه یو سړی د رسول الله ﷺ وړاندې د چا تعریف اوکړو نو دوی ﷺ اوفرمائل : ویلك : تا د خپل رور څټ پریکړو ، درې خله ئې دا جمله اوویله ، بیا ئې اوفرمائل : تاسو کښې چه کوم د چا تعریف کوی نو داسې دې وائی " څما دا ګمان دې ، او الله ئې نګهبان دې دالله وړاندې څه د چا تزکیه نه کوم " که تعریف کوونکې ده لره پیژنی"

د لفظ د ویل استعمال : تربت یداك ، عقرې ، حلقی په شان یو لفظ " ویلك " هم استعمالیږی ،

---

۱) الابواب و التراجم : ۲ \ ۱۱۸)

ویل " په معنی د هلاکت دې ، بعضو مفسرینو لیکلي دی چه " ویل " د جهنم د یو خاني نوم دې [1] دا لفظ هم عربی ژبه کښې د لغوی معنی په اعتبار سره نه بلکه د تعجب وغیره دپاره استعمالیږی لکه چه احادیث د باب کښې استعمال شویدې ، دا مقصد په وړاندینې ترجمة الباب سره حاصلیږی خو دې سره امام بخاری رحمه الله په دې باندې مستقل باب قائم کړیدې ، د دې یو وجه خو دا کیدې شی چه دا لفظ د وړاندینی الفاظو په مقابله کښې په معنوی اعتبار سره زیات سخت دې [2]

او دویمه وجه دا کیدې شی چه د لفظ د " ویل " په ممانعت باندې یو حدیث د حضرت عائشه نه مروی دی چه کوم خرائطی نقل کړیدې چه دوی ته رسول الله ﷺ اوفرمائل : " لاتجزعی من الویح ، فإنه کلمة رحمة ، ولکن اجزعی من الویل " [3] یعنی لفظ د " ویح " نه مه یریږه ځکه چه دا د رحمت کلمه ده ، خو د لفظ د " ویل " نه یریدل پکار دی -

حافظ ابن حجر فرمائی چه امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب سره شاید د دې حدیث ضعف ته اشاره کوی - [4]

د دې باب لاندې امام بخاری رحمه الله نه احادیث ذکر کړیدی ، چه دا ټول وړاندې تیر شویدی او دې ټولو کښې لفظ د " ویل " استعمال شویدې یا د " ویحك " استعمال شویدې ، ویح او ویل دواړه په یو معنی دی [5]

بعضو په کښې فرق کړیدې چه ویل کلمه د هلاکت ده او ویح کلمه د رحمت ده ، علامه عینی او حافظ ابن حجر فرمائی " وأكثر أهل اللغة على أن ويل كلمة العذاب ، وويح كلمة رحمة " [6]

[٥٥١٠] حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ عَنْ الْأَوْزَاعِيِّ عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ وَالضَّحَّاكِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ بَيْنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْسِمُ ذَاتَ يَوْمٍ قِسْمًا فَقَالَ ذُو الْخُوَيْصِرَةِ رَجُلٌ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ يَا رَسُولَ اللَّهِ اعْدِلْ قَالَ وَيْلَكَ مَنْ يَعْدِلُ إِذَا لَمْ أَعْدِلْ فَقَالَ عُمَرُ ائْذَنْ لِي فَلْأَضْرِبْ عُنُقَهُ قَالَ لَا إِنَّ لَهُ أَصْحَابًا يَحْقِرُ أَحَدُكُمْ صَلَاتَهُ مَعَ صَلَاتِهِمْ وَصِيَامَهُ مَعَ صِيَامِهِمْ يَمْرُقُونَ مِنْ الدِّينِ كَمُرُوقِ السَّهْمِ مِنْ الرَّمِيَّةِ يُنْظَرُ إِلَى نَصْلِهِ فَلَا يُوجَدُ فِيهِ شَيْءٌ ثُمَّ يُنْظَرُ إِلَى رِصَافِهِ فَلَا يُوجَدُ فِيهِ شَيْءٌ ثُمَّ يُنْظَرُ إِلَى نَضِيِّهِ فَلَا يُوجَدُ فِيهِ شَيْءٌ ثُمَّ يُنْظَرُ إِلَى قُذَذِهِ فَلَا يُوجَدُ فِيهِ شَيْءٌ قَدْ سَبَقَ الْفَرْثَ وَالدَّمَ يَخْرُجُونَ عَلَى حِينِ فُرْقَةٍ مِنْ النَّاسِ آيَتُهُمْ رَجُلٌ إِحْدَى يَدَيْهِ مِثْلُ ثَدْيِ الْمَرْأَةِ أَوْ مِثْلُ الْبَضْعَةِ تَدَرْدَرُ قَالَ أَبُو سَعِيدٍ

---

[1] الجامع لاحكام القرآن : ١٩\ ٢٥٠)
[2] الابواب و التراجم : ٢ \ ١١٨)
[3] فتح الباری : ١٠ \ ٦٧٧ ، ارشاد الساری : ١٣ \ ١٧١)
[4] فتح الباری : ١٠ \ ٦٧٧)
[5] فتح الباری : ١٠ \ ٦٧٧ ، عمدة القاری : ٢٢ \ ١٩١ ، ارشاد الساری : ١٣ \ ١٧١)
[6] فتح الباری : ١٠ \ ٦٧٧ ، عمدة القاری : ٢٢ \ ١٩١)

أَشْهَدُ لَسَمِعْتُهُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَشْهَدُ أَنِّي كُنْتُ مَعَ عَلِيٍّ حِينَ قَاتَلَهُمْ فَالْتُمِسَ فِي الْقَتْلَى فَأُتِيَ بِهِ عَلَى النَّعْتِ الَّذِي نَعَتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ر: ۳۴۴۳]

حضرت ابوسعيد خدری ﷺ روايت کوی ، دوي بيان کړيدي چه يو ځل رسول الله ﷺ مال غنيمت تقسيمولو چه دوالخويصره چه د بنو تميم يو کس وو ، وې ويل : اے د الله رسوله ! په انصاف تقسيم کوه ، نو دوی اوفرمائل : کمبخته ، چه څه عدل نه کوم نو بيا به څوك عدل کوی ، حضرت عمر ﷺ عرض اوکړو (اے د الله رسوله) اجازت راکړه چه د ده څټ پريکړم ، دوی ﷺ اوفرمائل : نه (داسې اونکړې) ځکه چه د ده ملګرو کښې به څه ملګرې داسې وی چه تاسو کښې به يو کس د دوی د مونځونو او د روژو په مقابله کښې خپل مونځ او روژې سپکې او حقير ګڼړی ، حال دا دې چه دې به د دين نه داسې بهر شوې وی لکه چه څنګه غشې د کمان نه بهر کيږی ، نه خو به د غشی په ملا څه نخه وی ، او نه به د دې تر لاندې څه نخه وی او نه به د دې په وزرو څه نخه باقی پاتې وی ، دا اوخی صفا د ګند او د وينې نه ، دا خلق به مسلمانانو کښې د تفرقې په وخت کښې رابښکاره شی ، د دوی نخه به داسې وی چه دوی کښې به يو کس وی چه د هغه لاس به داسې وی لکه د ښځې سينه يا لکه چه د غوښې يو ټوټه وی چه حرکت کوی (د حضرت ابو سعيد بيان دې چه) څه ګواهی ورکوم چه ما دا د رسول الله ﷺ نه اوريدلې دې ، او (ددې هم) ګواهې ورکوم چه څه د حضرت علی سره د دغه جنګ په وخت موجود ووم ، دا سړې په مقتولينو کښې تلاش کړې شو نو دې هم داسې ملاو شو چه څنګه رسول الله ﷺ فرمائلې وو -

د دې حديث څو الفاظ اوګورئ : رِصاف: دا د رَصَفَة جمع ده وهی عصبة تلوی فوق مدخل النصل : د غشې د پَل د داخلولو په ځائې تړلې شوې پله ، نصل : اوسپنې ته وائی ، په غشی کښې چه کومه اوسپنه وی هغې تهـ وائی ، نَضِيّ (د نون په فتحه او د ضاد په کسره او د ياء په تشديد سره) د غشی لرګی ته وائی ، وهوالقدح أی عود السهم - قُذَذ (د قاف په ضمه سره او د ذال په فتحه سره) دا د قُذَّة (د قاف په ضمه او د ذال په تشديد سره) جمع ده ، ، وهوريش السهم: د غشی وزرو ته وائی - بَضْعة (د باء په فتحه او د ضاد په سکون سره) د غوښې يو ټوټه ، تَدَرْدر : حرکت کول - (۱)

قوله: سَبَقَ الفَرْثَ والدَّمَ: يعنی دا غشې د ګندګئ او د وينې نه بالکل صفا اوخی ....

يخرجون علی حين فرقة من الناس: دوی به د خلقو د افتراق او د انتشار په زمانه کښې خروج کوی ، لکه چه د خوارجو د حضرت علی او د حضرت معاويه ﷺ د اختلاف په زمانه کښې خروج اوشو -

[۵۸۱۲] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَبُوالْحَسَنِ أَخْبَرَنَا عَبْدُاللّٰهِ أَخْبَرَنَا الْأَوْزَاعِيُّ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ

(۱) عمدة القاری : ۲۲\۱۹۳ ، ارشاد الساری : ۱۳\۱۷۲)

شِهَابٍ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَجُلًا أَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ هَلَكْتُ قَالَ وَيْحَكَ قَالَ وَقَعْتُ عَلَى أَهْلِي فِي رَمَضَانَ قَالَ أَعْتِقْ رَقَبَةً قَالَ مَا أَجِدُهَا قَالَ فَصُمْ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ قَالَ لَا أَسْتَطِيعُ قَالَ فَأَطْعِمْ سِتِّينَ مِسْكِينًا قَالَ مَا أَجِدُ فَأُتِيَ بِعَرَقٍ فَقَالَ خُذْهُ فَتَصَدَّقْ بِهِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَعَلَى غَيْرِ أَهْلِي فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا بَيْنَ طُنُبَيِ الْمَدِينَةِ أَحْوَجُ مِنِّي فَضَحِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى بَدَتْ أَنْيَابُهُ قَالَ خُذْهُ تَابَعَهُ يُونُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ وَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ خَالِدٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ وَيْلَكَ [ر:١٨٣٤]

د حضرت ابوهريره نه روايت دې چه يو سړى د رسول الله ﷺ خدمت ته حاضر شو او عرض ئې اوکړو چه اے د الله رسوله څه خو هلاك شوم ، نو دوى ﷺ اوفرمائل : هلاك شې (څه اوشو) وې ويل : څه واقع شوم په خپل کور والا په رمضان کښې ، نو وې فرمائل : غلام ازاد کړه ، ده اوويل : ما سره غلام نشته دې، دوى اوفرمائل ، بيا دوه مياشتې متواتر روژې اونيسه ،ده اوويل : څه ددې طاقت نه لرم ، وې فرمائل : شپيتو مسکينانو ته خوراك ورکړه ، ده اوويل : ما سره نشته دې ، نو يو عرق (يو پيمانه يا يو تيلئ) راوړې شوه (چه ديکښې کجورې وې) دوى اوفرمائل : دا يو څه او صدقه کړه ، ده اوويل : اے د الله رسوله آيا د خپل کور والا نه علاوه نورو ته (ئې ورکړم) ؟ قسم دې د هغه ذات چه د هغه په قبضه کښې څما ځان دې - په مدينه کښې څما نه زيات محتاج نشته دې، نورسول اللهﷺ اوخندل تردې چه د دوى اړخونو غاښونه (داړې) ښکاره شوې ،او وې فرمائل : ته دا يو څه -

عَرَق (د عين او د راء په فتحه سره) ګوتئ ته وائى ، طُنُبَى المدينة: د مدينې منورې دواړه اړخونه .... طُنُب (د طاء او د نون په ضمه سره) نه طرف او اړخ مراد دې ، علامه قسطلانى فرمائى طنب واحد أطناب: الخيمة فاستعارة للطرف وللناحية (١)

او علامه کرمانى فرمائى : شبه المدينة بفسطاط مضروب، وحرتاها بالطنبين يعنى طُنُب د خيمې يا د تنبو تړلو رسئ ته وائى ، د مدينې منورې د دواړو طرفونو دپاره د دې لفظ استعمال په طور د استعاره دې ، د مدينې منورې د خيمې سره او د دې د دواړو طرفونو د خيمو د رسو سره تشبيه ورکړې شوه - (٢)

قوله: تابعه يونس عن الزهري وقال عبد الرحمن بن خالد عن الزهري : ويلك:

د يونس متابعت بيهقى موصولا نقل کړيدې (٣) او د عبدالرحمن په روايت کښې د " ويحك " په ځائې " ويلك " دې ، دا تعليق امام طحاوى موصولا نقل کړيدې - (٤)

---

(١) ارشاد السارى : ١٣ \ ١٧٣)

(٢) شرح الکرمانى : ٢٢ \ ٣٢)

(٣) فتح البارى : ١٠ \ ٦٧٨ . عمدة القارى : ٢٢ \ ١٩٤)

(٤) فتح البارى : ١٠ \ ٦٧٨ . عمدة القارى : ٢٢ \ ١٩٤)

[٥٨٣٥] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ حَدَّثَنَا أَبُو عَمْرٍو الْأَوْزَاعِيُّ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ شِهَابٍ الزُّهْرِيُّ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَزِيدَ اللَّيْثِيِّ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ أَعْرَابِيًّا قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَخْبِرْنِي عَنِ الْهِجْرَةِ فَقَالَ وَيْحَكَ إِنَّ شَأْنَ الْهِجْرَةِ شَدِيدٌ فَهَلْ لَكَ مِنْ إِبِلٍ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَهَلْ تُؤَدِّي صَدَقَتَهَا قَالَ نَعَمْ قَالَ فَاعْمَلْ مِنْ وَرَاءِ الْبِحَارِ فَإِنَّ اللَّهَ لَنْ يَتِرَكَ مِنْ عَمَلِكَ شَيْئًا [ر: ١٣٨٣]

حضرت ابوسعید خدری ﷺ فرمائی چه یو بانډیچی رسول الله ﷺ ته اوویل : اے د الله رسوله ما ته د هجرت په باره کښې خبر راکړه ، دوی ﷺ اوفرمائل : هلاك شې د هجرت معامله خو ډیره سخته ده ، آیا د ستا سره اوښ شته ؟ ده اوویل : هو ° دوی ﷺ اوفرمائل : آیا ته د دوی زکات ورکوې ؟ نو ده اوویل : هو ، دوی اوفرمائل : نو ته بیا د کلو دې ارخ کښې (خپل کورکښې اوسیږه) عمل کوه ، الله تعالی به د ستا په عمل کښې کمې نه کوی-

وراء البحار : دا بحرة جمع ده، کلی ته وائی، شارحین لیکی : وهى القرية سميت بحرة لاتساعها (١)

قوله: لن يَتِرك : أي لن ينقصك : دوترېترة معنی کمول دی - (٢) قرآن کریم کښې دی (ولن يتركم أعمالكم) (٣)

[٥٨٣٦] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ الْحَارِثِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ وَاقِدِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ زَيْدٍ سَمِعْتُ أَبِي عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَيْلَكُمْ أَوْ وَيْحَكُمْ قَالَ شُعْبَةُ شَكَّ هُوَ لَا تَرْجِعُوا بَعْدِي كُفَّارًا يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ وَقَالَ النَّضْرُ عَنْ شُعْبَةَ وَيْحَكُمْ وَقَالَ عُمَرُ بْنُ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِيهِ وَيْلَكُمْ أَوْ وَيْحَكُمْ [ر: ١٦٥٥]

د حدیث د باب مختلف توجیهات : رسول الله ﷺ فرمائی : لا ترجعوا بعدى كفارا يضرب بعضكم رقاب بعض يعنى خما نه پس کافر مه جوړیږئ چه تاسو کښې بعض د بعضو څټونه وهل شروع کړي -

د یو بل څټونه پریکول او قتل کول لویه گناه ده او مرتکب د کبیرې فاسق خو کیږی خو کافر نه گرځی ، دلته نې ° لاترجعوا بعدی کفارا ° اوویلې چه دینه معلومیږی چه ضرب رقاب کفر دې ، نو ددې مختلف توجیهات شویدی :

① دا حکم د مستحل په حق کښې دې ، یعنی چه کوم د مسلمانانو سره قتال شرعًا حلال او جائزگنړی -

② د کفر نه اصطلاحی کفر نه دې مراد بلکه کفران نعمت مراد دې یعنی تاسو خما نه پس د نعمت د اسلام ناشکری مه کوئ چه خپل مینځ کښې قتال شروع کړئ -

(١) فتح البارى : ١٠ \ ٦٧٩ ، عمدة القارى : ٢٢ \ ١٩٥ ، ارشاد السارى : ١٣ \ ١٧٤)
(٢) عمدة القارى : ٢٢ \ ١٩٥ ، فتح البارى : ١٠ \ ٦٧٩)
(٣) سورة محمد : ٣٥)

③ علامه خطابی فرمائی چه دلته د کفار نه مسلح کیدل مراد دی ، دا د تکفر بالسلاح نه دې ، چه د هغې معنی د اسلحې اچولو ده - [1]

④ دینه فعل د کفارو مراد دې ، تاسو مه کافران کیږئ یعنی د کافرانو والا فعل مه اختیاروئ ، علامه طیبی په شرح د مشکاة کښې دا توجیه اظهر گرځولې ده - [2]
قاضی عیاض هم دا توجیه غوره کړیده - [3]

دا حدیث په کتاب المغازی کښې باب حجة الوداع کښې تیر شویدې - یضرب بعضکم کښې یضرب مجزوم هم کیدې شی په وجه د جواب د نهی او د استیناف په وجه مرفوع هم کیدې شی - [4]

[۵۸۱۵] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَاصِمٍ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الْبَادِيَةِ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَتَى السَّاعَةُ قَائِمَةٌ قَالَ وَيْلَكَ وَمَا أَعْدَدْتَ لَهَا قَالَ مَا أَعْدَدْتُ لَهَا إِلَّا أَنِّي أُحِبُّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ قَالَ إِنَّكَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ فَقُلْنَا وَنَحْنُ كَذَلِكَ قَالَ نَعَمْ فَفَرِحْنَا يَوْمَئِذٍ فَرَحًا شَدِيدًا فَمَرَّ غُلَامٌ لِلْمُغِيرَةِ وَكَانَ مِنْ أَقْرَانِي فَقَالَ إِنْ أُخِّرَ هَذَا فَلَنْ يُدْرِكَهُ الْهَرَمُ حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ وَاخْتَصَرَهُ شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ سَمِعْتُ أَنَسًا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ر:۳۴۸۵]

حضرت انس فرمائی چه په باندیچیانو کښې یو سړې د رسول الله ﷺ خدمت ته راغلو ، او تپوس ئې اوکړو ، اے د الله رسوله ! قیامت به کله وی ؟ دوی ﷺ اوفرمائل : هلاك شې ، تا دې دپاره څه تیاری کړیده ؟ ده اوویل : نور خو مې څه تیاری نه ده کړې خو څما د الله تعالٰی او د ده د رسول سره محبت " دې...... نو دوی ﷺ اوفرمائل (په آخرت کښې به) ته د هغه چا سره ئې چه د چا سره محبت کوې ، په دې مونږ عرض اوکړو چه آیا مونږ به هم داسې یو ، دوی اوفرمائل : ، هو ، په دغه ورځ مونږ ډیر خوشحاله شو ..... دیکښې د مغیره یو غلام تیر شو چه څما همځولې وو ، دوی اوفرمائل : کُه دې ژوندې پاتې شو نو د ده د بوډا توب نه به وړاندې قیامت راشی-

د حدیث د باب دوه مطلبونه : إن أُخِّر هذا ، فلن يدركه الهرم حتى تقوم الساعة

په بعض روایتونو کښې دی " لئن عُمِّر.... " دی [5] یعنی کُه دې هلك ته ژوند ملاو شو نو په ده به لا بوډاتوب نه وی راغلې چه قیامت به قائم شی ، د دې دوه مطلبه بیان شویدی

① دا ارشاد په حقیقی معنی محمول نه دې ، بلکه دینه د قیامت قرب مبالغة خودل

---

[1]) شرح الطیبی ، کتاب القصاص ، باب قتل أهل الردة ..... : ۱۰۲\۷)
[2]) شرح الطیبی ، کتاب القصاص ، باب قتل أهل الردة ..... : ۱۰۲\۷ (رقم الحدیث : ۳۵۳۷)
[3]) شرح الطیبی ، کتاب القصاص ، باب قتل أهل الردة ..... : ۱۰۲\۷)
[4]) شرح الطیبی ، کتاب القصاص ، باب قتل أهل الردة ..... : ۱۰۲\۷)
[5]) فتح الباری : ۱۰\۶۸۱)

مقصود دى چه قيامت خو ددې ماشوم د بوډاتوب نه هم مخکښې راتلونکې دې - (١)

② دا ارشاد په خپله حقيقى معنى محمول دې او دا د مخاطبينو په اعتبار سره ويلې شويدې او مطلب دا دې چه د دې هلك د بوډا توب نه به وړاندې وړاندې د ستاسو د ټولو قيامت راشى ، "الساعة" نه مراد مرګ دې يعني د ستاسو ټولو به مرګ راشى ، او چه کله مرګ راغلو نو د ستاسو قيامت هم راغلو - (٢) يو روايت کښې دى من مات فقد قامت قيامته ، يعنى چه کوم سړې مړ شو نو د هغه قيامت قائم شو - (٣)

مسلم شريف کښې د حضرت عائشه يو روايت نه ددې مکمل وضاحت کيږى ديکښې دى "كان الأعراب إذا قدموا على النبى صلى الله عليه و سلم ، سألوه عن الساعة : متى الساعة ؟ فينظر إلى أحدث إنسان منهم سنا ، فيقول : من يعش هذا حتى يدركه الهرم ، قامت عليكم ساعتكم" (٤)

يعنى د بانډو خلق به د رسول الله ﷺ خدمت ته راتلل او د قيامت په باره کښې به ئې تپوس کولو چه قيامت به کله قائميږى ؟ رسول الله ﷺ به دوى کښې د ټولو نه کم عمر ته اوکتل او اوبه ئې فرمائل : کُه دې ژوندې پاتې شو نو د ده بوډا توب ته د رسيدو نه وړاندې وړاندې به د ستاسو قيامت قائم شى ـ

قاضى عياض رحمه الله د مسلم شريف ددې روايت په باره کښې فرمائى :

"وهذه الرواية رواية واضحة يفسر بها كل ما ورد من الألفاظ المشكلة فى غيرها" (٥) يعنى دا روايت داسې واضح دې چه ددې په نورو طرق کښې کوم مشکل الفاظ دى د هغې تفسير او تشريح کيږى چه د کوم هلك روايت په باب کښې ذکر دې ، د ده نوم په بعض روايتونو کښې محمد او په بعضو کښې سعد راغلې دې (٦)

مولانا انور شاه کشميرى رحمه الله په "فيض البارى" کښې د صدر شيرازى په حواله سره ليکى : "إن الساعة ساعة صغرى ، و هى بموته ، و ساعة وسطى و هى بموت أقرانه ، و ساعة كبرى ، و هى من نفخ الصور و المراد ههنا الصغرى أو الوسطى ، و المعنى مالكم و للساعة الكبرى وإن ساعتكم التى آتية عليكم هى بموت أقرانكم ، ويؤيده ما عند البخارى : (ص ٩٦٣ ، طبع الهند) فى كتاب الرقاق ، باب سكرات الموت : لا يدركه الهرم حتى تقوم عليكم ساعتكم ، قال هشام : يعنى موتهم ، ففيه بيان أن المراد من الساعة الساعة الوسطى" (٧)

---

(١) فتح البارى : ١٠ \ ٦٨١ . عمدة القارى : ٢٢ \ ١٩٦ . ارشاد السارى : ١٣ \ ١٧٦)

(٢) فتح البارى : ١٠ \ ٦٨١)

(٣) ١١١ كشف الخفاء و مزيل الإلباس : ٢ \ ٢٧٩ (رقم الحديث : ٢٦١٨) إتحاف السادة المتقين : " باب بيان حقيقة الصبر و معناه " : ٩ \ ١١)

(٤) الحديث أخرجه مسلم فى كتاب الفتن . باب قرب الساعة :٢ \ ٤٠٦)......

(٥) فتح البارى : ١٠ \ ٦٨١ . ارشاد السارى : ١٣ \ ١٧٦)

(٦) فتح البارى : ١٠ \ ٦٨٠ . عمدة القارى : ٢٢ \ ١٩٦)

(٧) فيض البارى : ٤ \ ٣٩٩ - ٣٩٨)

يعني د قيامت درې قسمونه دی يو قيامت صغرى ، دا د انسان په مرګ سره راځی ، دويم قيامت وسطى دا د همځولو په مرګ سره واقع کيږی ، دريم قيامت کبرى ، د دې ابتداء د نفخ د صور نه به وی ، دلته حديث کښې د قيامت نه مراد يا قيامت صغرى دې يا قيامت وسطى دې ، د حديث مطلب دا دې چه ته د قيامت کبرى تپوس ولې کوې ، د ستا قيامت خو به هله واقع شی چه کله د ستا د همځولو مرګ واقع شی د دې تائيد د صحيح بخاری د دې آيت نه هم کيږی چه کوم امام په باب د سکرات الموت کښې ذکرکړيدې، هلته" لايدركه الموت حتى تقوم عليكم ساعتكم " کښې د "ساعة" تشريح هشام په مرګ سره کړيده -

۹۶=بَاب عَلَامَةِ الْحُبِّ فِي اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ

لِقَوْلِهِ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ [آل عمران:۳۱]

[۵۸۱۶\۵۸۱۷] حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ الْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ

[۵۸۱۷] (۱) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ أَبِي وَائِلٍ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ كَيْفَ تَقُولُ فِي رَجُلٍ أَحَبَّ قَوْمًا وَلَمْ يَلْحَقْ بِهِمْ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ تَابَعَهُ جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ وَسُلَيْمَانُ بْنُ قَرْمٍ وَأَبُو عَوَانَةَ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

[۵۸۱۸] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قِيلَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّجُلُ يُحِبُّ الْقَوْمَ وَلَمَّا يَلْحَقْ بِهِمْ قَالَ الْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ تَابَعَهُ أَبُو مُعَاوِيَةَ وَمُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ

[۵۸۱۹] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا أَبِي عَنْ شُعْبَةَ عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَتَى السَّاعَةُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ مَا أَعْدَدْتَ لَهَا قَالَ مَا أَعْدَدْتُ لَهَا مِنْ كَثِيرِ صَلَاةٍ وَلَا صَوْمٍ وَلَا صَدَقَةٍ وَلَكِنِّي أُحِبُّ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ قَالَ أَنْتَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ [ر:۳۴۸۵]

ترجمة الباب کښې د حب درې صورتونه کيدې شی ، د الله تعالى د خلقو سره محبت ، د خلقو د الله تعالى سره محبت او د الله تعالى دپاره د يو بل سره محبت -

---

(۱) ۵۸۱۷) الحديث أخرجه مسلم فى كتاب البر و الصلة و الآداب . باب المرء مع من أحب : ۴ \ ۲۰۳۴ (رقم الحديث : ۲۶۴۰) و أخرجه الترمذى فى كتاب الزهد . باب ما جاء أن المرء مع من أحب : ۴ \ ۵۹۶ (رقم الحديث : ۲۳۸۷)

علامه كرماني دا دري احتماله ذكر كړيدي - (١) باب كښې دننه د المرء مع من أحب والا روايت ذكر كړيدي - ، آيت كريمه (قل إن كنتم تحبون الله ....) نه وړاندې دوه صورتونه معلوميږي خوچه كوم روايت ئې ذكر كړيدې ، نو دينه معلوميږي چه دلته دويم صورت يعني د بنده د الله تعالى سره محبت مراد دې -

د ايت او د روايت په مينځ كښې مناسبت : حافظ ابن حجر فرمائي چه دې صورت كښې د آيت او د روايت په مينځ كښې مناسبت فهم ته راځي ځكه چه د آيت نه معلوميږي چه د الله سره محبت بغير د اتباع د رسول نه نه حاصليږي ، او د حديث نه معلوميږي چه اګر چه اتباع د رسول د رسول الله ﷺ د سنتو د تابعدارئ نوم دې ، خو بيا هم دې دپاره په زړه كښې دننه د رسول محبت ساتل ضروري دي ، نو هله به معيت حاصل شي ، يو سړې په خپله د تمامو اعمالو پابندي نه شي كولې خو چه د عاملانو سره محبت ساتي نو دا د ده د نجات دپاره كافي دې ځكه د عاملانو سره محبت هم دې د دوي د اتباع او د اطاعت په وجه كوي او د محبت تعلق د زړه سره وي نو د نيكانو خلقو سره په دې محبت به هم ده ته الله تعالى اجر وركړي ، ځكه چه اصل ځيز خو نيت دې ، عمل خو ددې تابع دې لكه چه دې ليكي : "فدلت الآية أنها لا تحصل إلا باتباع الرسول، و دل الخبر على أن اتباع الرسول، وإن كان الأصل أنه لا يحصل إلا بامتثال جميع ما أمر به أنه قد يحصل من طريق التفضل باعتقاد ذلك، و من لم يحصل استيفاء العمل بمقتضاه، بل محبة من يعمل ذلك كافية في حصول أصل النجاة، و الكون مع العاملين بذلك، لأن محبتهم إنما هي لأجل طاعتهم، و المحبة من أعمال القلوب، فأثاب الله محبهم على معتقده، إذ النية هي الأصل، والعمل تابع لها" (٢)

حديث باب كښې دي چه يو سړې د رسول الله ﷺ په خدمت كښې حاضر شو او تپوس ئې اوكړو ، اے د الله رسوله ! يو سړې د يو قوم سره محبت خو كوي خو (په علم او فضل او عمل كښې) د دوي برابري نه شي كولې ، رسول الله ﷺ اوفرمائل سړې چه د چا سره محبت كوي (په آخرت كښې) به هم د هغه سره وي -
دا سړې حضرت ابوذر يا حضرت ابوموسى اشعري وو - (٣)

قوله: تابعه جرير بن حازم.......: برني روايت د جرير بن عبد الحميد نه دې ، د دوي متابعت جرير بن حازم سليمان بن قرم (د قاف په فتحه او د راء په سكون سره) او ابوعوانه وضاح كړيدې ، د جرير متابعت ابونعيم، د سليمان متابعت امام مسلم او د ابوعوانه متابعت يعقوب په خپل صحيح كښې موصولاً نقل كړيدى ، (٤)

---

(١) شرح الكرماني : ٢٢\١٢٢ ٣٤)
(٢) فتح الباري : ١٠\٦٨٣)
(٣) ارشاد الساري : ١٣\١٧٨ ، فتح الباري : ١٠\٢٨٥)
(٤) فتح الباري : ١٠\٦٨٣ ، عمدة القاري : ٢٢\١٩٧ ، ارشاد الساري : ١٣\١٧٨)،

خو دوى كښې عبدالله غير منسوب دې ، يعنې د ده د پلار ذكر نشته دې ، ږومبې روايت كښې د " عبد الله بن مسعود " تصريح ده ، حافظ ابن حجر ليكى چه كومو روايتونو كښې صرف عبدالله دې د بعض حضراتو په نزد دا " عبد الله بن قيس " دې يعنى حضرت ابو موسى اشعرى مراد دې ، څكه چه دا روايت د حضرت ابو موسى اشعرى نه هم روايت دې ، لكه دينه پس روستنې حديث دې - (١)

قوله: تابعه أبومعاوية ومحمد بن عبيد: د سفيان متابعت ابومعاويه محمد بن خازم (په خاء سره) او محمد بن عبيد كړيدې ، امام مسلم رحمه الله دا موصولاً نقل كړيدې - (٢)

٩٧= بَاب قَوْلِ الرَّجُلِ لِلرَّجُلِ اخْسَأْ

[٥٨٢٠] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا سَلْمُ بْنُ زَرِيرٍ سَمِعْتُ أَبَا رَجَاءٍ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِابْنِ صَائِدٍ قَدْ خَبَأْتُ لَكَ خَبِيئًا فَمَا هُوَ قَالَ الدُّخُّ قَالَ اخْسَأْ

[٥٨٢١] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنْ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي سَالِمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ أَخْبَرَهُ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ انْطَلَقَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَهْطٍ مِنْ أَصْحَابِهِ قِبَلَ ابْنِ صَيَّادٍ حَتَّى وَجَدَهُ يَلْعَبُ مَعَ الْغِلْمَانِ فِي أُطُمِ بَنِي مَغَالَةَ وَقَدْ قَارَبَ ابْنُ صَيَّادٍ يَوْمَئِذٍ الْحُلُمَ فَلَمْ يَشْعُرْ حَتَّى ضَرَبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ظَهْرَهُ بِيَدِهِ ثُمَّ قَالَ أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللَّهِ فَنَظَرَ إِلَيْهِ فَقَالَ أَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُولُ الْأُمِّيِّينَ ثُمَّ قَالَ ابْنُ صَيَّادٍ أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللَّهِ فَرَضَّهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ آمَنْتُ بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ ثُمَّ قَالَ لِابْنِ صَيَّادٍ مَاذَا تَرَى قَالَ يَأْتِينِي صَادِقٌ وَكَاذِبٌ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُلِّطَ عَلَيْكَ الْأَمْرُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي خَبَأْتُ لَكَ خَبِيئًا قَالَ هُوَ الدُّخُّ قَالَ اخْسَأْ فَلَنْ تَعْدُوَ قَدْرَكَ قَالَ عُمَرُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَتَأْذَنُ لِي فِيهِ أَضْرِبُ عُنُقَهُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ يَكُنْ هُوَ لَا تُسَلَّطُ عَلَيْهِ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ هُوَ فَلَا خَيْرَ لَكَ فِي قَتْلِهِ قَالَ سَالِمٌ فَسَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ يَقُولُ انْطَلَقَ بَعْدَ ذَلِكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ الْأَنْصَارِيُّ يَؤُمَّانِ النَّخْلَ الَّتِي فِيهَا ابْنُ صَيَّادٍ حَتَّى إِذَا دَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَفِقَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَّقِي بِجُذُوعِ النَّخْلِ وَهُوَ يَخْتِلُ أَنْ يَسْمَعَ مِنْ ابْنِ صَيَّادٍ شَيْئًا قَبْلَ أَنْ يَرَاهُ وَابْنُ صَيَّادٍ مُضْطَجِعٌ عَلَى فِرَاشِهِ فِي قَطِيفَةٍ لَهُ فِيهَا رَمْرَمَةٌ أَوْ زَمْزَمَةٌ فَرَأَتْ أُمُّ ابْنِ صَيَّادٍ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَتَّقِي بِجُذُوعِ النَّخْلِ فَقَالَتْ لِابْنِ

---

(١) فتح البارى : ١٠\ ٦٧٤)
(٢) عمدة القارى : ٢٢\ ١٩٨)

صَيَّادٍ أَيْ صَافِ وَهُوَ اسْمُهُ هَذَا مُحَمَّدٌ فَتَنَاهَى ابْنُ صَيَّادٍ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ تَرَكَتْهُ بَيَّنَ. قَالَ سَالِمٌ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي النَّاسِ فَأَثْنَى عَلَى اللَّهِ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ ثُمَّ ذَكَرَ الدَّجَّالَ فَقَالَ إِنِّي أُنْذِرُكُمُوهُ وَمَا مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا وَقَدْ أَنْذَرَهُ قَوْمَهُ لَقَدْ أَنْذَرَهُ نُوحٌ قَوْمَهُ وَلَكِنِّي سَأَقُولُ لَكُمْ فِيهِ قَوْلًا لَمْ يَقُلْهُ نَبِيٌّ لِقَوْمِهِ تَعْلَمُونَ أَنَّهُ أَعْوَرُ وَأَنَّ اللَّهَ لَيْسَ بِأَعْوَرَ قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ خَسَأْتُ الْكَلْبَ بَعَّدْتُهُ خَاسِئِينَ مُبْعَدِينَ [ر:١٢٨٩]

دحضرت عبد الله بن عمر نه روایت دې ، دوی بیان کړیدي چه د حضرت عمر بن خطاب د رسول الله ﷺ سره سره د څو اصحابو ابن صیاد ته روان شو ، د بنی مغاله د محلي د هلکانو سره ئې دې په لوبو اولیدلو ، دغه وخت دې د بلوغ عمر ته نزدې وو ، ده ته د دوی ﷺ د تشریف راوړو علم او نه شو ، تر دې چه رسول الله ﷺ د ده په شا باندې خپل لاس اووهلو ، بیا ئې اوفرمائل : آیا ته ګواهی ورکوې چه څه د الله تعالی رسول یم ؟ ده دوی طرف ته اوکتل او وې ویل : څه ګواهی ورکوم چه ته د اُمیانو رسول ئې ، بیا ابن صیاد اوویل : ته ګواهی ورکوې چه څه د الله تعالی رسول یم ؟ نبي اکرم ﷺ ده ته دیکه ورکړه - بیا ئې اوفرمائل : ما په الله او د ده په رسولانو ایمان راوړې دې ، بیا ئې د ابن صیاد نه تپوس اوکړو : د ستا (د خپل ځان) څه خیال دې ؟ نو ده اوویل ما ته رښتوني او دروغژن دواړه قسم سړی راځي ، دوی اوفرمائل : د ستا معامله مشتبه شوه ، (بیا) رسول الله ﷺ اوفرمائل : ما د ستا دپاره یو خبره په زړه کښې پټه ساتلي ده ، ده اوویل : دا "دخ" ده ، دوی اوفرمائل : دفع شه ته به کله هم د خپلې مرتبې نه واونړې ، حضرت عمر عرض اوکړو : آیا تاسو اجازت راکوئ چه څه د ده څټ پریکړم ؟ دوی ﷺ اوفرمائل : کُه دا هم هغه کس (یعنی دجال) دې نو ته به په ده قابو بیا نه مومې ، او کُه دې هغه کس نه وی نو دده په قتل کولو کښې تا ته څه فائده نشته دې ، د سالم بیان دې چه عبد الله بن عمر بیان کولو او ما واوریدل چه دینه پس رسول الله ﷺ او ابي بن کعب انصاری د هغې باغ په قصد روان شو ، چه کوم ځائې ابن صیاد وو ، تر دې چه کله رسول الله ﷺ باغ ته ننوتلو نو د اونو نه پناه پناه تللو او مقصد ئې دا وو چه د ابن صیاد څه خبرې واوری وراندې د دینه چه دې ده لره اووینی ، دغه وخت ابن صیاد په خپله بستره کښې په یو څادر کښې پروت وو چه دیکښې ده څه ګنګوسې کولو ، د ابن صیاد مور نبی کریم ﷺ اولیدلو چه د اونو په پناه پناه تشریف راوړی ، دې ابن صیاد ته اوویل : اے صاف (دا دده نوم وو) دا محمد (ﷺ) را روان دې ، نو ابن صیاد ګنګوسې بند کړو ، رسول الله ﷺ اوفرمائل : کُه دې ده لره پریخوذې وې نو اصل حقیقت به واضح شوې وو ، د سالم بیان دې چه عبد الله اوویل : رسول الله ﷺ خلقو کښې اودریدو او د الله ئې هغه تعریف بیان کړو چه د هغې دې حقدار دې ، بیا ئې د دجال ذکر اوکړو او وې فرمائل : چه څه تاسو د ده نه یروم او یو نبي هم داسې نه دې تیر شوې چه هغه خپل قوم د ده نه نه وی یرولې ، نوح علیه السلام خپل قوم د ده نه یرولې دې ، خو څه تاسو ته یو داسې خبره ښائم چه هیڅ یو نبی خپل قوم ته نه ده خودلې ، تاسو پوهه شئ چه دې به کاڼړه (چِغوت) وی او الله تعالی کاڼړه نه دې -

اخسَأ عربي ژبه کښې د سپي د شړلو او د دفع کولو دپاره په اصل کښې استعماليږی خو بيا د دې استعمال عام شو او د هر هغه کس دپاره چه کوم څه ذليل حرکت يا نامناسب خبره يا کار اوکړی استعماليدل شروع شو ، (١) قرآن کريم کښې د جهنميانو په باره کښې دی چه دوی ته به اوويلې شی (اخسئوا فيها ولا تكلمون)(٢)
د امام بخاری رحمه الله مقصد دا دې چه کوم کس ددې جُملې اهل دې هغه دپاره د دې استعمالول جائز دي لکه چه احاديث د باب کښې رسول الله ﷺ د " ابن صياد " دپاره دا کلمه استعمال کړيده - (٣)

قوله: ابن صياد: احاديث د باب کښې د ابن صياد ذکر دې ، دې د مدينې منورې يو يهودې کورنۍ کښې پيدا شوې وو ، د دجال چه کوم صفات دی په ديکښې ډير صفات په ده کښې موجود وو ، حضرت عبد الله بن عمر او حضرت جابر خو په قسم به ويلې چه هم ابن صياد دجال دې (٤) او بعض روايتونو کښې دی چه دې مسلمان مړ شويدې - (٥)
رسول الله ﷺ ده ته تشريف راوړې او په زړه کښې ئې دنه د سورة دخان آيت (يوم تأتي السماء بدخان مبين) پټ کړو ، ابن صياد ته ئې اوويل : "خبأت لك خبيئًا " يعنی ما د ستا دپاره يو خبره پټه کړيده ته اووايه هغه کومه خبره ده ؟ ده اوويل " دخ" پوره " دخان" ئې اونه ويلې ، کاهن هم دارنګه نيمه خبره ښائی ، دوی ﷺ اوفرمائل : اخسأ، فلن تعدو قدرك ، دفع شه ، ته به کله هم د خپل مرتبې او حيثيت نه وړاندې کيدې نه شې ، يعنی دا شيطانی القاء ده او دا هم دارنګه ناقص وی -

قوله: وهو يختل أن يسمع من ابن صياد........: يعنی رسول الله ﷺ د غفلت په حالت کښې ده نه څه اوريدل غوښتل ، دې وجه نه ئې حيله کوله ، **قطيفة** : څادر او کمبل ته وائی - رَمرَمة او زمزمة د دواړو يو معنی ده ، غلې اواز او ګنګوسو ته وائی -
أى صاف: أی حرف نداء او صاف د ده نوم وو - (٦)
روايت په باب د جنائز کښې په تفصيل تير شويدې - (٧)

---

(١) فتح الباری : ١٠\٦٨٧ ، ارشاد الساری : ١٣\١٨٠ ، عمدة القاری : ٢٢\١٩٨ ، شرح صحيح البخاری لابن بطال : ٩\٣٣٣) ،
(٢) سورة المؤمنون : ١٠٨)
(٣) فتح الباری : ١٠\٦٨٧ عمدة القاري : ٢٢\١٩٨ ، ارشاد الساری : ١٣\١٨٠)
(٤) ارشاد الساری : ١٣\١٣\١٨٢ - ١٨٣)
(٥) عمدة القاری : ٢٢\١٩٩ ، شرح ابن بطال : ٩\٣٣٦ - ٣٣٥)
(٦) عمدة القاری : ٢٢\١٩٩)
(٧) صحيح البخاری ، باب إذا أسلم الصبی فمات هل يصلی عليه و هل يعرض عليه الإسلام : (رقم الحديث : ١٣٥٤)

قوله: قال أبوعبدالله: خسأت الكلب: بعدته، خاسئين: مبعدين: امام بخاری رحمه الله فرمائی: د خسأت الكلب معنی ده، ما سپی اوشړلو، سورة اعراف آیت کښې دی (قلنا لهم كونوا قردة خاسئين) (۱) دیکښې د خاسئین معنی مبعدین دې یعنی د الله تعالیٰ د رحمت نه لرې کړې شئ -

۹۸=بَاب قَوْلِ الرَّجُلِ مَرْحَبًا

وَقَالَتْ عَائِشَةُ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِفَاطِمَةَ عَلَيْهَا السَّلَام مَرْحَبًا بِابْنَتِي [ر:۳۴۲۶]
وَقَالَتْ أُمُّ هَانِئٍ جِئْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَرْحَبًا بِأُمِّ هَانِئٍ [ر:۳۵۰]
[۵۸۲۲] حَدَّثَنَا عِمْرَانُ بْنُ مَيْسَرَةَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ حَدَّثَنَا أَبُو التَّيَّاحِ عَنْ أَبِي جَمْرَةَ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ لَمَّا قَدِمَ وَفْدُ عَبْدِ الْقَيْسِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَرْحَبًا بِالْوَفْدِ الَّذِينَ جَاءُوا غَيْرَ خَزَايَا وَلَا نَدَامَى فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا حَيٌّ مِنْ رَبِيعَةَ وَبَيْنَنَا وَبَيْنَكَ مُضَرُ وَإِنَّا لَا نَصِلُ إِلَيْكَ إِلَّا فِي الشَّهْرِ الْحَرَامِ فَمُرْنَا بِأَمْرٍ فَصْلٍ نَدْخُلُ بِهِ الْجَنَّةَ وَنَدْعُو بِهِ مَنْ وَرَاءَنَا فَقَالَ أَرْبَعٌ وَأَرْبَعٌ أَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَصُومُوا رَمَضَانَ وَأَعْطُوا خُمُسَ مَا غَنِمْتُمْ وَلَا تَشْرَبُوا فِي الدُّبَّاءِ وَالْحَنْتَمِ وَالنَّقِيرِ وَالْمُزَفَّتِ [ر:۵۳]

د حضرت ابن عباس نه روایت دې، دوی بیان کوی چه کله د عبد القیس وفد نبی کریم ﷺ خدمت ته حاضر شو، نو دوی اوفرمائل مرحبا هغه وفد ته چه راغلو، دوی دې رسوا او شرمسار نه وی، دې خلقو عرض اوکړو، اے د الله رسوله مونږ د قبیلې د ربیعه سره تعلق لرو او خمونږ او د ستاسو مینځ کښې مضر دی، نو دې وجه نه مونږ د ستاسو په خدمت کښې صرف په اشهر د حرم کښې حاضریدې شو، دې وجه نه مونږ ته یو داسې جدا شوې امر اوښائې چه مونږ په دې عمل اوکړو او جنت ته داخل شو او د خپل ځان نه روستو پاتې کیدونکو ته د دې دعوت ورکړو، دوی اوفرمائل: څلور او څلور خبرې دی (یعنی څلور خبرې د کولو او د څلورو خبرو نه بندیدل دی) مونځ قائم کړئ، زکات ورکړئ، د رمضان روژې اونیسئ، د غنیمت د مال پنځمه حصه ورکړئ، او په دباء، حنتم، نقیر او مزفت کښې څکل مه کوئ (د دې لوښو تفصیل په کتاب الایمان کښې تیر شویدې)

د ترجمة الباب مقصد: په هره ژبه کښې د استقبال دپاره څه مخصوص کلمات وی په دې کلماتو سره په وخت د راتلو د میلمه استقبال کیږی، لکه چه په فارسئ کښې "خوش آمدید" دې دارنګه په عربئ کښې "مرحبا" دې او "اهلاً و سهلاً" دې، د امام بخاری رحمه الله مقصد دا دې چه د دارنګه کلماتو استعمال د رسول الله ﷺ نه ثابت دې، مرحبا "مفعول به یا مفعول مطلق کیدو په وجه منصوب دې (۲)،

(۱) ۱۲۹ سورة الاعراف: ۱۶۶)
(۲) عمدة القاری: ۲۲\۲۰۰، الابواب و التراجم: ۲\۱۱۸، فتح الباری: ۱۰\۶۸۸)

اصمعی ددې معنی بیان کړیده ألقیت رحباو سعة(١) یعنی ته دې فراختیا اووسعت بیا مومې
د باب ږومبې روایت کتاب المناقب، باب علامات النبوة فی الإسلام، دویم روایت کتاب الصلوة، باب
الصلوة فی الثوب الواحد ملتحفا به او دریم روایت کتاب الإیمان باب أداء الخمس من الإیمان کښې تیر
شویدې -

۹۹=بَابُ مَا يُدْعَى النَّاسُ بِآبَائِهِمْ

[۵۸۲۲\۵۸۲۳] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْغَادِرَ يُرْفَعُ لَهُ لِوَاءٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُقَالُ هَذِهِ غَدْرَةُ فُلَانِ بْنِ فُلَانٍ [ر:۳۰۱۶]

[۵۸۲۳] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْغَادِرَ يُنْصَبُ لَهُ لِوَاءٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُقَالُ هَذِهِ غَدْرَةُ فُلَانِ بْنِ فُلَانٍ

" مایدعی کښې "ما" مصدریه موصول حرفی دې او " یدعی " ددې صله ده ، دواړه ملاو شو
د " دعا" مصدر په معنی کښې شو ، او " الناس " مفعول به دې او فاعل ئې محذوف دې أی
باب دعاء الداعی الناس بأسمائهم آبائهم یوم القیامة(٢)
مقصد دا دې چه د قیامت په ورځ به هر کس ته د ده د پلار په نوم سره " فلان بن فلان "
ویلې کیږی او اواز به ورته ورکړې کیږی -
روایت د باب کښې دی ، رسول الله ﷺ اوفرمائل چه دهوکه کوونکې دپاره به د قیامت
بیرغ (جنډا) اوچته کړې شی او دا به اوویلې شی دا د فلانی د خوی د فلانی دهوکه ده -
شارح د بخاری ابن بطال رحمه الله فرمائی چه په زمانه د جاهلیت کښې به وعده خلافی
کوونکې دپاره یو جنډا په ورځو د حج کښې اوچته کړې شوه چه دا د فلان ابن فلان د وعده
خلافئ جنډا ده - په جنډې سره چه د یو څیز شهرت ډیر زیات کیږی دې وجه نه دا به غوره
کیدلو >(٣)
بهر حال د امام بخاری رحمه الله مقصود دا دې چه د قیامت په ورځ به په پلار ته نسبت اوشی
او آواز به اوشی ، سنن ابي داود کښې د حضرت ابو الدرداء ﷺ یو مرفوع روایت نقل دې
دیکښې دی "إنكم تدعون يوم القيامة بأسمائكم و أسماء آبائكم، فأحسنوا أسمائكم "(٤) (د قیامت په
ورځ به تاسو په خپلو او د خپلو پلارانو په نومونو رابللې کیږئ ، دې وجه نه خپل بنائسته

١) عمدة القاری : ٢٢ \ ٢٠٠ ، الابواب و التراجم : ٢ \ ١١٨ ، فتح الباری : ١٠ \ ۶٨٨)
٢) ارشاد الساری : ١٣ \ ١٨٣ ، عمدة القاری : ٢٢ \ ٢٠١)
٣) عمدة القاری : ٢٢ \ ٢٠١)
٤) الحديث أخرجه أبوداود فی كتاب الأدب ، باب فی تغيير الأسماء : ٢ \ ٣٢٠)

نومونه کیږدی، دا حدیث د امام بخاری رحمه الله په مقصد کښې بالکل صریح دې خو چه د بخاری په شرط نه دی دې وجه نه دلته ئې ذکر نه کړو -

د قیامت په ورځ به پلار ته نسبت کیږی او اواز به ورته کیږی ، حافظ ابن حجر فرمائی :

وهو يقتضي حمل الآباء على من كان ينسب إليه في الدنيا لا على من هو في نفس الأمر، وهو المعتمد" (١)

یعنی دنیا کښې چه د ده کوم سړې ته د خوې کیدو په حیثیت نسبت کیږی قیامت کښې به هم ده ته په دغه نسبت اواز کیږی ، په نفس الامر او په حقیقت کښې د ده خوې دې او که نه ؟ دیته به نه کتلې کیږی

دینه معلومه شوه چه شریعت کښې په ظاهر امر عمل کیږی - (٢)

١٠٠= بَاب لَا يَقُلْ خَبُثَتْ نَفْسِي

[٥٨٢٥] (٣) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَقُولَنَّ أَحَدُكُمْ خَبُثَتْ نَفْسِي وَلَكِنْ لِيَقُلْ لَقِسَتْ نَفْسِي

[٥٨٢٦] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ عَنْ يُونُسَ عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ بْنِ سَهْلٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَقُولَنَّ أَحَدُكُمْ خَبُثَتْ نَفْسِي وَلَكِنْ لِيَقُلْ لَقِسَتْ نَفْسِي تَابَعَهُ عُقَيْلٌ

حدیث شریف کښې د " خبثت نفسی " ویلو نه منع راغلې ده ، دروغو ، خرابی ، بدی او بدکرداریٔ ته خباثت او ددې کوونکې ته خبیث ویلې کیږی ، که د چا په مزاج کښې څه خرابی راشی یا ده نه څه بد کار اوشی نو حدیث کښې د دې یو طریقه خودلې شویده چه په داسې موقع به " خبثت نفسی " نه وائی بلکه لَقِسَت " وائی ، د دې هم هغه معنی ده خو د " خبثت " معنی زیاته شنیع ده ، ابن بطال فرمایی حدیث کښې نهی د وجوب دپاره نه ده - (٤)

ډیر کرته دوه لفظونه د یو معنی دپاره استعمالیږی خو یو شناعت د بل په مقابله کښې زیات وی ، مثلاً که ته چا ته " بې وقوف " اووائې نو هغه به دومره نه محسوسوی چه څومره به دې محسوسوی چه کله ده ته " خر " اوویلې شی ، حال دادې چه دده په حق کښې بې وقوف او خر په یو معنی کښې مستعمل دې - (٥)

---

(١) فتح الباري : ١٠ \ ٢٨٩)

(٢) عمدة القاري : ٢٢ \ ٢٠١ . فتح الباري : ١٠ \ ٢٨٩)

(٣) ٥٨٢٥) الحديث أخرجه مسلم في كتاب الأدب و باب كراهة قول الإنسان : خبثت نفسي : ٤ \ ١٧٦٥ (رقم الحديث : ٢٢٥٠) و أخرجه النسائي في كتاب عمل اليوم و الليلة . باب النهي أن يقول : خبثت نفسي : ٦ \ ٢٦٠ (رقم الحديث : ١٠٨٨٨)

(٤) شرح ابن بطال : ٩ \ ٣٣٦)

(٥) فيض الباري : ٤ \ ٣٩٩)

د باب په آخر کښې د عقيل متابعت طبرانی موصولاً نقل کړيدې - (١)

١٠١=بَابُ لَا تَسُبُّوا الدَّهْرَ

[٥٨٢٧\٥٨٢٨] (٢) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يُونُسَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَخْبَرَنِي أَبُو سَلَمَةَ قَالَ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللَّهُ يَسُبُّ بَنُو آدَمَ الدَّهْرَ وَأَنَا الدَّهْرُ بِيَدِي اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ

[٥٨٢٨] حَدَّثَنَا عَيَّاشُ بْنُ الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تُسَمُّوا الْعِنَبَ الْكَرْمَ وَلَا تَقُولُوا خَيْبَةَ الدَّهْرِ فَإِنَّ اللَّهَ هُوَ الدَّهْرُ [ر: ٣٥٤٩]

زمانې ته بد ويل نه دی پکار : زمانې ته بد رد ويل د بعضو خلقو عادت جوړ شوې وی ، وائی ، زمانه ډيره خرابه ده ، زمانه منحوس ده ، په حديث کښې زمانې ته بد رد ويلو نه منع راغلې ده، الله فرمائی : أنا الدهر ..... دلته مضاف محذوف دې أی أنا مصرّف الدهر يا أنا مقلّب الدهر يا أنا خالق الدهر (٣) يعنی زمانې ته کنځل مه کوئ ځکه چه زمانه کښې څومره انقلابات ، تبديلئ او حوادث او واقعات راپيښيږی ، دا د الله تعالی په حکم او په مرضئ سره کيږی ، لکه چه د مسند احمد يو روايت کښې حضرت ابوهريره نه نقل دی "لا تسبوا الدهر، فإن الله تعالى قال : أنا الدهر، الأيام و الليالي لي أجددها ، و أبليها ، آتي بملوك بعد ملوك" (٤) (يعنی زمانې ته کنځل مه کوئ ځکه چه الله تعالی فرمائی هم څه په زمانه کښې تصرف کوونکې يم ، د شپې او ورځ بدليدل ځما په قدرت کښې دی ، هم څه دا نوی کوم او زړوم ، او هم څه باچايان بدلوم -)

امام بخاری رحمه الله چه کوم روايت ذکر کړيدې ، ديکښې اگر چه صراحتًا د سبِّ دهر نه منع نه ده شوې ، بيا هم د مسلم په روايت کښې د "لا تسبوا" تصريح شته دې - (٥)

په حقيقت کښې په دې حديث کښې په دهريانو باندې رد دې ځکه چه دوی د هر کار او واقعې نسبت زمانې ته کوی -

---

(١) فيض الباري : ١٠ \ ٦٩٠ ، ارشاد الساري : ١٣ \ ١٨٦)

(٢) ٥٨٢٧) الحديث أخرجه مسلم فی كتاب الألفاظ من الأدب و غيرها و باب النهی من سب الدهر : ٤ \ ١٧٦٢ (رقم الحديث : ٢٢٤٦) و أخرجه النسائی فی كتاب التفسير ، باب قوله تعالى : " و قالوا ما هی إلا حياتنا الدنيا نموت و نحی و ما يُهلكنا إلا الدهر (سورة الجاثية) : ٦ \ ٤٥٧ (رقم الحديث : ١١٤٨٦) و أخرجه أبوداود فی كتاب الأدب ، باب فی الرجل يسب الدهر : ٤ \ ٣٦٩ (رقم الحديث : ٥٢٧٤)

(٣) عمدة القاري : ٢٢ \ ٢٠ ، ارشاد الساري : ١٣ \ ١٨٧)

(٤) الحديث أخرجه أحمد فی مسنده : ٢ \ ٤٩٦)

(٥) الحديث أخرجه مسلم فی كتاب الألفاظ ، باب النهی عن سب الدهر : ٢ \ ٢٣٧)

زمانې لره خالق د واقعاتو ګنړل او د واقعاتو او د حوادثو ديته نسبت کول خو بالاتفاق کفر ، باطل او حرام دې خو کُه څوک ئې خالق نه ګنړی بلکه زمانې ته ددې حوادثو څکه نسبت کوی چه زمانه ددې ظرف ده نو داسې نسبت کول حرام نه دی خو مکروه دی - (١)

قوله: لا تسموا العنب الكرم، ولا تقولوا: خيبة الدهر: انګورو ته ګرم وائی ، دوی د " ګرم " ويلو نه منع اوکړه ، خيبة الدهر منصوب على الندبه دې - (٢)

مولانا انورشاه کشميری رحمه الله په فيض البارى کښې ليکلې دی چه شيخ اکبر فرمائی " دهر" په اسماء حسنی کښې دې، امام رازی رحمه الله ليکلې دی چه دوی ته بعض مشائخو د يا دهر، يا ديهار، ياد يهوروظيفه ورکړې ده - (٣) دينه معلوميږی چه دا د دوی په نزد د الله په نومونوکښې دې، خوقاضی عياض رحمه الله دده ترديد کړيدې ، او ويلې دی چه دا غلطه ده، دهر يو طويل مُدې ته وائی - دا په نومونو د الله تعالی کښې شميرل صحيح نه دی - (٤)

١٠٢= بَاب قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا الْكَرْمُ قَلْبُ الْمُؤْمِنِ

وَقَدْ قَالَ إِنَّمَا الْمُفْلِسُ الَّذِي يُفْلِسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَقَوْلِهِ إِنَّمَا الصُّرَعَةُ الَّذِي يَمْلِكُ نَفْسَهُ عِنْدَ الْغَضَبِ [ر:٥٧٦٣]

كَقَوْلِهِ لَا مُلْكَ إِلَّا لِلَّهِ فَوَصَفَهُ بِانْتِهَاءِ الْمُلْكِ ثُمَّ ذَكَرَ الْمُلُوكَ أَيْضًا فَقَالَ إِنَّ الْمُلُوكَ إِذَا دَخَلُوا قَرْيَةً أَفْسَدُوهَا [النمل:٣٤]

[٥٨٢٩] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيَقُولُونَ الْكَرْمُ إِنَّمَا الْكَرْمُ قَلْبُ الْمُؤْمِنِ [ر:٣٥٣٩]

ګرم کاف په فتحه او راء په سکون او فتحه دواړو سره مصدر دې او د کريم په معنی کښې دې ، انګورو ته به په زمانه د جاهليت کښې ګرم ويلې کيدلو ، څکه چه دينه به شراب جوړيدل ، او د دوی خيال وو چه شراب د مکارم اخلاق .... د سخاوت او د بهادرئ وغيره سبب دې - (٥)

حضور اکرم ﷺ ددې پس منظر د وجه نه انګورو ته د کرم ويلو نه منع اوکړه، او وې فرمائل: ګرم خو د مؤمن زړه دې حديث کښې دی "إنما الكرم..." د "إنما" استعمال شويدې چه

(١) فتح البارى : ١٠\٦٩٢ ، ارشاد السارى : ١٣\١٨٧)
(٢) ارشاد السارى : ١٣\١٨٧ ، فتح البارى : ١٠\٦٩٢، عمدة القارئ : ٢٢\٢٠٣)
(٣) فيض البارى : ٤\٣٩٩)
(٤) فتح البارى : ١٠\٦٩٢)
(٥) عمدة القارى : ٢٢\٢٠٣ ، فتح البارى : ١٠\٦٩٤ ، ارشاد السارى : ١٣\١٨٨)

د حصر دپاره راخي ، امام بخاري رحمه الله فرمائي چه دلته دا د حصر دپاره نه دې ، دا مطلب نه دې چه د قلب د مؤمن نه علاوه په بل څيز د " کرم " اطلاق نه شي کيدې بلکه مقصد دا دې چه " قلب د مؤمن " د کرم ويلو زيات حقدار دې -

امام بخاري رحمه الله ددې نور مثالونه هم پيش کړيدي مثلاً حديث کښې دی " إنما المفلس الذی يُفلس يوم القيامة " .... پوره حديث امام ترمذی رحمه الله نقل کړيدې ، د دې الفاظ دي:

" أتدرون من المفلس ، قالوا : المفلس فينا يا رسول الله ، من لا درهم له ولا متاع ، قال رسول الله صلى الله عليه و سلم : المفلس من أمتي من يأتي يوم القيامة بصلاة ، و صيام ، و زكاة ، و يأتي قد شتم هذا ، و سفك دم هذا ، و ضرب هذا ، فيقتص هذا من حسناته ، و هذا من حسناته ، فإن فنيت حسناته ، أخذ من خطاياهم ، فطرح عليه ، ثم طرح في النار " ([1])

(... حضور ﷺ د اصحابو نه تپوس اوکړو ، تاسو ته پته شته چه مفلس څوك دې ؟ اصحابو اوويل : مفلس هغه کس دې اے د الله رسوله ! چه چا سره نه درهم وی او نه سازوسامان وی ، حضور ﷺ اوفرمائل : " څما د امت مفلس هغه کس دې چه د قيامت په ورخ مونځ ، روژه او زکات خان سره راوړی خو يو سړې راشی چه ده ته ده په دنيا کښې کنځل کړې وی بل به راشي چه ده به د ده وينه توې کړې وی ، بل به يې وهلې وی ، دا ټول به د ده د نيکو نه خپله بدله واخلی ، چه کله د ده نيکئ ختم شی نو د دوی بدئ به د ده په عملنامه کښې واچولې شی بيا به دې په جهنم کښې واچولې شی نو دا سړې په حقيقت کښې مفلس دې -)

داسې سړې ته مفلس ويلې شويدی او په حديث کښې د " انما " لفظ استعمال شويدې خو د دې دامطلب نه دې چه دنيا کښې ديو فقيرسړی دپاره د مفلس لفظ استعمالول نه دی پکار-

دويم مثال دې " إنما الصرعة الذی يملك نفسه عند الغضب " ديکښې هم د " صرعة " لفظ د هر پهلوان دپاره استعماليدې شی ، خو د " انما " لفظ ئې راوړو دا ئې اوخودله چه په خپل نفس باندې قابو ساتونکې د دې لفظ زيات حقدار دې

دريم مثال دې ... لا مَلِكَ إلا الله دې يعنی حقيقی بادشاه صرف الله دې ، بعض نسخو کښې دی " لا مُلْكَ إلا الله چه اصل او حقيقی حکومت او بادشاهت خو صرف د الله دپاره دې ، بيا هم د نياوی حکمرانو دپاره هم دا استعماليږی ، لکه چه خپله قرآن کريم د سورة نمل آيت (إن الملوك إذا دخلوا قرية ....) کښې د دنياوی حاکمانو دپاره د ملوك لفظ استعمال کړيدې -

بهر حال حاصل دا دې چه د کرم لفظ ويلو زيات حقدار د مؤمن زړه دې ، څکه چه ديکښې د ايمان رنړا ، د اسلام تقوی او د الله ياد پروت وی - ([2])

[1]) الحديث أخرجه الترمذی فی أبواب صفة القيامة ، باب ما جاء فی شأن الحساب ، القصاص : ٢ \ ٦٨)

[2]) فتح الباری : ١٠ \ ٦٩٤ ، عمدة القاری : ٢٢ \ ٢٠٣ و ارشاد الساری : ١٣ \ ١٨٨)

١٠٣=بَاب قَوْلِ الرَّجُلِ فِدَاكَ أَبِي وَأُمِّي

فِيهِ الزُّبَيْرُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ر:٣٥١٥]

[٥٨٣٠] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ سُفْيَانَ حَدَّثَنِي سَعْدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَدَّادٍ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ مَا سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُفَدِّي أَحَدًا غَيْرَ سَعْدٍ سَمِعْتُهُ يَقُولُ ارْمِ فَدَاكَ أَبِي وَأُمِّي أَظُنُّهُ يَوْمَ أُحُدٍ [ر:٢٧٤٩]

"زما مور پلار دې په تا قربان وی ..." دا جمله که د چا دپاره استعمال کړې شی نو جائز ده ، حضرت حسن بصری وغیره نه ددې کراهت منقول دې خو جمهور دا مطلقا جائز وایی (١) ځکه چه رسول الله ﷺ په اصحابو حضراتو کښې د دوه سړو دپاره دا جمله استعمال کړېده . یو د حضرت زبیر بن العوام دپاره او بل د حضرت سعد بن ابی وقاص دپاره -

روایت د باب کښې حضرت علی فرمائی چه ما د حضرت سعد بن ابی وقاص نه علاوه بل چا دپاره نه دي اوریدلې چه ده ته رسول الله ﷺ "فداك أبي وأمي" ویلې وی -

دا حضرت علی د خپل علم او د سماع مطابق اوویلې ، گنی حضور ﷺ دحضرت زبیر بن العوام دپاره هم دا جمله استعمال کړیده - (٢)

حدیث دباب په کتاب المغازی ، باب (إذ همت طائفتان منكم أن تفشلا ...) او کتاب الجهاد ، باب المجن و من يتترس بترس صاحبه کښې تیر شویدې -

١٠٤=بَاب قَوْلِ الرَّجُلِ جَعَلَنِي اللَّهُ فِدَاكَ

وَقَالَ أَبُو بَكْرٍ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَيْنَاكَ بِآبَائِنَا وَأُمَّهَاتِنَا [ر:٣٦٩١]

[٥٨٣١] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّهُ أَقْبَلَ هُوَ وَأَبُو طَلْحَةَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَفِيَّةُ مُرْدِفُهَا عَلَى رَاحِلَتِهِ فَلَمَّا كَانُوا بِبَعْضِ الطَّرِيقِ عَثَرَتْ النَّاقَةُ فَصُرِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْمَرْأَةُ وَأَنَّ أَبَا طَلْحَةَ قَالَ أَحْسِبُ اقْتَحَمَ عَنْ بَعِيرِهِ فَأَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا نَبِيَّ اللَّهِ جَعَلَنِي اللَّهُ فِدَاكَ هَلْ أَصَابَكَ مِنْ شَيْءٍ قَالَ لَا وَلَكِنْ عَلَيْكَ بِالْمَرْأَةِ فَأَلْقَى أَبُو طَلْحَةَ ثَوْبَهُ عَلَى وَجْهِهِ فَقَصَدَ قَصْدَهَا فَأَلْقَى ثَوْبَهُ عَلَيْهَا فَقَامَتْ الْمَرْأَةُ فَشَدَّ لَهُمَا عَلَى رَاحِلَتِهِمَا فَرَكِبَا فَسَارُوا حَتَّى إِذَا كَانُوا بِظَهْرِ الْمَدِينَةِ أَوْ قَالَ أَشْرَفُوا عَلَى الْمَدِينَةِ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ فَلَمْ يَزَلْ يَقُولُهَا حَتَّى دَخَلَ الْمَدِينَةَ [ر:٢٩١٩]

---

(١) الابواب و التراجم : ١٢\١١٩ ، تعليقات لامع الدراری : ١٠\٣٧)

(٢) ارشاد الساری : ١٣\١٨٩)

د حضرت انس نه روايت دې چه دې او ابوطلحه د رسول الله ﷺ سره مدينې ته راغلل ، د حضور سره حضرت صفيه وه چه دوى ﷺ دا خپل خان پسې په سوارلئ سوره كړې وه ، په لاره كښې په يو ځاى كښې د اوښې پښه اوخويدله نو نبى كريم ﷺ او حضرت صفيه دواړه راپريوتل ، ابو طلحه د خپلې سوارلئ نه راكوز شو او رسول الله ﷺ ته راغلو او تپوس ئې اوكړو : اے د الله رسوله ! الله دې ما په تا قربان كړې آيا تا ته څه تكليف در اورسيدو ، نو حضور ﷺ اوفرمائل : نه خو د ښځې (حضرت صفيه) خبر واخله ، نو ابوطلحه خپله يو جامه په خپل مخ واچوله او حضرت صفيه ته ئې د تلو قصد اوكړو او ده خپله جامه د دې په مخ واچوله ، نو دا اودريدله ، ابو طلحه دواړو دپاره كجاوه اوتړله او صحيح ئې كړه ، نو دا دواړه سواره شو او روان شو ، چه كله مدينې منورې ته نزدې شو نو د رسول الله ﷺ په ژبه مباركه دا الفاظ جارى شو آئبون تائبون ، عابدون ، لربنا حامدون (مونږ واپس كيدونكې يو ، توبه كوونكې يو ، عبادت كوونكې يو د خپل رب حمد بيانوونكې يو) دوى ﷺ مسلسل دا كلمات ويلې تر دې چه مدينې ته داخل شو -

قوله: قَال : أحسب اقتحم عن بعيره : حضرت انس ﷺ فرمائى چه څما خيال دې ابوطلحه د خپل اوښ نه راټوپ كړو ، د اقتحام معنى د راټوپ كولو ده -

د ترجمة الباب مقصد : د امام بخارى رحمه الله مقصد دا دې چه كه يو سړې د خپل مشر ، يا د يو استاذ او مربى يا د يو محبوب دوست دپاره دا جمله استعمال چه " الله دې ما په تا قربان كړى " نو دا جائز ده -

امام بخارى رحمه الله شايد د دې روايت تضعيف ته اشاره كول غواړى چه كوم مبارك بن فضاله د حضرت حسن بصرى نه نقل كړيده چه حضرت زبير بن العوام ﷺ د رسول الله ﷺ بيمار پرسئ دپاره راغلو ، دوى بيمار وو نو دوى چه رانوتل نو وې ويل : "كيف تجدك -- جعلنى الله فداك -- (د ستاسو طبيعت څنګه دې الله دې ما په تاسو قربان كړى) نو حضور ﷺ اوفرمائل : ماتركت أعرابيتك بعدِ (١) (تا لا تراوسه خپل بانډيتوب پريخودې نه دې)

د دې روايت نه معلوميږى چه دا جمله استعمالول صحيح نه دى خو دا حديث د صحيح احاديثو په مقابله كښې قابل د حجت نه دې - (٢)

روايات د باب كښې حضرت صديق اكبر " فديناك بآبائنا و أمهاتنا " د حضور ﷺ دپاره استعمال كړيدې ، دارنګه حضرت ابوطلحه " جعلنى الله فداك " استعمال كړيدې ، او دوى ﷺ پرې څه بد اونه ګڼړل -

روايت د باب كتاب الجهاد، باب مايقول إذا رجع من الغزو كښې تير شويدې -

---

(١) الابواب و التراجم : ٢ \ ١١٩ ، فتح البارى : ١٠ \ ٦٩٦ ، ٦٩٧ ، تعليقات لامع الدرارى : ١٠ \ ٣٧ ، ارشاد السارى : ١٣ \ ١٩١)....

(٢) الابواب و التراجم : ٢ \ ١١٩ ،فتح البارى : ١٠ \ ٦٩٧ ، ارشاد السارى : ١٣ \ ١٩١)

١٠٥= بَاب أَحَبّ الْأَسْمَاءِ إِلَى اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ

[٥٨٣٢] حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ الْفَضْلِ أَخْبَرَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُنْكَدِرِ عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ وُلِدَ لِرَجُلٍ مِنَّا غُلَامٌ فَسَمَّاهُ الْقَاسِمَ فَقُلْنَا لَا نَكْنِيكَ أَبَا الْقَاسِمِ وَلَا كَرَامَةَ فَأُخْبِرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ سَمِّ ابْنَكَ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ [ر: ٢٩٣٦]

د بخاری په روایت کښې تصریح نشته دې خو د مسلم شریف په روایت کښې شته دې چه د الله په نزد د ټولو نه محبوب نوم عبد الله او عبدالرحمن دې - (١)

روایت د باب کښې دی چه حضرت جابر ﷺ فرمائی چه د یو سړی خوی پیدا شو ، ده د ده نوم " قاسم " کیخودو نو مونږ ده ته اوویل چه مونږ به د ستا کنیت " ابو القاسم " نه اږدو او نه به (درته داسې کنیت درکړو) د ستا اکرام کوو ، نبی کریم ﷺ ته چه خبر اوشو نو دوی ﷺ ده ته اوویل ته د خپل خوي نوم عبدالرحمن کیږده -

١٠٦: بَاب قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمُّوا بِاسْمِي وَلَا تَكْتَنُوا بِكُنْيَتِي

قَالَهُ أَنَسٌ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ر: ٢٠١٣]

[٥٨٣٣] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا خَالِدٌ حَدَّثَنَا حُصَيْنٌ عَنْ سَالِمٍ عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ وُلِدَ لِرَجُلٍ مِنَّا غُلَامٌ فَسَمَّاهُ الْقَاسِمَ فَقَالُوا لَا نَكْنِيهِ حَتَّى نَسْأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ سَمُّوا بِاسْمِي وَلَا تَكْتَنُوا بِكُنْيَتِي [ر: ٢٩٣٦]

[٥٨٣٤] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ أَيُّوبَ عَنِ ابْنِ سِيرِينَ سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ أَبُو الْقَاسِمِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمُّوا بِاسْمِي وَلَا تَكْتَنُوا بِكُنْيَتِي [ر: ٣٣٣٦]

[٥٨٣٥] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ الْمُنْكَدِرِ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا وُلِدَ لِرَجُلٍ مِنَّا غُلَامٌ فَسَمَّاهُ الْقَاسِمَ فَقَالُوا لَا نَكْنِيكَ بِأَبِي الْقَاسِمِ وَلَا نُنْعِمُكَ عَيْنًا فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذٰلِكَ لَهُ فَقَالَ أَسْمِ ابْنَكَ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ [ر: ٢٩٣٦]

د ابو القاسم کنیت ایخودو کښې د عالمانو رائې : د رسول الله ﷺ کنیت " ابو القاسم " وو ، په حدیث دباب کښې ددې کنیت ایخودو نه منع شویده ، دې مسئله کښې مختلف اقوال دی:

① د اهل ظواهرو په نزد د " ابو القاسم " کنیت ایخودل مطلقًا ممنوع دې ، دوی د حدیث د ظاهره استدلال کوی - (٢)

② " ابو القاسم " کنیت ایخودل مکروه تنزیهی او خلاف د ادب دې ، حرام نه دې - (٣)

---

(١) الحديث أخرجه مسلم فى كتاب الأداب ، باب النهى عن التكنى بأبى القاسم و بيان ما يستحب من الأسماء : ٢٠٦/١٢)

(٢) فتح البارى : ٧٠٠/١٠ ، الابواب و التراجم : ١١٩/٢ ، عمدة القارى : ٢٠٦/٢٢)

(٣) عمدة القارى : ٢٠٦/٢٢ ، فتح البارى : ٧٠١/١٠ ، ارشاد السارى : ١٩٣/١٣)

③ دا نهی د نبی کریم ﷺ د زمانې سره خاص وه خکه چه دغه وخت د التباس خطره وه (۱)
ددې تائید د حضرت انس د روایت سره هم کیږی ، چه کوم امام مسلم نقل کړیدې ، دیکښې دی "نادی رجل رجلا بالبقیع : یا أباالقاسم وفالتفت إلیه رسول الله صلی الله علیه و سلم ، فقال : یا رسول الله ، إنی لم أعنك ، إنما دعوت فلانًا ، فقال رسول الله صلی الله علیه و سلم : سموا باسمی ، و لا تکنوا بکنیتی" (۲) (.... یعني بقیع کښې یو سړی د " ابوالقاسم " اواز اوکړو او یو بل سړی ئې رابللو نو حضور ﷺ ده طرفته متوجه شو ، نو ده اوویل : حضور ! تاسو نه رابلم ، فلانې کس رابلم " حضور ﷺ اوفرمائل : " تاسو خما په نوم نومونه ایږدئ خو خما کنیت مه ایږدئ ....)
د دې د ممانعت یو وجه خو دا التباس وو او دویمه وجه د مسلم شریف په روایت کښې دا راغلې ده " لاتکنوا بکنیتی ، فإنما بعثت قاسما ، أقسم بینکم " (۳) یعني خه د ستاسو په مینځ کښې علم او نیکی ا ومالونه د غنیمت تقسیموم ، نو خکه خه ابوالقاسم یم -
ړومبۍ وجه خو زمانه د نبوت سره خاص وه ، خو دویمه وجه عامه ده او ددې تقاضا ده چه د " ابوالقاسم " کنیت اوس هم کینخودې شی -
قاضی بیضاوی فرمائی چه کُه څوك خپل کنیت " ابوالقاسم " ددې وجه نه ایږدی چه دې د خیر او د نیکۍ تقسیم کوونکې دې ، نو بیا خو دا اوس هم ناجائز دې خو کُه دا وجه نه وی بلکه د ده د خوی نو مقاسم دې نو بیا جائز ده - (۴)
د جمهورو عالمانو هم دا مسلك دې (۵)
④ خلورم قول دا دې چه د رسول الله ﷺ کنیت او نوم دواړه جمع کول ناجائز دی خو کُه دواړو کښې یو اختیار کړې شی نو بلاکراهته جائز دې ، حاصل دا چه مذکوره ممانعت د هغه سړی دپاره دې چه د هغه نوم " محمد " دې ، ددې قول دلیل سنن ابی داود کښې د حضرت جابر حدیث دې " من تسمی باسمی فلایکتنی بکنیتی ، ومن اکتنی بکنیتی فلایتسمی باسمی " (۶) (چه کوم سړی خما کنیت کیخودو نو خما نوم دې نه ایږدی او چه چا خما نوم کیخودو نو خما کنیت دې نه ایږدی)
خو راجح مسلك د جمهورو دې ، او ددې تائید د حضرت علی روایت سره هم کیږی ، چه کوم امام ابوداود په خپل سنن کښې او امام بخاری رحمه الله په " الادب المفرد " کښې نقل کړیدې - هغه فرمائی " قلت : یا رسول الله ! إن ولدلی من بعدك ولد أسمیه باسمك ، و أکنیه بکنیتك ؟

(۱) فتح الباری : ۱۰ \ ۷۰۱ ، الابواب والتراجم : ۲ \ ۱۱۹ ،عمدة القاری : ۲۲ \ ۲۰۶)
(۲) الحدیث أخرجه مسلم فی کتاب الأداب ، باب النهی عن التکنی بأبی القاسم : ۲ \ ۲۰۶)
(۳) الحدیث أخرجه مسلم فی کتاب الأداب ، باب النهی عن التکنی بأبی القاسم : ۲ \ ۲۰۶)
(۴) ارشاد الساری : ۱۳ \ ۱۹۳)
(۵) ارشاد الساری : ۱۳ \ ۱۹۳)
(۶) الحدیث أخرجه ابوداود فی کتاب الأدب ، باب فیمن رأی أن لا یجمع بینهما : ۲ \ ۳۲۲)

قال : نعم "[1] (یعنی یارسول الله کُه خما خوې د ستا نه پس پیدا شو نو آیا څه دستا نوم او کنیت دواړه ده دپاره ایخودې شم ؟ حضور ﷺ اوفرمائل : هو ....)

د دې روایت په بعض طرق کښې اګر چه دا اضافه هم شته " وهی لك خاصة دون الناس " خو امام طحاوی رحمه الله په " شرح معانی الآثار " کښې فرمائی چه دا اضافه ثابت نه ده -[2]

ترجمة الباب کښې د حضرت انس چه کوم روایت ته امام اشاره کړیده ، هغه په کتاب البیوع کښې موصولاً تیر شویدې -[3]

١٠٧ = بَاب اسْمِ الْحَزْنِ

[٥٨٣٦/٥٨٣٧] ([4]) حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ نَصْرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنِ ابْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ أَبَاهُ جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا اسْمُكَ قَالَ حَزْنٌ قَالَ أَنْتَ سَهْلٌ قَالَ لَا أُغَيِّرُ اسْمًا سَمَّانِيهِ أَبِي قَالَ ابْنُ الْمُسَيَّبِ فَمَا زَالَتِ الْحُزُونَةُ فِينَا بَعْدُ

[٥٨٣٧] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ وَمَحْمُودٌ هُوَ ابْنُ غَيْلَانَ قَالَا حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنِ ابْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ بِهَذَا [ر: ٥٨٤٠]

د نوم اثر وی : حَزْن (د حاء په فتحه ا و د زاء په سکون سره) سخت ته وائی ، دا د سهل ضد دې ، مشهور تابعی حضرت سعید بن المسیب د خپل پلار مسیب نه روایت کوی چه د دوی پلار حزن بن ابی وهب د رسول الله ﷺ خدمت کښې حاضر شو ، دوی ﷺ ترینه د نوم تپوس اوکړو ، نو ده اوویل " حزن " دوی اوفرمائل : ته " سهل " ئې ، وې ویل : څه هغه نوم نه بدلوم چه کوم خما پلار ایخودې دې -

حضرت سعید بن المسیب فرمایی چه د دغه وخت نه سختې خمونږ په خاندان کښې برقرار دی - د مسند احمد روایت کښې دی چه دوی اوویل : لا السهل ، یوطأ ویمتهن یعنی سهل نه خکه چه سهل هر خوك پائمال کوی او ذلیل کوی -[5]

د رسول الله ﷺ دا فرمان په طور د مشوره وو د وجوب دپاره نه وو ، کُه د وجوب دپاره وې نو بیا ددې نه منلو څه وجه نه وه بلکه نوم به ئې په هر حال بدلولو -[6]

---

[1]) الحدیث أخرجه ابوداود فی کتاب الأدب ، باب فی الرخصة فی الجمع بینهما : ٢ \ ٣٢٣) والادب المفرد مع فضل الله الصمد : ٢| ٣٠٢، باب اسم النبی صلی الله علیه وسلم وکنیته_

[2]) شرح معانی الآثار : کتاب الکراهة ، باب التکنی بأبی القاسم : ٢ \ ٤٣٣)

[3]) الحدیث أخرجه البخاری فی کتاب البیوع ، باب ما ذکر فی الأسواق : ١ \ ٢٨٥)

[4]) ٥٨٣٦) الحدیث أخرجه البخاری أیضا فی کتاب الأدب ، باب تحویل اسم إلی إسم أحسن منه (رقم الحدیث : ٥٨٤٠)

[5]) الحدیث أخرجه فی کتاب الأدب ، باب فی تغییر الاسم القبیح : ٤ \ ٢٨٩ (رقم الحدیث : ٤٩٠٦) فتح الباری : ١٠ \ ٧٠٣ ، عمدة القاری : ٢٢ \ ٢٠٨)

[6]) ارشاد الساری : ١٣ \ ١٩٤ ، فتح الباری : ١٠ \ ٧٠٣)

١٠٨ = باب تحويل الاسم إلى اسم أحسن منه

[٥٨٣٨] (١) حدثنا سعيد بن أبي مريم حدثنا أبو غسان قال حدثني أبو حازم عن سهل قال أتي بالمنذر بن أبي أسيد إلى النبي صلى الله عليه وسلم حين ولد فوضعه على فخذه وأبو أسيد جالس فلها النبي صلى الله عليه وسلم بشيء بين يديه فأمر أبو أسيد بابنه فاحتمل من فخذ النبي صلى الله عليه وسلم فاستفاق النبي صلى الله عليه وسلم فقال أين الصبي فقال أبو أسيد قلبناه يا رسول الله قال ما اسمه قال فلان قال ولكن أسمه المنذر فسماه يومئذ المنذر

[٥٨٣٩] (٢) حدثنا صدقة بن الفضل أخبرنا محمد بن جعفر عن شعبة عن عطاء بن أبي ميمونة عن أبي رافع عن أبي هريرة أن زينب كان اسمها برة فقيل تزكي نفسها فسماها رسول الله صلى الله عليه وسلم زينب.

[٥٨٤٠] حدثنا إبراهيم بن موسى حدثنا هشام أن ابن جريج أخبرهم قال أخبرني عبد الحميد بن جبير بن شيبة قال جلست إلى سعيد بن المسيب فحدثني أن جده حزنا قدم على النبي صلى الله عليه وسلم فقال ما اسمك قال اسمي حزن قال بل أنت سهل قال ما أنا بمغير اسما سمانيه أبي قال ابن المسيب فما زالت فينا الحزونة بعد [ر: ٥٨٣٦]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی: چه دا ترجمة الباب د ابن ابی شیبه د یو روایت نه ماخوذ ده چه هغې کښې دی "كان النبي صلى الله عليه وسلم إذا سمع الاسم القبيح، حوّله إلى ما هو أحسن منه." (٣) رومبي روایت ذکر شویدي "إنكم تدعون يوم القيامة بأسمائكم وأسماء آبائكم، فأحسنوا أسمائكم" (٤)

امام طبری فرمائی:

"لا ينبغي لأحد أن يسمي باسم قبيح المعنى، ولا باسم معناه التزكية والمدح وغيره، ولا باسم معناه الذم والسب وبل الذي ينبغي أن يسمي به كان حقا وصدقا"

يعني داسې نوم نه دی ایخودل پکار چه د هغې معنی خرابه وی یا په هغې تزکیه او تعریف ښکاره وی. یا چه کوم د مذمت او د کنځلو دپاره استعمالیږی، نوم داسې کیدل پکار دی

(١) ٥٨٣٨) الحديث أخرجه مسلم في الآداب، باب استحباب تحنيک المولود عند ولادته: ٣ \ ١٦٩٢ (رقم الحديث: ٢١٤٩)

(٢) ٥٨٣٩) الحديث أخرجه مسلم في الآداب، باب استحباب تغيير الاسم القبيح إلى حسن: ٣ \ ١٦٩٢ (رقم الحديث: ٢١٤١) و أخرجه ابن ماجه في كتاب الأدب، باب تغيير الأسماء: ٢ \ ١٢٣٠ (رقم الحديث: ٣٧٣٢)

(٣) فتح الباري: ١٠ \ ٧٠٤)(حضور ﷺ به چه کله یو بد نوم واوریدو نو دا به ئې په ښائسته نوم بدلولو)

(٤) الحديث أخرجه أبوداود في كتاب الأدب، باب في تغيير الأسماء: ٢ \ ٣٢٠)

چه حق هم وی او رښتيا هم وی .... لکه عبدالله او عبد الرحمٰن -
د باب ړومبی روايت کښې دی چه منذر بن ابی اسيد چه کله پيدا شو نو رسول الله ﷺ خدمت ته راوستې شو ، دوی ﷺ ده لره په خپل پتون مبارك باندې کيخودو . ابو اسيد هم ورسره ناست وو ، رسول الله ﷺ د خپل خان وړاندې په يو څيز کښې مشغول شو ، ابو اسيد چا ته څه اوويل او خپل خوې ئې د دوی ﷺ د پتون مبارك نه اوچت کړو . رسول الله ﷺ (چه د خپل کار نه فارغ شو) نو ورته خيال راغلو ، نو دوی تپوس اوکړو هغه بچې څه شو ؟ ابو اسيد اوويل : هغه خو مونږ کور ته اوليږلو ، دوی ﷺ تپوس اوکړو د هغه نوم څه دې ؟ ده اوويل : فلانې نوم ئې دې ، دوی ﷺ اوفرمائل : نه بلکه د هغه نوم منذر دې ، د دغه ورځې نه د ده نوم منذر شو -

قوله: لها النبي صلى الله عليه وسلم: لها -- لَهْوًا : مشغوله کيدل ، **فاستفاق أى انقضى ما کان مشتغلا به فأفاق من ذلك** - يعنی حضور ﷺ په څه کار کښې مشغوله وو ، چه کله دينه فارغ شو نو د بچی په باره کښې ئې تپوس اوکړو (۱)

قلبناه: أى صرفناإلى منزله - يعنی بچې خو مونږ کورته اوليږلو - ما اسمه : څه نوم به ئې ورته خودلې وی چه دا به ښه نه وو ، دې وجه نه حضور ﷺ د ده نوم بدل کړو -
د ده نوم حضور ﷺ تفاولاً " منذر " کيخودو ، چه دې به علم ازده کړې او خلقو لره به د الله تعالی د عذاب نه يروی ، او د وعظ او د نصيحت فريضه به اداء کوی ، د قرآن کريم سورة توبه کښې دی (فلولا نفر من کل فرقة منهم طائفة ليتفقهوا فی الدين ولينذروا قومهم) (۲)
د باب دويم روايت کښې دی چه دزينب نوم " بَرَّة " وو ، رسول الله ﷺ ددې نوم زينب کيخودو ځکه چه د " بَرَّة " کښې د خپله د خپلې نيکئ اظهار کيږی ، دبره معنی ده نيك او پاك .... د دې زينب نه يا خو ام المؤمنين حضرت زينب بنت حجش مراد ده ، صحيح مسلم او سنن ابی داود په روايت کښې د دوی نوم راغلې دې (۳)
او ابن مردويه په تفسير د سورة حجرات کښې نقل کړيدی چه دينه هغه حضرت زينب مراد ده چه کومه د رسول الله ﷺ ربيبه وو او د حضرت ام سلمه لور وه - (۴)
صحيح مسلم ، ابوداود ، امام بخاری په " الادب المفرد " کښې نقل کړيدی چه د ام المؤمنين حضرت جويريه نوم هم " بره " وو دوی ﷺ دا نوم بدل کړو او " جويريه " ئې کيخودو ځکه چه دوی ته خوښ نه وو چه اوويلې شی چه دوی ﷺ د بره نه را اووتلو - (۵)

---

۱) فتح الباری : ۱۰\۷۰۴)
۲) سورة توبة: ۱۲۲)
۳) الحديث أخرجه مسلم فی کتاب الأداب ، باب استحباب تغيير الاسم القبيح إلى حسن : ۲\۲۰۸ ، و أبوداود فی کتاب الأدب ، باب فی تغيير الاسم القبيح : ۲\۳۲۱)
۴) ارشاد الساری : ۱۳\۱۹۶)
۵) الحديث أخرجه مسلم فی کتاب الأداب ، باب استحباب تغيير الاسم القبيح ...[بقيه برصفحه آئنده....

دلته څو بابونه امام بخاری رحمه الله د نومونو په سلسله کښې ذکر کړدی ، دینه وړاندې د امام طبری په حواله سره تیر شودی چه قبیح المعنی نوم یا داسې چه د هغې نه ددې انسان تزکیه او د تقوی او دذه پاکبازئ اظهار کیږی ایخودل مناسب نه دی -

د محمد د نوم احترام ضروری دې : بعض حضرات وائی چه د " محمد " نوم ایخودل هم نه دی پکار ، ځکه چه د دې نوم د ادب تقاضې پوره کول د هر یو په وس کښې نه ده ...... حضرت فاروق اعظم ﷺ د یو سړی نه واوریدل چه دې محمد بن یزید بن الخطاب ته وائی ، فعل الله بك یامحمد . حضرت فاروق اعظم دې راوبللو او ورته ئې اوویل : چه د ستا په وجه د رسول الله ﷺ نوم ته بد رد ویلې کیږی ، دې وجه نه دینه پس به د ستا دا نوم نه وی اوبیائې اهل کوفه ته خط اولیکلو " لا تسموا أحدا باسم النبي صلى الله عليه وسلم "(د حضور نوم دې څوك هم نه ایږدی) ملاعلی قاری رحمه الله په مرقاة شرح مشكاة کښې دا واقعه لیکلې ده - (۱)

د دې حاصل دا دې چه ددې نوم احترام او ددې ادب ملحوظ ساتل ضروری دی ، د هغه کس دپاره هم چه د چا دا نوم دې او د هغه خلقو دپاره هم چه دې په دې نوم رابلی ، دې سلسله کښې بزار د حضرت ابو رافع نه یو مرفوع حدیث هم نقل کړیدې إذا سميتم محمدا ، فلا تضربوه ، ولا تحرموه (۲) چه کله تاسو د چا نوم محمد کیخودو نو مه ده لره وهئ او مه ئې محروم کوئ) او خطیب بغدادی د حضرت علی نه یو روایت رانقل کړیدې . دیکښې دی " إذا سمعتم الولد محمدا ، فأكرموه ، و أوسعوا له في المجلس ولا تقبحوا له وجها " (۳) (چه کله تاسو اوګورئ چه د یو ماشوم نوم محمد دې نو دده خیال اوساتئ او ده ته په مجلس کښې ځائې ورکړئ او ده ته بد رد مه وائې)

د فرښتو د نوم ایخودو حکم : امام مالك رحمه الله د فرښتو نومونو ایخودو ته مکروه ویلې دی (۴) مثلاً جبریل وغیره ... امام بخاری رحمه الله په خپل تاریخ کښې د عبد الله بن جراد نه روایت نقل کړیدې . دیکښې دی " سموا بأسماء الأنبياء ، ولا تسموا بأسماء الملائكة " (۵) نکه چه روایت کښې تیر شویدی چه احب الاسماء عبد الله او عبدالرحمن دی ، ملا علی قاری رحمه الله دلته د " بعد أسماء الأنبياء " قید لګولې دې - (۶)

...بقيه از حاشيه ګذشته] إلى حسن . ۲ \ ۲۰۸ . و ابوداود فى كتاب الأدب . باب فى تعيير الاسم القبيح : ۲ \ ۳۲۱ . مسند الامام أحمد بن حنبل . مرويات ابن عباس : ۱ \ ۳۱۶ . البخارى فى الأدب المفرد مع فضل الله الصمد : ۲ \ ۲۹٤)

(۱) المرقاة شرح المشكاة . باب الأسامى . الفصل الأول : ۹ \ ۱۰۶)

(۲) المرقاة شرح المشكاة . باب الأسامى . الفصل الأول : ۹ \ ۱۰۶)

(۳) المرقاة شرح المشكاة . باب الأسامى . الفصل الأول : ۹ \ ۱۰۶) ...

(۴) ارشاد السارى : ۱۳ \ ۱۹۳)

(۵) المرقاة شرح المشكاة . باب الأسامى . الفصل الأول : ۹ \ ۱۰۶)

(۶) المرقاة شرح المشكاة . باب الأسامى . الفصل الأول : ۹ \ ۱۰۶)

او اصدق الاسماء حارث او همام دی (۱)

ځکه چه د حارث معنی ده دهقانی کوونکې او الدنیا مزرعة الآخرة ... مطابق دلته هر یو سړې حارث دې او د همام معنی د فکر مند ده ، او دلته هر یو کس فکر مند دې ، دې وجه نه دې دواړو نومونو ته اصدق الاسماء اوویلې شو -

د صحیح مسلم روایت کښې دی چه رسول الله ﷺ د یسار ، رباح ، نجیح او د افلح نومونو نه منع کړیده ، د حدیث الفاظ دی "لا تسمین غلامك یسارا ، ولا رباحا ، لا نجیحا ، لا أفلح ، فإنك تقول : أثم هو؟ فیقول : لا" (۲) یعنی د خپل خوی نوم یسار ، رباح ، نجیح او افلح مه ږده ځکه ډیر کرته به ته دا نوم واخلې او تپوس به اوکړې هغه دغلته شته ؟ نو هغه به درته په جواب کښې وائی : نه -

خو جمهور عالمان وائی دا نهي تنزیهی ده او دارنګه نومونه ایخودل ناجائز نه دی (۳)

ځکه چه په خپله د رسول الله ﷺ د یو غلام نوم رباح او د یو ازاد کړی غلام نوم یسار وو ، حضرت ابن عمر د خپل یو ازاد کړې غلام نوم " نافع کیخودو چه روستو مشهور محدث جوړ شو - (۴)

د دې تائید په صحیح مسلم کښې د حضرت جابر روایت نه هم کیږی دیکښې دی "أراد النبی صلی الله علیه و سلم أن ینهی عن أن یسمی بیعلی ، و ببرکة ، و بأفلح ، و بیسار ، و بنافع ، و نحو ذلك ، ثم رأیته سکت بعد عنها ، ثم قبض و لم ینه عن ذلك" (۵) یعنی رسول الله ﷺ اراده اوکړه چه د یعلی ، برکت ، افلح ، یسار ، نافع وغیره نومونو ایخودو نه منع اوکړی خو بیا ما اوکتل چه دوی ﷺ خاموش شو ، د دوی ﷺ وفات اوشو خو دوی دینه څوك منع نه کړل -

حاصل دا چه قبیح نوم ایخودل هم صحیح نه دی او داسې نوم چه د هغې نه د تزکیه یا د بد شګون موقع ملاویږی ، دا هم مناسب نه دی ، لکه چه امام نووی رحمه الله په " شرح مسلم " کښې لیکی : " معنی هذه الأحادیث تغییر الإسم القبیح أو المکروه إلی حسن ، و قد ثبت أحادیث بتغییره صلی الله علیه و سلم أسماء جماعة کثیرین من الصحابة ، و قد بین صلی الله علیه و سلم العلة فی النوعین و ما فی

---

۱) المرقاة شرح المشکاة ، باب الأسامی ، الفصل الثالث : ۹ \ ۱۲۰، روی أبوداود رحمه الله فی سننه ، قال رسول الله صلی الله علیه و سلم : تسموا بأسماء الأنبیاء ، أحب الأسماء إلی الله عبد الله و عبد الرحمان و أصدقها حارث و همام و أقبحها حرب و مرة ، کتاب الأدب ، باب فی تغیر الأسماء : ۴ \ ۲۸۸ (رقم الحدیث : ۴۹۵۰)

۲) الحدیث أخرجه مسلم فی کتاب الأدب ،باب کراهة التسمیة بالأسماء القبیحة و بنافع و نحوه : ۲ \ ۲۰۷)

۳) المرقاة شرح المشکاة ، باب الأسامی ، الفصل الأول : ۹ \ ۱۰۷ و شرح مسلم للنووی ، کتاب الأدب ، باب کراهة التسمیة بالأسماء القبیحة : ۲ \ ۲۰۷)

۴) زاد المعاد فصل فی موالیه صلی الله علیه و سلم : ۱ \ ۱۱۵)

۵) الحدیث أخرجه مسلم فی کتاب الأدب باب کراهة التسمیة بالأسماء القبیحة ، بنافع و نحوه : ۲ \ ۲۰۷)

معناهما، وهى: التزكية أو خوف التطير"(1)
د دې احاديثو حاصل دا دې چه قبيح او بد نومونه دې په ښو نومونو سره بدل کړې شى، رسول الله ﷺ د ډيرو خلقو نومونه بدل کړيدى لکه چه په ډيرو احاديثو کښې ثابته ده، حضور ﷺ د قبيح او د مکروه نوم د دواړو علتونه هم بيان کړيدى يعنى داسې نوم چه ديکښې تزکيه او خپله پاکدامنى واضحه کيږى يا داسې نومونه چه هغې کښې بد شګونى رااوځى-

١٠٩= بَاب مَنْ سَمَّى بِأَسْمَاءِ الْأَنْبِيَاءِ

وَقَالَ أَنَسٌ قَبَّلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِبْرَاهِيمَ يَعْنِي ابْنَهُ [ر:١٢٤١]

[٥٨٤١] (2) حَدَّثَنَا ابْنُ نُمَيْرٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بِشْرٍ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قُلْتُ لِابْنِ أَبِي أَوْفَى رَأَيْتَ إِبْرَاهِيمَ ابْنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَاتَ صَغِيرًا وَلَوْ قُضِيَ أَنْ يَكُونَ بَعْدَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبِيٌّ عَاشَ ابْنُهُ وَلَكِنْ لَا نَبِيَّ بَعْدَهُ

[٥٨٤٢] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ قَالَ لَمَّا مَاتَ إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ السَّلَام قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لَهُ مُرْضِعًا فِي الْجَنَّةِ [ر:١٣١٦]

[٥٨٤٣] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ حُصَيْنِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمُّوا بِاسْمِي وَلَا تَكْتَنُوا بِكُنْيَتِي فَإِنَّمَا أَنَا قَاسِمٌ أَقْسِمُ بَيْنَكُمْ وَرَوَاهُ أَنَسٌ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ر:٢٠١٣، ٢٩٤٦]

[٥٨٤٤] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ حَدَّثَنَا أَبُو حَصِينٍ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَمُّوا بِاسْمِي وَلَا تَكْتَنُوا بِكُنْيَتِي وَمَنْ رَآنِي فِي الْمَنَامِ فَقَدْ رَآنِي فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لَا يَتَمَثَّلُ فِي صُورَتِي وَمَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ [ر:١١٠]

[٥٨٤٥] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ بُرَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ وُلِدَ لِي غُلَامٌ فَأَتَيْتُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَمَّاهُ إِبْرَاهِيمَ فَحَنَّكَهُ بِتَمْرَةٍ وَدَعَا لَهُ بِالْبَرَكَةِ وَدَفَعَهُ إِلَيَّ وَكَانَ أَكْبَرَ وَلَدِ أَبِي مُوسَى [ر:٥١٥٠]

[٥٨٤٦] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا زَائِدَةُ حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ عِلَاقَةَ سَمِعْتُ الْمُغِيرَةَ بْنَ شُعْبَةَ قَالَ انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ يَوْمَ مَاتَ إِبْرَاهِيمُ رَوَاهُ أَبُو بَكْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ر:٩٩٣، ٩٩٦]

---

(1) شرح مسلم للنووى، كتاب الأداب، باب استحباب تغيير الإسم القبيح إلى حسن ... ٢\٢٠٨)

(2) ٥٨٤١) الحديث أخرجه ابن ماجه فى كتاب الجنائز، باب ما جاء فى الصلوة على ابن رسول الله صلى الله عليه و سلم و ذكر وفاته: ١\٤٨٤ (رقم الحديث: ١٥١٠)

د پیغمبرانو نومونه ایخودل مستحب دی د امام بخاری رحمه الله مقصد دا دې چه د حضرات انبیاء علیهم السلام په نومونو کښې یو نوم که چا کیخودو نو دا جائز دې بلکه بعض حضرات وائی چه د الله تعالی په نزد د حضرات انبیاء نومونه د ټولو نه زیات محبوب دی(۱) رسول الله ﷺ د خپل خوی نوم ابراهیم ایخودې وو - د باب په ړومبی حدیث کښې دی چه د رسول الله ﷺ خوی په ماشوموالی کښې وفات شوې وو ،که د حضور ﷺ نه پس د کوم نبی راتلو فیصله وې نو دې به ضرور ژوندې پاتې شوې وو خو دوی نه پس بل نبی نشته دې -

مسند احمد کښې د حضرت انس روایت دې "كان إبراهيم قد ملأ المهد، ولو بقي لكان نبيا، لكنه لم يكن ليبقى، فإن نبيكم آخر الأنبياء" (۲) یعنی ابراهیم باندې غیره ډکه شوه (دا د وفات کیدو نه کنایه ده) که ژوندې وې نو نبی به وو خو دې باقی پاتې نه شو ، ځکه چه د ستاسو نبی آخری نبی دې)

ابن عبدالبر په " الاستیعاب " کښې په دې باندې تنقید کړیدې او ویلې دی چه د نبی خوې نبی کیدل ضروری نه ده . د ابن عبد البر دا خبره صحیح ده خو بیا هم د رسول الله ﷺ د خوی متعلق دا حدیث د درې اصحابو نه روایت دې او دیکښې دا خبره علی سبیل الفرض بیان شویده ، چه که ده نه پس څوك نبی وی نو ابراهیم ددې مستحق کیدو ! (۳)

د باب د باقی احادیثو تشریح تیره شویده -

۱۱۰=بَاب تَسْمِيَةِ الْوَلِيدِ

[۵۸۷۰] أَخْبَرَنَا أَبُو نُعَيْمٍ الْفَضْلُ بْنُ دُكَيْنٍ حَدَّثَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَعِيدٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ لَمَّا رَفَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأْسَهُ مِنْ الرَّكْعَةِ قَالَ اللَّهُمَّ أَنْجِ الْوَلِيدَ بْنَ الْوَلِيدِ وَسَلَمَةَ بْنَ هِشَامٍ وَعَيَّاشَ بْنَ أَبِي رَبِيعَةَ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ بِمَكَّةَ اللَّهُمَّ اشْدُدْ وَطْأَتَكَ عَلَى مُضَرَ اللَّهُمَّ اجْعَلْهَا عَلَيْهِمْ سِنِينَ كَسِنِي يُوسُفَ [ر:۹۶۱]

د امام بخاری رحمه الله مقصد په دې ترجمة الباب سره د هغه حدیث تضعیف ته اشاره کول دی چه کوم امام طبرانی رحمه الله د حضرت عبدالله بن مسعود نه روایت کړیدې "نهى رسول الله صلى الله عليه و سلم أن يسمي الرجل عبده أو ولده حربا أو مرة أو وليدا" (۴) دې حدیث کښې د حرب . مره او د " ولید " د نوم ایخودو ممانعت راغلې دې خو دا حدیث ضعیف دې - (۵)

---

(۱) عمدة القاری : ۲۲\۲۰۹ . فتح الباری : ۱۰\۷۰۷)

(۲) په مسند احمد کښې د حدیث الفاظ داسې دی : لو عاش كان صديقا نبيًّا ، مسند الإمام أحمد بن حنبل ، مرويات أنس بن مالک : ۳\۲۸۱) -

(۳) فتح الباری : ۱۰\۷۰۸)

(۴) فتح الباری : ۱۰\۷۱۰ . ارشاد الساری : ۱۳\۲۰۱)

(۵) فتح الباری : ۱۰\۷۱۰ . ارشاد الساری : ۱۳\۲۰۱)

وطاً نه مراد عذاب دي ، روايت د باب كښي د وليد نوم راغلي دي او حضور په دې څه رد نه دي كړي-

مولانا رشيد احمد گنگوهي رحمه الله فرمائي چه د امام بخاري رحمه الله مقصد په ترجمة الباب سره دا دي چه كُه د مشركينو د چا نوم كښې څه قباحت نه وي نو مسلمان دا نوم ايخودې شي - (١)

۱۱۱=بَاب مَنْ دَعَا صَاحِبَهُ فَنَقَصَ مِنْ اسْمِهِ حَرْفًا

وَقَالَ أَبُو حَازِمٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَبَا هِرٍّ [ر:٦٠٠٥]

[٥٨٤٨] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنْ الزُّهْرِيِّ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَائِشَ هَذَا جِبْرِيلُ يُقْرِئُكِ السَّلَامَ قُلْتُ وَعَلَيْهِ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللَّهِ قَالَتْ وَهُوَ يَرَى مَا لَا نَرَى [ر:٣٠٤٥]

[٥٨٤٩] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ أَبِي قِلَابَةَ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كَانَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ فِي الثَّقَلِ وَأَنْجَشَةُ غُلَامُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسُوقُ بِهِنَّ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَنْجَشُ رُوَيْدَكَ سَوْقَكَ بِالْقَوَارِيرِ [ر:٥٨٠٤]

علامه عيني رحمه الله ليكي :

" أي هذا باب في بيان من دعا صاحبه بأن خاطبه بالنداء ، فنقص من اسمه حرفا مثل قولك : يا مال في " يا مالك " وهذا عبارة عن الترخيم ، وهو حذف آخر المنادى ، لأجل التخفيف " (٢) يعني دې باب كښې امام بخاري رحمه الله د " ترخيم " د جواز بيان كړيدې ، د نوم په آخر كښې ډير كرته يو يا دوه حرفه حذف كړې شي ، ديته ترخيم وائي -

د باب تر لاندې امام بخاري رحمه الله دوه روايتونه او يو تعليق ذكر كړيدې ، ديكښې دوى " يا اباهر " يا عائش " او " يا انجش " د آخرى حرف په حذف سره ددې نومونو استعمال كړيدې ، د ابو حازم تعليق امام بخاري رحمه الله په كتاب الأطعمة كښې موصولاً نقل كړيدې - (٣) وأم سليم في الثقل : ثقل : كجاوې ته وائي - (٤)

---

(١) لامع الدراري : ١٠ \ ٤٢)

(٢) ٦٤ عمدة القاري : ٢٢ \ ٢١٢)

(٣) عمدة القاري : ٢٢ \ ٢١٢ ، ٢١٣)

(٤) عمدة القاري : ٢٢ \ ٢١٣)

١١٢ = بَاب الْكُنْيَةِ لِلصَّبِيِّ وَقَبْلَ أَنْ يُولَدَ لِلرَّجُلِ

[٥٨٥٠] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ عَنْ أَبِي التَّيَّاحِ عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْسَنَ النَّاسِ خُلُقًا وَكَانَ لِي أَخٌ يُقَالُ لَهُ أَبُو عُمَيْرٍ قَالَ أَحْسِبُهُ فَطِيمًا وَكَانَ إِذَا جَاءَ قَالَ يَا أَبَا عُمَيْرٍ مَا فَعَلَ النُّغَيْرُ نُغَرٌ كَانَ يَلْعَبُ بِهِ فَرُبَّمَا حَضَرَ الصَّلَاةَ وَهُوَ فِي بَيْتِنَا فَيَأْمُرُ بِالْبِسَاطِ الَّذِي تَحْتَهُ فَيُكْنَسُ وَيُنْضَحُ ثُمَّ يَقُومُ وَنَقُومُ خَلْفَهُ فَيُصَلِّي بِنَا [ر: ٥٧٧٨]

د بچی هم کنیت ایخودې شی : په دې ترجمة الباب کښې امام بخاری رحمه الله دوه جزء قائم کړیدی ، یو خو دا چه د بچی کنیت ایخودې شی او دویم دا چه سړې د بچی پیدا کیدو او د اولاد نه بغیر هم د خپل ځان دپاره کنیت ایخودې شی -

د بچی کنیت متعلق خو حدیث د باب بالکل صریح دې چه رسول الله ﷺ د حضرت انس وړوکی رور ته اوویل : " یا اباعمیر ... "

د ترجمة الباب دویم جزء په طریقه د الحاق سره ثابت دې ، چه کله د بچی کنیت ایخودې شی نو د سړی کنیت بغیر د اولاده خو په طریق اولی سره ایخودې شی ، لکه چه حافظ ابن حجر رحمه الله لیکی : " ذكر فيه قصة أبي عمير، وهو مطابق لأحد ركني الترجمة ، و الركن الثاني مأخوذ من الإلحاق، بل بالطريق الأولى " (١)

په عربو کښې د کنیت ایخودو لوې رواج وو ، ویلې کیدل به " الكنية للعرب كاللقب للعجم " (٢) یعنی عربو کښې د کنیت داسې رواج وو لکه چه عجمو کښې د لقب رواج دې -

د اولاد نه کیدو په صورت کښې د کنیت ایخودل صحیح دی : د بعضو خلقو دا خیال وو چه د اولاد نه کیدو په صورت کښې کنیت ایخودل صحیح نه دی (٣) امام بخاری رحمه الله د دوی تردید اوکړو -

لکه چه امام ابن ماجه ، امام طحاوی او امام احمد یو روایت نقل کړیدې او حاکم د دوی تصحیح هم کړیده چه حضرت فاروق اعظم د حضرت صهیب رومی نه تپوس اوکړو چه د ستا بچی نشته دې نو بیا تا څنګه د " ابویحي " کنیت ایخودې دې ؟ نو ده اوویل : چه رسول الله ﷺ دا کنیت ځما ایخودې دې - (٤)

د حضرت عبد الله بن مسعود کنیت رسول الله ﷺ " ابو عبد الرحمن " ایخودې وو ، او لا تراوسه د دوی بچې نه وو پیدا شوې - (٥)

---

١) فتح الباری : ١٠\٧١٢ ، الابواب و التراجم : ٢\١١٩)
٢) فتح الباری : ١٠\٧١٢ و عمدة القاری : ٢٢\٢١٣) ،
٣) الابواب و التراجم : ٢\١١٩ ، فتح الباری : ١٠\٧١٢)
٤) فتح الباری : ١٠\٧١٢ ، عمدة القاری : ٢٢\٢١٣ ، ارشاد الساری : ١٣\٢٠٣ ، سنن ابن ماجه ، کتاب الأدب ، باب الرجل یکنی قبل أن یولد له : ٢\١٢٣١ (رقم الحدیث : ٣٧٣٨)
٥) فتح الباری : ١٠\٧١٢ ، عمدة القاری : ٢٢\٢١٣ ، ارشاد الساری : ١٣\٢٠٣)

حضرت عبد الله بن مسعود د خپل شاګرد علقمه کنیت " ابو شبل " ایخودې وو ، او دده بچی هم نه وو (۱) ابن ابی شیبه د امام زهری نه نقل کړیدې " كان رجال من الصحابة يكتنون قبل أن يولد لهم " (۲)

عالمان لیکی چه دوی به تفاولاً دا کنیت ایخودلو چه د چا بچی نشته دې چه د دوی اولاد اوشی او د بچی کنیت به ئې ځکه ایخودو چه دې لوې شي او په خپله د بچو والا شی - (۳)

د باب ترلاندې امام بخاری رحمه الله چه کوم روایت رانقل کړیدې ، دا څو باب وړاندې " باب الانبساط إلى الناس " کښې تیر شویدې ، رسول الله ﷺ فرمائی " يا أبا عمير ! ما فعل النغير ! ؟ " نغیر یو مارغه دې چه ددې ترجمه بعض حضراتو په " بلبل سره کړیده ، حضرت کشمیری رحمه الله په " فیض الباری " کښې د دې ترجمه په " لال " سره کړیده ، دې حدیث نه حضرات محدثین څو فوائد مستنبط کوی ، مشهور شافعی عالم ابو العباس احمد بن ابی احمد طبری چه کوم د " ابن القاص " په نوم مشهور دې ، د دې حدیث فوائد په یو خانله رساله کښې جمع کړیدی - (۴)

دا اهتمام محدثینو په طور خاص ځکه کړیدې چه بعض خلقو په محدثینو اعتراض اوکړو چه دوی داسې احادیث هم نقل کوی چه هغې کښې هیڅ فائده هم نشته دې او د مثال په طور دا حدیث پیش کوی ،نو محدثینو د شپیتو سره نزدې مختلف فوائد د دې حدیث نه اخذ کړیدی ، حافظ ابن حجر دا تمام په اختصار سره په " فتح الباری " کښې نقل کړیدی او بیا ئې په دې د خپل طرفه اضافه کړیده - (۵)

دا ماشوم چه د کوم په دې حدیث کښې ذکر دې په ماشوم والی کښې وفات شو او دا هم هغه ماشوم دې چه د چا قصه د مسلم وغیره په روایتونو کښې راغلې ده چه حضرت ابوطلحه په سفر تلې وو ، چه په کومه شپه راغلو نو دا ماشوم وفات شوی وو خو حضرت ام سلیم دوی ته او نه وېلې ، دوی تپوس اوکړو نو دې ورته اووېل : هغه آرام کوی شپه دواړو یو ځائې تیره کړه او سحر دوی ابوطلحه ته اطلاع ورکړه ، رسول الله ﷺ ته چه معلومه شوه نو دوی دپاره د دغه شپې د برکت دعا اوکړه - (۶)

ددې ماشوم د نوم په باره کښې د بعضو خیال دې چه دده کنیت هم د ده نوم وو بل جُدا نوم ئې نه وو ..... خو بعض روایتونو کښې د ده نوم " حفص " او په بعضو کښې " عبد الله " راغلې دې - (۷)

---

(۱) فتح الباری : ۱۰\۷۱۲ ، ارشاد الساری : ۱۳\۲۰۳)
(۲) فتح الباری : ۱۰\۷۱۲ ، عمدة القاری : ۲۲\۲۱۳)
(۳) فتح الباری : ۱۰\۷۱۲ ، عمدة القاری : ۲۲\۲۱۳ ، ارشاد الساری : ۱۳\۲۰۳)
(۴) فتح الباری : ۱۰\۷۱۲ ، ارشاد الساری : ۱۳\۲۰۳)
(۵) ۱۰ فتح الباری : ۱۰\۷۱٤)
(۶) فتح الباری : ۱۰\۷۱۶)
(۷) ارشاد الساری : ۱۳\۲۰۳ ، فتح الباری ۱۰\۷۱۷)

١١٣=بَاب التَّكَنِّي بِأَبِي تُرَابٍ وَإِنْ كَانَتْ لَهُ كُنْيَةٌ أُخْرَى

[٥٨٥١] حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ مَخْلَدٍ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ إِنْ كَانَتْ أَحَبَّ أَسْمَاءِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ إِلَيْهِ لَأَبُو تُرَابٍ وَإِنْ كَانَ لَيَفْرَحُ أَنْ يُدْعَى بِهَا وَمَا سَمَّاهُ أَبُو تُرَابٍ إِلَّا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَاضَبَ يَوْمًا فَاطِمَةَ فَخَرَجَ فَاضْطَجَعَ إِلَى الْجِدَارِ إِلَى الْمَسْجِدِ فَجَاءَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتْبَعُهُ فَقَالَ هُوَ ذَا مُضْطَجِعٌ فِي الْجِدَارِ فَجَاءَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَامْتَلَأَ ظَهْرُهُ تُرَابًا فَجَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْسَحُ التُّرَابَ عَنْ ظَهْرِهِ وَيَقُولُ اجْلِسْ يَا أَبَا تُرَابٍ [ر: ٤٣٠]

حضرت سهل بن سعد نه روايت دې چه حضرت على ته په خپلو نومونو كښې " ابوتراب " ډير خوښ وو او په دې نوم رابللو سره به ډير خوشحاليدلو . دا نوم ده دپاره رسول الله ﷺ ايخودې وو ، يو ورځ حضرت على ، د حضرت فاطمه نه ناراضه شو او بهر اووتلو او د جمات د ديوال سره ئې ډډه اووهله او څملاستو . حضور ﷺ دده د ملا نه خاوره صفا كوله او دوى ته به ئې فرمائل " ابو تراب : كښينه "

د ترجمة الباب مقصد : د امام بخارى رحمه الله مقصد دا دې چه يو سړى دوه كنيته ايخودې شى ، د حضرت على ؓ يو كنيت " ابوالحسن " مشهور وو . خو رسول الله ﷺ به دوى ته په بل كنيت " ابوتراب " هم اواز وركولو حديثې د باب كښې اگر د يو كنيت او په ترجمة الباب كښې د دوو ذكر دې ، خو بيا هم چه "ابو الحسن د حضرت على مشهور كنيت وو ، دې وجه نه چه حضور كله د ده دا بل كنيت " ابوتراب " كيخودو نو دارنگه د ده دوه كنيته شو ، علامه كرمانى رحمه الله ليكى :

" فإن قلت : ما وجه دلالته على الكنيتين ، وهو الجزء الآخر من الترجمة ؟ قلت : أبو الحسن هو الكنية المشهورة لعلى ؓ فلما كنى بأبي تراب صار ذا كنيتين " (١)

شيخ الحديث مولانا محمد زكريا رحمه الله فرمائى چه د امام بخارى رحمه الله مقصد په دې ترجمة الباب سره دا دې چه د " ابوتراب " كنيت ايخودل جائز دى . چا ته وهم كيدې شو چه دې كنيت يو قسم د خپل ځان تحقير او ذلت دې ، دې وجه نه دا به جائز نه وى ، امام دا وهم لرې كړو - (٢)

حضرت على ته د " ابو تراب " ويلو وجه : حضرت على ؓ ته دوى ﷺ " ابو تراب يو خو په هغه موقع ويلې وو چه د هغې دلته په حديث د باب كښې ذكر دې ، ابن اسحاق د حضرت عمار يو روايت ذكر كړيدې چه ديكښې هغه فرمائى چه دې او حضرت على غزوه عشيره كښې ملگرى وو ، رسول الله ﷺ تشريف راوړو ، حضرت على اوده وو او د دوى جامې د

---

(١) شرح الكرمانى : ٢٢ \ ٥٤ (رقم الحديث : ٥٨٦٦)

(٢) ١٤ الابواب و التراجم : ٢ \ ١٢٠)

دوړو وې ، نو دوی ﷺ دې راويخ کړو او ورته ئې اوفرمائل : مالك يا اباتراب - [1]
غزوه عشيره د هجرت په دويم کال شويدې ، دغه وخته پورې حضرت علی د حضرت فاطمه سره نکاح نه وه کړې [2] چه دينه معلوميږی چه رسول الله ﷺ ده ته په مختلف وختونو کښې په کنيت د " ابوتراب " اواز ورکړيدې -
يو بل روايت کښې دی چه حضرت علی به چه کله د حضرت فاطمه نه خفه شو نو دوی ته د خه ويلو په ځائې په خپل سر به خاورې اچول شروع کړل ، نو چه رسول الله ﷺ به کله دې په دې حالت اوليدو نو پوهه به شو چه د دواړو په مينځ کښې خفګان راغلې دې نو دوی به اوفرمائل : مالك يا اباتراب [3]
دا روايت هم په تعدد دلالت کوی چه دوی په مختلف وختونو کښې دوی ته په دې کنيت اواز ورکړې وو -
حديث د باب نه حافر ابن حجر او ابن بطال مختلف فوائد اخذ کړدی ، دې ليکی :
" ويستفاد من الحديث جواز تكنية الشخص بأكثر من كنية ، و التلقيب بلفظ الكنية و بما يشتق من حال الشخص ، وأن اللقب إذا صدر من الكبير في حق الصغير تلقاه بالقبول و لو لم يكن لفظه لفظ مدح ، وأن من حمل ذلك على التنقيص لايلتفت إليه ..... و فيه ان أهل الفضل قد يقع بين الكبير منهم و بين زوجته ما طبع عليه البشر من الغضب ، و قد يدعوه ذلك إلى الخروج من بيته و لا يعاب عليه .... و فيه كرم خُلق النبي صلى الله عليه و سلم لأنه توجه نحو " علي " ليترضاه ، و مسح التراب عن ظهره ليبسطه ..... ولم يعاتبه على مغاضبته لابنته مع رفيع منزلتها عنده ، فيؤخذ منه استحباب الرفق بالاصهار و ترك معاتبتهم إبقاءً لمودتهم ، لأن التاب إنما يخشى ممن يخشى منه الحقد ، لا ممن هو منزه عن ذلك " [4] يعنی دې حديث نه څو خبرې معلومې شوې -
① يو سړې دوه کنيته ايخودې شی ،
② د انسان د يو حالت نه کنيت اخذ کولې شی
③ د کشر په باره کښې لوې څه لقب استعمال کړی نو دا مقبول کيږی اګر دا مدحيه نه وی، که څوك دا په تحقير او په تنقيص محمول کړی نو ده ته به توجه نه ورکولې کيږی -
④ د اهل علم او د فضل والا هم د کور والا سره خفګان راتلې شی او دې چه خفه شی نو دکور نه وتلې شی . دا څه معيوب خبره نه ده -
⑤ د رسول الله ﷺ د مشفقانه اخلاقو يو انداز هم په حديث کښې شته ، دوی ﷺ د حضرت علی د شا نه به خاورې لرې کولې او دوی به ئې راضی کولو . غصه به ئې ورته نه

---

[1] فتح الباری : ۱۰\۷۱۹) (ابو تراب ! په تا څه شويدی ؟)
[2] فتح الباری : ۱۰\۷۱۹)
[3] فتح الباری : ۱۰\۷۱۹)
[4] فتح الباری : ۱۰\۷۱۸ ، شرح ابن بطال : ۹\۳۵۲-۳۵۳)

كوله ، معلومه شوه چه د خوم سره نرمى كول مستحب دى -

١١١٣=بَاب أَبْغَضِ الْأَسْمَاءِ إِلَى اللَّهِ

[٥٨٥٢\٥٨٥٣] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ حَدَّثَنَا أَبُو الزِّنَادِ عَنْ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْنَى الْأَسْمَاءِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عِنْدَ اللَّهِ رَجُلٌ تَسَمَّى مَلِكَ الْأَمْلَاكِ

[٥٨٥٣] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنْ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رِوَايَةً قَالَ أَخْنَعُ اسْمٍ عِنْدَ اللَّهِ وَقَالَ سُفْيَانُ غَيْرَ مَرَّةٍ أَخْنَعُ الْأَسْمَاءِ عِنْدَ اللَّهِ رَجُلٌ تَسَمَّى بِمَلِكِ الْأَمْلَاكِ قَالَ سُفْيَانُ يَقُولُ غَيْرُهُ تَفْسِيرُهُ شَاهَانْ شَاهْ-

بدترين نوم : په حديث د باب كښې دى چه بدترين نوم د الله تعالى په نزد د هغه سړى نوم دې چه چا خپل نوم " ملك الاملاك " ايخودې وى -

تركيب كښې " أخنى الأسماء " مبتداء او " رجل دې دپاره خبر دې ، " رجل " حمل " په " أخنى ... " باندې صحيح نه دې ، دې وجه نه په خبر كښې د " رجل " نه وړاندې مضاف محذوف دې أى أخنى الأسماء إسم رجل (١)

اودا تاويل هم شويدې " أخنى الأسماء " كښې اسماء " نه " رجال " مراد دى ، ذكر د اسم اوشى مجازا ترينه مسمى مراد واخستې شى ؟ نو تقدير د عبارت به دا وى " أخنى الرجال رجل ....(٢)

أخنى: دخَنَا (د خاء په فتحه او د نون په تخفيف سره) نه د اسم تفضيل صيغه ده ، خَنَا قول او كلام كښې بې هودګئ او فحاشئ ته وائى (٣)

أخنى الأسماء په ځائې " أخنع " " أذل " أبغض " " أكره " او " أغيظ الفاظ هم مروى دى - (٤) حضرت كشميرى رحمه الله د " أخنى " ترجمه په " ذليل ترين " سره كړيده - (٥)

قوله: مَلِكَ الأملاك : مَلِك (د ميم په فتحه او د لام په كسره سره) : بادشاه - أملاك : د مليك هم جمع كيدې شى او د مِلْك (د ميم په كسره سره) هم جمع كيدې شى - (٦)

سفيان بن عيينه ددې تفسير په " شاهان شاه " سره كړيدې ، ځكه چه په عجمو كښې او خاص كر فارسى خوانانو علاقو كښې ددې نوم رواج وو ، دې وجه نه سفيان بن عيينه ددې تفسير اوكړو او بيان ئې اوكړو چه صرف د عربى ژبې دپاره دا ممانعت نشته دې ، بلكه په

---

(١) ارشاد السارى : ١٣\٢٠٥)

(٢) ارشاد السارى : ١٣\٢٠٥)

(٣) فتح البارى : ١٠\٧٢٠ ، عمدة القارى : ٢٢\٢١٥ ، ارشاد السارى : ١٣\٢٠٥)

(٤) فتح البارى : ١٠\٧٢٠ ، عمدة القارى : ٢٢\٢١٥ ، ارشاد السارى : ١٣\٢٠٥)

(٥) فيض البارى : ٤\٤٠١)

(٦) فتح البارى : ١٠\٧٢٠ ، ارشاد السارى : ١٣\٢٠٥)

نورو ژبو کښې هم ددې مفهوم نوم کۀ کیخودې شی نو دا به هم په دې ممانعت کښې داخل وی - ([1])

" شاهان شاه " په تخفیف سره " شهنشاه " هم ویلې کیږی د " شهنشاه " په شان د " احکم الحاکمین " " سلطان السلاطین " او د " امیر الامراء " هم دا حکم دې -([2])

" أقضى القضاة " په باره کښې اختلاف دې ، د علامه زمخشری په " تفسیر کشاف " کښې ددې ممانعت لیکلې دې ([3]) خو ابن منیر د دوی تردید کړیدې او ویلې دی په حدیث کښې د حضرت علی دپاره " اقضاکم علی " استعمال شویدې - ([4])

د " قاضی القضاة " په باره کښې هم بعض خلقو د ممانعت حکم کړیدې ، خو اکثر حضرات وائی چه دا لفظ د امام ابویوسف رحمه الله د زمانې نه رائج دې او چا په دې تنقید نه دې کړې - ([5])

علامه قسطلانی رحمه الله فرمائی چه څمونږ په زمانه کښې بعض جاهلان منشیان نائب قاضی ته " أقضى القضاة " او لوې قاضی ته " قاضی القضاة " لیکی ، حال دا دې چه " أقضى القضاة " د " قاضی القضاة " په مقابله کښې زیات بلیغ دې - ([6])

فائده : ابن التین د داودی نه نقل کړیدې ، چه په بعض روایتونو کښې راغلې دی " أبغض الأسماء إلى الله خالد و مالك " ابن التین وائی چه دا روایت محفوظ نه دې ځکه چه په اصحابو کښې د خالد او د مالك نوم والا ډیر اصحاب دی ([7]) قرآن کریم کښې د جهنم د داروغه دپاره د " مالك " د نوم استعمال شویدې - ([8])

حافظ ابن حجر فرمائی چه داودی چه د کوم روایت ذکر کړې وو ، هغه ما ته په ډیر تلاش کولو هم ملاو نه شو ، بیا د حضرت ابوهریره یو روایت د ابراهیم بن الفضل په تذکره کښې ما ته ملاو شو ، د هغې الفاظ دی ، " أحب الأسماء إلى الله ما سمي به ، وأصدقها الحارث وهمام ، و أكذب الأسماء خالد و مالك ، وأبغضها إلى الله ما سمي لغيره " .... یعنی الله ته ټولو کښې محبوب نوم هغه دې چه د الله د نوم سره وی (لکه عبد الله ، عبدالرحمن) او حارث او همام په ټولو کښې زیات رښتونې نومونه دی ، او خالد او مالك د ټولو نه زیات د دروغو نومونه دی ،

---

[1]) فتح الباری : ۱۰ \ ۷۲۱ ، ارشاد الساری : ۱۳ \ ۲۰۶ ، الابواب و التراجم : ۲ \ ۱۲۰)
[2]) فتح الباری : ۱۰ \ ۷۲۱ ، ارشاد الساری : ۱۳ \ ۲۰۶)
[3]) تفسیر الکشاف للزمخشری : ۲ \ ۳۹۸ ، ۳۹۹ ، ارشاد الساری : ۱۳ \ ۲۰۶)
[4]) فتح الباری : ۱۰ \ ۷۲۱ ، ارشاد الساری : ۱۳ \ ۲۰۶)
[5]) فتح الباری : ۱۰ \ ۷۲۲ ، عمدة القاری : ۲۲ \ ۲۱۵ ، ارشاد الساری : ۱۳ \ ۲۰۶)
[6]) عمدة القاری : ۲۲ \ ۲۱۵ ، ارشاد الساری : ۱۳ \ ۲۰۶ ،فتح الباری : ۱۰ \ ۷۲۱)
[7]) فتح الباری : ۱۰ \ ۷۱۹ ، عمدة القاری : ۲۲ \ ۲۱۵)
[8]) فتح الباری : ۱۰ \ ۷۱۹ ، عمدة القاری : ۲۲ \ ۲۱۵)

او غیر الله ته چه کوم نومونه منسوب شی نو الله ته تولو کښې زیات مبغوض دا نومونه دی (لکه عبد الغزی وغیره) -
داودی دحدیث متن صحیح یاد نه دې ساتلې ، او دا هم ممکن ده چه دا د بل روایت الفاظ وی -[1] حدیث د باب امام بخاری رحمه الله دلته په رومبي ځل ذکر کړیدې او صرف هم په دې یو ځائې کښې دې -

قوله: قال سفیان: یقول غیره: تفسیره: شاهان شاه: د غیره ضمیر ابوالزناد ته راجع دې - علامه انورشاه کشمیری رحمه الله لیکی :

" واعلم أن المشهور على الألسنة أن الأسماء تنسلخ عن معنى الخبرية قطعا وليس بصحيح، فإنها وإن لم تكن كالأخبار الصريحة ولكن يبقى فيها إيماء إلى الخبرية، ولذا كان ملك الأملاك من أخنى الأسماء، ولو انسلخ عن معنى الخبرية أصلا ولما كان أخنى، نعم قد ينكشف ذلك في المواضع كما في ملك الأملاك وقد لا ينكشف كما في التكني بأبي عمير، فذلك، من باب المراتب في الشيء " [2]

یعنی دا خبره مشهوره ده چه د اسماء نه د خبریت معنی سلب کیږی، اسماء صرف په مسمی باندې دلالت کولو دپاره وی ، ددې بله لغوی معنی نه وی معتبر ، خو دا خبره مطلقا صحیح نه ده ، ځکه چه اسماء اګر چه د اخبار صریحه په شان نه وی ، بیا هم خبری او لغوی معنی ته دیکښې اشاره خامخا وی ، دې وجه نه ملك الاملاك " ئې په ذلیل ترین نومونو کښې داخل کړل ، کُه لغوی معنی ته دیکښې اشاره نه وی نو دیته به " ذلیل ترین " نوم نه ویلې کیدلو -
خو بعض نومونو کښې لغوی معنی ته څه قسم اشاره نه وی لکه " ابوعمیر " یو کنیت دې خو دیکښې په څه لغوی معنی دلالت نشته دې ، بهر حال دا د " باب المراتب فی الشيء " د قبیله نه دې ، یعنی یو څیز کښې مختلف مراتب کیدې شی ، دارنګه بعض نومونو کښې په معنی لغوی دلالت کیدې شی او په بعضو کښې نه شی کیدې -
تنبیه : سفیان بن عیینه د " ملك الاملاك " تفسیر په " شاهان شاه " سره نقل کړیدې ، خو دا ترکیب مقلوب دې ، اصل کښې " شاه شاهان " دې [3]
حافظ ابن حجر او نور شارحین وائی چه عجمی ژبه کښې مضاف الیه مقدم وی " [4] خو دا خبره مطلقا صحیح نه ده ځکه اردو او هندی وغیره کښې مضاف ، په مضاف مقدم وی خو په فارسی کښې د عربئ په شان مضاف مقدم وی ، لکه چه حضرت ګنګوهی رحمه الله او ددوی په اتباع کښې شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا رحمه الله دا ترکیب " مقلوب " ګرځولې دې - [5]

---

[1]) فتح الباری : ۱۰\۷۱۹)
[2]) فیض الباری : ۴\۴۰۱)
[3]) فیض الباری : ۴\۴۰۱)
[4]) فتح الباری: ۱۰\۷۲۱ ،عمدة القاری: ۲۲\۲۱۶ ارشاد الساری: ۱۳\۲۰۶ ،الابواب و التراجم: ۲\۱۲۰)
[5]) لامع الدراری : ۱۰\۴۲ ، الابواب و التراجم : ۲\۱۲۰)

۱۱۵ = بَاب كُنْيَةِ الْمُشْرِكِ

وَقَالَ مِسْوَرٌ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِلَّا أَنْ يُرِيدَ ابْنُ أَبِي طَالِبٍ [ر: ۲۹۳۲]

[۵۸۵۳] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ ح حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي أَخِي عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي عَتِيقٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ أَنَّ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكِبَ عَلَى حِمَارٍ عَلَيْهِ قَطِيفَةٌ فَدَكِيَّةٌ وَأُسَامَةُ وَرَاءَهُ يَعُودُ سَعْدَ بْنَ عُبَادَةَ فِي بَنِي حَارِثِ بْنِ الْخَزْرَجِ قَبْلَ وَقْعَةِ بَدْرٍ فَسَارَا حَتَّى مَرَّا بِمَجْلِسٍ فِيهِ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أُبَيٍّ ابْنُ سَلُولَ وَذَلِكَ قَبْلَ أَنْ يُسْلِمَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أُبَيٍّ فَإِذَا فِي الْمَجْلِسِ أَخْلَاطٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُشْرِكِينَ عَبَدَةِ الْأَوْثَانِ وَالْيَهُودِ وَفِي الْمُسْلِمِينَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ رَوَاحَةَ فَلَمَّا غَشِيَتِ الْمَجْلِسَ عَجَاجَةُ الدَّابَّةِ خَمَّرَ ابْنُ أُبَيٍّ أَنْفَهُ بِرِدَائِهِ وَقَالَ لَا تُغَبِّرُوا عَلَيْنَا فَسَلَّمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ ثُمَّ وَقَفَ فَنَزَلَ فَدَعَاهُمْ إِلَى اللَّهِ وَقَرَأَ عَلَيْهِمُ الْقُرْآنَ فَقَالَ لَهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أُبَيٍّ ابْنُ سَلُولَ أَيُّهَا الْمَرْءُ لَا أَحْسَنَ مِمَّا تَقُولُ إِنْ كَانَ حَقًّا فَلَا تُؤْذِنَا بِهِ فِي مَجَالِسِنَا فَمَنْ جَاءَكَ فَاقْصُصْ عَلَيْهِ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ رَوَاحَةَ بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ فَاغْشَنَا فِي مَجَالِسِنَا فَإِنَّا نُحِبُّ ذَلِكَ فَاسْتَبَّ الْمُسْلِمُونَ وَالْمُشْرِكُونَ وَالْيَهُودُ حَتَّى كَادُوا يَتَثَاوَرُونَ فَلَمْ يَزَلْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُخَفِّضُهُمْ حَتَّى سَكَتُوا ثُمَّ رَكِبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَابَّتَهُ فَسَارَ حَتَّى دَخَلَ عَلَى سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيْ سَعْدُ أَلَمْ تَسْمَعْ مَا قَالَ أَبُو حُبَابٍ يُرِيدُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ أُبَيٍّ قَالَ كَذَا وَكَذَا فَقَالَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ أَيْ رَسُولَ اللَّهِ بِأَبِي أَنْتَ اعْفُ عَنْهُ وَاصْفَحْ فَوَالَّذِي أَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ لَقَدْ جَاءَ اللَّهُ بِالْحَقِّ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَيْكَ وَلَقَدِ اصْطَلَحَ أَهْلُ هَذِهِ الْبَحْرَةِ عَلَى أَنْ يُتَوِّجُوهُ وَيُعَصِّبُوهُ بِالْعِصَابَةِ فَلَمَّا رَدَّ اللَّهُ ذَلِكَ بِالْحَقِّ الَّذِي أَعْطَاكَ شَرِقَ بِذَلِكَ فَذَلِكَ فَعَلَ بِهِ مَا رَأَيْتَ فَعَفَا عَنْهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ يَعْفُونَ عَنِ الْمُشْرِكِينَ وَأَهْلِ الْكِتَابِ كَمَا أَمَرَهُمُ اللَّهُ وَيَصْبِرُونَ عَلَى الْأَذَى قَالَ اللَّهُ تَعَالَى وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ الْآيَةَ وَقَالَ وَدَّ كَثِيرٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ فَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَأَوَّلُ فِي الْعَفْوِ عَنْهُمْ مَا أَمَرَهُ اللَّهُ بِهِ حَتَّى أَذِنَ لَهُ فِيهِمْ فَلَمَّا غَزَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَدْرًا فَقَتَلَ اللَّهُ بِهَا مَنْ قَتَلَ مِنْ صَنَادِيدِ الْكُفَّارِ وَسَادَةِ قُرَيْشٍ فَقَفَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ مَنْصُورِينَ غَانِمِينَ مَعَهُمْ أُسَارَى مِنْ صَنَادِيدِ الْكُفَّارِ وَسَادَةِ قُرَيْشٍ قَالَ ابْنُ أُبَيٍّ ابْنُ سَلُولَ وَمَنْ مَعَهُ مِنَ الْمُشْرِكِينَ عَبَدَةِ الْأَوْثَانِ هَذَا أَمْرٌ قَدْ تَوَجَّهَ فَبَايِعُوا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْإِسْلَامِ فَأَسْلَمُوا [ر: ۲۸۲۵]

[٥٨٥٥] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ نَوْفَلٍ عَنْ عَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ هَلْ نَفَعْتَ أَبَا طَالِبٍ بِشَيْءٍ فَإِنَّهُ كَانَ يَحُوطُكَ وَيَغْضَبُ لَكَ قَالَ نَعَمْ هُوَ فِي ضَحْضَاحٍ مِنْ نَارٍ لَوْلَا أَنَا لَكَانَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ [ر: ٣٦٧٠]

مشرک لره په کنیت سره رابللي شي: د امام بخاری رحمه الله مقصد دا دي چه د مشرک کُه څه کنیت وی نو دې په دې کنیت سره رابللي شي۔

مولانا رشید احمد گنگوهی رحمه الله په لامع الدراری کښې فرمائی چه د کنیت استعمال په طور د احترام او د اکرام کیږی ، او کافر چه مستحق د احترام نه دی دې وجه نه د چا په زړه کښې به شبه راتلې شوه چه د کافر او د مشرک دپاره د کنیت استعمال مکروه دې ، امام بخاری رحمه الله ترجمة الباب سره دا وهم لرې کوی - ([1])

باب کښې امام بخاری رحمه الله درې روایتونه رانقل کړیدی ، ړومبې روایت ئې تعلیقًا ذکر کړیدې ، امام دا په کتاب النکاح ، باب ذب الرجل عن ابنته فی الغیرة و الإنصاف کښې موصولاً نقل کړیدې - پوره حدیث داسې دې " سمعت النبی صلی الله علیه و سلم یقول وهو علی المنبر: إن بنی هاشم بن المغیرة استأذنوا فی أن ینکحوا ابنتهم علی بن أبی طالب ، فلا آذن ، ثم لا آذن ، ثم لا آذن إلا أن یرید ابن أبی طالب أن یطلق ابنتی وینکح ابنتهم " دیکښې دوی د ابوطالب کنیت استعمال کړیدې حال دا دې چه د ده نوم عبد مناف دې - ([2])

دویم روایت ، کتاب التفسیر کښې د سورة آل عمران تر لاندې تیر شویدې ، هلته د دې او هلته د دې ترجمه او د مشکلو الفاظو معنی هم تیره شویده ([3])

قوله: <u>یتثاورون</u>: یتثاوبون یعنی په یو بل باندې راټوپ وهل ..... شرق بذلك یعنی دا حق د ده په مرئ کښې اونختلو ، ، ده ته اټکې اولګیدلو -

دې روایت کښې رسول الله ﷺ د عبد الله بن ابی بن سلول کنیت استعمال کړیدې ، فرمائی : " أی سعد، ألم تسمع ما قال ابوحُباب " ابوحباب د عبد الله بن ابی کنیت دې -

د باب دریم روایت د حضرت عباس رضی الله عنه دې ، دوی د نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو ، اے د الله رسوله : تا ابوطالب ته څه فائده ورکړیده ، ځکه چه هغه به د ستا حفاظت کولو او د ستا دپاره به ئې خپله غصه ښکاره کوله ، حضور ﷺ اوفرمائل : هَو ، هغه په کم اور کښې دی - کُه څه نه وې نو هغه به د جهنم په لاندینۍ حصه کښې وو -

دې روایت کښې حضرت عباس د ابوطالب کنیت استعمال کړیدې او رسول الله ﷺ پرې بد نه دی ګنړلې ، معلومه شوه د یو کافر او د مشرک دپاره کنیت استعمالیدې شی -

---

[1]) لامع الدراری : ١٠ \ ٤٤ ، تعلیقات لامع الدراری : ١٠ \ ٤٤)

[2]) ٣٩ ارشاد الساری : ١٣ \ ٢٠٧ ، شرح الکرمانی : ٢٢ \ ٥٥

[3]) کشف الباری : کتاب التفسیر ، باب (و لتسمعن من الذین أوتو الکتاب من قبلکم) الخ : ١ \ ٢٥١ - ١٢٦)

د کافر دپاره کنیت کله استعمالولې شي؟: امام نووی رحمه الله په " کتاب الاذکار " کښې لیکلې دی ، چه کنیت هغه وخت د کافر دپاره استعمالولې شي چه کله دې په کنیت سره مشهور وی او ددینه بغیر د ده پیژندګلو مشکل وی یا په نوم اخستو کښې د څه فتنې یره وی ...... قرآن کریم کښې " ابولهب " کنیت استعمال شویدې ، د ده نوم عبد العزی دې ، ځکه چه دې په دې کنیت سره مشهور وو ، دارنګه نوم ذکر کول دې وجه نه هم مناسب نه وو چه ده عزی صنم (بت) ته د عبد نسبت کړې وو (۱)

امام نووی رحمه الله فرمائی چه کُه دا شرط نه وی نو بیا صرف نوم ذکر کول پکار دی او په دې اضافه نه دی کول پکار - (۲)

ابن بطال رحمه الله فرمائی چه د حدیث د باب نه معلومیږی چه د تالیف قلبی دپاره ،یا د یو کافر د اسلام قبلولو امید وی یا د څه بلې فائدې ترینه امید وی نو داسې صورت کښې ده دپاره د کنیت استعمال کیدې شی - (۳)

قوله:یحوطك: حاط – حَوْطًا : حفاظت کول - ضحضاح : لږ او کم ، ډوبې اوبه -

۱۱۶=بَاب الْمَعَارِيضُ مَنْدُوحَةٌ عَنْ الْكَذِبِ

وَقَالَ إِسْحَاقُ سَمِعْتُ أَنَسًا مَاتَ ابْنٌ لِأَبِي طَلْحَةَ فَقَالَ كَيْفَ الْغُلَامُ قَالَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ هَدَأَ نَفَسُهُ وَأَرْجُو أَنْ يَكُونَ قَدْ اسْتَرَاحَ وَظَنَّ أَنَّهَا صَادِقَةٌ [ر:۱۲۳۹]

[۵۸۵۶\۵۸۵۷\۵۸۵۸] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَسِيرٍ لَهُ فَحَدَا الْحَادِي فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارْفُقْ يَا أَنْجَشَةُ وَيْحَكَ بِالْقَوَارِيرِ

[۵۸۵۷] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسٍ وَأَيُّوبَ عَنْ أَبِي قِلَابَةَ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِي سَفَرٍ وَكَانَ غُلَامٌ يَحْدُو بِهِنَّ يُقَالُ لَهُ أَنْجَشَةُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رُوَيْدَكَ يَا أَنْجَشَةُ سَوْقَكَ بِالْقَوَارِيرِ قَالَ أَبُو قِلَابَةَ يَعْنِي النِّسَاءَ

حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ أَخْبَرَنَا حَبَّانُ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ كَانَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَادٍ يُقَالُ لَهُ أَنْجَشَةُ وَكَانَ حَسَنَ الصَّوْتِ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رُوَيْدَكَ يَا أَنْجَشَةُ لَا تَكْسِرْ الْقَوَارِيرَ قَالَ قَتَادَةُ يَعْنِي ضَعَفَةَ النِّسَاءِ

---

(۱) فتح الباری : ۱۰ \ ۷۲۳ ، عمدة القاری : ۲۲ \ ۲۱۸ ، ارشاد الساری : ۱۳ \ ۲۱۰ ، الأذکار النووية مع الفتوحات الربّانية ، کتاب الأسماء ، باب جواز تکنية الکافر : ۶ \ ۱۵٤) .....

(۲) الأذکار النووية مع الفتوحات الربّانية . کتاب الأسماء . باب جواز تکنية الکافر : ۶ \ ۱۵٤)

(۳) شرح صحیح البخاری لابن بطال : ۹ \ ۳۵۵)

[٥٨٥٨] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ شُعْبَةَ قَالَ حَدَّثَنِي قَتَادَةُ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ بِالْمَدِينَةِ فَزَعٌ فَرَكِبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَسًا لِأَبِي طَلْحَةَ فَقَالَ مَا رَأَيْنَا مِنْ شَيْءٍ وَإِنْ وَجَدْنَاهُ لَبَحْرًا [ر: ٢٤٨٤]

امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې چه کوم الفاظ ذکر کړيدی ، دا د مرفوع حديث الفاظ دی ، چه کوم د حضرت عمران بن الحصين ﷺ نه روايت دی - [1]

مولانا انورشاه کشميری رحمه الله په فيض الباری کښې ليکی :

" قوله : مندوحة أی متسع و مفر ، أراد المصنف من المعاريض التورية ، أی التكلم بكلام لا يفهم المخاطب ما أراد منه المتكلم ، ما يفهم منه يظنه صادقا باعتباره ، ولم يرد تعريض علماء البيان " [2] يعنی د معاريض نه دلته توريه مراد ده ، مقصد دا دی چه داسې خبره کول چه مخاطب دينه د متکلم په مراد پوه نه شی او چه کوم مفهوم مخاطب ترينه واخلی ، دی متکلم په ديکښې ربنتونی او صادق خيال کړی ، دينه د علم بيان اصطلاحی تعريفونه مراد نه دی ، علامه ابن اثير په " النهايه " کښې ليکی :

" المعاريض : جمع مِعْرَاض ، من التعريض ، و هو خلاف التصريح من القول " [3] يعنی معاريض د معراض جمع ده او دا د تعريض نه دی ، تعريض د صريح ضد دی -

د المعاريض مندوحة عن الكذب مطلب دا دی چه کُه چا توريه اوکړه او تصريح سره ئې خبره نه وی کړې نو دا په دروغو کښې داخل نه دی ، علامه قسطلانی رحمه الله ددې ترجمه ليکی : " أی فی المعاريض من الاتساع ما يغنی عن الكذب " [4]

امام بخاری رحمه الله د دې په جواز باندې ړومبې استدلال د حضرت ام سليم د قصې نه کړيدې ، حضرت ابوطلحه دينه تپوس اوکړو ، هلك څنګه دې ؟ نو دې اوويل : په سکون او په آرام دې ځما اميد دې چه ده راحت بيا موندو " ابو طلحه خيال اوکړو چه دا ربنتيا وائی او ماشوم د بيمارئ نه ښه شويدې ، حال دا وو چه د بچی وفات شوې وو خو حضرت ام سليم توريه اوکړه او ده ته ئې اصل حقيقت د شپې خودل مناسب اونه ګڼړل ، ديته دروغ نه وائی بلکه توريه ورته وائی ، جنائز کښې امام دا موصولاً نقل کړيدې ، لکه چه قسطلانی رحمه الله ليکی :

" و ظن أبو طلحة أنها صادقة باعتبار ما فهمه من كلامها ، لأن مفهومه أن الصبی تعافی ، لأن النفس إذا سكن ، أشعر بالنوم ، و العليل اذا نام ، أشعر بزوال مرضه أو خفته ، فالمرأة صادقة باعتبار مرادها ، و أما خبرها بذلك فهو غير مطابق للأمر الذی فهمه أبو طلحة ، فمن ثم قال الراوی : و ظن أنها صادقة ، و مثل ذلك لا يسمى كذبا.

---

[1] النهاية لابن الاثير : ٣\٢١٢)

[2] فيض الباری : ٤\٤٠١)

[3] النهاية لابن الاثير " مادة عرض : ٣\٢١٢)

[4] ٤٧ ارشاد الساری : ١٣\٢١٠)

على الحقيقة، بل مندوحة عن الكذب" (١)
باب کښې دننه چه کوم دوه حدیثونه دی ، دیکښې یو انجشه والا حدیث دې ، چه دیکښې رسول الله ﷺ د ښځو دپاره " قوارير " لفظ په طور د تشبیه استعمال کړیدې ، او دویم حدیث کښې د آس دپاره " بحر " لفظ په طور د تشبیه استعمال کړیدې ، دا دواړه حدیثونه د معاریض د قبیل نه نه دې ، بلکه دا الفاظ مجازا استعمالیږی -
ابن منیر تکلف کړیدې او ویلې دی چه د امام بخاری رحمه الله مقصد دا دې چه کله کلام کښې د مجاز استعمال جائز دې ، نو د معاریض استعمال په طریق اولی جائز کیدل پکار دی ، ځکه چه معاریض کښې کلام په خپله حقیقی معنی کښې استعمالیږی - (٢)
علامه انور شاه کشمیری رحمه الله دې دواړو حدیثونوکښې د یو بل سره مناسبت بیانوی او لیکی: "قوله : ما رأينا من شيء، مع أنه كان رأى شيئا من الأشياء لا محالة، فيكون المراد شيء يعتد به ، فسماها معاريض، مع أنها ليست من المعاريض في شيء ..... و بالجملة : مراد المصنف أن المعاريض و أمثالها ليست من الكذب في شيء ولكنها أنواع من الكلام ....." (٣)
(یعنی حضور ﷺ " ما رأينا من شيء " اوفرمائل چه ما څه نه دی لیدلې ، حال دا دې چه دوی خو به څه ځیز خامخا لیدلې وی ، مطلب دا وو چه ما څه قابل ذکر او قابل توجه ځیز نه دې لیدلې . دیته معاریض اوویلې شو ، حال دادې دا د معاریض د قبیله نه دې . خلاصه دا چه معاریض وغیره د کلام یو قسم ضرور دې خو دیته دروغ نه شی ویلې کیدې -

١١٧: بَاب قَوْلِ الرَّجُلِ لِلشَّيْءِ لَيْسَ بِشَيْءٍ وَهُوَ يَنْوِي أَنَّهُ لَيْسَ بِحَقٍّ

وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْقَبْرَيْنِ يُعَذَّبَانِ بِلَا كَبِيرٍ وَإِنَّهُ لَكَبِيرٌ [ر: ٥٧٠٨]

[٥٨٥٩] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَامٍ أَخْبَرَنَا مَخْلَدُ بْنُ يَزِيدَ أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ أَخْبَرَنِي يَحْيَى بْنُ عُرْوَةَ أَنَّهُ سَمِعَ عُرْوَةَ يَقُولُ قَالَتْ عَائِشَةُ سَأَلَ أُنَاسٌ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ الْكُهَّانِ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسُوا بِشَيْءٍ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ فَإِنَّهُمْ يُحَدِّثُونَ أَحْيَانًا بِالشَّيْءِ يَكُونُ حَقًّا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِلْكَ الْكَلِمَةُ مِنْ الْحَقِّ يَخْطَفُهَا الْجِنِّيُّ فَيَقُرُّهَا فِي أُذُنِ وَلِيِّهِ قَرَّ الدَّجَاجَةِ فَيَخْلِطُونَ فِيهَا أَكْثَرَ مِنْ مِائَةِ كَذْبَةٍ [ر: ٥٣٢٩]

ډیر کرتې یو ځیز معیاری نه وی ، یا حق نه وی ، دې دپاره په عربۍ ژبه کښې او دا رنګه په نورو ژبو کښې هم ویلې کیږی چه " لیس بشيء " هیڅ هم نه دې " لیس بشيء " مطلب دا دې

(١) ارشاد الساری : ١٣ \ ٢١٠)
(٢) فتح الباری : ١٠ \ ٧٢٦)
(٣) فیض الباری : ٤ \ ٤٠٢)

چه دا حق نه دې ، اردو ژبه کښې هم عموماً د چا باره کښې ویلې کیږی چه " وه تو کچھ بھي نهين " (دې خو هیڅ هم نه دې) په داسې کلام سره د ده د وجود او د شيء کیدو نفی مقصود نه وی ، بلکه د دې د معیاری کیدو ، د حق کیدو او صحیح کیدو نفی وی -
د امام بخاری رحمه الله مقصد دا دې چه داسې کلام د کذب په زمره کښې داخل نه دې ، د " لیس بشيء " مطلب دا دې چه لیس بشيء معتد به یعنی څه قابل ذکر او قابل اعتبار ځیز نه دی - ([1])
باب کښې امام بخاری رحمه الله د حضرت ابن عباس تعلیق ذکر کړیدې ، چه دوی ﷺ د دوه قبرونو متعلق اوفرمائل : چه دوی دواړو ته عذاب ورکولې کیږی ، څه لوې ځیز کښې نه دې ، خو دا لوې دې ، ړومبې ئې نفی اوکړه او بیا ئې اثبات اوکړو فکأنه قال لشيء : لیس بشيء (؟) أی لیس بشيء له أهمیته عند الناس وإن کان فی نفسه أهم ، کتاب الطهارة ، باب من الکبائر أن لا یستتر من بوله کښې امام بخاری رحمه الله دا تعلیق موصولاً ذکر کړیدې -
دباب دویم روایت کښې حضور اکرم ﷺ نه د کاهنانو متعلق تپوس اوشو ، دوی اوفرمائل " لیسوا بشيء " هیڅ هم نه دی ، یعنی لیس بشيء یعتد به ([2])
کَذِبة د کاف په فتحه او د ذال په سکون سره ، دروغو ته وائی

۱۱۸= بَاب رَفْعِ الْبَصَرِ إِلَى السَّمَاءِ

وَقَوْلِهِ تَعَالَى أَفَلَا يَنْظُرُونَ إِلَى الْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ وَإِلَى السَّمَاءِ كَيْفَ رُفِعَتْ [الغاشية:۱۸،۱۷] وَقَالَ أَيُّوبُ عَنْ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ عَائِشَةَ رَفَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأْسَهُ إِلَى السَّمَاءِ [ر:۴۱۸۶]

[۵۸۶۰] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا سَلَمَةَ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ يَقُولُ أَخْبَرَنِي جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ ثُمَّ فَتَرَ عَنِّي الْوَحْيُ فَبَيْنَا أَنَا أَمْشِي سَمِعْتُ صَوْتًا مِنْ السَّمَاءِ فَرَفَعْتُ بَصَرِي إِلَى السَّمَاءِ فَإِذَا الْمَلَكُ الَّذِي جَاءَنِي بِحِرَاءٍ قَاعِدٌ عَلَى كُرْسِيٍّ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ [ر:۴]

[۵۸۶۱] حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي مَرْيَمَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ أَخْبَرَنِي شَرِيكٌ عَنْ كُرَيْبٍ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ بِتُّ فِي بَيْتِ مَيْمُونَةَ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَهَا فَلَمَّا كَانَ ثُلُثُ اللَّيْلِ الْآخِرُ أَوْ بَعْضُهُ قَعَدَ فَنَظَرَ إِلَى السَّمَاءِ فَقَرَأَ إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِأُولِي الْأَلْبَابِ [ر:۱۱۷]

---

[1]) الابواب و التراجم : ۲ \ ۱۲۰)
[2]) ارشاد الساری : ۱۳ \ ۲۱۲ ، عمدة القاری : ۲۲ \ ۲۲۰)
[3]) لامع الدراری : ۱۰ \ ٤٤ ، الابواب و التراجم : ۲ \ ۱۲۰)

د ترجمة الباب مقصد :ابن التين فرمائي چه د امام بخاري رحمه الله په دې ترجمة الباب سره مقصد د هغه ترديد دې چه كوم اسمان ته سترګې اوچتول مكروه ګڼړي - (١)

لكه چه امام طبري رحمه الله د حضرت ابراهيم تيمي او د عطا سلمي نه نقل كړيدي چه څلويښتو كالو پورې هغوى اسمان ته سترګې نه وې پورته كړې دوجه د يرې دالله تعالى نه(٢)

امام بخاري رحمه الله د دې مسلك ترديد كوي ، هو د مانځه په حالت كښې آسمان ته سترګې اوچتول ممنوع دي ، په كتاب الصلاة كښې د حضرت انس مرفوع روايت تير شويدې ، چه هغې كښې دي : ما بال أقوام يرفعون أبصارهم إلى السماء ، في صلاتهم ، فاشتد قوله في ذلك حتى قال لينتهين عن ذلك أو لتخطفن أبصارهم (٣) په هغه خلقو څه شويدي چه دوى په مانځه كښې اسمان ته بره ګورى ، حضور د دې باره كښې سخته منع اوكړه او ارشاد ئې اوكړو چه دا خلق دې دې حركت نه منع شي ګني د دوى به نظر واخستې شي)

بهر حال دا د مونځ په حالت كښې آسمان ته د سترګو اوچتولو حكم دې ، تر كومې چه عام حالاتو كښې آسمان ته د كتلو حكم دې ، دا بغير د كراهته جائز دې ، بلكه ددې څو فوائدهم بيانيږى -

باب كښې ذكر د ايوب سختياني تعليق امام احمد په مسند كښې او امام بخاري رحمه الله په كتاب المغازي ، باب مرض النبي ﷺ و وفاته كښې موصولاً نقل كړيدې ، هلته د روايت الفاظ دى " فرفع رأسه إلى السماء...." (٤)

امام ابوداود رحمه الله په " سنن ابى داود " كښې يو روايت نقل كړيدې ، ديكښې دى " كان رسول الله صلى الله عليه و سلم إذا جلس يتحدث ، يكثر أن يرفع بصره إلى السماء " (٥) يعنى رسول الله ﷺ چه به كله ناست وو او خبرې به ئې كولې نو آسمان ته به ئې ډيرې سترګې اوچتولې -

١١٩=بَاب نَكْتِ الْعُودِ فِي الْمَاءِ وَالطِّينِ

[٥٨٦٣] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ عُثْمَانَ بْنِ غِيَاثٍ حَدَّثَنَا أَبُو عُثْمَانَ عَنْ أَبِي مُوسَى أَنَّهُ كَانَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَائِطٍ مِنْ حِيطَانِ الْمَدِينَةِ وَفِي يَدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُودٌ يَضْرِبُ بِهِ بَيْنَ الْمَاءِ وَالطِّينِ فَجَاءَ رَجُلٌ يَسْتَفْتِحُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ افْتَحْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ فَذَهَبْتُ فَإِذَا أَبُو بَكْرٍ فَفَتَحْتُ لَهُ وَبَشَّرْتُهُ بِالْجَنَّةِ ثُمَّ اسْتَفْتَحَ رَجُلٌ آخَرُ فَقَالَ افْتَحْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ فَإِذَا عُمَرُ فَفَتَحْتُ لَهُ وَبَشَّرْتُهُ بِالْجَنَّةِ ثُمَّ اسْتَفْتَحَ رَجُلٌ آخَرُ وَكَانَ

---

١) فتح الباري : ١٠\٧٢٨ ، عمدة القاري : ٢٢\٢٢٠)
٢) فتح الباري : ١٠\٧٢٨ ، عمدة القاري : ٢٢\٢٢٠)
٣) صحيح البخاري : باب رفع البصر إلى السماء في الصلوة " : ١٦٦ (رقم الحديث : ٧٥٠)......
٤) فتح الباري : ١٠\٧٢٨ ، عمدة القاري : ٢٢\٢٢١ ، ارشاد الساري : ١٣\٢١٤)
٥) الحديث أخرجه أبوداود في كتاب الأدب ، باب الهدى في الكلام : ٢\٣٠٩)

مُتَّكِئًا فَجَلَسَ فَقَالَ افْتَحْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ عَلَى بَلْوَى تُصِيبُهُ أَوْ تَكُونُ فَذَهَبْتُ فَإِذَا عُثْمَانُ فَقُمْتُ فَفَتَحْتُ لَهُ وَبَشَّرْتُهُ بِالْجَنَّةِ فَأَخْبَرْتُهُ بِالَّذِي قَالَ قَالَ اللَّهُ الْمُسْتَعَانُ [ر:٣٤٧١]

د حضرت ابوموسى اشعرى ﷺ نه روايت دې چه دې د مدينې منورې په يو باغ کښې د رسول الله ﷺ سره وو ، د دوى په لاس کښې يو لرګې (چوکه) وو ، چه دا دوى په مينځ د اوبو او د خاوره کښې وهلو ، يو سړې راغلو او د باغ د دراوزې د خلاصولو ئې اوويلې نو رسول الله ﷺ اوفرمائل : دروازه ورته خلاصه کړه او ده ته د جنت زيرې ورکړه ، نو څه چه دروازې ته ورغلم نو اومې کتل چه حضرت ابوبکر صديق دې ، ما دوى ته دروازه خلاصه کړه او د جنت زيرې مې ورته ورکړو ، بيا بل يو کس د دروازې خلاصولو اوويلې : نو حضور ﷺ اوفرمائل : دروازه ورته خلاصه کړه او ده ته د جنت زيرې ورکړه ، څه چه ورغلم نو اومې کتل چه حضرت عمر دې ، ما دوى ته دروازه خلاصه کړه او د جنت زيرې مې ورته ورکړو ، بيا يو بل سړى د دروازې خلاصولو اوويلې دغه وخت دوى ﷺ ډډه وهلې وه نو دوى کښيناستل : نو دوى ﷺ اوفرمائل : دروازه ورته خلاصه کړه او ده ته د جنت زيرې ورکړه په هغه مصيبت چه ده ته به ملاويږى ، نو چه څه لاړم نو دې حضرت عثمان وو ، ما دوى ته دروازه خلاصه کړه او د جنت زيرې مې ورته ورکړو او حضور ﷺ چه کومه خبره کړې وه ، هغه مې ورته اوخودله نو دوى اوويل : الله المستعان (الله مددګار دې) -

د ترجمة الباب مقصد : د يو سړې په لاس کښې ډير کرته يو همسا يا څه لرګې يا څه ډکې وى او دې سره دې زمکه ګروى يا په زمکه ئې رو رو وهى ، دا عموماً هله کيږى چه کله انسان په ډير ډوب سوچ کښې وى نو په بې خيالئ کښې ئې د لاسونو دا حرکت په خپله جارى وى - د امام بخارى رحمه الله مقصد دا دې چه داسې حرکت بې د څه کراهته جائز دې او دا په لهو او عبث کښې داخل نه دې - (١)

شيخ الحديث مولانا محمد زکريا رحمه الله فرمائلې دى چه امام بخارى رحمه الله دا ترجمة الباب د دې عمل د عدم جواز د وهم لرې کولو دپاره قائم کړيدې چه کوم په ترمذى او په ابن ماجه کښې د حضرت عقبه بن عامر د يو مرفوع حديث نه پيدا کيږى ، د هغې الفاظ دى " كل شيء يلهو به الرجل باطل إلا رميه بقوسه ، وتأديبه فرسه ، و ملاعبته إمرأته ، فإنهن من الحق.....

(٢) يعنى سړې چه د کوم څيز سره هم لوبې کوى باطل دې ماسو دا غشې ويشتلو نه او آس جوتې کولو نه او د خپلې ښځې سره د لوبې کولو نه ، دا جائز دى -

مولانا انورشاه کشميرى رحمه الله په " فيض البارى " کښې فرمائى چه رسول الله ﷺ داسې کړيدى نو دا د وقار او د متانت خلاف نه ده - (٣) دينه د امام بخارى رحمه الله يو بل مقصد ته هم اشاره اوشوه چه دا عمل د وقار او د ادب خلاف نه دې -

د حديث د ترجمة الباب سره مناسبت بالكل واضحه دې ديکښې دى و فى يد النبى ﷺ عود

---

١) فتح البارى : ١٠\٧٢٩ ، الابواب و التراجم : ٢\١٢٠)

٢) الابواب و التراجم : ٢\١٢٠)

٣) فيض البارى : ٤\٤٠٢)

يضرب به بين الماء و الطين ..... دا حديث په كتاب المناقب ، باب مناقب عمربن الخطاب ﷺ كښې تير شويدې -

۱۲۰=بَابُ الرَّجُلِ يَنْكُتُ الشَّيْءَ بِيَدِهِ فِي الْأَرْضِ

[۵۸۶۳] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ سُلَيْمَانَ وَمَنْصُورٍ عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ السُّلَمِيِّ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَنَازَةٍ فَجَعَلَ يَنْكُتُ الْأَرْضَ بِعُودٍ فَقَالَ لَيْسَ مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا وَقَدْ فُرِغَ مِنْ مَقْعَدِهِ مِنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ فَقَالُوا أَفَلَا نَتَّكِلُ قَالَ اعْمَلُوا فَكُلٌّ مُيَسَّرٌ فَأَمَّا مَنْ أَعْطَى وَاتَّقَى الْآيَةَ [ر:۱۲۹۶]

دينه وړاندې باب كښې د " ينكت العود.... " ذكر دې دينه مراد همسا ده او دې باب كښې ئې " الشيء " اوويلې نو دې سره ډكې وغيره ته اشاره كوى او مطلب دا دې چه كه په لاس كښې لرګې وى او خبرې كوې يا سوچ كوې او دا په زمكه وهې يا ډكې وى اودې سره زمكه ګرولې شى نو دا ټول جائز دى - (۱)

مولانا زكريا رحمه الله فرمائى چه د امام مقصد دينه د غور او د فكر كولو تاكيد سره سره توجه وركول مقصود دى ځكه چه داسې عمل د غور وفكر په وخت كيږى ، قرآن كريم په څو آيتونو كښې هم ئې (لعلكم تفكرون) اوويل او د غور اوفكر ترغيب ئې وركړو لكه چه حضرت ليكى : " قلت : ولعل التبويب بهذه الترجمة مع أن معناه قد تقدم فى باب السابق إشارة منه إلى مزيد الإهتمام فى أمر التفكر و التدبر ، وإلا فأصل النكت قد ثبت جوازه فى الباب السابق و قد ورد الحث و التحريض فى عدة آيات من القرآن فى الأمر بالتفكر بقوله : (لعلكم تتفكرون) فتأمل ، فإنه لطيف " (۲)

حديث د باب كتاب التفسير كښې د سورة الليل په تفسير كښې تير شويدې ، ديكښې دى فجعل ينكث الأرض بعود

قوله: فكلٌّ ميسَّرٌ: مولانا انور شاه كشميرى رحمه الله د دې په تشريح كښې ليكى :

" أى لستم فى مكنة من فعل شيء ، وتركه من عند أنفسكم وإنما هو أمر مقدر ، فتفعلون وتتركون ما قدر لكم ، و ذلك يكون ميسرا لكم ، فلا يأتى منكم خلافه ، فالاتكال وترك الجهد فى الأعمال عبث " (۳)

د دې حاصل دا دې چه د يو كار پريخودل يا د يو كار كولو د انسان دپاره د مخكښې نه مقرر او مقدر وى ، دې چه څه هم كوى يا څه هم پريږدى دا د تقدير مطابق ده دپاره ميسر كيږى ، دې وجه نه اعمالو كښې دننه په تقدير توكل كول او محنت پريخودل دا عبث دى ، ځكه چه تقدير كښې څه ليكلې شويدى هغه خو به خامخا كوې -

---

(۱) ارشاد السارى : ۱۳\۲۱۷ . و الابواب و التراجم : ۲\۱۲۰)

(۲) الابواب و التراجم : ۲\۱۲۰)

(۳) فيض البارى : ٤\٤٠٢)

١٢١=بَاب التَّكْبِيرِ وَالتَّسْبِيحِ عِنْدَ التَّعَجُّبِ

[٥٨٦٤] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ حَدَّثَتْنِي هِنْدُ بِنْتُ الْحَارِثِ أَنَّ أُمَّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ اسْتَيْقَظَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ سُبْحَانَ اللَّهِ مَاذَا أُنْزِلَ مِنَ الْخَزَائِنِ وَمَاذَا أُنْزِلَ مِنَ الْفِتَنِ مَنْ يُوقِظُ صَوَاحِبَ الْحُجَرِ يُرِيدُ بِهِ أَزْوَاجَهُ حَتَّى يُصَلِّينَ رُبَّ كَاسِيَةٍ فِي الدُّنْيَا عَارِيَةٌ فِي الْآخِرَةِ [ر:١١٥]

وَقَالَ ابْنُ أَبِي ثَوْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ عُمَرَ قَالَ قُلْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَلَّقْتَ نِسَاءَكَ قَالَ لَا قُلْتُ اللَّهُ أَكْبَرُ [ر:٨٩]

حضرت ام سلمه فرمائي چه رسول الله ﷺ د خوبه رابيدار شو نو وې فرمائل : سبحان الله ! څه څه خزانې او څه څه فتنې نازلې شوې ، څوك شته چه د دې كوټو زنانه (ازواج مطهرات) راويخې كړى ، دې دپاره چه مونځ اوكړى ، دنيا كښې به ډيرې جامې اغوستونكې ښځې (د ناقص لباس په وجه) په آخرت كښې به بربنډې وى -

[٥٨٦٥] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ ح وحَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي أَخِي عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي عَتِيقٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَلِيِّ بْنِ الْحُسَيْنِ أَنَّ صَفِيَّةَ بِنْتَ حُيَيٍّ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّهَا جَاءَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَزُورُهُ وَهُوَ مُعْتَكِفٌ فِي الْمَسْجِدِ فِي الْعَشْرِ الْغَوَابِرِ مِنْ رَمَضَانَ فَتَحَدَّثَتْ عِنْدَهُ سَاعَةً مِنَ الْعِشَاءِ ثُمَّ قَامَتْ تَنْقَلِبُ فَقَامَ مَعَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْلِبُهَا حَتَّى إِذَا بَلَغَتْ بَابَ الْمَسْجِدِ الَّذِي عِنْدَ مَسْكَنِ أُمِّ سَلَمَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِهِمَا رَجُلَانِ مِنَ الْأَنْصَارِ فَسَلَّمَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ نَفَذَا فَقَالَ لَهُمَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى رِسْلِكُمَا إِنَّمَا هِيَ صَفِيَّةُ بِنْتُ حُيَيٍّ قَالَا سُبْحَانَ اللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَكَبُرَ عَلَيْهِمَا مَا قَالَ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِي مِنِ ابْنِ آدَمَ مَبْلَغَ الدَّمِ وَإِنِّي خَشِيتُ أَنْ يَقْذِفَ فِي قُلُوبِكُمَا [ر:١٩٣٠]

ام المؤمنين حضرت صفيه بنت حي نه روايت دې چه دا د رسول الله ﷺ ملاقات دپاره راغله ، دغه وخت دوى په جُمات كښې د رمضان د آخرى عشرې د اعتكاف دپاره ناست وو - دوى سره د عشاء څه خبرې اوشوې ، بيا د واپس تللو دپاره اودريدله ، نو نبى كريم ﷺ دا كور ته رسولو دپاره اودريدو ، تر دې چه كله دې د جمات هغه دروازې ته اورسيدو چه كومه د ام سلمه د كور سره نزدې وه ، نو يو دوه انصار دوى سره په خواه كښې تير شو او دوى دواړو رسول الله ﷺ ته سلام اوكړو ، بيا په تيزئ سره وړاندې شو ، رسول الله ﷺ دې دواړو ته اوفرمائل : لږ اودريږئ ، دا صفيه بنت حي ده (څوك پردئ ښځه نه ده) ، دې دواړو اوويل : سبحان الله اے د الله رسوله : دا وضاحت كول دوى ته ډير سخت اولګيدلو ، نو حضور ﷺ اوفرمائل : شيطان د اولاد د آدم په رګونو كښې په شان د وينې ګرځى ، دې

وجه نه ما ته یره اوشوه چه اسې نه شیطانه د ستاسو په زړه کښې وسوسه وانه چوی -
باب کښې د ابن ابی ثور تعلیق په کتاب العلم باب التناوب فی العلم کښې موصولاً تیر شویدې ،
د ابن ابی ثور نوم عبدالله بن عبدالله دې - العشر الغوابر : المراد بها هنا البواقی یعنی د رمضان آخری عشره ! (۱)

تنقلب : أی تنصرف إلی بیتها - یقلبها : جمله حالیه ده ، أی یصرفها إلی بیتها - ثم نفذا : وای، رجل نافذ فی أمره أی ماض و المعنی نفذا مسرعین یعنی دواړه په تیزئ سره تیر شو - علی رسلکما : یعنی اودریږئ ..... یقذف فی قلوبکما أی یقذف الشیطان شیئاً فی قلوبکما - (۲) یعنی شیطان به د ستاسو زړونو کښې وسوسه واچوی -

د ترجمة الباب مقصد : د تعجب په وخت " الله اکبر " او سبحان الله " ویل حدیث سره ثابت دې د الله په برکتی نوم باندې مشتمل داسې جملو سره چه ژبه تازه وی ، بعض خلق دا ممنوع ګرځوی او وائی چه د الله ذکر د خپلو عامو خبرو داسې حصه نه دی جوړول پکار ، ځکه چه دا د آدب د ذکر خلاف دی ، امام بخاری رحمه الله په دې ترجمة الباب سره د دوی تردید کړیدې ، حافظ ابن حجر رحمه الله د ابن بطال په حواله سره لیکی :

" التسبیح و التکبیر معناه تعظیم الله و تنزیهه من السوء ، و استعمال لك عند التعجب ، و استعمال الأمر حسن ، و فیه تمرین اللسان علی ذکر الله تعالی ، و هذا توجیه جید ، کأن البخاری رمز إلی الرد علی من منع ذلك " (۳)
مولانا رشید احمد ګنګوهی رحمه الله فرمائي چه دینه د هغه خلقو د مسلك تردید باندې استدلال کیږی چه کوم وائی چه یو سړی بل ته اوویل : " خوراك اوکړه " او ده جواب کښې اوویل : اذکروا باسم الله د الله نوم واخله نو دې کافر شو - (۴)
دحدیث د باب نه ددې غلط کیدل ثابتیږی چه د الله نوم او ذکر په کلام الناس کښې داسې استعمالیدې ، لکه چه حضرت لیکی

" فیه دلالة علی رد ما قال بعضهم إن من قال للآخر : کُل ، فقال اذکروا باسم الله کفر ، وجه الرد ظاهر ، فإن الحدیث وضع اسم الله موضع کلام الناس ، کما فی مسألة " بسم الله " فافهم " (۵)

(۱) فتح الباری : ۱۰ \ ۷۳۱ ،عمدة القاری : ۲۲ \ ۲۲۴)
(۲) عمدة القاری : ۲۲ \ ۲۲۴)
(۳) فتح الباری : ۱۰ \ ۷۳۱ ، شرح صحیح البخاری لابن بطال : ۹ \ ۳۶۴)
(۴) لامع الدراری : ۱۰ \ ۴۵ ، ۴۶) ایضاً تعلیقات لامع الدراری : ۱۰| ۴۵، ۴۶)_
(۵) لامع الدراری : ۱۰ \ ۴۵ ، ۴۶)

۱۲۲=باب النهى عن الخذف

[۵۸۶۶] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ قَالَ سَمِعْتُ عُقْبَةَ بْنَ صُهْبَانَ الْأَزْدِيَّ يُحَدِّثُ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُغَفَّلٍ الْمُزَنِيِّ قَالَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ الْخَذْفِ وَقَالَ إِنَّهُ لَا يَقْتُلُ الصَّيْدَ وَلَا يَنْكَأُ الْعَدُوَّ وَإِنَّهُ يَفْقَأُ الْعَيْنَ وَيَكْسِرُ السِّنَّ [ر:۴۵۶۱]

خَذْف (د خاء په فتحه او د ذال په سکون سره) په گوتو سره کانړو ويشتلو ته وائی ، ابن بطال فرمائی : چه د متې گوتې او د مسواکې گوتې سره کانړې گزارولو ته خذف وائی [1] رسول الله ﷺ دينه منع کړيده او فرمائی چه دې سره نه ښکار ويشتې کيدې شی او نه دښمن زخمی يا قتل کيدې شی ، خو دې سره سترگه اوخی يا غاښ ماتيږی -

مقصد دا دې چه د دښمن څه نقصان په دې نه شی کيدې ، خو د خوا کښې ناستو خلقو نقصان کيدې شی ، چه د چا سترگه پرې اولگی يا ئې پرې غاښ اولگی نو سترگه به ئې زخمی او غاښ به ئې مات شی -

قوله: لاينكأ العدو: د دا نكاية نه دې ، نكاية د دښمن قتل كولو او زخمی كولو ته وائی [2]

۱۲۳=باب الحمد للعاطس

[۵۸۶۷] [3] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ عَطَسَ رَجُلَانِ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَشَمَّتَ أَحَدَهُمَا وَلَمْ يُشَمِّتْ الْآخَرَ فَقِيلَ لَهُ فَقَالَ هَذَا حَمِدَ اللَّهَ وَهَذَا لَمْ يَحْمَدْ اللَّهَ [ر:۵۸۷۱]

دې باب كښې امام بخاری رحمه الله د پرنجې كوونكې دپاره " الحمد لله " ويلو مشروعيت او د دې استحباب بيان كړيدې ، د پرنجې په وجه دماغ خلاصيږی ، او طبيعت كښې ئې تازگی پيدا كيږی - [4] بعضې وائی چه په پرنجې كولو سره د دماغو بعض بيمارئ ختميږی دې وجه نه ده لره په طور د شكر " الحمد لله " ويل مسنون او مستحب دی ، امام نووی

---

[1] ۷۲ شرح ابن بطال : ۹ \ ۳۶۴)

[2] عمدة القاری : ۲۲ \ ۲۲۴)

[3] ۵۸۶۷) الحديث أخرجه البخاری ايضا فی كتاب الأدب ، باب لا يشمت العاطس إذا لم يحمد الله (رقم لحديث : ۵۸۷۱) و أخرجه مسلم فی كتاب الزهد و الرقائق ، باب تشميت العاطس و كراهة التثاؤب : ۴ \ ۲۲۹۲ (رقم الحديث : ۲۹۹۱) و أخرجه أبوداود فی كتاب الأدب ، باب من يعطس و لا يحمدالله : ۴ \ ۳۰۹ (رقم الحديث : ۵۰۳۹) و أخرجه الترمذی فی كتاب الأدب ، باب ما جاء فی إيجاب التشميت بحمد العاطس ۵ \ ۸۴ (رقم الحديث : ۲۷۴۲) و أخرجه النسائی فی كتاب عمل اليوم و الليلة ، باب ما يقول إذا عطس : ۶ \ ۶۴ (رقم الحديث : ۱۰۰۵۰) و أخرجه ابن ماجه فی كتاب الأدب ،باب تشميت العاطس : ۲ \ ۱۲۲۳ (رقم الحديث : ۳۷۱۳)

[4] ارشاد الساری : ۱۳ \ ۲۱۹)

رحمه الله د دې په استحباب اجماع نقل کړيده (١)

د پرنجې نه پس څومره الفاظ ويل پکار دی : اوس دا خبره پاتې کيږی چه څومره الفاظ ويل پکار دی ، ديکښې روايتونه مختلف دی :

① شارح بخاری ابن بطال د يو جماعت نه نقل کړيدې چه صرف " الحمد لله " ويل پکار دی ، او په دې څه اضافه نه دی کول پکار (٢) د دوه بابونو نه پس د حضرت ابوهريره روايت راخی ديکښې صرف د " الحمد لله " ذکر دې

② امام ترمذی رحمه الله د حضرت ابو ايوب ﷺ نه مرفوع حديث نقل کړيدې چه هغې کښې دی " إذا عطس أحدكم، فليقل: الحمد لله على كل حال " (٣)

امام ابوداود رحمه الله په سنن کښې د حضرت ابوهريره ﷺ نه هم ددې مفهوم يو روايت نقل کړيدې -(٤)

③ امام بخاری رحمه الله په " الادب المفرد " کښې د حضرت ابن عباس نه يو روايت نقل کړيدې دينه معلوميږی چه " الحمد لله رب العالمين " ويل زيات بهتر دی ، د روايت الفاظ دی ...إذا عطس الرجل، فقال: الحمد لله، قال الملك: رب العالمين، فإن قال: رب العالمين، قال الملك: يرحمك الله(٥)يعنی چه کله سړی د پرنجی نه پس الحمد لله اووايی نو يو فرشته ورسره د رب العالمين " اضافه اوکړی او چه دې الحمد لله رب العالمين اووائی نو فرشته " يرحمك الله " اووائی او د پرنجی کوونکی دپاره د رحمت دعا اوکړی -

④ امام بخاری رحمه الله په " الادب المفرد " کښې او طبرانی په معجم کښې د حضرت علی نه يو روايت نقل کړيدې ، ديکښې ئې دواړه جمع کړيدی ، ديکښې دی " من قال عند عطسة سمعها: الحمد لله رب العالمين على كل حال، ما كان لم يجد وجع الضرس ولا الأذن أبدا " (٦)

يعنی چه چا د پرنجی نه پس " الحمد لله رب العالمين على كل حال " اوويلې نو د ده داړې او د غوږ درد به پاتې نه شی - .

دا حديث اګر چه موقوف دې خو ددې رجال ثقه دی (٧)

او د غير مدرك بالقياس امورو کښې حديث موقوف هم د مرفوع په درجه کښې وی ، د

---

(١) شرح النووی علی صحيح مسلم کتاب الزهد ، باب تشميت العاطس: ٢\٤١٣ ، فتح الباری : ١٠\٧٣٢)

(٢) شرح ابن بطال : ٩\٣٦٨)

(٣) الحديث أخرجه الترمذی فی أبواب الآداب ، باب ما جاء كيف تشميت العاطس : ٥\٨٣ (رقم الحديث : ٢٦٤١)

(٤) الحديث أخرجه أبوداود فی كتاب الأدب ، باب ما كيف تشميت العاطس : ٢\٣٣٠)

(٥) الأدب المفرد مع فضل الله الصمد : ٢\٣٧٦)

(٦) الأدب المفرد مع فضل الله الصمد : ٢\٣٨٣ ، فتح الباری : ١٠\٧٣٢)

(٧) فتح الباری : ١٠\٧٣٢)

اصول عالمانو ددې قاعدې تصريح کړېده - (١)

⑤ امام طبری رحمه الله د حضرت ام سلمه ﷞ نه يو روايت نقل کړيدې ، هغه فرمائی :

"عطس رجل عند النبی صلی الله علیه و سلم، فقال: الحمد لله، فقال النبی صلی الله علیه و سلم: یرحمك الله، وعطس آخر، فقال: الحمد لله رب العالمین حمدا طیبا کثیرا مبارکا فیه، فقال: ارتفع هذا علی هذا تسع عشرة درجة" (٢)

د دې مفهوم يو روايت امام ترمذی رحمه الله د حضرت رفاعه بن رافع نه هم نقل کړيدې ، هغه فرمائی : "صلیت مع النبی صلی الله علیه و سلم فعطست، فقلت: الحمد لله حمدا طیبا مبارکا فیه، مبارکا علیه کما یحب ربنا ویرضی، فلما انصرف، قال: مَن المتکلم؟ ثلاثا، فقلت: أنا، فقال: والذی نفسی بیده لقد ابتدرها بضعة وثلاثون ملکا أیهم یصعد بها" (٣)

حضرت رفاعه فرمائی چه ما د رسول الله ﷺ سره مونځ اوکړو ، ما ته د مانځه دوران کښې پرنجي راغلو نو ما دا الفاظ اوويل : الحمد لله حمدا طيبا مباركا فيه ، مباركا عليه كما يحب ربنا و يرضى " حضور ﷺ چه کله د مانځه نه فارغه شو نو درې ځله ئې تپوس اوکړو چه دا الفاظ چا اوويل ؟ ما ورته اوويل : ما ، نو حضور اوفرمائل " قسم مې دې وی په الله باندې چه د ديرشو نه زياتې فرښتې د دې اسمان ته اوړو دپاره د يو بل نه وړاندې کيږی " -

ددې مفهوم يو روايت امام بخاری رحمه الله هم ذکر کړيدې ، خو ديکښې د " عطاس " ذکر نشته دې ، بلکه د امام د سمع الله لمن حمده ويلو نه پس د ربنا لك الحمد .... ذکر دې (٤)

⑥ ابن السنی د حضرت ابورافع نه يو روايات نقل کړيدې ، چه رسول الله ﷺ فرمائی :

"أتانی جبریل، فقال: إذا أنت عطست، فقل: الحمد لله لکرمه، الحمد لله لعز جلاله، فمن الله عز و جل یقول: صدق عبدی ثلاثا مغفوراله" (٥) يعنی ما ته جبرائيل ﷤ راغلو او وې ويل : چه کله تا ته پرنجی راشی نو دا الفاظ وايه " الحمد لله لكرمه ، الحمد لله لعز جلاله " الله تعالی ددې په جواب کښې درې ځله اوويل : " خما بنده رښتيا اوويلې " داسې حالت کښې چه دده مغفرت به اوکړې شی -

د پرنجی نه پس د حمد سره د درود او د سلام د اضافې حکم : د حمد نه علاوه د درود او د سلام ديکښې اضافه کيدې شی او که نه ؟ دې سلسله کښې بيهقی په " شعب الايمان " کښې دضحاك بن قيس يکشری په طريق سره يو روايت رانقل کړيدې - ديکښې دی : عطس رجل عند ابن عمر، فقال: الحمد لله رب العالمین، فقال ابن عمر: لوتممتها: والسلام علی رسول الله (٦)

---

(١) ظفر الأمانی : ٣٢١ . شرح نخبة الفكر للإمام ملا علی القاری :٥٤٦ ، ٥٤٧)

(٢) فتح الباری : ١٠\٧٣٣)

(٣) الحديث أخرجه الترمذی فی ابواب الصلوة باب ما جاء فی الرجل يعطس فی الصلوة: ١|٩١)

(٤) الحديث أخرجه البخاری فی كتاب الأذان،باب بلاترجمة،بعدباب فضل اللهم ربنا ولك الحمد:١١ ١٠٩)

(٥) فتح الباری : ١٠\٧٣٣)

(٦) شعب الايمان للبيهقی ، باب فی تشميت العاطس ، فصل فی تشميت العاطس...[بقيه برصفحه آئنده....

دې روايت نه معلومېږی چه د حمد سره د سلام هم اضافه کيدې شی ، خو د حضرت ابن عمر رضی الله عنه نه امام ترمذی رحمه الله ددې معارض يو روايت رانقل کړيدې چه هغې کښې دی:

"إن رجلاً عطس إلى جنب ابن عمر، فقال: الحمد لله والسلام على رسول الله، قال ابن عمر: وأنا أقول: الحمد لله والسلام على رسول الله، ليس هكذا علمنا رسول الله صلى الله عليه و سلم، علمنا أن نقول الحمد لله على كل حال......(١)

يعنې يو سړی د حضرت ابن عمر سره پرنجی اوکړو نو ده اوويل : الحمد لله والسلام على رسول الله " حضرت ابن عمر اوويل : خه هم وانم " الحمد لله و السلام على رسول الله خو رسول الله ﷺ په دې موقع مونږ ته دا کلمات نه دی خودلې ، بلکه دوی مونږ ته خودلې دی چه مونږ دا الفاظ اووايو : الحمد لله على كل حال " -

امام ترمذی رحمه الله فرمائی .... هذا حديث غريب لا نعرفه إلا من حديث زياد بن الربيع "(٢) د زياد بن ربيع په باره کښې حافظ ابن حجر فرمائی : صدوق (٣) ابن عدی فرمائی : أرى بروايته بأسًا(۴) امام بيهقی رحمه الله ړومبی روايت ته ترجيح ورکړيده - (۵)

ددې تمامو روايتونو حاصل دا دې چه د پرنجی نه پس " الحمد لله " هم ويلې شی " الحمد لله رب العالمين " هم ويلې شی او الحمد لله على كل حال هم ويلې شی -

د باب روايت دلته امام بخاری رحمه الله په ړومبی ځل ذکر کړيدې

قوله: عطس رجلان عند النبي صلى الله عليه وسلم: عطس د باب د ضرب او د نصر دواړو نه راځی ، دوه سړو د رسول الله ﷺ په مجلس کښې پرنجی اوکړو ، د معجم طبرانی په روايت کښې دی چه دوی کښې يو عامر بن الطفيل وو او دويم د ده وراره وو (۶) عامر بن الطفيل د کفر په حالت کښې مړ شوی وو -

قوله: فشمّت أحدهما ولم يشمت الآخر: دوی کښې يو ته رسول الله ﷺ " يرحمك الله " اوويل او بل ته ئې اونه ويلې -

شَمّت – تشميتًا د باب د تفعيل نه دې ، ددې معنی ده پرنجې والا ته يرحمك الله ويل - (٧)

....بقيه ازحاشيه گذشته] إذا حمد : ١٧ \ ٢٤ (رقم الحديث : ٩٣٢۶)

١) سنن الترمذی ، كتاب الأدب ، باب ما يقول العاطس إذا عطس : ٥ \ ٨١ (رقم الحديث : ٢٧٣٨)

٢) سنن الترمذی ، كتاب الأدب ، باب ما يقول العاطس إذا عطس : ٥ \ ٨١

٣) فتح الباری : ١٠ \ ٧٣٣).

۴) تهذيب التهذيب : ٣| ٣۶٥. (رقم الترجمة: ۶٧٠)

۵) فتح الباری : ١٠ \ ٧٣٣)

۶) مجمع الزوائد للهيثمی ، كتاب الأدب وباب فيمن عطس فلم يحمد الله : ٨ \ ٥٨)

٧) عمدة القاری : ٢٢ \ ٢٢٨ ، قال ابن الأثير : و فی حديث العطاس " فشمت أحدهما و لم يشمت الآخر " التشميت الشين و السين : الدعاء بالخير و البركة ، النهاية لابن الأثير : ٢ \ ۴٩٩)

قوله: فقيل له: نبی کریم ﷺ ته دا خبره اوویلې شوه چه تاسو یو ته جواب ورکړو او دویم ته دې ورنکړو ، وړاندې باب کښې دا روایت راغلی ، دیکښې دی " فقال الرجل : یا رسول الله ، شمت هذا ولم تشتمنی " عامر بن الطفیل اګر چه کافر وو خو ده دوی ﷺ ته یا رسول الله " ویلو سره خطاب اوکړو ، خو دا اعتقاداً نه وو ، بلکه مسلمانانو به چه په دې عنوان سره دوی ته خطاب کولو ، دې وجه نه عامر هم دې الفاظو سره خطاب اوکړو (١)

قوله: هذا حمد الله، وهذا لم يحمد الله: دوی جواب کښې ورته اوفرمائل : ده د پرنجی نه پس الحمد لله اوویلې نو ده ته مې ځکه یرحمك الله اوویلې ، او دې بل چه الحمدلله نه دې ویلې دې وجه نه ده ته مې جواب ورنکړو ، د حضرت ابوهریره په روایت کښې دی " إن هذا ذكر الله، فذكرته وأنت نسيت الله فنسيتك" (٢)

دینه معلومه شوه چه د " یرحمك الله " الفاظو سره جواب هله ورکول پکار دی چه کله پرنجی کوونکی " الحمد لله " ویلې وی ، طبرانی د حضرت علی ﷺ نه یو روایت نقل کړیدې ، دیکښې دی "من بادر العاطس بالحمد عوفي من وجع الخاصرة ولم يشتك ضرسه أبدا" (٣) یعنی پرنجی کوونکې که زر " الحمد لله " اووائی نو دې به ذ پښتو د درد نه محفوظ وی او دده په داړه کښې به هم درد پیدا نه شی -

حافظ ابن حجر رحمه الله د حدیث د باب لاندې خو فوائد ذکر کوی او لیکی :

" وفيه جواز السؤال عن علة الحكم، وبيانها للسائل، ولا سيما إذا كان له في ذلك منفعة، وفيه أن العاطس إذا لم يحمد الله لا يلقن الحمد ليحمد فيشمت .... ومن آداب العاطس أن يخفض بالعطس صوته ويرفعه بالحمد، وأن يغطي وجهه، لئلا يبدو من فيه أو أنفه ما يؤذي جليسه، ولا يلوي عنقه يمينا ولا شمالا ولئلا يتضرر بذلك" (٤)

یعنی دینه خو یو دا معلومه شوه چه د حکم د علت متعلق سوال کول او د علت بیانولو جواز معلوم شو ، خاص کر چه دیکښې کله څه فائده هم وی ، دویمه دا خبره معلومه شوه چه که پرنجې کوونکې " الحمد لله " او نه وائی نو ده ته د حمد ویلو تلقین نه دی کول پکار چه دې حمد اووائی دې دپاره چه ده ته په جواب کښې "یرحمك الله " اوویلې شی ..... د پرنجی کوونکي دپاره یو ادب خو دا دې چه دې د پرنجی اواز په قلار کړی او " الحمد لله په زوره اووائی ، مخ دې پټ کړی چه د ده د خلې او د پوزې نه د څاځکو سره خوا کښې ناستو خلقو ته تکلیف اونه رسی ، څټ دې اخوا دیخوا نه تاووی -

امام ابوداود او امام ترمذی په خپل خپل سنن کښې د حضرت ابوهریره روایت نقل کړیدې، دیکښې دی "كان النبي صلى الله عليه وسلم إذا عطس، وضع يده أو ثوبه على فيه وخفض أو غض بها صوته"

---

(١) فتح الباری : ١٠\٧٣٥)

(٢) مجمع الزوائد للهیثمی . کتاب الأدب . باب فیمن عطس فلم یحمد الله : ٨\٥٧)

(٣) مجم الزوائد للهیثمی کتاب الأدب . باب فیمن بادر العاطس بالحمد : ٨\٥٧)

(٤) فتح الباری : ١٠\٧٣٥)

(١) او ترمذی کښې دی : إذا عطس غطی وجهه بیده أو بثوبه وغض بها صوته ..... (سنن الترمذی، کتاب الأدب، باب ما جاء فی خفض الصوت .. تخمیر لوجه عند العطاس : ٥\٨٦ (رقم الحدیث : ٢٧٤٥) یعنی رسول الله ﷺ ته به چه کله پرنجې . شلو به دوی به خپل لاس یا جامه په خپل مخ کیخودله او خپل آواز به ئې غلې کړو -
علامه ابن دقیق العید رحمه الله فرمائی .

"ومن فوائد التشمیت تحصیل المودة و التالیف بین المسلمین، و تأدیب العاطس بکسر النفس عن الکبر، و الحمل علی التواضع، لما فی ذکر الرحمة من الأشعار بالذنب الذی لا یعرفه عنه أکثر المکلفین" (٢) یعنی د تشمیت یو فائده خو دا ده چه دا د مسلمانانو په خپل مینځ کښې د محبت او مودت د حاصلیدو یو ذریعه ده . دویم دیکښې د پرنجې کوونکی کسر نفسی او دې په تواضع آماده کولو تربیت هم دې خکه چه دیکښې یرحمك الله ویلې کیږی . د رحمت دعا کیږی چه دیکښې گناهونو طرف ته اشاره ده چه دینه اکثر مکلفین خلاص نه دی -

١٢٣=باب تشمیتِ العاطِسِ إذا حَمِدَ اللَّهَ

فِيهِ أَبُو هُرَيْرَةَ [ر: ٥٨٦٩، ٥٨٧٠]

[٥٨٦٨] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنِ الْأَشْعَثِ بْنِ سُلَيْمٍ قَالَ سَمِعْتُ مُعَاوِيَةَ بْنَ سُوَيْدِ بْنِ مُقَرِّنٍ عَنِ الْبَرَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ أَمَرَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَبْعٍ وَنَهَانَا عَنْ سَبْعٍ أَمَرَنَا بِعِيَادَةِ الْمَرِيضِ وَاتِّبَاعِ الْجِنَازَةِ وَتَشْمِيتِ الْعَاطِسِ وَإِجَابَةِ الدَّاعِي وَرَدِّ السَّلَامِ وَنَصْرِ الْمَظْلُومِ وَإِبْرَارِ الْمُقْسِمِ وَنَهَانَا عَنْ سَبْعٍ عَنْ خَاتَمِ الذَّهَبِ أَوْ قَالَ حَلْقَةِ الذَّهَبِ وَعَنْ لُبْسِ الْحَرِيرِ وَالدِّيبَاجِ وَالسُّنْدُسِ وَالْمَيَاثِرِ [ر: ١١٨٢]

د تشمیت معنی: امام نووی رحمه الله فرمائی چه لفظ د "تشمیت" اصل کښې "تسمیت" په سین سره دې چه د هغې معنی ده هداك الله إلى السمت ، سمت طریقه ، سیرت او طرف ته وائی، بیا سین په شین بدل شو ، د تشمیت العاطس معنی ده ، پرنجې کوونکی ته د رحمت دعا کول ، یرحمك الله ویل (٣) علامه ابن عبدالبر په التمهید کښې فرمائی : أما التشمیت : فمعناه : أبعد الله عنك الشماتة، وجنبك ما یشمت به علیك، وأما التسمیت : فمعناه : جعلك الله علی سمت حسن (٤)
یعنی د تشمیت معنی ده چه الله تعالی دې تا د دښمنانو د خوشحالیدو نه او د دوی د

---

١) سنن أبي داود ، کتاب الأدب باب فی العطاس : ٤\٣٠٧ (رقم الحدیث ک ٥٠٢٩)
٢) فتح الباری : ١٠\٧٣٥)
٣) شرح مسلم للنووی کتاب اللباس ، باب تحریم استعمال إناء الذهب و الفضة : ٢\١٨٨)
٤) التمهید لابن عبد البر فی مرویات عبد الله بن أبي بکر حدیث تاسع عشر : ١٧\٣٣٤)

مسخرو نه محفوظ کړی ار د تسمیت معنی ده چه الله تعالی دې تا په ښه سیرت قایم کړی.
د تشمیت حکم :دې باب کښې امام بخاری رحمه الله د تشمیت مشروعیت بیان کړیدې . پرنجی کوونکې که الحمد لله اووائی نو د دې په جواب کښې یرحمك الله ویلو څه حکم دې. دیکښې اختلاف دې :

① دا سنت علی الکفایه دی .چه په مجلس کښې یو سړی هم جواب ورکړو نو دټولو د طرفه دا سنت اداء کیږی ، حضرات شافعیه کښې امام نووی رحمه الله دا قول مختار کړیدې ، بعض مالکیانو هم دا اختیار کړیدې - (١)

② د ظاهریه او په مالکیانو کښې د ابن مزین او د بعض شوافعو په نزد فرض عین دې ،علامه ابن قیم رحمه الله هم دې قول ته ترجیح ورکړیده (٢) ده د دې په فرض عین کیدو باندې څو دلائل پیش کړیدی :

ا) ...... دحضرت ابوهریره رضی الله عنه حدیث په راتلونکې باب کښې راروان دې ، چه دیکښې دی " فحق علی کل مسلم سمعه أن یشمته " یعنی په هر هغه مسلمان باندې دا حق دې چه چا پرنجی واوریدو نو ددې جواب دې په یرحمك الله سره ورکړی -

ب) .... امام مسلم رحمه الله د حضرت ابوهریره نه روایت رانقل کوی ، چه هغې کښې دی " حق المسلم علی المسلم ست...... " او دیکښې ئې تشمیت " هم شمار کړو - (٣)

ج) ...... بخاری او مسلم کښې د حضرت ابوهریره په یو بل حدیث کښې دی " خمس تجب للمسلم علی المسلم.... او دیکښې د تشمیت ذکر هم دې - (٤)

مسند احمد کښې د حضرت عائشه حدیث دې " إذا عطس أحدکم، فلیقل: الحمد لله علی کل حال، و لیقل الذی یرد علیه: یرحمك الله" (٥) (چه تاسو کښې څوك پرنجې اوکړی نو دې دې " الحمد لله علی کل حال " اووائی او جواب ورکوونکې دې " یرحمك الله " اووائی)

علامه ابن قیم رحمه الله فرمائی چه دې احادیثو کښې د " تجب " لفظ صراحتًا راغلې دې ، لفظ د " حق " راغلې دې " علی " راغلې دې او د امر صیغه استعمال شویده چه کوم اصلاً د وجوب دپاره راځی ، دې وجه نه د دې تقاضا ده چه دا فرض عین اوګرځولې شی چه فقهاء حضراتو دینه د کمو دلیلونو په بنیاد څو امور فرض عین ثابت کړیدی - (٦)

---

(١) الأذکار النوویة مع الفتوحات الربانیة ، کتاب السلام و الإستیذان و تشمیت العاطس ،باب تشمیت العاطس و حکم التثاؤب : ٦\١٥)

(٢) قال ابن القیم رحمه الله : ظاهر الحدیث المبدوء به : أن التشمیت فرض عین علی کل من سمع العاطس یحمد الله (زاد المعاد ، فصل فی هدیه صلی الله علیه و سلم فی أذکار العطاس : ٢\٤٣٧)

(٣) صحیح مسلم ، کتاب السلام ، باب من حق السلم للمسلم رد السلام : ٤\١٧٠٥ (رقم الحدیث: ٢١٦٢)

(٤) صحیح مسلم ، کتاب السلام ، باب من حق السلم للمسلم رد السلام : ٤\١٧٠٥ (رقم الحدیث: ٢١٦٢) صحیح البخاری و کتاب الجنائز ، باب الأمر باتباع الجنائز (رقم الحدیث : ١٢٤٠)

(٥) مسند أحمد بن حنبل ، فی مسانید أبی أیوب رضی الله عنه : ٥\٤١٩)

(٦) فتح الباری : ١٠\٧٣٦)

③ حناف حضرات او اكثر حنابله ، شوافع او مالكيانو كښې ابن رشد او ابن العربي په نزد دا فرض كفايه دې . حافظ ابن حجر رحمه الله هم دې مسلك ته ترجيح وركړيده - (۱)
ذكر شوې تمام احاديث بلاشبه په وجوب او په فرضيت دلالت كوى خو د: دلالت على سبيل الكفايه كيدو منافى نه دې . مثلاً د سلام جواب وركول هم دى سره د ذكر شويدي خو دا بالاتفاق واجب على الكفايه دې ، دې وجه نه دا واجب خو دې خو كه يو كس هم په مجلس كښې جواب وركړو نو مجلس كښې به د ټولو نه كفى شى - خو دا وجوب هله دې چه كله پرنجى كوونكې "الحمد لله" ويلې وى . كنى بيا واجب نه دې -

قوله: فيه أبوهريرة : دې پسې راتلونكې باب كښې ذكر شوى د حضرت ابوهريره رضي الله عنه حديث مراد دې چه د هغې الفاظ دى "إن الله يحب العطاس ويكره التثاؤب ، فإذا عطس فحمد الله ، فحق على كل مسلم سمعه أن يشمته ......" (يعنى الله تعالى ته پرنجى كول خوښ او اسويلى كول ناخوښه دى ، تاسو كښې چه كله څوك پرنجي اوكړى نو دې دې الحمد لله اووائى او د اوريدونكې مسلمان حق دې چه دې په "يرحمك الله" سره ددې جواب وركړى")
امام بخارى رحمه الله په باب كښې د حضرت براء بن عازب رضي الله عنه چه كوم روايت ذكر كړيدې، ديكښې مطلقا د "تشميت العاطس ذكر دې ، د څه قسم قيد نشته دې . حال دا دې چه امام بخارى رحمه الله د "اذا حمدالله" قيد لګولې دې . دا قيد د حضرت ابوهريره په ذكر شوى روايت كښې دې ، امام بخارى رحمه الله "فيه أبوهريرة" چه اوويلې نو دې ته ئې اشاره اوكړه ، چه د حضرت براء بن عازب روايت كښې مطلق د تشميت ذكر د "اذا حمد الله" په قيد سره مقيد دې -
شارح بخارى ابن بطال فرمائى چه امام بخارى رحمه الله لره پكار وو چه دې باب كښې ئې رومبې د حضرت ابوهريره روايت ذكر كړې وې دينه پس ئې د حضرت براء بن عازب روايت راوړې وې ، دې دپاره چه معلوم وې چه ديكښې عام په خپل عموم باندې نه دې خو امام ته مرګ او اجل نيته وركړه او ده داسې تهذيب او ترتيب قائم نه كړې شو - (۲)
خو حافظ ابن حجر رحمه الله ليكلې دى :

"والواقع أن هذا الصنيع لا يختص بهذه الترجمة ، بل قد اكثر منه البخارى الصحيح ، فطالما ترجم بالتقييد و التخصيص كما فى حديث الباب من إطلاق أو تعميم و يكتفى من دليل التقييد و التخصيص بالإشارة ، إما لما وقع فى بعض طرق الحديث الذى يورده ، أو فى حديث آخر ، كما صنع فى هذا الباب ، فإنه أشار بقوله : "فيه أبوهريرة" إلى ما ورد فى حديثه من تقييد الأمر بتشميت العاطس بما إذا حمد ، و هذا أدق التصرفين ، و دل

---

[۱] فتح البارى : ۱۰| ۷۳۶، ردالمختار على الدرالمختار، كتاب الحظر والاباحة، فصل فى البيع: ۵| ۲۹۳)
[۲] فتح البارى : ۱۰\ ۷۳۶)
[۳] شرح صحيح البخارى لابن بطال : ۹\ ۳۶۶)

اكثاره من ذلك على أنه عن عمد منه، لا أنه مات قبل تبييضه، بل عد العلماء ذلك من دقيق فهمه، وحسن تصرفه في إيثار الأخفى على الأجلى، شحذا للذهن، وبعثا للطالب على تتبع طرق الحديث إلى غير ذلك من الفوائد"[1]

د حافظ ابن حجر رحمه الله د كلام حاصل دا دې چه امام بخاري رحمه الله د دې اسلوب او د صنيع نه د صحيح بخاري تراجم ډك دي . اما بخاري رحمه الله يو خاص ترجمه يا د يو قيد سره مقيد ترجمة الباب قائم كړى ، اوددې تر لاندې چه كوم احاديث ذكركوى هغه يا عام وى يا مطلق وى . امام بخاري رحمه الله ترجمة الباب مفيد يا خاص ذكركړى دبته اشاره كوى چه حديث كښې د عام سره خاص او د مطلق سره مقيد مراد دې ځكه چه دا تخصيص او تقييد د دې حديث په بعض نورو طرقو كښې ذكر وى ، امام بخاري رحمه الله په ترجمة الباب سره دې طرقو ته اشاره كوى ، يا يو بل حديث كښې ددې ذكر وى امام هغې ته اشاره كوى.... لكه چه دلته كښې " فيه أبوهريرة " نې اوويلې بل حديث ته ئې اشاره اوكړه ، چه ديكښې د تشميت حكم مطلق نه دې بلكه مقيد بالحمد دې ، د صحيح بخاري په تراجمو كښې دا صنيع ډيره موندلې كيږى چه كومه د دې خبرې علامت دې چه امام د تشخيذ د اذهانو دپاره او طالب علم ته د حديث د طرقو په تلاش باندې ترغيب وركولو دپاره داسې په قصد سره كوى -

هغه خلق چه كوم د تشميت د حكم نه مستثنى دى : ① بهر حال د تشميت د دې عام حكم نه يو خو هغه پرنجى والا مستثنى دې ، چه كوم " الحمدلله " نه وى ويلې -

② دويم كافر هم ددې حكم لاندې نه دې داخل ، سنن ابي داود كښې د حضرت ابوموسى اشعرى ﷺ روايت دې " كانت اليهود يتعاطسون عند النبى صلى الله عليه و سلم رجاء أن يقول : يرحمكم الله ،فكان يقول : يهديكم الله و يصلح بالكم "[2] (يهودو به د نبى كريم ﷺ په خوا كښې پرنجې كولو په دې اميد چه حضور ﷺ به دوى ته يرحمك الله " اووائى ، خو حضور به يهديكم الله و يصلح بالكم (يعنى الله تعالى دې تاسو ته هدايت دركړى او د ستاسو د حالت اصلاح دې اوكړى) به فرمائل)

③ دريم د زكام په وجه پرنجې كوونكې كس هم ددې حكم په عموم كښې نه دې داخل - حضرت ابوهريره روايت دې " شمت أخاك واحدة ، وثنتين ، وثلاثا ، و ما كان بعد ذلك فهو زكام "[3] يعنى خپل مسلمان رور ته يرحمك الله سره جواب وركړه ، يو ځل يا دوه ځله يا درې ځله ،دينه پس كه ده ته پرنجې راغلو نو دا زكام دې -

[1]) فتح الباري : ١٠\٧٣٧)

[2]) سنن أبى داود ، كتاب الأدب ، باب كيف يشمت الذمى : ٤\٣٠٨ (رقم الحديث : ٥٠٣٨)

[3]) سنن أبى داود. كتاب الأدب ، باب كم مرة يشمت العاطس : ٤\٣٠٨ (رقم الحديث : ٥٠٣٤)

امام مالك رحمه الله په موطا كښې د عبد الله بن ابى بكر نه مرفوع روايت نقل كړېدې چه رسول الله ﷺ فرمائى "إن عطس فشمته، ثم إن عطس فشمته، ثم إن عطس فشمته وقل: إنك مضنوك" قال عبد الله بن أبي بكر: لا أدرى، أبعد الثالثة أو الرابعة" [1] يعنى كُه ده ته پرنجې راشى نو ده ته يرحمك الله سره جواب ورکړه ، بيا كُه پرنجې اوکړى نو يرحمك الله ورته اووايه كُه بيا راشى نو يرحمك الله ورته اووايه كُه بيا ورته پرنجې راغلو نو ورته اووايه دستا زكام دې راوى عبد الله بن ابي بكر وائي ما ته نه ده معلومه چه دا جمله د دريم خل نه پس ويل دى او كُه د څلورم خل نه پس)

عبدالرزاق هم په خپل " مصنف " كښې د عبد الله بن ابى بكر په طريق سره دا روايت نقل كړيدې ديكښې دى " فشمته ثلاثا وفما كان بعد ذلك، فهو زكام" [2] يعنى درې خله " يرحمك الله " اووايه دينه پس زكام دې -

ابن ابى شيبه د عمروبن العاص په طريق سره روايت رانقل كړيدې ديكښې دى "شمتوه ثلاثا فإن زاد، فهو داء يخرج من رأسه" [3] يعنى درې خله يرحمك الله اووائي ، دينه زيات كُه ورته پرنجې راغلو نو دا يو بيمارى ده چه دده د سره راووځى) خو دا روايت موقوف دې -

دارنګه د عبدالله بن زبير يو موقوف روايت هم دوى نقل كړيدې "إن رجلا عطس عنده، فشمته، ثم عطس، فقال له في الرابعة: أنت مضنوك" [4] يعنى د عبد الله بن زبير په خوا كښې يو سړى ته پرنجې راغلو ، دوى اوويل يرحمك الله ، ده ته بيا پرنجې راغلو نو په څلورم خل ئې ورته اوويل : ته زكام وهلى ئې ")

امام ترمذى رحمه الله د حضرت سلمه ﷺ نه هم يو مرفوع روايت د عبد الله بن مبارك په طريق سره رانقل كړيدې ديكښې دى : عطس رجل عند رسول الله صلى الله عليه و سلم، وأنا شاهد، فقال رسول الله صلى الله عليه و سلم : يرحمك الله، ثم عطس الثانية و الثالثة : فقال رسول الله صلى الله عليه و سلم : هذا رجل مزكوم-

يعنى د حضور اكرم ﷺ په خوا كښې يو سړې پرنجې اوكړو او څه هم حاضر ووم ، نو حضور ﷺ ده ته يرحمك الله اوويل : په دويم خل او په دريم خل ئې هم پرنجې اوكړو نو حضور اوفرمائل : د ده زكام دې " -

دينه پس امام ترمذى هم دا روايت د يحي بن سعيد په طريق سره نقل كړيدې ، ديكښې دى " إلا أنه قال له في الثالثة: أنت مزكوم" يعنى په دريم خل حضور ﷺ اوفرمائل : د ستا زكام دې -

---

[1]) الموطاء للإمام مالک رحمه الله ، كتاب الاستئذان ، باب التشميت فى العاطس : ٢ \ ٩٨٥)

[2]) مصنف عبد الرزاق ، باب وجوب التشميت : ١٠ \ ٤٥٣ (رقم الحديث : ١٩٤٨٢)

[3]) فتح البارى : ١٠ \ ٧٣٧)

[4]) فتح البارى : ١٠ \ ٧٣٧)

امام ترمذى رحمه الله دې روايت لره د عبدالله بن مبارك په روايت ترجيح وركړيده - (۱)
ددې تمامو روايتونو نه دا خبره خو بهر حال قطعى طور باندې معلومه شوه چه د "تشميت" د عام حكم نه د زكام په وجه پرنجې كوونكې كس مستثنى دې -
وراندې په روايتونو كښې اختلاف دې چه په دويم ځل به په ده دا حكم لګولې كيږى يا په دريم ځل پرنجې كولو سره به دې "مزكوم" ګرځولې كيږى . صحيح او راجح قول په دريم ځل پرنجې كولو سره په ده دا حكم به لګولې كيږى (۲) او مطلب به دا وى چه اوس ته ددې دعا مستحق نه ئې ځكه چه دا دعا شريعت كښې د هغه پرنجې كوونكې سړى سره خاص ده چه د هغه پرنجې د څه بيمارئ يا د زكام په وجه نه وى بلكه هغه پرنجې مراد دې چه كوم د نشاط او د تازګئ سبب جوړيږى لكه چه علامه ابن عربى په شرح د ترمذى كښې ليكى :

"إذا تكرر العطاس فى المجلس الواحد ، تكرر القول فى الحمد و الرد .... فاختلف الرواة فيه اختلافا كثيرا ، فقيل : يقال له فى الثانية : إنك مزكوم ، و قيل : يقال له فى الثالثة ، و قيل فى الرابعة ... و الأصح أن ذلك فى الثالثة ، المعنى فى قوله : إنك مضنوك ، أى مضيق على مجارى نفسك ، فهو مرض حادث لا خفة محمودة ، فإن قيل : كان حقه إذا دل على أنه ألم أن يضاعف له الدعا ؟ قيل : يدعى له ، و لكن ليس بدعاء العطاس المشروع ، و لكن دعاء المسلم لمسلم من العافية و السلامة ، و ليس من باب التشميت" (۳)

دې عبارت كښې دا اشكال هم حل كړې شو چه د زكام په پرنجى كوونكې د "يرحمك الله" ويلو خو زيات مستحق دې ، بيا دده په حق كښې "تشميت" ولې ضرورى نه دې ؟
جواب واضح دې چه "يرحمك الله" ويل ذې موقع باندې د يو مخصوص عمل په طور شرعا وضع كړې شويدې . دې وجه نه د بيمار دپاره خو نورې دعاګانې كيدې شى ، خو د تشميت حكم دده په حق كښې به نه وى جارى - (۴)
دينه دا هم معلومه شوه چه كه يو زكام والا ته پرله پسې پرنجې نه راځى بلكه په وقفه وقفه سره يو پرنجې ورته راځى ، يا د زكام په وجه ورته په مجلس كښې صرف يو ځل پرنجې راغلو دوه درې پرنجې ورته رانغلل نو تشميت د ده حق كښې ضرورى نه دې ، ځكه چه دې بيمار دې - (۵)
آخره كښې دا خبره پاتې كيږى چه يو سړى ته د زكام په وجه پرنجې راځى خو دې الحمد لله وائى نو دده په جواب كښې يرحمك الله ويل جائز دى اوكه نه؟.... نو ديكښې دوه قوله دي- د حضرت ابوهريره د يو حديث نه ددې نهى معلوميږى چه كوم ابويعلى او ابن السني ذكر كړيدې د هغې الفاظ دى :

(۱) سنن الترمذى ، كتاب الأب ، باب ما جاء كم يشمت العاطس : ۵ \ ۸٤ (رقم الحديث : ۲۷٤۳)
(۲) فتح البارى : ۱۰ \ ۷۳۸)
(۳) شرح الترمذى لابن عربى المالكى ،كتاب الأدب ، باب ما جاء كيف تشميت العاطس : ۱۰ \ ۲۰۱ ، ۲۰۲)
(۴) فتح البارى : ۱۰ \ ۷۲۹)
(۵) فتح البارى : ۱۰ \ ۷٤۰)

"إذا عطس أحدكم فليشمته جليسه، فإن زاد على ثلاث فهو مزكوم، ولا يشمته بعد ثلاث" (۱)
دې حديث كښې د درې څلو نه پس د تشميت نه منع شويده ، خو امام نووى رحمه الله فرمائى چه د دې په سند كښې د يو راوى حال ما ته معلوم نه شو ، خو د روايت باقى سند صحيح دې - (۲)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى هغه راوى سليمان بن ابى داود دې چه ده لره امام نسائى رحمه الله ضعيف او غير مامون ګرځولې دې - (۳)
د دې په عكس د عبيد بن رفاعه د يو روايت نه جواز معلوميږى چه كوم امام ترمذى او ابوداود نقل كړيدې ، ددې الفاظ دى : "قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: يشمت العاطس ثلاثا، فإن زاد، فإن شئت فشمته، وإن شئت فلا" (۴)

او په سنن ابى داود كښې دى : "تشميت العاطس ثلاثا فإن شئت أن تشمته فشمته، وإن شئت فكف"

سنن أبي داود، كتاب الأدب وباب كم مرة يشمت العاطس ۴\۳۰۸ (رقم الحديث: ۵۰۳۶)
دې روايت نه اختيار او جواز معلوميږى ، اګر چه امام ترمذى رحمه الله د دې حديث سند مجهول او حديث ئې غريب ګرځولې دې ، دوى فرمايى : "هذا حديث غريب، وإسناد مجهول" (۵)
خو حافظ ابن حجر فرمائى چه دده تمام سند مجهول نه دې ، بلكه اكثر راويان ئې ثقه دى، خو د بعض په نومونو كښې تغيير او ابهام موندلې كيږى - (۶) ابن عربى په شرح د ترمذى كښې په دې تبصره كړيده او ليكلې ئې دى :

"وهو وإن كان مجهولا، فإنه يستحب العمل به، لأنه دعاء بخير وصلة للجليس وتودد له" (۷)
اګر چه ديكښې راوى مجهول دې خو بيا هم په دې عمل مستحب دې ځكه دا دعاء د خير ده او ديكښې د ملګرى سره د تعلق او د محبت اظهار هم دې -
ابن عبد البر په شرح د موطا كښې ددې حديث د نقل كولو نه پس فرمائى چه په دې عمل كول زيات بهتر او اولى دې - (۸)
حاصل د كلام دا چه د تشميت د عام حكم نه ددرې كسانو تخصيص شويدې ، يو هغه كس چه هغه الحمد لله نه وى ويلې ، دويم كافر او دريم زكام وهلې -

---

(۱) فتح البارى : ۱۰\۷۳۹)
(۲) فتح البارى : ۱۰\۷۳۹)
(۳) فتح البارى : ۱۰\۷۳۹)
(۴) سنن الترمذى كتاب الادب باب ما جاء كم يشمت العاطس ۵|۸۵ (رقم الحديث ۲۷۴۴) ايضاً سنن ابى داؤد ۴|۳۰۸ (رقم الحديث ۵۰۳۶)
(۵) سنن الترمذى . كتاب الأدب باب ما جاء كم يشمت العاطس : ۵\۸۵)
(۶) فتح البارى : ۱۰\۷۳۹)
(۷) شرح الترمذى لابن عربى مالكى . كتاب الأدب باب ما جاء كم يشمت العاطس : ۱۰\۲۰۵)
(۸) التمهيد لابن عبد البر فى مرويات عبد الله بن أبى بكر . حديث تاسع عشر : ۱۷\۳۲۸)

عالمانو دې دريو سره په څلورم نمبر کښې هغه کس هم داخل کړيدې چه کوم تشميت نه خوښوی ، يعنی چه ديو کس باره کښې په قرائنو معلومه شی چه دې تشميت ښه نه ګڼړی نو ده ته په يرحمك الله سره جواب نه دی ورکول پکار ، تشميت اګر چه سنت دې ، خو دا صرف د هغه کس په حق کښې مسنون دې چه ده ته دا خوښ وی ، چه څوك دا په څه وجه هم نه خوښوی نو دده حق کښې دا سنت نه دې - (١)

ابن دقيق العيد فرمايی چه " تشميت " تر هغه نه دی پريخودل پکار چه ترکومې د ضرر يره نه وی او د ضرر د يرې په صورت کښې د دې د پريخودو جواز شته ، دينه وړاندې نشته دې - (٢)

١٢٥=بَابُ مَا يُسْتَحَبُّ مِنْ الْعُطَاسِ وَمَا يُكْرَهُ مِنْ التَّثَاؤُبِ

[٥٨٦٩] حَدَّثَنَا آدَمُ بْنُ أَبِي إِيَاسٍ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ حَدَّثَنَا سَعِيدٌ الْمَقْبُرِيُّ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْعُطَاسَ وَيَكْرَهُ التَّثَاؤُبَ فَإِذَا عَطَسَ فَحَمِدَ اللَّهَ فَحَقٌّ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ سَمِعَهُ أَنْ يُشَمِّتَهُ وَأَمَّا التَّثَاؤُبُ فَإِنَّمَا هُوَ مِنَ الشَّيْطَانِ فَلْيَرُدَّهُ مَا اسْتَطَاعَ فَإِذَا قَالَ هَا ضَحِكَ مِنْهُ الشَّيْطَانُ [ر: ٣١١٥]

امام بخاری رحمه الله دې باب کښې د پرنجې د خوښوالی او د اسويلی د ناخوښوالی بيان کړيدې -

دباب روايت د حضرت ابوهريره نه دې رسول الله ﷺ فرمائی الله تعالی پرنجې خوښوی او اسويلې کول ورته ناخوښه دی ، چه کله يو سړې پرنجې اوکړی او " الحمد لله " اووايی نوهر هغه مسلمان چه دا واورې په ده واجب دی چه د دې جواب په يرحمك الله سره ورکړې ، تر کومې چه د اسويلی تعلق دې نو دا د شيطان د طرفه دې ، حتی الوسع د اسويلی بندولو کوشش اوکړئ ، ځکه چه اسويلې اخستو چه کله يو کس د " هاء " اواز کوی نو شيطان خاندی (او خوشحاليږی) -

عُطاس يعنی پرنجې د نشاط او د بدن د سپکيدو په وجه راځی ، او پرنجې نه پس د سړی طبيعت کښې زياته تازګی او نشاط پيدا کيږی ، دې وجه نه دا خوښ عمل دې -

ددې په عکس اسويلی کول د ناراستئ او د سستئ علامت دې ، او د بدن د درنيدو په سبب دا پيدا کيږی دې وجه نه دا ناخوښه دې ، حاصل دا چه د پرنجې خو ښيدل او د اسويلی ناخوښه کيدل دواړه د سبب په اعتبار سره دی ، لکه علامه قسطلانی فرمائی :

فالمحبة والكراهة المذكوران منصرفان إلى ما ينشأ عن سببهما. (٣)

د اسويلی د شيطان د طرفه کيدو مطلب دا دې چه دومره زيات خوراك کول چه طبيعت درون او ناراسته شی ، د شيطان په واسطه او په وسوسه کيږی ، دې وجه نه ددې نسبت.

---

١) فتح الباری : ١٠\٧٤٠)
٢) فتح الباری : ١٠\٧٤٠)
٣) ارشاد الساری : ١٣\٢٢٣)

شيطان ته اوكړي شو - (1)

۱۲۶=باب إذا عطس كيف يشمت

[۵۸۷۰] حدثنا مالك بن إسماعيل حدثنا عبد العزيز بن أبي سلمة أخبرنا عبد الله بن دينار عن أبي صالح عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال إذا عطس أحدكم فليقل الحمد لله وليقل له أخوه أو صاحبه يرحمك الله فإذا قال له يرحمك الله فليقل يهديكم الله ويصلح بالكم

پرنجي كوونكي ته څنګه جواب وركړې شي ؟ امام بخاري رحمه الله دې باب ددې طريقه بيان كړيده -

روايت د باب كښې ددې طريقه بيان شويده چه پرنجې كوونكې چه " الحمد لله " اووائی او دده ملګرې چه ده ته يرحمك الله سره جواب وركړی ، نو چه كله دې ده ته يرحمك الله اووائی نو دې دې ورته په جواب كښې اووائی " يهديكم الله و يصلح بالكم " -

حاصل دا چه كله د پرنجي جواب څوك په يرحمك الله سره وركړی نو پرنجي كوونكې دې د دې په بدله كښې ورته دوه دعائيه جملې اووائی يو يهديكم الله او دويم يصلح بالكم -

طبری د حضرت ابن مسعود او د حضرت ابن عمر نه روايت نقل كړيدې . ديكښې د " يهديكم الله ويصلح بالكم " په ځائې " يغفر الله لنا ولكم " دې يعنی پرنجي والا به د " يرحمك الله " په جواب كښې " يغفر الله لنا ولكم " وائی - (2)

شارح بخاري ابن بطال د امام مالك او د امام شافعی په باره كښې ليكلې دی چه دوی په حديث كښې وارد دواړو قسم جملو كښې اختيار وركړيدې - (3)

ابن رشد فرمائی چه " يغفرالله لنا ولكم " ويل زيات بهتر دی ځكه چه مكلف د طلب او د دعاء د مغفرت زيات محتاج وی . (4)

بهر حال مشهور خو " يهديكم الله و يصلح بالكم " دې لكه چه دلته روايت د باب كښې دې ، كه دواړه جمع كړې شی نو زيات بهتر دې - (5)

۱۲۷=باب لا يشمت العاطس إذا لم يحمد الله

[۵۸۷۱] حدثنا آدم بن أبي إياس حدثنا شعبة حدثنا سليمان التيمي قال سمعت أنسا رضي الله عنه يقول عطس رجلان عند النبي صلى الله عليه وسلم فشمت أحدهما ولم يشمت الآخر

---

1) ارشاد الساری : ۱۳ \ ۲۲۶

2) شرح صحيح البخاری لا بن بطال : ۹ \ ۳۶۸ . ارشاد الساری : ۱۳ \ ۲۲۵)

3) شرح صحيح البخاری لا بن بطال : ۹ \ ۳۶۸ . ارشاد الساری : ۱۳ \ ۲۲۵)

4) ۳۸ فتح الباری : ۱۰ \ ۷۴۳ . ارشاد الساری : ۱۳ \ ۲۲۵)

5) فتح الباری : ۱۰ \ ۷۴۳ .ارشاد الساری : ۱۳ \ ۲۲۵)

فَقَالَ الرَّجُلُ يَارَسُولَ اللّٰهِ شَمَّتَّ هٰذَا وَلَمْ تُشَمِّتْنِي قَالَ إِنَّ هٰذَا حَمِدَ اللّٰهَ وَلَمْ تَحْمَدُ اللّٰهَ [ر:٥٨٦٧]
لکه چه دينه وړاندې تفصيل سره ددې بحث تير شو چه پرنجي والا چه " الحمد لله " اووائی نو بيا هله ده ته جواب ورکول ضروری دی ، خو که ده الحمد لله او نه ويلې نو پرنجې اوريدونکی باندې جواب ورکول واجب نه دی - حديث د باب کښې ددې تصريح راغلې ده - امام نووی رحمه الله وائی چه يو سړی پرنجې اوکړو او ده " الحمد لله " او نه ويلې نو ده ته " الحمد لله " يادول مستحب دی دې دپاره چه دې " الحمد لله اووائی او بيا ده " يرحمك الله سره جواب ورکړې شی - (١)

١٢٨= بَاب إِذَا تَثَاءَبَ فَلْيَضَعْ يَدَهُ عَلَى فِيهِ

[٥٨٧٢] حَدَّثَنَا عَاصِمُ بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْعُطَاسَ وَيَكْرَهُ التَّثَاؤُبَ فَإِذَا عَطَسَ أَحَدُكُمْ وَحَمِدَ اللّٰهَ كَانَ حَقًّا عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ سَمِعَهُ أَنْ يَقُولَ لَهُ يَرْحَمُكَ اللّٰهُ وَأَمَّا التَّثَاؤُبُ فَإِنَّمَا هُوَ مِنْ الشَّيْطَانِ فَإِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَرُدَّهُ مَا اسْتَطَاعَ فَإِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا تَثَاءَبَ ضَحِكَ مِنْهُ الشَّيْطَانُ [ر:٣١١٥]
چا ته چه اسويلې راشی نو دې دې په خُله باندې لاس کيږدی ، د اسويلی اخستو وخت کښې خُله وازيږی او که لاس وغيره باندې دا پټه نه کړې شی نو يو خو دا يره ده چه خُلې ته مچ وغيره به ورننوځې دويم مخ بد لګی ، دې وجه نه د دې پټول پکار دی - " تثاوب " واو سره هم دې او په همزه سره تثاءب " هم دې -

حديث د باب کښې د لاس د ايخودو ذکر نشته دې ، امام بخاری رحمه الله چه په ترجمة الباب کښې کوم الفاظ ذکر کړيدی نو، دا الفاظ د سنن ابن ماجه په روايت کښې دی ، هلته د روايت الفاظ دی " إذا تثاوب أحدكم فليضع يده على فيه ، ولايعوى ، فمن الشيطان يضحك منه " (٢)
يعنی تاسو کښې چه چا ته اسويلی راشی نو دې دې خپل لاس په خُله کيږدی او په زوره دې اواز نه اوباسی ځکه چه شيطان د دې په وجه خاندی -
دا روايت چه د امام بخاری رحمه الله په شرط پوره نه وو ، دې وجه نه امام د خپل عادت مطابق په ترجمة الباب کښې د دې ذکر اوکړو ، د مسلم شريف په روايت کښې دی " إذا تثاءب أحدكم فيمسك بيده على فمه " (٣)

قوله: فإذا تثاوب أحدكم فليرده ما استطاع: يعنی چه چا ته اسويلې راشی نو دې دې

---

(١) ارشاد الساری : ١٣ \ ٢٢٦ فتح الباری : ١٠ \ ٧٤٥)
(٢) سنن ابن ماجه، کتاب الصلاة باب مايکره فی الصلاة رقم الحديث: ٩٦٨ . ارشاد الساری : ١٣ \ ٢٢٧ . فتح الباری : ١٠ \ ٧٤٦)
(٣) صحيح مسلم ، کتاب الزهد ، باب تشميت العاطس و کراهة التثاوب : ٢ \ ٤١٣)

حتی الوسع دا بند کړی یعنی د ایسارولو اسباب دې اختیار کړی -

بعضو ویلې دی چه " إذا تثاوب "، د " إذا أراد أن يتثاوب " په معنی دې یعنی چه څوك اسویلې کوی نو اسویلې دې نه کوی بلکه دا دې رد کړی - (۱)

اسویلې چه کله په خپله راځی نو د دې رد کول ډیر کرتې مشکل وی ، په مانځه کښې د دې کراهت نور هم زیاتیږی عالمانو لیکلې دی چه د رسول الله ﷺ تصور دې اوکړې شی نو اسویلې راتلل به موقوف شی-

شاید ددې وجه دا وی چه د رسول الله ﷺ په خصائصو کښې یو خصوصیت دا بیان شوې دې چه دوی کله هم اسویلې نه دې کړې ، امام بخاری رحمه الله په " تاریخ " کښې او ابن ابی شیبه په " مصنف " کښې د یزید بن الاصم یو مرسل روایت نقل کړیدې ، دیکښې دی :

" ماتثاءب النبی صلی الله علیه وسلم قط " (۲)

امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې دا وضاحت نه دې کړې چه د اسویلی راتلو په وخت کوم یو لاس په خُله ایخودل پکار دی ؟ په یو روایت کښې ددې تصریح هم نشته دې ، خو صحیح ابی عوانه کښې د دې روایت ذکر کولو نه پس د یو راوی سهیل عمل نقل کړې شوې دې چه دوی د حدیث بیانولو نه پس به خپل گس لاس په خُله کیخودو (۳) چه دینه معلومیږی چه گس لاس په خُله ایخودل پکار دی خو د ده په دې عمل کښې دا امکان هم شته چه کیدې شی چه د ښی لاس د تخصیص د ختمولو دپاره ده داسې کړې وی ، د دې ښودلو دپاره چه په داسې موقع باندې په خُله گس لاس هم ایخودې شی- (۴) و الله اعلم

و صلی الله علی خیر خلقه محمد و علی آله وصحبه أجمعین

وهذا آخر ما اردنا ایراده من شرح احادیث کتاب الطب وکتاب اللباس وکتاب الادب من صحیح البخاری رحمه الله تعالیٰ للشیخ المحدث الجلیل سلیم الله خان حفظه الله ورعاه ومتعنا الله بطول حیاته وقد وقع الفراغ من تسویده، واعادة النظر فیه، ثم تصحیح ملازم الطبع بیوم الاثنین ۱۲ ربیع الاول ۱۴۲۵ هـ الموافق ۳ مایو ۲۰۰۴ م والحمد لله الذی بنعمته تتم الصالحات وصلی الله علیه النبی الامی وآله وصحبه وتابعیهم وسلم علیه وعلیهم ما دامت الارض والسموات، رتبه وراجع نصوصه وعلق علیه ابن الحسن العباسی عضو قسم التحقیق والتصنیف والاستاذ بالجامعة الفاروقیة، وفقه الله تعالیٰ لاتمام باقی الکتب کما یحبه ویرضاه وهو علی کل شیء قدیر، ولا حول ولا قوة الا بالله العلی العظیم، ویلیه ان شاء الله شرح کتاب الاستیذان ـــ

---

(۱) فتح الباری : ۱۰\۷۴۶)
(۲) فتح الباری : ۱۰\۷۴۷)
(۳) ارشاد الساری : ۱۳ \ ۲۲۷)
(۴) ارشاد الساری : ۱۳\۲۲۷)

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

((مصادر ومراجع))

القرآن الكريم: كلام رب العالمين.

الابواب والتراجم لصحيح البخاری: شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا صاحب (متوفی ۱۴۰۲ھ مطابق ۱۹۸۲ء) ایچ ایم سعید کمپنی پاکستان چوک کراچی.

اتحاف السادة المتقين بشرح أسرار إحياء علوم الدين: علامه سيد محمد بن محمد الحسيني الزبيدي المشهور بمرتضى (متوفى ١٢٠٥هـ) دار احياء التراث العربي

الإحسان بترتيب صحيح ابن حبان امام ابوحاتم محمد بن حبان بُستی متوفی ۳۵۴ھ موسسة الرسالة بیروت.

احسن الفتاوی مفتی رشید احمد صاحب لدھیانوی ایچ ایم سعید کمپنی

أحكام القرآن — علامه محمد بن عبدالله ابن العربی مالکی دار المعرفة بیروت،

أحكام القرآن — علامه ابوبکر احمد بن علی جصاص دار الکتب العربیة، بیروت،

احکام القرآن \ مولانا ظفر احمد عثمانی \ ادارة القرآن کراچی

إحياء علوم الدين مع شرح إتحاف السادة المتقين: امام محمد بن محمد الغزالي (متوفى ٥٠٥هـ) دار إحياء التراث العربي. بيروت،

الأدب المفرد مع شرح فضل الله الصمد، امیر المومنین فی الحدیث محمد بن اسماعیل البخاری المتوفی (۲۵۶ھ) مکتبة الإيمان المدينة المنورة۔

كتاب الأذكار النواوية بشرح الفتوحات الربانيه: إمام محی الدین أبوزکریا یحیی بن شرف النووی (۶۷۶ھ). المکتبة الإسلاميه لصاحبها الحاج ریاض الشیخ

إرشاد الساری شرح صحیح البخاری: ابوالعباس شهاب الدین أحمد بن محمد القسطلانی (متوفی ۹۲۳ھ) المطبعة الكبرى الأميرية. مصر طبع سادس ۱۳۰۴ھ

ألإستيعاب فی اسماء الأصحاب بهامش الإصابة: ابوعمر یوسف بن عبدالله بن محمد بن عبدالبر (متوفی ۴۶۳ھ) دار الفکر للطباعة والنشر والتوزیع، بیروت

أسد الغابة عزالدین أبوالحسن علی بن محمد الجزری المعروف بابن الأثیر المتوفی ۶۳۰ھ دار الکتب العلمية بیروت_

أشعة اللمعات: شیخ عبدالحق محدث دهلوی (متوفی ۱۰۵۲ھ) مکتبه نوریه رضویه سکھر پاکستان،

الإصابة فی تمیز الصحابة: شهاب الدین ابوالفضل أحمد بن علی القسطلانی المصری المعروف بابن حجر (متوفی ۸۵۲ھ) دار الفکر. بیروت

إعلاء السنن علامه ظفر احمد عثمانی متوفی ۱۳۹۴ھ ادارة القرآن کراچی

الأعلام: خیرالدین بن محمود بن محمد الزرکلی (متوفی ۱۳۹۶ھ مطابق ۱۹۷۶ء) دار العلم للملايين

الإكمال — الأمير الحافظ ابن ماکولا متوفی (۴۷۵ھ) محمد امین دمج بیروت. لبنان

شرح الأبی علی مسلم (انظروا إکمال المعلم). ابوعبد الله محمد بن خلفة الابی المالکی رحمه الله، المتوفی ۸۲۷ھ، دار احیاء التراث العربی بیروت۔

الفیة الحدیث للحافظ العراقی: إمام أبو الفضل زین الدین عبد الرحیم بن الحسین العراقی (المتوفی ٨٠٦ھ) دار الجیل بیروت،
امداد الفتاوی\ مولانا اشرف علی تھانوی (١٣٦٢ ھجری) مکتبہ دار العلوم کراچی
امداد الباری/حضرت مولانا عبد الجبار اعظمی، مکتبہ حرم مراد آباد۔
الانصاف فی معرفة الراجح من الخلاف علاء الدین علی بن سلیمان مرداوی دار احیاء التراث العربی۔
أنوار الباری: مولانا سید أحمد رضا بجنوری مد ظلھم۔ مدینہ پریس بجنور
أوجز المسالك إلی مؤطأ مالك: شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد زکریا صاحب (متوفی ١٤٠٢ھ) إدارہ تالیفاتِ اشرفیہ ملتان،
البحر الرائق علامة زین العابدین بن ابراھیم بن نجیم المتوفی ٩٦٩ھ أو المتوفی یا المتوفی ٩٧٠ھ مکتبہ رشیدیہ کوئٹہ
بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع ملك العلماء علاء الدین ابوبکر بن مسعود الکاسانی المتوفی ٥٨٧ھ ایچ ایم سعید کمپنی کراچی۔
البدر الساری، حاشیہ فیض الباری: حضرت مولانا بدر عالم میرٹھی (١٣٨٥ھ) ربانی بك ڈپو دھلی ١٩٨٠ء
بذل المجھود فی حل أبی داود: حضرت العلامہ خلیل أحمد سھارنپوری (متوفی ١٣٤٦ھ) مطبع ندوة العلماء لکنھو ١٣٩٣ھ مطابق ١٩٧٣م
بھشتی زیور_ حضرت مولانا اشرف علی تھانوی ١٣٦١ ھ، مکتبہ رحمانیہ لاھور۔
تاج العروس من جواھر القاموس: أبو الفیض سید محمد بن محمد المعروف بالمرتضی الزبیدی (١٢٠٥ھ)، دار مکتبة الحیاة بیروت لبنان،
التاج والاکلیل علی حاشیة المواھب الجلیل للامام المواق المالکی، دار الفکر، بیروت
تاریخ الخمیس فی احوال أنفس نفیس: شیخ حسین بن محمد بن الحسن الدیار بکری المالکی. (متوفی ٩٦٦ھ)، مؤسسة شعبان بیروت،
التاریخ الصغیر للأمیر المومنین فی الحدیث محمد بن اسماعیل البخاری المتوفی ٢٥٦ھ، المکتبة الأثریة شیخوپورہ
تاریخ عثمان بن سعید الدارمی المتوفی ٢٨٠ھ عن أبی زکریا یحیی بن معین المتوفی ٢٣٣ھ دار المأمون للتراث ١٤٠٠ھ
التاریخ الکبیر: أمیر المؤمنین فی الحدیث محمد بن إسماعیل البخاری (متوفی ٢٥٦ھ)، دار الکتب العلمیة بیروت،
تاریخ الطبری ابوجعفر محمد بن جریر الطبری\ متوفی ٣١٠ ھجری مؤسسة الرسالة
تحفة الأشراف بمعرفة الأطراف أبو الحجاج جمال الدین یوسف بن عبد الرحمن المزی (متوفی ٧٤٢ھ) المکتب الإسلامی بیروت طبع دویم ١٤٠٣ھ مطابق ١٩٨٣م
تدریب الراوی شرح تقریب النواوی: حافظ جلال الدین عبد الرحمن سیوطی (متوفی ٩١١ھ) المکتبة العلمیة مدینہ منورة،
تذکرة الحفاظ: حافظ أبو عبد الله شمس الدین محمد بن أحمد بن عثمان ذھبی (متوفی ٧٤٨ھ)، دار المعارف العثمانیہ الھند،
تربیت السالك، حضرت مولانا اشرف علی تھانوی رحمہ الله ١٣٦١ ھجری دار الاشاعت کراچی
التعلیق الصبیح: حضرت مولانا محمد ادریس صاحب کاندھلوی متوفی ١٣٩٤ھ مکتبة عثمانیة لاھور
تعلیقات علی تھذیب الکمال، للدکتور بشار عواد معروف حفظه الله تعالی مؤسسة الرسالة الطبعة الأولی ١٤١٣ھ،
تعلیقات علی لامع الدراری شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا المتوفی ١٤٠٢ھ، الموافق ١٩٨٢م، مکتبة إمدادیة مکة المکرمة۔
تعلیقات ابن ماجه للشیخ محمد فؤاد عبد الباقی، دار الکتاب اللبنانی، بیروت
تغلیق التعلیق للحافظ أحمد بن علی المعروف بابن حجر المتوفی ٨٥٢ھ، المکتب الإسلامی و دار عمار۔

تفسیر القرآن العظیم: حافظ أبوالفداء عماد الدین إسماعیل بن عمر ابن کثیر دمشقی (متوفی ۷۷۴ھ) دار الفکر بیروت،
تفسیر الطبری (جامع البیان) إمام محمد بن جریر الطبری المتوفی ۳۱۰ھ دار المعرفة بیروت۔
التفسیر الکبیر (مفاتیح الغیب): إمام أبوعبداللہ فخر الدین محمد بن عمر الحسین رازی (متوفی ۶۰۶ھ). مکتب الاعلام الإسلامی ایران،
تفسیر الکشاف: جار اللہ محمود بن عمر الزمخشری (المتوفی ۵۳۸ھ). دار الکتاب العربی بیروت،
تفسیر الماوردی علی بن حبیب الماوردی، وزارة الاوقاف والشؤون الاسلامیة، بیروت
تقریب التهذیب: حافظ ابن حجر عسقلانی (متوفی ۸۵۲ھ) دار الرشید حلب ۱۴۰۶ھ
تکملہ فتح الملهم: حضرت مولانا محمد تقی عثمانی مدظلهم. مکتبه دار العلوم کراچی،
التلخیص الحبیر فی تخریج أحادیث الرافعی الکبیر: حافظ ابن حجر عسقلانی (متوفی ۸۵۲ھ). دار نشر الکتب الإسلامیه لاهور، ۰۰)
تلخیص المستدرک (المطبوع بذیل المستدرک): حافظ شمس الدین محمد بن أحمد بن عثمان ذهبی (متوفی ۷۴۸ھ). دار الفکر بیروت،
التمهید لابن عبدالبر: الحافظ أبوعمر یوسف بن عبداللہ مالکی (متوفی ۴۶۳ھ). المکتبة التجاریة مکة المکرمه،
تنقیح الفتاوی الحامدیة، علامہ محمد امین بن عمر بن عبدالعزیز المعروف بابن عابدین.
تنویر الابصار للشیخ شمس الدین محمد بن عبداللہ بن احمد الغزی الحنفی، المتوفی ۱۰۰۴ هجری، مکتبه رشیدیه کوئٹه.
تهذیب الأسماء واللغات: إمام ابوزکریا یحیی بن شرف الدین النووی (متوفی ۶۷۶ھ) إدارة الطباعة المنیریه،
تهذیب التهذیب: حافظ ابن حجر عسقلانی (متوفی ۸۵۲ھ) دائرة المعارف النظامیه حیدرآباد دکن ۱۳۲۵،
تهذیب الکمال: حافظ جمال الدین أبوالحجاج یوسف بن عبدالرحمن مزی (متوفی ۷۴۲ھ). مؤسسة الرساله طبع اول ۱۴۱۳،
تیسیر مصطلح الحدیث للدکتور محمود الطحان حفظه اللہ قدیمی کتب خانہ کراچی.
الثقات: لابن حبان حافظ أبوحاتم محمد بن حبان بستی (متوفی ۳۵۴ھ) دار المعارف العثمانیه حیدرآباد ۱۳۹۳ھ،
جامع ترمذی (سنن ترمذی) إمام أبوعیسی محمد بن عیسی بن سورة ترمذی (متوفی ۲۷۹ھ) ایچ ایم سعید کمپنی کراچی/ دار إحیاء التراث العربی
الجامع لأحکام القرآن: (تفسیر قرطبی) إمام أبوعبداللہ محمد بن أحمد الأنصاری القرطبی (متوفی ۶۷۱ھ) دار الفکر بیروت،
جامع المسانید، للإمام أبی المؤید محمد بن محمود الخوارزمی المتوفی ۶۶۵ھ، المکتبة الإسلامیة سمندری لائل پور
الجرح والتعدیل/ عبدالرحمن بن ابی حاتم الرازی رحمه اللہ، المتوفی ۳۲۷ھ، دائرة المعارف عثمانیه حیدرآباد دکن.
جمع الوسائل فی شرح الشمائل۔ الامام علی بن سلطان القاری، رحمه اللہ، متوفی ۱۰۱۴ھ، ادارۂ تالیفات اشرفیه ملتان۔
الحاوی للفتاوی: للحافظ جلال الدین عبدالرحمن السیوطی المتوفی (۹۱۱ھ) مکتبة نوریة رضویة فیصل آباد)
حلیة الأولیاء: حافظ أبونعیم أحمد بن عبداللہ بن أحمد أصبهانی شافعی (متوفی ۴۳۰ھ) دار الفکر بیروت،
خلاصة الخزرجی (خلاصة تذهیب تهذیب الکمال) للعلامة صفی الدین الخزرجی المتوفی د ۹۲۳ھ، نه پس مکتب المطبوعات الإسلامیة بحلب)
الدر المختار: علامه علاء الدین محمد بن محمد الحصکفی (متوفی ۱۰۸۸ھ) مکتبه رشیدیه کوئٹه

الدر المنثور فی التفسیر بالماثور: علامہ حافظ جلال الدین عبدالرحمن سیوطی (متوفی ۹۱۱ھ) مؤسسۃ الرسالۃ،
دلائل النبوۃ: حافظ أبوبکر أحمد بن الحسین بن علی البیہقی (متوفی ۴۵۸ھ). مکتبہ أثریہ لاہور،
ردالمحتار: علامہ محمد أمین بن عمر بن عبدالعزیز عابدین دمشقی شامی (متوفی ۱۲۵۲ھ) مکتبہ رشیدیہ کوئٹہ،
روح المعانی فی تفسیر القرآن العظیم والسبع المثانی: أبوالفضل شہاب الدین سید محمود آلوسی بغدادی (متوفی ۱۲۷۰ھ) مکتبہ إمدادیہ ملتان،
زاد المعاد من هدی خیر الأنام: حافظ شمس الدین ابوعبدالله محمد بن ابی بکر المعروف بابن القیم متوفی ۷۵۱ھ مؤسسۃ الرسالۃ. بیروت
السعایۃ فی کشف مافی شرح الوقایۃ: علامہ عبدالحی لکھنوی (متوفی ۱۳۰۴ھ) سہیل اکیڈمی لاہور،
سنن ابن ماجہ: إمام أبوعبدالله محمد بن یزید بن ماجہ (متوفی ۲۷۳ھ). قدیمی کتب خانہ / دار الکتب المصری قاهرۃ.
سنن ابی داؤد: إمام أبوداؤد سلیمان بن الأشعث السجستانی (متوفی ۲۷۵ھ) ایچ ایم سعید کمپنی کراچی / دار إحیاء السنۃ النبویۃ،
سنن دار قطنی: حافظ أبوالحسن علی بن عمر دار قطنی (متوفی ۳۸۵ھ) دار نشر الکتب الإسلامیۃ لاہور
سنن دارمی: الإمام أبومحمد عبدالله بن عبدالرحمن دارمی (۲۵۵ھ) قدیمی کتب خانہ کراچی
السنن الکبری للبیہقی: إمام حافظ أبوبکر أحمد بن الحسین بن علی البیہقی (متوفی ۴۵۸ھ) نشر السنۃ ملتان،
السنن الصغری للنسائی: إمام أبوعبدالرحمن أحمد بن شعیب النسائی (۳۰۳ھ) قدیمی کتب خانہ کراچی،
السنن الکبری للنسائی: إمام أبوعبدالرحمن أحمد بن شعیب النسائی (۳۰۳ھ) نشر السنۃ ملتان)
سیر أعلام النبلاء: حافظ أبوعبدالله شمس الدین محمد بن أحمد بن عثمان ذهبی (متوفی ۷۴۸ھ) مؤسسۃ الرسالۃ،
شذرات الذهب فی اخبار من ذهب: علامہ عبدالحی بن احمد بن محمد بن العماد العکری الحنبلی متوفی ۱۰۸۹ھ دار الآفاق الجدیدۃ بیروت.
شرح نخبۃ الفکر: ابن حجر عسقلانی رحمہ الله، قدیمی کتب خانہ کراچی
شرح ابن البطال للإمام أبی الحسن علی بن خلف بن عبدالملک المعروف بابن بطال المتوفی ۴۴۹ھ، مکتبۃ الرشد، الریاض، الطبعۃ الأولی ۱۴۲۰ھ، ۲۰۰۰م،
شرح الکرمانی (الکواکب الدراری) للعلامۃ شمس الدین محمد بن یوسف الکرمانی المتوفی (۷۸۶ھ) دار إحیاء التراث العربی)
شرح معانی الآثار إمام أبوجعفر احمد بن محمد بن سلامۃ بن سلمہ طحاوی (متوفی ۳۲۱ھ) میر محمد آرام باغ کراچی، \ میر محمد آرام باغ کراچی،
شرح النووی علی صحیح مسلم إمام أبوزکریا یحیی بن شرف النووی (۶۷۶ھ). قدیمی کتب خانہ کراچی،
شرح [illegible] لابن عربی: ابوبکر محمد بن عبدالله الاشبیلی المعروف بابن العربی المالکی المطبعۃ بالازهر.
شرح الجامی: علامہ عبدالرحمن جامی رحمہ الله، ایچ ایم سعید کراچی
شرح الزرقانی علی الموطاء للشیخ محمد بن عبدالباقی بن یوسف الزرقانی المصری المتوفی ۱۱۲۲ھ، دار الفکر بیروت)
شرح نخبۃ الفکر: للامام الحافظ احمد ابن علی بن حجر عسقلانی رحمہ الله، المتوفی ۸۵۲ ہجری، شرکۃ دار الارقم بیروت
شعب الإیمان: إمام حافظ احمد بن الحسین بن علی البیہقی (متوفی ۴۵۸ھ). دار الکتب العلمیۃ بیروت، ۱۴۱۰ھ،

الشعر والشعرآء لابن قتیبة
الشمائل المحمدیة: الإمام أبو عیسیٰ محمد بن عیسیٰ بن سورة الترمذی (المتوفی ۲۷۹ھ). فاروقی کتب خانہ ملتان
الصحیح للبخاری: امام ابو عبداللہ محمد بن إسماعیل البخاری (متوفی ۲۵۶ھ). قدیمی کتب خانہ کراچی، دار الفکر
طبقات الشافعیة الکبری: علامہ تاج الدین أبو نصر عبدالوہاب بن تقی الدین علی بن عبدالکافی (متوفی ۷۷۱ھ). دار المعرفة بیروت،
الطبقات الکبری: إمام أبو عبداللہ محمد بن سعد (متوفی ۲۳۰ھ) دار صادر بیروت،
ظفر الأمانی للعلامة عبدالحی الکھنوی المتوفی ۱۳۰۴ھ، مکتب المطبوعات الإسلامیة بحلب الطبعة الثالثة ۱۴۱۶ھ،
العرف الشذی (مطبوعہ مع جامع ترمذی): إمام العصر علامہ أنور شاہ کشمیری (متوفی ۱۳۵۲ھ) ایچ ایم سعید کمپنی کراچی،
علوم الحدیث (مقدمہ إبن الصلاح) حافظ تقی الدین أبو عمرو عثمان بن عبدالرحمن المعروف بإبن الصلاح الشہرزوری (۶۴۳ھ).
دار الفکر بیروت،
عمدة القاری شرح صحیح البخاری: إمام بدر الدین أبو محمد محمود بن أحمد العینی (متوفی ۸۵۵ھ). إدارة الطباعة المنیریة،
عون المعبود شرح سنن ابی داود۔ شمس الحق عظیم آبادی، دار الفکر بیروت، لبنان۔
الفائق /علامہ جار اللہ ابو القاسم محمود بن عمر الزمخشری، المتوفی ۵۳۸ھ، دار المعرفة بیروت۔
فتاوی إبن تیمیة: تقی الدین احمد بن تیمیة الحرآنی (متوفی ۷۲۸ھ). طبعة الملك فهد،
الفتاوی البزازیہ، الامام حافظ الدین محمد بن محمد بن شہاب، رشیدیہ کوئٹہ۔
الفتاوی الحدیثیة: شیخ الاسلام احمد بن محمد بن علی بن حجر الہیثمی، قدیمی کتب خانہ کراچی
فتاوی حقانیہ افادات شیخ الحدیث مولانا عبدالحق و دیگر مفتیان کرام، جامعہ دار العلوم حقانیہ
الفتاوی الخانیہ: (فتاوی قاضی خان) محمود الاوزجندی المعروف بقاضی خان مکتبہ رشیدیہ، کوئٹہ
فتاوی محمودیہ: حضرت مولانا مفتی محمود الحسن صاحب رحمہ اللہ، مظہری کتب خانہ کراچی
فتاوی عالمگیریة۔ جماعة من العلماء۔ رشیدیہ کوئٹہ۔
فتح الباری۔ حافظ احمد بن علی المعروف بابن حجر العسقلانی، رحمہ اللہ تعالیٰ، متوفی ۸۵۲ھ۔ دار الفکر بیروت۔
فتح القدیر۔ امام کمال الدین محمد بن عبدالواحد المعروف بابن الہمام، رحمہ اللہ تعالیٰ، متوفی ۸۶۱ھ۔ مکتبہ رشیدیہ کوئٹہ۔
فتح المغیث شرح الفیة الحدیث۔ امام ابو عبداللہ محمد بن عبدالرحمن السخاوی رحمہ اللہ تعالیٰ، المتوفی ۹۰۲ھ، دار الامام الطبری،
الفردوس، ابو شجاع شیرویہ ابن شہردار بن شیرویہ الدیلمی رحمہ اللہ، المتوفی ۵۰۹ھ، دار الکتب العلمیة، بیروت۔
فضل اللہ الصمد فی توضیح الادب المفرد، فضل اللہ جیلانی، صدف پبلشرز کراچی
الفقہ الاسلامی وادلتہ، علامہ وہبہ زحیلی، مکتبہ حقانیہ پشاور
فقہ السنة، علامہ سید سابق، دار الکتاب العربی
فیض الباری: إمام العصر علامہ أنور شاہ کشمیری (متوفی ۱۳۵۲ھ). ربانی بک ڈپو دہلی،
القاموس الوحید۔ مولانا وحید الزمان قاسمی رحمہ اللہ تعالیٰ، ادارہ اسلامیات لاہور۔ کراچی۔

القاموس الجدید۔ مولانا وحید الزمان قاسمی رحمہ اللہ تعالیٰ، ادارۃ اسلامیات لاہور۔ کراچی۔
القاموس المحیط للمجد الدین محمد بن یعقوب الفیروز آبادی المتوفی ۸۱۷ھ، دار الفکر بیروت
الکاشف شمس الدین أبو عبداللہ محمد بن أحمد بن عثمان الذہبی المتوفی ۷۴۸ھ، شرکۃ دار القبلۃ \ موسسۃ علوم القرآن الطبعۃ الأولی ۱۹۹۲م، ۱۴۱۳ھ)
الکاشف عن حقائق السنن (شرح طیبی) إمام شرف الدین حسین بن محمد بن عبداللہ الطیبی (متوفی ۷۴۳ھ) إدارۃ القرآن کراچی۔
الکامل فی ضعفاء الرجال: الإمام الحافظ أبو احمد عبداللہ بن عدی الجرجانی (المتوفی ۳۶۵ھ) دار الفکر بیروت،
الکامل فی التاریخ: علامہ أبو الحسن عزالدین علی بن محمد بن الأثیر الجزری (متوفی ۶۳۰ھ) دار الکتاب العربی،
کتاب الموضوعات: رضی الدین حسن بن محمد بن حیدر اللاھوری المتوفی ۶۵۰ ھجری المطبعۃ الاعلامیۃ، مصر
کشف الباری (کتاب الایمان و کتاب المغازی) الشیخ الحدیث حضرت مولانا سلیم اللہ خان مد ظلہم العالی مکتبۃ فاروقیۃ کراچی۔
کشف الخفاء و مزیل الإلباس شیخ إسماعیل بن محمد العجلونی المتوفی ۱۱۶۲ھ، دار إحیاء التراث العربی بیروت
کفایت المفتی حضرت مولانا مفتی کفایت اللہ صاحب دار الاشاعت کراچی
الکوکب الدری: حضرت مولانا رشید أحمد گنگوھی قدس اللہ سرہ (متوفی ۱۳۲۳ھ). ادارۃ القرآن کراتشی
لامع الدراری: حضرت مولانا رشید أحمد گنگوھی قدس اللہ سرہ (متوفی ۱۳۲۳ھ). مکتبہ امدادیہ مکۃ المکرمۃ
لسان العرب للعلامۃ أبی الفضل جمال الدین محمد بن مکرم ابن منظور الإفریقی المصری المتوفی ۷۱۱ھ، نشر أدب الجوزۃ قم إیران ۱۴۰۵ھ)
المؤطا للامام مالک بن انس رحمہ اللہ تعالیٰ، المتوفی ۱۷۹ھ، دار احیاء التراث العربی۔
المؤطا للامام محمد بن الحسن الشیبانی رحمہ اللہ تعالیٰ، المتوفی ۱۸۳ھ، نور محمد اصح المطابع، آرام باغ کراچی۔
المبسوط، شمس الائمۃ ابو بکر محمد بن ابی سہل السرخسی، رحمہ اللہ، المتوفی ۴۸۳ھ، دار المعرفۃ، بیروت، ۱۳۹۸ھ ۱۹۷۸م۔
المتواری علی تراجم ابواب البخاری، علامہ ناصر الدین احمد بن محمد المعروف بابن المنیر الاسکندرانی، رحمہ اللہ تعالیٰ، متوفی ۶۸۳ھ، مظہری کتب خانہ کراچی۔
مجمع بحار الانوار، علامہ محمد بن طاہر پٹنی، رحمہ اللہ تعالیٰ، متوفی ۹۸۲، دائرۃ المعارف العثمانیہ حیدر آباد، ۱۳۹۵ھ۔
مجمع الزوائد امام نور الدین علی بن ابی بکر الہیثمی رحمہ اللہ تعالیٰ متوفی ۸۰۷ھ، دار الفکر، بیروت
المجموع (شرح المہذب)، الامام محی الدین ابو زکریا یحیٰ بن شرف رحمہ اللہ تعالیٰ، متوفی ۲۷۶ھ، المکتب التجاری بیروت۔ دار الکتب العلمیہ بیروت.
مختار الصحاح: إمام محمد بن أبی بکر بن عبدالقادر الرازی (متوفی ۶۶۶ھ)، نہ روستو، دار المعارف مصر،
مرقاۃ المفاتیح شرح مشکوۃ المصابیح: علامہ نور الدین علی بن سلطان القاری (متوفی ۱۰۱۴ھ). مکتبہ امدادیہ ملتان،
المستدرک علی الصحیحین: حافظ أبو عبداللہ محمد بن عبداللہ حاکم نیشاپوری (متوفی ۴۰۵ھ) دار الفکر بیروت،
مسند أحمد: إمام أحمد بن حنبل (متوفی ۲۴۱ھ) المکتب الإسلامی / بیروت،

المصنف لابن أبي شيبة : الحافظ عبدالله بن محمد بن أبي شيبة المعروف بأبي بكر ابن أبي شيبة المتوفى ۲۳۵ھ \ الدار السلفية بمبئ الهند الطبعة الثانية ۱۳۹۹ھ، ۱۹۷۹م،

المصنف لعبدالرزاق : إمام عبدالرزاق بن همام بن نافع الصنعاني (متوفى ۲۱۱ھ) مجلس علمی کراچی،

مظاهرحق (جدید)، نواب محمد قطب الدين خان دهلوی، دار الاشاعت کراچی

معارف القرآن، حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمه الله متوفی ۱۹۷۶ هجری ادارة المعارف کراچی

معارف القرآن۔ علامه محمد ادریس کاندهلوی، رحمه الله، مکتبه عثمانیه لاهور،

معالم السنن۔ الامام ابو سليمان حمد بن محمد الخطابي، رحمه الله تعالى، المتوفى ۳۸۸ھ، مطبعة انصار السنة المحمدية، ۱۹۳۸م / ۱۳۶۷ھ۔

المحلى للعلامة أبي محمد علي بن أحمد بن سعيد بن حزم المتوفى ۴۵۶ھ _

معجم الطبراني الكبير الامام سليمان بن أحمد بن أيوب الطبراني المتوفى ۳۶۰ھ، دار إحياء التراث العربي

المعجم الوسيط : دکتور إبراهيم أنيس، و دکتور عبدالحليم منتصر عطية الصوالحي، محمد خلف الله احمد،، مجمع اللغة العربية دمشق،

معجم مقاييس اللغة : امام احمد بن فارس بن زكريا قزويني رازي متوفى ۳۹۵ھ دار الفكر بيروت.

معرفة علوم الحديث : إمام حافظ أبوعبدالله محمد بن عبدالله حاكم نيشابوري (متوفى ۴۰۵ھ) دار الفكر بيروت

المغني للإمام موفق الدين أبو محمد عبدالله بن أحمد بن قدامة المتوفى ۶۲۰ھ دار الفكر بيروت

المفردات في غريب القرآن، الامام حسين بن محمد بن الفضل المعروف بالراغب الاصفهاني، رحمه الله، المتوفى ۵۰۲ھ، نور محمد کتب خانه کراچی۔

المفهم لما اشكل من تلخيص كتاب مسلم، الامام الحافظ ابوالعباس احمد بن عمر بن ابراهيم، القرطبي، المتوفى ۶۵۶ هجری دار ابن كثير دمشق، بيروت

مكمل اكمال الاكمال، الامام ابوعبدالله محمد بن محمد بن يوسف السنوسي، رحمه الله تعالى، المتوفى ۸۹۵ھ، دار الكتب العلمية، بيروت لبنان۔

مقدمه ابن الصلاح (علوم الحديث) الحافظ تقي الدين ابوعمرو عثمان بن عبد الرحمن المعروف بابن الصلاح رحمه الله، المتوفى ۶۴۳ هجری دار الكتب العلميه، بيروت۔

الموضوعات علامه ابوالفرج عبد الرحمن ابن الجوزي، رحمه الله تعالى، المتوفى ۵۹۷ھ، قرآن محل، اردو بازار کراچی،

ميزان الاعتدال في نقد الرجال حافظ شمس الدين محمد احمد بن عثمان ذهبي، رحمه الله تعالى، متوفى ۷۴۸ھ، دار احياء التراث العربية، مصر، ۱۳۸۲ھ۔

نصب الراية، الحافظ ابومحمد جمال الدين عبد الله بن يوسف الزيلعي، رحمه الله تعالى، المتوفى ۷۶۲ھ مجلس علمی دابهیل ۱۳۷۷ هجری

النكت الظراف على الاطراف، الامام الحافظ احمد بن علي بن حجر العسقلاني، رحمه الله تعالى، متوفى ۸۵۲ھ، المكتب الاسلامي، بيروت۔

النهاية في غريب الحديث و الاثر، علامه مجد الدين ابو السعادات المبارك بن محمد ابن الاثير، رحمه الله تعالى، المتوفى ۶۰۶ھ، دار احياء التراث العربي بيروت۔

الهدايه، الامام علي بن ابي بكر المرغيناني، ايچ ايم سعيد، کمپنی